کشف الباری
عما فی
صحیح البخاری
تصنیف
حضرت مولانا سلیم اللہ خان

كشف البارى

عما فى

صحيح البخارى

النفقات، الأطعمة، العقيقة، الذبائح والصّيد، الأضاحي، الأشربة، المرضى، الطب

تالیف ← صدر وفاق المدارس مولانا سلیم الله خان مدظله العالی
شیخ الحدیث جامعه فاروقیه کراچی

ترتیب وتحقیق ← مولانا ابن الحسن عباسی استاذ جامعه فاروقیه کراچی

ترجمه ← مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم

جلد ۱۳

خصوصیات

① د احادیثو تخریج
② د تعلیقات بخاری تخریج کول
③ د اسماء الرجال مختصر تعارف
④ دګرانو لغاتو لغوی صرفی او نحوی حل
⑤ ماقبل باب سره د ربط په باره کښې پوره تحقیق
⑥ د شرحي د هرې خبرې په حاشیه کښې حواله ورکول
⑦ د ترجمة الباب مقصد په بیانولو کښې پوره تحقیق
⑧ د مختلفو مذاهبو تحقیقی بیان او بیا د مذهب حنفی ترجیح
⑨ د حدیث اطراف بیانول چه په بخاری کښې دا حدیث په کوم کوم ځائې کښې دي

خورونکی فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور

موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

دکتاب نوم:- کشف الباری عما فی صحیح البخاری

جلد: النفقات، الأطعمة، العقيقة، الذبائح والصيد، الأضاحي، الأشربة، المرضى، الطب

شارح: صدر وفاق المدارس شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان مدظله العالی

ترتیب وتحقیق: مولانا ابن الحسن عباسی استاذ جامعه فاروقیه کراچی

پښتو مترجم: مولانا شاه فیصل فاضل امداد العلوم و وفاق المدارس
ایم اے اسلامیات وعربی پېښور یونیورستي

د ملاویدو پتې: د فیصل کتب خانه پېښور څخه علاوه

- رشیدیه کتب خانه اکوړه خټک
- علمیه کتب خانه اکوړه خټک ۰۹۲۳۶۳۰۵۹۴
- مکتبه رشیدیه کوئټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳
- مکتبه عثمانیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰
- مکتبه یوسفیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۲۱۰۸۲۸۹۳۰
- راشد کتب خانه چمن ۰۳۰۰۳۸۹۶۳۵۳
- مکتبه عمریه تاج میر روډ چمن بلوچستان
- مکتبه علوم اسلامیه تاج میر روډ چمن بلوچستان ۰۳۳۳۷۹۵۸۶۹۶
- مکتبه حقانیه چمن ۰۳۳۳۷۷۵۲۲۱۹
- صداقت کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۸۷۷۴۲۳۲۱
- مکتبهٔ رحمانیه قندهار افغانستان ۰۷۹۷۷۳۵۲۸۱
- مکتبه عبدالحي قندهار افغانستان ۰۷۰۰۸۲٤۳٤
- اسدالله کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۰۷٤۷۷٦۲۷
- مکتبهٔ غفاریه قندهار افغانستان ۰۷۰۰۳٤۱۷٤۹
- مکتبهٔ رشیدیه قندهار افغانستان ۰۷۷۲۱۰۷۰۹
- مکتبهٔ حبیبیه قندهار افغانستان ۰۷۹۹٤٤۷٤۱۳
- مکتبة القدس قندهار افغانستان ۰۷۰۷۹٤۸۵۵۹
- قدرت کتب خانه کابل افغانستان ۰۷۹۹۲۱۹۲۰۳
- عبدالمجید کتب خانه جلال آباد ۰۷۰۸۱۹۷۷٤۹
- شاهین کتب خانه خوست افغانستان
- بلال کتب خانه خوست افغانستان
- اسلامی کتب خانه خوست افغانستان ۰۷۹۹۳۱۰۲٤۷

فهرست مضامین

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

شميره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

۵۵ - باب الرَّجُلِ یُدْعیٰ إِلیٰ طَعَامٍ فَیَقُولُ وَهٰذَا مَعِی

۷۴-کتاب العقیقة

۱- باب تَسْمِیَةِ الْمَوْلُودِ غَدَاةَ یُولَدُ، لِمَنْ لَمْ یُعَقَّ عَنْهُ، وَتَحْنِیکِهِ

۷۵-کتاب الذبائح والصید

شميره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

۶ - باب مَنِ اقْتَنٰی كَلْبًا لَيْسَ بِكَلْبِ صَيْدٍ أَوْ مَاشِيَةٍ

۸ - باب الصَّيْدِ إِذَا غَابَ عَنْهُ يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً

۱۰ - باب مَا جَاءَ فِي التَّصَيُّدِ

۱۲ - باب قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى: أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ

۱۳- بَاب أَكْلِ الْجَرَادِ

۱۵ - بَاب التَّسْمِيَةِ عَلَى الذَّبِيحَةِ، وَمَنْ تَرَكَ مُتَعَمِّدًا

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

صفحه	مضمون	شمیره

شمیره	مضمون	صفحه

۱۲- باب مَا يُؤْكَلُ مِنْ لُحُومِ الأَضَاحِي وَمَا يُتَزَوَّدُ مِنْهَا

۷۷- كتاب الأشربة

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

۵ -بَابٌ مَا جَاءَ فِيمَنْ يَسْتَحِلُّ الْخَمْرَ وَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ

۶- بَابُ الِانْتِبَاذِ فِي الْأَوْعِيَةِ وَالتَّوْرِ

۷- بَابُ تَرْخِيصِ النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم فِي الْأَوْعِيَةِ وَالظُّرُوفِ بَعْدَ النَّهْيِ

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

۱۲- بَاب اسْتِعْذَابِ الْمَاءِ

۱۳- بَاب شَوْبِ اللَّبَنِ بِالْمَاءِ

۱۴- بَاب شَرَابِ الْحَلْوَاءِ وَالْعَسَلِ

۱۵- بَاب الشُّرْبِ قَائِمًا

شمیرہ	مضمون	صفحہ

۲۷= باب آنِيَةِ الْفِضَّةِ

۲۸ = باب الشُّرْبِ فِي الأَقْدَاحِ

۲۹- باب الشُّرْبِ مِنْ قَدَحِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- وَآنِيَتِهِ

۳۰ = باب شُرْبِ الْبَرَكَةِ وَالْمَاءِ الْمُبَارَكِ

۷۸- کتاب المرضی

شمیره	مضمون	صفحه

۲- باب شدة المرض

۴- باب وجوب عیادة المریض

۶- باب فضل من یُصرَعُ من الریح

۷- باب فضل من ذهب بصره

شمیره	مضمون	صفحه

۸- باب عیادة النساء الرجال

۹- باب عیادة الصبیان

۱۱- باب عیادة المشرك

۱۳- باب وضع الید علی المریض

۱۴- باب ما یقال للمریض وما یجیبُ

۱۶- باب قول النبی انی وجعٌ اووا راساهُ او اشتد بی الوجعُ

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

کِتَابُ النَّفَقَاتِ

(الاحادیث: ۵۰۳۴-۵۰۵۷)

کتاب النفقات په پنځه پنځوس مرفوع احادیثو باندې مشتمل دې. په دې کښې درې احادیث معلق دی. د کتاب النفقات اکثر احادیث په صحیح بخاری کښې وړاندې تیر شوی دی صرف درې احادیث په دې کښې امام بخاری رحمه الله په اول ځل ذکر کړی دی په دې کښې یو حدیث متفق علیه دې. په کتاب النفقات کښې د صحابو کرامو رضی الله عنهم اود تابعینو نه امام بخاری درې آثار ذکر کړی دی. د ذکرشوؤ احادیثو اوآثارودپاره امام بخاری په کتاب النفقات کښې ۱۱۴ بابونه قائم کړی دی.

....

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

۷۲=كِتَابُ النَّفَقَاتِ

د نفقې اصطلاحي او شرعي معنی: نفقه لغت کښې هغه څيز ته وائی کوم چه سړی په خپل اهل وعيال باندې خرچ کړی. (۱) دا خو يا د (نفوق) نه مشتق دې، چه ددې معنی دهلاکت ده. وائی چه (نفقة الدابة...نفوقا) څناور هلاك شو. په طور د نفقه خرچ کولو والا څيز هم چونکه ختميږی ددې وجې دی ته نفقه وائی. اويا دا د(نفاق) نه ماخوذ دې چه ددې معنی رائج کيدل ده. وائی چه ((نفقت لسلعة....نفاقا)) سامان روان شو، رائج شو، خرچ شو.(۲)

دهدايه په مشهوره شرح (عناية) کښې دی چه (نفقه) اسم دې او (انفاق) (خرچ کولو والا) معنی کښې راځی. د نفقه نه مراد د يو څيز دپاره داسې اسباب مهيا کول چه دهغې په ذريعه هغه څيز قائميدل ممکن پاتې شی.(۳) او خرچ کولو سره دا اسباب مهيا کړې شی.

(وفی الاصطلاح عبارة عما وجب لزوجة أوقريب: اومملوك من الطعام واللباس والسكنی) (۴)

دشريعت په اصطلاح کښې دنفقه اطلاق د ښځې اواهل وعيال دپاره دانسان په ذمه لازم طعام، لباس او استوګنه باندې کيږی او (عرفا) ددې اطلاق صرف په طعام باندې کښې. (۵)

اسباب نفقه: د نفقه اسباب دريدی. ① زوجيت ② قرابت ③ملك ملك.

داشان که يوسړی ديو بل سړی د منفعت په وجه محبوس دې نو د هغه نفقه هم به باندی به وی.(۶)

۱=باب فَضْلِ النَّفَقَةِ عَلَى الأَهْلِ

وقول الله تعالٰی: [وَيَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ، قُلِ الْعَفْوَ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ] (البقره : ۲۱۹)

قوله: وَقَالَ الْحَسَنُ الْعَفْوُ الْفَضْلُ: حضرت امام بخاری رحمه الله دخپل عادت مطابق په ترجمة الباب کښې آيت کريمه ذکر کړې دې.[[وَيَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ قُلِ الْعَفْوَ]] يعنی خلق ستاسو نه تپوس کوی چه هغوی څه خرچ کړی؟ تاسو ورته اووائې (عفو). په دې ايت کريمه

(۱) الدر المختار: ج:۲ ص:۶۹۹)-
(۲) الدر المختار ج/۲، ص/۶۹۹، وفتح القدير: ۴/۱۹۳، و ارشاد الساری :: ج:۱۲ ص:۱۲۱،)
(۳) العناية هامش فتح القدير:۴/۱۹۲.)
(۴) تنوير الابصار : ۲/۶۹۹، ارشاد الساری : ۱۲/۱۲۱).
(۵) الدرالمختار:۲/۶۹۹.
(۶) فتح.التقدير: ۴/۱۹۳)

كښې د «عفو» دوه معنې بيان کړې شوې دی.
① آيت کريمه کښې عفو نه صدقه مفروضه مراد ده.د صدقه مفروضه مراد اخستلو په صورت کښې بياد مفسرينو درې اقوال دی:
رومبې قول : رومبې قول دادې چه ددې نه مراد زکوة دې، دلته اجمالاً ذکر دې. او احاديث کښې بيا ددې تفصيلات ذکر کړې شوی دی، ددې قول مطابق آيت منسوخ شوې نه دې.(١)
دويم قول : دويم قول دادې چه ددې نه مراد صدقه ده چه د زکوة د وجوب دنازليدو نه وړاندې مسلما نانو باندې واجب وه. د امام کلبی رحمت الله عليه په روايت کښې دی.
چه ددې آيت کريمه ناز ليدونه پس سره زر، سپين زر او مال څناور لرلووالا خلقو به د ټول کال خرچه په اندازه ايښوده او باقې مال به ئې صدقه کولو، تردې پورې چه د زکوة آيت نازل شو نودې سره مذکوره آيت منسوخ شو.(٢)
دريم قول:دادې چه د زکوة نه علاوه هم د سړی په مال کښې څه حق واجب دی. هغه مراد دې. دجمهورو عالمانو په نيز اگرچه أزكوة نه مس سرى مه مال كښې شه زيات حق واجب نه دی ليکن دبعضر حضرا توبه نيز أزكوة ند محلاوه هم مه مال کښې حق واجب دې چه د هغې مقدار متعين نه دې بلکه دسړی رائې باندې منحصر دې. نو علامه بنوری رحمه الله په معارف السنن کښې ليکی چه : ((وبعض السلف يرى أن فى المال حقا سوى الزكوة ولكنه غير منضبط مفوض الى رأى المبتلى به وهو المختار)) (٣)
دا حضرات سنن ترمذی کښې دحضرت فاطمه بنت قيس رضي الله عنها روا يت نه استدلال کوی چه حضور نبی کريم صلى الله عليه وسلم فرمائی چې «ان فى المال حقا سوى الزكوة»
ليکن جمهور علماء فرمائی چه دا حد يث مضطرب المتن دې، نو ابن ماجه هم دا روا يت دې الفاظو سره نقل کړې دې. «ليس فى المال حق سوى الزكوة» امام ترمذی هم ددې حد يث تضعيف کړې دې.(٤)
② آ يت کريمه کښې «عفو»په بله معنی کښې دصدقه نافله دپاره استعمال شوې دې. يعنی آ يت کښې «عفو» نه نفلی صدقه مراد ده، په دې صورت کښې د «عفو» مختلف تعبيرات کړې شوی دی.

---

(١) تفسير كبير للامام الرازي :٥٢/٦)
(٢) الجامع احكام القران للقرطبى:٣/٦١، ٦٢ ،٣/٦٢.
(٣) معارف السنن كتاب الزكوة: ٥/٦١، ٦٢)
(٤) اوگورئى سنن الترمذى كتاب الزكوة باب ماجاء أن فى المال حقا سوى الزكوة رقم الحديث : ٦٦٠، وسنن ابن ماجه كتاب الزكوة باب ماأدى زكوته ليس بكنز رقم الحديث: ١٧٨٩ نومحدثين دمضطرب المتن مثال كښې دا حديث پيش كوى، اوگورئى. لقط الدور بشرح متن نخبة الفكر : ٩٤ ، وتيسير مصطلح الحديث: ١١٢).

بعضو وئیلی دی چه د (عفو) نه هغه مال مراد دې چه دبنیادی اخراجاتو او ضرروتونو نه بچ شی[1]
بعضو وئیلی دی چه ددې نه هغه مال مراد دې چه دهغې خرچ کولو سره سړې تنګ نه وی او نه دې سره ورته پریشانی راشی اونه در په در شی.[2]

لیکن مقصد ددې ټولو تعبیرا تو نه هم یو دې یعنی (ما فضل من العیال) هغه مال چه دسړی او دده د کور د اخراجا تو نه زیات وی.داشان مال ته نفلی صدقه وئیلې شی. آ یت کریمه کښې ددې وضاحت کړې شوې دې.
ابن ابی حاتم ددې آ یت شان نزول کښې یو مرسل روایت نقل کړې دې چې حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه او حضرت ثعلبه رضي الله عنه نه روا یت دې چه دوی دواړو دنبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چې زمونږ بچې او مال غلامان شته دې،مونږ څه خرچ کړو؟ نو په دې سوال باندې دا آیت مبارك نازل شو.[3] چې ددې حاصل دادې چې د بال بچ او اهل وعیال نه څه بچ شی هغه په طور د نفلی صدقې خرچ کوئی، شارح بخاری ابن بطال رحمه الله لیکی چې:
((فروی عن اکثر السلف ان المراد بذلك صدقة التطوع))[4]
دصدقه نه مراد ثواب دې یعنی ددې نفقې به ده ته ثواب ملاو یږی، مجازی طور په ثواب باندې د صدقه اطلاق کړې شوې دې. حقیقی طور صدقه مراد نه ده ځکه چه زوجه هاشمیه نفقه هم په خاوند باندې واجب ده. او دهاشمیه دپاره صدقه ا خستل جائز نه دی. ددې وجې د صدقه نه مجازی ثواب مراد دې[5] نفقه واجب ده، په دې باندې د صدقه اطلاق اوکړو او دې طرفته اشاره اوشوه چې د واجب کیدو دامطلب نه دې چې په دې به ثواب نه ملاو یږی.
مهلب وائی چې:
(النفقة على الأهل واجبة بالأجماع وإنما سماها الشارع صدقة خشية أن يظنوا أن قيامهم بالواجب لا أجرلهم فيه وقدعرفوا ما في الصدقة من الأجر فعرفهم أنها لهم صدقة حتى لا يخرجوها إلى غير الأهل إلا بعد أن يكفوهم المؤونة ترغيبا لهم في تقديم) الصدقة الواجبة قبل صدقة التطوع) [6]

[۵۰۳۶] حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ يَزِيدَ الأَنْصَارِيَّ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ فَقُلْتُ عَنِ النَّبِيِّ فَقَالَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «إِذَا أَنْفَقَ الْمُسْلِمُ نَفَقَةً عَلَى أَهْلِهِ وَهُوَ يَحْتَسِبُهَا، كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً». [ر: ۵۵]

[1] تفسیر القران العظیم لابن کثیر: ۲۵۶/۱)
[2] روح المعانی: ۱۱۵/۲)
[3] فتح الباری: ۶۲۲/۹ عمدة القاری : ۱۲/۲۱ ارشاد الساری: ۱۲۲/۱۲)
[4] شرح ابن بطال: ۵۲۸/۷)
[5] فتح الباری: ۶۲۳/۹ وارشادالساری: ۱۲۲/۱۲)
[6] ارشاد الساری: ۱۲۲/۱۲ و فتح الباری: ۶۲۳/۹)

[٥٠٣٧] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «قَالَ اللَّهُ أَنْفِقْ يَا ابْنَ آدَمَ أُنْفِقْ عَلَيْكَ». [ر: ٤٤٠٧]

[٥٠٣٨] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أَبِي الْغَيْثِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، أَوِ الْقَائِمِ اللَّيْلَ الصَّائِمِ النَّهَارَ». [٥٢٢٠، ٥٢٢١]

په سند کښې د ابوالليث نه سالم مراد دې چې دعبدالله بن مطيع آزاد شوې غلام وو. دا حديث دلته بخاری کښې په رومبی ځل راغلې دې. مخکښې کتاب الادب کښې هم حضرت امام بخاری رحمه الله دا ذکر کړې دې.[1]

نبی کريم ﷺ لا فرمائيلی دی چې کونډې او مسکين دپاره محنت کوؤنکې دا الله جل جلاله په لار کښې جهاد کولو، يا دشپې عبادت کوؤنکی او د ورځې روژه نيوؤنکی په شان دې.

«أرملة» هغه ښځې ته وائی چه دهغې خاوند مړ شوې وی، کونډه.[2] «ساعي» نه مراد هغه سړې دې چې د کونډې اومسکين د فائدې دپاره کوشسونه کوی، حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې: «ومعنى الساعي الذي يذهب ويجيء في تحصيل ما ينفع الأرملة والمسكين»[3]

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: دې حديث کښې د مسکين او د کونډې د خدمت کولو فضيلت اګر چې عام بيان شوې دې ليکن ظاهر دی چې د سړی اقاربو کښې هم که څوك په دې دواړو صفتونو سره متصف کيد يشی، څوك کونډه کيد يشی، مسکين کيد يشی. نوکله چې په دې حديث پاك کښې د اجنبی او پردی دپاره دا فضيلت بيان کړې شوې دې نو د نزدې رشته دار دپاره مذکوره فضيلت په طريق اولی به ثابت وی، نو علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چې:

«مطابقة الحديث للترجمة من جهة إمكان اتصاف الأهل أي الأقارب بالصفتين المذكورتين، وإذا ثبت هذا الفضل لمن ينفق على من ليس له بقريب ممن اتصف بالوصفين فالمنفق على المتصف بهما أولى»[4]

---

[1] (٥٠٣٨) الحديث أخرجه البخاري في كتاب النفقات، باب فضل النفقة على الأهل رقم الحديث: ٥٠٣٨، وأيضا أخرجه البخاري في كتاب الأدب باب الساعي على الأرملة رقم الحديث: ٥٦٦٠ وأيضا باب الساعي على المسكين رقم الحديث: ٥٦٦١، وأخرجه مسلم في كتاب الزهد والرقاق، باب الإحسان إلى الأرملة والمسكين واليتيم رقم الحديث: ٢٩٨٢، وأخرجه النسائي في كتاب الزكوة: ٢٧٧/١، وأخرجه الترمذي في أبواب البر والصلة: ٢٧/٢ أخرجه ابن ماجه في التجارة: ١٥٥/١).

[2] مجمع بحار الانوار ٣٨١/٢، والنهايه لابن الاثير: ٢٦٦/٢).

[3] فتح الباري: ٦٢٤/٩)

[4] ارشاد الساري: ١٢١/١٢، فتح الباري: ٦٢٤/٩).

حضرت امام بخارى رحمه الله د (فَضْلِ النَّفَقَةِ عَلَى الأَهْلِ) ترجمة الباب قائمولو نه پس دا آيت ذكر كړې دې او ددې بلې معنى طرفته ئې اشاره كړې ده چې اول د اهل وعيال نفقه د سړى په ذمه ضرورى ده، بيا ددې نه زيات كه بچ كيږى نوهغه د نفل صدقه په طور خرچ كولې شى.

قوله: وَقَالَ الْحَسَنُ الْعَفْوُ الْفَضْلُ: دا د حسن بصرى رحمه الله تعليق دې، فرمائى چې په آيت كښې د (عفو) نه هغه مال مراد دې چې دضرورياتو او نفقې نه زيات وى. عبد بن حميد دا تعليق موصولاً نقل كړې دې.[1]

قوله: حدثنا ادم عن ابى مسعود الانصارى فقلت عن النبى ﷺ فقال عن النبى ﷺ: په دې كښې (قلت) قائل شعبه دې يعنى شعبه عدى بن ثابت نه تپوس اوكړو چې دا روايت د نبى كريم ﷺ نه مرفوعاً منقول دې؟ نو هغوى جواب وركړو اوددوئ تصديق ئې اوكړو. نود اسماعيل په روايت كښې ددې تصريح شته دې.[2]

دا روايت په كتاب الايمان كښې تير شوې دې. هغه ځائې كښې په دې باندې بحث شوې دې.[3]

حاصل دادې چې مسلمان كله په خپل اهل وعيال باندې د ثواب او اجر په نيت خرچ كوى نودا خرچ دده دپاره صدقد ده

[۵۰۳۹] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ سَعْدٍ -رضى الله عنه- قَالَ كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يَعُودُنِي وَأَنَا مَرِيضٌ بِمَكَّةَ، فَقُلْتُ لِي مَالٌ أُوصِي بِمَالِي كُلِّهِ قَالَ «لاَ». قُلْتُ فَالشَّطْرُ قَالَ «لاَ». قُلْتُ فَالثُّلُثُ قَالَ «الثُّلُثُ، وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ، أَنْ تَدَعَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَدَعَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ فِي أَيْدِيهِمْ، وَمَهْمَا أَنْفَقْتَ فَهُوَ لَكَ صَدَقَةٌ حَتَّى اللُّقْمَةَ تَرْفَعُهَا فِي فِي امْرَأَتِكَ، وَلَعَلَّ اللَّهَ يَرْفَعُكَ، يَنْتَفِعُ بِكَ نَاسٌ وَيُضَرُّ بِكَ آخَرُونَ». [ر: ۵۶]

حضرت سعدبن ابى وقاص رضى الله عنه فرمائى چې مكه مكرمه كښې ځه بيمار اووم. نبى كريم ﷺ ځما عيادت دپاره راغلې وو، ما عرض اوكړو چې ماسره مال دې، آيا ځه دخپل ټول مال وصيت اوكړم. نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې نه، ما تپوس اوكړو چې دنيم مال، حضور نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې نه، ما عرض اوكړو چې دثلث، حضور نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې كولې شى.اګر چې دا هم زيات دې، بيا ئې اوفرمائيل چې خپل رشته دار مالدار پريښودل تالره ددې نه زيات بهتر دى چې ته هغوى داسې حالت كښې پريږدې چې هغوئ خلقو ته لاس نيسى، ته چې په دوئ باندې ځه هم خرچ كوې هغه ستا دپاره صدقه ده. تر دې

[1] فتح البارى :۶۲۲/۹، تعليق التعليق: ۴۸۰/۴، عمدة القارى :۲۱/۲۱، وارشاد السارى :۱۲۱/۱۲، ۱۲۲).
[2] وارشاد السارى :۱۲۳/۱۲، فتح البارى :۶۲۲/۹).
[3] كشف البارى :۷۴۴/۲، باب ماجاء ان الاعمال باالنية والحسبة).

پورې چې نمړئی هم چې ته دخپلې ښځې په خله کښې ورکوي.

قوله: العالة: الفقراء يتكففون: يمدون أكفهم يسألون الناس: دا حديث پاك كتاب الوصايا كښې تير شوې دې، هلته دې باندې تفصيلى بحث شوې دې.

٢=باب وُجُوبِ النَّفَقَةِ عَلَى الأَهْلِ وَالْعِيَالِ.

امام بخارى رحمه الله په اول باب كښې د نفقه فضيلت او په دې باب كښې د وجوب ذكر فرمائيلې دې، داهل وعيال نفقه بالاجماع واجب ده (١)

نفقه كښې به دچا دحالت اعتبار وى: البته په دې كښې اختلاف دې چې نفقه واجب كيدو نه پس به دچا د حالت اعتبار وى، دخاوند د حالت يا دښځې دحالت ؟

① د حضرت امام شافعى رحمه الله مسلك دادې چې په دې كښې دخاوند د حالت اعتبار به وى، خاوند كه مالدار وى نو نفقه د اغنيا ء به واجب وى. كه غريب وى نو نفقه د فقراء به واجب وى. (٢) صاحب هدا يه په احنافو كښې د امام كرخى رحمه الله هم دا مسلك نقل كړې دې. (٣) اوعلامه ظفر احمد عثمانى رحمه الله په اعلاء السنن كښې هم دې قول دحنفيه ته ظاهر الروايت وئيلې دې. (٤)

ددې مسلك دليل يو خو دا يو آيت دې چې [لِيُنْفِقْ ذُوْسَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهٗ فَلْيُنْفِقْ مِمَّآ اٰتٰىهُ اللّٰهُ] (٥) آيت كريمه كښې دسړى د حالت اعتبار كړې شوې دې چې هغه دخپل وسعت او خپل استطاعت مطابق خرچ كرى.

. دويم دليل د حضرت معاويه قشيرى رضى الله عنه هغه حديث دې چې كوم امام ابو داود رحمه الله، امام نسائى رحمه الله، ابن ماجه رحمه الله، حاكم رحمه الله او ابن حبان رحمه الله نقل كړې دې. هغه فرمائى چې (اتيت رسول الله ﷺ فقلت ما تقول فى نسائنا: قال: فَاَطْعِمُوْهُمْ مِمَّا تَاْكُلُوْنَ واكسوهن مماتكتسون ولا تضربوهن ولا تقبحوهن) په دې حديث كښې به د سړى د حالت اعتبار شوې دې.

② دويم مسلك د امام مالك رحمه الله دې، د دوى په نيزد اول مسلك بالكل برعكس نفقه كښې دښځې د حالت اعتبار به وى. ښځه كه ما لداره وى نو نفقة د اغنياء اوكه غريبه وى نو نفقة فقراء به واجب وى. ابن قدامه په المغنى كښې امام ابوحنيفه رحمه الله همدا قول نقل كړې دې. (٦)

ددې مسلك دليل دا آيت كريمه دې [وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ] په دې آيت مبارك كښې (مَعْرُوْفِ) نه مراد كفايت دى يعنى د ښځې حالت اعتبار نه هغه نفقه دده دپاره كفايت

---

(١) شرح البخارى لابن بطال:٥٣٠/٧، فتح البارى : ٦٢٥/٩، عمدة القارى:١٣/٢١).

(٢) المغنى ابن قدامة كتاب النفقات:١٥٧/٨).

(٣) الهداية باب النفقة:٤٣٧/٢)

(٤) اعلاء السن ابواب الفقر باب تعتبر حال الزوج فى الفقر: ٢٨٩/١١).

(٥) سورة الطلاق الا:٧)

(٦) اعلاءالسنن:٢٨٩/١١)

او کړی.(١)
دويم دليل د هنده رضي الله عنها حديث دې چې حضور نبی کريم ﷺ هغې ته فرمائيلی وو چې «خذی مايكفيك وولدك بالمعروف» په دې کښې دخاوند دحالت اعتبار په ځائې دحضرت هنده رضي الله عنها دپاره کفايت کولو پيش نظر ايښودې شوې دې.(٢).
③ حضرات حنابله مسلك دې چې د ښځې خاوند د واړو د حالت اعتبار به کولې شی (٣)د رمختار کښې دی چې هم دا د حضرات حنفيه مفتی به قول دې.(٤) يعنی که دواړه مالدار دی نو نفقه اغنياء، دواړه تنګدست دی نو نفقه فقراء، او که ښځه تنګدسته ده نو ددې نفقه داغنياء د نفقه نه کمه او د فقراء د نفقه نه به زياده وی.
ددې مسلك دليل دادې چې ﴿لِيُنْفِقْ ذُوسَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ﴾ کښې به دخاوند د حالت اعتبار وی. او د ﴿وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ کښې به د ښځې د حالت اعتبار وی، نو د ښځې خاوند دواړو دحالت اعتبار به وی او په دواړو آيتونوبه عمل ممکن وی. نو ابن قدامه رحمه الله فرمائی په: «ولنا فيما ذكرناه جمعا بين الدليلين وعملا بكلا النصين ورعاية لكلا الجانبين فيكون أولى»
[٥٠٤٠] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ-رضي الله عنه-قَالَ قَالَ النَّبِيُّ-صلى الله عليه وسلم-«أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ مَا تَرَكَ غِنًى، وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى، وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ». تَقُولُ الْمَرْأَةُ إِمَّا أَنْ تُطْعِمَنِي وَإِمَّا أَنْ تُطَلِّقَنِي. وَيَقُولُ الْعَبْدُ أَطْعِمْنِي وَاسْتَعْمِلْنِي. وَيَقُولُ الاِبْنُ أَطْعِمْنِي، إِلَى مَنْ تَدَعُنِي فَقَالُوا يَا أَبَا هُرَيْرَةَ سَمِعْتَ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-. قَالَ لاَ هَذَا مِنْ كِيسِ أَبِي هُرَيْرَةَ.
[٥٠٤١] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ خَالِدِ بْنِ مُسَافِرٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-قَالَ «خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى، وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ».[ر: ١٣٦٠]

قوله: افضل الصدقة ما ترك غني: افضل صدقه هغه ده چې څه نه څه مالداری پريږدی. يعنی ددې په وجه سړې بالکل مفلس پاتې نشی، بلکه څه مالداری قائمه پاتې شی. داد صدقه بهترين قسم دې. سړې د ټول مال دومره صدقه اوکړی چې ده سره څه نه څه پاتې شی. دا د ړومبی صورت په نسبت غير افضل دې. ځکه په دې کښې ويره ده چې هسې نه دا سړې مفلس شی او بل ته لاس اونيسی. دا شان په دې صورت کښې بعضې واجب

(١) المغنی لابن قدامة: ١٥٦/٨)
(٢) المغنی لابن قدامة : ١٥٦/٨)
(٣) المغنی لابن قدامة : ١٥٦/٨).
(٤) الدر المختار : باب النفقة:٧٠١/٢).

حقوق ادا کول هم متاثره کیدیشی. مخکښې فرمائی چې «اَلْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى» په دې «يَدُ الْعُلْيَا» نه ورکولو والا لاس او «يَدِ السُّفْلَى» نه غوښتوؤنکې لاس مراد دې او ظاهر دی چې ورکول د اخستلو نه بهتر دی.

قوله: وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ :خرچ کولو کښې ابتداء د اهل وعیال نه پکار دی. په دې جمله کښې هم ددې حکم دې. ځکه چې په دوئ باندې خرچ کول واجب دی. او د واجب ادا کول په نفلو باندې مقدم دی. «مَنْ تَعُولُ» کښې ښځه او نابالغ اولاد خوبالاتفاق داخل دی، البته بالغ کیدو نه پس د اولاد په نفقه وجوب کیدو کښې اختلاف دې. دبعضې علماء کرامو په نزد د اولاد نفقه مطلقا دپلار په ذمه واجب ده. که بالغ وی اوکه نابالغ. لیکن د جمهورو په نیز د هلك دبالغیدو اود جینئ د واده کیدو نه پس د پلار ذمې نه نفقه واجب ختمه شی

قوله: تَقُولُ الْمَرْأَةُ إِمَّا أَنْ تُطْعِمَنِي وَإِمَّا أَنْ تُطَلِّقَنِي :دا جمله او ددې نه مخکښې جملې دحدیث مرفوع حصه نه ده. بلکه د ابو هریره رضی الله عنه کلام دې. چې په هغې کښې ابوهریره رضی الله عنه د «من تقول» تشریح کړې ده.نو امام نسائی رحمه الله فرمائی چې روایت مبارك کښې ددې تشریح شته دې، په هغې کښې دی چې ‹‹فسئل ابوهريرة من تعول يا أبا هريرة›› (۱).
یعنی ددوی نه تپوس اوکړې شو چې د «من تعول» مصداق څوك دی ؟. نو هغوی اوفرمائیل چې ښځه وائی چې ماباندې اوخوروه، کنی ماته طلاق راکړه، یعنی اهل وعیال کښې خو یو ښځه ده.

خاوند ناداره کیدو په صورت کښې ښځه نکاح فسخ کولی شی؟ : دې جمله نه د جمهورو علماءکرامو یو مختلف فیه مسئله کښې د خپل مسلك دپاره استدلال کړې دې. مسئله داده که خاوند تنګدست اونادار شی.داشان چې هغه د نفقه په ورکولو قادر نه وی نوداسې صورت کښې به ښځې ته دفسخ نکاح اختیار حاصل وی که نه.

① د ائمه ثلاثه په نیز داسې صورت کښې به ښځې ته دفسخ نکاح اختیار حاصل وی. که ښځه دخاوند د معسر او تنګدسته کیدو نه پس دده نه جدائی اوفراق غواړی نو د دواړو په مینځ کښې به تفریق راوستلې شی.

② دحضرات حنفیه په نیز په دې صورت کښې ښځې ته د فسخ نکاح اختیار نه دې حاصل بلکه هغه به صبر نه کار اخلی. ددې نفقه به ددې د خاوند په ذمه وی.د حضرت امام شافعی رحمه الله یو قول هم ددې مطابق دې(۲).

ائمه ثلاثه یو خو حدیث باب نه استدلال کوی

---

(۱) فتح الباری:۹/۶۲۶)

(۲) دمذاهبودپاره اوګورئی : نیل الأو طار :۶/۲۶۴ إعلاء السنن :۱۱/۲۹۰، ابواب النفقة وعمدةالقاری: ۱۵/۲۱).

او دويم د دارقطنى د روايت نه استدلال كوى. په هغې كښې دى چې «ان النبى ﷺ قال فى الرجل لايجد ماينفق على امرأته قال يفرق بينهما»
دحضرات حنفيه طرف نه د ړومبى استدلال خو دا جواب ورکړې شوې دې چې اول دا جمله د مرفوع حديث نه ده. بلكه دحضرت ابو هريره رضي الله عنه د قول تشريح ده. دويم په دې كښې صرف د فراق مطالبه ده او مطالبه د فراق د فسخ د نكاح لره مستلزم نه ده.[1]
تركومې چې تعلق دى د امام دارقطنى د روايت نو ابوحاتم دې لره معلول ګرز ولې دې. لهذا هغه قابل استدلال نه دې.[2]
حضرات حنفيه ددې نصوصو نه استدلال كوى چې په هغې كښې د فقر نه باوجود د نكاح ترغيب وركړې شوې دې. هغه فرمائى كه د فقرو تنګدستئ په وجه فرقت كيدلې نوبيا بۀ په حالت د فقركښې د نكاح ترغيب نه وركړې كيدو. نوامام محمد رحمه الله فرمائى «كتاب الحجج» كښې په خپل بلاغات كښې دا روايت نقل كړې دې. «بلغنا عن النبى ﷺ ان رجلا اتاه يشكو اليه الحاجة فقال اذهب فتزوج».[3] او امام محمد رحمه الله بلاغات د حضرات حنفيه په نيز حجت دې.[4]
داشان امام ثعلبى رحمه الله په خپل تفسير كښې او ديلمى رحمه الله د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه مرفوع روايت نقل كړې دې چې د هغې الفاظ دى چې «التمسوا الرزق بالنكاح».[5]
امام حاكم په مستدرك كښې روايت نقل كړې دې چې «تزوجوا النساء فانهن يأتين بالمال» حاكم فرمائى چې دا حديث على شرط الشيخين دې.[6] اوعلامه ذهبى رحمه الله په تلخيص كښې ددې تائيد كړې دې.[7]
په مجمع الزوائد كښې ددې روايت د صحت باره كښې دې چې «ورجاله رجال الصحيح خلا مسلم بن جنادة وهو ثقة».[8]
د دې ټولو نصونو نه خبره معلومه شوه چې دسړى غريب كيدل اولاس خالى كيدل د فسخ نكاح سبب نه دى جوړيدل پكار والله اعلم.
قوله: وَيَقُولُ الابْنُ أَطْعِمْنِي، إِلَى مَنْ تَدَعُنِي: خوئې پلار ته وائى چه ماته خوراك

---

[1]) اعلاء السنن :۱۱/۲۹۱).
[2]) نيل الاوطار :۶/۲۶۳. والتلخيص الحبير:۲/۳۲۳).
[3]) إعلاء السنن : ۱۱/۲۹۱).
[4]) إعلاء السنن : ۱۱/۲۹۱).
[5]) الفردوس بما ثور الخطاب للديلمى : ۱/۸۸ . رقم الحديث:۲۸۲).
[6]) المستدرک للامام الحاكم: ۲/۱۶۱كتاب النكاح).
[7]) تلخيص الامام الذهبى :۲/۱۶۱ كتاب النكاح)
[8]) مجمع الزوائد ۴/۲۵۵ . باب تزوجوالنساء ياتيكم بالاموال).

راکوه ته ماته حواله کوي چاته مې پرېږدې. ددې جملې نه بعضې حضراتو استدلال کړې دې او وائي که په اولاد کښې د چا سره مال وي يا د هغه کاروبار وي نو د هغه نفقه به په پلار باندې واجب نه وي ځکه چې ﴿إِلَىٰ مَنْ تَدَعُنِي﴾ خو هغه انسان وائي چې دچا په پلار باندې د نفقه نه سوا بل څه څيز دپاره رجوع ممکن نه وي صاحب مال او کاروباري کس دا جمله نشي وئيلې.([1])

ځوئې پلارته وائي چې مابانديې اوخوروه، ته ما چاته حواله کوې. چاته مې پرېږدې. ددې جملې نه استدلال کوي او بعضې حضرات وائي که په اولاد کښې چاسره مال وي يا دده کاروبار وي نو د هغه نفقه په پلار باندې واجب نه ده. ځکه چې ﴿إِلَىٰ مَنْ تَدَعُنِي﴾ خو به هغه انسان وائي چې دهغه دپاره دپلار د نفقې نه علاوه بل يو څيز طرفته رجوع ممکن نه وي، صاحب مال او کاروباري سړې دا جمله نشي وئيلې.([2])

قوله: هَٰذَا مِنْ كِيسِ أَبِي هُرَيْرَةَ: (کيس) (د کاف کسره سره) تهيلئ ته وائي. يعنى دا تشريح ما د نبى کريم ﷺ نه نه ده آوريدلې بلکه دا څما کلام دې بعضو روايتونو کښې (کَيس) (دکاف فتحه سره) دې. په معنى د عقل و دانش يعنى دا تشريح ما دخپل عقل ودانش نه کړې ده.([3]) حديث مرفوع نه دې. لکه څنګه چې مخکښې او وئيلې شو چې د امام نسائى رحمه الله روايت کښې هم ددې تصريح ده چې حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه د (من تعول) متعلق تپوس اوکړې شو. نو هغوى ددې په تشريح کښې دا جمله اووئيله:

قوله: خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى: بهترينه صدقه هغه ده چې ما لدارئ سره وي، يعنى صدقه کولونه پس انسان بالکل مفلس پاتې نشي او د نورو محتاج نه وي، علامه عينى رحمه الله دالفظ (ظهر) متعلق فرمائي چې:

«والظهر قد يزاد فى مثل هذا دتساعا للكلام وتمكينا كأنه صدقة مستندة إلى ظهر قوى من المال»([4])

٣=باب حَبْسِ نَفَقَةِ الرَّجُلِ قُوتَ سَنَةٍ عَلَى أَهْلِهِ، وَكَيْفَ نَفَقَاتُ الْعِيَالِ

[٥٠٤٢] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ أَخْبَرَنَا وَكِيعٌ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ قَالَ قَالَ لِي مَعْمَرٌ قَالَ لِي الثَّوْرِيُّ هَلْ سَمِعْتَ فِي الرَّجُلِ يَجْمَعُ لِأَهْلِهِ قُوتَ سَنَتِهِمْ أَوْ بَعْضِ السَّنَةِ قَالَ مَعْمَرٌ فَلَمْ يَحْضُرْنِي، ثُمَّ ذَكَرْتُ حَدِيثًا حَدَّثَنَاهُ ابْنُ شِهَابٍ الزُّهْرِيُّ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسٍ عَنْ عُمَرَ رضى الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ يَبِيعُ نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ، وَيَحْبِسُ

---

[1]) فتح البارى :۶۲۶/۹، و ارشاد السارى:۱۲۶/۱۲).
[2]) فتح البارى :۶۲۶/۹، و ارشاد السارى:۱۲۶/۱۲).
[3]) عمدة القارى :۱۴/۲۱، وارشاد السارى :۱۲۷/۱۲، فتح البارى:۶۲۶/۹).
[4]) عمدة القارى: ۱۵/۲۱)؟

لِأَهْلِهِ قُوتَ سَنَتِهِمْ.

[٥٠٤٣] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي مَالِكُ بْنُ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ وَكَانَ مُحَمَّدُ بْنُ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ ذَكَرَ لِي ذِكْرًا مِنْ حَدِيثِهِ، فَانْطَلَقْتُ حَتَّى دَخَلْتُ عَلَى مَالِكِ بْنِ أَوْسٍ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ مَالِكٌ انْطَلَقْتُ حَتَّى أَدْخُلَ عَلَى عُمَرَ، إِذْ أَتَاهُ حَاجِبُهُ يَرْفَا فَقَالَ هَلْ لَكَ فِي عُثْمَانَ وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ وَالزُّبَيْرِ وَسَعْدٍ يَسْتَأْذِنُونَ قَالَ نَعَمْ. فَأَذِنَ لَهُمْ- قَالَ فَدَخَلُوا وَسَلَّمُوا فَجَلَسُوا، ثُمَّ لَبِثَ يَرْفَا قَلِيلاً فَقَالَ لِعُمَرَ هَلْ لَكَ فِي عَلِيٍّ وَعَبَّاسٍ قَالَ نَعَمْ. فَأَذِنَ لَهُمَا، فَلَمَّا دَخَلاَ سَلَّمَا وَجَلَسَا، فَقَالَ عَبَّاسٌ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ اقْضِ بَيْنِي وَبَيْنَ هَذَا. فَقَالَ الرَّهْطُ عُثْمَانُ وَأَصْحَابُهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ اقْضِ بَيْنَهُمَا، وَأَرِحْ أَحَدَهُمَا مِنَ الآخَرِ. فَقَالَ عُمَرُ اتَّئِدُوا أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ الَّذِي بِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالأَرْضُ، هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «لاَ نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ». يُرِيدُ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم نَفْسَهُ. قَالَ الرَّهْطُ قَدْ قَالَ ذَلِكَ. فَأَقْبَلَ عُمَرُ عَلَى عَلِيٍّ وَعَبَّاسٍ فَقَالَ أَنْشُدُكُمَا بِاللَّهِ هَلْ تَعْلَمَانِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ ذَلِكَ قَالاَ قَدْ قَالَ ذَلِكَ. قَالَ عُمَرُ فَإِنِّي أُحَدِّثُكُمْ عَنْ هَذَا الأَمْرِ، إِنَّ اللَّهَ كَانَ خَصَّ رَسُولَهُ صلى الله عليه وسلم فِي هَذَا الْمَالِ بِشَيْءٍ لَمْ يُعْطِهِ أَحَدًا غَيْرَهُ، قَالَ اللَّهُ (مَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْهُمْ فَمَا أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ) إِلَى قَوْلِهِ (قَدِيرٌ). فَكَانَتْ هَذِهِ خَالِصَةً لِرَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَاللَّهِ مَا احْتَازَهَا دُونَكُمْ وَلاَ اسْتَأْثَرَ بِهَا عَلَيْكُمْ، لَقَدْ أَعْطَاكُمُوهَا وَبَثَّهَا فِيكُمْ، حَتَّى بَقِيَ مِنْهَا هَذَا الْمَالُ، فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِمْ مِنْ هَذَا الْمَالِ، ثُمَّ يَأْخُذُ مَا بَقِيَ، فَيَجْعَلُهُ مَجْعَلَ مَالِ اللَّهِ، فَعَمِلَ بِذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم حَيَاتَهُ، أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ، هَلْ تَعْلَمُونَ ذَلِكَ قَالُوا نَعَمْ. قَالَ لِعَلِيٍّ وَعَبَّاسٍ أَنْشُدُكُمَا بِاللَّهِ هَلْ تَعْلَمَانِ ذَلِكَ قَالاَ نَعَمْ ثُمَّ تَوَفَّى اللَّهُ نَبِيَّهُ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَنَا وَلِيُّ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَقَبَضَهَا أَبُو بَكْرٍ يَعْمَلُ فِيهَا بِمَا عَمِلَ بِهِ فِيهَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَأَنْتُمَا حِينَئِذٍ وَأَقْبَلَ عَلَى عَلِيٍّ وَعَبَّاسٍ تَزْعُمَانِ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ كَذَا وَكَذَا، وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَنَّهُ فِيهَا صَادِقٌ بَارٌّ رَاشِدٌ تَابِعٌ لِلْحَقِّ، ثُمَّ تَوَفَّى اللَّهُ أَبَا بَكْرٍ فَقُلْتُ أَنَا وَلِيُّ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَأَبِي بَكْرٍ، فَقَبَضْتُهَا سَنَتَيْنِ أَعْمَلُ فِيهَا بِمَا عَمِلَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَأَبُو بَكْرٍ، ثُمَّ جِئْتُمَانِي وَكَلِمَتُكُمَا وَاحِدَةٌ وَأَمْرُكُمَا جَمِيعٌ، جِئْتَنِي تَسْأَلُنِي نَصِيبَكَ مِنِ ابْنِ أَخِيكَ، وَأَتَى هَذَا يَسْأَلُنِي نَصِيبَ امْرَأَتِهِ مِنْ أَبِيهَا، فَقُلْتُ إِنْ شِئْتُمَا دَفَعْتُهُ إِلَيْكُمَا عَلَى أَنَّ عَلَيْكُمَا عَهْدَ اللَّهِ وَمِيثَاقَهُ لَتَعْمَلاَنِ فِيهَا بِمَا عَمِلَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم- وَبِمَا عَمِلَ بِهِ فِيهَا أَبُو

بَكْرٍ، وَبِمَا عَمِلْتُ بِهِ فِيهَا، مُنْذُ وَلِيتُهَا، وَإِلاَّ فَلاَ تُكَلِّمَانِي فِيهَا فَقُلْتُمَا ادْفَعْهَا إِلَيْنَا بِذَلِكَ. فَدَفَعْتُهَا إِلَيْكُمَا بِذَلِكَ، أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ هَلْ دَفَعْتُهَا إِلَيْهِمَا بِذَلِكَ فَقَالَ الرَّهْطُ نَعَمْ. قَالَ فَأَقْبَلَ عَلَى عَلِيٍّ وَعَبَّاسٍ فَقَالَ أَنْشُدُكُمَا بِاللَّهِ هَلْ دَفَعْتُهَا إِلَيْكُمَا بِذَلِكَ قَالاَ نَعَمْ. قَالَ أَفَتَلْتَمِسَانِ مِنِّي قَضَاءً غَيْرَ ذَلِكَ، فَوَالَّذِي بِإِذْنِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالأَرْضُ لاَ أَقْضِي فِيهَا قَضَاءً غَيْرَ ذَلِكَ، حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ، فَإِنْ عَجَزْتُمَا عَنْهَا فَادْفَعَاهَا فَأَنَا أَكْفِيكُمَاهَا. [ر: ٢٧٤٨]

حضرت امام بخاری ﷫ په دې باب کښې وئيل غواړی چې سړی دخپل اهل وعيال دپاره که دټول کال غله محفوظ کوی نوداجائزدی. اوپه دې کښې هيڅ باك نشته دې. ځکه نبی کريم ﷺ دخپل اهل وعيال دپاره د يو کال غله محفوظ کړې ساتله

يو اشکال او د هغې جواب: په دې باندې يو اشکال دا کېدې شی چې امام ترمذی ﷫ په شمائل ترمذی کښې يو حديث نقل کوی چې (کان النبی لایدخر شیئا لغد) (١) چې نبی کريم ﷺ به سبا دپاره هم څه څيز نه پريښودو او دلته د ټول کال ذکر دې

ددې جواب دادې چې د شمائل ترمذی روايت د نبی کريم ﷺ ذات سره مخصوص دی او دلته د اهل و عيال دپاره دغلې د فراهمئ ذکر دې، ددی وجې تعارض نشته دی. (٢)

د غلې ذخيره کولو موده څومره پکار ده ؟: بعضې صوفياء کرامو د روايت باب نه استدلال کړې دې او وئيلې ئې دی چې يو کال نه زياته غله فراهم کول به د سنت نه خلاف وی. (٣)

ليکن ابن جرير﷫ ددې روايت نه استدلال کړې دې چې مطلقا دغلې فراهمی درست ده، که يو کال دپاره وی او که ددې نه زياته ولې نه وی. (٤)

په دې استدلال باندې اشکال کيږی چې روايت کښې خو ديو کال تصريح ده، مطلقا د غلې د فراهمئ جواز ددې نه څنګه اخذ کولې شی ؟

ددې جواب دادې چې دا ورکولې شی چې دراصل د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې چې کومه غله او دخوراك څيز به راتلو، هغه عام طور وو او يا کهجورې به راتلې او عام طور سره دا څيزونه کال په کال به نوی نوی راتلل، ځکه نبی کريم ﷺ ټول کال نه د زياتو اهتمام نه کولو.

بهر حال د حديث الفاظ که اوکتلې شی نو ددې نه معلوميږی چې يو کال دپاره نبی کريم ﷺ د غلې د فراهمئ اهتمام کړې وو، ليکن که په دې معنی باندې غور اوکړې شی نو بيا دابن جرير طبری ﷫ استدلال قوی معلوميږی. (٥)

ځينې صوفياء کرام وآئی چې سبا دپاره د غلې د فراهمئ انتظام کول خلاف توکل دی، ليکن

(١) شمائل الترمذی باب ماجاء فی خلق رسول الله ﷺ :٢٩٣، رقم الحديث:٣٥٥).
(٢) فتح الباری :٦٢٩/٩، ارشادالساری ١٢٧/١٢).
(٣) فتح الباری :٦٢٩/٩).
(٤) فتح الباری:٦٢٩/٩).
(٥) فتح الباری :٦٢٩/٩).

صحیح دادی چې د خلقو احوال مختلف وی، د ځینې حضراتو حالات داسې وی چې ددوئ دپاره دصبا دپاره انتظام کول هم منافی توکل په نظر رازی، او د ځینو حالات داسې وی چې د هغوئ دپاره دصبا څه چې ددې نه زیات اهتمام کول ضروری وی.
دې باب کښې چې کوم طویل حدیث ذکرکړې شوې دې، دا په کتاب المغازی کښې تفصیل سره تیر شو بدې.[1] د ترجمة الباب د رومبئ حصې مناسبت خو د حدیث پاك نه ظاهر دې د دوئمې حصې «وکیف نفقات العیال» مناسبت بیانوی. او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې:
«رأیت أنه یمکن منه أن یوخذ منه دلیل التقدیر لان مقدار السنة اذا عرف، عرف منه توزیعها علی ایام السنة فیعرف حصة کل یوم من ذالك فکانه قال: لکل واحدة فی کل یوم قدر معین من المغل المذکور والاصل فی الاطلاق التسویة» [فتح الباری: ۹/۶۲۸، (مغل) غله ورکوؤنکئ پټی]
یعنی ددې حدیث نه د نفقه مقدار دلیل اخذ کولې شی، ځکه چې کله دټول کال نفقه معلومه شی نو د کال په ورځو باندې دا تقسیمول هم معلومیږی چې هرې ورځې په حصه کښې د نفقه څومره مقدار راغلو.

۴= باب وَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى (وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ

إِلَى قَوْلِهِ (بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ) وَقَالَ (وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا) وَقَالَ (وَإِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرَى * لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ) إِلَى قَوْلِهِ (بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا). وَقَالَ يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ نَهَى اللَّهُ أَنْ تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَذَلِكَ أَنْ تَقُولَ الْوَالِدَةُ لَسْتُ مُرْضِعَتَهُ. وَهِيَ أَمْثَلُ لَهُ غِذَاءً، وَأَشْفَقُ عَلَيْهِ، وَأَرْفَقُ بِهِ مِنْ غَيْرِهَا، فَلَيْسَ لَهَا أَنْ تَأْبَى بَعْدَ أَنْ يُعْطِيَهَا مِنْ نَفْسِهِ مَا جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْهِ، وَلَيْسَ لِلْمَوْلُودِ لَهُ أَنْ يُضَارَّ بِوَلَدِهِ وَالِدَتَهُ، فَيَمْنَعَهَا أَنْ تُرْضِعَهُ ضِرَارًا لَهَا إِلَى غَيْرِهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَسْتَرْضِعَا عَنْ طِيبِ نَفْسِ الْوَالِدِ وَالْوَالِدَةِ، فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا، بَعْدَ أَنْ يَكُونَ ذَلِكَ عَنْ تَرَاضٍ مِنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ، (فِصَالُهُ) فِطَامُهُ.

ترجمة الباب کښې امام بخاری رحمه الله درې آیتونه ذکر کړی دی، رومبی آیت مبارك د پئ ورکوؤنکې ښځې دپاره دنفقې په وجوب باندې دلالت کوی، دویم آیت «وَحَمْلُهُ وَفِصٰلُهُ....» د رضاعت د مودې مقدار ښائی، اود دریم آیت مبارك کښې دا خبره بیان شوېده چې په اتفاق کښې خرچ کولو والا د حالت په اعتبار سره به وی.[2]

قوله: وَقَالَ يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ: فرمائی چې الله جل جلاله دا خبره منع فرمائیلې ده چې

---

[1] کشف الباری، کتاب المغازی باب حدیث بنی النضیر: ۱۸۶، ۱۹۱).
[2] فتح الباری: ۹/۶۳۰).

مور د بچي په وجه پلار ته نقصان اورسوی. ددې صورت دادې چې پلار ته دې دا اووائی چې څه به دې بچي ته پئ نه ورکوؤم. حالانکه ددې پئ د غذا په اعتبار سره د بچي دپاره زيات مناسب دی او د بلې ښځې په مقابله کښې هغه دبچی دپاره زياته مشفقه او همدرده (نو دانکار په صورت کښې دبچی پلار ته به تکليف وی) ددې و جې دده دپاره دا حق ادا کول چې کوم الله جَلَّ جَلَالُهُ فرض کړی دی.

او داشان پلار لره هم دا اختيار نشته دې چې هغه د بچي په وجه دده مور ته تکليف اورسوی. داشان چې هغه د پئ ورکولو نه منع کړی. او يو بلې ښځې ته ددې اجازت ورکړی. (ظاهر دی چې کله مور خپل بچي ته په پئ ورکولو باندې راضی وی نو ددې باوجود پلار دې ته د پئ ورکولو اجازت نه ورکوی. بلکه بچی يو بلې ښځې ته حواله کړی نو دا خبره مور دپاره يقينی د تکليف باعث ده، داشان د بچي مور ته تکليف ورکول جائز نه دی).

قوله: فَيَمْنَعَهَا أَنْ تُرْضِعَهُ ضِرَارًا لَهَا إِلَى غَيْرِهَا: په دې کښې (إِلَى غَيْرِهَا) د (يمنع) متعلق دې، (اى منعها ينتهى الى رضاع غيرها) د يونس د تعليق لره ابن وهب موصولا نقل کړې دې (١)

قوله: (فِصَالُهُ) فِطَامُهُ: آيت کريمه کښې د (فصال) لفظ راغلې دې، ددې تفسير (فطام) سره کړې دې، چې ددې معنی بچي د پئيو نه منع کول، دا د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا تفسير دې، چې امام ابن طبری رَحِمَهُ اللهُ نقل کړې دې. (٢)

٥=باب نَفَقَةِ الْمَرْأَةِ إِذَا غَابَ عَنْهَا زَوْجُهَا وَنَفَقَةِ الْوَلَدِ.

امام بخاری رَحِمَهُ اللهُ دې باب کښې دامسئله بيان کړې ده چې که خاوند غائب شی نو ددۀ د ښځې او اولاد نفقه بۀ ددۀ د مال نه ورکولې شی.

د حنابله او حضرات حنيفه هم دا مسلك دې (٣)

زمونږ فقهاء کرامو ليکلی دی چې که د خاوند مال دښځې په حق کښې جنس نه وی يا د ثمنين (دينارو درهم) وغيره نه ده په مال کښې موجود وی نو پدې دواړو صورتونو کښې به ښځه خپل حق ددۀ د مال نه د نفقې دپاره وصولولې شی.

ليکن ددې دوؤ نه علاوه دمال که نو راقسام وی نو په دې صورت کښې به دقاضی د فيصلې او اجازت سره ښځې اخستې شی، ددې نه بغير نه. (٤)

[٥٠٤٤]. حَدَّثَنَا ابْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ أَنَّ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ جَاءَتْ هِنْدُ بِنْتُ عُتْبَةَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ

---

(١) تغليق التعليق: ٤/٤٨١، فتح الباری: ٩/٦٣٠، ٦٣١).

(٢) عمدة القاری: ٢١/١٩، ارشاد الساری: ١٢/١٣٢، فتح الباری: ٩/٦٣١).

(٣) فتح الباری: ٤/٢٠٩).

(٤) فتح القدير: ٤/٢١٠).

رَجُلٌ مِسِّيكٌ، فَهَلْ عَلَى حَرَجٌ أَنْ أُطْعِمَ مِنَ الَّذِى لَهُ عِيَالَنَا قَالَ « لاَ إلاَّ بِالْمَعْرُوفِ».[ر:٢٠٩٧]

قوله: رَجُلٌ مِسِّيكٌ: (مِسِّيكٌ) يا خو د فعيل په وزن د ميم په فتحه سره اود سين په كسره سره دې او يا (مِسِّيكٌ) د ميم په كسره اود سين په مكسور مشدد سره د مبالغه صيغه ده په معنى دبخيل.([1])

[٥٠٤٥] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا عَبْدُالرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ-رضى الله عنه-عَنِ النَّبِيِّ-صلى الله عليه وسلم-قَالَ «إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ كَسْبِ زَوْجِهَا عَنْ غَيْرِ أَمْرِهِ فَلَهُ نِصْفُ أَجْرِهِ».[ر:١٩٦٠]

دلته د يحيى نه كوم يحيى مراد دې ؟ علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چې ددې نه يحيى بن موسى (بلخى) او يحيى بن جعفر (بيكندى) دواړه مراد اخستې شى.([2])
علامه عينى رحمه الله فرمائى چې يحيى بن جعفر مراد دې او په دې كښې د تردد ضرورت ځكه نشته دې چې په كتاب البيوع كښې دغه بعينه هم دې سند سره دا روايت تير شوې دې، او هلته د يحيى بن جعفر تصريح موجوده ده.([3])
علامه عينى رحمه الله نه مخكښې علامه مزى رحمه الله په تحفة الاشراف كښې ددې تصريح كړې ده او وئيلى ئې دى چې دا يحيى بن جعفر دې.([4]) داحديث پاك په يو سند او متن مكرر دې.

=٦باب عَمَلِ الْمَرْأَةِ فِى بَيْتِ زَوْجِهَا

[٥٠٤٦]. حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِى الْحَكَمُ عَنِ ابْنِ أَبِى لَيْلَى حَدَّثَنَا عَلِى أَنَّ فَاطِمَةَ-عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ-أَتَتِ النَّبِيَّ-صلى الله عليه وسلم-تَشْكُو إِلَيْهِ مَا تَلْقَى فِى يَدِهَا مِنَ الرَّحَى، وَبَلَغَهَا أَنَّهُ جَاءَهُ رَقِيقٌ فَلَمْ تُصَادِفْهُ، فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لِعَائِشَةَ، فَلَمَّا جَاءَ أَخْبَرَتْهُ عَائِشَةُ-قَالَ-فَجَاءَنَا وَقَدْ أَخَذْنَا مَضَاجِعَنَا، فَذَهَبْنَا نَقُومُ فَقَالَ « عَلَى مَكَانِكُمَا ». فَجَاءَ فَقَعَدَ بَيْنِى وَبَيْنَهَا حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَ قَدَمَيْهِ عَلَى بَطْنِى فَقَالَ « أَلاَ أَدُلُّكُمَا عَلَى خَيْرٍ مِمَّا سَأَلْتُمَا، إِذَا أَخَذْتُمَا مَضَاجِعَكُمَا-أَوْ أَوَيْتُمَا إِلَى فِرَاشِكُمَا-فَسَبِّحَا ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ، وَاحْمَدَا ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ، وَكَبِّرَا أَرْبَعًا وَثَلاَثِينَ، فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ [ر:٢٩٤٥]

د ښځې په ذمه د كار مسئله: امام بخارى رحمه الله داباب قائم كړې دې او يو مشهورې اختلافى

---

[1]) عمدة القارى:٢١/ ١٩ ارشاد السارى:١٢/ ١٣٤)
[2]) شرح الكرمانى:٢٠/١٠، رقم الحديث: ٥٠١٦، عمدة القارى:١٩/٢١، ارشاد السارى:١٣٣/١٢).
[3]) عمدة القارى:٢١/ ١٩)
[4]) قال المزى فى تحفة الاشراف بمعرفة الاطراف : وفى النفقات (٥:٢) عن يحيى بن جعفر ولم ينسبه فى النفقات: ٣٩٧/١٠،رقم الحديث :١٤٦٩٥).

مسئله طرفته ئې اشاره کړې ده، مسئله داده چې د ښځې په ذمه دکور کار ضروری دې که نه. دې کښې اختلاف دې د حضرات فقهاء کرامو.

① د امام شافعی رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله مسلك دادې چې د ښځې په ذمه د کور کار ضروری او واجب نه دې. (لان عقد النكاح يتناول الاستمتاع لا الخدمة) (١)

حدیث پاك په ظاهره ددوئ دمسلك خلاف دې ځکه چې په دې کښې دی چې فاطمه رضي الله عنها بهٔ د علی رضي الله عنه په کور کښې دکور کار کولو.

ددې باب په جواب کښې داحضرات وائی چې فاطمه رضي الله عنها به دخپلو اوچتو اخلاقو اواوچتو عادتونو په وجه داسې کول، د دې وجه دا نه وه چې دکو رکار دهغې په ذمه ضروری وو. (٢)

② مالکیه حضرات فرمائی چې که خاوند صاحب وسعت وی او ښځه هم صاحب حیثیت وی نو داسې صورت کښې د ښځې په ذمه دکور کار واجب نه دې بلکه د خاوند په ذمه لازم دې چې هغه دښځې دپاره خادم مقرر کړی، بیا هم که ښځه د غریبی کورنئ نه دکار کوؤنکی یو ښځه وی یا ښځه خو صاحب حیثیت وی لیکن د خاوند کمزورې دې نو په دې دواړو صورتونو کښې د ښځې په ذمه دکور کار ضرروی او واجب دې. (٣)

③ د حضرات حنیفه مسلك هم د مالکیه ته نزدې دې، هغوئ فرمائی چې خاوند مالدار وی نو دکور خدمت د ښځې په ذمه نه ده بلکه د خاوند په ذمه وې لره خادم ساتل واجب دی، اوکه خاوند غریب اومالی لحاظ سره کمزورې وی نو په دې صورت کښې د ښځې په ذمه د کور کار دیانتا واجب دې.

شمس العلماء سرخسی رحمه الله فرمائی که ښځه په دې صورت کښې دکور کار نه انکار اوکړی نو په هغې باندې جبر نشته دې، البته داسې حالت کښې د خاوند په ذمه د روټئ پخکړې وغیره فراهمی ضروری نه ده.

قوله: أَلَا أَدُلُّكُمَا عَلَى خَيْرٍ مِمَّا سَأَلْتُمَا: ددې جملې نه یو مطلب خو دا اخذ کولې شی چې تسبیح فاطمی سره سړی ته داسې قوت اوطاقت ملاویږئ چې د خادم د قوت نه به زیات وی اود مختلفو امورو انجام ته رسول د انسان دپاره آسان او سهل شی.

لیکن دویم مطلب داد چې دکوم زیات ظاهر دې چې دد تسبیح او ذکر فائده آخرت سره خاص ده او دخادم فائده دنیا سره مختص ده او آخرت ددتیا په مقابله کښې زیات بهتر او دائمی دې. (٤)

---

(١) المغنی لابن قدامة کتاب عشرة النساء:٧/٢٢٥، ولا مع الدراری:٩/٣٧٧).

(٢) لا مع لدراری: ٩/٣٨٩).

(٣) لا مع لدراری: ٩/٣٨٩).

(٤) لا مع لدراری: ٩/٣٨٩).

٧=باب خَادِمِ الْمَرْأَةِ

[٥٠٤٧] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ أَبِي يَزِيدَ سَمِعَ مُجَاهِدًا سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ أَبِي لَيْلٰى يُحَدِّثُ عَنْ عَلِيِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ أَنَّ فَاطِمَةَ -عَلَيْهَا السَّلَامُ- أَتَتِ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- تَسْأَلُهُ خَادِمًا فَقَالَ «أَلاَ أُخْبِرُكِ مَا هُوَ خَيْرٌ لَكِ مِنْهُ، تُسَبِّحِينَ اللّٰهَ عِنْدَ مَنَامِكِ ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ، وَتَحْمَدِينَ اللّٰهَ ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ، وَتُكَبِّرِينَ اللّٰهَ أَرْبَعًا وَثَلاَثِينَ». -ثُمَّ قَالَ سُفْيَانُ إِحْدَاهُنَّ أَرْبَعٌ وَثَلاَثُونَ- فَمَا تَرَكْتُهَا بَعْدُ، قِيلَ وَلاَ لَيْلَةَ صِفِّينَ قَالَ وَلاَ لَيْلَةَ صِفِّينَ. [ر:٢٩٤٥]

امام بخاری رحمه الله ددې باب لاندې د علی رضی الله عنه او فاطمه رضی الله عنها د کورنئ ژوند متعلق د نبی کریم ﷺ ارشاد مبارك نقل کوی او دې خبرې طرفته اشاره کوی که ښځه د کور د کار کولو استطاعت لرې نو په خاوند باندې لازم نه دی چې ددې دپاره خادم اونيسی.

خوکه ښځه دکور دکار او دخوراك وغيره پخولو طاقت نه لرې لکه بيماره وی نو داسې صورت کښې د خاوند په ذمه خوراك تيارول او انتظام کول او دخادم مهيا کول ضروری دی، د ښځې د خادم نفقه هم دخاوند په ذمه واجب ده. [1]

٨=باب خِدْمَةِ الرَّجُلِ فِي أَهْلِهِ

[٥٠٤٨]. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْحَكَمِ بْنِ عُتَيْبَةَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ -رضى الله عنها- مَا كَانَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- يَصْنَعُ فِي الْبَيْتِ قَالَتْ كَانَ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ، فَإِذَا سَمِعَ الأَذَانَ خَرَجَ. [ر:٦٤٤]

امام بخاری رحمه الله په دې ترجمة الباب کښې وئيل غواړی چې سړی له پکار دی چې کله هغه په کور کښې وی نو د کور په کارونو کښې دې مدد کوی او دکوروالو سره دې مدد کوی، نبی کريم ﷺ بهٔ هم په کور کښې مختلفو کارونو کښې مصروف وو او دکور ضروريات پوره کولو دپاره ئې مدد کولو، شارح بخاری ابن بطال د مهلب حوالې سره فرمائی چې:

«فمن السنة يمتهن الانسان نفسه فی بيته يحتاج اليه من امر دنياه وما يعينه على دينه وليس الترفه فی هذا بمحمود ولا من سبيل الصالحين وانما ذالك من سير الاعاجم» [2]

شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمه الله فرمائی چې حديث باب نه په کور کښې د کو ر کار د کولو استحباب معلوميږی. [3]

قوله: كَانَ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ: «مِهْنَة» د ميم په کسر سره او فتحه دواړو سره وئيلې کيږی،

[1] هداية: ٤٣٩/٢، الانصاف: ٣٥٧/٩، در مختار : ٧١١/٢).

[2] شرح ابن ابطال :٥٤٢/٧).

[3] الابواب والترجم:٨٦/٢، عمدة القاری:٢١/ ٢١).

دهاء په سکون دې، کار ته اوپه خدمت کښې مهارت ته وائی د احدیث پاك په کتاب الصلاة کښې تیر شوې دې. (١)

٩=باب إِذَا لَمْ يُنْفِقِ الرَّجُلُ فَلِلْمَرْأَةِ أَنْ تَأْخُذَ بِغَيْرِ عِلْمِهِ مَا يَكْفِيهَا وَوَلَدَهَا بِالْمَعْرُوفِ

[٥٠٤٦]. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ هِشَامٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ هِنْدَ بِنْتَ عُتْبَةَ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ، وَلَيْسَ يُعْطِينِي مَا يَكْفِينِي وَوَلَدِي، إِلاَّ مَا أَخَذْتُ مِنْهُ وَهُوَ لاَ يَعْلَمُ فَقَالَ « خُذِي مَا يَكْفِيكِ وَوَلَدَكِ بِالْمَعْرُوفِ».[ر: ٢٠٩٧]

پدې باب کښې امام بخاري رحمه الله وئیل غواړی که خاوند ښځې ته نفقه نه ورکوی او خرچه هم نه ورکوی نو د ښځې دپاره جائز دی چې هغه دخاوند د اجازت نه بغیر ددهٔ په مال کښې عرفا چې خومره دې او ددهٔ د اولاد د پاره کافی کیږی واخلی. ددې نه وړاندې یو باب تیر شوې دې که خاوند غائب وی نو ښځهٔ دخاوند د مال نه اخستې شی او په دې باب کښې د خاوند د حاضریدو په صورت کښې نفقه نه ورکولو متعلق اووئیلې شو چې ښځه په قدر د ضرورت اوکفایت اخستې شی، نو دواړو ترجمو کښې تکرار نشه دې. (٢)

١٠=باب حِفْظِ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا فِي ذَاتِ يَدِهِ وَالنَّفَقَةِ

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا ابْنُ طَاوُسٍ عَنْ أَبِيهِ وَأَبُو الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ « خَيْرُ نِسَاءٍ رَكِبْنَ الإِبِلَ نِسَاءُ قُرَيْشٍ وَقَالَ الآخَرُ صَالِحُ نِسَاءِ قُرَيْشٍ - أَحْنَاهُ عَلَى وَلَدٍ فِي صِغَرِهِ، وَأَرْعَاهُ عَلَى زَوْجٍ فِي ذَاتِ يَدِهِ». وَيُذْكَرُ عَنْ مُعَاوِيَةَ وَابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم-.[ر: ٣٢٥١]

ړومبی باب کښې خو دا وئیلې شوی وو چې د خاوند په مال کښې دومره مال اخستې شی چې ددې او ددې د اولاد دپاره کافی وی، دا جائز دی، په دې باب کښې دا وئیل غواړی چې دخپل ځان او اولاد د ضرورت نه زیات د خاوند مال نه دښځې دپاره دخاوند د اجازت نه بغیر څه اخستل جائز نه دی.

ترجمة الباب کښې «ذَاتِ يَدِهِ» نه مراد مال دې، او «والنفقة» په دې باندې «عطف الخاص على العام» قبیل نه دې.

ځینو نسخو کښې د «النفقة» نه پس «عليه» اضافه ده. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې دا بلاضرورت دی. (٣)

---

(١) عمدة القاري:٢١/ ٢١. ارشاد الساري:١٢/١٣٦. فتح الباري :٩/٦٣٣).
(٢) الابواب والترجم :٢/٨٦).
(٣) فتح الباري :٩/٦٣٩).

حديث باب په كتاب النكاح كښې تير شو ېدې او هلته ددې تفصل هم تير شو ېدې.[1]

قوله: وَيُذْكَرُ عَنْ مُعَاوِيَةَ وَابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم:

دطاوس د حديث باب په شان روايت معاويه بن ابى سفيان رضي الله عنه او ابن عباس رضي الله عنه هم نقل كړې دې كوم لره چې دا امام احمد بن حنبل رحمه الله او امام طبرانى موصولا نقل كړې دې، او د ابن عباس رضي الله عنه روايت هم د امام احمد بن حنبل رحمه الله هم نقل كړې.[2]

١١=باب كِسْوَةِ الْمَرْأَةِ بِالْمَعْرُوفِ

[٥٠٥١] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ مَيْسَرَةَ قَالَ سَمِعْتُ زَيْدَ بْنَ وَهْبٍ عَنْ عَلِيٍّ - رضى الله عنه - قَالَ آتَى إِلَىَّ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - حُلَّةً سِيَرَاءَ فَلَبِسْتُهَا، فَرَأَيْتُ الْغَضَبَ فِي وَجْهِهِ فَشَقَقْتُهَا بَيْنَ نِسَائِي.[ر: ٢٤٧٢]

د امام بخارى رحمه الله مقصد ددې باب نه دادې چې څنګه د خاوند په ذمه د ښځې نفقه واجب ده، داشان جامه او لباس هم واجب دى، اوپه دې كښې بهٔ دخپلې خپلې علاقې اعتبار وى.[3]

امام بخارى رحمه الله چې په ترجمة الباب كښې كوم الفاظ ذكر كړى دى دا په دې حديث پاك كښې وارد دى، چې ددې تخريج امام مسلم رحمه الله كړې دې. هغه يو طويل حديث دې، چې په هغې كښې د حجة الوداع هم ذكر دې، په هغه خطبه كښې يو ځائې كښې د نبى كريم ﷺ ارشاد دې چې «اتقوا الله في النساء..... ولهن عليكم رزقهن وكسوتهن بالمعروف» [4] داحديث پاك چونكه د امام بخارى رحمه الله په شرط باندې په ترجمة الباب كښې ذكر كوى او دې طرفته اشاره كوى او ترجمة الباب لره ئې د على رضي الله عنه د حديث نه ثابت كړې دې.[5]

على رضي الله عنه فرمائى چې د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې د جامو يو ريښمى جوړا راوړې شوه «نبى كريم ﷺ هغه ماته راكړه» نو ما هغه واغوستله، ما د نبى كريم ﷺ په مخ مبارك باندې غصه او خفګان اوليدو. «ځكه چې هغه ريښم وو چې دهغې استعمالول د سړى دپاره جائز نه وو» نو ما هغه اوشلوله اوپخپلو رشته دارو ښځو مې تقسيم كړه.

حديث پاك كښې «نسائى» جمع دې، د على رضي الله عنه په هغه وخت كښې صرف يو ښځه فاطمه رضي الله عنها وه، او نورو رشته دارو ښځو ته ئې هم په دې كښې حصه وركړه، نو ددې و جې ئې د جمعې لفظ راوړو.[6]

د حديث مناسبت د باب ظاهر دى. علامه قسطلانى رحمه الله ليكى چې:

---

[1] كشف البارى: كتاب النكاح: ١٥٧).
[2] فتح البارى :٦٣٩/٩. عمدة القارى:٢١/ ٢٣. ارشاد السارى:١٣٨).
[3] شرح ابن بطال :٥٤٤/٧).
[4] صحيح مسلم كتاب الحج. باب حجة النبى ﷺ: ٨٩٠/٢. رقم الحديث : ١٤٧).
[5] فتح البارى :٦٤٠/٩).
[6] فتح البارى :٦٤١/٩ عمدة القارى:٢١/ ٢٣. ارشاد السارى:١٣٩/١٢).

«والمطابقة بين الترجمة والحديث من جهة ان الذى حصل لفاطمة رضی الله عنها من الحلة قطعة فرضيت بها اقتصاد بحسب الحال لا اسرافا» (۱)

۱۲=باب عَوْنِ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا فِي وَلَدِهِ.

حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ عَمْرٍو عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنهما - قَالَ هَلَكَ أَبِي وَتَرَكَ سَبْعَ بَنَاتٍ أَوْ تِسْعَ بَنَاتٍ فَتَزَوَّجْتُ امْرَأَةً ثَيِّبًا فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «تَزَوَّجْتَ يَا جَابِرُ». فَقُلْتُ نَعَمْ. فَقَالَ «بِكْرًا أَمْ ثَيِّبًا». قُلْتُ بَلْ ثَيِّبًا. قَالَ «فَهَلاَّ جَارِيَةً تُلاَعِبُهَا وَتُلاَعِبُكَ، وَتُضَاحِكُهَا وَتُضَاحِكُكَ». قَالَ فَقُلْتُ لَهُ إِنَّ عَبْدَ اللَّهِ هَلَكَ وَتَرَكَ بَنَاتٍ، وَإِنِّي كَرِهْتُ أَنْ أَجِيئَهُنَّ بِمِثْلِهِنَّ، فَتَزَوَّجْتُ امْرَأَةً تَقُومُ عَلَيْهِنَّ وَتُصْلِحُهُنَّ. فَقَالَ «بَارَكَ اللَّهُ لَكَ». أَوْ قَالَ خَيْرًا. [ر: ۴۳۲]

دې باب مقصد دادې چې د بچی نفقه خو د خاوند په ذمه واجب وی، لیکن ښځې ته هم پکار دی چې هغوئ دې حسب استطاعت د بچو د تربیت او خسمانې کښې دخاوند مدد او هغه سره تعاون دې اوکړې.

ابن بطال رحمه الله فرمائی چې د بچو د خسمانې په سلسله کښې دخاوند سره تعاون اګر چې دښځې په ذمه واجب او فرض نه دی، بیا هم د نیك او صالحو ښځو طریقه ده چې هغوئ داشان معاملو کښې د خاوند سره تعاون کوی. (۲)

دحدیث مناسبت دباب سره ظاهر دې.

۱۳=باب نَفَقَةِ الْمُعْسِرِ عَلَى أَهْلِهِ.

[۵۰۵۳] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ أَتَى النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - رَجُلٌ فَقَالَ هَلَكْتُ. قَالَ «وَلِمَ». قَالَ وَقَعْتُ عَلَى أَهْلِي فِي رَمَضَانَ. قَالَ «فَأَعْتِقْ رَقَبَةً». قَالَ لَيْسَ عِنْدِي. قَالَ «فَصُمْ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ». قَالَ لاَ أَسْتَطِيعُ. قَالَ «فَأَطْعِمْ سِتِّينَ مِسْكِينًا». قَالَ لاَ أَجِدُ. فَأُتِيَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بِعَرَقٍ فِيهِ تَمْرٌ فَقَالَ «أَيْنَ السَّائِلُ». قَالَ هَا أَنَا ذَا. قَالَ «تَصَدَّقْ بِهَذَا». قَالَ عَلَى أَحْوَجَ مِنَّا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَوَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا بَيْنَ لاَبَتَيْهَا أَهْلُ بَيْتٍ أَحْوَجُ مِنَّا فَضَحِكَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى بَدَتْ أَنْيَابُهُ قَالَ «فَأَنْتُمْ إِذًا». [ر: ۱۸۳۴]

دې باب کښې د معسر او تنګدست خپل اهل وعیال باندې خرچ کولو بیان دې،

---

(۱) فتح الباری: ۶۴۱/۹ عمدة القاری: ۲۱/ ۲۳؛ ارشاد الساری: ۱۲/ ۱۳۹).

(۲) شرح ابن بطال: ۵۴۵/۷، عمدة القاری: ۲۴/۲۱ فتح الباری: ۶۴۱/۹).

شيخ الحديث مولانا زكريا رحمه الله فرمائي چې د ترجمة الباب مقصد دادې چې اعسار او تنګدسئ په وجه د خاوند په ذمه واجب نفقه به ساقط نه وي. (١)
حديث نه د ترجمة الباب ثبوت: د حديث نه ترجمة الباب داشان ثابت كړې شوې دې چې صحابى رضي الله عنه ته نبى كريم ﷺ كله چې كهجورى وركړې او د هغې د صدقه كولو دپاره ئې ورته اووئيل نو هغه اووئيل ې څه د اخپل خان نه زيات محتاج باندې صدقه كړم؟ حالانكه خما نه زيات محتاج څوك نشته دې، نو ددې نه د اهل وعيال دصدقې اهتمام معلوم شو، ځكه كه دا اهتمام نه وې نو صدقه كړې به وو، معلوم شو چې د تنګدست او معسر په ذمه د اهل وعيال خرچ واجب دې او ددې اهتمام كول پكار دى. (٢)
حديث باب كښې د «عرق» لفظ راغلې دې چې دذې معنى د تهيلئ.
دغريب مورپلار او د اولاد د نفقه مسئلې: دويمه مسئله دلته دااوګنړئ چې مور پلار تنګدست او فقيران وى او دوئ سره څه آمدنى نه وى او نه ورسره مال وى نو داسې صورت كښې ددوئ نفقه د اولاد په مال كښې واجب ده، ابن منذر په دې باندې اجماع نقل كړې ده. (٣)
د عائشه صديقه رضي الله عنها نه روايت دې چې «انت من اطيب ما اكل الرجل من كسبه وولده من كسبه» (٤)
امام ابوداؤد رحمه الله د عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده په طريق سره يو روايت نقل كړې دې چې د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې يو سړې راغلو او عرض ئې اوكړو چې ما سره مال دې او خما بچى هم دى. او خما پلار خما د مال محتاج دې، نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې «ان ومالك لوالدك ان اولادكم من اطيب كسبكم فكلوا من كسب اولادكم» (٥)
داشان په دې خبره باندې هم اجماع ده چې دسړى دنابالغو بچو نفقه هم ددهٔ په ذمه واجب ده. كه پلار مړ شى او مور صاحب استطاعت وى نو د بچو نفقه د مور په ذمه واجب ده. د حضرات احنافو او حنابله او شوافعو هم دا مسلك دې.
امام مالك رحمه الله فرمائي چې نه دمور نفقه په چا واجب ده او نه په دې باندې د چا نفقه واجب ده. «لانفقه لها ولا عليها» (٦)
علامه موفق الدين ابن قدامه د جمهورو طرفنه د قرآن عظيم الشان آيت [﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾] دليل پيش كوى.
د امام ابو داؤد رحمه الله يو حديث لره هم هغوئ په استدلال كښې ذكر كړې دې چې يو صحابى راغلو او نبى كريم ﷺ نه ئې تپوس اوكړو چې «من ابر» څه چا سره احسان اوكړم؟ نو نبى

---

(١) الابواب والتراجم: ٢/٨٦).
(٢) الابواب والتراجم: ٢/٨٦ عمدة القارى: ٢١/٦٤).
(٣) المغنى لابن قدامة، كتاب النفقة: ٨/١٦٩).
(٤) سنن ابى داؤد كتاب البيوع باب فى الرجل ياكل من مال ولده (رقم الحديث ٣٥٢٨).
(٥) سنن ابى داؤد كتاب البيوع باب فى الرجل ياكل من مال ولده (رقم الحديث ٣٥٢٨).
(٦) المغنى لابن قدامة :٨/١٢٩).

كريم ﷺ اوفرمائيل چې (امك، ثم امك ثم امك ثم اباك ثم الاقرب فالاقرب) ([1])
نو په دې کښې دمور د ذکر ډېر اهميت راغلې دې، ددې و جې که هغه محتاجه وى نو د هغې نفقه د اولاد په ذمه واجب ده. ([2])

۱۴=باب (وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَلِكَ) [البقرة: ۲۳۳]

وَهَلْ عَلَى الْمَرْأَةِ مِنْهُ شَيْءٌ (وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا أَبْكَمُ) ([3]) إِلَى قَوْلِهِ (صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ) [النحل]

په ايت مبارک کښې د وارث نه مراد څوک دى ؟: دې آيت مبارك کښې د وارث په تفسير کښې اختلاف دې.

① يو قول دادې چې وارث نه پخپله بچې مراد دې اومطلب دادې چې د پلار د مرګ په صورت کښې د بچى مال کښې ددهٔ پيئو خرچه به واجب وى. داپه هغه صورت کښې دى چې کله د بچى مال وى، دا د قبيصه بن ذوئب او امام ضحاك رحمه الله قول دې. ([4])

② د وارث نه دبچى دپلار وارثان مراد دى، که هغه سړې وى اوکه ښځه وى، مطلب دادې چې که پلار مړ شى نو بچى ته د پئيو څکولو خرچه به دده دپلار د وراثانو په ذمه وى په قدر د ميراث. داقول د امام احمد بن حنبل رحمه الله او حسن بصرى رحمه الله نه مروى دې. ([5]) د امام شافعى رحمه الله هم دا قول دې: ([6])

③ دريم قول دادې چې د وارث نه دبچى وارثان مراد دى. يعنى د بچى د مړ کيدو په صورت کښې به چې کوم خلق ددهٔ وارثان جوړيږى، هغه مراد دى، چې دپلار د مرګ په صورت کښې په دې وارثانو باندې د ميراث په حصه کښې په قدر دخرچې واجب وى. ([7])

④ د وارث نه د بچى ذى رحم محرم مراد دى دحضرات حنفيه داقول دې. ځکه چې د عبدالله

---

[1]) سنن ابى داؤد كتاب الادب فى بر الوالدين : رقم الحديث :۵۱۳۹).

[2]) المغنى لابن قدامة :۸/ ابواب النفقة، المغنى لابن قدامة :۱۶۹/۸).

[3]) (ابكم) هوالذى ولد اخرس لا يتكلم ولا يفهم ولا يفهم (الى قول) و تتمتها ((لَا يَقْدِرُ عَلَى شَيْءٍ وَهُوَ كَلٌّ عَلَى مَوْلَاهُ أَيْنَمَا يُوَجِّهْهُ لَا يَأْتِ بِخَيْرٍ هَلْ يَسْتَوِي هُوَ وَمَنْ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَهُوَ عَلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ)) (كل) ثقل، (مولاه) من يتولى امره وشؤونه، (اينما) حيثما يرسله لا يقوم بما ينفع (من يامر...) سليم الحواس نفاع ذوهداية وارشاد (صراط مستقيم) سيرة صالحة دين قويم وهذا مثل شربه الله تعالى لنفسه وكيف انه يفيض على عباده من ا نعامه ولما يشملخهم به من آثار رحمته والطافه وللاصنام التى هى جماد لا تضرد ولا تنفع ولاتنطق ولا تسمع ولا تدرى ولاتعقل وهى ثقل على عابديها تكلفهم الحمل والنقل والخدمة دون ان تسموبهم فى فكراوترقى بهم حضارة.

[4]) الجامع لاحكام القرآن للقرطبى :۱۷۰/۳).

[5]) شرح ابن بطال :۵۴۷/۷، فتح البارى :۶۴۲/۹، عمدة القارى:۲۴/۲۱).

[6]) روح المعانى : ۱۴۷/۳).

[7]) روح المعانى : ۱۴۷/۳، ارشاد السارى:۱۴۱/۱۲).

بن مسعود رضي الله عنه په قول قرآد کښې (على الوارث ذى رحم المحرم مثل ذالك) راغلې دې. [1]
لکه ذی رحم محرم دوه رونړه یا خویندې وی نو دواړو نه نصف نصف اخستې شی، او که چرې یو رور خور ده نو د رور نه به د وه ثلث او د خور نه به یو ثلث شی، او په وارثانو باندې خرچه به په دې صورت کښې وی که پخپله بچی سره مال نه وی که چرې اخستې بچی سره مال وی نو بیا ټول خرچ به هم ده په مال کښې ورکړې کیږی. [2]
یاکه د تیم بچی مور او نیکه ژوندې وی نو دوئ دواړه دې بچی محرم هم دی. او وارث هم، ځکه چې ددهٔ نفقه په دې دواړو باندې په قدر د حصه میراث به عائد وی. یعنی یو تهائی خرچه د مور په ذمه او دو تهائی دنیکه په ذمه. ددې نه معلوم شو چې د یتیم نمسی حق په نیکه باندې د خپلو بالغو ځامنو نه هم زیات دې ځکه چې د بالغ اولاد نفقه دده په ذمه نه ده او د یتیم نمسی نفقه دده په ذمه ده. [3]
⑤ د وارث نه والدینو کښې دیو انتقال نه پس چې کوم باقی پاتې شی هغه مراد دې، دپلار دمرګ په صورت کښې مور او د مور د مرګ په صورت کښې به پلار مراد وی، او وارث باقی معنی کښې استعمالیږی. [4]
په دې صورت کښې مور هم په دې وراثانو کښې داخله شوه چې په کوم باندې د پئیو خرچه واجب وی، دا قول د زید بن ثابت نه مروی دې، او هغه فرمائی چې د پلار د مرګ نه پس که د بچی ترڅاو مور دواړه پاتې ئې نو خرچه به په دواړو باندې په قدر د میراث ضروری وی. [5]
شارح بخاری ابن بطال رحمه الله فرمائی چې زید بن ثابت رحمه الله د هغه قول رد کولو دپاره امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب کښې (وهل على المراة منه شئ) اضافه کړې ده، مطلب دادې چې د ښځې په ذمه څه واجب نه دی. [6]
دلیل کښې د قرآن پاك دا آیت مبارك پیش کوی [[ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ اَحَدُهُمَآ اَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ]] امام بخاری رحمه الله ښځې لره په [[اَبْكَمُ]] سره تشبیه ورکړه چې په وینا قادر نه وی او پخپل آقا باندې بوج جوړ شوې وی، داشان ښځه هم قادره نه ده، ددې وجې ددې په ذمه هیڅ لازم نه دی. [7] ابن منیر رحمه الله فرمائی چې:

---

[1] احکام القرآن (للتهانوی) :۲/۱، عمدة القاری:۲۱/ ۲٤). او یو قرات د دویم قرات تفسیر دې. یعنی وارث نه هغه ذی رحم محرم مراد دی که بچې مړ شی نو دې د هغه وارث جوړ شی، په قدر د میراث به په ټولو باندې خرچه لازم وی.
[2] معارف القران (ازمولانا محمد ادریس کاندهلوی):۱/۳٤۹).
[3] معارف (ازمولانا محمد شفیع رحمه الله: ۱/۱٤۱).
[4] روائع البیان : ۱\ ۳۵۱ ، وعمدة القاری: ۲۱\ ۲٤- و ارشاد الساری : ۱۲\۱٤۱-
[5] شرح ابن ابطال: ۷/۵٤۷).
[6] وفی اللامع:۹/۳۹۰، قوله وهل على المراة....يعنى هل يجب على المراة من مالها لرضاع صبيها جوابه محذوف اى لايجب لان المراة كل والكل لاوجوب عليه بل الوجوب له كما نطق به النص).
[7] شرح ابن بطال :۷/۵۵۷، عمدة القاری:۲۱/ ۲٤).

(انما قصد البخارى الرد على من زعم ان الام يجب عليها نفقة ولدها وارضاعة بعد ابيه له خولها فى الوارث فبين ان الام كانت كلا على الاب واجبة النفقة عليه ومن هو كل بالاصالة لايقدر على شئ غالبا كيف يتوجه عليه ان ينفق على غيره) [1]

[٥٠٥٤] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ زَيْنَبَ ابْنَةِ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلْ لِي مِنْ أَجْرٍ فِي بَنِي أَبِي سَلَمَةَ أَنْ أُنْفِقَ عَلَيْهِمْ، وَلَسْتُ بِتَارِكَتِهِمْ هَكَذَا وَهَكَذَا، إِنَّمَا هُمْ بَنِيَّ. قَالَ « نَعَمْ لَكِ أَجْرُ مَا أَنْفَقْتِ عَلَيْهِمْ». [ر:١٣٩٨]

[٥٠٥٥] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ هِنْدُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ أَنْ آخُذَ مِنْ مَالِهِ مَا يَكْفِينِي وَبَنِيَّ قَالَ «خُذِي بِالْمَعْرُوفِ». [ر:٢٠٩٧]

د ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دې چې ما عرض اوكړو چې يارسول الله ﷺ! آيا د ابو سلمه بچو ته خرچ وركولو سره بۀ ماته ثواب ملاويږي، ځكه هغوئ لره په داسې حالت او غريبئ كښې نه شم پريښودې، هغه هم ځما بچې دي. نبي كريم ﷺ اوفرمائيل چې آو تاته بۀ ثواب ملاويږي، چې كوم ته د هغوئ په ذات باندې خرچ كړې.

ام سلمه رضي الله عنها دې حديث نه خبره صراحت سره معلومه شوه چې ددوئ پخپل اولاد باندې خرچ كولو په طور د نفل واستحباب وو چې ددې خبرې دليل دې چې دا په دې واجب نه وو. د حديث پاك ترجمة الباب سره مناسبت ذكر كوى او علامه عينى رحمه الله ليكى چې:

(مطابقة للترجمة من حيث ان ام الصبى كل على ابيه فلا يجب عليها نفقة بينها ولهذا لم يامر النبى ﷺ ام سلمة بالانفاق على بنيها وانما قال لك اجرما انفقت عليهم) [2]

دويم حديث د هنده رضي الله عنها دې، په هغې كښې دا خبره ظاهر ده چې دپلار موجودګئ كښې دمور په ذمه هيڅ نشته دې. بلكه خرچ د پلار مال نه دې، دپلار د وفات نه پس هم دا اصل په برقرار وى.

ليكن په دې باندې يو اشكال كيدې شى چې دپلار په ژوند كښې د مور هيڅ ذمه نشته دې، دادې خبرې لره مستلزم نه دې چې د پلار د وفات نه پس هم دمور په ذمه څه نه وى، ځكه چې ددې نه دبچى دپرورش متعلق ډير مصلحتونو ته نقصان رسى، ددې وجى حافظ ابن حجر رحمه الله ليكى چې:

(فيتحتمل ان يكون مراد البخارى من الحديث الاول وهو حديث ام سلمة فى انفاقها على اولادها كا الجزاء الاول من الترجمة وهو ان وارث الاب كالام يلزم نفقة المولود بعد موت الاب، ومن الحديث الثانى الجزء الثانى وهو

[1] فتح البارى :٩/٦٤٣).
[2] عمدة القارى:٢١/ ٢٥).

انه ليس على المراة شئ عند وجود الاب وليس فيه تعرض لما بعد الاب) [1]
د حافظ ابن حجر رحمه الله ددې کلام حاصل دادې چې د باب د ړومبی حدیث نه د امام بخاری رحمه الله د ترجمة الباب د جزء اول تائید کول دی، چې د بچی د پلار د وفات نه پس د نورو وارثانو باندې دبچی د مور پشان نفقه لازم ده او دویم حدیث نه د ترجمة الباب دویم جزء ثابت کړې دې چې د پلار موجودګئ کښې د ښځې په ذمه هیڅ هم واجب نه دی.
البته په دې باندې شبه کیدی شی چې د ترجمة الباب اول جزء کښې د قرآن عظیم الشان آیت چې کومه حصه [[وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ]] ذکر کړې دې دا خو په وجوب باندې دلالت کوی او دباب حدیث اول وجوب په ځائې استحباب باندې دلالت کوی نو دال علی الاستحباب دال علی الوجوب تائید کښې ولې پیش کړو.
ددې وجې ابن منیر رحمه الله چې کومه خبره فرمائیلې ده هغه زیاته زړه ته نزدې ده چې دامام بخاری رحمه الله مقصد دواړو حدیثونو سره دترجمة الباب جزء ثانی «وهل على المرأة منه شئ» ثابتول دی، چې ددې تفصیل تیر شوې دې.

١٥- باب قَوْلِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم «مَنْ تَرَكَ كَلًّا أَوْ ضَيَاعًا فَإِلَيَّ»

[٥٠٥٦] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ يُؤْتَى بِالرَّجُلِ الْمُتَوَفَّى عَلَيْهِ الدَّيْنُ، فَيَسْأَلُ «هَلْ تَرَكَ لِدَيْنِهِ فَضْلاً». فَإِنْ حُدِّثَ أَنَّهُ تَرَكَ وَفَاءً صَلَّى، وَإِلاَّ قَالَ لِلْمُسْلِمِينَ «صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ». فَلَمَّا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْفُتُوحَ قَالَ «أَنَا أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ، فَمَنْ تُوُفِّيَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فَتَرَكَ دَيْنًا فَعَلَىَّ قَضَاؤُهُ، وَمَنْ تَرَكَ مَالاً فَلِوَرَثَتِهِ». [ر: ٢١٧٦]

ددې ترجمة الباب مقصد دادې که یو سړې مړ شی، اودهٔ نه څهٔ مال نه وی پاتې شوې او ددهٔ اهل وعیال ددهٔ د نفقې اوخرچ محتاج وی نو دمسلمانانو بیت المال به ددهٔ کفالت کوی.
(كل) په معنی د بوج ده، مراد قرض او دین دې.او(ضياع) د ضاد په فتحه سره په معنی د هلاکیدا دې،مراد داسې بچی چې دهغوئ سره مدداونه کړې شو نو ددهٔ دهلاکیدو خطره وی. [2]

١٦- باب الْمَرَاضِعِ مِنَ الْمَوَالِيَاتِ وَغَيْرِهِنَّ

[٥٠٥٧] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ

---

[1]) فتح الباری :٦٤٣/٩).

[2]) قوله فالي بتشديد الياء ومعناه فينتهي ذالك الى وانا اتدارك اتداركه وهو بمعنى على اى فعلى قضاءه والقيام بمصالحة : عمدة القاری:٢٥/٢١، و ارشاد الساری: ١٤٣/١٤).

أَنَّ زَيْنَبَ ابْنَةَ أَبِي سَلَمَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ انْكِحْ أُخْتِي ابْنَةَ أَبِي سُفْيَانَ. قَالَ «وَتُحِبِّينَ ذَلِكِ». قُلْتُ نَعَمْ لَسْتُ لَكَ بِمُخْلِيَةٍ، وَأَحَبُّ مَنْ شَارَكَنِي فِي الْخَيْرِ أُخْتِي. فَقَالَ «إِنَّ ذَلِكِ لاَ يَحِلُّ لِي». فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَوَاللَّهِ إِنَّا نَتَحَدَّثُ أَنَّكَ تُرِيدُ أَنْ تَنْكِحَ دُرَّةَ ابْنَةَ أَبِي سَلَمَةَ. فَقَالَ «ابْنَةَ أُمِّ سَلَمَةَ». فَقُلْتُ نَعَمْ. قَالَ فَوَاللَّهِ لَوْ لَمْ تَكُنْ رَبِيبَتِي فِي حَجْرِي مَا حَلَّتْ لِي، إِنَّهَا ابْنَةُ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ، أَرْضَعَتْنِي وَأَبَا سَلَمَةَ ثُوَيْبَةُ، فَلاَ تَعْرِضْنَ عَلَيَّ بَنَاتِكُنَّ وَلاَ أَخَوَاتِكُنَّ». وَقَالَ شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ عُرْوَةُ ثُوَيْبَةُ أَعْتَقَهَا أَبُو لَهَبٍ.[ر:۴۸۱۳]

(مراضع) د (مرضعة) جمع ده، يئ وركوونكې او (مواليات) د ميم په فتحه سره د موالی نه ده، شارح بخاری ابن بطال رحمه الله فرمائی چې مناسب الفاظ (موليات) وو چې د (مولاة) جمع دې، چې ددې معنی ده وينځه. او دلته هم دا مراد دی، تر کومې چې تعلق د (مواليات) دې نو د ا د (مولی) جمع ده، د (مولی) جمع (موالي) او د (موالي) مؤنث سالم (موليات) رازی.

دلته د (مواليات) نه غير عربی عجمی وينځه مراد ده، امام بخاري رحمه الله وئيل غواړی چې مرضعه (يئ وركوونكي) دپاره ضروری نه دی چې هغه عربی او آزاده وی، غير عربی او عجمی وينځې سره هم ارضاع نه کار اخستې شی، دځينو خلقو خيال وو چې عجمی وينځو سره يئ ځکول درست نه دی ځکه چې دې سره دبچی په نجابت باندې اثر پريوزی. امام بخاری رحمه الله ددې ترديد کړې دې او فرمائی چې نبی کريم ﷺ د ابو لهب وينځې ثوبيه يئ ورکړی وو او هغه غير عربی وه. او د ابو لهب آزاده شوې وه. ([1]).

حديث باب په کتاب النکاح کښې تير شوې دې، او د شعيب تعليق هم هلته موصولا تير شوې دې. ([2])

كتاب سره د باب مناسبت: البته داسوال پاتې کيږی چې ددې باب کتاب النفقات سره څه تعلق دې، ددې جواب دادې چې امام بخاری رحمه الله دلته داباب ذکر کوی او دې مسئلې طرفته يو لطيف اشاره کړې ده چې مور باندې واجب نه دی بچی لره يئ ورکول بلکه هغه ته دور کول اونه ورکولو اختيار دې. دپئيو ورکولو په صورت کښې به د بچی پلار يا ولی به ديو بلې په اجرت انتظام کوی، او د مرضعه اجرت هم چونکه نفقه کښې داخل دی، ددې وجې دې باب لره په نفقات کښې ذکر کړې دې.([3])

••••

[1]) شرح ابن بطال :۵۵۱/۷، عمدة القاری:۲۱/ ۲۶، فتح الباری :۶۴۴/۹، ۶۴۵)

[2]) کشف الباری کتاب النکاح:۱۸۹، ۱۹۰).

[3]) فتح الباری :۶۴۵/۹ ارشاد الساری:۱۲/ ۱۸۹، ۱۹۰).

کتاب الاطعمة

الاحادیث: ٥٠٥٨ - ٥١٤٩

کتاب الاطعمة کښې امام بخاری رحمه الله ٥٩ بابونه قائم کړی دی زمونږ په دې نسخه کښې ٥٧ بابونه دی ځکه چې په دې کښې (باب بلاترجمة) نه دی شامل کړې شوی او په دې کښې ئې ١١٢ احادیث ذکر کړی دی په دې کښې څوارلس احادیث معلق دی اوبیا موصول دی، ٩٠ احادیث په کښې مکرر دی او ٢٢ احادیث داسې دی چې هغه امام بخاری رحمه الله په اول ځل دلته ذکر کړی دی په دې کښې ٢٢ احادیث متفق دی یعنی امام مسلم هم دهغې تخریج کړې دې په کتاب الاطعمة کښې د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینوشپږ آثار هم امام ذکر کړی دی.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

٧٣=کتاب الاطعمة

باب وَقَوۡلِ اللّٰهِ تَعَالٰی (كُلُوا مِنۡ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقۡنَاكُمۡ).

وَقَوۡلِ اللّٰهِ تَعَالٰی (كُلُوا مِنۡ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقۡنَاكُمۡ). (١) وَقَوۡلِهِ (أَنۡفِقُوا مِنۡ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبۡتُمۡ) وَقَوۡلِهِ (كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعۡمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٌ) المؤمنون: ٥١

امام بخاری رحمه الله کتاب النفقات نه پس کتاب الاطعمة شروع کوی، د د واړو په مینځ کښې مناسبت ظاهر دې چې نفقاتو زیات تر تعلق د اطعمة سره دې. (١)

(اطعمة) د (افعلة) په وزن باندې دطعام جمع ده، قاعده داده چې کلمه د رباعی وی او ددې دریم حرف مده وی او ددې جمع عموما (افعله) په وزن رازی لکه (اطعام، اطعمة رحی، ارحیه، رغیف، ارغفة) (٢)

ابن فارس رحمه الله فرمائی چې د طعام لفظ هر هغه څیز دپاره استعمالیږی چې کوم خوړلې کیږی، تر دې چې د اوبو څکلو دپاره هم استعمالیږی. (٣)

ترجمة الباب کښې امام بخاری رحمه الله د سورة طه، سورة بقره، سورة مؤمنون یو یو آیت مبارک ذکر کړې دې. ددې آیتونو د ذکر کولو مقصد په دې خبره باندې تنبیه ورکول دی چې انسان

---

[١]) الابواب والتراجم: ٨٦/٢).

[٢]) جامع الدروس العربیة: ٣١/١، جموع القلة).

[٣]) ارشاد الساری: ١٢/، وفی معجم مقابیس اللغة لابن فارس: ٤١١/٣، و الاطعام یقع فی کل ما یطعم حتی الماء قال الله تعالی (ومن لم یطعمه فانه منی) وقال علیه اسلام فی زمزم انها طعام طعم شفاء سقم).

ته پكار دى چې ځان دپاره د حلال او طيب خوراك اهتمام اوكړى.

[۵۰۵۹]. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِي - رضى الله عنه - عَنِ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «أَطْعِمُوا الْجَائِعَ، وَعُودُوا الْمَرِيضَ، وَفُكُّوا الْعَانِي». قَالَ سُفْيَانُ وَالْعَانِي الأَسِيرُ.[ر: ۲۸۸۱]

[۵۰۵۹]. حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ - صلى الله عليه وسلم - مِنْ طَعَامٍ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ حَتَّى قُبِضَ.

سند كښې د «ابيه» مصداق فضيل بن عياض بن غزوان بن جرير كوفى دې او د ابو حازم نوم سلمان اشجعى دې. ([1])

ابوهريره ﷺ فرمائى چې د نبى كريم ﷺ كور والو تر دريو ورځو پورې هم په مړهٔ خيټه روټئ نه ده خوړلې، تر دې پورې چې نبى كريم ﷺ وفات شو.

دمسلم شريف په روايت كښې الفاظ دى چې «ماشبع نبى الله واهله ثلاثة ايام تباعا من خبز حنطة حتى فارق الدنيا» ([2]) (اى متوالية) يعنى درې ورځې مسلسل نبى خوراك نه وو كړى.

او ددې وجه دا هم كيدېشى چې څه ورسره نه وو، دا هم كيدې شى چې د خوراك ورسره څه وو ليكن ايثار ئې كولو او فقراء ته ئې وركولو او دا هم كيدې شى چې مسلسل په مړهٔ خيټهٔ خوراك مذموم دې. ([3]) حذيفه ﷺ نه روايت دې چې «من قل طعمه صح بطنه وصفا قلبه ومن كثر طعمه سقم بطنه وقسا قلبه» ([4])

[۵۰۶۰]. وَعَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَصَابَنِي جَهْدٌ شَدِيدٌ فَلَقِيتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، فَاسْتَقْرَأْتُهُ آيَةً مِنْ كِتَابِ اللَّهِ، فَدَخَلَ دَارَهُ وَفَتَحَهَا عَلَىَّ، فَمَشَيْتُ غَيْرَ بَعِيدٍ، فَخَرَرْتُ لِوَجْهِي مِنَ الْجَهْدِ وَالْجُوعِ، فَإِذَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَائِمٌ عَلَى رَأْسِي فَقَالَ «يَا أَبَا هُرَيْرَةَ». فَقُلْتُ لَبَّيْكَ رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ. فَأَخَذَ بِيَدِي فَأَقَامَنِي، وَعَرَفَ الَّذِي بِي، فَانْطَلَقَ بِي إِلَى رَحْلِهِ، فَأَمَرَ لِي بِعُسٍّ مِنْ لَبَنٍ فَشَرِبْتُ مِنْهُ، ثُمَّ قَالَ «عُدْ يَا أَبَا هِرٍّ». فَعُدْتُ فَشَرِبْتُ، ثُمَّ قَالَ «عُدْ». فَعُدْتُ فَشَرِبْتُ حَتَّى اسْتَوَى بَطْنِي فَصَارَ كَالْقِدْحِ - قَالَ - فَلَقِيتُ عُمَرَ وَذَكَرْتُ لَهُ الَّذِي كَانَ مِنْ أَمْرِي وَقُلْتُ لَهُ تَوَلَّى اللَّهُ ذَلِكَ مَنْ كَانَ أَحَقَّ بِهِ مِنْكَ يَا عُمَرُ، وَاللَّهِ لَقَدِ اسْتَقْرَأْتُكَ الآيَةَ وَلأَنَا أَقْرَأُ لَهَا مِنْكَ. قَالَ عُمَرُ وَاللَّهِ لأَنْ أَكُونَ أَدْخَلْتُكَ أَحَبُّ إِلَىَّ مِنْ أَنْ يَكُونَ لِي مِثْلُ حُمْرِ النَّعَمِ.

[1] عمدة القارى:۲۱/ ۲۷، ارشاد السارى:۱۲/ ۱۴۶).
[2] فتح البارى :۹/۶۴۸ و صحيح مسلم كتاب الزهد والرقائق رقم الحديث :۲۹۷۶)
[3] عمدة القارى:۲۱/ ۲۷، ارشاد السارى:۱۲/ ۱۴۶فتح البارى :۹/ ۶۴۸).
[4] عمدة القارى:۲۱/ ۱۴۶، ارشاد السارى:۱۲/۲۷).

دا تعليق نهدې بلکه ما قبل سند سره متصل دې او دا حديث پاك په رومبى خل راغلې دې.

قوله: أَصَابَنِي جَهْدٌ شَدِيدٌ: ابوهريره رضی الله عنه فرمائى چې ډير سخت اوږې شوې اوم، (جهد) د جيم په فتحه سره مشقت ته وائى، دلته ترې اولږه مراده.

قوله: فَاسْتَقْرَأْتُهُ آيَةً مِنْ كِتَابِ اللَّهِ: ما هغه ته د قرآن پاك د يو آيت مبارك (د استفادې په غرض) خواست اوکړو.

قوله: فَدَخَلَ دَارَهُ وَفَتَحَهَا عَلَيَّ: عمر فاروق رضی الله عنه خپل کور ته داخل شو او هغه آيت مبارك ئې اولوستلو. (فَتَحَهَا عَلَيَّ) معنى ده (قرأه وا فهمني اياها) يعنى ددې معنى ماته معلوم شوه، ابو نعيم په حلية الاولياء کښې ددې قصې ذکر کړې دې، په هغې کښې دى چې مذکوره آيت مبارك د سورة آل عمران وو، په هغه روايت کښې دى چې (فقلت له : اقرئنى وما اريد القراة وانما اريد الاطعم) ([1])

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې کله (وكانه سهل لمزة فلسم يفطن ممن)، ابو هريره رضی الله عنه د (اقرئنى) همزه لره تسهيل سره (اقرئنى) وئيلې دې، چې ددې معنى ده زما ميلمستيا اوکړه. بيا هم فاروق اعظم رضی الله عنه د هغوئ اصل مقصد باندې پوهه نشو.([2])ځکه چې (اقرئنى) همزه سره او (اقرينى) بغيرد همزه سره د دواړو تلفظ د يو بل سره مشتابه دې، يو لره ادا کوى او د دويم وهم کيديشى. بهر حال دا د حافظ ابن حجر رحمه الله بيان شوې يو نکته ده، ضرور نه ده چې حقيقت او واقعه کښې هم داشان وى.

قوله: فَخَرَرْتُ لِوَجْهِي مِنَ الْجَهْدِ: د اولږې په وجه څه التهٔ پريوتم. دحلية الاولياء په روايت کښې دى چې په هغه ورځ د ابوهريره رضی الله عنه روژه وه، او د روژه ماتلو دپاره هغه سره څه نه وو. ([3]) دپريوتلونه پس ما اوکتل چې نبى کريم صلی الله علیه وسلم زما سر سره ولاړ دى، نبى کريم صلی الله علیه وسلم اصل حقيقت نه خبر شو هغه ئې کور ته بوتلو او د پئيو يو غټې پياله راوړو حکم ئې اوکړو. فرمائى چې ما هغه اوڅکله، او نبى کريم صلی الله علیه وسلم دوباره اوپه دريم ځل ئې اوفرمائيل چې ځکه تر دې پورې چې زما خيټه د زيات څکلو په وجه نيغه شوه، بيا څه عمر فاروق رضی الله عنه سره ملاؤ شوم او هغوئ ته مې اصل حقيقت بيان کړو، او هغوئ ته مې اووئيل چې زما د مړولو کار هغه سړى اوکړو چې ستاسو نه زيات د هغه حقدار وو (مراد ترې نبى کريم صلی الله علیه وسلم دې)

[1]) فتح البارى :۹/، وحلية الاوليا لابى نعيم :۳۷۸/۱، و لفظه فقلت اقرينى ومال اريد الا الاطعام رقم الحديث والترجمه:۸۵ عمدة القارى:۲۱/ ۲۸، ارشاد السارى:۱۲/ ۱٤۷).

[2]) فتح البارى :۹/ ٤۹ ۶ارشاد السارى:۱۲/ ۱۷).

[3]) حلية الاولياء : ۳۷۸/۱، رقم الترجمة: ۸۵).

قوله: وَاللّٰهِ لَقَدِ اسْتَقْرَأْتُكَ الآيَةَ وَلَأَنَا أَقْرَأُ لَهَا مِنْكَ: په الله، تاته د يو آيت مبارك وئيلو درخواست کړې وو، حالانکه ستاسو نه زيات څه دديٰ آيت مبارك وئيلو والا اوم.
ډير ممکن دی چې ابوهريره رضي الله عنه هغه آيت مبارك نبی کريم ﷺ نه نيغ په نيغه وئيلې وی، او عمر فاروق رضي الله عنه بالواسطه، ددې وجې ابوهريره رضي الله عنه ددوئ مقابله کښې خپل ځان ته «اقرأ» اووئيل. (١)
فاروق اعظم رضي الله عنه جواب کښې اوفرمائيل چې (څه ستاسو په مقصد پوهه شوې نه اوم) ته به مې خپل کور ته داخل کړې وې. او ميلمه جوړول ماته ددې نه زيات محبوب دی چې ماسره سور اوښ وی.
سور اوښ په عربو کښې د نورو اوښانو په مقابله کښې زيات محبوب وو.
شارح بخاری ابن بطال رحمه الله فرمائی چې په هغه زمانه کښې د حضرات صحابه کرامو رضي الله عنهم طريقه هم دا وه چې کله به يوسړې د قرآن پاك د يو آيت مبارك متعلق سوال اوکړو نو هغه دده شکر گزار وو او دې به ئې خپل کور ته بوتلو. او دده ميلمستيا به ئې کوله، ددې وجې ابوهريره رضي الله عنه آيت کريمه متعلق دا سوال اوکړو. عمر فاروق رضي الله عنه د څه مصروفيت په وجه يا دڅه مانع په وجه دده ميلمستيا اونه کړه. (٢)
ايات او احاديثو کښې مناسبت: آخر کښې دا خبره پاتې کيږی چې ترجمة الباب کښې ذکر شوې آيتونه سره د هغه احاديثو څه تعلق دې ؟
ددې يو جواب دادې چې شکم سيری، او اولږې او اطعمه او خوراکونو نه احوال پيدا کيدو والا کيفيات دی، داشان حلال او حرام کيدل د اطعمه صفاتو نه دی او دخوراك ورکولو او نه ورکولو تعلق هم ددې صفاتو سره دې نو آيت مبارك کښې صرف د اطعمه انواع مراد نه دی بلکه انواع سره سره احوال او اوصاف هم مراد دی، او احاديث کښې هم دا احوال اواوصاف راغلی دی، ددې وجې د دواړو په مينځ کښې يو نه يو مناسبت دې جهت سره موندې شی. (٣)

١- بَابُ التَّسْمِيَةِ عَلَى الطَّعَامِ وَالأَكْلِ بِالْيَمِينِ

امام بخاری رحمه الله پدې باب کښې دوه مسئلې ذکر کړی دی. ړومبئ مسئله د خوراك کولو په وخت کښې د بسم الله وئيلو ده.
دخوراك په شروع کښې د بسم الله وئيلو حکم: د ظاهريه په نيز د خوراك په شروع کښې بسم الله وئيل واجب دی، او د امام احمد بن حنبل رحمه الله يوروايت هم ددې مطابق دې. (٤)
داحضرات حديث باب کښې دبسم الله نه استدلال کوی، فرمائی چې امر وجوب دپاره دې.

---

١) فتح الباری :٩/ ٦٥٠).
٢) فتح الباری :٩/ ٦٥٠).
٣) فتح الباری :٦٤٩/٩ والابواب والتراجم: ٨٦/٢، ٨٧).
٤) المحلیٰ بالاثار لابن حزم : ١٠٣/٦، رقم المسالة:١٠٢٣).

د جمهورو په نيز دخوراك وخت كښې بسم الله وئيل مستحب دى. د جمهورو په نيز امر استحباب دپاره دې. (١)دبسم الله وئيلو په سلسله كښې د امام ابو داؤد رحمه الله او دامام ترمذى رحمه الله دهغه روايت تصريح كړې ده چې كوم هغوئ د عائشه صديقه رضي الله عنها نه مرفوعا نقل كړې دې. په هغې كښې دى چې : «اذا اكل احدكم طعاما فليقل بسم الله فان نسى فى اوله فليقل بسم الله اوله واخره» (٢)

دې حديث پاك كښې صرف د بسم الله الفاظ نه دى بلكه صراحت سره ذكر كړې شوى دى چې په شروع كښې بسم الله دې اووئيلې شى او په شروع كښې كه هيره شى نو د «بسم الله اوله واخره» الفاظ دې په مينځ كښې اووائى يا په آخر كښې كه روته ياد ششى نو اودې وائى.

صرف د «بسم الله» الفاظ وئيل كافى دى ليكن كه پوره «بسم الله» اووائى نو دا زيات بهتر دى، داشان په اوچت آواز سره وئيل مستحب دى چې نورو ته هم ياد شى. (٣)

امام حاكم په مستدرك كښې د«بسم الله وبركة الله» الفاظ نقل كړى دى. (٤)

د«بسم الله وعلى بركة الله» الفاظ چې مشهور دى هغه دحديثو په مشهورو كتابونو كښې نشته دې، دې ته نزدې الفاظ حاكم نقل كړى دى.

تسميه وئيل اوخوراك كولو سره شيطان په خوراك كښې نه شامليږى، بسم الله وئيلو نه بغير خوراك شروع كولو سره شيطان هم ده سره شريك وى لكه څنګه چې ځينو روايتونو كښې دى. (٥)

د جمهور علماء په نيز يوه مسئله دا هم ده چې ډير سړى يو د سترخوان ته كينى نو ټول خلق دې بسم الله اووائى. او د ځينو علماء كرامو په نيز چې په هغوئ كښې امام شافعى رحمه الله هم شامل دې صرف ديو سړى بسم الله وئيل ټولو دپاره كافى ګڼړى. (٦)

په ښى لاس د خوراك كولو حكم: دويمه مسئله ښى لاس سره د خوراك كولو ده او دا امام بخارى رحمه الله بيان كړې ده، امام شافعى رحمه الله په «كتاب الام» كښې او «الرسالة» كښې تصريح كړې ده چې «اكل باليمين» واجب دى. (٧)علامه تقى الدين سبكى رحمه الله او دده ځوئې علامه تاج الدين سبكى د وجوب دې قول ته ترجيح وركوى. (٨)

---

(١) عمدة القارى:٢٨/٢١، فتح البارى :٦٥٢/٩).
(٢) الحديث اخرجه ابوداؤد فى كتاب الاطعمة باب التسمية على الطعام :٣٤٧/٣).
(٣) عمدة القارى:٢١/ ٢٨، ارشاد السارى:١٤٨/١٢ فتح البارى :٦٥١/٩).
(٤) مستدرک للامام الحاكم كتاب الاطعمة: ١٠٧/٤).
(٥) مستدرک للامام الحاكم كتاب الاطعمة: ١٠٨/٤).
(٦) عمدة القارى:٢٨/٢١، ارشاد السارى:١٤٨/١٢).
(٧) عمدة القارى:٢٨/٢١، ارشاد السارى:١٤٨/١٢).
(٨) فتح البارى :٢٥٢/٩).

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې د «اكل باليمين» په وجوب باندې حديث هم د لالت كی، چې په هغې كښې «اكل بالشمال» باندې وعيد بيان كړې دې، دا د حضرت سلمه بن اكوع رضي الله عنه حديث چې امام مسلم رحمه الله په صحيح مسلم كښې نقل كړې دې. «ان النبى ﷺ راى رجلا ياكل بشماله فقال: كل بيمينك قال: لا استطيع قال: لا استطعت فما رفعها الى فيه بعد» ([1])

داشان د عائشه صديقه رضي الله عنها يو بل حديث پاك امام مسلم او امام احمد رحمه الله نقل كړې دې په هغې كښې دی چې «من اكل بشماله اكل معه الشيطان» ([2])

ليكن د جمهور علماء كرامو په نيز ښى لاس سره خوراك كول مستحب دی. واجب نه دی. د حضرات شافعيه مشهور مسلك هم دادې.

امام غزالى رحمه الله او امام نووى رحمه الله هم دا اختيار كړې دې.([3]) د وعيد مذكوره روايتونو لره جمهورو په زجر او تنبيه دپاره او مصالح شريعت باندې محمول كوی.

دا كل باليمن استحباب په هغه وخت كښې دې چې كله څه عذر نه وی، ليكن كه ښى لاس سره په خوراك كولو كښې څه عذر وی لكه ښى لاس كښې زخم وی نو داسې صورت كښې گس لاس سره خوراك كولې شی. او داكل بالمين استحباب رعايت به لحاظ ساتلې شی. ([4])علامه قرطبى په دې سلسله كښې تحرير فرمائی چې:

«هذا الامر على جهة الندب لانه من باب تشريف اليمين على الشمال لانها اقوى فى الغالب واسبق للاعمال واسكن فى الاشغال و هى مشتقة من اليمين وقد شرف الله اصحاب الجنة اذا نسبهم الى اليمين وعكسه فى اصحاب الشمال، واذا تقرر ذالك فمن الاداب المناسبة لمكارم الاخلاق والسيرة الحسنة عند الفضلا اختصاص اليمين بالاعمال الشريفة والاحوال النظيفة كل هذه الاوامر من المحاسن المكلمة والمكارم المستحسنة والاصل فيما كان من هذا الترغيب والندب» ([5])

اوس لږ حديث باب طرفته راشئ كوم چې امام بخارى رحمه الله په رومبی ځل ذكر كړې دې. ([6])

---

[1]) فتح البارى :٩/ ٢٥٢، و صحيح ا البخارى مسلم، كتاب الاشربة، باب ادب الطعام والشرب و احكامها، :١٥٩٩/٣، ما وجدنا بهذا للفظ فيه والذى وجدناه لفظه تا تاكلوا بالشمال فان الشيطان ياكل بالشمال رقم الحديث :٢٠١٩، باب آداب الطعام والشراب واحكامهما وعمدة القارى: ٢٩/٢١).

[2]) فتح البارى :٩/ ٦٥٢، و صحيح ا البخارى مسلم، كتاب الاشربة، باب ادب الطعام والشرب و احكامها، ١٥٩٨/٣، رقم الحديث :٢٠١٩، و فيه بعد لا استطعت مامنعه الا الكبر قال..... عمدة القارى:٢٩/٢١).

[3]) عمدة القارى:٢١/ ٢٨).

[4]) فتح البارى :٩/ ٦٥٣).

[5]) فتح البارى :٩/ ٦٥٣).

[6]) (٥٠٦١) الحديث اخرجه البخارى فى كتاب الاطعمة باب الاكل مما يليه (رقم الحديث :٥٠٦٢و ٥٠٦٣) واخرجه مسلم فى كتاب الاشربة باب اداب الطعام والشراب واحكامهما رقم الحديث :٢٠٢٢).

[۵۰۶۱] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ قَالَ الْوَلِيدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنِي أَنَّهُ سَمِعَ وَهْبَ بْنَ كَيْسَانَ أَنَّهُ سَمِعَ عُمَرَ بْنَ أَبِي سَلَمَةَ يَقُولُ كُنْتُ غُلَامًا فِي حَجْرِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ فِي الصَّحْفَةِ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « يَا غُلَامُ سَمِّ اللَّهَ، وَكُلْ بِيَمِينِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ ». فَمَا زَالَتْ تِلْكَ طِعْمَتِي بَعْدُ.[۵۰۶۲، ۵۰۶۳]

ولید بن کثیر د سفیان بن عینیه شیخ دې، دلته سیاق سند د عام اسلوب نه یو طرفته دې. دسند عام اسلوب داسې پکار دې «اخبرنا سفیان اخبرني الولید بن کثیر» ځکه چې عام اسلوب کښې صیغهٔ تحمل حدیث لره راوی نوم سره مخکښې ذکر کیږی. اودلته «الولید بن کثیر اخبرني» دې «اخبرني» د راوی دنوم نه پس راوړې شوې دې. صیغه تحمل د حدیث راوی نوم نه پس راوړل اګر چې جائز دی لیکن دمحدثینو عام اسلوب دې لره د راوی د نوم نه مخکښې راوړنکې دې، دحمیدی به طریق کښې عام اسلوب دې «عن سفیان قال: حدثنا ابن کثیر....»[۱]

قوله: عُمَرُ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ: دابو سلمه نوم عبدالله دې، عمر دهٔ ځوئې دې، ددهٔ دمور نوم ام المؤمنین ام سلمه رضي الله عنها ده، ابن عبدالبر فرمائی چې د عمر ولادت د هجرت د دویم کال نه پس شوې دې.[۲] دې د نبی کریم ﷺ په پرورش کښې وو.

قوله: كُنْتُ غُلَامًا: دغلام اطلاق د ولادت نه واخله تر بلوغت پرې مینځنی عمروالا بچی ته وائی. «فی حجر رسول الله ﷺ ای تربیته وتحت نظره»[۳]

قوله: وَكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ فِي الصَّحْفَةِ: زما لاس دننه پیالئ کښې «څلورو واړو» طرفونو ته تلو، د«تطیش» معنی حرکت کولو والا او ګرزیدلو والا دې. «صحفه» پیالئ ته وائی، داد «قصعه» نه لویه وی.

قوله: فَمَا زَالَتْ تِلْكَ طِعْمَتِي بَعْدُ: یعنی دې نه پس زما د خوراك هم هغه طریقه وه چې د کومې نبی کریم ﷺ زما رهنمائی کړې وه، یعنی بسم الله وئیل. بنی لاس سره او دخپلې مخې نه خوړل. «طعمة» د طاء په کسر سره د خوراك طریقه او انداز.

حافظ ابن حجر رحمه الله دې حدیث او دې سلسله کښې ذکر کړې نورو حدیث نه څه آداب مستنبط کوی او لیکی چې:

---

[۱] فتح الباری :۶۵۱/۹عمدة القاری:۲۱/ ۲۹، ارشاد الساری:۱۴۸/۱۲).
[۲] الاستیعاب لابن عبدالبر علی هامش الاصابة :۴۷۴/۲، عمدة القاری:۲۹/۲۱).
[۳] فتح الباری :۹/ ۶۵۱عمدة القاری:۲۱/ ۲۹، ارشاد الساری:۱۴۸/۱۲).

(وفي الحديث انه ينبغي اجتناب الاعمال التي تشبه اعمال الشيطان والكفار وان للشيطان يدين وانه يأكل و يشرب ويأخذ ويعطي وفيه جواز الدعاء على من خالف الحكم الشرعي وفيه الامر بالمعروف والنهي عن المنكر حتى في حال الاكل وفيه استحباب تعليم ادب الاكل والشرب) [1]

٣- باب الأَكْلِ مِمَّا يَلِيهِ

وَقَالَ أَنَسٌ قَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - «اذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ وَلْيَأْكُلْ كُلُّ رَجُلٍ مِمَّا يَلِيهِ». [ر: ٤٨٦٨]

[٥٠٦٢] حَدَّثَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ الدِّيلِي عَنْ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ أَبِي نُعَيْمٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ - وَهْوَ ابْنُ أُمِّ سَلَمَةَ - زَوْجِ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - قَالَ أَكَلْتُ يَوْمًا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - طَعَامًا فَجَعَلْتُ آكُلُ مِنْ نَوَاحِي الصَّحْفَةِ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «كُلْ مِمَّا يَلِيكَ».

[٥٠٦٣] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ أَبِي نُعَيْمٍ قَالَ أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِطَعَامٍ وَمَعَهُ رَبِيبُهُ عُمَرُ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ فَقَالَ «سَمِّ اللَّهَ، وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ. [ر: ٥٠٦١]

دخپلې مخې نه د خوراک کولو حکم: دخپلې مخې نه خوراك كول د جمهورو علماء كرامو په نيز مستحب دى. [2]

علامه تقي الدين رحمه الله او ددوئ ځوئې علامه تاج الدين سبکی رحمه الله د وجوب قول لره راجع ګرزولې دې. [3]

ليکن دا په هغه صورت کښې دی چې کله خوراك د يو قسم وی او كه مختلف النوع طعام وی نو په دې صورت كښې د خپلې خوښې مطابق نوع طعام لره اوچتولو دپاره بغير د څه قسمه کراهت نه لاس يو خوا بل خوا اوړدولې شی، او په دې کښې هيڅ مضائقه نشته دی. [4]

ليکن ترمذی رحمه الله په کتاب الاطعمه کښې روايت نقل کړې دی چې نبی کريم ﷺ عکراش رضی الله عنه ته اوفرمائيل چې د خپلې مخې نه خوراك کوه، هغه يو خوا بل خوا لاس اوږدولو. دې نه پس يو طبق راؤړې شو چې په هغې کښې پخې او کچه کهجورې وې، نو نبی کريم ﷺ

---

[1]) فتح الباری :٩/٦٥٣).
[2]) فتح الباری :٩/٦٥٢).
[3]) فتح الباری :٩/٦٥٢).
[4]) فتح الباری :٩/٦٥٢).

عکراش ﷺ ته اوفرمائيل چې دې نه دکوم ځائې نه خوراك کوې کولې شې، ځکه چې دا مختلف الالوان دی.(۱)

باب کښې ذکر شوی د انس ﷺ دا تعليق امام مسلم ﷺ او ابو نعيم ﷺ موصولا نقل کړی دی (۲) آخر روايت دلته مرسل دې، خالد بن مخلد او يحيى بن صالح دارو ايت موصولا نقل کړې دې.(۳)

۴-باب مَنْ تَتَبَّعَ حَوَالَى الْقَصْعَةِ مَعَ صَاحِبِهِ، إِذَا لَمْ يَعْرِفْ مِنْهُ كَرَاهِيَةً

[۵۰۶۴] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ عَنْ مَالِكٍ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ إِنَّ خَيَّاطًا دَعَا رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - لِطَعَامٍ صَنَعَهُ - قَالَ أَنَسٌ - فَذَهَبْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَرَأَيْتُهُ يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ مِنْ حَوَالَى الْقَصْعَةِ - قَالَ - فَلَمْ أَزَلْ أُحِبُّ الدُّبَّاءَ مِنْ يَوْمِئِذٍ.[ر: ۱۹۸۶]

امام بخاری ﷫ په دې ترجمة الباب کښې جمع بين الروايتين کړې ده، د «کل مما يليك» والا روايت تقاضا داده چې سړې ته پکار دی چې د خپلې مخې نه خوراك اوکړی. او روايت باب کښې انس ﷺ فرمائی چې «فرأيته يتتبع الدباء من حوالى القصعة» چې هغوئ پياله کښې کدو ګير چاپيره تلاش کولو او اوچتولو ئې، چې ددې نه معلوم شو چې سړې پياله کښې يو خوا بل خوا لاس ګرځولې شی.

امام بخاری ﷫ په دواړه قسمه روايتونو کښې تطبيق کوی او فرمائی چې که په يو ځائې خوراك کولو کښې خلقوته يو خوا بل خوا لاس ګرزول نا خوښه نه وی نو په دې صورت کښې هيڅ باك نشته ،ليکن که دوئ ته خوښ نه وی نو بيا دخپلې مخې نه خوراك کول پکاردی.

نبی کريم ﷺ به په پيالئ کښې لاس مبارك يو خوا بل خوا ګرزولو، ظاهر دی چې يو ځائې خوراك کونکو ته دا حالت خوښ وو، بلکه هغوئ دا خپل ځان دپاره د برکت سبب ګڼړلو، ددې وجې نبی کريم ﷺ دا عمل اختيار کړو.

ځينې شراح دواړه قسمه روايتونو کښې يو بل شان تطبيق ورکړې دې او هغه دا چې پياله کښې د لاس وهلو ممانعت په هغه وخت کښې دې چې کله د يو قسم خوراك وی ليکن که خوراك مختلف النوع وی نو په دې صورت کښې ممانعت نشته دې، حديث باب هم دويم صورت باندې محمول دې چې پياله کښې خوروه او کدو او غوښه وه، درې مختلف څيزونه وو، نبی کريم ﷺ غوښه پرينښودله او د خپلې خوښې مطابق ئې خوراك کولو.(۴)

---

(۱) سنن الترمذی، كتاب الاطعمة باب ماجاء فی التسمية فی الطعام :۲۸۳/۴، رقم الحديث :۱۸۴۸، عمدة القاری:۳۱/۲۱).

(۲) ارشاد الساری:۱۴۹/۱۲).

(۳) فتح الباری :۹/ ۶۵۴ عمدة القاری:۲۱/ ۳۰، ارشاد الساری:۱۲/ ۱۵۰).

(۴) فتح الباری :۶۵۵/۹).

قوله: إِنَّ خَيَّاطًا دَعَا رَسُولَ اللَّهِ لِطَعَامٍ: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې ددې خیاط نوم ماته معلوم نشو، البته د ثمامه عن انس روایت کښې دی چې دا د نبی کریم ﷺ غلام وو. (١)

(دباء) (د دال په ضمه او دباء په تشدید سره) کدو ته وائی، دا په دوه قسمه وی، یو اوږد او یو ګول، دواړو ترې مراد دی، ځینو وئیلی دی چې ګول ترې مراد دې دا نبی کریم ﷺ ته ډیر خوښ وو د نسائی په روایت کښې دی چې (کان یحب القرع ویقول انها شجرة اخی یونس) قرع کدو ته وائی. (٢)

٤- باب التَّيَمُّنِ فِي الأَكْلِ وَغَيْرِهِ

قَالَ عُمَرُ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ: قَالَ لِي النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: (كُلْ بِيَمِينِكَ) [ر: ٥٠٦١]

[٥٠٦٥] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَشْعَثَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ - رضي الله عنها - قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي طُهُورِهِ وَتَنَعُّلِهِ وَتَرَجُّلِهِ. وَكَانَ قَالَ بِوَاسِطٍ قَبْلَ هَذَا فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ. [ر: ١٦٦]

دوه ځیزونه دی چې یو دې (اکل بالیمین) اودویم ځیز دې (تیمن فی الاکل) دواړو کښې فرق دې، د (اکل بالیمین) مطلب ښی لاس سره خوراك کول دی او (تیمن فی الاکل) معنی ده ښی طرفنه خوراك کول، امام بخاری رحمه الله مخکښې اوفرمائیل چې ښی لاس سره خوراك کول پکار دی. اواوس دا وائی چې ښی طرفنه خوراك کول پکار دی، لهذا د سرې مخکښې پیاله یا پلیټ چې کله کیخودې شی نو دپیاله او پیلیټ ښی طرفنه خوراك شروع کول پکار دی.

(فی الاکل) نه پس امام (وغیره) اضافه کړې ده او دې طرفته اشاره کوی چې د (تیمن) فعل صرف اکل سره مخصوص نه دې بلکه هر خوښ فعل کښې دننه (تیمن) مطلوب دې، لکه څنګه چې حدیث باب کښې ددې تصریح ده.

عمرو ابن ابی سلمه رضی الله عنه فرمائی چې ماته نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې (کل بیمینك) ته خپل ښی لاس سره خوراك کوه، امام بخاری رحمه الله ددې نه (تیمن فی الاکل) دې طریقې سره ثابت کړی دی چې سړې کله ښی لاس سره خوراك کوی نو ظاهر دی چې د ښی طرفنه به خوراك کوی ځکه چې ښی لاس سره خوراك کول او د ګس طرفنه اخستل ګران دی، ددې و جې کله چې نبی کریم ﷺ دوئ ته ښی لاس سره دخوراك کولو دپاره اوفرمائیل نو ددې نه ضمنا په پوهه کښې راغلل چې ښی طرفنه دې خوراك اوکړې شی.

---

١) فتح الباری: ٩/٦٥٦).
٢) فتح الباری: ٩/٦٥٦).

قوله: وَكَانَ قَالَ بِوَاسِطٍ قَبْلَ هَذَا فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ: شعبه بن الحجاج فرمائى چې اشعث بن ابى الشعثاء دې نه مخكښې په واسط ښار كښې چې كله دا حديث پاك بيان كړو نو په هغې كښې (ترجله) نه پس د (فى شانه كله) اضافه وه، په كتاب الوضوء كښې دا روايت تير شوې دې، هلته دا اضافه موجوده ده.[1]

٥: باب: من اكل حتى شبع

[٥٠٦٦] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ قَالَ أَبُو طَلْحَةَ لِأُمِّ سُلَيْمٍ لَقَدْ سَمِعْتُ صَوْتَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - ضَعِيفًا أَعْرِفُ فِيهِ الْجُوعَ، فَهَلْ عِنْدَكِ مِنْ شَيْءٍ فَأَخْرَجَتْ أَقْرَاصًا مِنْ شَعِيرٍ، ثُمَّ أَخْرَجَتْ خِمَارًا لَهَا فَلَفَّتِ الْخُبْزَ بِبَعْضِهِ، ثُمَّ دَسَّتْهُ تَحْتَ ثَوْبِي وَرَدَّتْنِي بِبَعْضِهِ، ثُمَّ أَرْسَلَتْنِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ فَذَهَبْتُ بِهِ فَوَجَدْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي الْمَسْجِدِ وَمَعَهُ النَّاسُ، فَقُمْتُ عَلَيْهِمْ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « أَرْسَلَكَ أَبُو طَلْحَةَ ». فَقُلْتُ نَعَمْ. قَالَ « بِطَعَامٍ ». قَالَ فَقُلْتُ نَعَمْ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - لِمَنْ مَعَهُ « قُومُوا ». فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقْتُ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ حَتَّى جِئْتُ أَبَا طَلْحَةَ، فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ قَدْ جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِالنَّاسِ، وَلَيْسَ عِنْدَنَا مِنَ الطَّعَامِ مَا نُطْعِمُهُمْ. فَقَالَتِ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ فَانْطَلَقَ أَبُو طَلْحَةَ حَتَّى لَقِيَ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَأَقْبَلَ أَبُو طَلْحَةَ وَرَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى دَخَلَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « هَلُمِّي يَا أُمَّ سُلَيْمٍ مَا عِنْدَكِ ». فَأَتَتْ بِذَلِكَ الْخُبْزِ فَأَمَرَ بِهِ فَفُتَّ وَعَصَرَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ عُكَّةً لَهَا فَأَدَمَتْهُ، ثُمَّ قَالَ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَقُولَ ثُمَّ قَالَ « ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ ». فَأَذِنَ لَهُمْ، فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا، ثُمَّ خَرَجُوا، ثُمَّ قَالَ « ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ ». فَأَذِنَ لَهُمْ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا، ثُمَّ خَرَجُوا، ثُمَّ قَالَ « ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ ». فَأَذِنَ لَهُمْ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا ثُمَّ خَرَجُوا، ثُمَّ أَذِنَ لِعَشَرَةٍ، فَأَكَلَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ وَشَبِعُوا، وَالْقَوْمُ ثَمَانُونَ رَجُلاً. [ر: ٤١٢]

ددې باب نه د امام بخارى رحمه الله مقصد دادې كه سړې ښه په مړه خيټه خوراك اوكړى نو دا جائز دى، نو امام بخارى رحمه الله چې كوم روايت ذكر فرمائيلې دې، په ړومبى روايت كښې (فاكلوحتى شبعوا ثم خرجوا) دويم روايت كښې دى چې (فاكلنا اجمعون وشبعنا) ا و دريم روايت كښې دى چې (حين شبعنا من الاسودين)

دباب ړومبى اودويم روايت مخكښې تيرشوې دې، دلته د هغې څو مشكل الفاظ اوګورئ.

[1] صحيح البخارى مع الفتح كتاب الوضوء باب التيمن فى الوضوء :٢٦٩/١، رقم الحديث :١٦٨).

قوله: فَأَخْرَجَتْ أَقْرَاصًا مِنْ شَعِيرٍ: ام سليم رضي الله عنها د اوربشو روټئ راؤښکلې، بيا ئې خپله لوپټه راوويستله، ددې په يوه حصه کښې ئې روټئ انغښتې اوبيا ئې زما کيږې لاندې پټې کړې او د لوپټې څينې حصه ئې په ما خپله واچوله. (دسته اى الحلته بقوة.... د ردتنى ببعضه اى جعلته رداءلى).

قوله: فَأَمَرَ بِهِ فَفُتَّ وَعَصَرَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ عُكَّةً لَهَا فَأَدَمَتْهُ: يعنى نبى كريم ﷺ ددې روټو د ماتلو يعنى ټکړې کولو حکم اوفرمائيلو، نو هغه وړې وړې ټکړې کړې شوې، ام سليم رضي الله عنها په دې روټو باندې غوړى واچول او ددې نه چورى جوړه کړه، (عكة) (بضم العين و تشديد الكاف) د څرمنې لوښې چې په هغې کښې غوړى او شهد اچولې کيږى.(ادمته) دائې په ادام سالن يعنى انګولې غوندې کړو، د باب ضرب نه دې، (ادم الخبز....) (ادما) روټئ په انګلى کښې وهل. (فت) د مجهول صيغه ده ، د (فت) معنى ده د يو څيز ريزه ريزه کول.

[٥٠٦٧]. حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ أَبِيهِ قَالَ وَحَدَّثَ أَبُو عُثْمَانَ أَيْضًا عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ - رضى الله عنهما - قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - ثَلاَثِينَ وَمِائَةً، فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «هَلْ مَعَ أَحَدٍ مِنْكُمْ طَعَامٌ». فَإِذَا مَعَ رَجُلٍ صَاعٌ مِنْ طَعَامٍ أَوْ نَحْوُهُ، فَعُجِنَ، ثُمَّ جَاءَ رَجُلٌ مُشْرِكٌ مُشْعَانٌّ طَوِيلٌ بِغَنَمٍ يَسُوقُهَا فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «أَبَيْعٌ أَمْ عَطِيَّةٌ أَوْ - قَالَ - هِبَةٌ». قَالَ لاَ بَلْ بَيْعٌ. قَالَ فَاشْتَرَى مِنْهُ شَاةً فَصُنِعَتْ، فَأَمَرَ نَبِيُّ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِسَوَادِ الْبَطْنِ يُشْوَى، وَايْمُ اللَّهِ مَا مِنَ الثَّلاَثِينَ وَمِائَةٍ إِلاَّ قَدْ حَزَّ لَهُ حُزَّةً مِنْ سَوَادِ بَطْنِهَا، إِنْ كَانَ شَاهِدًا أَعْطَاهَا إِيَّاهُ، وَإِنْ كَانَ غَائِبًا خَبَأَهَا لَهُ، ثُمَّ جَعَلَ فِيهَا قَصْعَتَيْنِ فَأَكَلْنَا أَجْمَعُونَ وَشَبِعْنَا، وَفَضَلَ فِي الْقَصْعَتَيْنِ، فَحَمَلْتُهُ عَلَى الْبَعِيرِ. أَوْ كَمَا قَالَ. [ر: ٢١٠٣]

د (ابيه) مصداق سليمان تيمى دې چې د معتبر پلار دې، علامه کرمانى رحمه الله د (وحدث ابوعثمان) مطلب دا بيان کړې دې چې سليمان تيمى دا حديث پاك د بل چا نه هم آؤريدلې دې، اود ابو عثمان نحوى نه ئې هم آؤريدلې دې.

حافظ ابن حجر عسقلانى رحمه الله فرمائى چې ددې مطلب دادې چې ابو عثمان نحوى په باب کښې ذکر شوى، حديث پاك نه علاوه بل حديث پاك هم مخکښې بيان کړې دې. علامه عينى رحمه الله د کرمانى موافقت کوى او په حافظ ابن حجر رحمه الله باندې ئې رد کړې دې. [1]

ليکن د حافظ ابن حجر رحمه الله خبره زياته قوى ده او درسته معلوميږى، ځکه چې بعينه هم دې سند سره امام بخارى رحمه الله دا روايت په کتاب المناقب کښې ذکر کړې دې[2] او هلته د

---

[1]) شرح للكرمانى: ٢٥/٢٠ عمدة القارى: ٢١/ ٣٢، فتح البارى: ٦٦٠/٩).

[2]) صحيح البخارى ابواب المناقب باب علامات النبوة: ٦٠٥/١).

صديق اكبر ميلمنو قصه بيان كړې شوې ده، ځکه ممکن دى چې ابو عثمان اول هغه قصه بيان کړې ده چې دې نه پس بيا دا حديث پاك بيان کړې شوې دې.
ددې حديث پاك حاصل دادې چې عبدالرحمان بن ابى بكر رضی الله عنهما فرمائى چې هم خلق نبى كريم ﷺ سره يو سفر کښې وو، او مونږ شپږ شلې کسان وو. نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې تاسو کښې چا سره د خوراك څه شته دې. نو يو سړى سره يو صاع يا ددې نه هومره څه وو. هغه واغړلې شوه، په دې کښې يو مشرك مو اوليدو چې لوړ دنگ وو او چيلئ ئې څرولې. نبى كريم اوفرمائيل چې ته چيلئ خرڅوې او كه هبه كوې ئې؟ هغه اووئيل چې نه بلكه خرڅوم يئ. نو نبى كريم ﷺ دهغه نه يوه چيلئ واخسته، بيا ئې هغه ذبحه كړه. نبى كريم ﷺ حكم اوفرمائيلو چې دهغې كليجى يعنى اينه وريته كړئى. په الله تعالى مې دې قسم وى چې يو سل ديرشو كسانو كښې به داسې يو كس هم نه وى پاتې شوې چې هغه ته به ددې غوښه نه وى رسيدلې. كوم چې حاضر وو هغوئ ته غوښه وركړې شوه. او چې كوم موجود نه وو هغوئ ته هم د هغوئ حصه پريخودې شوه. بيا ددې د غوښې دوه پيالئ جوړې كړې شوې. اومونږ ددې نه ښه په مړهٔ خيټه خوراك اوكړ. او په دواړو پيالو كښې غوښه هم پاتې شوه. د پاتې شوې غوښه مو په اوښ بار كړه او ځان سره مو راوړه.

قوله: سَوَادِ الْبَطْنِ: يعنى كليجى، يُشْوَىٰ: ددې معنى ده وريتول. حزله حُزَّةً: يعنى هر سړى دپاره يوه حصه نبى كريم ﷺ يوه حصه وركړه. دحُزَّ معنى ده قطع كول او پريكول. حُزَّةً: د حاء په ضمه سرد حصه او ټكړې ته وائى. **مشعان**: د ميم په ضمه او دشين په سكون سره، ډير اوږد ته وائى.

[۵۰۶۸] حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا مَنْصُورٌ عَنْ أُمِّهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - تُوُفِّيَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - حِينَ شَبِعْنَا مِنَ الأَسْوَدَيْنِ التَّمْرِ وَالْمَاءِ.[۵۱۲۷]

دريم روايت امام بخارى رحمه الله دلته په اول ځل ذكر اوفرمائيلو. [۱]حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها فرمائى چې د نبى كريم ﷺ كله وفات اوشو نو په هغه وخت كښې مونږ په كهجورو او اوبو باندې ښه ماړه شوى وو. علامه عينى رحمه الله فرمائى چې (وانما معناه توفى النبى ﷺ وقت كوننا شباعى من الاسودين) [۲]
دې حديث پاك كښې اوبو باندې تغليبا په اسود باندې اطلاق كړې شوې دې، ګنى هسې خو د اوبو رنګ نه شته دې.[۳] همداشان دعائشه صديقه رضی الله عنها مقصد په كهجورو باندې

---

[۱]) (الحديث اخرجه البخارى ايضا فى كتاب الاطعمة باب الرطب والتمر (رقم الحديث:۵۱۲۷) واخرجه مسلم فى كتاب الزهد والرقاق: ۴/۲۲۸۴) (رقم الحديث:۲۹۷۵)
[۲]) (عمدة القارى:۲۱/۳۳)
[۳]) (قوله: من الاسودين. تثنية الاسود وهم التمر والماء وهذا من باب التغليب وان كان الماء شفافا لا لونله، و ذالک كالابوين للاب والام، والقمرين للشمس والقمر.(عمدة القارى:۲۱/۳۳)

مړيدل مراد دى ځکه چې اوبه خو هسې هم وې ليکن د دواړو ذکر کول دې طرفته اشاره کول چې په دواړو باندې ښه په مړه خيټه ماړه شو. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې:
(ومراد عائشة بما اشارت اليه من الشبع هو من التمر خاصة دون الماء لكن قرنته به اشارة الى ان تمام الشبع حصل، بجمعها فكان الواو فيه بمعنى مع، لا ان الماء وحده يوجد الشبع منه) ([1])

ځومره خوراک پکار دې: په مړهٔ خيټهٔ خوراک کول جائز دی. البته زيات خوراک کول چې دې سره په بدن کښې سستی او کاهلی راشی او ددې په وجه عبادات او اطاعت اداکولو کښې خلل راشی، نو دا مکروه دی.
ترمذی، نسائی، ابن ماجه او حاکم دمقدام بن معد يکرب حديث نقل فرمائيلې دې، هغه فرمائی چې: (سمعت رسول الله ﷺ يقول: ما ملأ آدمى وعاء شرا من بطن حسب ابن آدم لقيمات يقمن صلبه، فان غلب الادمى نفسه فثلث للطعام وثلث للشراب وثلث للنفس) ([2])
په دې کښې د دی چې يو ځو نمړئی چې په دې سره د سړی ملا نيغه شی کافی دی، که غلبه زياته وی نو خيټهٔ دې درې حصې کړی، يوه حصه خوراک دپاره، بله اوبه دپاره، اوبله ساه يعنی هوا دپاره.
داولړې حد: داولړې په حد او تعريف کښې اختلاف دې، اودوه قوله مشهور دی.
① يو قول دادې چې سړې به هغه وخت کښې اوږې ګڼړلې شی چې کله د ترکارئی يعنی انکولی (سالن) نه بغير ددهٔ طبيعت روټئی ته کيږی. که روټئ سره دده شوق سالن ته هم وی نو د اسې سړې به اوږې نشی ګڼړلې.
② دويم قول دادې چې کله سړې توکانړې توکړی نو دده په توکانړو باندې مچان نه کينی، چې د کوم په ريق فم باندې مچان کينی نو دهٔ ته به اوږې نشی وئيلې. ([3])
د موړوالی مراتب: امام غزالی رحمه الله د مړې خيټې اووهٔ مراتب بيان کړی دی.
① اول مرتبه داده چې سړې دې دومره خوراک اوکړی چې دې سره ئې ژوند قائم پاتې شی.
② دويمه مرتبه ئې داده چې دې سره مونځ، روژه، مونځ او عبادات او حقوق ادا کړې شی. دا دواړه مراتب واجب دی.
③ دومره خيټه مړول چې نوافل ادا کړې شی.
④ چې دې سره ګټه وټه کولې شی، دا دواړه مستحب دی.
⑤ چې د خيټې دريمه حصه ډکه شی، دا جائز دی.

---

[1] (فتح البارى :۹/۶۵۹)
[2] (الحديث اخرجه الترمذى فى كتاب الاطعمة باب ماجاء فى كراهية كثرة الاكل :۴/۵۹۰، رقم الحديث :۲۳۸۰، والحاكم: باب اكثر الناس فى الدنيا شبعا:۴/۱۲۱...... وابن ماجة : باب الاقتصار فى الاكل وكراهية الشبع:۱/۱۱۱۱، رقم الحديث:۳۳۴۹)
[3] (عمدة القارى :۲۱/۳۳ و فتح البارى:۹/۶۶۰)

⑥ چې دې سره بدن ثقیل او درُوند شي او خوب راشي نو دا مکروه دی.
⑤ داسې په مړهٔ خیټهٔ خوراك کول چې د صحت دپاره نقصاني وی نو دا حرام دی. [۱]

٦-باب: لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ ولا على الأعرج حرج ولا على المريض حرج....الآية [۲]

ددې ترجمة الباب نه د امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چې په شریکه دې خوراك اوکړې شی یا جدا جدا، او که متفرق کیدو سره دې خوراك اوکړې شی. شرعی نقطه نظر سره دواړه جائز دی. امام بخاری رحمه الله چې د سورة نور کوم آیت مبارك په ترجمة الباب کښې ذکر فرمائیلې دې، په هغې کښې ډیر وضاحت سره دی چې (لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا)

قوله: والنهد والاجتماع في الطعام: د ترجمة الباب داالفاظ صرف په د مستملی په روایت کښې دی. [۳] نهد (د سکون سره) نو باندې فتح هم جائز ده. ددې معنی ده : د سفر د ملګرو توښه راجمع کول، کله یو څه خلق یو ځائې سفر کوی، کله اکثر خپل خپل سفر او خرچ او توښه راؤباسی او جمع ئې کړی. لکه څنګه چې د تبلیغی جماعت په ملګر دا معمول دې چې جماعت سره سفر کولو کښې ټول خرچ یو ملګری یعنی امیر سره عام طور سره جمع کوی. دې عمل ته نهد وائی. امام بخاری رحمه الله په دې باندې کتاب الشرکة کښې هم د باب الشركة في الطعام والنهد الفاظو سره ترجمة الباب قائم کړې دی. [۴]

په شریکه خوراک کولو کښې برکت دې : ترجمة الباب کښې ددې الفاظو زیاتوالې کړې شوې دې او امام بخاری رحمه الله په دې باندې تنبیه فرمائی چې اګر چې جدا جدا خوراك جائز دې، لیکن په جمع او په شریکه خوراك کول بهتر او افضل دی. یو ځل د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې څه خلق حاضر شو او عرض ئې اوکړو چې مونږ خوراك کوؤ خو زمونږ آسودګی نه کیږی. نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې تاسو خوراك جدا جدا کوئی او که په شریکه خوراك کوئی؟ هغوئ اووئیل چې جدا جدا. نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې په شریکه خوراك کوئی، د الله تعالی نوم سره خوراك شروع کوئی په دې کښې برکت دې. [۵]

---

[۱] (عمدة القاری :۲۱/۳۳، وفتح الباری :۹/۶۶۰
[۲] (حرج) اثم وذنب (الایة وتتمها) (وَلَا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ أَن تَأْكُلُوا مِن بُيُوتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ آبَائِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ إِخْوَانِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَعْمَامِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَالَاتِكُمْ أَوْ مَا مَلَكْتُم مَّفَاتِحَهُ أَوْ صَدِيقِكُمْ ۚ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَأْكُلُوا جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا ۚ فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ) (مَا مَلَكْتُم مَّفَاتِحَهُ) كان يكون وكيل بستان اوماشية فانه ياكل من ثماره ويشرب من لبانها (أَشْتَاتًا) متفرقين. (عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ) ليسلم بعضكم على بعض (مُبَارَكَةً طَيِّبَةً) حسنة فيها الدعاء باالخير)
[۳] (فتح الباری:۹/۶۶۱)
[۴] (وقال العینی، النهد: بکسر النون وسکون من المهناهدة هی اخراج کل واحد من الرفقةنفقة على قدر نفقة صاحب (عمدة القاری :۲۱/۳۴)
[۵] (الحدیث اخرجه ابوداؤد فی کتاب الاطعمة فی الاجتماع على الطعام: ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

ددې حديث پاك هم په شريكه او يو ځائې خوراك كولو فضيلت معلوميږي.

[٥٠٦٩] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ سَمِعْتُ بُشَيْرَ بْنَ يَسَارٍ يَقُولُ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ النُّعْمَانِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - إِلَى خَيْبَرَ، فَلَمَّا كُنَّا بِالصَّهْبَاءِ - قَالَ يَحْيَى وَهْيَ مِنْ خَيْبَرَ عَلَى رَوْحَةٍ - دَعَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِطَعَامٍ، فَمَا أُتِيَ إِلاَّ بِسَوِيقٍ، فَلُكْنَاهُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ، ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَمَضْمَضَ وَمَضْمَضْنَا، فَصَلَّى بِنَا الْمَغْرِبَ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ.

قَالَ سُفْيَانُ سَمِعْتُهُ مِنْهُ عَوْدًا وَبَدْءًا. [ر: ٢٠٦]

دا حديث باب مخكښې باب السويق كښې هم راروان دې. سويد بن نعمان ﷛ فرمائی چې مونږ رسول كريم ﷺ سره خيبر طرفته اووتلو. كله چې مونږ صهباء مقام ته اورسيدو اودا دخيبر نه يو ماښام يعنی د نيم منزل په فاصله كښې دې.

قوله: مِنْ خَيْبَرَ عَلَى رَوْحَةٍ: ددې مطلب دې چې دا ځائې د خيبر نه دومره لرې دې كه يو كس د زوال په وخت كښې روان ش نو ماښام په هلته اورسی. رسول كريم ﷺ خوراك راغوښتلو، نوصرف ستوان راؤړلې شو. مونږ ددې نه څه اوخوړل. بيا نبی كريم ﷺ اوبه راؤغوښتل، او صرف خله مباركه ئې كګناله كړه. اودس ئې اونه كړو. مونږ هم خلې كنګالې كړې. او ذې نه پس مونږ ته د ماښام مونځ راكړو. سفيان بن عينيه فرمائی چې دا حديث پاك ما ديحيی بن سعيد نه اولا او اخرا واؤريدو.

لكنا: بروزن قلنا لوك نه دې. اوددې معنی ده پو كې وهل.

قوله: عوداوبداء: ای عائداوبادئا ای اولا اخرا: يعنی اول كښې مې هم واؤريدو او په آخر كښې مې دوباره بيا واؤريدو.(١)

د ترجمة الباب د حديث مناسب سره ظاهر دی چې رسول كريم ﷺ او حضرات صحابه كرام ﷡ اجتماعا خوراك اوفرمائيلو.

-٧ باب الْخُبْزِ الْمُرَقَّقِ وَالأَكْلِ عَلَى الْخِوَانِ وَالسُّفْرَةِ.

قوله: الْخُبْزُ الْمُرَقَّقُ: نرې چپاتې، او نرمه نرۍ روټۍ ته وائی. او خوان د خاء په كسره او ضمه سره دې، دې كښې يو دريم لغت اخوان هم دې.(٢)

...بقيه ازحاشيه گذشته] ان اصحاب النبی ﷺ قالوا: يارسول الله ﷺ: انا ناكل ولا نشبع قال فعليكم تفترقون؟ قالوا نعم. قال فاجتمعوا علی طعامكم واذكراسم الله عليه. يبارک لكم فيه. رقم الحديث: ٣٧٦٤. واخرجه وابن ماجه فی كتاب الاطعمة باب الاجتماع علی الطعام رقم الحديث :٣٢٨٦. وانظر ايضا الترغيب والترهيب للمنذری باب الترغيب فی الاجتماع: ١٣٣/٣)

(١) (ارشاد الساری :١٥٥/١٢، وعمدة القاری :٣٤/٢١)

(٢) (فتح الباری :٦٦٣/٩، وعمدة القاری: ٣٤/٢١)

علامه عيني ددې متعلق فرمائي چې دا د تانبې وو او ددې لاندې پښې وې. (١)
كيدې شي چې په هغه زمانه كښې خوان د تانبې وو. خلقو به په دې باندې خوراك ايښودو او هغه به ئې خوړلو. نن صبا ددې مثال چوكئې او ميز دې. مولانا وحيد الزمان صاحب ددې ترجمه ميز كړې ده. (٢)
او «سفرة» د سين په ضمه اود فاء په سكون سره دسترخوان ته وائي. اصل كښې خود سفرة اطلاق په طعام ته وائي. ليكن دلته محل ذكر كړې شوې دې او مراد ترې حال اخستې شوې دې. يا حال وئيلې شوې دې او مراد دې محل اخستې شوې دې. ځكه چې طعام حال او دسترخوان محل دې. او مراد دسترخوان دې. (٣) عام طور سره د څرمنې دسترخوان دپاره سفرة استعماليږي.

[۵۰۷۰] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ أَنَسٍ وَعِنْدَهُ خَبَّازٌ لَهُ فَقَالَ مَا أَكَلَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - خُبْزًا مُرَقَّقًا وَلاَ شَاةً مَسْمُوطَةً حَتَّى لَقِيَ اللَّهَ.[۵۱۰۵، ۶۰۹۲]

دا حديث پاك امام بخاري رحمه الله په اول ځل دلته ذكر فرمائيلې دې. (۴)
قتاده فرمائي چې مونږ انس سره وو. هغوئ سره دهغوئ باورچي وو. نو هغوئ اوفرمائيل چې رسول كريم ﷺ كله هم نرئ روټئ نه ده خوړلې، او نه ئې شاة مسموطه خوړلې ده.

قوله: شَاةً مَسْمُوطَةً: هغه چيلئ ته وائي چې دهغې وېښته گرمو اوبو سره په وينځلو لرې كولې شي، او څرمنې سره دا تهوله پخولې شي. عام طور سره د صغير السن چيلئ بچي سره دا طريقه كولې شي. (۵)
دا د مترفينو طريقه ده، ځكه دا خوښه نه كړې شوه. اودا پرېښودې شوه، اوكله چې داغته شي نوددې قيمت اوغوښه كښې به زياتوالې راشي. اوددې څرمن به هم فائده منده وي. خو څرمنې سره ددې پخول داامكان ختم شي. ځكه داعمل خوښ نه كړې شو. خو بيا هم جائز دې. (۶)

---

(١) (قال العيني في العمدة: ۲۵/۲۱، وهو طبق كبير من نحاس تحته كرسي من نحاس ملزوق به طوله قدر ذراع وضع بين كبير من المترفين لا يحمله الا اثنان فما فوقهما)
(٢) (اوګورئ القاموس الجديد: ۲۶۰ مده خوه)
(٣) (سفرة اسم لما يوضع عليه الطعام، واصلها الطعام نفسه (ارشاد الساري:۱۵۶/۱۲) وعدمة القاري :۳۵/۲۱، وفتح الباري: ۶۶۳/۹)
(۴) (الحديث اخرجه البخاري ايضا في باب شاة مسموطة والكتف والجنب: (رقم الحديث:۵۱۵۰) و في كتاب الرقاق باب كيف كان عيش النبي ﷺ واصحابه وتخليهم من الدنيا (رقم الحديث:۶۰۹۲) واخرجه ابن ماجه في الاطعمة باب الرقاق :۱۱۰۸/۲) رقم الحديث :۳۳۳۹).
(۵) (وفتح الباري ۶۶۳/۹، المسموطة الذي ازيل شعره بالماء المسخن وشوي بجلدة ويطبخ وانما يصنع ذالك في الصغيرة السن الطوي)
(۶) (فتح الباري :۶۶۳/۹ وعمدة القاري: ۳۵/۲۱)

[۵۰۷۱] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِاللّٰهِ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ يُونُسَ - قَالَ عَلِيٌّ هُوَ الإِسْكَافُ - عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه قَالَ مَا عَلِمْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم - أَكَلَ عَلَى سُكُرُّجَةٍ قَطُّ، وَلاَ خُبِزَلَهُ مُرَقَّقٌ قَطُّ، وَلاَ أَكَلَ عَلَى خِوَانٍ. قِيلَ لِقَتَادَةَ فَعَلَى مَا كَانُوا يَأْكُلُونَ قَالَ عَلَى السُّفَرِ. [۵۰۹۹]

دا حدیث پاك هم امام بخاری رحمه الله دلته په رومبی ځل ذکر فرمائیلي دي. (۱).

انس رضی الله عنه فرمائی چې ما ته نه دی معلوم چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم کله به وړه رکیبئ کښې خوراك کړې وی او نه نبی کریم صلی الله علیه وسلم کله نرئ روټئ خوړلې ده، او نه نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خوان یعنی میز باندې خوراك کړې دې، قتاده نه تپوس اوکړې شو چې آخر خلقو به په څه څیز باندې خوراك کولو؟ نو هغوئ اوفرمائیل چې دسترخوان باندې.

قوله: سُكُرُّجَةٍ: ددې ترجمه رکیبئ کړې شوې ده. او وړو وړو پیالو ته هم سُکُرُّجَة وائی. (۲)

نبی کریم صلی الله علیه وسلم بهٔ عام طور په شریکه خوراك کولو. ځکه د وړو لوښو ضرورت نه وو، لوئې لوښی کښې به په شریکه خوراك کولو.

دویمه وجه داده چې وړوکې رکیبئ او وړوکې پیالئ عام طور د اچارو وغیره دپاره استعمالیږی. اود نبی کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه خو اول غریبی او تنګ دستی وه او دویم دا چې د خوراك زیات اهتمام نه وو. اود اچار او چټنئ وغیره بندوبست هغه خلق کوی چې د زیات خوراك شوقین او عادی وی. (۳)

قوله: سُفَرِ: د سُفْرَة جمع ده. دسترخوان ته وائی.

سند کښې یونس نه مراد یونس بن ابی الفرات دې، د ابن ما جه په روایت کښې ددې تصریح شته دې. ابن معین او امام احمد دوئ ته ثقه وئیلی دی. بخاری شریف ددوئ دا یو حدیث دې. (۴)

دې روایت کښې د حیس ذکر دې. پینر، کهجورې او غوړی یو ځائې کړی او ددې نه یوه حلوه جوړولې شی، دې ته حیس وائی.

قوله: لأَنْطَاعِ: د نطع جمع ده، ددې معنی ده دسترخوان.

---

(۱) (۵۰۷۱)(اخرجه البخاری ایضا فیه، علی ماکان النبی صلی الله علیه وسلم واصحابه یاکلون رقم الحدیث :۵۰۹۹، واخرجه الترمذی فی الاطعمة باب ماجاء علی ما کان یاکل رسول الله : ۴۵۰/۴، الحدیث :۱۷۸۸، واخرجه ابن ماجه فی الاطعمة باب الاکل علی الخوان والسفرة:۱۰۹۵/۲ رقم الحدیث :۳۲۹۲)

(۲) (قال العینی فی العمدة:۳۶/۲۱، سُكُرُّجَة بضم السین والکاف والراء المشدد بعدها جیم مفتوحة هی قصاص صغار یؤکل فیها... وفتح الباری :۶۶۴/۹)

(۳) (فتح الباری :۶۶۵/۹)

(۴) (عمدة القاری :۳۵/۲۱، وفتح الباری :۶۶۴/۹)

[۵۰۷۲] حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ أَخْبَرَنِي حُمَيْدٌ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسًا يَقُولُ قَامَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يَبْنِي بِصَفِيَّةَ فَدَعَوْتُ الْمُسْلِمِينَ إِلَى وَلِيمَتِهِ أَمَرَ بِالأَنْطَاعِ فَبُسِطَتْ فَأُلْقِيَ عَلَيْهَا التَّمْرُ وَالأَقِطُ وَالسَّمْنُ. وَقَالَ عَمْرٌو عَنْ أَنَسٍ بَنَى بِهَا النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- ثُمَّ صَنَعَ حَيْسًا فِي نِطَعٍ.[ر: ۳۶۴]

[۵۰۷۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ وَعَنْ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ قَالَ كَانَ أَهْلُ الشَّأْمِ يُعَيِّرُونَ ابْنَ الزُّبَيْرِ يَقُولُونَ يَا ابْنَ ذَاتِ النِّطَاقَيْنِ. فَقَالَتْ لَهُ أَسْمَاءُ يَا بُنَيَّ إِنَّهُمْ يُعَيِّرُونَكَ بِالنِّطَاقَيْنِ، هَلْ تَدْرِي مَا كَانَ النِّطَاقَانِ إِنَّمَا كَانَ نِطَاقِي شَقَقْتُهُ نِصْفَيْنِ، فَأَوْكَيْتُ قِرْبَةَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِأَحَدِهِمَا، وَجَعَلْتُ فِي سُفْرَتِهِ آخَرَ، قَالَ فَكَانَ أَهْلُ الشَّأْمِ إِذَا عَيَّرُوهُ بِالنِّطَاقَيْنِ يَقُولُ إِيهًا وَالإِلَهْ. تِلْكَ شَكَاةٌ ظَاهِرٌ عَنْكَ عَارُهَا[ر: ۲۸۱۷]

عبدالله بن زبير رضي الله عنه ته يا ابن ذات النطاقين اووئيلي شو، ددوئ مور بى بى اسماء بنت ابى بكر باندې د ذات النطاقين اطلاق كړې شوې دې.

اصل كښې كله چې نبى كريم ﷺ هجرت اوكړو او مدينې منور ته ئې تشريف يوړو، نو هغوئ خپل كمر بند اوشلولواو يو سره ئې د نبى كريم ﷺ مشكيزه اوتړله او بل باندې ئې د دوئى دسترخوان تړلې وو. دوئ ته ذات النطاقين اووئيلې شو.

قوله: فَأَوْكَيْتُ قِرْبَةَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ بِأَحَدِهِمَا: د (أَوْكَىٰ) معنى تړل ده. او (قِرْبَةَ) (دقاف په كسره سره) مشكيزې ته وئيلې كيږى. (اى ربطت فهما به......) يعنى د مشكيزې خوله ئې يو نطاق سره اوتړله.

شام والو چې به كله عبدالله بن زبير رضي الله عنه ته ابن ذات النطاقين وئيلواو پيغور كولو نو فرمائيل به ئې (ايها والاله :) په الله مې دې قسم وى ، وائې كنه څه په دې خوشحاليږم، (ايها) (د همزه په كسره، دياء په سكون اود هاء په تنوين سره) علامه قسطلانى ددوئ باره كښې فرمائى: (كلمة تستعمل فى استدعاء الشى وقيل: هى للتصديق كانه قال: صدقتم) [1]

يعنى ديو څيز د غوښتلو دپاره دكلمه وئيلې كيږى. دويم قول دادې چې د چا د خبرې اعتراف او تصديق كولو دپاره دا استعماليږى.

دلته (ايها والاله) دي، د احمد بن يونس روايت كښې دى چې (ايها ورب الكعبة) الفاظ دى.[2]

عبدالله بن زبير رضي الله عنه د ابو ذؤب هذلى د شعر مصرعه وائى، پوره شعر داسې دې:

وعيرني الواشون انى احبها ۔۔۔ وتلك شكاة ظاهر عنك عارها

---

[1] (ارشاد السارى: ۱۵۸/۱۲)

[2] (فتح البارى :۶۶۶/۹، وارشاد السارى :۱۵۸/۱۲)

:ماته چغلي كوؤنكو پيغور راكړو چې څه هغوئ سره محبت كوؤم، (ليكن څه خو هغوئ ته پيغور وركوم ځكه چې) دا خو يو داسې پيغور دې چې ددې عيب زائله كيدونكې دې.

قوله: ظَاهِرٌ: د زائله په معنى كښې ده.[1]

مطلب دادې چې ددې نه خو فضيلت ثابتيږي چې هغوئ د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې دومره د عاجزئى او مينې اظهار كړې وو چې خپل كمر بند ئې هم د سترخوان او مشكيزې ترلو دپاره د نبى كريم ﷺ د خدمت دپاره استعمال كړل.

قوله: أَضُبٌّ: (بفتح الهمزة وضم الضاد و تشديد الباء) د ضب جمع ده، گوه يا كفتار.

[٥٠٧٤] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ أُمَّ حُفَيْدٍ بِنْتَ الْحَارِثِ بْنِ حَزْنٍ - خَالَةَ ابْنِ عَبَّاسٍ - أَهْدَتْ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - سَمْنًا وَأَقِطًا وَأَضُبًّا، فَدَعَا بِهِنَّ فَأُكِلْنَ عَلَى مَائِدَتِهِ، وَتَرَكَهُنَّ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - كَالْمُسْتَقْذِرِ لَهُنَّ، وَلَوْ كُنَّ حَرَامًا مَا أُكِلْنَ عَلَى مَائِدَةِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَلاَ أَمَرَ بِأَكْلِهِنَّ. [ر: ٢٤٣٦]

٨- باب السَّوِيقِ.

[٥٠٧٥] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ سُوَيْدِ بْنِ النُّعْمَانِ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُمْ كَانُوا مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - بِالصَّهْبَاءِ - وَهْىَ عَلَى رَوْحَةٍ مِنْ خَيْبَرَ - فَحَضَرَتِ الصَّلاَةُ، فَدَعَا بِطَعَامٍ فَلَمْ يَجِدْهُ إِلاَّ سَوِيقًا، فَلاَكَ مِنْهُ فَلُكْنَا مَعَهُ، ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَمَضْمَضَ، ثُمَّ صَلَّى وَصَلَّيْنَا، وَلَمْ يَتَوَضَّأْ. [ر: ٢٠٦]

٩- باب مَا كَانَ النَّبِيُّ لاَ يَأْكُلُ حَتَّى يُسَمَّى لَهُ فَيَعْلَمَ مَا هُوَ

دې باب كښې امام بخارى رحمه الله فرمائى چې نبى كريم ﷺ به تر هغه پورې يو څيز نه خوړلو تركومې چې به نبى كريم ﷺ ته دا اونه وئيلې شو چې هغه څه څيز دې، او كوم خوراك دې. ددې يو وجه دا هم ليكلې شوې ده چې په عربو كښې په هغه زمانه كښې چونكه د خوراك د

---

[1] (او اولنى دوه اشعار دى:
هل الدهر الا ليلة ونهارها والا طلوع الشمس ثم غيارها
ابى تحرق نارى بالشكاة ونارها
او د متن ذكر شوى شعر نه پس داشعر دې
فان اعتذر منها فانى مكذب
وان تعتذر يردد عليک اعتذارها
فتح البارى :٩/٦٦٦، وعمدة القارى:٢١/٣٧

څيزونو قلت وو. ددې وجې چې دخوراك څه څيز به ورته ملاؤ شو نو عام طور به ئې خوړلو. ليكن نبى كريم ﷺ ته ځينې طبعى طورخوښ نه وو،ددې وجې به نبى كريم ﷺ ته وئيلې شو. داشان د ځينې ځناورو غوښهٔ شرعى نقطه نظر سره حرام ګرزولې شوې وه، نبى كريم ﷺ به ددې وجې هم معلومات كولو چې هسې نه د يو حرام څيز غوښه استعمال نه كړى چې خوړونكى حلاله ګنړلې وى، او هغه په شريعت كښې حرامه وى [1]

د ترجمة الباب مقصد دادې چې كه ديو سړى طبيعت داشان دې چې ده ته په خوراك كښې ځينې څيزونه خوښ دى او ځينې ئې خوښ نه وى نو په دې كښې هيڅ حرج نشته چې دا يو طبعى او غير اختيار حالت دې.

[۵۰۷۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَبُو الْحَسَنِ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو أُمَامَةَ بْنُ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ الأَنْصَارِيُّ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ الَّذِي يُقَالُ لَهُ سَيْفُ اللَّهِ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عَلَى مَيْمُونَةَ وَهْيَ خَالَتُهُ وَخَالَةُ ابْنِ عَبَّاسٍ فَوَجَدَ عِنْدَهَا ضَبًّا مَحْنُوذًا، قَدِمَتْ بِهِ أُخْتُهَا حُفَيْدَةُ بِنْتُ الْحَارِثِ مِنْ نَجْدٍ، فَقَدَّمَتِ الضَّبَّ لِرَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَكَانَ قَلَّمَا يُقَدِّمُ يَدَهُ لِطَعَامٍ حَتَّى يُحَدَّثَ بِهِ وَيُسَمَّى لَهُ، فَأَهْوَى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَدَهُ إِلَى الضَّبِّ، فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنَ النِّسْوَةِ الْحُضُورِ أَخْبِرْنَ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مَا قَدَّمْتُنَّ لَهُ، هُوَ الضَّبُّ يَا رَسُولَ اللَّهِ. فَرَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَدَهُ عَنِ الضَّبِّ، فَقَالَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ أَحَرَامٌ الضَّبُّ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ «لاَ وَلَكِنْ لَمْ يَكُنْ بِأَرْضِ قَوْمِي فَأَجِدُنِي أَعَافُهُ». قَالَ خَالِدٌ فَاجْتَرَرْتُهُ فَأَكَلْتُهُ وَرَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَنْظُرُ إِلَيَّ. [۵۰۸۵، ۵۲۱۷]

خالد بن وليد رضي الله عنه فرمائي چې هغوئ نبى كريم ﷺ سره ميمونه رضي الله عنها كره لاړو، (ميمونه رضي الله عنها ددوئ او د ابن عباس رضي الله عنه ترور وه) هغوئ سره وريته شوې غوښه موجود وه. چې دا غوښهٔ ددې خور خفيده بنت الحارث د علاقې نجد نه راوړې وه. ميمونه هغه غوښه نبى كريم ﷺ ته مخكښې كړه، او ډير كم به داسې وو چې نبى كريم ﷺ خپل لاسونه مبارك يو خوراك طرفته اوړل. تر هغه وخته پورې چې نبى كريم ﷺ ته ددې بيان اونه كړې شى چې دا څه څيز دې. نبى كريم ﷺ خپل لاس مبارك ورته شوې غوښې ته اوږد كړو. نو هغه ځائې كښې چې كومې ښځې ناستې وى هغوئ كښې يو اووئيل چې د نبى كريم ﷺ په مخكښې تا كوم څيز ايخودې دې دهغې باره كښې اووايه. (بيا ئې پخپله اووئيل) چې يارسول الله ﷺ! دا خو سمساره ده، په دې آوريدو سره نبى كريم ﷺ خپل لاس مبارك روستو كړو، په دې باندې خالد بن وليد رضي الله عنه اوفرمائيل چې يارسول الله ﷺ! آيا دا حرام څيز دې څه. نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې نه ليكن دا زمونږ په وطن كښې نشته دې نو ددې وجې زما طبيعت دانه خوښوى.

[1]) مذكوره دواړو توجيهاتو دپاره اوګورئى : فتح البارى :۶۶۸/۹، ارشاد السارى:۱۶۰/۱۲).

خالد بن وليد رضي الله عنه فرمائى چې ما دا د نبى كريم صلى الله عليه وسلم د مخكښې نه راښكله او خوړله مې نو نبى كريم صلى الله عليه وسلم زما طرفته تعجب سره كتل.

قوله: (فقالت امراة من النسوة الحضور): چې كومې ښځې نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته اووئيل، د طبرانى په روايت كښې دى چې هغه ميمونه رضي الله عنها وه.

د سمسارې خوړلو حكم: د جمهورو علماء كرامو په نيزد د كفتار او ګوه غوښه خوړل مباح دى، امام مالك رحمه الله، امام شافعى رحمه الله، امام احمد بن حنبل رحمه الله او د ظاهريه هم دا مسلك دې. [1]

د حضرات فقهاء كرامو د يوې ډلې په نيزد سمساره حرامه ده، دا مسلك د اعمش رحمه الله، زيد بن وهب او على رضي الله عنه دې. [2]

د امام ابوحنيفه رحمه الله او د صاحبينو په نيز د سمسارې غوښه مكروه ده. [3]

امام طحاوى ورته مكروه تنزيهى وئيلى دى. [4] او په بنايه كښې دعينى رحمه الله د كلام نه معلوميږى چې دا مكروه تحريمى ده. [5]

د جمهورو علماء كرامو استدلال حديث د باب نه دې، چې واضح دې.

دحرمت قائلين، ابو داؤد كښې د عبدالرحمان بن شبل رحمه الله روايت نه استدلال كوى چې (ان النبى صلى الله عليه وسلم نهى عن اكل الضب) [6]

علامه بيهقى دا حديث پاك دا اسماعيل بن عياش په وجه معلول ګرزولى دى. [7]

ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې اسماعيل بن عياش رحمه الله شامييونو نه روايت مقبول دې او دا حديث پاك هغه د شاميين نه روايت كوى، دې نه علاوه ابن عساكر دې روايت لره د عائشه صديقه رضي الله عنها په طريق باندې هم نقل كړې دې، او ددۀ سند حسن دې. [8]

همداشان امام محمد رحمه الله په كتاب الاثار كښې د عائشه رضي الله عنها نه روايت نقل كړې دې چې هغوئ ته چا په هديه كښې ضب وركړو. هغوئ ددې متعلق د حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم منع كړه، په دې كښې يو سائل راغلو، عائشه صديقه رضي الله عنها هغه ته دغه ضب وركول غوښتل نو نبى كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چې (اتطعمينه مالا تاكلين) چې څه په خپله نه خورې نو هغه بل ته مه وركوئ.

---

[1] فتح البارى :۹/ ۶۶۸، ارشاد السارى:۱۲/ ۱۶۱).
[2] كتاب الام:۱/۵۳، الجزء الثانى : اكل الضب وعمدة القارى:۲۱/۳۹).
[3] عمدة القارى:۲۱/۵۳).
[4] اعلاء السنن، كتاب الذبائح، باب النهى عن اكل الضب:۱۷/۱۶۲).
[5] البناية شرح هدايه:۱۰/۷۰).
[6] سنن ابو داؤد كتاب الاطعمة باب فى اكل الضب رقم الحديث :۳۷۹۶).
[7] اعلاء السنن كتاب الذبائح: ۱۷/۱۶۰).
[8] السراج المنير للعزيز:۳/۳۹۶).

امام احمد رحمه الله فرمائي چې: (وبه نأخذ وهو قول ابي حنيفة رحمه الله)[1]

١٠- باب طعام الواحد يكفي الاثنين.

[٥٠٧٧] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ وَحَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - أَنَّهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «طَعَامُ الاِثْنَيْنِ كَافِي الثَّلاَثَةِ، وَطَعَامُ الثَّلاَثَةِ كَافِي الأَرْبَعَةِ».

امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې چې کوم الفاظ نقل کړی دی دادهغه حدیث مبارك الفاظ دی کوم چې امام مسلم نقل کړی دی.[2]

حدیث د امام بخاری رحمه الله په شرط باندې پوره نه وو. ددې وجې امام بخاری رحمه الله دا الفاظ په ترجمة الباب کښې ذکر کړل، او مخکښې په (باب طعام الاثنين كافي الثلاثة) والا روايت کښې نقل فرمائی چې د دواړو روايتونو په مينځ کښې فرق ظاهر دې دیو سړی خوراك د دوؤ دپاره کافی کیږی دې صورت کښې د هر یو حصه کښې نیم نیم رازی. د دوؤ دریو دپاره کافی دې، په دې کښې دنیم په ځائې د هر یو حصه دریمه دریمه حصه راشی.

علامه ابن منیر رحمه الله فرمائي چې د ترجمة الباب الفاظ حدیث باب نه داشان ثابتیږی چې د کوم سړی دپاره ثلث پرینبودل ممکن وی، ددې نیم پرینبودل هم ممکن وی، (لتقاربهما)[3] ځکه چې نیم او دوه ثلث کښې صرف د یو سدس فرق دې او دا څۀ فرق نه دې.

د يو خوراک د دوؤ دپاره دکافي کيدو مطلب: باقی ددې احادیثو مطلب دا نه دې چې کوم خوراك د یو سړی دپاره کافی وی دې سره دوه سړی ماړۀ شی، بلکه مطلب ددې امر دادې چې د دوؤ گزارد په دې سره اوشی. داشان چې کوم خوراك دوه سړی مړوی، هغه د دریو سړو دپاره په طور دقناعت کافی کیږی اوددې بنیادی غذائی ضرورت دې سره پوره کیږی.[4]

داشان داحادیثو اصل مقصد د قناعت ترغیب او تعلیم ورکول دی چې الله جل جلاله تأسو ته څه درکړی دی، په هغې کښې نورو خلقو لره هم شریکوئی.

حدیث باب امام بخاری رحمه الله دلته په رومبې ځل ذکر اوفرمائیلو.[5]

١١- باب الْمُؤْمِنُ يَأْكُلُ فِي مِعًى وَاحِدٍ.

[٥٠٧٨] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ وَاقِدِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ نَافِعٍ

---

[1] کتاب الاثار: ١٧٩، رقم الحدیث: ٨١۶).

[2] اوګورئی صحیح المسلم کتاب الاطعمة باب فضیلة المواساة فی الطعام القلیل رقم الحدیث :٢٠٥٨).

[3] فتح الباری :٩/٦٦٩).

[4] فتح الباری :٩/ ٦٦٨، و شرح مشکاة للطیبی کتاب الاطعمة:٨/١٤٤).

[5] (٢٠٥٨) اخرجه مسلم فی کتاب الاطعمة، باب المواسات فی الطعام القلیل رقم الحدیث :٢٠٥٨، اخرجه الترمذی فی کتاب الاطعمة باب ماجاء فی طعام الواحد یکفی الاثنین (رقم الحدیث:١٠٢٠).

قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ لَا يَأْكُلُ حَتَّى يُؤْتَى بِمِسْكِينٍ يَأْكُلُ مَعَهُ، فَأَدْخَلْتُ رَجُلًا يَأْكُلُ مَعَهُ فَأَكَلَ كَثِيرًا فَقَالَ يَا نَافِعُ لَا تُدْخِلْ هَذَا عَلَيَّ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «الْمُؤْمِنُ يَأْكُلُ فِي مِعًى وَاحِدٍ وَالْكَافِرُ يَأْكُلُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ».

[۵۰۷۹] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَأْكُلُ فِي مِعًى وَاحِدٍ، وَإِنَّ الْكَافِرَ - أَوِ الْمُنَافِقَ فَلَا أَدْرِي أَيَّهُمَا قَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ - يَأْكُلُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ». وَقَالَ ابْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - بِمِثْلِهِ.

[۵۰۸۰] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو قَالَ كَانَ أَبُو نَهِيكٍ رَجُلًا أَكُولًا فَقَالَ لَهُ ابْنُ عُمَرَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «إِنَّ الْكَافِرَ يَأْكُلُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ». فَقَالَ فَأَنَا أُومِنُ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ.

[۵۰۸۱] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «يَأْكُلُ الْمُسْلِمُ فِي مِعًى وَاحِدٍ، وَالْكَافِرُ يَأْكُلُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ».

[۵۰۸۲] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَأْكُلُ أَكْلًا كَثِيرًا، فَأَسْلَمَ فَكَانَ يَأْكُلُ أَكْلًا قَلِيلًا، فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ «إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَأْكُلُ فِي مِعًى وَاحِدٍ، وَالْكَافِرَ يَأْكُلُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ».

(معًى) د میم په کسره او دعین په تنوین سره کولمې ته وائی.

د باب رومبی حدیث کښې د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما متعلق دې چې تر کومې پورې به د سره په خوراک کښې یو مسکین او فقیر شامل نه وو. تر هغه وخته پورې به هغه خوراک نه کولو، یو ځل یو سړې دده سره د خوراک دپاره راوستلې شو، نو هغه ډېر خوراک اوکړو. نو ابن عمر فاروق رضی الله عنهما اوفرمائیل چې بیا دپاره مالزه دا سړې مه راوله. ځکه چې ما د نبی کریم ﷺ نه آؤریدلی دی چې مؤمن په یو کولمه او کافر په اوؤ کولمو کښې خوری.

د مؤمن په یو کولمه او کافر په اوؤ کولمو سره د خوړلو مطلب: حضرات محدثین دد‌ې حدیث متعلق بیان کړېدې.

① یو مطلب دا بیان شوې دې چې ددې حدیث نه حقیقت کښې کولمې او خوراک مراد نه دی، بلکه دنیا اوددې لذتونو قلت او کثرت ترې مراد دې یعنی دنیا ته ئې (اکل) او ددې اسبابو ته ئې (امعاء) سره تعبیر ورکړو او مقصد دادې چې مومن ته ددنیاوی د لذتونو زیات شوق نه وی او کافر عیش او لذت پرست وی.[۱]

[۱]) فتح الباری :۹/ ۶۷۲عمدة القاری:۲۱/ ۴۱، ارشاد الساری:۱۲/ ۱۶۲).

④ دويم مطلب دا بيان کړې شوې دې چې مؤمن رزق حلال خوري چې نسبتا کم وی او کافر حرام خوری چې ددې ذرائع ډيرې زياتې وی، قلت حلال او کثرت حرام لره په «معی واحد» او «سبعة امعاء» سره تعبير کړې شوې دې. (۱)

③ د حديث پاك مطلب دادې چې د مؤمن په خوراك کښې برکت اود کافر په خوراك کښې بې برکتی بيانول دی چې مؤمن د الله ﷻ نوم اخلی او خوراك کوی نو دې کښې برکت وی، او شيطان ده سره شريك نه وی، نو کم خوراك ددهٔ دپاره کافی کيږی، کله چې کافر د الله ﷻ د نوم نه بغير خوراك کوی نو د شيطان د شرکت په وجه کم خوراك ددهٔ دپاره کافی نه وی. (۲)

④ ددې نه مراد عام قانون بيانول نه دی بلکه نبی کريم ﷺ دا جمله د يو خاص مسلمان باره کښې ارشاد فرمائيلې وه، چې ددې ذکر د مسلم وغيره روايتونو کښې وې چې نبی کريم ﷺ لره يو مليمه راغلو او دا کافر وو. نبی کريم ﷺ دهغه دپاره د چيلئ دلوشولو حکم اوفرمائيلو، چيلئ اولوشلې شوه، هه دا پئ اوڅکل، بيا بله چيلئ اولوشلې شوه، هغه دا پئ هم او څکل، هر کله چې سبا شو نو هغه مسلمان شو. نبی کريم ﷺ دده دپاره د چيلئ لوشلو حکم اوفرمائيلو، نو هغه ددې چيلئ پئ اوڅکل او بله چيلئ اولوشلې شوه خوده انکار اوکړو چې څه موړ شوم، په دې باندې نبی کريم ﷺ دا جمله اوفرمائيله. مطلب دا وو چې کله دا سړې کافر وو نو څکل ئې ډير اوکړل، او چې مسلمان شو نو کم ئې اوڅکل. نو په دې حديث پاك کښې ددې خاص سړی ذکر دې، عام خبره او څه قاعدې کليه بيانول مقصد نه دې. «المؤمن» او «الکافر» کښې الف لام عهد خارجی دی.

علامه طحاوی رحمه الله په «مشکل الآثار» کښې هم دا قول اختيار کړې دې، هغه فرمائی چې: «ان هذا الحديث کان فی مخصوص وهو الذی شرب حلاف سبع شياه، وليس عندنا للحديث محمل غير هذا الوجه» ابن عبدالبر او ابوعبيده هم داقول اختيار کړې دې. (۳)

ليکن په دې قول بهٔ اشکال وی کله چې دا حديث د يو خاص سړی متعلق دې. عام خبره په دې کښې نه ده بيان شوې نو ابن عمر رضی الله عنهما ددې نه عموم څنګه اوګڼړلو چې زيات خوراك فقير مالره مه راولئ.

⑤ پنځم مطلب دا بيان شوې دې چې په دې حديث پاك کښې دمؤمن د عمومی حالت ذکر دې. او د «سبعة» عدد نه مراد نه دې بلکه دا مبالغه فی الکثير دپاره دې. مطلب دا دې چې دمؤمن شان او عمومی کيفيت دا وی چې هغه په خوراك څکاك کښې زياته دلچسپی نه اخلی. کم خوراك کوی. زيات خوراك او مستقل په دې فکر کښې اوسيدل دکافرانو صفت

(۱) فتح الباری: ۶۷۲/۹)
(۲) فتح الباری: ۶۷۲/۹، عمدة القاری: ۴۱/۲۱).
(۳) فتح الباری: ۶۳۷/۹).

دي. په قرآن عظيم الشان كښې دى چې ﴿وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَاْكُلُوْنَ كَمَا تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ﴾ داشان مؤمن د خوراك په مقابله كښې عموما د يو اوؤ نسبت وى، ليكن دا اثر داغلب سره وى. ګنې اكثر مؤمن داسې كيدشى چې عادتا يا دڅه عارض په وجه زيات خوراك كوى، لکه څنګه چې د باب په دريم حديث پاك كښې دى چې ابو نهيك به خوراك زيات كولو. ابن عمر ﷠ چې كله اوفرمائيل چې كافر به اوؤ كولمو سره خورى نو هغوئ اووئيل چې مؤمن يم (كافر نه يم) او ډير كافر داسې كيدېشى چې ډير كم خوراك كوى. حديث بنا على الاغلب والاكثر ارشاد فرمائيلې شوې دې. (١) ددې حديث پاك په تشريح كښې هم دا قول د ټولو نه زيات زړه ته نزدې دې.

⑥ علامه قرطبى ﷫ فرمائى چې د خوراك څكاك شهوات اووۀ دى. ① شهوة الطبع ② شهوة النفس ③ شهوة العين ④ شهوة الفم ⑤ شهوة الاذن ⑥ شهوة الانف ⑦ شهوة الجوع. د آخرى خواهش انسانى ضرورت دې، مؤمن صرف هم ددې يو خواهش لاندې خوراك كوى، او كافر دا نور خواهشات پيش نظر خوراك كوى، په د ې حديث كښې (معى واحد) او (امعاء سبعة) نه هم دا شهوات او خواهشات مراد دى. (٢)

قاضى ابوبكر العربى ﷫ هم دې ته نزدې نزدې د حديث پاك تشريح كړې ده.(٣)

يحيى بن عبدالله بن بكير تعليق چې كوم حضرات امام بخارى ﷫ فرمائيلى دې، دا ابونعيم موصولا نقل كړېدې. فتح البارى :٩/٦٧١، عمدة القارى :٢١/٣٢، ارشاد السارى :١٢/١٦٣).

د باب په آخرى حديث كښې دى چې (ان رجلا ياكل كثيرا)

دا سړې څوک وو؟ : اكثر حضرات دا وائى چې دا جهجاه غفارى وو، حضرت امام احمد بن حنبل ﷫ نه روايت دې چې دا نضله بن عمرو وو. ابوعبيده په الغريب كښې ذكر كړى دى چې دا ابونضره غفارى وو او دابن اسحاق د قول مطابق دا ثمامه بن اثال وو. (٤)

دصحيح بخارى په څينو نسخو كښې دوه بابونه دى، زمونږ هندوستانى نسخه هم ددې مطابق ده. رومبى باب كښې دى چې (المؤمن ياكل فى معى واحد) ددې باب تحت د ابن عمر ﷠ مسكين والا واقعه كښې روايت ذكر كړې دې او دويم باب كښې دى چې (المؤمن ياكل فى معى واحد فيه ابوهريرة ﷠ عن النبى ﷺ) دواړو كښې تكرار دې.

شيخ الحديث مولانا محمد زكريا ﷫ فرمائى چې په دواړو ترجمو كښې اګر چې صورة تكرار دې ليكن د دواړو غرض جدا جدا دې، درومبى باب نه تقليل د طعام طرفته اشاره كول مقصود دى او د دويم باب نه د امام بخارى ﷫ مقصد په دې خبره باندې تنبيه كول

---

(١) فتح البارى :٩/٦٧٣ عمدة القارى:٢١/٤١، وشرح الطيبى على مشكوة المصابيح :٨/١٧٣)

(٢) عمدة القارى:٢١/٦٧٤، ارشاد السارى:١٢/٤٢).

(٣) فتح البارى :٩/٦٧٤).

(٤) فتح البارى :٩/٦٧١، عمدة القارى:٢١/ ٤١، ارشاد السارى:١٢/ ١٦٥-١٦٦).

دی چې خوراك نه دمؤمن غرض صرف رفع الجوع كول پكار دی، دكافر په شان مختلفو شهوتونه پوره كول دمؤمن مقصد نه دې پكار.[1] والله اعلم

۱۲- باب الأَكْلِ مُتَّكِئًا

[۵۰۸۳] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ عَنْ عَلِيِّ بْنِ الأَقْمَرِ سَمِعْتُ أَبَا جُحَيْفَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «لاَ آكُلُ مُتَّكِئًا».

[۵۰۸۴] حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ أَخْبَرَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ عَلِيِّ بْنِ الأَقْمَرِ عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ لِرَجُلٍ عِنْدَهُ «لاَ آكُلُ وَأَنَا مُتَّكِئٌ».

داباب دامام بخاری رحمه الله تكيه او اډانړه لګولو او دخوراك كول متعلق قائم كړې دې، او صراحتا هيڅ حكم ئې نه دې لګولې ځكه چې څه صريح نهی په دې سلسله كښې نه ده وارد شوې.

د اډانړه لګولو په وخت كښې د خوراك حكم: د اډانړه لګولو مختلف صورتونه بيان كړې شوې دی، يو خو مشهور معنى ده چې څه څيز تكيه، ديوال وغيره سره دې اډانړه اولګولې شی او ددې نه علاوه يو اړخ طرفته تيټيدل او خوراك كول، په لاس باندې اډانړه لګول او خوراك كول داشان صورتونه په اتكاء كښې داخل دی او د اډانړه لګولو په وخت كښې خوراك كولو كښې د علماء كرامو اختلاف دې.

امام مالك رحمه الله امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله اود جمهورو په نزد اډانړه لګول او خوراك كول مكروه دی.[2]

ليكن د صحابه كرام رضي الله عنهم او تابعينو يو ډلې نه د «اكل متكئا» جوازهم منقول دې، نو ابن ابى شيبه د ابن عباس رضي الله عنه، خالد بن وليد رضي الله عنه، عبيده سلمانى رحمه الله، محمد بن سيرين رحمه الله، عطاء بن يسار رحمه الله او د امام زهرى رحمه الله نه مطلقا جواز نقل دې.

د حضرت حنيفه ميلان هم دې طرفته دې، نو علامه شامى رحمه الله ليكن دی چې «لاباس بالاكل متكئا».[3]

دې حضراتو خو غالبا حديث باب لره يا خو د نبى كريم ﷺ په خصوصيت باندې محمول كړې دی او يا بيا په افضيلت باندې محمول كړې دې.

شوافع كښې د ابوالعاص بن القاص رائې ده چې دا د نبى كريم ﷺ خصائصو نه دې.[4]

ليكن ظاهر دادی چې دې لره بغير د څۀ دليل نه د نبى كريم ﷺ خصوصيت نه شی ګرزولې، البته بلا عذر اډانړه لګول او خوراك كول خلاف اولى دی، او په دې كښې د هيچا اختلاف

---

[1]) تعليقات لام الدارى:۳۹٤/۹

[2]) عمدة القارى:۲۱/٤۳).

[3]) فتح البارى :۶۷۶/۹ عمدة القارى:٤٤/۲۱ ارشاد السارى:۱۶۷/۱۲).

[4]) عمدة القارى:٤۳/۲۱ فتح البارى :۶۷۶/۹).

نشته دي،[1] علامه عيني رحمه الله د طبراني په حوالې سره د ابو لدرداء نه روايت نقل کړې دې چې نبي کريم ﷺ اوفرمائيل چې «لاتدخل متكئا» علامه عيني فرمائي چې ددې حديث پاك راوي ثقه دي.[2]

دضرورت په وخت کښې اډانړه لګول او خوراك کول بلا کراهت بالاتفاق جائز دی.

د خوراک دپاره د ناستې مستحب صورتونه: د خوراك دپاره ناسته کښې مستحب صورت يو خو دا دې چې سړی په دواړو پښو داشن کيني چې سرين په زمکه باندې اونه لږې، لکه څنګه چې زمونږ په مدارسو کښې زمونږ طلبه کرام کيني، نو د انس رضي الله عنه په روايت کښې دی چې نبی کريم ﷺ به د خوراك په وخت داشان کول.[3]

دويم صورت دادې چې ښئ پښه اودروی او ګسه باندې کيني، لکه څنګه چې په درسګاه کښې عموما طلبه کيني، هم په هغه حالت کښې.[4]

دې نه علاوه په څنګونو باندې کيناستل او متربعا کيناستل بلاکراهت جائزدی. ځکه چې په دې کښې د کراهت هيڅ علت نشته دې، بلکه په څنګونو داشان کيناستل چې ښی لاس په ځيټه باندې وی او خوراك کښې تيټيږی نو اولی دی، خوراك دې کم او کړې شی، او په دې کښې د روټۍ احترام هم زيات وی، «كما سمعت عن شيخ الاسلام والمسلمين سيدنا ومولانا حسين احمد مدني رحمه الله»

حديث باب کښې د نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې څه اډانړه شوی حالت کښې خوراك نه کوم. ځينې روايتونو کښې دی چې جبرائيل عليه السلام نبی کريم ﷺ اوکتلو چې اډانړه ئې لګولې وه او خوراك ئې کولو، نو نبی کريم ﷺ ئې منع کړو، دې نه پس نبی کريم ﷺ متکئا خوراك کول پريښودل.[5]

قوله: عَلِي بْنِ الأَقْمَرِ: دلته د باب د دوؤ حديثونو په سند کښې «علی بن الاقمر» دې، صحيح بخاری کښې ددوئ صرف يو حديث دې؟[6]

ابن سعد د کوفې والو په طبقه ثالثه کښې ددوئ ذکر کړې دې[7] يحيى بن معين رحمه الله، ابو

---

[1] عمدة القاري:٢١/٤٤، الابواب والترجيم:٨٧/٢).

[2] عمدة القاري:٢١/٤٤).

[3] اوګورئی سنن ابوداؤد ، کتاب الاطعمة باب ماجاء فی الاكل متكئا:٣٤٨/٣ (رقم الحديث :٣٧٧١).

[4] قال القسطلانی فی ارشاد الساری: ١٦٧/١٢، و اذا ثبت انه مكروه او خلاف الاولی فليكن الاكل جاثيا علی ركبتيه وظهور قدميه او ينصب الرجل اليمنی ويجلس علی اليسری، اوګورئی تحفة الاحوذی ٥٥٨/٥ ، عمدة القاري:٢١/٤٤ فتح الباري :٦٧٦/٩)

[5] فتح الباري :٦٧٦/٩ ارشاد الساري:١٢/ ١٦٧).

[6] عمدة القاري:٢١/٤٣).

[7] طبقات ابن سعد:٣١١/٦).

حاتم رحمه الله، عجلى رحمه الله، نسائى رحمه الله او دار قطنى رحمه الله دوئ په ثقه كښې كرزولى دى. [1]
ابن حبان رحمه الله په كتاب الثقات كښې دوئ ذكر كړى دى. [2]

قوله: سَمِعْتُ أَبَا جُحَيْفَةَ: داحديث پاك على بن الاقمر نيغ په نيغه دابو جحيفه نه آورېدلى دې، په جمله كښې تصريح ده او دابو جحيفه ځوئې عون په واسطه هم آورېدلى دى لكه څنګه چې سفيان روايت كړې دې، دې ته د اصول حديث په اصطلاح كښې «مزيد فى متصل الاسانيد» وائى. [3]

۱۳- باب الشِّوَاءِ. (۱۴)

وَقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى (أَنْ جَاءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ) أَىْ مَشْوِىٍّ.

[٥٠٨٥] حَدَّثَنَا عَلِىُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِىِّ عَنْ أَبِى أُمَامَةَ بْنِ سَهْلٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ قَالَ أُتِىَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - بِضَبٍّ مَشْوِىٍّ، فَأَهْوَى إِلَيْهِ لِيَأْكُلَ فَقِيلَ لَهُ إِنَّهُ ضَبٌّ، فَأَمْسَكَ يَدَهُ، فَقَالَ خَالِدٌ أَحَرَامٌ هُوَ قَالَ «لاَ، وَلَكِنَّهُ لاَ يَكُونُ بِأَرْضِ قَوْمِى، فَأَجِدُنِى أَعَافُهُ». فَأَكَلَ خَالِدٌ وَرَسُولُ اللّٰهِ -صلى الله عليه وسلم- يَنْظُرُ. قَالَ مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِضَبٍّ مَحْنُوذٍ. [ر: ٥٠٧٦]

ددې باب نه د امام بخارى رحمه الله مقصد دادې چې روته شوې غوښه خوړل جائز دى، ددې لاندې ئې ضب ولا روايت نقل كړې دې، ضب خو نبى كريم ﷺ د ناخوښه په وجه او نه خوړله. خوددې په مشوى او روتولو باندې ئې اعتراض نه دې كړې او په دې ئې نكير نه دې كړې، ددې نه معلوم شو چې په روته شوې غوښه خوړلو كښې څه باك او خبره نشته دې، [4]
ترجمة الباب كښې ذكرشوى آيت مبارك كښې د «حنيذ» معنى مشوئ او ورته شوې غوښه ده.

۱۴- باب الْخَزِيرَةِ.

وَقَالَ النَّضْرُ الْخَزِيرَةُ مِنَ النُّخَالَةِ، وَالْحَرِيرَةُ مِنَ اللَّبَنِ. ۳/۷

[٥٠٨٦] حَدَّثَنِى يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِى مَحْمُودُ بْنُ الرَّبِيعِ الأَنْصَارِىُّ أَنَّ عِتْبَانَ بْنَ مَالِكٍ - وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِىِّ - صلى الله عليه وسلم - مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنَ الأَنْصَارِ - أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم

---

[1] اوګورئى الجرح والتعديل :۶/رقم الترجمة : ۹۵۴، والمعرفة والتاريخ:۶۵۱/۲ وتهذيب الكمال: ۳٤٤/۲۰، وتهذيب التهذيب:۲۸۳/۷، ۲۸٤).
[2] كتاب الثقات لابن حبان: ۱۶۲/۵).
[3] فتح البارى :۶۷۵/۹).
[4] فتح البارى :۹/ ۶۷۷)

فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أَنْكَرْتُ بَصَرِي وَأَنَا أُصَلِّي لِقَوْمِي، فَإِذَا كَانَتِ الأَمْطَارُ سَالَ الْوَادِي الَّذِي بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ، لَمْ أَسْتَطِعْ أَنْ آتِيَ مَسْجِدَهُمْ فَأُصَلِّيَ لَهُمْ، فَوَدِدْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَّكَ تَأْتِي فَتُصَلِّي فِي بَيْتِي، فَأَتَّخِذُهُ مُصَلًّى. فَقَالَ «سَأَفْعَلُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ». قَالَ عِتْبَانُ فَغَدَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَأَبُو بَكْرٍ حِينَ ارْتَفَعَ النَّهَارُ، فَاسْتَأْذَنَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فَأَذِنْتُ لَهُ فَلَمْ يَجْلِسْ حَتَّى دَخَلَ الْبَيْتَ، ثُمَّ قَالَ لِي «أَيْنَ تُحِبُّ أَنْ أُصَلِّيَ مِنْ بَيْتِكَ». فَأَشَرْتُ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ الْبَيْتِ فَقَامَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فَكَبَّرَ، فَصَفَفْنَا، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ وَحَبَسْنَاهُ عَلَى خَزِيرٍ صَنَعْنَاهُ، فَثَابَ فِي الْبَيْتِ رِجَالٌ مِنْ أَهْلِ الدَّارِ ذَوُو عَدَدٍ فَاجْتَمَعُوا، فَقَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ أَيْنَ مَالِكُ بْنُ الدُّخْشُنِ. فَقَالَ بَعْضُهُمْ ذَلِكَ مُنَافِقٌ لاَ يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ. قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «لاَ تَقُلْ، أَلاَ تَرَاهُ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ. يُرِيدُ بِذَلِكَ وَجْهَ اللَّهِ». قَالَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ قُلْنَا فَإِنَّا نَرَى وَجْهَهُ وَنَصِيحَتَهُ إِلَى الْمُنَافِقِينَ. فَقَالَ «فَإِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَى النَّارِ مَنْ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ. يَبْتَغِي بِذَلِكَ وَجْهَ اللَّهِ». قَالَ ابْنُ شِهَابٍ ثُمَّ سَأَلْتُ الْحُصَيْنَ بْنَ مُحَمَّدٍ الأَنْصَارِيَّ أَحَدَ بَنِي سَالِمٍ وَكَانَ مِنْ سَرَاتِهِمْ عَنْ حَدِيثِ مَحْمُودٍ فَصَدَّقَهُ.[ر: ۴۱۴]

نضر بن شميل فرمائی چې خزيره د معدې نه او حريره د پيئو نه جوړيږی.
ابن فارس فرمائی چې خزيره اوړه او غوښه يو ځائې کولې شی او جوړولې شی. [۱]
جوهری رحمه الله اوفرمائيل چې د خزيره جوړولو ترکيب دادې چې د غوښې وړې وړې ټکړې زيات مقدار کښې اچولې شی، اوښۀ پخولو نه پس په دې کښې اوړۀ اچولې شی. [۲]
‹نخالة› داسې اوړو ته وائی چې چاڼ شوی نه وی، امام بخاری رحمه الله فرمائی چې غنمو اوړو ته نخالة وائی، ددې تائيد يو بل قول سره کيږی چې په هغې کښې ‹جشيشة› وارد شوی دی. او اهل لغتو ليکلی دی چې ‹جشيشة› دادې چې غنم ساده غټ واخستې شی، او بيا په دې کښې چربی وغيره واچولې شی، او دې نه حريره جوړه کړې شی. [۳] والله اعلم.
حديث پاك کښې کتاب الصلوة کښې تير شوی دی چې په دې واقعه کښې ‹وحسبناه على خزيرة صنعناه› مناسبت سره امام دلته ذکر کړې دې

۱۵- بابُ الأَقِطِ.

وَقَالَ حُمَيْدٌ سَمِعْتُ أَنَسًا بَنَى النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم بِصَفِيَّةَ، فَأَلْقَى التَّمْرَ وَالأَقِطَ وَالسَّمْنَ.

---

[۱] فتح البارى :۹/ ۶۷۸عمدة القارى:۴۵/۲۱).
[۲] فتح البارى :۹/ ۶۷۸عمدة القارى:۴۵/۲۱).
[۳] فتح البارى :۹/ ۶۷۸عمدة القارى:۴۵/۲۱).

[٥٠٨٧] وَقَالَ عَمْرُو بْنُ أَبِي عَمْرٍو عَنْ أَنَسٍ صَنَعَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- حَيْسًا.
حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ سَعِيدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- قَالَ أَهْدَتْ خَالَتِي إِلَى النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- ضِبَابًا وَأَقِطًا وَلَبَنًا، فَوُضِعَ الضَّبُّ عَلَى مَائِدَتِهِ، فَلَوْ كَانَ حَرَامًا لَمْ يُوضَعْ وَشَرِبَ اللَّبَنَ، وَأَكَلَ الأَقِطَ [ر: ٢٤٣٦]

(اقط) د همزه فتحه او د قاف كسره سره، پنيرو ته وائى، (حيس) كهجورو او پنيرو اوغوښه چې گډوډ شوى وى او دې نه يو قسم حلوه جوړه شوې دې، دې ته (حيس) وائى.

١٦- باب السِّلْقِ وَالشَّعِيرِ.

[٥٠٨٨] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ إِنْ كُنَّا لَنَفْرَحُ بِيَوْمِ الْجُمُعَةِ، كَانَتْ لَنَا عَجُوزٌ تَأْخُذُ أُصُولَ السِّلْقِ، فَتَجْعَلُهُ فِي قِدْرٍ لَهَا، فَتَجْعَلُ فِيهِ حَبَّاتٍ مِنْ شَعِيرٍ، إِذَا صَلَّيْنَا زُرْنَاهَا فَقَرَّبَتْهُ إِلَيْنَا، وَكُنَّا نَفْرَحُ بِيَوْمِ الْجُمُعَةِ مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ، وَمَا كُنَّا نَتَغَدَّى وَلاَ نَقِيلُ إِلاَّ بَعْدَ الْجُمُعَةِ، وَاللَّهِ مَا فِيهِ شَحْمٌ وَلاَ وَدَكٌ. [ر: ٨٩٦]

(سلق) چقندر او شعير جوار، اوربشو ته وائى، سهل بن سعد فرمائى چې د جمعې په ورځ به مونږ ډير خوشحاله وو، ځکه چې زمونږ يو مشرې خور به يو چقندر واخستلو او هغه به ئې يو انډئى كښې واچولو او په دې كښې به ئې د اوربشو څو دانې واچولې، مونږ چې به كله د مونځ نه فارغ شو نو دهغې زيارت دپاره به تلو، هغې به د چقندر او اوربشو هغه مركب خوراك مونږته پيش كړو، په دې كښې به نه غوښه اونه به په كښې غوړى وو، (ودك) او (دسم) يو معنى ده ترى او غوړى، ددې نه اندازه اولګوئى چې دحضرات صحابه كرامو ﷡ ژوند څومره ساده وو.

١٧- باب النَّهْسِ وَانْتِشَالِ اللَّحْمِ.

[٥٠٨٩] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- قَالَ تَعَرَّقَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَتِفًا، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى، وَلَمْ يَتَوَضَّأْ
وَعَنْ أَيُّوبَ وَعَاصِمٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ انْتَشَلَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- عَرْقًا مِنْ قِدْرٍ فَأَكَلَ، ثُمَّ صَلَّى، وَلَمْ يَتَوَضَّأْ [ر: ٢٠٤]

(نهش) دنون په فتحه او د هاء په سكون سره، غوښه په غاښونو سره چيچلو ته وائى. او د (انتشال اللحم) مطلب دادې چې د کټوئى نه غوښهٔ راؤباسى او او دې خوړلې شى، اكثر دا لفظ په هغه وخت كښې استعماليږى چې كله غوښه لا پوره پخ شوې نه وى، اوهانډئى نه

راؤويستلي شي داسې غوښې ته (تشيل) وائي. (١)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چې امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې ددې حديث ضعف طرفته اشاره کړې ده، چې په دې کښې د (قطع اللحم بالسكين) چاقو وغيره سره د پريکولو، ممانعت وارد شوې دې. (٢)
ليکن د حافظ ابن حجر رحمه الله په دې خبره کښې وړُن نشته دې، ددې حديث پاك تضعيف طرفته اشاره په راتلونکی باب (باب قطع اللحم بالسكين) سره اشاره کړې ده،او هلته هغه اشاره په پوهه کښې رازی، شيخ الحديث مولنا محمدٌ زکريا رحمه الله فرمائي چې ددې باب نه د امام بخاری رحمه الله د امام ترمذی يو حديث پاك طرفته إشاره کول دی او غوښه په غاښونو سره د خوړلو استحباب بيانول دی، د ترمذی په روايت کښې دی چې (انهشوا اللحم فانه اهنا وامرا) (٣)

قوله: عَنْ مُحَمَّدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه: دلته ړومبې حديث پاك محمد بن سيرين رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنه نه نقل کړې دې. د محمد بن سيرين رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنه نه سماع ثابت نه ده، بلکه د شعبه وينا ده چې (احاديث محمد بن سيرين عن عبدالله بن عباس انما سمعها عكرمة) يعنی په مينځ کښې د عکرمة واسطه ده، ددې وجې دا سند منقطع دی، دمحمد بن سيرين عن ابن عباس صرف د ايو حديث پاك په صحيح بخاری کښې روايت شوې دې.
امام بخاری رحمه الله په دې وجه په دويم روايت کښې د ايوب عن عکرمة عن ابن عباس رضي الله عنه طريق سره نقل کړې دې. چې متصل دې.(٤) د باب ړومبی روايت کښې د (تعرق) لفظ راغلې دې، چې دهغې معنی هډوکی نه غوښه په غاښونو سره اخوا کول او خوړلو ته وائی، په دويم روايت کښې د(عرق) لفظ راغلې دې، د عين په فتحه سره او د راء په سکون سره دا غوښې والا هډوکی ته وائی. (٥)

١٨- باب تَعَرُّقِ الْعَضُدِ.

[٥٠٩٠] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ حَدَّثَنَا أَبُو حَازِمٍ الْمَدَنِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم- نَحْوَ مَكَّةَ.

[٥٠٩١] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ

---

(١) فتح الباری :٩/ ٦٨١عمدة القاری:٤٧/٢١).
(٢) فتح الباری :٦٨١/٩).
(٣) الابواب والتراجم:٨٨/٢).
(٤) فتح الباری :٩/ ٦٨١عمدة القاری:٤٧/٢١).
(٥) ارشاد الساری:١٧٢/١٢).

بْنِ أَبِي قَتَادَةَ السَّلَمِي عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ قَالَ كُنْتُ يَوْمًا جَالِسًا مَعَ رِجَالٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- فِي مَنْزِلٍ فِي طَرِيقِ مَكَّةَ، وَرَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- نَازِلٌ أَمَامَنَا، وَالْقَوْمُ مُحْرِمُونَ وَأَنَا غَيْرُ مُحْرِمٍ، فَأَبْصَرُوا حِمَارًا وَحْشِيًّا وَأَنَا مَشْغُولٌ أَخْصِفُ نَعْلِي، فَلَمْ يُؤْذِنُونِي لَهُ، وَأَحَبُّوا لَوْ أَنِّي أَبْصَرْتُهُ، فَالْتَفَتُّ فَأَبْصَرْتُهُ فَقُمْتُ إِلَى الْفَرَسِ فَأَسْرَجْتُهُ. ثُمَّ رَكِبْتُ وَنَسِيتُ السَّوْطَ وَالرُّمْحَ فَقُلْتُ لَهُمْ نَاوِلُونِي السَّوْطَ وَالرُّمْحَ. فَقَالُوا لاَ وَاللَّهِ لاَ نُعِينُكَ عَلَيْهِ بِشَيْءٍ. فَغَضِبْتُ فَنَزَلْتُ فَأَخَذْتُهُمَا، ثُمَّ رَكِبْتُ فَشَدَدْتُ عَلَى الْحِمَارِ فَعَقَرْتُهُ، ثُمَّ جِئْتُ بِهِ وَقَدْ مَاتَ فَوَقَعُوا فِيهِ يَأْكُلُونَهُ، ثُمَّ إِنَّهُمْ شَكُّوا فِي أَكْلِهِمْ إِيَّاهُ وَهُمْ حُرُمٌ، فَرُحْنَا وَخَبَأْتُ الْعَضُدَ مَعِي، فَأَدْرَكْنَا رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَسَأَلْنَاهُ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ «مَعَكُمْ مِنْهُ شَيْءٌ». فَنَاوَلْتُهُ الْعَضُدَ فَأَكَلَهَا حَتَّى تَعَرَّقَهَا، وَهُوَ مُحْرِمٌ. قَالَ ابْنُ جَعْفَرٍ وَحَدَّثَنِي زَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ مِثْلَهُ. [ر: ۱۷۲۵]

دې باب كښې د لاس غوښه په غاښونو د خوړلو ذكر امام بخارى رحمه الله كړې دې، په باب كښې ذكر شوى د قتاده والا روايت په كتاب الحج كښې تير شوې دې. (۱)

قوله: قَالَ مُحمد ابْنُ جَعْفَرٍ وَحَدَّثَنِي زَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ: محمد بن جعفر د امام بخارى رحمه الله شيخ دې، ددوئ دوه سندونه دى، يو (عن ابى حازم) والا چې د هغې شان امام بخارى ذكر كړې دې او دويم سند زيدبن اسلم نه دې، امام بخارى د (قال محمد بن جعفر) نه هم دا وئيلى دى، دادې تعليق اونه ګڼړلې شى، بلكه ما قبل سند باندې ددې عطف دې او متصل دې. (۲)

۱۹- باب: قَطْعِ اللَّحْمِ بِالسِّكِّينِ.

[۵۰۹۲] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِي قَالَ أَخْبَرَنِي جَعْفَرُ بْنُ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ أَنَّ أَبَاهُ عَمْرَو بْنَ أُمَيَّةَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ رَأَى النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- يَحْتَزُّ مِنْ كَتِفِ شَاةٍ فِي يَدِهِ، فَدُعِيَ إِلَى الصَّلاَةِ فَأَلْقَاهَا وَالسِّكِّينَ الَّتِي يَحْتَزُّ بِهَا، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى، وَلَمْ يَتَوَضَّأْ [ر: ۲۰۵]

د امام بخارى رحمه الله مقصد دادې چې كومې طريقې سره په غاښونو سره شوكولو غوښې خوړل جائز دى، دانسان په چاړه سره د غوښې پريكول او خوړل هم جائز دى.

سنن ابوداؤد كښې د عائشه صديقه رضي الله عنها نه روايت دې چې (قال رسول الله ﷺ لاتقطعوا اللحم بالسكين فانه من صنيع الاعاجم وانهشوا فانه اهنا وامرا) (۳)

امام ابو داؤد رحمه الله او امام بيهقى رحمه الله فرمائى چې دا روايت قوى نه دې، (۴) امام نسائى هم

---

(۱) فتح البارى: ۶۸۳/۹).

(۲) فتح البارى: ۶۸۳/۹ عمدة القارى: ۴۹/۲۱).

(۳) سنن ابى داؤد كتاب الاطعمة باب فى اكل اللحم: ۳۴۹/۳، رقم الحديث: ۳۷۷۸).

(۴) سنن ابى داؤد كتاب الاطعمة باب فى اكل اللحم: ۳۴۹/۳، رقم الحديث: ۳۷۷۸).

دابو معشر په مناکیرو کښې شمار کړې دې.[1] او علامه ابن الجوزي يو قدم وړاندې دې او دائی په موضوعاتو کښې ذکر کړې دې.[2] حسن بن محمد صغانی لاهوری هم دا په موضوعتو کښې نقل کړې دې.[3]
که دا روایت تسلیم کړې شی نو بیاهم جمع بین الروایات ممکن دې چې غوښه اګر چې ښه پخه شوی وی او دا په په چاړې سره نه دی پریکول پکار، دابوداؤد روایت په دې باندې محمول دې لیکن که چرته غوښه کچه وی یا سخته وی نو په دې صورت کښې چړې سره پریکولې شی.

چمچې (کانټې) سره خوراک کول : البته چړې او د پنجې والا چمچې (کانټې) سره خوراک جائز نه دې، ځکه چې دا د فساق او فجار اوانګریزانو طریقه ده. حدیث کښې خو په چړې او کاشوغې چمچې سره د غوښې د پریکولو ذکر خو شته دې لیکن د خوراك نشته دې، البته چمچې سره خوراك کول جائز دی، ځینې څیزونه داسې وی چې دهغې په لاس سره خوړل مشکل وی. او چمچې سره سهولت وی لکه پهینې (په غوړو کښې تلیدلې روټۍ چې دا په پئیو کښې اچوی او خوړلې شی) اودا په لاسونو سره نشی خوړلې.
په چړې او د پنجې والا کاشوغې کښې ددې قسم هیڅ ضرورت نشته دې، دا کافرانو فاجرانو يو خالصه طریقه او تهذیب دې او تشبیه بالکفار ممنوع ده.

۲۰- بَاب مَا عَابَ النَّبِيُّ ﷺ طَعَامًا

[۵۰۹۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ مَا عَابَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - طَعَامًا قَطُّ، إِنِ اشْتَهَاهُ أَكَلَهُ، وَإِنْ كَرِهَهُ تَرَكَهُ. [ر: ۳۳۷۰]

خوراك کښې عیب لټول د نبی کریم ﷺ عادت نه وو. نبی کریم ﷺ به که روټۍ خوښوه وه نو هغه به ئې خوړله که خوښهٔ به ئې نه وه نو هغه به ئې پریخوده.
د امام بخاری رحمه الله مقصد هم دادې چې خوراك کښې عیب راویستل درست نه دی، لکه دا فرمائی چې بدمزه اوکچا ده، سوزیدلې ده او مزیداره نده.

۲۱- بَاب النَّفْخِ فِي الشَّعِيرِ.[4]

[۵۰۹۴] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا أَبُو غَسَّانَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو حَازِمٍ أَنَّهُ سَأَلَ سَهْلاً هَلْ رَأَيْتُمْ فِي زَمَانِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- النَّقِيَّ قَالَ لاَ. فَقُلْتُ فَهَلْ كُنْتُمْ

---

[1] اوګورئی تنزیه الشریعة المرفوعة الفصل الثانی، رقم الحدیث :۲۴۸/۲/۵۷، واللالی المصنوعة:۲/۱۹۰).
[2] کتاب الموضوعات کتاب الاطعمة باب قطع اللحم باالسکین:۲/۳۰۳)
[3] کتاب الموضوعات للصغانی:۱۲).
[4] (۵۰۹٤) الحدیث ایضا اخرجه البخاری فی کتاب الاطعمة باب کان النبی ﷺ واصحابه یاکلون رقم الحدیث :۵۰۹۷).

تَنْخُلُونَ الشَّعِيرَ قَالَ لَا وَلَكِنْ كُنَّا نَنْفُخُهُ.[۵۰۹۷]

دې باب كښې د اوربشو د اوړو بيان دې چې دې له پوكې وركولې شي چې ددې پوستكي او بوس وغيره لرې شي. ابو حازم د سهل نه تپوس اوكړو چې آيا تاد نبى كريم ﷺ په زمانه كښې ميده كتلى وه ؟ هغوئ اووئيل چې نه، بيامأ تپوس اوكړو چې آيا د اوربشو اوړهٔ به مو چانړ كول ؟ هغوئ اوفرمائيل چې نه، ليكن مونږ بهٔ دې ته پوكې وركولو.

(نقى) د صفا اوړو ميدې ته وائى.. (تنخلون الشعير) تاسو به د اوربشو اوړ چانړ كول. (نخلت الدقيق اى اخرجت منه النخالة) د پوكې وركولو نه مراد دادې چې ميده كړې شى او بيا دې ته پوكې وركړې شى چې ددې نه بوس او پوستكى وغيره والوزى.

حديث باب كښې امام بخارى رحمه الله په ړومبى ځل ذكر كړې دې، صحاح سته كښې بل چا دا حديث پاك نه دې نقل كړى. (۱)

۲۲- بَاب مَا كَانَ النَّبِيُّ ﷺ وَأَصْحَابُهُ يَأْكُلُونَ.

[۵۰۹۵] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ عَبَّاسٍ الْجُرَيْرِيِّ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَسَمَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يَوْمًا بَيْنَ أَصْحَابِهِ تَمْرًا، فَأَعْطَى كُلَّ إِنْسَانٍ سَبْعَ تَمَرَاتٍ، فَأَعْطَانِي سَبْعَ تَمَرَاتٍ إِحْدَاهُنَّ حَشَفَةٌ، فَلَمْ يَكُنْ فِيهِنَّ تَمْرَةٌ أَعْجَبَ إِلَيَّ مِنْهَا، شَدَّتْ فِي مَضَاغِي. [۵۱۲۵، ۵۱۲۶]

[۵۰۹۶] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنْ قَيْسٍ عَنْ سَعْدٍ قَالَ رَأَيْتُنِي سَابِعَ سَبْعَةٍ مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - مَا لَنَا طَعَامٌ إِلَّا وَرَقُ الْحُبْلَةِ - أَوِ الْحَبَلَةِ - حَتَّى يَضَعَ أَحَدُنَا مَا تَضَعُ الشَّاةُ، ثُمَّ أَصْبَحَتْ بَنُو أَسَدٍ تُعَزِّرُنِي عَلَى الْإِسْلَامِ، خَسِرْتُ إِذًا وَضَلَّ سَعْيِي. [ر: ۳۵۲۲]

[۵۰۹۷] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ عَنْ أَبِي حَازِمٍ قَالَ سَأَلْتُ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ فَقُلْتُ هَلْ أَكَلَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - النَّقِيَّ فَقَالَ سَهْلٌ مَا رَأَى رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - النَّقِيَّ مِنْ حِينَ ابْتَعَثَهُ اللَّهُ حَتَّى قَبَضَهُ اللَّهُ. قَالَ فَقُلْتُ هَلْ كَانَتْ لَكُمْ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مَنَاخِلُ قَالَ مَا رَأَى رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مُنْخُلًا مِنْ حِينَ ابْتَعَثَهُ اللَّهُ حَتَّى قَبَضَهُ. قَالَ قُلْتُ كَيْفَ كُنْتُمْ تَأْكُلُونَ الشَّعِيرَ غَيْرَ مَنْخُولٍ قَالَ كُنَّا نَطْحَنُهُ وَنَنْفُخُهُ، فَيَطِيرُ مَا طَارَ وَمَا بَقِيَ ثَرَّيْنَاهُ فَأَكَلْنَاهُ. [ر: ۵۰۹۴]

[۵۰۹۸] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ سَعِيدٍ

(۱) قال العينى والحديث من افراده: (عمدة القارى :۲۱/۵۰)

الْمَقْبُرِي عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضي الله عنه- أَنَّهُ مَرَّ بِقَوْمٍ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ شَاةٌ مَصْلِيَّةٌ، فَدَعَوْهُ فَأَبَى أَنْ يَأْكُلَ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مِنَ الدُّنْيَا وَلَمْ يَشْبَعْ مِنَ الْخُبْزِ الشَّعِيرِ.

[٥٠٩٩] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي الأَسْوَدِ حَدَّثَنَا مُعَاذٌ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ يُونُسَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ مَا أَكَلَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى خِوَانٍ، وَلاَ فِي سُكُرُجَةٍ، وَلاَ خُبِزَ لَهُ مُرَقَّقٌ. قُلْتُ لِقَتَادَةَ عَلَى مَا يَأْكُلُونَ قَالَ عَلَى السُّفَرِ. [ر: ٥٠٧١]

[٥١٠٠] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ -رضي الله عنها- قَالَتْ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ -صلى الله عليه وسلم- مُنْذُ قَدِمَ الْمَدِينَةَ مِنْ طَعَامِ الْبُرِّ ثَلاَثَ لَيَالٍ تِبَاعًا، حَتَّى قُبِضَ. [٥١٠٧، ٥١٢٢، ٦٠٨٩، ٦٣٠٩]

نبی کریم ﷺ او حضرات صحابه کرام ﷺ بهٔ څه څه څیزونه خوړل، په دې باب کښې دهغې نه دځو څیزونو ذکر دې.

رومبی روایت کښې ابوهریره ﷺ فرمائی چې نبی کریم ﷺ یو ورځ صحابه کرامو ﷺ کښې کهجورې تقسیم کړې،هر یوته اووهٔ اووهٔ کهجورې ورکړې شوې،ماته هم اووهٔ کهجورې ملاؤ شوې، په دې کښې یو حشفه یعنی خرابه کهجوره وه، لیکن ماته په دې کهجورو کښې ددې نه زیاته ښه کهجوره خوښه نه شوه، ځکه باقی نورې کهجورې بهٔ په خوله کښې زیاتې نه پاتې کیدې.[1]اوددې په چوپلو ترډیره پورې ماددې نه خوندواخستلو.

قوله: (شدت): د باب نصر نه د واحد مؤنث صیغه ده په معنی د سختیدو.

قوله: (مضاغ): دمیم په فتحه او کسره سره اولوستلې شو، ددې اطلاق په هغه طعام باندې کیږی چې چوپلې کیږی، او مطلقا د چوپلو دپاره استعمالیږی. وائی چې (لقمة لینة المضاغ وشدیة المضاغ) [2]

علامه قسطلانی ﷫ فرمائی چې (یحتمل ان یکون المراد ما یمضغ به و هو الاسنان و ان یکون المراد المضغ نفسه) [3]یعنی دلته ددې حدیث پاك نه غاښونه هم مراد اخستې شی، چې ددې په ذریعه خوراك چوپلې کیږی او صرف چوپل هم مراد کیدې شی. مطلب دادې چې هغه ردی کهجورې ځما په چوپلو کښې یا ځما په غاښونو کښې سخته وه.

دباب دویم روایت په ابواب المناقب کښې تیر شوې دې. [4]

---

[1] (٥٠٩٥) الحدیث اخرجه البخاری ایضا فی باب الرطب بالفتاء رقم الحدیث :٥١٢٥، ٥١٢٦. واخرجه الترمذی فی الزهد واخرجه النسائی فی ابواب الاطعمة باب قسم الماکول اذا قل رقم الحدیث :٦٧٣١، ١٢٨/٤، واخرجه ابن ماجه فی الزهد باب معیشة اصحابالنبی ﷺ رقم:٤١٥٧).

[2] عمدة القاری:٥١/٢١)

[3] ارشاد الساری:١٧٦/١٢)

[4] فتح الباری :٩/ ٦٨٦).

سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه فرمائی چې څه په نبی کریم ﷺ باندې ایمان راوړونکو کښې اووم سړې اوم. (یعنی څه قدیم الاسلام یم) زمونږ خوراك به د ونو دپاڼو نه سوا بل څه نه وو. تر دې پورې چې د چیلو په شان پچې به مونږ کولې، اوس بنو اسد دا سلام باره کښې زما سرزنش کوی، څه خو بیا خائب وخاسر شوم او څما تولو سعی ضائع شوه، (که دهغوئ وینا مطابق ماته مونځ کول هم نه راځی حالانکه ما د اسلام په شروع کښې هر څه زده کړی وو).

کومو شپږو کسانو چې د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه وړاندې اسلام قبول کړې وو هغوئ کښې ① ابوبکر صدیق رضی الله عنه ② عثمان ذی النورین رضی الله عنه ③ علی رضی الله عنه ④ زید بن حارثه ⑤ زبیر رضی الله عنه او ⑥ عبدالرحمان بن عوف رضی الله عنه وو. (1)

اصل کښې بنو اسد عمر فاروق ته شکایت کړې وو چې سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه ته مونځ نه ورځی، نو په دې هغوئ رضی الله عنه دا ارشاد اوفرمائیلو. (2)

حافظ ابن حجر رحمه الله (حبلة) (د حاء او باء په ضمه سره هم په دې معنی کښې نقل کړې ده) (3)

او (حبلة) د باء او حاء دواړو په فتحه سره، انګورو ته وائی. بهر حال مطلب دا وو چې په هغه وخت کښې د تنګئ او عسرت وخت وو. د خوراك دپاره د عضا د ونې او دانګورو دپاڼو نه سوا بل څه نه وو. او دا به ئې خوراك وو او په دې باندې ئې ګزاره کوله.

قوله: تعزرني أي تودبني ثريناه: بتشديد الراء من ثريت السويق: اذا بللته بالماء: (4) یعنی د اوړو نه بوس الوزولو نه پس باقی به مو په اوبو کښې خوشته کړه او خوړلو به مو. (منخل) د میم په ضمه، د نون په سکون او د خاء په ضمه سره، چنړولو ته وائی، ددې جمع (مناخل) رازی.

قوله: شَاةٌ مَصْلِيَّةٌ: دباب څلورم حدیث کښې دا د مصلیة لفظ راغلې دې، (مصلیة) د میم په فتحه او د صاد په سکون، لام په کسره او دیاء په تشدید سره، د (مشویة) په معنی کښې رازی، د روته شوې چیلئ. (5)

قوله: فَدَعَوْهُ فَأَبَى: نبی کریم ﷺ ته خلقو د چیلئ د روتې شوې غوښې د عوت ورکړو، نبی کریم ﷺ دعوت قبول نه کړو، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې (لیس هذا من ترك اجابة الدعوة لانه فی الولیمة لا فی كل الطعام) (6)

---

1) ارشاد الساری:۱۲/۱۷۶).
2) و فی النهایة :۲۱/۳۳٤، الحبلة بالضم وسكون الباء ثمر السمر يشبه اللوبيا وقيل هو ثمر العضاء والحيلة بفتح والياء و ربما سكنت الاصل اوالقضب من شجر الاعناب).
3) فتح الباری :۹/۶۸۷).
4) عمدة القاری:۲۱/۵۲).
5) ارشاد الساری:۱۲/ ۱۷۸).
6) ارشاد الساری:۱۲/۱۷۸).

مطلب دادې چې په عامو حالاتو کښې ددعوت قبلولو نه انکار کولې شي، البته د وليمې دعوت قبلول دمسلم دحق په زمره کښې رازي، او دا قبلول پکار دي، مذکوره دعوت وليمه نه وه.

د باب آخري حديث پاك امام بخاري رحمه الله دلت په ږومبي ځل باندې ذکر کړو.(١) چې نبي کريم ﷺ وفات پورې دغنمو روټئ دريو ورځو پورې مسلسل نه ده خوړلې.

٢٣-باب التَّلْبِينَةِ

[٥١٠١] (٢) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهَا كَانَتْ إِذَا مَاتَ الْمَيِّتُ مِنْ أَهْلِهَا فَاجْتَمَعَ لِذَلِكَ النِّسَاءُ، ثُمَّ تَفَرَّقْنَ، إِلاَّ أَهْلَهَا وَخَاصَّتَهَا، أَمَرَتْ بِبُرْمَةٍ مِنْ تَلْبِينَةٍ فَطُبِخَتْ، ثُمَّ صُنِعَ ثَرِيدٌ فَصُبَّتِ التَّلْبِينَةُ عَلَيْهَا ثُمَّ قَالَتْ كُلْنَ مِنْهَا فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ «التَّلْبِينَةُ مُجِمَّةٌ لِفُؤَادِ الْمَرِيضِ، تَذْهَبُ بِبَعْضِ الْحُزْنِ». [٥٣٦٥، ٥٣٦٦]

(تلبينة) يو خاص قسم حلوه يا فالوده ده چې بغيرميدې ياچانړ شوى اوړو نه جوړيږي. ځينې وخت په دې کښې چيني يا شهد هم ګډولې شي، په رنګ کښې د پيئو په شان وى او ددې وجې دې ته تلبينة وائى.(٣)

عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائى چې کله به ددوئ خوك رشته دار مړ شو نو ښځې به جمع شوې، بيا بهٔ تولې خپلو خپلو کورونو ته تلې، مګر خاص خاص او نزدې ښځې به پاتې شوې او د تلبينه جوړولو حکم به ئې کولو او بيا به ثريد جوړ کړې او په دې باندې په تلبينه واچولې شوه، بيا به ئې فرمائيل چې دا خورئى ځکه چې ما د نبى کريم ﷺ نه آؤريدلى دى چې تلبينه د مريض د زړه د تسکين دې او غم لرې کوى.

قوله: (مجمة المريض): مريض ته راحت ورکولو والا، (مجمة) د ميم او جيم اوپه فتحه

---

(١) (٥١٠٠) الحديث اخرجه البخارى ايضا فى مَا كَانَ السَّلَفُ يَدَّخِرُونَ فِى بُيُوتِهِمْ وَأَسْفَارِهِمْ مِنَ الطَّعَامِ وَاللَّحْمِ وَغَيْرِهِ رقم الحديث : ٥١٠٧،وفى الباب القديد: رقم الحديث:٥١٢٣، وفى كتاب الرقاق، بَاب كَيْفَ كَانَ عَيْشُ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَأَصْحَابِهِ، وَتَخَلِّيهِمْ مِنَ الدُّنْيَا رقم الحديث :٦٠٨٩، و فى الدعوات :باب التوبة رقم الحديث :٦٣٠٩، واخرجه مسلم فى كتابَ الزهد والرقاق :رقم الحديث :٢٩٧٠، واخرجه النسائى فى كتاب الضحايا: ٢٠٨/٢، واخرجه ابن ماجه فى كتاب الاطعمة باب الخبز والبر:٢٣٩).

(٢) (الحديث اخرجه البخارى ايضا فى الاطعمة باب التلبينة للمريض، رقم الحديث :٥٣٢٥، واخرجه مسلم فى كتاب السلام باب التلبينة مجمة لفواد المريض رقم الحديث:٢٢١٦، واخرجه الترمذى فى كتاب الطب باب ماجاء ما يطعم المريض المريض رقم الحديث :٢٠٣٩، ٣٨٣/٤، واخرجه النسائى فى الوليمة باب التلينة: ١٦١/٤ رقم الحديث :٦٦٩٣)

(٣) و فى النهاية: ٢٢٩/٤، التلبينة والتلبين حساء يعمل من دقيق او نخالة و ربما جعل فيها عسل سميت بها تشبيها باللبن لبياضها ورقتها وهى تسمية بالمرة من التلبين مصدر لبن القوم اذا سقاهم اللبن).

سره او (مكان الاستراحة) د ميم ضمه او د جيم كسره سره صيغه د اسم فاعل هم كيدې شي.
راحت رسولو والا (١)

۲۴- باب الثَّرِيدِ.

[۵۱۰۲]. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ الْجَمَلِيِّ عَنْ مُرَّةَ الْهَمْدَانِيِّ عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «كَمَلَ مِنَ الرِّجَالِ كَثِيرٌ، وَلَمْ يَكْمُلْ مِنَ النِّسَاءِ إِلاَّ مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ وَآسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ، وَفَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ». [ر: ۳۲۳۰]

[۵۱۰۳]. حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِي طُوَالَةَ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «فَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ». [ر: ۳۵۵۹]

[۵۱۰۴]. حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُنِيرٍ سَمِعَ أَبَا حَاتِمٍ الأَشْهَلَ بْنَ حَاتِمٍ حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ أَنَسٍ عَنْ أَنَسٍ -رضى الله عنه- قَالَ دَخَلْتُ مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى غُلاَمٍ لَهُ خَيَّاطٍ، فَقَدَّمَ إِلَيْهِ قَصْعَةً فِيهَا ثَرِيدٌ - قَالَ - وَأَقْبَلَ عَلَى عَمَلِهِ - قَالَ - فَجَعَلَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ - قَالَ - فَجَعَلْتُ أَتَتَبَّعُهُ فَأَضَعُهُ بَيْنَ يَدَيْهِ - قَالَ - فَمَا زِلْتُ بَعْدُ أُحِبُّ الدُّبَّاءَ. [ر: ۱۹۸۶]

ثريد په خوروا كنبې روټۍ ماتولو ته وائى، عربو كنبې به دا ډيره خوښولې شوه، امام بخارى رحمه الله دا باب قائم كړو او د ثريد فضيلت طرفته ئې اشاره اوكړه. امام بخارى رحمه الله چې په باب كنبې كوم روايت ذكركړې دې، په هغې كنبې په هر يو كنبې دننه د ثريد فضيلت طرفته اشاره موجوده ده.

۲۵- باب شَاةٍ مَسْمُوطَةٍ وَالْكَتِفِ وَالْجَنْبِ.

[۵۱۰۵]. حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا هَمَّامُ بْنُ يَحْيَى عَنْ قَتَادَةَ قَالَ كُنَّا نَأْتِي أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ -رضى الله عنه- وَخَبَّازُهُ قَائِمٌ قَالَ كُلُوا فَمَا أَعْلَمُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- رَأَى رَغِيفًا مُرَقَّقًا حَتَّى لَحِقَ بِاللَّهِ، وَلاَ رَأَى شَاةً سَمِيطًا بِعَيْنِهِ قَطُّ.

[۵۱۰۶]. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ الضَّمْرِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَحْتَزُّ مِنْ كَتِفِ شَاةٍ، فَأَكَلَ مِنْهَا، فَدُعِيَ إِلَى الصَّلاَةِ، فَقَامَ فَطَرَحَ السِّكِّينَ فَصَلَّى، وَلَمْ يَتَوَضَّأْ. [ر: ۲۰۵]

---

(١) زاد المعاد: ۴/ ۱۲۰، فتح البارى: ۹/ ۶۸۷.

قوله: شَاةٍ مَسْمُوطَةٍ: ددې تعريف مخکښې تير شوې دې. (الْكَتِف) دلاس غوښه، دا د نبی کريم ﷺ ډيره خوښه وه او (جَنْب) د اړخ د پښتئ غوښې ته وائی،
د باب رومبی حديث مخکښې تير شوې دې.
دويم حديث پاك د عمر بن ضمری نه مروی دې، فرمائی چې ما نبی کريم ﷺ اوليدو چې چاړه ئې د (کتف شاة) غوښه پريکوله، او خوړله ئې چې په دې کښې نبی کريم ﷺ دمونځ دپاره اوبللې شو نبی کريم ﷺ چاړه غوزاره کړه، اودريدل او مونځ ئې ادا کړو اودس ئې او نه کړو.

ددې نه معلومه شوه چې (مامست النار) ناقض د اودس نه دې.

امام بخاری رحمه الله هم پدې سند اومتن سره په (کتاب الرقاق) کښې د باب د رومبی حديث تخريج کړې دې. [1]

٢٧- بَابُ مَا كَانَ السَّلَفُ يَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِهِمْ وَأَسْفَارِهِمْ مِنَ الطَّعَامِ وَاللَّحْمِ وَغَيْرِهِ. (٢٧)

وَقَالَتْ عَائِشَةُ وَأَسْمَاءُ صَنَعْنَا لِلنَّبِيِّ ﷺ وَأَبِي بَكْرٍ سُفْرَةً

[٥١٠٧] حَدَّثَنَا خَلَّادُ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَابِسٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ أَنَهَى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ تُؤْكَلَ لُحُومُ الأَضَاحِيِّ فَوْقَ ثَلاَثٍ قَالَتْ مَا فَعَلَهُ إِلاَّ فِي عَامٍ جَاعَ النَّاسُ فِيهِ، فَأَرَادَ أَنْ يُطْعِمَ الْغَنِيُّ الْفَقِيرَ، وَإِنْ كُنَّا لَنَرْفَعُ الْكُرَاعَ فَنَأْكُلُهُ بَعْدَ خَمْسَ عَشْرَةَ. قِيلَ مَا اضْطَرَّكُمْ إِلَيْهِ فَضَحِكَتْ قَالَتْ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ - صلى الله عليه وسلم - مِنْ خُبْزِ بُرٍّ مَأْدُومٍ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ حَتَّى لَحِقَ بِاللَّهِ. وَقَالَ ابْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَابِسٍ بِهَذَا. [ر: ٥١٠٠]

[٥١٠٨] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عَطَاءٍ عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا نَتَزَوَّدُ لُحُومَ الْهَدْيِ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - إِلَى الْمَدِينَةِ. تَابَعَهُ مُحَمَّدٌ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ. وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ قُلْتُ لِعَطَاءٍ أَقَالَ حَتَّى جِئْنَا الْمَدِينَةَ قَالَ لاَ. [ر: ١٦٣٢]

پدې باب کښې امام بخاری رحمه الله اوفرمائيل چې د نبی کريم ﷺ او حضرات صحابه کرامو رضي الله عنهم په زمانه کښې ذخيره جوړولې شوه او يو څيز به کيخودلې شو.
روايات باب کښې د غوښه ذخيره کولو ذکر دې. په ترجمة الباب کښې د طعام او لحم دواړو ذکر دې. امام بخاری رحمه الله طعام لره لحم سره لاحق کړې دې او روايات سره ددې اثبات کړې دې. ځکه چې لحم هم په هر حال کښې مطعومات کښې شامل دی.

---

[1] اوګورئ صحيح البخاری كتاب الرقاق باب كيف كان عيش النبی ﷺ و اصحابه رقم الحديث :(٦٤٥٧)

امام بخاری رحمه الله د ټولو نه وړاندې عائشه صديقه رضي الله عنها او اسماء رضي الله عنها روايت دلته تعليقا ذکر کړې دې، په (باب الهجرة الى المدينة) کښې دا روايت تفصيل سره موصولا ذکر شوې دې.[1]
هغوئ دواړه فرمائی چې د نبی کریم ﷺ اود ابوبکر صدیق رضي الله عنه دپاره (سفره) توشه دان جوړ کړې وو.
د باب ړومبې روايت د عابس بن ربيعه نه مروی دې، هغه فرمائی چې ما د عائشه صديقه رضي الله عنها نه تپوس اوکړو چې آيا نبی کریم ﷺ د قربانئ غوښه د دريو ورځو نه زياته ايښودلو نه منع فرمائيلې ده، هغوئ اوفرمائيل چې نبی کریم ﷺ صرف په هغه کال منع اوفرمائيله چې په کوم کال خلق په اولړه کښې اخته وو، نو نبی کریم ﷺ اوغوښتل چې مالدار دې فقيرانو باندې اوخوروی. مونږ به دې پښكران ايښودل او دې نه پس به مو پنځلس ورځې پس خوړل، چا تپوس اوکړو چې تاسو ته ددې څه ضرورت ولې راپيښ شوې وو. هغه په خندا شو او وې فرمائيل چې نبی کریم ﷺ هيڅ کله هم سالن سره تر دريو ورځو پورې د غنمو روټئ نه وه خوړلې، تر دې پورې چې نبی کریم ﷺ وفات شوت.
دا روايت دې تفصيل سره په ړومبی ځل امام بخاری رحمه الله دلته ذکر کړې دې.[2]

قوله: وَقَالَ ابْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَابِسٍ بِهَذَا: دا تعليق دې، په دې کښې سفيان ثوری رحمه الله د تحديث تصريح کړې ده، او (حدثنا عبدالرحمان) ئې وئيلی دی چې کله د خلاد بن يحيى روايت باب کښې سفيان بن عيينه (عن عبدالرحمٰن) اوئيل. طبرانی دا موصولا نقل کړې دې.[3]
د باب دويم روايت د جابر رضي الله عنه نه مروی دې، هغه فرمائی چې مونږ د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې د قربانئ غوښه مدينې ته راوړې وه.

قوله: تَابَعَهُ مُحَمَّدٌ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ: يعنی د امام بخاری رحمه الله د شيخ عبدالله بن محمد متابعت محمد بن سلام کړې دې، هغوئ هم دا روايت دسفيان بن عيينه نه نقل کړې دې، متابعت لره محمد بن يحيى بن ابی عمر پخپل سند کښې موصولا نقل کړېدې.[4]

قوله: وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ قُلْتُ لِعَطَاءٍ أَقَالَ حَتَّى جِئْنَا الْمَدِينَةَ قَالَ لَا: ابن جريج چې ددۀ نوم عبدالملك بن عبدالعزيز دې د عطاء نه تپوس اوکړو چې جابر رضي الله عنه دخپل قول

---

[1]) فتح الباری :۹/ ۲۹۰ فتح الباری :۹/ ۱۸۲).
[2]) (۵۱۰۷) اخرجه البخاری إيضا فی الايمان والنذور، اخرجه مسلم فی كتاب الاضاحي الخ: ۳/ ۱۵۶۲، رقم الحديث :۱۹۷۲، واخرجه الترمذی فی الاضاحی باب ماجاء فی الرخصة فی اكلها رقم الحديث :۱۵۱۱، ۴/ ۹۵، واخرجه النسائی فی الاضاحي : باب النهی عن الاكل من لحوم الاضاحی :۲/ ۲۰۶، واخرجه ابن ماجه فی كتاب الاطعمة:۲/ ۱۰۵۵، باب ادخار لحوم الاضاحی رقم الحديث : ۳۱۶۰).
[3]) فتح الباری :۹/ ۶۹۰ عمدة القاری:۲۱/ ۱۸۳).
[4]) فتح الباری :۹/ ۶۹۰).

(كنا نتزود لحوم الهدى) نه پس (حتى جئنا الى المدينة) وئيلى وو. عطاء اووئيل نه مقصد دادې چې جابر رضی الله عنه (حتى جئنا المدينة) الفاظ نه دى وئيلى، بلكه (فتزود لحوم الهدى الى المدينة) الفاظ ئې وئيلى دى، مفهوم ددې هم هغه دې.

هم دې سند سره امام مسلم رحمه الله هم دا روايت نقل كړې دې او په هغې كښې د (لا) په ځائې د (نعم) الفاظ دى چې جابر رضی الله عنه دا الفاظ وئيلى وو. دواړو روايتونو كښې تعارض دې اوظاهر دى چې د امام بخارى رحمه الله او امام مسلم روايتونو كښې دې داسې تعارض راشى نو ترجيح به د بخارى روايت ته وركولې شى، ددې نه علاوه د مسند احمد او نسائى په روايتونو كښې هم د (لا) الفاظ دى. (فتح البارى: ۹/۶۹۰)

۲۸- بَاب الْحَيْسِ

[۵۱۰۹] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو مَوْلَى الْمُطَّلِبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَنْطَبٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - لأَبِي طَلْحَةَ «الْتَمِسْ غُلاَمًا مِنْ غِلْمَانِكُمْ يَخْدُمُنِي». فَخَرَجَ بِي أَبُو طَلْحَةَ، يُرْدِفُنِي وَرَاءَهُ، فَكُنْتُ أَخْدُمُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - كُلَّمَا نَزَلَ، فَكُنْتُ أَسْمَعُهُ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ، وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ، وَالْبُخْلِ وَالْجُبْنِ وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ». فَلَمْ أَزَلْ أَخْدُمُهُ حَتَّى أَقْبَلْنَا مِنْ خَيْبَرَ، وَأَقْبَلَ بِصَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَىٍّ قَدْ حَازَهَا، فَكُنْتُ أَرَاهُ يُحَوِّي وَرَاءَهُ بِعَبَاءَةٍ أَوْ بِكِسَاءٍ، ثُمَّ يُرْدِفُهَا وَرَاءَهُ، حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالصَّهْبَاءِ صَنَعَ حَيْسًا فِي نِطَعٍ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَدَعَوْتُ رِجَالاً فَأَكَلُوا، وَكَانَ ذَلِكَ بِنَاءَهُ بِهَا، ثُمَّ أَقْبَلَ حَتَّى إِذَا بَدَا لَهُ أُحُدٌ قَالَ «هَذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ». فَلَمَّا أَشْرَفَ عَلَى الْمَدِينَةِ قَالَ «اللَّهُمَّ إِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ جَبَلَيْهَا مِثْلَ مَا حَرَّمَ بِهِ إِبْرَاهِيمُ مَكَّةَ، اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِي مُدِّهِمْ وَصَاعِهِمْ». [ر: ۲۷۳۲]

د حيس متعلق تاسو ته معلوم دى چې دا پنير، كهجورې او غوړى يو ځائې كړې شى او يو خاص حلوه جوړيږى، مشهور شعر تاسو وئيلې دې چې:

و اذا تكون كريهة ادعى لها — واذا يحاس الحيس يدعى جندب

د باب لاندې چې كوم روايت ذكر شوې دې هغه په كتاب المغازى كښې تير شوې دې، او هلته په دې باندې بحث شوې دې.[۱]

۲۸- بَاب الأَكْلِ فِي إِنَاءٍ مُفَضَّضٍ.

[۵۱۱۰]. حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سَيْفُ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ مُجَاهِدًا يَقُولُ حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي لَيْلَى أَنَّهُمْ كَانُوا عِنْدَ حُذَيْفَةَ فَاسْتَسْقَى فَسَقَاهُ مَجُوسِيٌّ. فَلَمَّا وَضَعَ

[۱]) اوګورئى : كشف البارى، كتاب المغازى: ۲۵۲، ۲۵۳).

الْقَدَحَ فِي يَدِهِ رَمَاهُ بِهِ وَقَالَ لَوْلاَ أَنِّي نَهَيْتُهُ غَيْرَ مَرَّةٍ وَلاَ مَرَّتَيْنِ. كَأَنَّهُ يَقُولُ لَمْ أَفْعَلْ هَذَا، وَلَكِنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ «لاَ تَلْبَسُوا الْحَرِيرَ وَلاَ الدِّيبَاجَ وَلاَ تَشْرَبُوا فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، وَلاَ تَأْكُلُوا فِي صِحَافِهَا، فَإِنَّهَا لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَلَنَا فِي الآخِرَةِ».
[۵۴۹۹، ۵۴۹۳، ۵۳۱۰، ۵۳۰۹]

داحديث پاك په ړومبي ځل امام بخاري رحمه الله ذكر فرمائيلې دې، عبدالرحمان بن ابي ليلى فرمائي چې مونږ خلق حذيفه رضي الله عنه سره ناست وو. هغوئ اوبه اوغوښتلې يومجوسي ورته اوبه راوړې. كله چې پياله ئې ددوئ په لاس كښې كيخوده نو هغوئ دا غوزاره كړه او وې فرمائيل چې كه مادې يو يا دوه ځل منع كړې نو داسې به مې نه كولې. يعني غصه كښې به مو پياله نه غوزاروله. ما د نبي كريم ﷺ نه آوريدلې دي چې ريښم او ديباج مه اغوندئ اونه دسرو او سپينو لوښو كښې اوبه څكئ اونه ددې په ركيبو كښې خوراك كوئ. ځكه چې په دنيا كښې دا دكافرو سامان دې. او زمونږ دپاره به په آخرت كښې وي.

قوله: (اناء مفضض): هغه لوښې ته وائي چې په هغې باندې د چاندئ اوبه خيژولې شوې وي دسرو په اوبه باندې ملمع شوي لوښي ته (مذهب) وائي.

د حديث پاک د ترجمة الباب سره مناسبت: دلته ړومبې اشكال دا كيږي چې امام بخاري رحمه الله د باب تقديم تاخير اكل متعلق قائم كړې دې، او حديث پاك ئې كوم ذكر كړې دې هغه د شراب متعلق دې، حافظ ابن حجر رحمه الله ددې په جواب كښې ليكي چې: (وحديث حذيفة الذي ساقه في الباب النهي عن الشرب في آنية الذهب والفضة ويؤخذ منه منع الاكل بطريق الالحاق) (١)
يعني اګر چې حديث د شرب متعلق دې ليكن شرب سره اكل هم لاحق كوي او د اكل ممانعت هم ددې نه اخذ كولې شي. ځكه چې كوم علت د شرب دممانعت دې، هم هغه داكل دممانعت هم دې.

دويم اشكال دادې چې ترجمة الاب كښې د (انا مفضض) ذكر كړې دې. حالانكه حدېث پاك كښې (انية الذهب والفضة) ذكر دې. د چاندئ اوبه وركړې شوې لوښې او د چاندئ لوښي كښې فرق دې.

علامه كرماني رحمه الله ددې جواب وركړې دې چې د (مفضض) لفظ اګر چې دهغه څيز دپاره استعماليږي چې د چاندئ ملمع شوې وي. بيا هم اګر كه يو لوښې پوره پوره د چاندئ جوړ شوې دې. نو په دې باندې هم د (مفضض) اطلاق كيدې شي، داشان په ترجمة الباب كښې مطابقت موجود دې. (٢)

(١) فتح الباري: ٦٩٢/٩)
(٢) شرح الكرماني: ٤٩/٢٠).

دچاندئی او سرو لوښو کښې اکل شرب دائمه اربعه په نیز حرام او ناجائز دی.[1]

البته (انا مفضض) او (سرير مفضض) باره کښې اختلاف دې. د امام ابو حنیفه رحمه الله مذهب امام قدوری رحمه الله دا نقل کړې دې چې داسې لوښې او داسې زین استعمالول جائز دی، په دې شرط چې چرته د چاندئی کار شوې وی. دهغه ځائې نه دې اجتناب اوکړېشی. او نه ددې ځی په هغه خوله اولګولې شی، اونه دې په هغې باندې کینی.[2]

صاحب هدایه فرمائی چې خوله دې د چاندئی نه بیله اوساتلې شی. او زین کښې ددې د کیناستو په ځائې چاندئی نه بیل پکار دې.[3]

دامام ابو یوسف رحمه الله په نیز (اناء مفضض) استعمالول مکره دی. د امام محمد رحمه الله باره کښې اختلاف نقل شوې دې، د ځینو په نیز ددوئ رائې امام ابو یوسف رحمه الله سره ده او د ځینو په نیز امام ابوحنیفه رحمه الله سره دې.[4] یعنی که د چاندئی ځائې نه پرهیز اوکړې شی نو په استعمالول کښې هیڅ باك نشته دې.

۳۰- باب ذِكْرِ الطَّعَامِ.

[۵۱۱۱]. حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الأُتْرُجَّةِ، رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا طَيِّبٌ، وَمَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي لاَ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ التَّمْرَةِ لاَ رِيحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلُ الرَّيْحَانَةِ، رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي لاَ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْحَنْظَلَةِ، لَيْسَ لَهَا رِيحٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ». [ر: ۴۷۳۲]

[۵۱۱۲]. حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا خَالِدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « فَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ» [ر: ۳۵۵۹]

[۵۱۱۳] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ سُمَيٍّ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنَ الْعَذَابِ، يَمْنَعُ أَحَدَكُمْ نَوْمَهُ وَطَعَامَهُ، فَإِذَا قَضَى نَهْمَتَهُ مِنْ وَجْهِهِ فَلْيُعَجِّلْ إِلَى أَهْلِهِ».

ددې ترجمة الباب نه د امام بخاری رحمه الله مقصد څه دې ؟

شارح بخاری ابن بطال فرمائی چې د امام بخاری رحمه الله مقصد عمده خوراکونه اباحت خودل

---

[1]) عمدة القاری:(۶۰/۲۱)
[2]) اوګورئی: القدوری کتاب الحظر والاباحة:۲۵۲).
[3]) الهداية مع فتح القدير كتاب الكراهية:۴۴۲/۸).
[4]) الهداية مع فتح القدير كتاب الكراهية:۴۴۲/۸).

دی چې عمده خوراك خوړلو کښې څه باك نشته ذې او دا دزهد منافی نه دی. (۱)

د ښه خوراکونو ذکر په حرص کښې داخل نه دی: شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله فرمائي چې زما په نيز د امام بخارى رحمه الله مقصد ددې باب نه دادې چې مختلفو او لذيذ خوراکونه ذکر کول حرص کښې داخل نه دی. (۲)

او دا هم ممکن دی چې امام بخاری د سنن ابو داؤد روايت طرفته اشاره کوی، په دې کښې د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کړې شوې دې چې:

«وددت ان عندی خبزة بيضاء من برة سمراء ملبقة بلبن وسمن» (۳) يعنى خما زړه غواړی چې ما سره د شامی غنمو سپينه روټئ وې چې په غوړو او پنو کښې تر وی.

نبی کریم ﷺ د ښه خوراك ذکر کولو خواهش اوکړو، ظاهر دی چې دې ته حرص نشی وئیلې. لهذا که څوك سړې د خپلې خوښې عمده خوراك کله ذکر اوکړی نو په دې باندې د حرص الزام لګول نکير کولې نشی. د امام بخاری رحمه الله مقصد «باب ذکر الطعام» نه هم دادې.

دباب لاندې چې کوم درې احاديث ذکر کړې شوی دی، هغه وړاندې تير شوی دی. او په دريو دواړو کښې د طعام ذکر دې، په ړومبی کښې د «طعم» او باقی دواو کښې د طعام.

د باب آخری روايت آخر کښې دی چې «فاذ قضى نهمته من وجهه فليعجل الى اهله» ددې مطلب دادې چې د کوم مقصد دپاره سفر کړې دې، کله چې هغه مقصد او ضرورت پوره شی نو واپس کور ته راتلل پکار دی.

۳۰- بَابُ الْأُدُمِ

[۵۱۱۴] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ رَبِيعَةَ أَنَّهُ سَمِعَ الْقَاسِمَ بْنَ مُحَمَّدٍ يَقُولُ كَانَ فِي بَرِيرَةَ ثَلَاثُ سُنَنٍ، أَرَادَتْ عَائِشَةُ أَنْ تَشْتَرِيَهَا فَتُعْتِقَهَا، فَقَالَ أَهْلُهَا، وَلَنَا الْوَلَاءُ، فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ «لَوْ شِئْتِ شَرَطْتِيهِ لَهُمْ. فَإِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ». قَالَ وَأُعْتِقَتْ فَخُيِّرَتْ فِي أَنْ تَقِرَّ تَحْتَ زَوْجِهَا أَوْ تُفَارِقَهُ، وَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَوْمًا بَيْتَ عَائِشَةَ وَعَلَى النَّارِ بُرْمَةٌ تَفُورُ، فَدَعَا بِالْغَدَاءِ فَأُتِيَ بِخُبْزٍ وَأُدْمٍ مِنْ أُدْمِ الْبَيْتِ فَقَالَ «أَلَمْ أَرَ لَحْمًا». قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَلَكِنَّهُ لَحْمٌ تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ، فَأَهْدَتْهُ لَنَا. فَقَالَ «هُوَ صَدَقَةٌ عَلَيْهَا، وَهَدِيَّةٌ لَنَا». [ر: ۴۸۰۹]

«ادم» د همزه او دال په ضمه سره او دال په سکون سره هم لوستلې شی، «ادام» جمع ده، سالن ته وائی، امام بخاری رحمه الله ددې باب نه د سالن د استعمال جواز طرفته اشاره کړې ده.

---

(۱) فتح البارى: ۶۹۳/۹ عمدة القارى: (۶۰/۲۱).

(۲) تعليقات لا مع الدرارى: ۳۹۶/۹، الابواب والتراجم: ۸۸/۲).

(۳) سنن ابو داؤد کتاب الاطعمة باب فى الجمع بين لونين من الطعام: ۳۵۹/۳) رقم الحديث: ۳۸۱۸).

دټولو نه بهترين سالن غوښه ده، نو د ابوهريره رضي الله عنه يو روايت د امام ابن ماجه رحمه الله موصولا نقل کړې دې. (سيد الادام في الدنيا والاخرة اللحم).(١) اسماعيلي روايت باب ته مرسل وئيلى دى او واقعتا هغه مرسل دې ځکه چې په دې کښې د قاسم بن محمد نه پس د عائشه صديقه رضي الله عنها ذکر نشته دې البته امام بخاري رحمه الله په کتاب النکاح او کتاب الطلاق کښې داموصولا نقل کړې دې. دلته ئې دا مرسلا ذکرکولو نه باندې په دې وجه اکتفا کیږي چې يو روايت هميشه تکرار سره يو شان مذکوره نه وی، ددې وجې دائی وړاندې موصولا ذکر کړو او دلته مرسلا (٢)

٣١- باب الْحَلْوَاءِ وَالْعَسَلِ.

[٥١١٥] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْحَنْظَلِيُّ عَنْ أَبِي أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يُحِبُّ الْحَلْوَاءَ وَالْعَسَلَ. [ر: ٤٩١٨]

[٥١١٦] حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ شَيْبَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي الْفُدَيْكِ عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ عَنِ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كُنْتُ أَلْزَمُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - لِشِبَعِ بَطْنِي حِينَ لاَ آكُلُ الْخَمِيرَ، وَلاَ أَلْبَسُ الْحَرِيرَ، وَلاَ يَخْدُمُنِي فُلاَنٌ وَلاَ فُلاَنَةُ، وَأُلْصِقُ بَطْنِي بِالْحَصْبَاءِ، وَأَسْتَقْرِئُ الرَّجُلَ الآيَةَ وَهْىَ مَعِي كَىْ يَنْقَلِبَ بِي فَيُطْعِمَنِي، وَخَيْرُ النَّاسِ لِلْمَسَاكِينِ جَعْفَرُ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، يَنْقَلِبُ بِنَا فَيُطْعِمُنَا مَا كَانَ فِي بَيْتِهِ، حَتَّى إِنْ كَانَ لَيُخْرِجُ إِلَيْنَا الْعُكَّةَ لَيْسَ فِيهَا شَىْءٌ، فَنَشْتَقُّهَا فَنَلْعَقُ مَا فِيهَا. [ر: ٣٥٠٥]

حلوا هر خوږ څيز ته وائی، زمونږ په علاقو کښې چې د سوجئ کومه حلوه مشهوره ده، عربي ژبه کښې دحلوا لفظ ددې دپاره مخصوص نه دې. (٣)

د امام بخاري رحمه الله مقصد دادې چې د شرين او لذيذ څيزنو استعمال جائز دې، اودا د زهد خلاف نه دی.

د باب ړومبی روايت مبارك کښې دی چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم شرينی او شهد خوښ کړی وو.

علامه ثعلبی رحمه الله په (فقه اللغه) کښې ليکلی دی چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم چې کومه حلوه خوښوله، هغه دکهجورو په پيښو کښې اغزلو سره جوړيده. (٤)

---

(١) فتح الباری :٦٨٤/٩، سنن ابن ماجه :١٠٩٩/٢، باب اللحم رقم الحديث :٣٣٠٥، ولفظه سيد طعام اهل الدنيا واهل الجنة للحم).

(٢) (فتح الباری :٦٩٤/٩)

(٣) وقال الخطابي اسم الحلوى لا يقع الا على مادخلته الصنعة وفى المخصص لابن سيده هى ما عولج من الطعام بحلاوة وقد تطلق على الفاكهة... فتح الباری :٦٩٥/٩)

(٤) فتح الباری :٦٩٦/٩، وفقه للثعالبی: ٢٤٠).

قوله: كُنْتُ أَلْزَمُ النَّبِيَّ - لِشِبَعِ بَطْنِي: زه د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې د شکم سیرئی دپاره اوسیدم، څما د شکم سیرئی انتظام به هم کیدلو، لام تعلیل دپاره دې، (ای لاجل شبع بطنی شبعٍ) د شین په کسره او دباء په فتحه سره شکم سیرئی ته وائی. (۱)

قوله: حِينَ لَا آكُلُ الْخَمِيرَ، وَلَا أَلْبَسُ الْحَرِيرَ: داد هغه وخت خبره ده چې کله ما نه خمیره روټئ خوړلې وه او نه مې د ریښمو جامې اچولې وې، دلته روایت کښې د (حریر) لفظ دې چې په هغه وخت کښې به ما حریر نه اچولو، چې ددې نه دا مفهوم راوځی چې ګویا اوس حریر استعمالیږی، حالانکه ددې استعمال ناجائز دې لکه څنګه چې مخکښې درست نه وو، ددې نه هم درست نه وو.

دکتاب المناقب روایت کښې (حریر) په خائې د (الحبیر) لفظ دې، چې ددې معنی منقش، دهاری دار او مزین خادر او کپړه ده. په دې صورت کښې مطلب واضح دې چې په هغه وخت کښې څما سره دهاری دار او منقش اوعمده لباس نه وو، دې نه پس الله ﷻ راته ټول هر څه راکړل نو ما خمیره روټئ خوړل هم شروع کړل او عمده لباس اچول مې هم شروع کړل.
قاضی عیاض دسیاق کلام موافقت په وجه هم دې روایت ته ترجیح ورکړې ده. (۲)

قوله: وَأُلْصِقُ بَطْنِي بِالْحَصْبَاءِ: او ما خپله خیټه کاڼړو سره لګولې وه، (چې ددې د یخوالی په وجه د اولږې حرارت کښې کمې راشی).
وړاندې فرمائی چې د مسکینانو دپاره دټولو نه ښه سړې جعفر بن ابی طالب وو، هغوئ به مونږ خپل خان سره بوتلو او چې څه به دهغوئ په کور کښې وو هغه به ئې مونږ باندې خوړل، تر دې پورې چې څینې وخت کښې به ئې خالی لوښې هم راوړل او ما به دا څټل.

قوله: (عُكَّةَ): دعین په ضمه اوکاف په مفتوحه مشدد سره، د غوړو وغیره اېښودلو دپاره دڅمړې لوښی ته وائی. جعفر ﷺ به هغه راوړو، په دې کښې په غوړی نه وو نودا څیز به مو اوشلو او شلولو نه پس به چې په دې کښې دننه څه غوړی وو مونږ به هغه څټل. (۳)

قوله: فَنَشْتَقُّهَا: په دې لفظ دوه روایتونه دی.

① قاضی عیاض شین او فاء سره (نشتفها) ضبط کړې دې، د اشتفاف معنی ده په لوښی کښې موجود ټول څیزونه څکل.
په دې صورت کښې مطلب واضح دې چې مونږ په لوښی کښې موجود غوړی او تری وغیره صفا کول.

---

(۱) ارشاد الساری:۱۲/۱۹۱).
(۲) فتح الباری :۹/۶۹۶).
(۳) عمدة القاری:۲۱/۶۲).

④ دويم روايت د (تشتهها) د شين او قاف سره دې چې ددې معنى شلول دى، هم دې روايت ته ابن التين ترجيح وركړه ده، پورته تشريح ددې مطابق كړې شوې ده.[1]
خو په دې باندې اشكال كيږى چې داسې دظرف شلول اوضائع كول څنګه بې مقصده ضائع كول خو يقينا درست نه دى ليكن دلته خو تطييب قلب مسلم او ددې د تسلئ دپاره داسې اوكړې شو. څكه چې دې ته په اضاعت نشى وئيلې.
دويم جواب دادې چې ممكن دى چې دا شان شلوى چې دې نه پس قابل انتفاع وى[2] والله اعلم

۳۲- باب الدُّبَّاءِ

[۵۱۱۷] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا أَزْهَرُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ عَوْنٍ عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ أَنَسٍ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَتَى مَوْلًى لَهُ خَيَّاطًا، فَأُتِيَ بِدُبَّاءٍ، فَجَعَلَ يَأْكُلُهُ، فَلَمْ أَزَلْ أُحِبُّهُ مُنْذُ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَأْكُلُهُ. [ر: ۱۹۸۶]

(دباء) د ال ضمه او د باء مشدده سره، كدو ته وائى، ددې دپاره د قرع لفظ هم استعماليږى.
ددې ډيرې فائدې دى، د طبرانى روايت كښې نقل دى چې (عليكم بالقرع فانه يزيد فى الدماغ).[3] تاسو دكدو استعمال زيات كوئى او دا په دماغى قوت كې اضافه كوى.
خو دا روايت صحيح نه دې، ددې په سند كښې عمرو بن حسين يو راوى دې او هغه متهم دې، علامه ابن الجوزى په (كتاب الموضات) كښې ذكر كړې دې[4] هسې دكدو فضيلت دپاره روايت باب كافى دې، په دې كښې دى چې نبى كريم ﷺ به دبا شوق سره خوړلو، او انس رضي الله عنه وائى چې كله نه ما نبى كريم ﷺ ليدلې دې چې دوئ دباء په شوق سره خورى نو څما هم دې سره محبت پيدا شوې دې.

۳۳- باب الرَّجُلِ يَتَكَلَّفُ الطَّعَامَ لإِخْوَانِهِ.

[۵۱۱۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ قَالَ كَانَ مِنَ الأَنْصَارِ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ أَبُو شُعَيْبٍ، وَكَانَ لَهُ غُلاَمٌ لَحَّامٌ فَقَالَ اصْنَعْ لِي طَعَامًا أَدْعُو رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- خَامِسَ خَمْسَةٍ، فَدَعَا رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- خَامِسَ خَمْسَةٍ، فَتَبِعَهُمْ رَجُلٌ فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «إِنَّكَ دَعَوْتَنَا خَامِسَ خَمْسَةٍ وَهَذَا رَجُلٌ قَدْ تَبِعَنَا، فَإِنْ شِئْتَ أَذِنْتَ لَهُ، وَإِنْ شِئْتَ تَرَكْتَهُ».

---

[1] اوګورئى : عمدة القارى:۲۱/۶۲، فتح البارى :۹/۶۹۷).
[2] لا مع الدرارى:۹/۳۹۸).
[3] عمدة القارى:۲۱/ ۶۲)
[4] (كتاب الموضوعات لابن الجوزى :۲/۲۹۰، اللالى المصنوعة كتاب الاطعمة :۲/۱۸۰ ليكن دې د عمرو ن حصين نوم ذكر شوې دې، وتنزيه الشريعة المرفوعة كتاب الاطعمة الفصل الثانى:۲/۲٤٤)

قَالَ بَلْ أَذِنْتُ لَهُ.

قال محمد بن يوسف: سمعت محمد بن اسماعيل يقول: اذا كان القوم على المائدة، ليس لهم ان يناولوا من مائدة الى مائدة اخرى، ولكن يناول بعضهم بعضا في تلك المائدة أويدعوا. [ر: ۱۹۷۵]

د امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چې يو سړې د خپل رور دپاره ډير لوئې دعوت کوی او خوراك انتظام کوی نودا درست دی او سنت کښې ددې اصل موجود دې.

ابو مسعود انصاری رضي الله عنه نه روايت دې، فرمائی چې يو انصاری صحابی چې هغه ته به اوب شعيب وئيلې شو، د هغه يو لحام غلام وو يعنی غوښه به ئې خرڅوله. هغه خپل غلام ته اووئيل چې خوراك تيارك كړه، څه به نبی كريم ﷺ سره پنځو كسانو لره دعوت كوم، هغوئ نبی كريم ﷺ سره پنځه كسان راؤبلل، دوئ سره يو سړې بل هم وو، نبی كريم ﷺ چې كله هلته اورسيدو نو وې فرمائيل چې تاسو مونږ پنځه كسان بللی يو. داسړې هم مونږ سره راغلې دې، كه ته غواړې نو ته ده ته هم اجازت وركړه، اوكه نه غواړې نو دې پريږده چې ځي. هغه اووئيل چې ده ته هم اجازت دې.

حافظ ابن حجر رحمه الله اوفرمائيل چې ددعوت كوؤنكی انصاری صحابی نوم اودده د غلام نوم ماته معلوم نشو، دلته د غلام دپاره د (لحام) صفت راؤړې شوې دې. او په كتاب البيوع كښې د قصاب لفظ راغلې دې.[1]

قوله: خامس خمسة): د پنځو سړو پنځم يعنی نبی كريم ﷺ نه سوا څلو روو، نبی كريم ﷺ سره پنځه وو. داتركيب اعداد كښې شميرلې كيږی، په قرآن پاك كښې دی چې (ثانى اثنين) (ثالث ثلاثة)

نبی كريم ﷺ سره دعوت كښې دشريكو او دې نه پس يو ځائې كيدونكو سړو نومونو باره كښې حافظ ابن حجر رحمه الله د لاعلمئ اظهار كړې دې.[2]

د ترجمة الباب ثبوت: اوس دا خبره پاتې كيږی چې د حديث باب نه به د ترجمة الباب ثبوت څنګه وی ؟

① حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چې دعوت كولو والا صحابی چونكه عدد په پنځو باندې منحصر كړو، چې ددې نه ظاهريږی چې هغوئ پرتكلف طعام تيار كړې وو، كه ساده دعوت وې او عام خوراك وې نو بيا حصر عدد به ئې نه كولو.[3]

② ګنګوهی رحمه الله فرمائی چې د روايت نه معلوميږی چې د عوت كښې دغوښې اهتمام وو،

---

[1]) فتح البارى :۶۹۸/۹).

[2]) فتح البارى :۶۹۸/۹).

[3]) اوګورئ: فتح البارى :۶۹۸/۹، ارشاد السارى:۱۹۴/۱۲، وقال العينى فى عمدة القارى:۲۱/ ۶۳،انه حصر ا لعدد والحاصر متكلف لانه الزم نفسه بعدد معين وهذا تكلف لاحتمال الزيادة والنقصان).

(څكه دغوښې كاروبار كوونكي غلام ته ئې د خوراك تيارولو دپاره اووئيل) او ظاهر دي چې په كوم خوراك كښې غوښه وي هغه پرتكلف وي. (١)

③ شيخ الحديث مولانا محمدزكريا رحمه الله فرمائي چې د حديث طرز او صنيع پخپله معلوميږي چې هغه خپل غلام ته خاص طور سره وئيلي وو چې څه نبي كريم ﷺ سره پنځو كسانو دپاره دعوت كوم ته خوراك تيار كړه. دې سره به يقينا پرتكلف خوراك مراد دي. (٢)

د طفيلي حكم: دلته په حديث پاك كښې دي چې نبي كريم ﷺ سره يو سړي د طفيلي په طور د دعوت نه بغير لاړو، نبي كريم ﷺ د كور خاوند نه اجازت اوغوښتلو او هغه ورته اجازت ور كړو.

طفيلي دپاره حكم دادې كه په خاص دعوت كښې هغه بغير د اجازته لاړ شي او داعي دده ته په اجازت وركولو باندې راضي نو دده دپاره خوراك خوړل جائز دي. (٣)

خوكه دعوت داسې وي چې په هغې كښې صلاتې عام وي نو پدې كښې د خصوصي دعوت نه بغير هم تلې شي.

امام ابوداؤد رحمه الله يو روايت نقل كړې دې چې (من دخل بغير دعوة دخل سارقا وخرج مغيرا) چې كوم سړي بغير دعوت نه رازي نو هغه غل دې او چې كله واپس لاړشي نو لوټ كوونكي دي. (٤)

دلته په كراچئ كښې داسې ډير كيږي چې تا دوليمې دعوت د پنځو سوؤ يا سلو كسانو دپاره كړې دې ليكن پنځوس شپيته نور هم داخل شو، او مدعو ميلمنو دپاره خوراك كميږي، نو داسې دعوتونو كښې بغير دعوت نه داخليدل جائز نه دي.

البته كه مدعو ته يقين وي كه دې خپل ځان سره يو كس دو بوځي نو داعي به ددې شركت محسوس نه كړي نو داسې صورت كښې بوتلې شي،اوكه دوئ بوځي نو ددوئ دپاره به مستقل اجازت اخلي. لكه څنګه چې نبي كريم ﷺ كړې وو، كه او قرائنو نه داجازت او طيب نفس علم وي نو بياصراحتا د اجازت اخستلو ضرورت نشته دې.

داسې صورت كښې كه داعي اجازت ورنكړي نو مدعو ته اختيار حاصل نه دې چې هغه دعوت ته د بوتلو يا ددې د قبليدو نه پس رد كړي.

البته ددعوت قبلولو په وخت كښې شرط لګولې شي چې ما سره به د فلاني دعوت كوي، نو قبول دې ګني نه، نبي كريم ﷺ يو ځل عائشه صديقه رضي الله عنها دپاره داسې شرط لګولې وو. كه د عائشه رضي الله عنها دعوت نشته دې نو بيا ماته قبول نه دي. (٥)

---

(١) لا مع الدراري:٩/٣٩٨).

(٢) تعليقات لا مع الدراري:٩/٣٩٨).

(٣) طفيلي طفيل طرفته منسوب دې، دا د كوفې ديو سړي نوم وو چې اكثرو دعوتونو كښې به بغير د دعوت نه شامليدو، دې نه پس د هر هغه سړي دپاره د طفيلي لفظ استعمال كړې شو چې بغير دعوت نه رازي، خطيب بغدادي د طفيليانو په ښكلي واقعاتو باندې يو كتاب ليكلې دې، اوګورئي : ارشاد الساري:١٢/ ١٩٣).

(٤) دا روايت ضعيف دې، فتح الباري :٩/٧٠٠ ارشاد الساري:١٢/١٩٣)..

(٥) مذكوره تفصيل دپاره اوګورئي : فتح الباري :٩/٧٠٠، ٧٠١)

قوله: قال محمد بن يوسف سمعت محمد بن اسماعيل البخاري يقول: اذا كان القوم على المائدة: داتعليق صرف د ابوزر عن المستملي په نسخه كښې دې.[1]
محمد بن يوسف فرمائي چې ما د امام بخارى رحمه الله نه دا آوريدلى دى چې كله څوكسان په يو دسترخوان كيني نو دوئ ته دا حق حاصل نه دې چې يو دسترخوان والا په بل دسترخوان باندې ناستو خلقوته وركړي، اوكه په يو دسترخوان باندې ناست وى نو په خپلو كښې يو بل لره وركولو كښې اختيار دې.

قوله: ولكن يناول بعضهم بعضا في تلك المائدة اويدعوا......اى يتركوا: يعنى يو دسترخوان والا يو بل كه وركوى يائې پريږدى.
گنگوهى رحمه الله فرمائي چې داحكم په دې صورت كښې دې چې كله د صاحب طعام طرفته صراحتا يا دلالتا اجازت نه وى ليكن كه صراحتا يا دلالتا اجازت وى نو بيا څيزونه د يو دسترخوان نه بل دسترخوان طرفته منتقل كولې شى، نو فرمائي چې:

«**قوله**: ولا يناول من هذه المائدة الى مائدة اى اذا لم ياذن بذالك صاحب الطعام صراحة اودلالة، ودلالة الاذن موجودة فيما اذا كان طعامان على مائدتين واحدا من غير فرق وتكفل صاحب الطعام باشباعهم جملة: فانه لاباس حينئذ فى المناولة»[2]
امام بخارى رحمه الله پخپل قول كښې بيان شوې حكم د حديث پاك نه اخذ كړې دې چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم د دعوت نه پس يو بل سړى دپاره اجازت غوښتلو، نودعوت نه پس د تصرف فى الطعام يو عام اجازت حاصل شو، او ددې په بنياد باندې د يو بل سړى دپاره اجازت غوښتلې شى، ددې برخلاف كه څوك سړې بالكل مدعو نه وى نو ظاهر دى چې هغه نورو دپاره به څه اجازت حاصلولې شى.
هم دا احال په يو دسترخوان باندې د ناستو خلقو دې، په دې دسترخوان باندې هغه ته د تصرف حق حاصل دې، نو دوئ څيزونه يو بل طرفته منتقل كولې شى. ليكن بل دسترخوان باندې موجود څيزونو طرفته چونكه هغه مدعو نه دې ددې وجې نه په هغه دسترخوان باندې موجود څيزونو نه هغه څيزونه نشى اخستې. نو حافظ ابن حجر رحمه الله ليكى چې:

«وكانه استنبط ذالك من استئذان النبى صلى الله عليه وسلم الداعى فى الرجل الطارى ووجه اخذه منه ان الذين دعوا صارلهم بالدعوة عموم اذن بالتصرف فى الطعام المدعوا اليه بخلاف من لم يدع فيتنزل من وضع بين يديه الشئ منزلة من دعى له اوينزل الشئ الذى وضع بين يدى غيره منزلة من لم يدع اليه»[3]

---
[1] فتح البارى: ٧٠١/٩)
[2] لامع الدرارى: ٣٩٩/٩).
[3] فتح البارى: ٧٠١/٩).

٣٤- باب مَنْ أَضَافَ رَجُلاً إِلَى طَعَامٍ، وَأَقْبَلَ هُوَ عَلَى عَمَلِهِ.

[٥١١٩] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُنِيرٍ سَمِعَ النَّضْرَ أَخْبَرَنَا ابْنُ عَوْنٍ قَالَ أَخْبَرَنِي ثُمَامَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ أَنَسٍ - رضي الله عنه - قَالَ كُنْتُ غُلَامًا أَمْشِي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى غُلَامٍ لَهُ خَيَّاطٍ، فَأَتَاهُ بِقَصْعَةٍ فِيهَا طَعَامٌ وَعَلَيْهِ دُبَّاءٌ، فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ - قَالَ - فَلَمَّا رَأَيْتُ ذَلِكَ جَعَلْتُ أَجْمَعُهُ بَيْنَ يَدَيْهِ - قَالَ - فَأَقْبَلَ الْغُلَامُ عَلَى عَمَلِهِ. قَالَ أَنَسٌ لَا أَزَالُ أُحِبُّ الدُّبَّاءَ بَعْدَ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - صَنَعَ مَا صَنَعَ. [ر: ١٩٨٦]

كه يو سړي بل چا ته دخوراك دعوت وركوى، مليمه راغلو او خوراك ئې ددهٔ مخكښې كيخودلو او پخپله پخپل كار كښې مشغول شو نو په دې كښې هيڅ باق نشته دې، حديث باب كښې ددې تصريح شته دې چې غلام خوراك د نبى كريم ﷺ مخكښې كيخودو او پخپله په كار كښې مشغول شو.

٣٥- باب الْمَرَقِ

[٥١٢٠] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ أَنَّ خَيَّاطًا دَعَا النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - لِطَعَامٍ صَنَعَهُ، فَذَهَبْتُ مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَرَّبَ خُبْزَ شَعِيرٍ وَمَرَقًا فِيهِ دُبَّاءٌ وَقَدِيدٌ، فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ مِنْ حَوَالَيِ الْقَصْعَةِ، فَلَمْ أَزَلْ أُحِبُّ الدُّبَّاءَ بَعْدَ يَوْمِئِذٍ. [ر: ١٩٨٦]

(مرق) خوروه ته وائى، امام بخارى رحمه الله په كتاب الاطعمة كښې د مطعوماتو تذكره كوى او معطوماتو كښې خوروه هم داخله ده. ددې وجې ئې ددې ذكر هم اوكړو.

٣٦- باب الْقَدِيدِ

[٥١٢١] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه - قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - أُتِيَ بِمَرَقَةٍ فِيهَا دُبَّاءٌ وَقَدِيدٌ، فَرَأَيْتُهُ يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ يَأْكُلُهَا. [ر: ١٩٨٦]

[٥١٢٢] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَابِسٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضي الله عنها - قَالَتْ مَا فَعَلَهُ إِلَّا فِي عَامٍ جَاعَ النَّاسُ، أَرَادَ أَنْ يُطْعِمَ الْغَنِيُّ الْفَقِيرَ، وَإِنْ كُنَّا لَنَرْفَعُ الْكُرَاعَ بَعْدَ خَمْسَ عَشْرَةَ، وَمَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ - صلى الله عليه وسلم - مِنْ خُبْزِ بُرٍّ مَأْدُومٍ ثَلَاثًا. [ر: ٥١٠٠]

قوله: قديد: په اصل كښې هغه غوښې ته وائى چې په هغې باندې مالګه اولړولې شى او

په نمر کښې ئې اوچولو ته کیخودلې شي. اوبیا د ضرورت مطابق استعمالولې شي.
د باب په دواړو حدیثونو کښې د غوښې ذکر دي. ړومبی روایت کښې د «قدید» او دویم کښې د «کراع» په دواړو روایتونو باندې کلام تیر شوې دي.

۳۷-باب مَنْ نَاوَلَ أَوْقَدَّمَ إِلَى صَاحِبِهِ عَلَى الْمَائِدَةِ شَيْئًا.

قَالَ وَقَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ لاَبَأْسَ أَنْ يُنَاوِلَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا، وَلاَ يُنَاوِلُ مِنْ هَذِهِ الْمَائِدَةِ إِلَى مَائِدَةٍ أُخْرَى.

[۵۱۲۳] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِاللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ إِنَّ خَيَّاطًا دَعَا رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - لِطَعَامٍ صَنَعَهُ - قَالَ أَنَسٌ - فَذَهَبْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - إِلَى ذَلِكَ الطَّعَامِ، فَقَرَّبَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - خُبْزًا مِنْ شَعِيرٍ وَمَرَقًا فِيهِ دُبَّاءٌ وَقَدِيدٌ - قَالَ أَنَسٌ - فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ مِنْ حَوْلِ الصَّحْفَةِ، فَلَمْ أَزَلْ أُحِبُّ الدُّبَّاءَ مِنْ يَوْمِئِذٍ. وَقَالَ ثُمَامَةُ عَنْ أَنَسٍ، فَجَعَلْتُ أَجْمَعُ الدُّبَّاءَ بَيْنَ يَدَيْهِ. [ر: ۱۹۸۶]

په دې باب کښې د امام بخاری رحمه الله سابقه کلام، د ابن مبارك رحمه الله د قول په طور راغلی دي، په یو دسترخوان باندې کیناستونکو دپاره یو بل طرفته خیزونه ورکول جائز دی. لکه ځنګه چې حدیث پاك کښې تصریح ده چې انس رضی الله عنه د کدو ټکړې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته وړاندې کړې.

۳۸-باب الرُّطَبِ بِالْقِثَّاءِ.

[۵۱۲۴] حَدَّثَنَا عَبْدُالْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِاللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ - رضى الله عنهما - قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَأْكُلُ الرُّطَبَ بِالْقِثَّاءِ. [۵۱۳۲، ۵۱۳۴]

«رطب» تازه کهجورې ته وائی. «او قثاء» بادرنګ ته وائی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم به تازه کهجورې بادرنګ سره استعمالولې. او مقصد په دې کښې دا وو چې کهجوره کښې موجود حرارت بادرنګ بردوت سره کم شی او اعتدال پیدا شی.

باب

[۵۱۲۵] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ عَبَّاسٍ الْجُرَيْرِيِّ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ قَالَ تَضَيَّفْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ سَبْعًا، فَكَانَ هُوَ وَامْرَأَتُهُ وَخَادِمُهُ يَعْتَقِبُونَ اللَّيْلَ أَثْلاَثًا، يُصَلِّي هَذَا، ثُمَّ يُوقِظُ هَذَا. وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ قَسَمَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بَيْنَ أَصْحَابِهِ تَمْرًا، فَأَصَابَنِي سَبْعُ تَمَرَاتٍ إِحْدَاهُنَّ حَشَفَةٌ.

[۵۱۲۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ زَكَرِيَّاءَ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - قَسَمَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - بَيْنَنَا تَمْرًا فَأَصَابَنِي مِنْهُ خَمْسٌ أَرْبَعُ تَمَرَاتٍ وَحَشَفَةٌ، ثُمَّ رَأَيْتُ الْحَشَفَةَ هِيَ أَشَدُّهُنَّ لِضِرْسِي. [ر: ۵۰۹۵]

د حافظ ابن حجر رحمه الله، علامه عینی رحمه الله او علامه قسطلانی رحمه الله په نسخو کښې دا باب بلاترجمه دې لیکن زمونږ په هندوستانی نسخو کښې دد ې ترجمه (باب الحشف) موجود دې.

(حشف) (حشفة) جمع ده، خرابې کهجورې ته وائی.

شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله فرمائی چې د ې نه مخکښې امام بخاری رحمه الله یو ترجمه قائمه کړې وه چې په دعوت کښې پرتکلف خوراك اهتمام کول جائز دی، دلته د (باب الحشف) ترجمه قائموی او وائی چې هغه تکلف ضروری نه دې. اوشی خو صحیح گنی نه، او ماحضر که میلمنو ته پیش کړې شی نو دا هم صحیح ده. [1]

تعارض د روایاتو او دهغې حل: دلته د باب په ړومبی روایت کښې ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چې ماته اووهٔ کهجورې راکړې او په بل روایت کښې د پنځو ذکر دې.

① ابن التین فرمائی چې په د ې کښې خو د ې یو روایت په وهم باندې محمول کړې شی او یا دې دا په تعدد د واقعاتو باندې محمول کړې شی.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې داتحاد مخرج په وجه تعدد واقعاتو باندې محمول کول یو بعیده غوندې خبره ده. [2]

② علامه کرمانی رحمه الله مشهور جواب ورکړې دې چې د (عدد اقل اکثر) ته نفی کوی، لهذا په دواړو کښې تعارض نشته دې. [3]

③ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې دا یو مجلس کښې د تقسیم د دوؤ مراحلو بیان دې، په ړومبی ځل دوئ پنځه کهجورې تقسیم کړې وی، په دویم روایت کښې هم دد ې ذکر دې. بیاخه کهجورې پاتې شوې نو دوئ دوباره تقسیم کړې، په ړومبی روایت کښې د کل و مجموعې ذکر دې.

قوله: تضيفتُ اباهريرة اي نزلت به ضيفا... اي سبع ليال: یعنی څه اووه ورځو پورې د ابوهریره رضی الله عنه سره میلمه اوم، او ددوئ خادم او ددوئ بی بی یو یو حصه دشپې به په وار وار پاسیدل. د شپې یوه حصه به یو عبادت کولو، بیا به هغه آرام دپاره څملاستو، بل به نې راپاسولو. بیا به هغه یو حصه عبادت کولو نه پس دریم به یې پاسولو، داشان ټوله شپه به په کور کښې د عبادت سلسله جاری وه.

يَعْتَقِبُونَ: بالقاف أي: يتناوبون قيام الليل.

---

[1] الابواب والتراجم: ۸۹/۲).
[2] فتح الباری: ۷۰۵/۹).
[3] شرح الکرمانی: ۵۶/۲۰).

٣٩- باب الرُّطَبِ وَالتَّمْرِ

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا

[٥١٢٧] وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ مَنْصُورِ ابْنِ صَفِيَّةَ حَدَّثَتْنِي أُمِّي عَنْ عَائِشَةَ - رضي الله عنها - قَالَتْ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَقَدْ شَبِعْنَا مِنَ الأَسْوَدَيْنِ التَّمْرِ وَالْمَاءِ. [ر: ٥٠٦٨]

د ترو او اوچو کهجورو باره کښې امام بخاری رحمه الله دا ترجمه قائم کړې ده ، اودې نه پس د قرآن کريم آيت ئې نقل کړې دې، چې په هغې کښې د ترو کهجورو ذکر دې.

لوندې کهجورې د نفاس والا ښځې دپاره ډېر مفيد دی، عبد بن حميد د ربيع بن خيثم طريق سره روايت نقل کړې دې چې (ليس للنفساء مثل الرطب ولا المريض مثل العسل)(١)

[٥١٢٨] (٢)حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا أَبُو غَسَّانَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو حَازِمٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رضى الله عنهما قَالَ كَانَ بِالْمَدِينَةِ يَهُودِيٌّ وَكَانَ يُسْلِفُنِي فِي تَمْرِي إِلَى الْجِدَادِ، وَكَانَتْ لِجَابِرٍ الأَرْضُ الَّتِي بِطَرِيقِ رُومَةَ فَجَلَسَتْ، فَخَلاَ عَامًا فَجَاءَنِي الْيَهُودِيُّ عِنْدَ الْجَدَادِ، وَلَمْ أَجُدَّ مِنْهَا شَيْئًا، فَجَعَلْتُ أَسْتَنْظِرُهُ إِلَى قَابِلٍ فَيَأْبَى، فَأُخْبِرَ بِذَلِكَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ لأَصْحَابِهِ «امْشُوا نَسْتَنْظِرْ لِجَابِرٍ مِنَ الْيَهُودِيِّ». فَجَاءُونِي فِي نَخْلِي فَجَعَلَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يُكَلِّمُ الْيَهُودِيَّ فَيَقُولُ أَبَا الْقَاسِمِ لاَ أُنْظِرُهُ. فَلَمَّا رَأَى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - قَامَ فَطَافَ فِي النَّخْلِ، ثُمَّ جَاءَهُ فَكَلَّمَهُ فَأَبَى فَقُمْتُ فَجِئْتُ بِقَلِيلِ رُطَبٍ فَوَضَعْتُهُ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَأَكَلَ ثُمَّ قَالَ «أَيْنَ عَرِيشُكَ يَا جَابِرُ». فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ «افْرُشْ لِي فِيهِ». فَفَرَشْتُهُ فَدَخَلَ فَرَقَدَ، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ فَجِئْتُهُ بِقَبْضَةٍ أُخْرَى فَأَكَلَ مِنْهَا، ثُمَّ قَامَ فَكَلَّمَ الْيَهُودِيَّ فَأَبَى

---

(١) فتح البارى :٧٠٧/٩)

(٢) (يسلفني من السلف اى يدفع له الثمن قبل الثمر واستلام (الجداد) زمن قطع قطع النخل. (رومة) اسم موضع قرب المدينة (فجلست) بقيت الارض نخلا بدون ثمر وفى رواية (فخاست) يعنى خالفت معهود هامن الجمل. (فخلا) من التخلية اى تاخر وفاء السلف وفى رواية (نخلا) اى بقيت الارض نخلا (استنظره) اطلب منه ان يمهلنى (قابل) عام ثان. (رطب) ثمر النخل قبل ان يصبح تمرا (عريشک) المكان الذى اتخذته من بستانک به و تقيل فيه والعريش ما يستظل به عند الجلوس تحته. وقيل: النساء (قام فى الرطاب) طاف بين النخل وعليه ثمره. الثانية) المرة الثانية. (فوقف فى الجداد) اى حال قطع الثمر واثناءه. (محمدبن يوسف) هو انفريرى الراوى، عن البخارى (ابو جعفر) هو محمد بن ابى حاتم وراق البخارى. (محمد بن اسماعيل) هو البخارى نفسه (محلاليس عندى مقيدا) اى مضبوطا (فخلا ليس فيه شک) اى هذا هوالذى يظهره والله اعلم.

عَلَيْهِ فَقَامَ فِي الرِّطَابِ فِي النَّخْلِ الثَّانِيَةَ ثُمَّ قَالَ «يَا جَابِرُ جُدَّ وَاقْضِ». فَوَقَفَ فِي الْجَدَادِ فَجَدَدْتُ مِنْهَا مَا قَضَيْتُهُ وَفَضَلَ مِنْهُ فَخَرَجْتُ حَتَّى جِئْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَبَشَّرْتُهُ فَقَالَ «أَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ».

عرش\النمل: ۲۳\وعريش: بناء، وقال ابن عباس: معروشات: \الانعام: ۱۴۱\ما يعرش من الكروم وغير ذلك، يقال: عروشها\البقرة: ۲۵۹\أبنيتها.

قال محمد بن يوسف قال ابوجعفر قال محمد بن اسماعيل فخلا ليس عندی مقيدا ثم قال فخلا ليس فيه شك

د جابر ﷺ د قرض واقعه: د باب دويم روايت كښې جابر ﷺ فرمائى چې مدينه منوره كښې يو يهودى وو، اوهغه به ماسره زما د كهجورو د شوكولو په وخت كښې بيع سلم كوله، زما څه زمكه د بئر رومه په لار كښې وه، يو كال په دې زمكه كښې هيڅ پيداوار اونشو. نو مالره هغه يهودى د پيداوار په وخت كښې راغلو او ما ددې نه هيڅ نه وو شوكولى، نو ماده سره د راتلونكى كال دپاره مهلت اوغوښتلو ليكن ده انكار اوكړو.

نبى كريم ﷺ ته ددې خبر وركړې شو. نبى كريم ﷺ خپلو صحابه كرامو ﷺ ته اوفرمائيل چې ځئ چې د جابر ﷺ دپاره ددې يهودى نه مهلت واخلو. نو داخلق زما باغ ته راغلل، نبى كريم ﷺ دې يهودى ته دمهلت دپاره اوفرمائيل. نو هغه يهودى اووئيل چې ائې ابوالقاسم ﷺ! څه دده ته مهلت نشم وركولې، هر كله چې نبى كيم ﷺ دا صورت اوكتلو نو اودريدل او په باغ كښې اوګرزيدل. بيا دې يهودى ته راغلل او خبرې اترې ئې ورسره اوكړې. ليكن هغه او نه منل. څه پورته شوم څه رطب كهجورې مې راوړې. او نبى كريم ﷺ ته مې پيش كړې. نبى كريم ﷺ هغه اوخوړلې. بيا نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې ائې جابر ﷺ! ستا جونګړه چرته ده. ما ورته اوخودله، زما دپاره دې څه د څملاستو ځائې جوړ كړه، ما ورته جوړ كړو. نبى كريم ﷺ دننه تشريف يوړو او آرام ئې اوكړو. د بيداريدو نه پس ما څه نورې كهجورې هغه ته پيش كړې. نبى كريم ﷺ هغه اوخوړلې. بيائې يهودى سره خبرې اترې شروع كړې خو هغه اونه منل او مهلت وركولو نه ئې انكار اوكړو. نو په دريم ځل نبى كريم ﷺ كهجورو لره راغلل او وې فرمائيل چې ائې جابره ﷺ! ته شوكوه. او دې يهودى ته ئې وركوه. نبى كريم ﷺ د كهجورو د شوكولو په ځائې كښې تشريف كيخودو. نو ما هغه هومره كهجورې اوشوكولې او دې يهودى ته مې دهغه قرض اداكړو، څه باقى پاتې شوې، څه بهر راووتلم او نبى كريم ﷺ ته مې د قرض ادا كيدو زيرې وركړو، نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې څه ګواهى وركوم چې څه دالله ﷻ رسول يم.

دعروش او عريش نه مراد مكان دې: په سند كښې د ابوغسان نوم محمد بن مطرف دې او دابوحازم نوم سلمه بن دينار دې، دې نه پس ابراهيم بن عبدالرحمان بن ابى ربيعه دې، د ابوربيعه نوم عمرو يا حذيفه دې، دده ځوئې عبدالله دفتح مكه په موقع اسلام قبول كړې وو، دده د جاهليت په زمانه كښې نوم بحير وو، نبى كريم ﷺ دده نوم بدل كړو او عبدالله

ئې دده نوم کیخودو. د عبدالله شمیر په اشراف قریش کښې کیدلو. [۱]

ابراهیم بن عبدالرحمان: د ابراهیم بن عبدالرحمان په بخاری شریف کښې صرف دا یو حدیث دې. [۲]

دا د ام کلثوم بنت ابوبکر صدیق رضي الله عنه خوئې دې. عائشه صدیقه رضي الله عنها دده ترور ده.

دې د جابر بن عبدالله، عائشه صدیقه رضي الله عنها او د خپل نیکه عبدالله بن ابی ربیعه رضي الله عنه نه روایت نقل کوی. [۳]

اګر چې ابن القطان (یعنی بن سعید) ددوئ باره کښې اووئیل چې «لایعرف له حال». [۴]

لیکن نورو ائمه د جرح وتعدیل دوئ ته ثقه وائی، ابن خلفون فرمائی چې «هو ثقه مشهور» اوپه حاکم کښې ئې ددوئ د حدیث تصحیح کړې ده. [۵]

ابن حبان په کتاب الثقات کښې ددوئ ذکر کړې دې. [۶]

امام بخاری رحمه الله په تاریخ کبیر کښې دد تذکره کړې ده. [۷]

قوله: وَكَانَ يُسْلِفُنِي فِي تَمْرِي إِلَى الْجِدَادِ: هغه یهودی به په دې وعده چې دکهجورو شوکلو باندې ئې ادا کوی، ماته ئې قرض راکړې وو.

«جداد» د جیم په کسره او فتحه دواړه رنګ وئیلې کیږی، شوکول ته وائی. یعنی د کهجورو شوکولو زمانې پورې ئې ماته قرض راکړې وو.

په دې باندې اشکال کیږی چې «سلف الی الجداد» د شولووخته پورې قرض ورکول، د امام بخاری رحمه الله په نیز دا جائز نه دی. [۸]

دویم اشکال دادې چې نورو ثقه راویانو داقصه نقل کړې ده، په هغې کښې دی چې قرض په جابر رضي الله عنه باندې نه وو بلکه دهغه په والد باندې وو، او دلته دی چې قرض په جابر رضي الله عنه باندې وو، نودا حدیث پاك شاذ دې. ځکه چې د شاذ تعریف دې چې «ما رواه الثقه مخالفالما رواه احفظ منه واضبط». [۹]

---

[۱] الاستیعاب لابن عبدالبر: ۸۹۶/۳، والتجرید للذهبی: ۳۱۰/۱).
[۲] فتح الباری: ۷۰۸/۹ عمدة القاری: ۶۹/۲۱)
[۳] اوګورئی تهذیب الکمال: ۱۳۳/۲، رقم الترجمه: ۲۰۲).
[۴] تهذیب الکمال: ۱۳٤/۲).
[۵] تعلیقات تهذیب الکمال للدکتور بشار عواد: ۱۳٤/۲).
[۶] کتاب الثقات لابن حبان: ۱۰/٤، اول کتاب التابعین).
[۷] تاریخ البخاری الکبیر: ۲۹۶/۱، ۲۶۷، اوګورئی الجرح والتعدیل لابن ابی حاتم: ۱۱۱/۱، والجمع لابن القیسرانی: ۲۰/۱).
[۸] فتح الباری: ۷۰۸/۹)
[۹] (ظفر الامانی بشرح السید الشریف الجرجانی: ۳۶۹/۲، وعلوم الحدیث لابن الصلاح النوع الثالث معرفة الشاذ: ۷۶ - ۷۹، وتیسیر مصطلح الحدیث: ۱۱۶، الشاذ والمحفوظ.)

د دوهمي اشکال جواب دادې چې سلف الى الجذاذ هغه وخت کښې جائز نه دې کله چې عقد بيع کښې وخت متعين شوې نه وى، ليکن که وخت متعين شوې وى، نو په دې صورت کښې جائز دى، دلته دا اختصار په وجه صرف سلف الى الجذاذ ذکر دې، ګنى اصل عقد کښې وخت متعين وو. (١)

د دويم اشکال جواب دادې چې دشذوذ تعدد واقعې په وجه لرې کيديشي. يعنى ډير ممکن دى چې قرض دجابر رضي الله عنه په پلار هم وو او جابر رضي الله عنه باندې هم، نورو ثقه راويانو د جابر رضي الله عنه دپلار قصه ذکر کړې ده او روايت باب کښې پخپله د جابر رضي الله عنه دقرض واقعه ذکر شوې ده، نو داشان داحديث پاك د تعدد واقعات په وجه شاذ نه دې، شاذ به هلته وې چې واقعه يو وه او يو ثقه راوى ددې په بيان کښې دخپل نه زيات ثقه راويانو نه مخالفت کړې وى، دلته داسې نه دى. (٢)

قوله: فَجَلَسَتْ، فَخَلاَ عَامًا: ددې جملې شراح حديث مختلف تشريحات کړى دى.

① ابو مروان ابن سراج فرمائى چې (جَلَسَتْ) د مفرد متکلم صيغه ده، جابر رضي الله عنه فرمائى چې زه کيناستم يعنى دقرض د اداکولو نه زه روستو شوم ، او (خلى) يا باب تفعيل نه د (تخلية) نه دې. په معنى د (تاخر) په دې کښې ضمير فاعل (سلف) په معنى د قرض طرفته راجع کول دى، (اى تاخر السلف عاما) يعنى هغه قرض يو کال پورې مؤخر شو يا (خلا) مجرد کښې د (خلو) هم ددې تاخر په معنى کښې ده. (٣)

②دويم مطلب ددې دا بيان شوېدې چې دا لفظ (جَلَسَتْ) دې، د مفرد مؤنث غائب صيغه ده، او د ضمير فاعل (ارض) طرفته راجع دې اومخکښې لفظ (فخلا) نه بلکه (نخلا) دې او صحيح عبارت دې (فَجَلَسَتْ، فَخَلاَ عَامًا.... اى تاخرت الارض عن الاثمار من جهة النخل) يعنى زمکه دکهجورې فصل ورکولو نه يو کال پورې کيناستله، روايت کښې دى چې (نخلا) کښې تصحيف اوکړې شو او دا دا (فخلا) کړې شو. (٤)

③د اصيلى په روايت کښې دى چې د (جلست) په ځائې (حبست) په معنى د منع کولو ده، او د ابونعيم په روايت کښې دى چې (خنست) په معنى د (تاخرت) دې (٥)په دې دواړو صورتونو کښې معنى واضح ده.

(١) (فتح البارى :٩/٧٠٨، وعمدة القارى :٦٩/٢١).
(٢) عمدة القارى:٢١/، فتح البارى :٩/).
(٣) فتح البارى :٩/٧٠٩).
(٤) فتح البارى :٩/٧٠٩، عمدة القارى:٦٩/٢١).
(٥) فتح البارى :٩/٧٠٩، عمدة القارى:٦٩/٢١).

④ د اسماعیلی په روایت کښې دی چې د ا پوره جمله داشان ده چې (فخنست علی عاما) یعنی هغه زمکه په مابانديې یو کال مؤخره شوه (علی) کښې تصحیف کړې شوې دې. چا دا (فخلی) جوړ کړې دې. او چا (نخلا) جوړ کړې دې. [1]

⑤ د کشمهینی رحمه الله روایت کښې دی چې دا (فخاست) دې، چې ددې معنی خلاف ورزوی کوونکې ده. (ای خالفت الارض معهودها وحملها) [2]

قوله: وَلَمْ أَجُدَّ مِنْهَا شَيْئًا: (لَمْ أَجُدَّ) دهمزه په فتحه او د جیم ضمه او دال په تشدید سره، د باب نصر نه د واحد متکلم صیغه ده، (جدا لشئ...... جدا وجداد) شول کول. (فهو مجدود) دحضرت جابر رضی الله عنه مطلب دا وو چې تر اوسه ما په باغ کښې هیڅ نه وو شوکولې.

قوله: أَيْنَ عَرِيشُكَ: (العریش، المکان الذی اتخذته فی البستان لستظیل به و تقیل فیه) [3] په باغ کښې د ارام دپاره چې کوم چپر یا جونګړه جوړولې شی هغې ته عریش وائی.

قوله: ثُمَّ قَالَ «يَا جَابِرُ جُدَّ: (جد) د (جداذ) نه دې، یعنی ائې جابر رضی الله عنه اوشوکوه، (واقض ای اوف) یعنی قرض ادا کړه.

قوله: فَقَالَ «أَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ: دې کښې چونکه د خرق عادت په طور ډیر کم خیزونه په طور د معجزې کافي شو ددې وجې نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا جمله اوفرمائیله.
د باب آخر کښې د ابن عباس رضی الله عنهما تعلیق په کتاب التفسیر کښې موصولا تیر شوې دې. [4]

۴۲- باب أَكْلِ الْجُمَّارِ

[۵۱۲۹] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي مُجَاهِدٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ- رضى الله عنهما- قَالَ بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم- جُلُوسٌ إِذْ أُتِيَ بِجُمَّارِ نَخْلَةٍ فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم- «إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ لَمَا بَرَكَتُهُ كَبَرَكَةِ الْمُسْلِمِ». فَظَنَنْتُ أَنَّهُ يَعْنِي النَّخْلَةَ، فَأَرَدْتُ أَنْ أَقُولَ هِيَ النَّخْلَةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. ثُمَّ الْتَفَتُّ فَإِذَا أَنَا عَاشِرُ عَشَرَةٍ أَنَا أَحْدَثُهُمْ فَسَكَتُّ، فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم- «هِيَ النَّخْلَةُ».[ر: ۶۱]

امام بخاری رحمه الله مقصد جمار یعنی دکهجورې د ګابهې جواز خودلې دی چې داخوړل جائز

[1] فتح الباری :۷۰۹/۹ عمدة القاری:۶۹/۲۱).
[2] فتح الباری :۷۰۹/۹ عمدة القاری:۶۹/۲۱).
[3] فتح الباری :۷۰۹/۹).
[4] کشف الباری :(کتاب التفسیر):۲۰۲).

دی، په روایت باندې تفصیلی کلام په کتاب العلم کښې تیر شوې دې. (۱)

۴۱-باب العَجْوَةِ. (۲)

[۵۱۳۰] حَدَّثَنَا جُمُعَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مَرْوَانُ أَخْبَرَنَا هَاشِمُ بْنُ هَاشِمٍ أَخْبَرَنَا عَامِرُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «مَنْ تَصَبَّحَ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعَ تَمَرَاتٍ عَجْوَةً لَمْ يَضُرَّهُ فِي ذَلِكَ الْيَوْمِ سُمٌّ وَلاَ سِحْرٌ». [۵۴۳۵، ۵۴۳۶، ۵۴۴۳]

قوله: عجوة: د مدینې منورې یو خاص قسم مشهورې کهجورې دی، کتاب الطب کښې ددې تفصیل راځی.

حدیث پاك کښې نبی کریم ﷺ ددې فضیلت بیان کړېدې چې سړې که د سحر په وخت کښې اووهٔ عجوه کهجورې اوخوری نو په دغه ورځ به ده ته زهر نقصان نه اورسوی اونه به ورته جادو.

قوله: جمعه بن عبدالله: حدیث پاك امام بخاری رحمه الله په رومبی ځل ذکر کړې دې، په دې کښې امام بخاری رحمه الله شیخ جمعه بن عبدالله بلخی دې، د جمعه د جیم په ضمه او د میم په سکون سره دې. ځینو وئیلی دی چې دده نوم یحیی دې، جمعه دده لقب دې. (۳)

ابن حبان په کتاب الثقات کښې ددې ذکر کړېدې، او دوئ ته ئې مستیقم الحدیث وئیلی دی. (۴)

دوئ په کال ۲۳۳ هجرئی کښې وفات شو. (۵)

«وماله فی البخاری بل ولافی الکتب الستة سوی هذا الحدیث» (۶)

۴۲-باب القِرَانِ فِی التَّمْرِ

د دوؤ کهجورو په یو ځائې خوړلو کښې اختلاف دې.

دظاهر یه په نیز دوه کهجورې یو ځائې خوړل جائز نه دی. (۷)

---

(۱) کشف الباری :(کتاب التفسیر)

(۲) (۵۱۳۰) الحدیث اخرجه البخاری ایضا فی کتاب الطب باب الدواء بالعجوه للسحر رقم الحدیث:۶۵۳۵. وفی باب ما یذکر فی اسم النبی ﷺ :رقم الحدیث :۵۴۴۳. واخرجه مسلم فی کتاب الاطعمة: باب فضل تمر المدینة رقم الحدیث:۲۰۴۷. اخرجه ابوداؤد فی کتاب الطب باب فی تمر العجوة :۴/فتح الباری:۹/رقم الحدیث:۳۸۷۶).

(۳) تهذیب الاکمال :۱۲۰/۵. رقم الترجمة:۹۶۲).

(۴) کتاب الثقات لابن حبان:۱۶۵/۸).

(۵) تهذیب الکمال :۱۲۱/۵. تهذیب الکمال :۱۱۱/۲، ۱/رقم الترجمة:۱۰۹۰).

(۶) فتح الباری :۷۱۱/۹).

(۷) شرح مسلم للنووی:۱۸۱/۲).

جمهور وائي چې دا مکروه دی.[۱]
امام نووی رحمه الله فرمائی چې په دې کښې تفصيل دې. که کهجورې د ډيرو سړو په مينځ کښې مشترك وی او يو ځائې خوراك دپاره ناست وی نو دهغوئ د اجازت نه بغير دوه يو ځائې خوړل جائز نه دی. البته داجازت په صورت کښې هيڅ باك نشته دې. که صراحتا اجازت ملاؤ شی او يا دلالة، چونکه پهدې کښې دټولو برابر حق دې، اوس که څوك دوه دوه خوری نو د نورو په مقابله کښې به زيات وصول کوونکې وی، چې دهغې د اجازت نه بغير دې مستحق نه دې.[۲]
البته که مشترك کهجورې نه وی، ذاتی دی نو ددې نه دخپلې خوښې اخستلې شی او خوړلې شی، خو په دې کښې ذکر شوې علت نشته دې.
عائشه صديقه رضي الله عنها او جابر رضي الله عنه نه منقول دی چې دوه کهجورې يو ځائې کول او خوړل ددې وجې مکروه دی چې په دې کښې د حرص د هوس شائبه موندې شی.[۳]
عائشه صديقه رضي الله عنها او جابر نه منقول دی چې دوه دوه کهجورې يو ځائې خوړل ځکه مکروه دی چې په دې کښې د حرص وهوس شائبه موند شی.[۴]
د امام محمد رحمه الله او دنورو ډيرو عالمانو رائې ذاده چې د اسلام په شروع کښې د قران فی التمر منع کړې شوې وه، دې نه پس ددې اجازت ورکړې شو.[۵]
بريده رضي الله عنه نه يو مرفوع روايت هم په مسند بزار کښې دې دوئ اوفرمائيل چې (كنت نهيتكم عن القران فى التمروان الله وسع عليكم فاقرنوا)[۶] ما تاسو مخکښې د قران فی التمر نه منع کړې وی. ددې وجې چې عسرت او قتلت زمانه وه، او الله جل جلاله وسعت راوستو، ددې وجې اوس په دې کښې هيڅ حرج نشته دې.

[۵۱۳۱] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا جَبَلَةُ بْنُ سُحَيْمٍ قَالَ أَصَابَنَا عَامُ سَنَةٍ مَعَ ابْنِ الزُّبَيْرِ فَرَزَقَنَا تَمْرًا، فَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ يَمُرُّ بِنَا وَنَحْنُ نَأْكُلُ وَيَقُولُ لاَ تُقَارِنُوا فَإِنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - نَهَى عَنِ الْقِرَانِ. ثُمَّ يَقُولُ إِلاَّ أَنْ يَسْتَأْذِنَ الرَّجُلُ أَخَاهُ. قَالَ شُعْبَةُ الإِذْنُ مِنْ قَوْلِ ابْنِ عُمَرَ.[ر: ۲۳۲۳]

جبله بن سحيم د کوفی اوسيدونکې دې او تابعی دې، بخاری شريف کښې ددوئ روايتونه صرف د عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه دی، فرمائی چې مونږ د عبدالله بن زبير رضي الله عنه په زمانه کښې قحط کښې اخته شو، هغوئ مونږ ته کهجورې راکړې، هغه مونږ سره تيريدواو مونږ

[۱] شرح مسلم للنووی:۱۸۱/۲،باب نهی الاکل مع جماعة عن قران تمرتين ونحوهما فی لقمة الا باذن اصحابه)
[۲] شرح مسلم للنووی:۱۸۱/۲).
[۳] فتح الباری :۸۱٤/۹، باب القران فی التمر).
[۴] (فتح الباری: ۷۱٤/۹ باب القران فی التمر)
[۵] مرقات شرح مشکوة کتاب الاطعمة:۱۷۳/۸).
[۶] فتح الباری :۹/ ۷۰٤)

كهجورې خوړلې. نو وې فرمائيل چې دوه كهجورې په يو ځائې مه خورئ ځكه چې نبى كريم ﷺ ددې نه منع فرمائيلې ده. بيا فرمائى چې مگر دا چې سړې د خپل رور نه اجازت واخلى. نو په دې صورت كښې دوه يو ځائې خوړلې شى.

قوله:قال شعبة: الاان من قول ابن عمر: دا تعليق نه دې بلكه ماقبل سند سره متصل دې. شعبة فرمائى چې «الا ان يستاذن الرجل اخاه» دحديث پاك مرفوع حصه نه ده بلكه داد عبدالله رضي الله عنه قول دې، نوخطيب ددې روايت تخريج كړې دې، په دې كښې تصريح ده چې «وقال ابن عمرالاان يستاذن الرجل اخاه» ([1])

ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې د شعبه په اصحابو كښې ځينې دې لره مرفوع كوى. ځينې دا په تردد سره نقل كوى چې دا مرفوع دې يا موقوف دې او ځينو جزم سره وئيلى دى دا موقوف دې يعنى شعبة نه روايت كوؤنكو كښې تعارض دې.

نورو تابعينو كښې سفيان رحمه الله، ابن اسحاق رحمه الله، شيبانى رحمه الله، مسعر رحمه الله او زيد بن ابى انيسه رحمه الله دا روايت نقل كړې دې.

د سفيان ثورى روايت په كتاب الشركة كښې تير شوې دې، ددې الفاظ دى چې «نهى ان يقرن الرجل بين التمرتين جميعا يستاذن اصحابه» ([2])

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې «وهذا ظاهره الرفع مع احتمال الادراج» ([3])

د شيبانى رحمه الله روايت ابوداؤد نقل كړې دې چې «نهى عن الاقران الا ان تستاذن اصحابه» ([4])دا هم ظاهرا مرفوع دې ليكن ادراج احتمال په دې كښې هم دې.

د زيد بن ابى انيسه روايت ابن ابى حبان نقل كړې دې، ددې الفاظ دې چې «من اكل مع قوم من تمرفلا يقرن فان اراد ان يفعل ذالك فليستاذنهم فان اذنوا فليفعل» ([5])

ددې وجې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې «فالذى ترجح عندى ان لا ادراج» يعنى د ټولو روايتونو مخكښې ايخودو نه پس دا معلوميږى چې اذن قول دحديث مرفوع حصه ده، موقوف نه. ([6])

٤٣-باب بِالْقِثَّاءِ.

[٥١٣٢] حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِاللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ

---

[1]) فتح البارى :٧١٢/٩)

[2]) صحيح بخارى كتاب الشركة باب القران فى التمرتين الشركاء رقم الحديث:٢٤٩٠).

[3]) فتح البارى :٧١٢/٩).

[4]) سنن ابوداؤد كتاب الاطعمة باب الاقران فى التمرعندالاكل:رقم الحديث:٣٦٢/٣ : ٣٨٣٤).

[5]) دا هم ظاهرا مرفوع دې. د ادراج احتمال نه بهر حال دا هم خالى نه دې)

[6]) فتح البارى :٧١٣/٩).

سَمِعْتُ عَبْدَاللّٰهِ بْنَ جَعْفَرٍ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَأْكُلُ الرُّطَبَ بِالْقِثَّاءِ. [ر: ۵۱۲۴]

د (قثاء) ترجمه بادرنگ او د (خيار) ككړي كړي شوې دې ده، د نبي كريم ﷺ عادت مبارك د دواړو په باره كښې دا وو چې نبي كريم ﷺ به رطب يعنى لمدې كهجورو سره به دا يو ځائې اوخوړل ، ځكه چې د بادرنګ تاثير يخ وى، اود كهجورې ګرم، دواړه يو ځائې كول او استعمالول سره اعتدال پيدا كيږى.(بطيخ) خربوزه، به هم نبي كريم ﷺ كهجورې سره خوړله، نو د ابوداؤد په روايت كښې دى چې (كان رسول الله ﷺ ياكل البطيخ بالرطب فيقول بكسر حر هذا ببرد هذا، وبرد هذا بحر هذا) ([1])

۴۴-باب بَرَكَةِ النَّخْلِ.

[۵۱۲۳] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ طَلْحَةَ عَنْ زُبَيْدٍ عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةٌ تَكُونُ مِثْلَ الْمُسْلِمِ، وَهِيَ النَّخْلَةُ [ر: ۶۱]

په دې كښې څه شك نشته دې چې د كهجورې ونه ډيره بركتناكه وى، ددې ګټكى ماتولو نه پس ځناورو لره وركولې شى، ددې دپاڼړو پكئ جوړيږى، ددې ښاخونه د چتونو دپاسه خلق استعمالوى، ددې تنا هم په تعمير كښې دستنې او شهتير په ځائې استعماليږى، غرض دا چې هر خيز دې كار آمد دې.

حديث باب باندې تفصيلى بحث په كتاب العلم كښې تير شوې دې. ([2])

۴۵-باب جَمْعِ اللَّوْنَيْنِ أَوِ الطَّعَامَيْنِ بِمَرَّةٍ.

[۵۱۳۴] حَدَّثَنَا ابْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ أَخْبَرَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ-رضى الله عنهما- قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صلى الله عليه وسلم- يَأْكُلُ الرُّطَبَ بِالْقِثَّاءِ. [ر: ۵۱۲۴]

نبي كريم ﷺ بهٔ ترلمدې كهجورې بادرنګ سره خوړلې، ددې نه معلوم شو چې جمع اللونين يا جمع طعامين يعنى دوه مختلف قسمونه ميوى يا خوراك جمع كولې شى.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې ددې باب نه شائد امام بخارى رحمه الله د انس رضي الله عنه نه مروى دهغه حديث تضعيف طرفته اشاره كړې ده، چې په هغې كښې وارد شوى دى چې د نبي كريم ﷺ په خدمت كښې يو لوښى پيش كړې شو چې په هغې كښې پئ او شهد وو، نو نبي كريم ﷺ اوفرمائيل چې :(ادمان فى اناء..... لا اكله ولا احرمه) ([3])دوه پخكړى په يو لوښى كښې دى ؟ څه به نه دا اوخوروم او نه به دا حرام ګنړم، په دې روايت كښې چونكه يو

---

[1]) سنن ابوداؤد كتاب الاطعمة فى الجمع بين لونين فى الاكل:۳/۳۶۳ رقم الحديث :۳۸۳۶).

[2]) اوګورئى كشف البارى كتاب العلم)

[3]) فتح البارى :۹/ ۷۱۵).

مجهول راوي دې ددې وجې دا ضعيف دې.

۴۶-باب مَنْ أَدْخَلَ الضِّيفَانَ عَشَرَةً عَشَرَةً.

[۵۱۳۵] حَدَّثَنَا الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنِ الْجَعْدِ أَبِي عُثْمَانَ عَنْ أَنَسٍ. وَعَنْ هِشَامٍ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَنَسٍ. وَعَنْ سِنَانٍ أَبِي رَبِيعَةَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أُمَّ سُلَيْمٍ أُمَّهُ عَمَدَتْ إِلَى مُدٍّ مِنْ شَعِيرٍ، جَشَّتْهُ وَجَعَلَتْ مِنْهُ خَطِيفَةً، وَعَصَرَتْ عُكَّةً عِنْدَهَا، ثُمَّ بَعَثَتْنِي إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ فِي أَصْحَابِهِ فَدَعَوْتُهُ قَالَ «وَمَنْ مَعِي». فَجِئْتُ فَقُلْتُ إِنَّهُ يَقُولُ، وَمَنْ مَعِي، فَخَرَجَ إِلَيْهِ أَبُو طَلْحَةَ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّمَا هُوَ شَيْءٌ صَنَعَتْهُ أُمُّ سُلَيْمٍ، فَدَخَلَ فَجِيءَ بِهِ وَقَالَ «أَدْخِلْ عَلَىَّ عَشَرَةً». فَدَخَلُوا فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا، ثُمَّ قَالَ «أَدْخِلْ عَلَىَّ عَشَرَةً». فَدَخَلُوا فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا، ثُمَّ قَالَ «أَدْخِلْ عَلَىَّ عَشَرَةً». حَتَّى عَدَّ أَرْبَعِينَ، ثُمَّ أَكَلَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- ثُمَّ قَامَ، فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ هَلْ نَقَصَ مِنْهَا شَيْءٌ. [ر: ۴۱۲]

د امام بخاري رحمه الله مقصد دادې چې که ميلمانه ډېر زيات وي او ځائې تنګ وي نو دوئ لره تقسمولې شي او لږ لږ کينول او دوئ ته خوراك وركولې شي،

ترجمة الباب كښې د «عشرة» قيد احترازى نه دې چونكه حديث كښې ذكر وو چې «ادخل على عشرة ادخل على عشرة» نو ددوئ رعايت سره امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب كښې د «عشرة» قيد لګولې دې، ګنې د موقع او محل اعتبار سره كه ته پنځوس پنځوس كينول غواړې نو هم په دې كښې څه باك نشته دې، دځائې مطابق ميلمانه كينولې شي.

انس رضي الله عنه فرمائي چې دده مور بى بى ام سليم يو مد اوربشې دليا كړې وى او په دې باندې هغې د خپل لوښى نه غوړى واچول، بيا ئې د نبى كريم صلى الله عليه وسلم پسې اوليږلم، څه نبى كريم صلى الله عليه وسلم لره راغلم نو په دغه وخت كښې نبى كريم صلى الله عليه وسلم حضرات صحابه كرام رضي الله عنهم سره ناست وو، ما ورته دعوت وركړو، نو نبى كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چې ماسره كوم ملګرى دى او دا هم لاړشى ؟ څه واپس راغلم او دا اطلاع مې وركړه چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم فرمائى چې آيا هغه خلق ماسره راشى چې ماسره ناست دى ؟ نو ابوطلحه د نبى كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې حاضر شو او عرض ئې اوكړو چې يارسول الله صلى الله عليه وسلم ! چې څه مو تيار كړى دى هغه كم دى. نبى كريمو صلى الله عليه وسلم تشريف راوړو، هغه خوراك نبى كريم صلى الله عليه وسلم لره راوړې شو، نبى كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چې لس لس كسان دننه راؤبلئ، هغه خلق راغلل او ټولو په مړه خيټه خوراك اوفرمائيلو. تر دې پورې څلويښت كسان شمار كړې شو، بيا نبى كريم صلى الله عليه وسلم خوراك اوفرمائيلو، او اته اودريدل، مادې خوراك ته كتل په دې كښې هيڅ نه وو كم شوى.

قوله: <u>حبشته اى جعلته جشيشا، والجيش دقيق غيرناعم</u>: يعنى ددې نه ئې دليا جوړه كړه، د «جش» معنى دل كول او نيم كوفته جوړول دى، د «خطيفة» او «عصيدة» يو معنى ده هغه

خوراك چې اوږهٔ كدوهٔ كړې شي او جوړولې شي، په دې كښې غوړى هم شامولولې شي (١)
ابن بطال رحمه الله فرمائى چې په يو ځائې خوراك كولو كښې بركت دې. امام ابوداؤد رحمه الله په دې سلسله كښې يوروايت هم نقل كړې دې (فاجتمعوا على طعامكم واذكروا اسم الله يبارك لكم فيه) (٢)

٤٧- باب مَا يُكْرَهُ مِنَ الثُّومِ وَالْبُقُولِ.

فِيهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم

[٥١٣٦] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ قَالَ قِيلَ لأَنَسٍ مَا سَمِعْتَ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فِي الثُّومِ فَقَالَ «مَنْ أَكَلَ فَلاَ يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا». [ر: ٨١٨]

[٥١٣٧] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا أَبُو صَفْوَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِي عَطَاءٌ أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ- رضي الله عنهما- زَعَمَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلاً فَلْيَعْتَزِلْنَا، أَوْ لِيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا». [ر: ٨١٦]

امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې ئې هغه سبزيانې مكروه اوګرزولې چې په هغې كښې دننه بوئى وى، لكه اوږه، پياز، مولئ او كندنا وغيره.
د اوږې وغيره متعلق د جمهورو علماء مسلك دادې چې دا مكروه تنزيهى ده. دظاهريو په نيز مكروه تحريمى ده ځكه چې ددې بدبوئى سره فرښتو او خلقو ته تكليف رسى.
البته حرام نه دى ځكه چې ابوايوب انصارى رضي الله عنه چې كله دا سبزيانې د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې پيش كړې نو نبى كريم ﷺ دااونه خوړلې، هغوئ تپوس اوكړو چې يارسول الله ﷺ آيا دا حرام دى څه؟ نو نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې حرام نه دى، (لكنى اكرهه من اجل ريحه) ددې دبدبوئى په وجه ځما دانه دى خوښې.
امام ترمذى دې حديث پاك ته حسن وئيلى دى.
او بل روايت كښې دى چې نبى كريم ﷺ فرمائى چې (كل فانى اناجى من لاتناجى) (٣)
ددې نه دعامو خلقو حق كښې ددې سبزيانو استعمالولو اباحت معلوميږى ليكن دا اباحت به هله وى چې كله نورو ته تكليف نه وى.
د بدبوئى په وجه دا خوښ كړې شوى نه دى ليكن چونكه په دې كښې نورې فائدې هم دى، ددې وجې دا پخول او په نورو طريقو سره ددې بوئى ختمول او دا خوړل بهر حال د فائدې نه خالى نه دې نو يو حديث پاك كښې دى چې (ان كنتم لابد اكليهما فاميتوهما طبخا) (٤)

---

(١) فتح البارى: ٧١٧/٩)
(٢) فتح البارى: ٧١٧/٩)
(٣) اوګورئى سنن الترمذى كتاب الاطعمة باب ماجاء فى كراهية اكل الثوم والبصل: ٢٦١/٤، رقم الحديث: ١٨٠٧).
(٤) اوګورئى سنن ابو داؤد كتاب الاطعمة باب اكل الثوم: ٢٦١/٤، رقم الحديث: ٣٧٢٧، ٣٢١/٣).

البته د نبی کریم ﷺ په حق کښې د دې استعمال د ځینې عالمانو په نیز حرام وو او د ځینو په نیز مکروه وو. (۱)

روایت باب کښې دی چې کوم سړې اوږه یا پیاز اوخوری، نو هغه دې زمونږ نه بیل وی یائې اوفرمائیل چې هغه دې زمونږ د مسجد نه بیل وی، د «مسجدنا» نه مطلقا مساجد مراد دی، د مسجد نبوی ﷺ تخصیص نشته دې، نو ځینو روایتونو کښې «فلا یقربن المساجد» الفاظ راغلی دی، ددې وجې دا حکم ټولو مسجدونو لره شامل دې. (۲)

۴۸- بَابُ الْكَبَاثِ، وَهُوَ ثَمَرُ الأَرَاكِ.

[۵۱۳۸] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِمَرِّ الظَّهْرَانِ نَجْنِي الْكَبَاثَ فَقَالَ «عَلَيْكُمْ بِالأَسْوَدِ مِنْهُ، فَإِنَّهُ أَيْطَبُ». فَقَالَ أَكُنْتَ تَرْعَى الْغَنَمَ قَالَ «نَعَمْ، وَهَلْ مِنْ نَبِيٍّ إِلاَّ رَعَاهَا». [ر: ۳۲۲۵]

ځینو نسخو کښې د «کباث» تشریح ورق والا سره کړې شوې ده. دا سهوه ده، د پیلو ونې ته «کباث» نه وائی، بلکه د پیلو میوې ته کباث وائی.

جابر ﷜ فرمائی چې مونږ نبی کریم ﷺ سره مقام مرالظهران کښې وو، مونږ د پیلو د ونې میوې شوکولې، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې د تور رنګ والا اوشوکوئی، ځکه چې هغه ښه وی، نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړې شو چې آیا نبی کریم ﷺ چیلئ څرولې دی څه؟ ځکه چې دا چیلو څرولو والا عموما پیژنی، نبی کریم اوفرمائیل چې آؤ یو نبی کریم ﷺ به هم داسې نه وی تیر شوی چې هغه چیلئ څرولې نه وی.

«ایطب: اطیب» معنی دہ او ددې مقلوب دې لکه جذب، جبذ.

۴۹- بَابُ الْمَضْمَضَةِ بَعْدَ الطَّعَامِ.

[۵۱۳۹] حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ سُوَيْدِ بْنِ النُّعْمَانِ قَالَ:

خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- إِلَى خَيْبَرَ، فَلَمَّا كُنَّا بِالصَّهْبَاءِ دَعَا بِطَعَامٍ فَمَا أُتِيَ إِلاَّ بِسَوِيقٍ، فَأَكَلْنَا فَقَامَ إِلَى الصَّلاَةِ، فَتَمَضْمَضَ وَمَضْمَضْنَا.

قَالَ يَحْيَى سَمِعْتُ بُشَيْرًا يَقُولُ حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- إِلَى خَيْبَرَ، فَلَمَّا كُنَّا بِالصَّهْبَاءِ- قَالَ يَحْيَى وَهْىَ مِنْ خَيْبَرَ عَلَى رَوْحَةٍ- دَعَا بِطَعَامٍ فَمَا أُتِيَ إِلاَّ

---

۱) فتح الباری: ۳۱۸/۹).

۲) فتح الباری: ۳۱۸/۹)

بِسَوِيقٍ، فَلُكْنَاهُ فَأَكَلْنَا مَعَهُ، ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَمَضْمَضَ وَمَضْمَضْنَا مَعَهُ، ثُمَّ صَلَّى بِنَا الْمَغْرِبَ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ. وَقَالَ سُفْيَانُ كَأَنَّكَ تَسْمَعُهُ مِنْ يَحْيَى. [ر: ۲۰۶]

خوراك كولو نه پس خوله كنبې اوبه اچول، يعنى خوله ګنګالول، مستحب دى چونكه په غابښونو او اورو وغيره كنبې د خوراك خنبڅوكى پاتې شى نو ددې وجى خوله كنبې اوبه اچول او خوله صفا كول پكار دى.

د باب دواړو روايتونو كنبى د مضمضمه ذكر دې.

قوله: وَقَالَ سُفْيَانُ كَأَنَّكَ تَسْمَعُهُ مِنْ يَحْيَى: سفيان رحمه الله خپل شاګرد على بن عبدالله ته اوفرمائيل چې ته دا حديث ځما نه اؤرې، دا داسې اوګنړه چې ته دا ځما نه نه آؤرې، بلكه ځما استاد د يحيى بن سعيد انصارى نه آؤرې، يعنى دا ما ته دومره ياد دې چې لفظ بلفظ ئې بيا نوم لكه څنګه چې ما د يحيى نه آؤريدلې وو. دا اوګنړه چې ګويا ته ئې د يحيى بن سعيد نه آؤرې.

۵۲- باب لَعْقِ الأَصَابِعِ وَمَصِّهَا قَبْلَ أَنْ تُمْسَحَ بِالْمِنْدِيلِ.

[۵۱۴۰] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ عَطَاءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: «إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَمْسَحْ يَدَهُ حَتَّى يَلْعَقَهَا أَوْ يُلْعِقَهَا».

د خوراك كولو نه پس لاسونه په رومال وغيره سره اوچولو نه مخكنبې هغه دې اوڅټلې شى. او دې نه پس دې بيا لاسونه اوچ كړې شى، نو رومال به زيات نه ګنده كيږى، امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كنبې (مسح بالمنديل) سره غالبا دې روايت طرفته اشاره كړې ده چې كوم امام مسلم رحمه الله ذكر فرمائيلې دې، په هغې كنبې دى چې (فلا يمسح يده بالمنديل حتى يلعق اصابعه) [1] يعنى ګوتې دې رومال سره اوچولو نه مخكنبې اوڅټلې شى.

په څو ګوتو خوراك كول پكا ردى : (فلا يمسح يده.....)، (يد) پورا لاس نه بلكه دې نه ګوتې مراد دى. ځكه چې د مسلم شريف په روايت كنبې دى چې (ان رسول الله ﷺ كان ياكل بثلاث اصابع فاذا فرغ لعقها) [2] يعنى نبى كريم ﷺ به په دريو ګوتو سره خوراك كولو او د فارغيدو نه پس به ئيې ګوتې څټلې.

طبرانى د كعب بن عجره نه روايت نقل كړېدې چې په هغې كنبې د دريو ګوتو تفصيل دې، هغه فرمائى چې (رايت رسول الله ﷺ ياكل باصابعه الثلاث بالابهام، والتى تليها والوسطى ويلعق الوسطى ثم التى تليها ثم الابهام) يعنى كټه ګوته د شهادت ګوته، او مينځنۍ ګوته.. دې دريو

[1] صحيح مسلم كتاب الاطعمة باب استحباب لعق الاصابع: ۱۶۰۶/۳، رقم الحديث:۲۰۳۲).
[2] صحيح البخارى كتاب الاطعمة باب استحباب لعق الاصابع:۱۶۰۶/۳، رقم الحديث : ۲۰۳۳).

واړو ګوتو سره به ئې خوراك کولواو د ټولو نه مخکښې مینځئ ګوته، بیا د شهادت ګوته او په آخر کښې به ئې مته ګوته څټله.
ددې نه هم دا خبره معلومه شوه چې دریو ګوتو سره خوراك کول مستحب دی، اګر چې په پنځو ګوتو سره خوراك جائز دې، او د ابن شهاب زهری رحمه الله په یو مرسل روایت کښې د نبی کریم ﷺ نه هم ثابت دی په هغې کښې دی چې (ان النبی ﷺ كان اذا اكل اكل بخمس) [۱]
قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چې د دریو ګوتو نه زیاتو ګوتو سره خوراك کولو دپاره استعمالولو کښې یو د حرص او هوس شائبه داده چې ضرورت دریو ګوتو سره پوره کیږی او که خوراك داشان وی چې په دریو ګوتو سره نمړئی نه صحیح جوړیږی نو بیا څلورمه او پنځمه ګوته دې سره بلاکراهت استعمالولې شی. [۲]

قوله: حَتى يَلْعَقَهَا أَوْ يُلْعِقَهَا: تر دې پورې چې خپله ئې اوڅټی او یا ئې بل اوڅټی. ړومبئ مجرد باب سمع دې، په معنی د څټلو او دویم باب د افعال نه دې په معنی د بل باندې څټل.

د ګوتو په څټلو کښې مصلحتونه: دګوتو په څټلو کښې درې علتونه یا مصلحتونه بیان شوی دی. ① یو دا چې د څټلو نه پس رومال وغیره زیات ګنده نشی اوتلویت به هم نه وی.
② دویم علت د مسلم شریف یو روایت بیان کړې شوې دې.(اذا سقطت لقمة احدكم فليمط ما اصابها من اذى وليأكلها ولا يدعها للشيطان ولا يمسح يده بالمنديل حتى يلعقها او يلعقها فانه لا يدرى فى اى طعامه البركة) [۳]

اود طبرانی د روایت الفاظ دی چې (فانه لايدرى فى اى طعامه يبارك له) [۴]
د برکت اصلی معنی زیاتې دې، دلته ددې نه مراد څه دې؟ امام نووی رحمه الله فرمائی چې (والمراد بالبركة ماتحصل به التغذية وتسلم عاقبته من الاذى ويقوى على الطاعة) [۵]
③ قاضی عیاض رحمه الله په یو دریم روایت کښې بیان فرمائی چې هغوئ فرمائی چې ددې حکم په دې وجه ورکړې شوچې دطعام اوغذا قلیل مقدارهم سپك اوحقیراونه ګنړلې شی.[۶]
البته بل باندې څټلو کښې ددې خبرې اهتمام دې وی چې په چا باندې ګوتې څټې چې هغه کراهت اوکرکه نه محسوسوی، لکه ښځه، خادم، بچې وغیره. [۷]

---

[۱]) مجمع الزوائد :۲۸/۳، وطبقات ابن سعد:۳۸۱/۱).
[۲]) فتح البارى :۷۲۱/۹)
[۳]) صحيح مسلم كتاب الاطعمة باب استحباب لعق الاصابع:۱۶۰۶/۳، رقم الحديث: ۲۰۳۳).
[۴]) فتح البارى :۹/ ۷۲۲).
[۵]) شرح مسلم للنووى كتاب الاطعمة باب استحباب لعق الاصابع:۱۷۵/۲)
[۶]) فتح البارى :۷۲۲/۹)
[۷]) فتح البارى :۷۲۲/۹)

ځينو خلقو اعتراض کړې دې چې ګوتې څټل څه خوښ عمل نه دې، علامه خطابى رحمه الله ددې اعتراض او ددې جواب ذکر کوى او فرمائى چې:

(عاب قوم افسد عقلهم الترفه فزعموا ان لعق الاصابع مستقبح كانهم لم يعلموا ان الطعام الذى علق باصابع اوالصحفة جزء من اجزاء ما اكلوه واذا لم يكن سائر اجزائه مستقذرا لم يكن الجزء اليسير بالاصابع منه مستقذرا وليس فى ذلك اكبر من مصه اصابعه بباطن شفتيه ولا يشك عاقل فى ان لا باس بذالك فقد يمضمض الانسان فيدخل اصبعه فى فيه فيدلك اسنانه وباطن فمه ثم لم يقل احد ان ذالك قذارة او سوء ادب) ([1])

حديث باب نه يو دا خبره هم معلوم شوه چې خوراك كولو نه پس لاس اوچول مستحب دى.

قاضى عياض رحمه الله فرمائى چې دا په هغه وخت كښې دى چې كله د لاسونو د وينځلو ضرورت نه وى، لكه لاسونو ته څه غوړوالې وغيره نه دې لګيدلې، ليكن كه په لاسونو باندې غوړوالې وى او صرف لاسونه اوچولو سره هغه نه زائل كيږى نو داسې صورت كښې لاسونه وينځل پكار دى. ([2])

لاسونه د خوراک نه مخکښې او روستو وينځل پكار دى: امام ابوداؤد رحمه الله په صحيح سند سره يو روايت نقل فرمائى چې (من نام وفى يده غمر ولم يغسله فاصابه شئ فلا يلومن الا نفسه) ([3])يعنى د.شپې يو سړې په دې حالت كښې اوده شى چې دده په لاس كښې څه غوړوالې او څه بوئى وى اوپه دې باندې څه زهريله ځيز ورشى. يعنى څه چينجې وغيره او چيچې نو بس هغه دې خپل ځان ملامت كړى او دا دې د خپل غفلت نتيجه اوګڼړى.

امام ترمذى رحمه الله د سلمان فارسى رضي الله عنه يو روايت نقل كړې دې چې نبى كريم ﷺ فرمائى چې (بركة الطعام الوضوء قبله والوضوء بعده) ([4])يعنى د خوراك نه مخكښې او خوراك نه پس لاسونه او خوله وينځل دبركت باعث دى، په دې حديث پاك كښې د اودس نه مراد وضوء نه دې كوم چې مونځ دپاره كولې شى، بلكه لاسونه وينځل اوخوله وينځل مراد دى.

سفيان ثورى رحمه الله دخوراك نه مخكښې لاسونه وينځلو ته مكروه وائى، امام ابو داؤد دا ضعيف ګڼړلې دې. ([5])

٥٣- باب المنديل

[٥١٤١] ([6])حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ قَالَ حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ

---

[1]) فتح البارى :۷۲۲/۹)

[2]) فتح البارى :۷۲۲/۹)

[3]) (سنن ابى داؤد كتاب الاطعمة باب فى غسل اليدين من الطعام رقم الحديث:۳۸۵۲، ۳۶۶/۳)

[4]) فتح البارى :۷۲۲/۹)

[5]) سنن الترمذى كتاب الاطعمة باب ماجاء فى الوضوء قبل الطعام وبعده رقم الحديث :۴۶، ۱، ۳۸۲/۴).

[6]) (الحديث اخرجه ابن ماجه كتاب الاطعمة باب مسح اليد بعد الطعام:۱۰۹۲/۲، رقم الحديث:۳۲۸۲)

سَعِيدِبْنِ الْحَارِثِ عَنْ جَابِرِبْنِ عَبْدِاللّٰهِ رضي الله عنهما أَنَّهُ سَأَلَهُ عَنِ الْوُضُوءِمِمَّا مَسَّتِ النَّارُ، فَقَالَ لَاقَدْكُنَّا زَمَانَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- لَانَجِدُمِثْلَ ذٰلِكَ مِنَ الطَّعَامِ إِلَّاقَلِيلاً، فَإِذَانَحْنُ وَجَدْنَاهُ لَمْ يَكُنْ لَنَا مَنَادِيلُ، إِلَّاأَكُفَّنَاوَسَوَاعِدَنَاوَأَقْدَامَنَا، ثُمَّ نُصَلِّي وَلَانَتَوَضَّأُ.

امام بخاري رحمه الله په دې باب کښې د خوراك کولو نه پس رومال سره لاسونه داوچولو جواز ثابت کړې دې، جابر رضي الله عنه فرمائي چې اور باندې پخ شوې خوراك مونږ ته د نبی کريم ﷺ په زمانه کښې ډېر کم نصيب شوې وو او کله چې به مونږ ته دا قسمه خوراك ملاؤ شو نو مونږ سره د لاسونو، پښو او تلو نه سوا رومالونه نه وو. يعنی مونږ خلقو به خپل لاسونه د بدن په دې حصو باندې اوچول، بيا به مونږ مونځ کولو او دخوراك کولو په وجه به مونږ اودس نه کولو ځکه چې ما مست النار ناقض وضو نه دې.

ددې حديث پاك د مفهوم نه معلوميږی چې امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې ثابت کړی دی چې مونږ سره رومال نه وو، ددې وجې قدمونه او لاسونو وغيره سره به مو لاسونه اوچول، ددې مفهوم دا راؤزی که رومال مونږسره وې نومونږ به پددې باندې لاسونه اوچول.

امام قفال په (محاسن الشريعة) کښې ليکلی دی چې منديل يعنی رومال نه هغه رومال مراد دې چې اودس يا غسل نه پس استعماليږی بلکه هغه توليه هم مراد ده چې خوراك کولو نه پس چې دلاسونو لوندوالئ اوغوړوالئ وغيره د صفا کولو دپاره استعماليږی. [1]

۵۲-باب مَا يَقُولُ إِذَافَرَغَ مِنْ طَعَامِهِ.

[۵۱۴۲] حَدَّثَنَا أَبُونُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ ثَوْرٍعَنْ خَالِدِبْنِ مَعْدَانَ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - كَانَ إِذَا رَفَعَ مَائِدَتَهُ قَالَ «الْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ، غَيْرَمَكْفِيٍّ، وَلَامُوَدَّعٍ وَلَامُسْتَغْنًى عَنْهُ، رَبَّنَا».

[۵۱۴۳] حَدَّثَنَا أَبُوعَاصِمٍ عَنْ ثَوْرِبْنِ يَزِيدَ عَنْ خَالِدِبْنِ مَعْدَانَ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- كَانَ إِذَافَرَغَ مِنْ طَعَامِهِ -وَقَالَ مَرَّةً إِذَارَفَعَ مَائِدَتَهُ- قَالَ «الْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِي كَفَانَاوَأَرْوَانَا، غَيْرَمَكْفِيٍّ، وَلَامَكْفُورٍ -وَقَالَ مَرَّةً الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّنَا، غَيْرَمَكْفِيٍّ، وَلَامُوَدَّعٍ -وَلَامُسْتَغْنًى، رَبَّنَا».

د خوراك کولو نه پس د الله جل جلاله حمدوثناء بيانول او شکر کول مستحب او مسنون دی، احاديثو کښې مختلف ادعيه منقول دی، امام بخاری رحمه الله دلته درې دعاګانې نقل کړی دی.

① رومبئ دعا داده: (الْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ، غَيْرَ مَكْفِيٍّ، وَلَا مُوَدَّعٍ وَلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ، رَبَّنَا) يعنی زيات د الله جل جلاله ښهٔ شکر او برکت دې کوم چې کفايت به نشی کولې. يعنی د شکر حق مونږ نشو ادا کولې او دا نه پريښودې شی اونه دهغه د پاك ذات نه استغنا اوبې نيازی اختياورلې شی، ائې زمونږه ربه!

[1] فتح الباری: ۷۲۰/۹.

قوله: غَيْرَمَكْفِيٍّ: د «مکفی» په تشریح کښې شارحینو مختلف اقوال لیکلي دی. داد حمد صفت هم جوړولې شی. (۱) پورته ترجمه هم ددې مطابق کړې شوې ده چې زمونږ د طرفنه کوم حمد او شکر دې هغه هر ګز کافی نه دې لیکن دا پرېښودې هم نشی. لهذا مونږ د خپل استعداد مطابق ددوئ حمد وشکر ادا کوؤ. او دا د طعام صفت هم کیدلې شی نو علامه عینی رحمه الله لیکی چې:

«لفظ مکفی من الکفایة وهو اسم مفعول اصله مکفوی علی وزن مفعول ولما اجتمعت الواؤ والیاء قلبت الواؤیاء وادغمت الیاء ثم ابدلت ضمة الیاء کسرة لاجل الیاء والمعنی هذا الذی اکلنا لیس فیه کفایة لما بعده بحیث انه ینقطع ویکون هذا الاکل بل هو غیر منقطع عنا بعد هذا بل تستمر هذه النعمة لنا طول اعمارنا ولا تنقطع» (۲)

ددې حاصل دادې چې «لفظ مکفی» د اسم مفعول صیغه ده، د «مرمی» په وزن باندې دې، د «مرمی» قاعده په دې کښې جاری شوې ده او دا د «طعام» صفت دې او مطلب دادې چې دا کوم خوراك مونږ اوکړو، د بعد دپاره داکافی نه دې. ګویا په دې کښې ضمنا ددې خبرې درخواست دې چې دا نعمت مونږ نه دې منقطع نه وی اودادې مسلسل جاری وی.

قوله: ولا مودعٍ: «مودع» د میم په ضمه او د واؤ او د دال په فتح او تشدید سره دباب تفعیل نه صیغه د اسم مفعول ده. په معنی د متروك چې هغې ته الوداع وئیلې شوی وی. دا خو د حمد صفت دې چې هغه شکر پرنښودې شو او یا د طعام صفت دې چې په دې طعام رغبت او ددې طلب متروك نه دې یا دې طعام ته «مودع» دا دال په کسره سره د اسم فاعل صیغه هم کیدې شی یعنی مونږ خو دې طعام ته الوداع او رخصت والا نه یو. (۳)

«ربنا»: دا منادی منصوب دې، حرف ندا محذوف دې یعنی «یاربنا» او دې لره «هو» مبتدا محذوف خبر هم جوړولې شو. (۴)

② دویمه دعا ده: «اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ كَفَانَا وَأَرْوَانَا، غَيْرَ مَكْفِيٍّ وَلَا مَكْفُوْرٍ»: شکر دهغه الله تعالی دپاره دې چې هغه پاك ذات زمونږ کفایت اوکړو، مونږ ئې سیراب کړو، نه دهغه بې نیازی کولې شی اونه دهغه ناشکری کولې شی.

③ دریمه دعا داده: «اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّنَا، غَيْرَ مَكْفِيٍّ وَلَا مُوَدَّعٍ ـ وَلَا مُسْتَغْنًى، رَبَّنَا» په دې کښې رومبې «ربنا» د الله تعالی صفت او دویم «ربنا» منادی دې.

④ یو دعا امام ابوداؤد رحمه الله هم نقل کړې ده:

(۱) فتح الباری :۹/ ۷۲۵)
(۲) عمدة القاری:۲۱/۷۸)
(۳) عمدة القاری:۲۱/۷۸. فتح الباری :۹/)۷۲۵
(۴) عمدة القاری:۲۱/۷۸)

«الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِی اطعمنا وسقانا وجعلنا من المسلمین» (۱)

⑤ یو دعا امام ابو داؤد رحمه الله دې الفاظو سره نقل کړې ده چې:

«الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِی اطعم وسقی وسوغه وجعل له مخرجا» (۲)

⑥ یو دعا امام نسائی رحمه الله نقل فرمائیلې ده، دهغې الفاظ دادی چې:

«اللهم اطعمت وسقیت واغنیت واقنیت وهدیت واحییت فلك الحمد علی ما اعطیت» (۳)

⑦ یوه بله دعا هم امام ترمذی رحمه الله نقل کړې ده چې:

«الحمد لله الذی اطعمنی هذا ورزقنیه من غیر حول منی ولا قوة» (۴)

۵۵- باب الأَكْلِ مَعَ الْخَادِمِ.

[۵۱۴۴] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُحَمَّدٍ - هُوَ ابْنُ زِيَادٍ - قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ: «إِذَا أَتَى أَحَدَكُمْ خَادِمُهُ بِطَعَامِهِ، فَإِنْ لَمْ يُجْلِسْهُ مَعَهُ فَلْيُنَاوِلْهُ أُكْلَةً أَوْ أُكْلَتَيْنِ، أَوْ لُقْمَةً أَوْ لُقْمَتَيْنِ، فَإِنَّهُ وَلِيَ حَرَّهُ وَعِلَاجَهُ». [ر: ۲۴۱۸]

دامام بخاری رحمه الله مقصد دادې چې یو خادم خوراك تیار کړې دې، کله چې خوړلو دپاره کینې او هغه خوراك راوړی نو هغه دې هم ځان سره کینوی، اوکه مصلحت اجازت نه ورکوی یا خوراك کم وی نو هغه ته دې کم از کم یو نمړئی دوه ورکړې شی ځکه چې د خوراك په وخت کښې هغه ګرمی او سختی برداشت کړې ده، ددې دپاره ئې په انتظامات کولو کښې تکلیف اوچت کړې وو. نو دا مناسبه نه دی چې تاسو هغه بالکل نظر انداز کړئی.

په دې کښې دا هم مصلحت دې که دې طریقې سره نظر انداز کړې شو نو ددې نتیجه به دا وی چې هغه به بیا دپاره کوم خوراکونه تیاروی نو هغې کښې به خیانت نه کوی.

روایت کښې علاج نه مراد خوراك تیارول او جوړول دی.

د مسلم شریف روایت کښې دی چې: «فان کان الطعام مشفوها قلیلا فلیضع فی یده منه اکله او اکلتین» (۵) یعنی خادم دې ځان سره کینولې شی، لیکن که خوراك مشفوه یعنی ددې خوراك والا زیات وی او خوراك کم وی نو ده ته دې یولقمه دوه ورکړې شی.

او د ترمذی شریف په روایت کښې دی چې «اذا کفی احدکم خادمه طعامه حره ودخانه فلیاخذه بیده فلیقعده معه فان ابی فلیاخذ لقمه فلیطعمها ایاه» (۶)

---

(۱) ابوداؤد کتاب الاطعمة باب ما یقول الرجل اذا طعم رقم الحدیث :۵۰۳۸، ۳۶۶/۳).
(۲) ابوداؤد کتاب الاطعمة باب ما یقول الرجل اذا طعم رقم الحدیث :۵۰۳۸، ۳۶۶/۳).
(۳) فتح الباری :۹/ ۷۲۵)
(۴) ابوداؤد کتاب الاطعمة باب ما یقول اذا فرغ من الطعام رقم الحدیث :۵۰۵۶، ۵۰۸/۵).
(۵) صحیح مسلم کتاب الایمان باب الطعام المملوک مما یاکل : ۱۲۸٤/۳، رقم الحدیث :۱۶۶۳).
(۶) سنن الترمذی کتاب الاطعمة باب ماجاء فی الاکل مع المملوک والعیال : ۲۸۶/٤. رقم الحدیث :۱۸۵۳)

۵۴- باب الطَّاعِمُ الشَّاكِرُ مِثْلُ الصَّائِمِ الصَّابِرِ.

فِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم

خپل خان لره د مفطراتو ثلاثه نه منع کول او صبر کولو والا د روژه درا اجر ټولو ته معلوم دي ليکن خوراك باندې دالله ﷻ شکر کوونکئ د هغه پاك ذات په نعمت باندې هم د روژه دار په شان مستحق د اجروثواب.

د شارح بخاری ابن بطال رحمه الله بيان دي چې دا هم د الله ﷻ فضل ا واحسان دې چې په خوراك باندې د الله ﷻ شکر کوونکی ته اجر ورکوی، لکه څنګه چې روژه دار ته په صبر کولو باندې ورکوی. [1]

علامه طيبی رحمه الله د دواړو په مينځ کښې وجه تشبه بيانوی او فرمائی چې دصائم او شاکر دواړو په مينځ کښې حبس نفس موندې شی، صائم کښې ظاهر دی اوشاکر کښې داشان چې هغه خپل نفس لرد منعم حقيقی د محبت او تعظيم پابند جوړه وی. [2]

بيا څينو حضراتو اوفرمائيل چې دشادکر او صائم دواړو ثواب برابر دې. نو علامه طيبی ليکی چې: «ورد الايمان نصفان نصف صبرو نصف شكر وربما يتوهم متوهم ان ثواب الشكر يقصر عن ثواب الصبرفازيل توهمه به يعنی هما متساويان فی الثواب» [3]

ليکن د علامه کرمانی رحمه الله کلام نه معلوميږی چې د صائم اجر دشاکر نه زيات دې او دلته تشبيه په نفس استحقاق کښې ورکړې شوې دې، کميت وکيفيت کښې نه دې، نوهغه فرمائی چې: «الشتبيه هنا فی اصل الثواب لافی الكمية ولاالكفية والتشبيه لايستلزم المماثلة من جميع الاوجه» [4]

ددوئ يو دليل دا هم دې چې صائم مشبه به دې او مشبه به د مشبه مقابله کښې اعلی و ارفع وی. [5]

قوله: فِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِي ﷺ: امام بخاری رحمه الله دابوهريره رضی الله عنه دا روايت چرته هم په صحيح بخاری کښې موصولا نه دې ذکر فرمائيلې. [6]

ابن حبان رحمه الله په خپل صحيح کښې دا روايت ذکر کړې دې چې «قال رسول الله ﷺ الطاعم الشاكر بمنزلة الصائم الصابر» [7]

---

[1]) فتح الباری :۷۲۸/۹)
[2]) عمدة القاری:۸۰/۲۱، وشرح طيبی كتاب الاطعمة:۱۵۶/۸).
[3]) عمدة القاری:۸۰/۲۱، وشرح طيبی كتاب الاطعمة:۱۵۶/۸).
[4]) شرح كرمانی : ۶۶/۲۰، فتح الباری :۷۳۸/۹)
[5]) فتح الباری :۷۲۸/۹)
[6]) فتح الباری :۷۲۷/۹)
[7]) عمدة القاری:۸۰/۲۱)

۵۵- بَاب الرَّجُل يُدْعى إِلى طَعَامٍ فيَقُولُ وَهٰذَا مَعى.

وَقَالَ أَنَسٌ إِذَا دَخَلْتَ عَلَى مُسْلِمٍ لَا يُتَّهَمُ فَكُلْ مِنْ طَعَامِهِ، وَاشْرَبْ مِنْ شَرَابِهِ. ۱۰۷/۷

[۵۱۴۵] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أَبِي الأَسْوَدِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ حَدَّثَنَا شَقِيقٌ حَدَّثَنَا أَبُو مَسْعُودٍ الأَنْصَارِي قَالَ كَانَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ يُكْنَى أَبَا شُعَيْبٍ، وَكَانَ لَهُ غُلَامٌ لَحَّامٌ، فَأَتَى النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- وَهُوَ فِي أَصْحَابِهِ، فَعَرَفَ الْجُوعَ فِي وَجْهِ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- فَذَهَبَ إِلَى غُلَامِهِ اللَّحَّامِ فَقَالَ اصْنَعْ لِي طَعَامًا يَكْفِي خَمْسَةً، لَعَلِّي أَدْعُو النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- خَامِسَ خَمْسَةٍ. فَصَنَعَ لَهُ طُعَيِّمًا، ثُمَّ أَتَاهُ فَدَعَاهُ، فَتَبِعَهُمْ رَجُلٌ فَقَالَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- «يَا أَبَا شُعَيْبٍ إِنَّ رَجُلًا تَبِعَنَا فَإِنْ شِئْتَ أَذِنْتَ لَهُ، وَإِنْ شِئْتَ تَرَكْتَهُ». قَالَ لَا بَلْ أَذِنْتُ لَهُ.

که چرې د يو سړي دپاره دعوت اوکړې شو، په دې دعوت کښې ده سره يو بل سړې بغير دعوت نه راغلو. نو هه دې هغه ځائې کښې اووائي چې ماسره دې هم دې. که اجازت ملاؤ شو نو صحيح ده ګنی دده دپاره دعوت کښې شريکيدل جائز نه دی، حديث باب مخکښې تير شوې دې او د طفيلي مسئله هم هلته بيان کړې شوې ده.

قوله: <u>وَقَالَ أَنَسٌ إِذَا دَخَلْتَ عَلَى مُسْلِمٍ لَا يُتَّهَمُ فَكُلْ مِنْ طَعَامِهِ، وَاشْرَبْ مِنْ شَرَابِهِ</u>: انس رضی الله عنه فرمائی چې کله تاسو يو داسې مسلمان لره ورشئ چې متهم نه وی نو هغه سره ته هم خوراك کولې شې.

طبرانی او حاکم د ابوهريره رضی الله عنه نه ددې مفهوم يو مرفوع حديث هم نقل کړې دې. ‹اذا دخل احدکم علی اخيه المسلم فاطعمه طعاما فلياکل من طعامه ولا يساله عنه› (۱)

د انس رضی الله عنه ددې تعليق مناسبت ترجمة الباب سره بيانوی او علامه عينی رحمه الله فرمائی چې:

‹مطابقة هذا التعليق للترجمة من حيث ان الرجل اذا دخل علی رجل مسلم سواء بدعوة او بغيرها فوجد عندها اکلا اوشربا هل يتناول من ذالك شيئا فقال انس ياکل ويشرب اذا لم يکن الرجل المدخول عليه لا يتهم فی دينه ولا فی ماله›

حاصل دادې چې باب کښې د طفيلی مسئله بيان کړې شوې ده او انس رضی الله عنه ددې تعليق ‹اذا دخلت علی مسلم› کښې رابللی او نه رابللی دواړو صورتونو نهٔ داخل دی، که څوك بغير بللو نه لاړو نو هغه طفيلی دې، چې ددې ترجمة الباب کښې ذکر دې، تعليق او ترجمة خاص دې، امام د عام نه د خاص حکم ثابت کړې دې.

او ددې تعليق حديث باب سره مناسبت بيانوی، حافظ ابن حجر رحمه الله ليکی چې:

---

(۱) المستدرک للامام الحاکم کتاب الاطعمة: ۱۲۶/۴، عمدة القاری: ۲۱/ ۸۰)

«و مطابقة الاثر للحدیث من جهة کون الحاکم لم یکن منهما واکل النبی ﷺ من طعام ولم یساله» [1]
دانس ﷺ دا تعلیق ابن ابی شیبة موصولا نقل کړي دي. [2]

٥٦- باب إِذَا حَضَرَ الْعَشَاءُ فَلَا يَعْجَلْ عَنْ عَشَائِهِ.

[٥١٤٦] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِي. وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي جَعْفَرُ بْنُ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ أَنَّ أَبَاهُ عَمْرَو بْنَ أُمَيَّةَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَحْتَزُّ مِنْ كَتِفِ شَاةٍ فِي يَدِهِ، فَدُعِيَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَلْقَاهَا وَالسِّكِّينَ الَّتِي كَانَ يَحْتَزُّ بِهَا، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى، وَلَمْ يَتَوَضَّأْ. [ر: ٢٠٥]

[٥١٤٧] حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضى الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ: «إِذَا وُضِعَ الْعَشَاءُ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ». وَعَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - نَحْوَهُ. وَعَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ تَعَشَّى مَرَّةً وَهُوَ يَسْمَعُ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ.

[٥١٤٨] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ: «إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ وَحَضَرَ الْعَشَاءُ فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ». قَالَ وُهَيْبٌ وَيَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ هِشَامٍ «إِذَا وُضِعَ الْعَشَاءُ».

ترجمة الباب «عشائه» بفتح العين، نه مراد د ماښام ډوډئی مراد ده، او وړاندې «العشاء» کښې دوه احتماله دي.

① «العشاء» د عين کسره سره، تيرې نه مراد د ماسختن مونځ دې، او مطلب دادې که دماسختن ډوډئی راغلی ده او دسترخوان باندې خوره شوې ده نو ډوډئی خوړونکی باندې به تيزی نه شی کولې، ده ته به ددې اجازت ورکولې شی چې ښه په آرام سره خوراك اوکړی.

② دويم احتمال دادې چې «العشاء» د عين په فتحه سره دې، «ضد الغداء» مراد ترې نه د ماښام ډوډئی ده او مطلب دادې چې د ماښام ډوډئی چې کله کيخودې شی نو خوړونکی باندې به عجلت نه کوی، بلکه هغه بۀ په اطمينان سره خوراك کوی، بيابه مونځ کوی.
حافظ ابن حجر رحمه الله دا روايت راجع ګرزولې دې او فرمائی چې حديث کښې دمازيګر ذکر دې د ماسختن دمونځ نه دې. ددې وجې «عشاء» بفتح العين دې او مراد ترې نه ډوډئی ده مونځ نه دې. [3]

---

[1] عمدة القاری: ۲۱/۷۲۸
[2] فتح الباری: ۹/۷۲۹ عمدة القاری: ۲۱/۸۰
[3] فتح الباری: ۹/۷۲۹

د باب په رومبی روایت کښې دی چې د نبی کریم ﷺ په لاس مبارك کښې د چيلۍ د شا غوښهٔ وه، نبی کریم ﷺ هغه په چاړه پريکوله، اذان اوشو نو نبی کريم ﷺ هغه غوښه او چاړه دواړه کيخودل او اودريدل مونځ کښې مشغول شو.

(فالقاها) په دې کښې ضمير مؤنث (قطعة اللحم) طرفته راجع دې، يا (كشف) طرفته راجع دې او هغه مؤنث سماعی دې. [1]

ترجمة الباب سره دحديث پاك مناسبت بيانوی چې علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چې ددې حديث پاك نه چونکه د مونځ وخت کښې د نبی کريم ﷺ په ډوډئی مشغوليدل معلوميږی، ددې وجې امام بخاری رحمه الله دا په دې ځائې کښې ذکر کوی چې دمونځ په وخت کښې اشتغال بالکل جائز دې. [2]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې باب کښې ذکر شوې وړاندې د عمر فاروق رضي الله عنه او عائشه صديقه رضي الله عنها رواياتو کښې (فابدءوابالعشاء) د امر صيغه راغلې ده، چې مونځ اودريږی او ډوډئی هم تياره وه نو ډوډ وړاندې کوئی امام بخاری دعمرو بن اميه روايت مخکښې ذکر کړو او دې خبرې طرفته اشاره ئې اوکړه چې (فابدءوابالعشاء) کښې امر وجوب دپاره نه دې.

د رومبې روايت سند کښې (وقال الليث) تعليق دې دا اسماعيلی موصولا نقل کړې دې. [3]

قوله: (وعن ايوب عن نافع.......): دا تعليق نه دې، ماقبل سند سره متصل دې (وقال وهيب ويحيى بن سعيد.......) دا دواړه تعليقات دی د وهيب روايت اسماعيلی او د يحيى بن سعيد روايت لره امام احمد موصولا نقل کړې دې. [4]

مونځ مقدم دې اوکه ډوډئی: اکثرو روايتونو کښې د (اذا وضع العشاء) الفاظ راغلی دی ددې وجې چې په کومو روايتونو کښې (اذا حضر العشاء) الفاظ راغلی دی، هلته (حضر) نه (وضع) مراد دی، اګرچې (حضر) عام دې، مطلب دادې چې کله ډوډئی حاضره شی او په دسترخوان باندې کيخودې شی نو خوراك مقدم کول پکار دی.

دا مسئله په کتاب الصلوة کښې تيره شوې ده.

دظاهريه په نيزد داسې صورت کښې تقديم طعام واجب دې. هغوئ حديث پاك کښې وارد صيغې لره وجوب باندې محمول کوی.

د ائمه اربعه او جمهور علماء کرامو مسلك دادې که ډوډئی حاضره شی او اولږه وی نو داسې صورت کښې دې ډوډئ مقدم کړې شی، ليکن که ډوډئی لا نه وی کيخودلې شوې او

---

[1] فتح الباری :۷۳۰/۹)

[2] شرح الکرمانی :۶۷/۲۰).

[3] فتح الباری :۷۳۰/۹).

[4] فتح الباری :۷۳۰/۹)

اولړه هم نه وی نو بیا مونځ مقدم کول پکار دی. د اولړې په صورت کښې تقدیم د طعام وجه داده چې مونځ به د ډوډئی نه پس په اطمینان سره اوکړی. که مونځ ئې مقدم کړو نو خیال به په ډوډئی کښې وی. د امام ابو حنیفه رحمه الله مشهوره مقوله ده چې (ان اجعل الطعام صلاة خیر من ان اجعل الصلاة طعاما) د ډوډئی په وخت کښې د مونځ فکر کول ددې نه بهتر ددی چې مونځ کولو کښې د خوراك خیال وی. (۱)

۵۷- باب قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى (فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا)

[۵۱۴۹] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ أَنَسًا قَالَ أَنَا أَعْلَمُ النَّاسِ بِالْحِجَابِ كَانَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ يَسْأَلُنِي عَنْهُ، أَصْبَحَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَرُوسًا بِزَيْنَبَ ابْنَةِ جَحْشٍ وَكَانَ تَزَوَّجَهَا بِالْمَدِينَةِ، فَدَعَا النَّاسَ لِلطَّعَامِ بَعْدَ ارْتِفَاعِ النَّهَارِ، فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَجَلَسَ مَعَهُ رِجَالٌ بَعْدَ مَا قَامَ الْقَوْمُ، حَتَّى قَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَمَشَى وَمَشَيْتُ مَعَهُ، حَتَّى بَلَغَ بَابَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ، ثُمَّ ظَنَّ أَنَّهُمْ خَرَجُوا فَرَجَعْتُ مَعَهُ، فَإِذَا هُمْ جُلُوسٌ مَكَانَهُمْ، فَرَجَعَ وَرَجَعْتُ مَعَهُ الثَّانِيَةَ، حَتَّى بَلَغَ بَابَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ فَرَجَعَ وَرَجَعْتُ مَعَهُ، فَإِذَا هُمْ قَامُوا، فَضَرَبَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ سِتْرًا، وَأُنْزِلَ الْحِجَابُ. [ر: ۴۵۱۳]

د امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چې دعوت وغیره کښې د خوراك نه فارغیدو نه پس واپس راتلل پکاردی هلته ناسته اوخبرې اترې کول او کوربه دپاره بوج جوړیدل صحیح نه دی.

امیر خسرو یو ځل د چا یو دعوت کښې شریك وو، د ډوډئی نه د فارغیدو نه پس په خبرو کښې مشغول شو. یو جولا مالوچ ډانډچ کول شروع کړل. د ډانډچ په مخصوص آواز وی، چا تپوس اوکړو چې دا ډانډچ څه وائی، نو امیر خسرو اووئیل چې دا وائی چې:

نان که خوردی خانه برو _ (خوراك نه پس کور ته لاړشئ)

---

(۱) (معارف السنن ابواب الصلاة باب ماجاء اذا حضر العشاء واقیمت الصلاة:۳۹۸/۳، و مرقاة المفاتیح کتاب الصلاة باب الجماعة وفضلها:۵۳/۳، وحاشیة الطحطاوی علی الدر المختار:۲۴۱/۱ والجوهرة النیر:۶۹، والبحر الرائق:۳۶۷/۱).

۷۴- كتاب العقيقة

(الاحاديث: ۵۱۵۰-۵۱۵۷)

كتاب العقيقه كښې څلور بابونه ادولس احاديث دى، په دې كښې درې معلق او باقى موصول دى، اته احاديث مكرر دى اوته دڅلورو احاديثو تخريج امام بخارى په دې كښې په اول ځل كړې دې په دغه څلورو كښې دوه متفق عليه دى.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

۷۴- كتاب العقيقة

د عقيقه لغوى او اصطلاحى معنى: عقيقه هغه ځناور ته وائى چې دنومولود طرفنه ذبح كولې شى. [1]

ابوعبيده رحمه الله، اصمعى رحمه الله او زمحشرى رحمه الله فرمائى چې عقيقه اصل كښې هغه ويښتو ته وائى چې د نوى پيدا شوى بچى په سر باندې وى. د (عق) معنى ده پريكول چونكه هغه ويښته خرئيلې شې. ددې وجې هغه ته (عقيقه) وائى بيا په دې حالت كښې ذبح شوې چيلئ ته (عقيقه) وائى. [2]

علامه خطابى رحمه الله فرمائى چې (لعقيقة اسم الشاة المذبوحة عن الولد سميت بذالك لانها تعق مذابحها اى تشق وتقطع.....) [3]يعنى عقيقه د هغه چيلئ نوم دې چې دبچى د طرفنه ذبح كولې شى ددې وجې هغې ته عقيقه وائى چې د هغې رګونه پريكولې شى.

يو حديث پاك كښې هم چيلئ باندې دعقيقه اطلاق كيږى. (للغلام عقيقتان وللجارية عقيقة)[4]

علامه ابن فارس رحمه الله فرمائى چې عقيقه د بچى ويښتو او دهغه د طرفنه ذبح شوې چيلئ دواړو ته وائى. [5]

د عقيقې حكم: ① داؤد ظاهرى رحمه الله، ابن حزم رحمه الله او دا ظاهريه په نيز عقيقه واجب ده، د امام احمد بن حنبل رحمه الله يو روايت هم ددې مطابق دې. [6]

② د امام شافعى رحمه الله په نيز عقيقه سنت مؤكده ده، د امام احمد رحمه الله دويم روايت هم ددې

---

[1]) فتح البارى :۹/ ۷۳۲، ارشاد السارى:۲۱۹/۱۲، والنهاية لابن الاثير:۲۷۶/۳).

[2]) فتح البارى :۷۳۲/۹، والفائق للزمحشرى:۱۱/۳ باب العين مع القاف).

[3]) فتح البارى :۷۳۲/۹ عمدة القارى:۸۲/۲۱)

[4]) فتح البارى :۷۳۲/۹).

[5]) اوګورئى معجم مقايس اللغة لابن الفارس:۴/ ۴، كتاب العين باب العين وما بعدها فى المضاعف).

[6]) اوګورئى المحلى لابن حزم، كتاب العقيقة، :۲۳۴/۶، و اوجزالمسالک:۲۱۹/۹).

مطابق دي.([1]) ③ د حضرات مالکینو په نزد عقیقه مندوب او مستحب ده.([2]) -
④ د حضرات احنافو په مسلك کښې روایات او نقول مختلف دی.
امام ابوحنیفه رحمه الله، امام ابو یوسف رحمه الله او د امام محمد رحمه الله ظاهر الروایت دا دې چې عقیقه مشروع نه ده بلکه مکروه ده، نو امام احمد رحمه الله مؤطا کښې فرمائی چې:
«اما العقیقة فبلغنا انها کانت فی الجاهلیة وقد فعلت فی اول الاسلام ثم نسخ الاضحی کل ذبح کان قبله ونسخ صوم شهر رمضان کل یوم قبله ونسخ غسل الجنابة کل غسل کان قبله ونسخت الزکوة کل صدقة کان قبلها کذالك بلغنا»([3])
ددې روایت حاصل دا دې چې عُقیقه د جاهلیت په زمانه کښې رائج وه، او ابتدائی اسلام کښې هم ددې رواج وو لیکن بیا د اضحیه یعنی قربانۍ مشروعیت نه پس منسوخ شوې ده، لهذا اوس ددې مشروعیت باقی پاتې نشو، نو هغوئ په جامع الصغیر کښې تصریح کړې ده چې «ولایعق عن الغلام ولاعن الجاریة»
د امام محمد رحمه الله ذکر شوی دلایل: امام محمد رحمه الله دلته «بلغنا» وائی او دوه روایتونه ئې جمع کړې دی، د ړومبی روایت تخریج هغوئ په کتاب الاثار کښې د ابراهیم نخعی رحمه الله او محمد بن الحنفیة نه کړې دې.
① «عن ابی حنیفة رحمه الله عن حماد عن ابراهیم قال: کانت العقیقة فی الجاهلیة فلما جاء الاسلام رفضت»([4])
«وعنه عن رجل عن محمد بن الحنیفة ان العقیقة کانت فی الجاهلیة فلما جاء الاسلام رفضت»([5])
امام محمد رحمه الله په کتاب الاثار کښې د یومفهوم دوه روایتونه ذکر کړې وی او دې نه پس فرمائی چې: «به ناخذ وهو قول ابی حنیفة رحمه الله»
② او د دویم روایت تخریج دار قطنی د مسیب بن شریك طریق سره د علی رضی الله عنه نه موصولا کړې دې. «قال رسول الله صلی الله علیه وسلم! نسخت الزکوة کل صدقة ونسخ صوم رمضان کل صوم ونسخ غسل الجنابة کل غسل نسخت الاضحی کل ذبح»([6])
داشان دار قطنی دحارث بن نبهان طریق سره هم دا روایت دعلی رضی الله عنه نه مرفوعا نقل کړې دې، دهغې الفاظ دی چې «محاذبح الاضاحی کل ذبح کاقبله»([7])

[1]) (المجموع شرح التهذیب باب العقیقة:۴۲۶/۸، و ارشاد الساری:۲۱۹/۱۲، واوجز المسالک:۲۰۵/۹، والمغنی لابن قدامة کتاب الاضاحی:۳۶۲/۹، ۳۶۳).
[2]) اوګوری: مؤطا الامام مالک کتاب العقیقه، باب العمل فی العقیقة : ۵۰۲/۲ و أوجز المسالک: ۲۰۵/۹
[3]) مؤطا امام محمد کتاب الضحایا: باب العقیقة:۲۹۱، ۲۹۰.)
[4]) کتاب الاثار:۱۶۶).
[5]) کتاب الاثار:۱۶۶).
[6]) (سنن الدار قطنی، باب الصید والذبائح: ۲۸۱/۴ (رقحم الحدیث:۳۹)
[7]) (اعلاء السنن کتاب الذبائح کشف الحقیقة عن احکام العقیقة:۱۰۹/۱۷)

عبدالرازق په خپل مصنف کښې دا روایت د علی رضی الله عنه نه موقوفا هم نقل کړې دې. (۱)
او علامه ابن حزم په «المحلی» کښې د ابو جعفر محمد بن بن علی بن حسین نه هم موقوفا دا روایت نقل کړې دې. (۲)
او د اصول حدیث کتابونو کښې محدثینو تصریح کړې ده چې غیر مدرك بالقیاس امورو کښې حدیث موقوف هم دمرفوع په حکم کښې دې. (۳)
د امام محمد رحمه الله ذکر شوې دواړه روایتونه او مذکوره ددې دواړو روایتونو نه دومره خبره واضحه کیږی چې علی رضی الله عنه، محمد بن علی بن الحسین، محمد بن الحنفیه او ابراهیم نخفی د عقیقې متعلق وضاحت کړې دې چې دا د جاهلیت د زمانې او داسلام په شروع کښې وو، لیکن بیا منسوخ شو.
البته علی رضی الله عنه نه منقول روایت لره ضعیف ګرزولې شوې دې.
دار قطنی دا روایت د مسیب بن شریك او حارث بن نبهان په طریق نقل کړې دې او د مسیب باره کښې هغوئ اوئیل چې متروك دې، ددوئ شیخ عتبه بن یقظان دې. دوئ هم دارقطنی متروك ګرزولې دې. (۴)
ترکومې چې تعلق دې د حار ث بن نبهان نو هغه صالحینو نه وو، البته ددوئ د حافظې دکمزورئی په وجه دوئ ضعیف ګنړلې شوې وو. (۵) بیا هم د مسیب روایت ددې تابع دې، مسیب هم داتهام بالکذب په وجه ضعیف ګروزلې شوې نه دې بلکه د سوء حفظ په وجه هغوئ ته ضعیف وئیلې شوی دی. (۶)
اود عتبه بن یقطان خو د څینو محدثیونو توثیق کړې دې. (۷) ابن حبان رحمه الله ددوئ ذکر په کتاب الثقات کښې کړې دې. (۸)
لهذا دا حدیث بالکل بې اصل او باطل نه شی ګرولې کیدې.
شمس الحق عظیم آبادی دارقطنی شرح کښې په دې حدیث پاك باندې یو اشکال داهم کړې دې چې د ابن اثیر د روایت مطابق اضحیه یعنی قربانئ مشروعیت په کال دویمه هجرئی کښې شوې دی. ابن اثیر رحمه الله د تصریح مطابق اضحیه یعنی قربانئ مشروعیت په کال دویمه هجرئی کښې شوې دې او نبی کریم صلی الله علیه وسلم د حسن رضی الله عنه عقیقه په دریمه هجرئی اود حسین رضی الله عنه عقیقه په څلورمه هجرئی کښې کړې ده. او حدیث دام کرز چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم په

---

(۱) سنن الدار قطنی باب الصید والذبائح: ۲۸۱/۴، رقم الحدیث: ۳۹).
(۲) المحلی بالاثار لابن حزم کتاب العقیقة: ۲۴۱/۶).
(۳) اوګورئی شرح نخبة الفکر: ۹۴).
(۴) داوګورئی الدار قطنی باب الصید: ۲۸۰/۴، ۲۸۱).
(۵) اعلاء السنن کتاب الذبائح: ۱۰۸/۱۷).
(۶) اعلاء السنن کتاب الذبائح: ۱۰۸/۱۷).
(۷) اوګورئی: میزان الاعتدال: ۳۰/۳، رقم الترجمه: ۵۴۸۰).
(۸) تهذیب التهذیب: ۱۰۴/۷).

څلورمه هجرئی کښې دحدیبیه په موقع باندې ارشاد کښې اضحیه لره د عقیقه دپاره ناسخ گرزولې شی. کله چې دا اضحیه مشروعیت مخکښې او دعقیقه واقعات روستو شوی دی، ناسخ دپاره خو مؤخر کیدل ضروری دی. [۱]

ددې جواب ورکوی او علامه احمد عثمانی رحمه الله په اعلاء السنن کښې فرمائی چې ابن اثیر په کال دویمه هجرئی کښې د اضحیه د مشروعیت چې کومه خبره کړې ده، هغه غیر مستند ده. هغوئ ددې څهٔ سند نه دې ذکر کړې. اوکه هغه صحیح تسلیم کړې شی نو زیات نه زیات به دا اووئیلی شی چې دا اضحیه دد ې متعلق هغوئ هیڅ نه دی وئیلی او د «محاذبح الاضحی کل ذبح» معنی دا کیدې شی چې وجوب اضحیه د هر ذبح دپاره ناسخ ده، او د وجوب اضحیه فرضیت صرف د حج په موقع باندې شوې دې چې په کال نهمه هجرئی کښې واقعه شوې ده.

د ام کرزئی حدیث او د حسن رضی الله عنه او حسین رضی الله عنه د عقیقی والا روایت مولانا احمد عثمانی رحمه الله مضطر گرزولې دې او فرمائی چې «فلاحجة له فیهما» [۲]

۳ د حضرات حنفیه یو دریم دلیل د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د آزاد شوی غلام ابو رافع رضی الله عنه هغه حدیث دې چې کوم امام احمد رحمه الله نقل فرمائیلې دې، په هغې کښې دی چې:

«ان الحسن بن علی لما ولد ارادت امه فاطمة ان تعق بکبش عنه فقال لا تعق عنه ولکن احلق شعر راسه ثم تصدق بوزنه من الورق فی سبیل الله ثم ولد حسین بعد ذالك فصنعت مثل ذالك» [۳]

حقیقت دادې چې دا حدیث پاك د حضرات حنفیه د ټولو نه قوی دلیل دې، په دې کښې صفا تصریح دہ چې فاطمه رضی الله عنها دحسن رضی الله عنه د ولادت په وخت کښې هغې د ګډ د ذبح کولو اراده کړې وه لیکن نبی کریم صلی الله علیه وسلم «لا تعق» اوفرمائیل او هغه ئې منع کړه او وې فرمائیل چې ددوئ د سر ویښته او خرئیه. اوددوئ د ویښتو د وزن برابر چاندی صدقه کړه. دې نه پس د حسین رضی الله عنه ولادت باندې هم هغوئ داشان اوکړل. معلوم شو چې د جاهلیت په زمانه کښې اود اسلام په شروع کښې چې کومه عقیقه وه هغه روستو منسوخ شوې ده.

ددې تائید سعید بن منصور ددې روایت نه کیږی چې هغوئ په صحیح سند سره د محمد بن علی نه مرسلا نقل کړې دې، دهغې الفاظ دادی چې:

«ان فاطمة اذا ولدت ولدا حلقت شعره وتصدقت بزنته ورقا»

البته د ابو رافع دې حدیث پاك سره هغه احادیث متعارض دی چې په هغې کښې تصریح راغلې ده چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د حسن رضی الله عنه او حسین رضی الله عنه د طرفنه ګډ عقیقه کړو.

ددې جواب دادې چې حسن رضی الله عنه او حسین رضی الله عنه د عقیقی په دې روایتونو کښې اضطراب موندې شی.

[۱] التعلیق المغنی علی سن الدار قطنی: ۲۸۰/۴).
[۲] اعلاء السنن کتاب الذبائح:۱۰۷/۱۷ - ۱۱۰).
[۳] اعلاء السنن کتاب الذبائح: ۱۰۸/۱۷).

نو امام حاکم رحمه الله په مستدرك کښې د محمد بن عمرو یافعی په طریق سره د عائشه صدیقه رضي الله عنها نه روایت نقل کړېدې.

(عق رسول الله ﷺ عن الحسن والحسین یوم السابع وسماهما وامران یماط عن رووسهما الاذی)

حاکم دې حدیث پاك ته صحیح الاسناد وئیلی دی. [۱] او علامه ذهبی رحمه الله دده تائید کړې دی. [۲] په دې روایت کښې د (شاة) یا د (کبش) ذکر نشته دې.

حاکم بل روایت دمحمد بن اسحاق رحمه الله په طریق سره د علی رضي الله عنه نه نقل کړې دې په هغې کښې دی چې:

(عن رسول الله ﷺ بشاة وقال یا فاطمة احلقي راسه و تصدق بزنة شعره فوزناه فکان درهما) [۳]

لیکن په دې روایت کښې محمد بن اسحاق متکلم فیه هم دې، او مدلس هم اود مدلس عنعنه قبوله نه ده او دا روایت هغوئ (عن) سره بیان کړې دې. [۴]

البته ددې تائید د ابوداؤد روایت سره کیږی چې کوم عکرمه د عن ابن عباس رضي الله عنهما طریق سره نقل کړې دې، په هغې کښې دی چې (انه ﷺ عق عن الحسن والحسین کبشا کبشا.....واسناده صحیح) [۵]

لیکن امام نسائی عکرمة عن ابن عباس رضي الله عنهما په طریق سره دا روایت نقل کړې دې، په هغې کښې دی چې عق عنهما کبیشن کبشین، واسناده صحیح [۶]

او حاکم ړ عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده په طریق سره روایت نقل کړې دې، په دې هم د (کبشین کبشین) ذکر دې. [۷]

علامه ذهبی رحمه الله اګر چې دې ضعیف ګرزولې دې او فرمائی چې په دې کښې یو راوی (سوار) ضعیف دې. [۸]

حاصل دادې چې د ابوداؤد په صحیح روایت کښې یو دکبش ذکردې، اوددې تائید محمد بن اسحاق ددې ضعیف روایت نه کیږی او د نسائی په صحیح روایت کښې د (کبشین) ذکر دې. او ددې تائید دسوار ضعیف حدیث نه کیږی داشان د دواړوپه مینځ کښې دا اضطراب

---

[۱] المستدرک علی الصحیحین للامام الحاکم کتاب الذبائح : ۲۳۷/٤).
[۲] التلخیص للذهبی مع المستدرک: ۲۳۷/٤).
[۳] المستدرک علی الصحیحین للامام الحاکم کتاب الذبائح: ۲۳۷/٤).
[٤] اعلاء السنن :۱۰۳/۱۷).
[٥] سنن د ابوداؤد کتاب الاضاحی باب فی العقیقة :۱۰۷/۳، رقم الحدیث :۲۷٤۱).
[٦] (المستدرک للامام الحاکم: ۲۳۷/٤).
[۷] المستدرک للامام الحاکم: ۲۳۷/٤).
[۸] التلخیص للذهبی: ۲۳۷/٤).

موندې شي، البته دومره خبره په څلورو روايتونو كښې دى چې نبى كريم ﷺ عقيقه كړې ده.
تعارض د رواياتو او دهغې حل: اوس په ظاهره ددې روايتونو او د ابو رافع رضي الله عنه روايت كښې تعارض دې، ځكه چې په دې كښې نبى كريم ﷺ فاطمه رضي الله عنها د عقيقې نه منع كړې وه.
حافظ ابن حجر رحمه الله او ددوئ شيخ ابن الملقن د دواړو روياتو په مينځ كښې تطبيق كوى او فرمائى چې په هغه وخت كښې د فاطمه رضي الله عنها غريبى وه، ددې وجې نبى كريم ﷺ ورته د ويښتو برابر د چاندئى حكم اوفرمائيلو، او دذبح كولو نه ئې منع كړه. او داهم وئيلې شوى دى چونكه نبى كريم ددې د طرفه پخپله ګډ ذبح كړې وو. ددې وجې ئې منع كړه. (١)
خودا خبره زياته قوى نه ده ځكه چې د فاطمه رضي الله عنها د ګډ د ذبح كولو اراده خو پخپله ددې خبرې قرينه ده چې په هغه وخت كښې دهغوئ غريبى نه وه، داشان نبى كريم ﷺ خپله دهغوئ د طرفه ګډ ذبح كړې وو.
بيا فاطمه رضي الله عنها ته څه ضرورت وو چې هغې د ذبح اراده كړې وه. (٢)
مولانا ظفرا احمد عثمانى رحمه الله دواړو روايتونو كښې تطبيق كوى او فرمائى چې اصل روايت دادې چې (عق رسول الله ﷺ عن الحسن والحسين) چې نبى كريم ﷺ د حسن رضي الله عنه او حسين رضي الله عنه د طرفه عقيقه اوكړه.اود عقيقه نه مراد دې چې نبى كريم ﷺ ددوئ د سر ويښته مبارك د خرئيلو او ددې د وزن برابر د چاندئى صدقه كولو حكم اوفرمائيلو، لكه څنګه چې د ابو رافع رضي الله عنه په روايت كښې دى. بيا مخكښې راويانو ته وهم اوشو او هغوئ (عق) نه اهراق دم مراد واخستو، او دخپل طرفه ئې د (كبيش ياكبشين) اضافه اوكړه.
ددې تائيد د يحيى بن سعيد او دبريده رضي الله عنه روايتونو نه هم كيږى چې په دوئ كښې صرف (عن الحسن والحسين) الفاظ دى، د (كبش) وغيره ذكر نشته دې. (٣)
داشان د ابو رافع رضي الله عنه روايت او د نور قسمه روايتونو كښې تطبيق هم كيدې شى.ليكن په دې باندې د ام كرز حديث نه اشكال كيږى، چې ددې تخريج امام نسائى رحمه الله كړې دې، هغوئى فرمائى چې: (اتيت النبى ﷺ بالحديبية اساله عن لحوم الهدى فسمعه يقول على الغلام شاتان وعلى الجارية شاة لايضركم ذكراناكن اواناثا) (٤)
دا روايت هغوئ په حديبيه كښې واؤريدو چې په شپږمه هجرئى كښې دا واقعه شوې وه، حالانكه حسن رضي الله عنه او حسين رضي الله عنه د عقيقې واقعه په كال دويمه هجرئى كښې شوې ده، لهذا فاطمه رضي الله عنها لر منع كول ممكن دى چې څه دبل مصلحت په وجه وو، ددې وجې نه عقيقه منسوخ شوې ده، ګنى د حديبيه په موقع باندې نبى كريم ﷺ دا ارشادات ولې فرمائيلو.

---

(١) فتح البارى :٩/ ٧٤٣)
(٢) اعلاء السنن :١٠٥/١٧).
(٣) اعلاء السنن :١٠٥/١٧ وسنن النسائى كتاب العقيقة:١٨٧/٢).
(٤) سنن النسائى:١٨٧/٢، كتاب الاطعمة).

ددې اشکال څه ناقابل اطمینان جواب چا نه دې ورکړې. او دا تسلیم کوی او مولانا احمد عثمانی رحمه الله فرمائی چې :

«فالاولى ان يقال: ان العقيقة بإراقة الدم كانت مشروعة الى زمن الحديبية ثم نسخت بدليل انه ﷺ لم يعق عن ابنه ابراهيم ولو كانت واجبة او سنة لعق عنه فانما يؤخذ بالاخر فالاخر من فعل رسول الله ﷺ» ([1])

یعنی عقیقه بالذبح د حدیبیه زمانې پورې مشروع وه بیا منسوخ شوه، ددې وجې نبی کریم ﷺ د خپل زوئی ابراهیم رضي الله عنه عقیقه اونه کړه. «د ابراهیم رضي الله عنه ولادت په کال نهمه هجرئ کښې شوې وو»

خو دا څه قوی دلیل نه دې اول خو ددې وجې چې د نبی کریم ﷺ د ابراهیم رضي الله عنه د طرفه عقیقه کول د څینو روایتونو نه ثابت دی. او دویم دا که دا تسلیم کړې شی چې نبی کریم ﷺ د ابراهیم رضي الله عنه عقیقه نه وه کړې نو ددې نه د عقیقې د استحباب یا اباحت نفی اونشوه، څینې مستحب څیزونه نبی کریم ﷺ تر کړی وو، نو ترك عقیقه دلیل د کراهت نشی جوړیدلې، او ددې نه د عقیقې د عدم مشروعیت یا نسخ باندې څنګه استدلال کولې شی.

د عقیقې د کراهت قول مرجوح دې : ① حقیقت دادی چې جمهورو فقهاء حنفیه په دې سلسله کښې د کراهت قول اختیار کړې نه دې، چې کومو حضراتو دا اختیار کړې دې، ډیرو حنفی علماء کرامو ددې تردید کړې دې، لکه صاحب بدائع د کراهت قول اختیار کړې دې، لیکن ملاعلی قاری رحمه الله ددوئ قول رد کړې دې، نو بدائع کښې دی چې :

«والا يعق عن الغلام والجارية عندنا..... ولنا ماروى عن سيدنا رسول الله ﷺ انه قال: نسخت الاضحية كل دم كان قبلها.... والعقيقة كانت قبل الاضحية فصارت منسوخة بها كالعتيرة والعقيقة ماكانت قبلها فرضا بل كانت فضلا وليس بعد نسخ الفضل الا الكراهية»

یعنی عقیقه مخکښې مستحب وه، بیا منسوخ شوه، لهذا کله چې ددې فضیلت منسوخ شو نو صرف کراهت باقی پاتې شو.

لیکن ملا علی قاری رحمه الله ددې تردید فرمائی چې د فضیلت انتفاء سره د اباحت انتفاء نه لازم کیږی. ددې و جې چې نسخ زیاتی طرفنه متوجه کیږی، لهذا فضیلت چې یو امر زائد دې نو هغه منسوخ شو. بیا هم ددې نه د اباحت منسوخ کیدل نه لازمیږی. ([2])

② د مرجوح کیدو دویمه وجه داده چې دا روایت ضعیف دې، چې ددې تفصیل تیر شوې دې، اوکه دا روایت صحیح اومنلې شی نو بیا هم ددې توجیه دا کیدې شی چې اضحیه د هر سابقه ذبح وجوب منسوخ کړې دې، او د وجوب د منسوخ کیدو سره د استحباب او مشروعیت منسوخ کیدل نه لازمیږی. لکه څنګه چې صوم رمضان صوم عاشورا وغیره منسوخ کړل لیکن ددې مشروعیت اواستحباب خواوس هم باقی دې، نومولانا عبدالحی رحمه الله

---

[1] اعلاء السنن :۱۰۷/۱۷).

[2] التعليق المسجد:۲۹۱)

په (التعليق الممجد) كښې ليكى چې : (بعد تسليم ثبوته ظاهره يدل على منسوخية وجوب العقيقة ونحوها فان معناه نسخ الاضحى لزوم كل ذبح كان قبله..... ويدل عليه ضمه بنسخ شهر رمضان كل صوم كان قبله فانه كان صوم يوم عاشورا او ايام البيض فلما لما قبله لم يدل الا على عدم لزوم لا على عدم مشروعيته وانتفاء فضيلته كذالك نسخ الاضحى كل ذبح قبله لايدل على انتفاء استحبابه ومشروعيته) [1]

③ امام محمد رحمه الله په كتاب الاثار كښې محمد بن الحنفية او ابراهيم نخعى نه چې كوم آثار نقل شوى دى هغه اګرچې غيرمدرك بالقياس كيدو په وجه دمرفوع په حكم كښې كيدې شى. ليكن ددې په مقابله كښې احاديث مرفوعه صريحه كښې د عقيقه مشروعيت ثابت دې، او ظاهرى دى چې مرفوع حكمى مقابله كښې به مرفوع صريح ته ترجيح وركولې شى.

دحنفيه دويم قول د اباحت دې، نو فتاوى عالمګيرى كښې دى چې عقيقه واجب نه ده ، نه سنت ده بلكه مباح ده. [2]

د احنافو مختار قول: اكثر فقهاء عقيقه ته مستحب وائى، نو امام طحاوى رحمه الله، علامه عينى رحمه الله، ملا على قارى رحمه الله، وغير علماحنفيه د استحباب قول ته ترجيح وركړې ده.

امام طحاوى رحمه الله په مشكل الاثار كښې په دې باندې بحث كړې دې اوقاضى ابوالمحاسن يوسف بن موسى رحمه الله د امام طحاوى رحمه الله ددې بحث په (المعتصر من المختصر) كښې دنه تلخيص كړې دې.

ددې ټول بحث حاصل دادې چې د اسلام په شروع كښې عقيقه واجب وه، بيا ددې وجوب منسوخ شو، او استحباب باقى پاتې شو، هغوئ په مشكل الاثار كښې دې الفاظو سره په دې باندې عنوان قائم كړې دې، **باب بيان مشكل ما روى عن رسول الله ﷺ فى العقيقة وهل هو على الوجوب او على الاختيار** [3]

دعقيقې مشروعيت باندې دلالت كوونكى احاديث: كومو احاديثو كښې د عقيقې مشروعيت يا استحباب او وجوب ثابتيږى، په دې كښې څو خو دا دى چې:

① حضرت سمره رضى الله عنه نه مرفوع حديث كښې دى چې :

كل غلام مرتهن بعقيقة تذبح عنه يوم سابعه ويسمى فيه، ويحلق راسه [4]

د حضرت سلمان بن عامر ضحاك نه يو مرفوع حديث پاك كښې دى چې :

---

[1] التعليق الممجد:٢٩١).

[2] فتاوى عالمګيرى كتاب الاضحية باب العقيقة:٣٦٤/٥، الفقة الاسلامى وادلته:٦٣٦/٣ وحلية العلماء فى معرفة مذاهب الفقاء: ٣٨٣/٣).

[3] (اوګورئى مشكل الاثار للطحاوى:٨١/٣)

[4] (الحديث اخرجه ابوداؤد فى كتاب الضحايا باب فى العقيقة (رقم الحديث:٢٨٣٨)، واخرجه الترمذى فى كتاب الاضاحى باب فى العقيقة (رقم الحديث :١٥٢٢) وابن ماجه فى كتاب الذبائح باب العقيقة (رقم الحديث :٣١٦٥)واخرجه الدارمى فى كتاب الاضاحى باب السنة فى العقيقة : ١١١/٢،رقم الحديث :١٩٦٩)

④ مع الغلام عقيقة فاهريقوا عنه دما واميطوا عنه الاذى[1]

عائشه صديقه رضي الله عنها نه روايت دې چې (امرنا رسول الله ﷺ ان تعق عن الجارية شاة وعن الغلام شاتين)[2]

بريده اسلمى رضي الله عنه نه روايت دې چې:

⑥ (ان الناس يعرضون على العقيقة يوم القيامة كما يعرضون على الصلوات الخمس)[3]

ظاهريه او امام احمد رحمه الله داشان احاديثو نه د عقيقه وجوب باندې استدلال كړېدې.

⑤ طبرانى په معجم اوسط كښې د ابن عباس رضي الله عنه روايت ذكر كړې دې هغوئ فرمائي چې:

(سبعة من السنة فى الصبى يوم السابع يسمى و يختن ويماط عنه الاذى و يثقب اذنه ويعق عنه ويحلق راسه،،،،،، يتصدق بشعر وزنه ذهبا او فضة)

د جمهور علماء په نيز عقيقه مستحب ده او هغه د عمران بن شعيب روايت نه استدلال كوى په هغې كښې دى چې: (سئل النبى ﷺ عن العقيقة فقال: لا احب العقوق من احب منكم ان ينسك عن ولده فليفعل عن الغلام شاتان مكافئتان وعن الجارية شاة)[4]

داشان د زيد بن اسلم روايت امام مالك رحمه الله په مؤطا كښې نقل كړ بدې چې نبى كريم ﷺ نه د عقيقه باره كښې تپوس اوشو نو نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې:

(لا احب العقوق، كانه انما كره الاسم، وقال: من ولد له ولد فاحب ان ينسك عن ولده فليفعل)[5]

په دې روايت كښې تصريح ده چې كوم سړې غواړى نو عقيقه كولې شى. (خو واجب او ضرورى نه ده) اوددې روايت ځينې طريق كښې تصريح ده چې نبى كريم ﷺ نه دا سوال د حجة الوداع په موقع باندې شوې وو.[6] ددې وجې طحاوى رحمه الله فرمائى چې سابقه روايتونو نه چې كوم وجوب ثابت شوې دې هغه روستو منسوخ شوې وو، او اوس صرف استحباب باقى پاتې شوې دې. مولانا عبدالحئ فرنگى محلى رحمه الله فرمائى چې:

(وبالجملة الحكم ينفى مشروعيتها فى الاسلام مطلقا غير صحيح وترك الاحاديث الصريحة المرفوعة الموقوفة

---

[1] (الحديث اخرجه ابوداؤد فى كتاب الضحايا باب فى العقيقة (رقم الحديث:۲۸۳۹). واخرجه الترمذى فى كتاب الاضاحى باب الاذان فى اذن المولود (رقم الحديث:۹۷/٤) وابن ماجه فى كتاب الذبائح باب العقيقة (رقم الحديث :۳۱٦٤) واخرجه الدارمى فى كتاب الاضاحى باب السنة فى العقيقة : ۱۱۱/۲، رقم الحديث :۱۹٦۷)

[2] (الحديث اخرجه الترمذى فى الاضاحى باب ماجاء فى العقيقه رقم الحديث :۱۵۱۳، واخرجه ابن ماجه فى الذبائح باب العقيقة :۱۰۵٦/۲، رقم الحديث :۳۲٦۳).

[3] المحلى بالاثار لابن حزم كتاب العقيقة:۲۳۷/٦).

[4] فتح البارى :۷۳۵/۹)

[5] مؤطا امام مالک کتاب العقیقة، باب ماجاء فى العقيقة : ۸۰۰/۲ رقم الحديث : ۱).

[6] اوجز المسالک:۲۰۷/۹).

الواردة فى هذا الباب) (۱)
ځينې حضراتو امام ابوحنيفه رحمه الله طرفته نسبت کړې دې چې هغوئ عقيقې ته بدعت وئيلې دې، علامه عينى رحمه الله ددې ترديد کوى او تحرير فرمائى چې:
(هذا افتراء فلا يجوز نسبته الى ابى حنيفة وحاشاه ان يقول مثل هذا وانما قال: ليس بسنة فمراده اما ليست بسنة ثابتة واما ليس بسنة مؤكدة وحديث عمرو بن عن جده ک.. يدل على الاستحباب). (۲)
اردو فتاوى هم عموما د استحباب قول اختيار کړې دې. (۳)

۱-باب تَسْمِيَةِ الْمَوْلُودِ غَدَاةَ يُولَدُ، لِمَنْ لَمْ يُعَقَّ عَنْهُ، وَتَحْنِيكِهِ.

امام بخارى رحمه الله په دې ترجمة الباب کښې جمع بن الروايات طرفته اشاره کړې ده.
اصل کښې ځينو روايتونو کښې راځى چې د بچى نوم دې دده د پيدائش په ورځ کيخودلې شى، اوځينو روايتونو کښې دى چې د پيدائش په اوومه ورځ دې کيخودې شى، امام بخارى رحمه الله د دواړو په مينځ کښې تطبيق کوى او فرمائى چې د بچى د عقيقې کولو اراده نه وى نودده نوم دې هم په هغه ورځ کيخودلې شى ليکن که د عقيقه اراده وى نو بيا دې په اوومه ورځ د عقيقې سره ددهٔ نوم کيخودلې شى، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې (وهو جمع لطيف لم اره لغير البخارى). (۴)
ترجمة الباب کښې (لمن لم يعق عنه) نه د عقيقه عدم وجوب طرفته اشاره اوشوه. (۵)
قوله: وَتَحْنِيكِهِ: د بچى د پيدائش نه پس کهجوره وغيره چوپلې شى او په حلق کښې تالو

---

۱) التعليق الممجد: (۲۹۱).
۲) عمدة القارى: ۲۱/۸۳، مالا بدمنه: ۱۷۸).
۳) په بهشتى زيور کښې دى چې: د چا هلك يا جينئ پيدا شى نو بهتر دى چې په اوومه ورځ دهغه نوم کيږدى او عقيقه اوکړى، عقيه کولو د ماشوم نه ټول مصيبتونه لرې شى، اودځينې آفتونو نه بچ کيږى.(بهشتى زيور حصه سوم، مسئله نمبر ۱، ص: ٤۳)
مولانا مفتى محمود الحسن گنگوهى رحمة الله ليکلى چې: عقيقه په اوومه ورځ کول صرف مستحب دى، لکه څنګه چې نفس عقيقه هم ډير نه استحباب لرى، (فتاوى محموديه: ج/٤ ص/۳۲۲
او حضرت لدهيانوى رحمه الله ليکى چې: عقيقه سنت ده، ليکن موده ده، اوومه ورځ، يويشتمه ورځ، ددې نه پس به ددې حيثيت نفل وى. (آپ کے مسائل اور انکا حل ج/٤ص/۲۲٤)
مفتى کفايت الله صاحب رحمه الله ليکى چې: عقيقه واجب نه ده، سنت ده. که وس وى نو عقيقه کول اولىٰ او افضل دى (کفايت المفتى: ج/۸ ص/۲٤۲)
حضرت تهانوى رحمةالله عليه ليکى چې: او په عقيقه کښې دوه چيلئ يا يوه چيلئ ذبح کول ټول سنت دى، (تقرير ترمذى، للشيخ التهانوى رحمه الله ص/٤٤۲)
٤) فتح البارى: ۹/۷۳۷)
۵) فتح البارى: ۹/۷۳۷)

سره ايښودې شى چې ددې حلاوت د بچى خيټې ته لاړشى، دې عمل ته (تحنيك) وائى [1] بچى دپار دا عمل په بزرګانو کښې د برکت دپاره کولې شى، او د لته دباب په روايت کښې د نبى کريم ﷺ نه دا عمل ثابت دې.

[٥١٥٠] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ قَالَ حَدَّثَنِي بُرَيْدٌ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى - رضي الله عنه - قَالَ وُلِدَ لِي غُلَامٌ، فَأَتَيْتُ بِهِ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَسَمَّاهُ إِبْرَاهِيمَ، فَحَنَّكَهُ بِتَمْرَةٍ، وَدَعَا لَهُ بِالْبَرَكَةِ وَدَفَعَهُ إِلَيَّ، وَكَانَ أَكْبَرَ وَلَدِ أَبِي مُوسَى.[٥٨٤٥]

ابوموسى اشعرى رضی الله عنه نه روايت دې، فرمائى چې زما يو بچې پيدا شو، ما دا بچې نبى کريم ﷺ ته حاضر کړو، نبى کريم ﷺ دده نوم ابراهيم کيخودو اوکهجورې سره ئې دده تحنيك اوکړو، يعنى کهجورې ئې اوچوله او دده په تالو کښې ئې کيخوده. اوددهٔ په حق کښې ئې دبرکت دعا اوکړه بيا ئې ماته راکړو، دا د ابوموسى رضی الله عنه دټولو نه مشر زوئې وو، ددې حديث نه معلوم شوچې دده نوم په هغه ورځ کيخودې شو، د اوومې ورځې انتظار ئې او نه کړو.

د بچى نوم کله کيخودل پکار دى : ځينو رواياتو کښې د بچى نوم په اوومه ورځ د کيخود ذکر دې.

ابن حبان رحمه الله اوحاکم د عائشه صديقه رضی الله عنها نه صحيح سند سره روايت نقل کړې دې چې (عق رسول الله ﷺ عن الحسن والحسين يوم السابع وسماهما) [2]

داشان امام ترمذى رحمه الله د عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده رضی الله عنه نه روايت نقل کړې دې چې:

(امرنى رسول الله ﷺ بتسمية المولود السابعة) [3]

ابن عمر رضی الله عنه هم يو مرفوع حديث نقل کړې دې چې:

(اذاکان يوم السابع المولود فاهريقوا عنه دما واميطوا عنه الاذى وسموه) [4]

ددې احاديثو نه معلوميږى چې په اوومه ورځ نوم کيخودل پکار دى، بيا په اوومه ورځ کيخودل ضرورى نه دى، بلکه د ولادت په ورځ يا ددې نه مخکښې ورځ باندې ايښودلې شى لکه څنګه چې روايت باب نه معلوميږى.

(کتاب الادب) کښې د ابو اسيد حديث رازى چې (اتى النبى ﷺ بابنه حين ولد فسماه المنذر) [5]

---

[1] فتح البارى :٧٣٧/٩)

[2] المستدرک الحاکم کتاب الذبائح: ٢٣٧/٤).

[3] سنن الترمذى کتاب الادب باب ماجاء فى تعجيل اسم المولودة:١٣٢/٥، رقم الحديث:٢٨٣٢).

[4] فتح البارى :٧٣٥/٩)

[5] صحيح البخارى کتاب الادب باب تحويل الاسم الى اسم احسن منه رقم الحديث :٩١٦١).

مسلم شريف كښې د انس رضي الله عنه حديث دې چې نبى كريم ﷺ د خپل خوئې ابراهيم رضي الله عنه باره كښې فرمائيلى دى چې «ولدلى الليلة الغلام فسميته باسم ابى ابراهيم» (١)

داشان مخکښې ددې باب په آخر کښې هم تصريح ده چې نبى كريم ﷺ د بچى دپيدائش په دويمه ورځ دده نوم كيخودو.

بهر حال كه دعقيقى اراده وى نو بهتر دادى چې په اوومه ورځ دده نوم كيخودې شى. اوكه د عقيقې اراده نه وى نو بيا دپيدا كيدو نه پس هم په دې ورځ يا په دويمه ورځ دې دده نوم كيخودې شى.

[٥١٥١] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ -رضى الله عنها- قَالَتْ أُتِيَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- بِصَبِيٍّ يُحَنِّكُهُ، فَبَالَ عَلَيْهِ، فَأَتْبَعَهُ الْمَاءَ.[ر: ٢٢٠]

[٥١٥٢] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ -رضى الله عنهما- أَنَّهَا حَمَلَتْ بِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ بِمَكَّةَ قَالَتْ فَخَرَجْتُ وَأَنَا مُتِمٌّ، فَأَتَيْتُ الْمَدِينَةَ فَنَزَلْتُ قُبَاءً فَوَلَدْتُ بِقُبَاءٍ، ثُمَّ أَتَيْتُ بِهِ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَوَضَعْتُهُ فِي حَجْرِهِ، ثُمَّ دَعَا بِتَمْرَةٍ فَمَضَغَهَا، ثُمَّ تَفَلَ فِي فِيهِ فَكَانَ أَوَّلَ شَيْءٍ دَخَلَ جَوْفَهُ رِيقُ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- ثُمَّ حَنَّكَهُ بِالتَّمْرَةِ، ثُمَّ دَعَا لَهُ فَبَرَّكَ عَلَيْهِ، وَكَانَ أَوَّلَ مَوْلُودٍ وُلِدَ فِي الإِسْلاَمِ، فَفَرِحُوا بِهِ فَرَحًا شَدِيدًا، لأَنَّهُمْ قِيلَ لَهُمْ إِنَّ الْيَهُودَ قَدْ سَحَرَتْكُمْ فَلاَ يُولَدُ لَكُمْ.[ر: ٣٦٩٧]

د اسماء بنت ابى بكر رضي الله عنهما نه روايت دې چې څه عبدالله بن زبير رضي الله عنه سر په مكه مكرمه كښې حامله شوې اووم. د حمل ورځې پوره كيدونكې وې چې څه مدينې منورې ته روانه شوم څه قبا كښې كوزه شوم، نو هم هغه ځائې كښې څما دبچى ولادت اوشو. بيا مادا د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې پيش كړو او دې ما د نبى كريم ﷺ په غيږه كښې وركړو. نبى كريم ﷺ كهجوره راؤغوښتله او هغه ئې اوچوپله. بيا ئې دده په خوله كښې كيخودله. نو دټولو نه مخكښې د نبى كريم ﷺ لعاب مبارك دده په خوله كښې داخلې شوې. بيا ئې هغه كهجوره دده په خوله كښې وركړه، او دده په حق كښې ئې دعا اوكړه. او په دې باندې ئې ماته مباركى راكړه. دا د ټولو نه ړومبې هلك وو چې په اسلام كښې پيدا شو. خلق ډير خوشحاله وو. څكه چې د مسلمانانو متعلق به وئيلې كيدل چې دوئ باندې يهوديانو جادو كړې دې. ددې وجې دده هلك نه پيدا كيږى

دا روايت باب هجرة النبى ﷺ الى المدنية ى تير شوې دې

ابن سعد رحمه الله په طبقات كښې ددې واقعې متعلق يو روايت نقل كړې دې، هغې كښې دى چې : «لما قدم المهاجرون المدينة اقاموا لا يولد لهم، فقالوا: سحرتنا يهود حتى كثرت فى ذالك القالة : فكان

---

(١) مسلم كتاب الفضائل باب رحمة ﷺ الصبيان والعيال: ١٨٠٧/٤. رقم الحديث:٢٣١٥).

اول مولود بعد الهجرة عبدالله بن الزبير فكبر المسلمون تكبيرة واحدة ارتجت المدينة تكبيرا)[1]

چونکه دا خبره مشهوره شوې ده چې يهودو جادو کړې دې، اود مسلمانانو بچی نه پيدا کيږی، ددې و جې کله چې د عبدالله بن زبير رضي الله عنه ولادت اوشونو مسلمانانو نعره اولګوله او مدينه منوره د تکبير آوازونو سره مخ شو.

روايت باب کښې دی چې (وانا متم) يعنی د حمل موده پوره کيدو والا وه او د بچی د ولادت وخت نزدې وو.

(ثم تفل فی فيه : ای بزق صلی الله علیه وسلم فی فمه) يعنی د کهجورې چوپلو نه پس ددې عرق ئې د بچی خوله کښې واچولو، (برك عليه) دده دپاره ئې د برکت دعا اوفرمائيله. (دعا بالبركة.... ثم حنكه بتمرة) يعنی د چوپلې شوې کهجورې اجزاء ئې دده ژبې اوتالو سره اولګوله.

[٥١٥٣] حَدَّثَنَا مَطَرُ بْنُ الْفَضْلِ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَوْنٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ سِيرِينَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضی الله عنه قَالَ كَانَ ابْنٌ لِأَبِي طَلْحَةَ يَشْتَكِي، فَخَرَجَ أَبُو طَلْحَةَ، فَقُبِضَ الصَّبِيُّ فَلَمَّا رَجَعَ أَبُو طَلْحَةَ قَالَ مَا فَعَلَ ابْنِي قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ هُوَ أَسْكَنُ مَا كَانَ. فَقَرَّبَتْ إِلَيْهِ الْعَشَاءَ فَتَعَشَّى، ثُمَّ أَصَابَ مِنْهَا، فَلَمَّا فَرَغَ قَالَتْ وَارِ الصَّبِيَّ. فَلَمَّا أَصْبَحَ أَبُو طَلْحَةَ أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ «أَعْرَسْتُمُ اللَّيْلَةَ». قَالَ نَعَمْ. قَالَ «اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمَا». فَوَلَدَتْ غُلاَمًا قَالَ لِي أَبُو طَلْحَةَ احْفَظْهُ حَتَّى تَأْتِيَ بِهِ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم فَأَتَى بِهِ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم وَأَرْسَلَتْ مَعَهُ بِتَمَرَاتٍ، فَأَخَذَهُ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم فَقَالَ «أَمَعَهُ شَىْءٌ». قَالُوا نَعَمْ تَمَرَاتٌ. فَأَخَذَهَا النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم فَمَضَغَهَا، ثُمَّ أَخَذَ مِنْ فِيهِ فَجَعَلَهَا فِي فِي الصَّبِيِّ، وَحَنَّكَهُ بِهِ، وَسَمَّاهُ عَبْدَ اللَّهِ.
حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنِ ابْنِ عَوْنٍ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَنَسٍ وَسَاقَ الْحَدِيثَ.[ر: ۱۲۳۹] .

انس رضي الله عنه نه روايت دې چې دا ابو طلحه رضي الله عنه يو ځوئې بيمار وو، ابو طلحه رضي الله عنه چرته بهر په سفر کښې وو نو دغه بچې وفات شو. کله چې ابو طلحه رضي الله عنه واپس شو نو تپوس ئې اوکړو چې ځما د بچی څه حال دې؟ ام سليم ورته اووئيل چې هغه د مخکښې نه زيات په سکون کښې دې او ده ته ئې دشپې ډوډئی ورکړه. (هغوئ اوخوړه) بيا ئې خپلې بی بی سره هم بستری اوکړه، کله چې فارغ شو نو ښځې ورته اووئيل چې بچې دفن کړه.(ځکه چې دهغه انتقال شوې دې) ابو طلحه رضي الله عنه سحر د نبی کريم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو او ټوله قصه ئې ورته بيان کړه. نبی کريم صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چې آيا تا د شپې خپلې بی بی سره هم بستری کړې ده؟ هغوئ اوفرمائيل چې آو. نو نبی کريم صلی الله علیه وسلم د ښځې خاوند دواړو دپاره د

[1]) طبقات ابن سعد وسيراعلام النبلاء:۲/۳۶۵، رقم الترجمة:۵۳).

بركت دعا اوفرمائيله چې (اللهم بارك لهما) نو د ام سليم څوئې پيدا شو. (راوی انس ﷺ فرمائی چې) ماته ابوطلحه ﷺ اووئيل چې نبی کريم ﷺ ته دده اوړو پورې دده حفاظت کوه، نو هغه د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او ام سليم ده سره څه کهجورې هم اوليږلې. نبی کريم ﷺ بچې واخستلو او وې فرمائيل چې آيا څه درسره هم شته دې ؟ خلقو اووئيل چې څو کهجورې دی، نبی کريم ﷺ هغه کهجورې واخستې او وې چوپلې او دخولې مبارکې نه ويستلې او دبچی خوله کښې واچولې اوده سره تحنيك اوکړو او دده نوم ئې عبدالله کيخودو.

(وارالصبی) بچی لره پټ کړه يعنی دفن ئې کړه. (وار) د باب مفاعله نه امر دې. (واری....موارة) پټول، (اعرستم،،،، اعراس) نه دې جماع هم بستری ترې مراد ده.

داحديث پاك امام بخاری ﷫ په دوؤ طريق سره نقل کړې دې. يو طريق کښې دده د شيخ مطربن الفضل دې او دويم کښې محمد بن المثنی دې او دواړو روايتونو الفاظ مختلف دی او د مطر په طريق کښې د ابن عون، انس بن سيرين، نه روايت دې او دلته په دې طريق کښې هم ددې الفاظ دی او محمد بن المثنی طريق کښې د ابن عون بن محمد سيرين الفاظ دی، د هغې الفاظ دلته نشته دې، هغه روايت امام بخاری ﷫ په کتاب اللباس کښې ذکر کړې دې.

۲-باب إِمَاطَةِ الأَذَى عَنِ الصَّبِى فِى الْعَقِيقَةِ.

(إِمَاطَةِ) په معنی د ازالة دې يعنی د بچی نه په عقيقه کښې د (اذی) ازاله اوکړې شی. د (اذی) نه مراد څه دی ؟ اکثر حضرا فرمائی چې ددې نه ولادت په وخت کښې د بچی سر کښې چې کوم وينته وی هغه ترې مراد دی. (امامة الاذی) نه حلق راس مراد دې، مطلب دادې چې عقيقه کښې د بچی د سرو وينته صفا کول پکار دی. (۱)

[٥١٥٤] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ مَعَ الْغُلَامِ عَقِيقَةٌ.

وَقَالَ حَجَّاجٌ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ أَخْبَرَنَا أَيُّوبُ وَقَتَادَةُ وَهِشَامٌ وَحَبِيبٌ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ سَلْمَانَ عَنِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم-.

وَقَالَ غَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ عَاصِمٍ وَهِشَامٍ عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ عَنِ الرَّبَابِ عَنْ سَلْمَانَ عَنِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم-. وَرَوَاهُ يَزِيدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ سَلْمَانَ قَوْلَهُ.

امام بخاری ﷫ روايت نقل کړې دې چې (مع الغلام عقيقة) ددې ئې څلور طرق ذکر کړی دی.

① وړمبی طريق موصول دې، ليکن مرفوع نه دې، سلمان بن عامر صحابی ﷺ دې،

(۱) فتح الباری :۹/۷۳۷)

صحيح بخارى كښې ددوئ صرف دا يو حديث پاك دې. [1]

② دويم طريق امام بخارى رحمه الله (وقال حجاج.....) اووئيلو سره بيان فرمائيلى ده، حجاج بن منهال رحمه الله . حماد بن سلمه رحمه الله نه نقل كوى، حماد څلورو شيوخو نه نقل كوى، ابو قتاده رحمه الله. هشان بن حسان رحمه الله. قتاده رحمه الله او حبيب بن شهيد رحمه الله دا طريق مرفوع دې، ليكن موصول نه دې. امام دا د تعليق په طور ذكر كړې دې، امام طحاوى رحمه الله او بيقهى رحمه الله دا موصولا نقل كړې دې. [2]

③ ددريم طريق امام بخارى رحمه الله (وقال غيرواحد عن عاصم) نه نقل كړې دې، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې د (غيرواحد) مصداق سفيان بن عينيه دې، امام احمد رحمه الله دده د نوم تصريح سره يو حديث نقل كړې دې. [3]

دا طريق هم مرفوع دې، ليكن امام بخارى رحمه الله دا تعليقا نقل كړې دې، دې تعليق كښې حفصه بنت سيرين د رباب نه نقل كوى، دا رباب بنت صليع، د سلمان بن عامر وريره ده. [4]ابن حبان په كتاب الثقات كښې دده ذكر كړې دې.[5]

حافظ ابن حجر رحمه الله دده متعلق په تقريب التهذيب كښې دده متعلق (مقبولة) الفاظ ليكلى دى.[6] علامه ذهبى رحمه الله دوى په مجهولاتو په ضمن كښې ذكر كړې دې.

دامام مسلم نه علاوه اصحاب سته ددوى نه روايتونه نقل كړى دى [7]

④ څلورم طريق امام بخارى رحمه الله د يزيد بن ابراهيم رحمه الله ذكر كړې دې، دا هم تعليق دې امام طحاوى رحمه الله دا موصولا نقل كړې دې.[8]

ترجمې سره مناسبت: ذكر شوۍ ددې څلورو واړو طرق نه امام بخارى رحمه الله چې كوم الفاظ (مع الغلام عقيقة) نقل كړې دې، د هغې ترجمة الباب سره هيڅ تعلق په نظر نه راځى.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې حماد بن زيد كوم طرق سره امام بخارى رحمه الله موصولا نقل كړې دې. هغه دلته مختصر دې، امام احمد دا تفصيلا نقل كړې دې. په دې كښې دا الفاظ هم متن حديث كښې شامل دى (فاهريقواعنه دماواميطواعنه الاذى) [9]

---

[1]) فتح البارى :۷۳۷/۹. ددوئ وفات د عثمان رضي الله عنه يا د عمر فاروق رضي الله عنه په دور كښې اوشو. اوګورئى الاصابة:۶۲/۲)

[2]) فتح البارى :۷۳۷/۹)

[3]) فتح البارى :۷۳۸/۹)

[4]) تهذيب الكمال:۱۷۱/۲۵)

[5]) (كتاب الثقات:٤/٢٤٤)

[6]) (تقريب التهذيب:۷۳۷ رقم الترجمة:۸۵۸۲)

[7]) (تهذيب الكمال:۱۷۱/۳۵)

[8]) فتح البارى :۷۳۸/۹).

[9]) فتح البارى :۸۳۷/۹)

او دا د امام بخاری رحمه الله عادت دې اکثر مختصر روایت نقل کوی، او ترجمة الباب ثبوت د تفصیلي روایت نه کیږی.

وَقَالَ أَصْبَغُ أَخْبَرَنِي ابْنُ وَهْبٍ عَنْ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ عَنْ أَيُّوبَ السَّخْتِيَانِيِّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ حَدَّثَنَا سَلْمَانُ بْنُ عَامِرٍ الضَّبِّيُّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «مَعَ الْغُلاَمِ عَقِيقَةٌ، فَأَهْرِيقُوا عَنْهُ دَمًا وَأَمِيطُوا عَنْهُ الأَذَى».

دا د ځینو حضراتو په نیز تعلیق دې، ځکه چې امام بخاری رحمه الله (حدثنی) یا (اخبرنی) اونه فرمائیل. او اکثر حضرات فرمائی چې اصبغ چونکه امام بخاری رحمه الله صحیح بخاری کښې ډیر روایتونه نقل کوی، ددې وجې د صورتا اګر چې تعلیق دې لیکن په حقیقت کښې موصول دې.(1)

سلمان بن عامر رضی الله عنه فرمائی چې ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه دا ارشاد واؤریدو چې هلك لره یو عقیقه یعنی یو چیلئ ده .لهذا تاسو ددهٔ د طرفنه وینه توې کړئی. او دهغه نه اذی لرې کړئی.

قوله: مَعَ الْغُلاَمِ عَقِيقَةٌ: حسن رحمه الله او قتاده رحمه الله ددې د مفهوم مخالفت نه استدلال کوی او فرمائی چې د جنیئ به نه کولې شی.

د جمهورو په نیز به د دواړو عقیقې کیږی، جمهورو ددې روایتونو نه استدلال کوی چې په هغې کښې د جینئ د عقیقې حکم ورکړې شوې دې، چې دهغې تفصیل تیر شوې دې.(2)

قوله: فَأَهْرِيقُوا عَنْهُ دَمًا: تاسو د هلك دطرفنه وینه توې کړئی پدې کښې (دم) مبهم دې، د جمهورو په نیز هلك د طرفنه دوه چیلئ او د جینئ دطرفنه یو چیلئ ذبح کول مستحب دی.

لکه څنګه چې په روایتونو کښې تیر شوی دی چې (عن الغلام شاتان وعن الجاریة شاة) امام مالك رحمه الله فرمائي چې د دواړو د طرفنه یو چیلئ بهٔ ذبح کولې شی.

هغوئ د حسن رضی الله عنه او حسین رضی الله عنه د عقیقې په سلسله کښې وارد شوی روایت نه استدلال کوی، (ان النبی صلی الله علیه وسلم عق عن الحسن والحسین کبشا کبشا)

خو دا خبره مخکښې تفصیل سره راغلې ده چې په دې روایتونو کښې اضطراب دې یعنی ځینو کښې (کبشا) او ځینې سو (کبشین) ذکردی. ددې وجې ددې نه غلام دپاره یو کبش باندې استدلال کول درست نه دی او په ډیرو روایتونو کښې د (عن الغلام شاتان) تصریح راغلې ده.

قوله: فَأَهْرِيقُوا عَنْهُ دَمًا: (امیطوا بمعنی ازیلوا) زائل کړئی، لرې کړئی، د (اذی) باره کښې درې اقواله دی.

① مشهور قول دادې چې ددې نه هغه وینښته مراد دی چې د بچی په سر باندې د ولادت په وخت کښې وی.

---

(1) فتح الباری :۹/ ۷۳۷)

(2) فتح الباری :۹/ ۷۳۹)

③ دویم قول دادي چې ددې نه هغه وینه مراد ده چې د جاهلیت په زمانه کښې به د عقیقې په وخت کښې د بچي په سر اچولې شوه، چې کومه چیلۍ یا څناور به ئې په عقیقه کښې ذبح کولو. د هغې وینه به ئې ددې بچي په سر اچوله.[1]
اسلام ددې ممانعت اوکړو چې داشان د بچي په سر باندې دې وینه توې نه کړې شی، ددې تفصیل مخکښې رازی.

④ یو قول دا هم دې چې (اذی) نه ختنه مراد ده، او مطلب ددې داې چې عقیقې سره دبچې ختنه کوئی.[2]
دا روایت امام بخاری رحمه الله دلته په ړومبی ځل ذکر کړې دې.

[۵۱۵۵] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي الْأَسْوَدِ حَدَّثَنَا قُرَيْشُ بْنُ أَنَسٍ عَنْ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ قَالَ أَمَرَنِي ابْنُ سِيرِينَ أَنْ أَسْأَلَ الْحَسَنَ مِمَّنْ سَمِعَ حَدِيثَ الْعَقِيقَةِ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ مِنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ.

دا عبدالله بن محمد بن ابی الاسود دې، د ابوالاسود نوم حمید دې، د قریش بن انس په بخاری رحمه الله کښې صرف دا یو حدیث دې، ددوئ آخری عمر کښې حافظه کمزورې شوې وه، ددوئ د اختلاط دا دور دکال ۲۰۳ هجرئ نه تر کال ۲۰۶ هجرئ پورې وو.[3]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې: (فمن سمع منه قبل ذلك فسماعة صحيح)[4]
او علامه عینی رحمه الله فرمائی چې: (ولعل سماع شيخ البخاری عن قريش كان قبل الاختلاط)[5]
د قریش شیخ حبیب بن شهید دې، هغه فرمائی چې ابن سیرین ماته حکم اوکړو چې څه د حسن رضی الله عنه نه تپوس اوکړم چې د عقیقې حدیث د چا نه آورېدلې دې؟ نو ما دهغوئ نه تپوس اوکړو نو هغوئ اوفرمائیل چې سمره بن جندب رضی الله عنه نه.
علامه ابن حزم رحمه الله فرمائی چې (لايصلح للحسن سماع عن سمرة الاحديث العقيقة وحده)[6]
لیکن امام بخاری رحمه الله په تاریخ کبیر کښې د علی بن المدینی قول نقل کړې دې چې (سماع الحسن من سمرة صحيح) یعنی صرف عقیقې والا حدیث نه بلکه نور روایاتو کښې هم د حسن سماع د سمره بن جندب نه صحیح او ثابت ده.[7]
امام بخاری رحمه الله دلته د حسن بصری رحمه الله والا ذکر شوې حدیث د عقیقې ذکر نه کړو، حافظ

---

[1] عمدة القاری:۸۷/۲۱)
[2] عمدة القاری:۸۷/۲۱)
[3] فتح الباری :۷٤۰/۹)
[4] عمدة القاری:۸۷/۲۱)
[5] عمدة القاری:۸۷/۲۱)
[6] عمدة القاری:۸۷/۲۱)
[7] عمدة القاری:۸۸/۲۱)

ابن حجر رحمه الله فرمائي چې (وكانه اكتفى من ايراده بشهرته، فتح البارى :۹/ ۷٤۱)
امام ترمذى رحمه الله هغه روايت نقل كړې دې چې په هغې كښې دى (الغلام مرتهن بعقيقته تذبح عنه يوم السابع ويحلق راسه ويسمى) امام ترمذى رحمه الله دې نه پس فرمائي چې (هذا حديث حسن صحيح والعمل على هذا عند اهل العلم يستحبون ان تذبح عن الغلام العقيقة يوم السابع فان لم يتهيا يوم السابع فيوم الرابع عشر، فان لم تيها عق عنه يوم احدى وعشرين) [1]

قوله: مرتهن بعقيقة: (مرتهن) د تاء په فتحه سره، په معنى د رهن ده، يعنى نو مولود د خپلې عقيقې په وجه ګرو او مرهون وى، عقيقه دده دپاره لازمى ده ددې څلور مطلبونه دى.
① امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي چې دا د شفاعت متعلق دې، مطلب دادې كه د بچى د طرفنه عقيقه اونه كړې شوه، او هغه مړ شو نو هغه به د مور پلار په حق كښې سفارش نه كوې، ددۀ د سفارش به قبول نه وى، علامه خطابى رحمه الله دا معنى د ټولو نه ښه ګرزولې ده. [2]

② دويمه معنى داده چې (مرهون باذن شعره) يعنى د ويښتو (اذى)دې سره پاتې شى او تر دې پورې چې دعقيقى وخت پورې دده ويښته صفا كولې شى. [3]
③ علامه ابن اثير رحمه الله فرمائي چې ددې جملې نه د عقيقى لزوم او واجب خودل مقصود دى، ددې وجې څه څيز چې كله مرهون وى نو هغه د مرتهن په قبضه كښې وى او رهن كيخودلو دپاره دقرض ادا كولو نه بغير ددې نه انتفاع ممكن نه وى، انتفاع دپاره دقرض ادا كول ضرورى دى نو چې څنګه د قرض ادا كول لازم دى، دا شان هم لازم ده.

④ علامه ابن القيم رحمه الله په (تحفة الورد فى احكام المولود) كښې فرمائي چې د غلام په خپله عقيقه كښې د مرهون كيدو مطلب دادې چې كله يو بچې پيدا كيږى نو يو شيطان ده پسې لګى. حديث پاك كښې رازى چې : (مامن مولود الاويسه الشيطان) ددې وجې د پيدائش نه پس بچې ژاړى نو كله پورې چې د بچى عقيقه اونه كړې شى نو هغه دشيطان د تسلط نه نه آزاديږى، عقيقه كولو نه پس هغه د شيطانى تسلط د آثارو نه آزاد او محفوظ شى.

قوله: يذبح عنه يوم السابع: په اوومه ورځ به دده دطرفنه ذبح كولې شى. (يذبح) مجهول دې، پلار بۀ يې ذبح كوى، ګنى چې د چا په ذمه د بچى نفقه ده هغه به ذبح كوى. [4] ددې جملې نه استدلال كوى او امام مالك رحمه الله فرمائي چې عقيقه اوومې ورځې سره موقت او خاص ده اوومې ورځې نه مخكښې كه څوك كوى نو دا به قبول نه وى اود اوومې ورځې نه پس به فوت شى. [5]

---

[1] (سنن الترمذى كتاب الاضاحى باب من العقيقة: ۱۰۱/٤، رقم الحديث:۱۵۲۲)
[2] عمدة القارى:۷۷/۲۱)
[3] عمدة القارى:۷۷/۲۱)
[4] فتح البارى :۹/ ۷٤۳)
[5] فتح البارى :۷٤۲/۹)

امام شافعی رحمه الله فرمائی چې اوومه ورځ اختیار دپاره ده. تعیین وتحدید دپاره نه ده. لهذا ددې نه مخکښې هم کیدې شی. اګر چې مختار اوومه ورځ ده. [۱]

که سابع اول کښې فوت شی نو سابع ثانی یعنی څوارلسم تاریخ دې اوکړې شی که په سابع ثانی هم اونه کړې شی نو سابع ثالث یعنی په یویشتمه ورځ دې اوکړې شی. [۲]

د بچی د ولادت ورځ به دې اوو ورځو کښې نشی شمیرلې، امام مالک رحمه الله تصریح کړې ده چې دولادت ورځې نه پس والا ورځ به رومبئ شمیرلې شی، خو که بچې د طلوع نه مخکښې پیدا شوې وی یعنی د شپې پیدا شوې وی نو دې به راتلونکې ورځ شمیرلې شی. [۳]

سابع اول (اوومه ورځ) سابع ثانی، یعنی څوارلسمه ورځ، او سابع ثالث یعنی یویشتمه ورځ. په دې دریو واړو کښې عقیقه کول مختار دی. دې نه پس اسابیع کښې هم بالغ کیدو نه مخکښې مخکښې کولې شی، البته بالغ کیدونه پس بیا د عقیقې حکم ساقط شی، بل څوک دده د طرفنه عقیقه نشی کولې، که څوک د خپل طرفنه عقیقه کول غواړی نو ددې ګنجائش شته دې [۴] ځکه چې نبی کریم ﷺ نه مروی دی چې نبی کریم ﷺ د نبوت نه پس پخپله پخپله عقیقه کړې وه، دا روایت ضعیف دې خو ددې نه ځینې عالمان دبالغ کیدو نه پس پخپله خپله عقیقه کولو جواز باندې استدلال کوی. [۵]

محمد بن سیرین فرمائی چې (لواعلم انی لم یعق عنی لعققت عن نفسی) [۶]

او د حسن بصری رحمه الله قول دې چې (اذالم یعق عنك فعق عن نفسك وان کنت رجلا) [۷]

قوله: ویسمی: قتاده رحمه الله اکثر شاګردانو داهم (ویسمی) نقل کړې دې، ددې دوه معنی مشهورې دی.

① یو خو دا چې د عقیقې په وخت دې د بچی نوم کیخودلې شی. ددې تفصیل تیر شوې دې. ② بل دا چې د ذبح کولو په وخت کښې دې تسمیه اووئیلې شی. [۸] نو ابن ابی شیبه د قتاده رحمه الله نه نقل کړی دی چې په هغې کښې دی چې (ویسمی العقیقة کما یسمی علی الاضحیة بسم الله والله اکبر ثم یذبح) [۹]

---

[۱] فتح الباری :۷۴۲/۹)

[۲] فتح الباری :۷۴۲/۹)

[۳] اعلاء السنن، کتاب الذبائح:۱۲۱/۱۷).

[۴] شرح التهذیب:۴۳۲/۸).

[۵] فتح الباری :۷۴۲/۹)

[۶] فتح الباری :۷۲/۹).

[۷] اعلاء السنن، کتاب الذبائح:۱۲۱/۱۷).

[۸] فتح الباری :۷۴۱/۹)

[۹] مصنف ابن ابی شیبة : فتح الباری :۹/، عمدة القاری:۷۴۱/۲۱)

لیکن په دې دوه معنو کښې اوله معنی زیاته مشهوره ده، البته د قتاده اصحابو کښې همام دا لفظ (یدمی) نقل کړې دې.

امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی چې همام ته وهم شوې دې ، اصل لفظ (یسمی) دې لکه څنګه چې د قتاده رحمه الله اکثرو اصحابو نه نقل کړې شوی دی.[1]

لیکن د ابوداؤد د خبرې نه شبه کیږی چې همام نه کله د (یدمی) د تشریح متعلق تپوس اوشو او هغوئ اوفرمائیل چې د څناورو د ذبح کولو په وخت کښې ددې د رګونو نه وتلې وینې ته دې مالوچ کیخودې شی او په وینه د ګنده کیدو نه پس دې دا د دبچی په سر کیخودې شی. چې ددې نه وینه دده په مخ راشی، دې عمل ته تدمیه وائی.[2] او جاهلیت په زمانه کښې خلقو به د عقیقې په وخت کښې دا عمل کولو.

علامه ابن حزم هم (المحلی) کښې دامام ابو داؤد رحمه الله اعتراض رد وهم ګنړلې دې، او وئیلی ئې دی چې (یدمی) وهم نه بلکه صحیح دې.
ابن حزم د ابن عمر رضی الله عنه ، عطاء رحمه الله ، حسن بصری رحمه الله او قتاده رحمه الله د تدمیه ددې عمل استحباب نقل کړې دې.[3]
لیکن ابن ابی شیبه د حسن بصری رحمه الله او قتاده رحمه الله د کراهت قول نقل کړې دې.[4]

جمهور فرمائی چې د اسلام په شروع کښې د (تدمیه) دا عمل مشروع وو، بیا منسوخ شوې دې، ددې عمل په نسخ باندې څو احادیث دلالت کوی.

① ابن حبان رحمه الله د عائشه صدیقه رضی الله عنها نه روایت نقل کړې دې چې (کانوا فی الجاهلیة اذا عقوا عن الصبی خضبوا قطنة بدم العقیقة، فاذا حلقوا راس الصبی وضعوها علی راسه فقال النبی صلی الله علیه وسلم اجعلوا مکان الدم خلوقا)[5]

او د ابوالشیخ روایت کښې ددې اضافه هم ده چې: (ونهی ان یمس راس المولود بدم)[6]

② ابن ماجه د یزید بن عبدالله روایت نقل کړې دې چې (ان النبی صلی الله علیه وسلم قال : یعق عن الغلام ولا یمس راسه بدم)[7]
دا روایت مرسل دې څکه چې یزید بن عبدالله تابعی دې، صحابی نه دې.[8]

---

[1] سنن ابی داؤد کتاب العقیقة کتاب الاضاحی :باب :رقم الحدیث :۲۵۳۸).
[2] فتح الباری :۹/ ۷٤۱)
[3] فتح الباری :۷٤۱/۹، المحلی لابن حزم کتاب العقیقة:۲۳۶/۶)
[4] مصنف ابن ابی شیبة: فتح الباری :۹/ ۷٤۲)
[5] الاحسان بترتیب صحیح ابن حبان کتاب الاطعمة باب العقیقة :۳۵۵/۸، رقم الحدیث۵۲٤۸)
[6] فتح الباری :۹/ ۷٤۱)
[7] سنن ابن ماجه کتاب الذبائح باب العقیقة: رقم الحدیث : ۳۲۶۶).
[8] فتح الباری :۷٤۱/۹)

③ امام ابوداؤد رحمه الله او حاکم هم د عائشه صديقه رضی الله عنها په شان يو حديث د عبدالله بن يزيد نه نقل کړې دې. ددې په آخر کښې دی چې «فلما جاء الله بالاسلام کنا نذبح شاة ونحلق راسه ونلطخه بزعفران» (۱)

د ا روايت اګر چې مرفوع نه دې ليکن د عائشه صديقه رضی الله عنها حديث دپاره شاهد دې. (۲)

ددې احاديثو په وجه جمهور تدميه لره مکروه ګرزوی، نو علامه ظفر احمد عثمانی صاحب ليکی چې: «فالحق ان ذالك كان فی اول الاسلام ثم نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عنه كما فی حديث يزيد بن عبدالله المزنی وبريدة الاسلمی» (۳)

فائده: عقيقه کښې چيلې يا چيلئ ذبح کول سنت دی، او بهتر دادی چې ددې چيلئ هډوکی دې مات نه کړې شی، ددې غوښه دې پخپله هم اوخوری او صدقه دې اوکړی، او اقرباء او احباب ته دې هم ورکړې شی. د عائشه صديقه رحمه الله په يو حديث کښې ددې تصريح شويده. چې کوم امام احمد رحمه الله نقل کړې دې. (۴)

د چيلئ نه علاوه غوا، اوښ وغيره سره عقيقې خو کيږی ليکن هغه افضل نه ده. افضل شاة دې اوګډ وغيره هم د شاة په حکم کښې رازی.

شاه ولی الله رحمه الله په حجة الله البالغة کښې د عقيقې د مشروعيت ډير مصلحتونه او فوائد بيان کړی دی.

① يو فائده داده چې سره د بچی نسبت په معاشره کښې ښه متعارف شی چې دا دفلانی سړی بچې دې.

② دې سره د سخاوت جذبه بيداره شی، دمال محبت، بخل، او د کنجوسئ مذموم صفت باندې يو ګوزار لږی.

③ دا د خوشحالئ موقع وی، عقيقه کښې ددې خوشحالئ په موقع باندې دشکر ادا کولو موقع ملاؤ شی.

④ عقيقه د بچی دپاره د خيرښيګړې او برکت باندې مشتمل ددعا سبب جوړيږی، ځکه چې دعقيقې غوښه مساکينو او فقراء باندې خورولې شی، دهغوئ د زړونو نه دعا اوزی چې دا دبچی دپاره دبرکت او ښيګړې ذريعه جوړيږی. (۵)

---

(۱) (سنن ابی داؤد كتاب الاضاحى باب العقيقة رقم الحديث:۲۸٤۳، والمستدرک للحاكم، كتاب الذبائح والعقيقة: ٤/۲۳۸)

(۲) فتح البارى :۹/ ۷٤۱)

(۳) اعلاء السنن : ۱۲۱/۱۷).

(٤) المستدر الحاكم للامام الحاكم: ٤/۲۳۸ واقر الذهبى).

(۵) حجة الله البالغة: ٤۱۲/۲).

۳- باب الفَرَع

[۵۱۵۶] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ أَخْبَرَنَا الزُّهْرِيُّ عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضی الله عنه- عَنِ النَّبِيِّ -صلی الله علیه وسلم- قَالَ «لَا فَرَعَ وَلَا عَتِيرَةَ». وَالْفَرَعُ أَوَّلُ النِّتَاجِ، كَانُوا يَذْبَحُونَهُ لِطَوَاغِيتِهِمْ، وَالْعَتِيرَةُ فِي رَجَبٍ. [۵۱۵۷]

۴- باب العَتِيرَة

[۵۱۵۷] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ الزُّهْرِيُّ حَدَّثَنَا عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلی الله علیه وسلم- قَالَ «لَا فَرَعَ وَلَا عَتِيرَةَ». قَالَ وَالْفَرَعُ أَوَّلُ نِتَاجٍ كَانَ يُنْتَجُ لَهُمْ، كَانُوا يَذْبَحُونَهُ لِطَوَاغِيتِهِمْ، وَالْعَتِيرَةُ فِي رَجَبٍ. [ر: ۵۱۵۶]

(فرع) د اوښې د هغه ړومبی بچی نوم دې چې په زمانه جاهلیت کښې به د بتانو په نوم باندې ذبح کولې شی.[۱]

او (عتیرة) هغه ذبیحه ته وائی چې په زمانه د جاهلیت کښې به د رجب په میاشت کښې په ړومبۍ عشره کښې خلقو کوله، دې ته بهٔ ئې (رجبیة) وئیله.[۲]

په احادیث باب کښې نبی کریم ﷺ د فرع او عتیرة نفی فرمائیلې ده.

د غیر الله په نوم باندې ذبح کول، بالاتفاق حرام دی، البته عتیره او فرع د الله جل جلاله په نوم باندې کولې شی او یا نه. پدې باندې اختلاف دې.

امام شافعی رحمه الله نه استحباب منقول دې. ابن سیرین به په رجب کښې عتیره ذبح کوله، امام طحاوی رحمه الله په (مشکل الاثار) کښې د عمر فاروق رضی الله عنه نه هم د عتیره نقل کړې دې.[۳]

په څو احادیثو کښې د فرع او عتیره جواز معلومیږی، په هغې کښې څو دادی.

① امام نسائی رحمه الله د حارث بن عمرو رضی الله عنه نه روایت نقل کړېدې چې یو سړی د عتیره او فرع متعلق تپوس اوکړو، نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې (من شاء عتر، من شاء لم یعتر ومن شاء فرع ومن شاء لم یفرع).[۴]

---

[۱] عمدة القاری:۲۱/۸۸)

[۲] عمدة القاری:۲۱/۸۹)

[۳] عمدة القاری:۲۱/ ۸۹)

[۴] (سنن النسائی کتاب الفرع والعتیرة باب لافرع ولا عتیرة (رقم الحدیث:۴۵۵۲: ۳/۷۹)

④ امام نسائی رحمه الله نه يو روايت نقل كړېدې فرمائی چې دابوذربن لقيط بن عامر رضي الله عنه نبی كريم ﷺ نه تپوس اوكړو چې «يارسول الله انا كنا نذبح النبائح فی الجاهلية فی رجب فناكل ونطعم من جاءنا فقال رسول الله ﷺ لا باس به» (١)

③ طبرانی په معجم اوسط كښې د ابن عمر رضي الله عنهما روايت نقل كړې دې، فرمائی چې نبی كريم ﷺ نه د عتيره متعلق تپوس اوشو نو نبی كريم ﷺ اوفرمائيل چې «هی حق» (٢)

④ معجم اوسط كښې يزيد بن عبدالله مزنی رضي الله عنه نه روايت دې چې «ان رسول الله ﷺ قال فی الابل فرع وفی الغنم فرع» (٣)

⑤ امام ترمذی رحمه الله د محنف بن سليم روايت نقل كړې دې چې هغوئ نبی كريم ﷺ په عرفات كښې اوكتلو چې فرمائيل ئې: «ياايها الناس على كل اهل البيت فی كل عام اضحية وعتيرة» (٤)

⑥ امام ابو داؤد رحمه الله د نبيشه روايت نقل كړې دې چې يو سړی آواز اوكړو او وې فرمايل چې: «يارسول الله ﷺ! انا كنا نعتر عتيرة فی الجاهلية فی رجب فما تامرنا؟ قال ﷺ: اذبحوا لله فی ای شهر كان قال: انا كنا نفرع فرعا فی الجاهلية فما تامرنا؟ فقال فی كل سائمة فرع قال: ابو قلابة، السائمة مائة» (٥)

دا ټول احاديث د فرع او عتيره په اباحت باندې دلالت كوی، او امام شافعی رحمه الله دپاره مستدل دې. ليكن جمهور فرع او عتيره لره مكروه ګڼړی، قاضی عياض رحمه الله او علامه حازمی رحمه الله فرمائی چې د نهی احاديث، د اباحت دپاره ناسخ دې. (٦)

او ابن المنذر فرمائی چې: «ومعلوم ان النهی لا يكون الا عن شئ قد كان يفعل ولا نعلم ان احدا من اهل العلم يقول ان النبی ﷺ كان نهاهم عنهما عن الفرع والعتيرة ثم اذن فيهما» (٧)

---

(١) (سنن النسائی كتاب الفرع والعتيرة باب تفسير الفرع (رقم الحديث:٤٥٥٧، ٨١/٣)
(٢) عمدة القاری:٨٩/٢١، فتح الباری :٧٤١/٩ فتح الباری :٧٤۶/٩)
(٣) عمدة القاری:٨٩/٢١، فتح الباری :٧٤١/٩ فتح الباری :٧٤۶/٩)
(٤) سنن الترمذی كتاب الاضاحی، رقم الحديث:١٥١٨،٤/٩٩، فتح الباری :٧٤۶/٩ عمدة القاری:٨٩/٢١)
(٥) سنن ابی كتاب الاضاحی باب فی العتيرة: رقم الحديث : ٢٨٣٠ : ١٠٤/٣).
(٦) عمدة القاری:٢١/ ٨٩)
(٧) عمدة القاری:٢١/ ٨٩)

۷۵ - كتاب الذبائح والصيد

(الاحاديث ۵۱۵۸ ___ ۵۲۲۴)

په كتاب الذبائح والصيد كښې اته څلويښت ابواب او درې نوى احاديث دى. په دې كښې يويشت احاديث معلق او باقى موصول دى. ۷۹ احاديث مكرر دى او شوارلس په ړومبى ځل په دې كښې تخريج كړې شوى دى. نهه احاديث متفق عليه دى، كتاب الذبائح كښې د صحابه كرامو رضي الله عنهم او تابعينو وغيره څلور څلويښت آثار دى۔

۷۵=كتاب الذبائح والصيد

قوله: ذبائح: ذبائح د (ذبيحة) جمع ده. (ذبيحه) د (مذبوحه) په معنى كښې ده. هغه ځناورلره ذبح كړې شى.[1]

قوله: صيد: صيد د باب ضرب مصدر دې. او اسم مفعول مصيد په معنى كښې دې. هغه ځناوركوم ته چې وائى چې دهغې ښكار اوكړې شى.[2]

۱-باب التَّسْمِيَةِ عَلَى الصَّيْدِ.

وَقَوْلِهِ تَعَالَى (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللَّهُ بِشَيْءٍ مِنَ الصَّيْدِ) إِلَى قَوْلِهِ (عَذَابٌ أَلِيمٌ). وَقَوْلِهِ جَلَّ ذِكْرُهُ (أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الأَنْعَامِ إِلاَّ مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ) إِلَى قَوْلِهِ (فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ) وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْعُقُودُ الْعُهُودُ، مَا أُحِلَّ وَحُرِّمَ (إِلاَّ مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ) الْخِنْزِيرُ. (يَجْرِمَنَّكُمْ) يَحْمِلَنَّكُمْ (شَنَآنُ) عَدَاوَةُ (الْمُنْخَنِقَةُ) تُخْنَقُ فَتَمُوتُ (الْمَوْقُوذَةُ) تُضْرَبُ بِالْخَشَبِ يُوقِذُهَا فَتَمُوتُ (وَالْمُتَرَدِّيَةُ) تَتَرَدَّى مِنَ الْجَبَلِ (وَالنَّطِيحَةُ) تُنْطَحُ الشَّاةُ، فَمَا أَدْرَكْتَهُ يَتَحَرَّكُ بِذَنَبِهِ أَوْ بِعَيْنِهِ فَاذْبَحْ وَكُلْ.

دې باب كښې امام بخارى رحمه الله په ښكار باندې تسمية يعنى د بسم الله وئيلو وجوب بيان كړېدې. ځينو نسخو كښې دلته باب نشته دې. په شروع كښې قرآنى آيتونه امام بخارى رحمه الله د معمول مطابق ذكر كړى دى. په شروع كښې درې آيتونه د سورة مائده دى. ړومبى آيت مبارك دې چې: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَيَبْلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ بِشَىْءٍ مِّنَ ٱلصَّيْدِ تَنَالُهُۥٓ أَيْدِيكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلْغَيْبِ ۚ فَمَنِ ٱعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝[3]

---

[1] عمدة القارى:۲۱/ ۹۰)

[2] ارشاد السارى:۱۲/ ۲۲۸).

[3] (ليبلوكم) ليحتبرن التزامكم لامر الله ونهيه (بشئ من الصيد بارسال بعض الحيوانات البرية التى يحل صيدها واكلها (تناله رماحكم وايديكم) والمعنى يبعثه عليكم بحيث ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

(ترجمه) اې دايمان خاوندانو! الله ﷻ تاسو باند پامتحان کوی دهغې لږ ډير ښکار په باره کښې کوم ته چه ستاسو لاسونه او نيزې وررسی اوا د دې دپاره چه الله ته په علم ظاهری سره هغه څوک معلوم شی ا چه دهغه نه په غيب هم ويريږیا نو څوک چې د دې حکم نه پس زياتې اوکړی نو هغه دپاره دردناکه سزا مقرر ده

مطلب دا دې چې داحرام په حالت کښې ښکار کول ممنوع دی، محرم سره خواوشا کښې ځناور ګرزی راګرزی، نو دده د لاس يا دده د نيزې سره به ښکار کيږی، اوس دا امتحان او آزميښت به رازی چې څوك په دې آزميښت کښې کامياب شو. نو هغه کامياب پاتې شو. ليکن چې چا د شريعت د حکم خلاف ورزی اوکړه، دهغه دپاره په آخرت کښې دردناك عذاب دې.

دويم آيت مبارك دې چې:

أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ ۗ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ۝

(ترجمه): تاسو دپاره د څاروؤ ټول قسمونه حلال دی مګر دکومو بيان چې به وړاندې تاسو ته اوشی خوځان دپاره ښکار حلال مه ګڼړئ چې تاسو د احرام حالت کښې يئ بيشکه الله ﷻ چې څه غواړی هغه حکم کوی

دريم آيت مبارك دې چې: حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ ۚ ذَٰلِكُمْ فِسْقٌ ۗ الْيَوْمَ

...بقيه ازحاشيه گذشته] بصبح فى متناول ايديكم ولا بكفلكم كبير مشقة للحصول عليه، بل يستطيع احدكم ان يمسكه بيده او يخرجه برمحة والرمع فى يده.(الاية) وتتمها: لِيَعْلَمَ اللَّهُ مَنْ يَخَافُهُ بِالْغَيْبِ ۚ فَمَنِ اعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ۝ ليتميو من يراقب فى السر والعلن ومن تنهار عزيمته امام عرض الدنيا وشهوة النفس و يتجاوز حدود الله تعالى: فيقع فى سخطه واليم عقبه. (بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ) هى الابل والبقرة والغنم وما يشابهها من الحيوانات الوحشية (إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ) الا ما سنذكر تحريمة وتتمه الاية: (غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ۝) اى احللنا الانعام فى حال امتناعكم من صيد الحيوان السيرى وانتم محرمون. فلا يجوز للمحرم ان يقتل صيدا فى حال احرامه مطلقا (الميتة) هى كل حيوان ذهبت حياته بدون ذبح شرعى (الى قوله) وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ ذَٰلِكُمْ فِسْقٌ الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ دِينِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِإِثْمٍ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ۝

(اهل لغير الله) ذكر عند ذبحه اسم غير اله تعالى: من الاهلال وهو رفع الصوت. (وما اكل السبع) ما اكل منه حيوان مفترس له ناب يعدو به على النسا او الداباب (الا ما ذكيتم) الا ما ادركتموه مما سبق ذكره وفيه حياة مستقرة فذبحتموه ذبحا شرعيا (النصب) حجارة منصوبة حول الكعبة يذبحون عليها تعظيما لها و تقربا لاصنامهم و قيل هى الاصنام والمراد ما ذبح من اجلها (تستقسموا) تطلبوا معرفة ما قسم لكم. (بالازلام) جمع زلم، وهى قطع خشبية كتب على بعضها افعل، و بعضها لا تفعل و بعضها مهمل. يضبرون بها اذا ارادو القيام بعمل ما (فسق) خروج عن طآعتة الله عز وجل (يئس.....) يشبوا من الطعن به او يرجعوكم الدين (تخشوهم) تخافون (اكلمت...) بيان ما تحتاجون اليه من الاحكام (و اتممت...) باكمال الدين والشريعة (مخمصة) مجاعة (متجانف لاثم) مائل الى المخالفة و فعل ما هو محرم، (يقذها) يشخنها ضربابعضا او بحجر (نزدى) تسقط من علو.

يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن دِينِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ

(ترجمه): په تاسو باندې حرام کړې شوې ده مردارو اووینه او دخنزیرغوښه اوهغه چې د الله ﷻ نه سوا دبل چا په نوم حلال شوې وی ۱ او چې مرئ ئې خفه شوې وی ۱ او چې دګزار نه مړ شی او چې راوغورزیږی|او چې بل ځناورئې په ښکراووهی اومړشی|او چې يو درنده ترې نه خوراک کړې وی|بغير دهغې نه چې تاسوژوندې موندې وی| اوحلال کړې مو وی | اوهغه چې د بتانو په نوم ذبح شوې وی| او دا چه دجوارئ په غشو تقسیم کوئ | دا ټول دګناه کارونه دی | نن ورځې کافران ستاسوددين (تباه کولو)نه پوره پوره مايوس شوی دی| نو دهغوئ نه مه ويرېږئ

مذکوره د دريو وارو آيتونو مناسبت د کتاب او باب نه واضح دې.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْعُقُودُ الْعُهُودُ: ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چې آيت كريمه (يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ) كښې عقود نه هغه عهد مراد دی چې د حلال او د حرام متعلق کړې شوی دی او (إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ) نه خنزير وغيره مراد دی، چې دهغې ذکر په بل آيت مبارك كښې راغلې دې.

قوله: يَجْرِمَنَّكُمْ يَحْمِلَنَّكُمْ شَنَآنُ عَدَاوَةُ: آيت مبارك كښې دی چې (وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ أَن صَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ) دې كښې (يَجْرِمَنَّكُمْ) د (يحملنكم) په معنى كښې دي او (شَنَآنُ) د عداوت په معنى دی، يعنى ديو عدوات دې تاسو لره د مسجد حرام نه منع باندې آماده نه کړی.

قوله: الْمُنْخَنِقَةُ: (منخنقة) نه هغه ځناور مراد دې چې دهغې مرئ خپه کولې شی او هغه مړشی. (موقوذة) نه هغه مراد دې چې هغه په کوتك اووهلې شی او هغه مړ شی. نو عرب وائى چې (يوقذها فتموت) او (مترديه) هغه دې چې دغر نه راپريوزی او مړ شی. (نطيحة) هغه دې چې هغه چيلئ پخپلو ښکرو سره اووهی.

که تاسو دا اووينئ چې لکئ خوزوی او يا سترګې رپوی، (چې د ژوند هغه رګ په ده کښې موجود دې) نو دادې ذبح کړې شی او اوده خوړلې شی.

[۵۱۵۸] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ عَنْ عَامِرٍ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ - رضى الله عنه - قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - عَنْ صَيْدِ الْمِعْرَاضِ قَالَ « مَا أَصَابَ بِحَدِّهِ فَكُلْهُ، وَمَا أَصَابَ بِعَرْضِهِ فَهُوَ وَقِيذٌ ». وَسَأَلْتُهُ عَنْ صَيْدِ الْكَلْبِ فَقَالَ « مَا أَمْسَكَ عَلَيْكَ فَكُلْ، فَإِنَّ أَخْذَ الْكَلْبِ ذَكَاةٌ، وَإِنْ وَجَدْتَ مَعَ كَلْبِكَ أَوْ كِلاَبِكَ كَلْبًا غَيْرَهُ فَخَشِيتَ أَنْ يَكُونَ أَخَذَهُ مَعَهُ، وَقَدْ قَتَلَهُ، فَلاَ تَأْكُلْ، فَإِنَّمَا ذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ عَلَى كَلْبِكَ وَلَمْ تَذْكُرْهُ عَلَى غَيْرِهِ».[ر: ۱۷۳]

عدى بن حاتم نه روايت دې چې ما د نبى کريم ﷺ نه د معراض دښکار باره کښې تپوس اوکړو، نو نبى کريم ﷺ اوفرمائيل چې که ددې په تيره طرف سره زخمى شی نو دادې

اوخوری او که ددې په پلنوالی سره زخمی شی نو دا د (موقوذة) په حکم کښې دې. اوما د نبی کریم نه د سپی د ښکار متعلق تپوس اوکړو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې هغه ښکار ستا دپاره راؤنیسی (او پخپله دانه خوری) نو ته هغه خوړلې شې. ځکه چې د سپې ښکار دې لره ذبح کول دی او که تاسو خپلو سپو سره بل سپې اووینئ او تاسو ته اندیښنه وی چې ده هم ده سره ښکار نیولې دې نو تاسو دې لره مه خورئ، ځکه چې تاسو پخپل سپی باندې بسم الله وئیلې ده، په نورو سپو مو نه ده وئیلې.

قوله: مِعْرَاضِ: (مِعْرَاض) بروزن محراب د یو غشی نوم دې، چې ددې تشریح او تفسیر کښې داهل لغت مختلف اقوال دی.

① امام خلیل نحوی رحمه الله او داهل لغت یو جماعت فرمائی چې (سهم لا ریش له ولا نصل) یعنی داسې غشئ چې دهغې نه وزرې وی اونه پیکان بې وزورو غشئ.

② ابن درید او ابن سیده فرمائی چې (سهم طویل له اربع قذ ذرقاق فاذا رمی به اعترض) اوږد غشئ چې دهغې څلور باریکې وزرې وی چې کله دا اوویشتلې شی نو هغه وزرې پرانیستې کیږی. ③ علامه خطابی فرمائی چې (المعراض نصل عریض له ثقل ورزانة) یعنی پلن او دروند غشئ وی. ④ څینې وئیلی دی چې دا یو لرګې وی، چې ددې دواړو طرفونه باریك وی او ددې مینځ غټ وی.

⑤ څینو وئیلی دی چې دایو دروند لرګې وی، چې ددې یو سر نوکې دار وی، امام طحاوی رحمه الله هم دا قول قوی ګڼرلې دې. (۱)

ددې دا حکم دې که ښکار ددې په اړخ باندې لګیدلې وی نو هغه ښکار جائز دې، لیکن که دا غشې دښکار په پلنوالی باندې لګیدلې وی نو ددې خوراك ددې تصریح ده چې (وما اصاب بعرضه فهو وقیذ) وقیذ په معنی د موقوذ دې.

د سپی د ښکار د جواز شرطونه: (وَسَأَلْتُهُ عَنْ صَيْدِ الْكَلْبِ فَقَالَ «مَا أَمْسَكَ عَلَيْكَ فَكُلْ») د کلب اطلاق په سپی باندې هم کیږی او په نورو درندو باندې هم، لغتا ددې اطلاق کیږی.

کلب او نور درندګان که ښکار اوکړی نو هغه ښکار خوړل دریو شرطونو سره.

① ړومبې شرط دادې چې هغه معلم او تربیت یافته وی.

② دویم شرط دادې چې ښکار پسې لیږلې وخت کښې تسیمه وئیلې شوې وی.

③ دریم شرط دادې چې ددې ښکار نه سپی خوراك نه وې کړې.

کلب معلم به کله وی؟: د ښکار د جواز دپاره کلب معلم او پوهول ضروری دی، البته هغه ته به معلم کله وئیلې شي په دې کښې اختلاف دې.

امام احمد بن حنبل رحمه الله او حضرات صاحبینو په نیز د کلب معلم کیدو علامت دادې چې

---

۱) فتح الباری: ۷۳۹/۹ عمدة القاری: ۹۲/۲۱)

دي دري ځل دښکار دپاره پرېښودلې شي، او درې واره ځل هغه اونيسي او مالك ته ئې راوړي او پخپله دې ددې نه نه خوري، داسې سپې ته به کلب معلم وئيلې شي. د امام ابوحنيفه رحمه الله يو روايت هم ددې مطابق دې البته په دې روايت کښې په دريم ځل خوړکا امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز جائز دی او د صاحبينو په نيز جائز نه دی.

دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز په دې کښې داشان څه تحديد نشته دې، دا مبتلی بهٔ رائې باندې موقوف ده، کله چې د صائد ظن غالب وی چې سپی معلم جوړ شوې دې، نو دده دظن غالب مطابق به فيصله کولې شي.

شوافع پدې کښې دعرف اعتبار کوی هغوئ وائی چې عرف سره چې کوم کلب معلم ګڼړلې کيږی، شرعا به هغه ته معلوم وائی اوددې ښکار خوړل به درست وی.[1]

امام مالك رحمه الله تعليم کلب کښې د ترك اکل اعتبار نه کوی، هغه وائی چې سپې رابللو سره رانشي او تښتول سره اوتښتي. هم دا دده دمعلم کيدو دپاره کافي دی، هغه د ابو ثعلبه خشنی رضي الله عنه روايت نه استدلال کوی لکه څنګه چې امام ابو داؤد نقل کړی دی چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی چې: «اذا ارسلت کلبك وذکر اسم الله عليه فکك وان اکل»[2]

د جمهورو د طرفنه ددې حديث پاك جواب دادې چې په دې حديث کښې «وان اکل» اضافه د داؤد بن عمر تفرد دې اوداؤد آئمه جرح وتعديل ضعيف ګڼړلې دې.[3]

داشان دا ضافه د عدی بن حاتم حديث باب سره متعارف هم دې، ځکه چې ددې ځينو طرف سره تصريح ده. «فان اکل فلاك تاکل فانی اخاف ان يکون انما امسك علی نفسه»

او د ثقه په مقابله کښې د ضعيف راوی اضافه قبوله نه ده.[4]

بيا د امام ابو حنيفه رحمه الله د ا مام احمد بن حنبل رحمه الله په نيز ترك اکل دا قيد دسپی او نورو ښکاريانو درندو متعلق دی، ليکن په باز او شاهين وغيره کښې داشرط نشته دې، ددې د معلم کيدو دپاره صرف داشرط دې چې هغه په رابللو سره راشي.[5]

امام شافعی رحمه الله په دې کښې هم د«ترك اکل» قيد لګوی، او د هغه حديث پاك نه استدلال کوی چې کوم امام ابوداؤد رحمه الله د مجالد رحمه الله په طريق سره نقل کړې دې. په هغې کښې دی چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی چې «ماعلمت من کلب او باز ثم ارسلته و ذکرت اسم الله فکل مما امسك عليك قلت وان قتل ؟قال: ذاقتله ولم ياکل منه شيئا فانما امسك عليك»[6]

---

[1] «مذکوره مذاهب دپاره اوګورئی: مغنی لابن قدامة :٥٤٣/٨، وهداية، کتاب الصيد والذبائح ٥٠٣/٤، والمجموح شرح التهذيب :١٠٧/٩)

[2] (سنن ابو داؤد کتاب الصيد باب فی الصيد: رقم الحديث: ٢٨٥٢، ١٠٩/٣)

[3] (اوګورئی اعلاء السنن :٥٦/١٨)

[4] (تکمله فتح الملهم:٤٨٢/٣)

[5] (تکمله فتح الملهم:٤٨٢/٣)

[6] (سنن ابی داؤد کتاب الصيد والذبائح، باب فی الصيد :١٠٩/٣ (رقم الحديث :٢٨٥١)

حضرات حنيفه او حنابله وائی چې په دې حديث پاك كښې د «ہاں» ذکر د مجالد تفر د دې. مجالد ضعيف راوی دې، هغوئ د حفاظو مخالفت كوى. دا حضرات ددې روايت نه استدلال كوى چې كوم محمد رحمه الله په كتاب الاثار كښې په صحيح سند متصل سره نقل كړې دې. په هغې كښې دى چې «اذا ارسلته فقتل فكل فان الكلب اذا ضربته لم يعد وان تعليم الطير ان يرجع الى صاحبه وليس يضرب اذا اكل من الصيد ونتف من الريش فكل» [1]

د ذبيحه او ښكار كولو په وخت كښې د بسم الله وئيلو حكم: د ذبيحه او ښكار په وخت كښې د بسم الله وئيلو په حكم كښې اختلاف دې.

① حضرات حنيفه او مالكيه په نيز په قصد سره دبسم الله پريښودلو سره به ښكار او ذبيحه حلاله نه وى، البته كه نسيانا بسم الله ترك كړى نو ذبيحه او ښكار به حلال وى. ددوئ په نيز صحت ذبيحه دپاره اوښكار دپاره تسميه شرط نه دې، ليكن د قصد په حالت كښې د نسيان په حالت كښې نه.

② امام احمد رحمه الله په ذبيحه كښې همدا مسلك دې البته ښكار كښې ددوئ په نيز تسميه عمد او نسيان دواړو حالتونو كښې شرط دى. او يو روايت كښې هغه په ښكار كښې فرق هم كوى نو هغوئ په ارسال سهم خو نسيان جائز ګڼړى په ارسال كلب كښې نه. [2]

③ د امام شافعى رحمه الله په نيز تسميه على الذبيحه او تسميه على الصيد مسنون دې واجب نه دى، لهذا ترك تسميه كه عمدا وى اوكه نسيانا ، ذبيحه اوښكار بهٔ حرام نه وى. [3]

ليكن ددوئ په مسلك كښې دومره تفصيل هم دى چې د ذبيحه په وخت كښې عمدى طور بسم الله پريښودونكې د تأان په وجه او معمول په وجه ئې بسم الله پريښودى نه وى، اتفاقى طور ئې يو ځل نيم بسم الله پريښودى وى. خو كه ده بسم الله لره غير اهم ګڼړلې وى او دا ئې پريښودې وى يائې د تسميه دپريښودلو معمول جوړ كړې وى نو په د اسې صورت كښې به ذبيحه حلاله نه وى. [4]

د جمهورو دلائل: ① د جمهورو ړومبې دليل د قرآن پاك آيت «وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ» نه دې، داشان د سورت مائده آيت كښې دى چې «واذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ»

② مخكښې د ابو ثعلبه خشنى روايت رازى، په هغې كښې دى چې «وما صدت بقوسك فذكرت اسم الله فكل وما صدت بكلبك المعلم فذكرت اسم الله فكل»

---

[1] (كتاب الاثار باب الصيد الكلب:۱۳۹، دكتاب الاثارد روايت الفاظ دادى: وا امسک عليک كلبک ان كان عالما فكلٌ فان اكل فلاتاكل منه فانما امسک على نفسه واما الصقر والبارى فكل وان اكل فان تعلمه اذا دعوا ان يجيئک ولا يستطع ضربه حتى يدع الاكل)

[2] المغنى لابن قدامة:۸/۸٦۵).

[3] شرح مسلم للنووى:۲/۱٤۵، وقليوبى وعميرة:٤/۲٤۵).

[4] كتاب الامام باب الذبائح اهل الكتاب:۲/۱۳۱).

③ رافع بن خدیج رضی الله عنه روایت هم امام بخاری رحمه الله ذکر کړې دې «ما انهر الدم وذکر اسم الله علیه فکل لیس السن والظفر».
البته د نسیان په حالت کښې ترك تسمیه نه دلاندې احادیثو په وجه ذبیحه حرام نه ده.
① بیهقی رحمه الله او دارقطنی رحمه الله د عبدالله بن عباس رضی الله عنه روایت نقل کړې دې چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چې «المسلم یکفیه اسمه فان نسی ان یسمی حین یذبح فلیسم ولیذکر اسم الله علیه ثم لیاکل»[1] ② دار قطنی رحمه الله د ابوهریره رضی الله عنه روایت نقل کړې دې چې یو سړی نبی کریم نه تپوس اوکړو چې «الرجل منا یذبح وینسی ان یسمی الله قال: اسم الله فی فم کل مسم» ([2])
③ عبد بن حمید دراشد بن سعد نه مرسلا روایت نقل کړې دې چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چې «ذبیحة المسلم حلال، سمی او سلم یسم، مالم یتعمد والصید کذالك» ([3])
د امام شافعی دلائل: امام شافعی رحمه الله د قرآن پاك د آیت «إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ» نه استدلال کوی، هغه فرمائی چې پدې کښې د تذکیه ذکر دې، او ددې دپاره دتسمیه شرط لګولې شوې دې. تذکیه په لغت کښې فتح وشق ته وائی. ([4])
جمهور فرمائی چې دلته د تذکیه نه شرعی تذکیه مراد ده، چې په هغې کښې د تسمیه شرط دې، لغوی تذکیه مراد نه ده، که یو ښکار لره یو درنده مړ کړی او خوك دا دمړۀ کیدو نه پس ذبح کړی نو بالاتفاق حلال نه دې، حالانکه هلته لغوی تذکیه موندې شی. لیکن چونکه شرعی تذکیه نه شی موندې، ددې وجې هغه د میتة په حکم کښې دی، حلال نه دی، معلوم شو چې «إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ» کښې تذکیه نه شرعی تذکیه مراد ده. ([5])
امام شافعی رحمه الله د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها د روایت نه استدلال کوی چې کوم کښې دی چې «ان قوما قالوا للنبی صلی الله علیه وسلم ان قوما یاتوننا بلحم لاندری اذکر اسم الله علیه ام لا؟ فقال: سموا علیه انتم وکلوه قالت: وکانوا حدیثی عهد بالکفر» ([6])
مونږ لره خینې نوی مسلمانانو غوښه راوړه، مونږ ته معلوم نه وو چې هغوئ د ذبیحه په وخت کښې بسم الله وئیلې وه که نه؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چې ته بسم الله اووایه او خوره.
لیکن دا حدیث پاك د امام شافعی رحمه الله مستدل کیدو کښې صریح نه دې، ځکه چې په دې

---

[1]) (اعلاء السنن :٦٧/١٧، واخرجه الحاکم فی المستدرك:٢٣٣/٤ موقوفا علی ابن عباس، داشان اوګورئی نصب الرایة للزیلعی:٢٦١/٢)
[2]) سنن دار قطنی باب الصید والذبائح: ٢٩٥/٤).
[3]) الدر المنثور:٤٢/٣).
[4]) شرح مسلم للنووی:١٤٥/٢).
[5]) اعلاء السنن :٥٧/١٧).
[6]) دا روایت مخکښې بخاری شریف کښې راغی.

کښې وئیلې شوی دی چې تاسو بسم الله اووائی او خورئی. مقصد دادې چې کله مسلمانانو غوښه راؤړه نو په دې باره کښې خامخا د بدګمانئی شك نه دی کول پکار، حسن ظن نه کار اخستل پکار دی، کله پورې چې صراحة ترك تسمية عمدا معلوم نه وی نو بدګمانی نه دی کول پکار.
لهذا د حدیث پاك نه د ترك تسمیه عمدا د ذبیحه حلت باندې استدلال کول درست نه دی [۱]

٢ - باب صَيْدِ الْمِعْرَاضِ

وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ فِي الْمَقْتُولَةِ بِالْبُنْدُقَةِ تِلْكَ الْمَوْقُوذَةُ. وَكَرِهَهُ سَالِمٌ وَالْقَاسِمُ وَمُجَاهِدٌ وَإِبْرَاهِيمُ وَعَطَاءٌ وَالْحَسَنُ، وَكَرِهَ الْحَسَنُ رَمْيَ الْبُنْدُقَةِ فِي الْقُرَى وَالأَمْصَارِ، وَلاَ يَرَى بَأْسًا فِيمَا سِوَاهُ

[٥١٥٩] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي السَّفَرِ عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ سَمِعْتُ عَدِيَّ بْنَ حَاتِمٍ رضى الله عنه قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عَنِ الْمِعْرَاضِ فَقَالَ « إِذَا أَصَبْتَ بِحَدِّهِ فَكُلْ، فَإِذَا أَصَابَ بِعَرْضِهِ فَقَتَلَ فَإِنَّهُ وَقِيذٌ، فَلاَ تَأْكُلْ ». فَقُلْتُ أُرْسِلُ كَلْبِي. قَالَ « إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ وَسَمَّيْتَ، فَكُلْ ». قُلْتُ فَإِنْ أَكَلَ قَالَ « فَلاَ تَأْكُلْ، فَإِنَّهُ لَمْ يُمْسِكْ عَلَيْكَ، إِنَّمَا أَمْسَكَ عَلَى نَفْسِهِ ». قُلْتُ أُرْسِلُ كَلْبِي فَأَجِدُ مَعَهُ كَلْبًا آخَرَ قَالَ « لاَ تَأْكُلْ، فَإِنَّكَ إِنَّمَا سَمَّيْتَ عَلَى كَلْبِكَ، وَلَمْ تُسَمِّ عَلَى آخَرَ » [ر: ١٧٣]

د (مِعْرَاضِ) په تفصیل کښې د مختلفو اقوال بیان تیر شوېدې ، د (مِعْرَاضِ) په ښکار کښې حکم هم تیر شودې دې، که غشې په لنډوالی ښکار شوې وی نو هغه ښکار د موقوذة په حکم کښې دې اوددې خوراك جائز نه دې، دې نه پس امام بخاری رحمه الله د عبد الله بن عمر رضي الله عنه اثر نقل کړې دې، چې هوئ د (بندقه) د ښکار متعلق اوفرمائیل چې هغه د موقوذة په حکم کښې دې.
د (بندقه) نه (غله) مراده، یعنی د ښاؤرې جوړه شوې هغه ګولئ چې هغه د لیندې په ذریعه ویشتلې شی، زمونږ د زمانې بارودی ګولئ ترې مرد نه ده ددې حکم مخکښې رازی.
عبد الله بن عمر رضي الله عنه اثر لره امام بیهقی رحمه الله موصولا نقل کړې دې. [۲]

قوله: وَكَرِهَهُ سَالِمٌ وَالْقَاسِمُ وَمُجَاهِدٌ وَإِبْرَاهِيمُ وَعَطَاءٌ وَالْحَسَنُ: سالم بن عبد الله بن عمر رضي الله عنه ، قاسم بن محمد ابی بکر صدیق رضي الله عنه ، مجاهد بن جبیر رضي الله عنه ، ابراهیم نخعی رضي الله عنه ، عطاء بن ابی رباح رحمه الله ، او حسن بصری رحمه الله د بندقه ښکار لره مکروه ګڼړلې دې.
سالم رحمه الله، قاسم رحمه الله مجاهد رحمه الله او ابراهیم نخعی رحمه الله تعلیقات ابن ابی شیبة موصولا نقل کړی دی [۳]

---

[۱] (مرقات شرح مشکوة کتاب الصید والذبائح :١١١/٨، وتکلمه فتح الملهم :٤٨٥/٣).
[۲] فتح الباری :٧٥٣/٩ عمدة القاری:٩٣/٢١)
[۳] فتح الباری :٧٥٣/٩ عمدة القاری:٩٣/٢١)

دعطاء روايت عبد الرزاق او د حسن بصرى رحمه الله اثر لره ابن ابى شيبهٔ موصولا نقل كړي دي.[1]

قوله: وَكَرِهَ الْحَسَنُ رَمِيَ الْبُنْدُقَةِ فِي الْقُرَى وَالْأَمْصَارِ: حسن بصرى رحمه الله په كلو او ښارونو كښې د بندقه ښكار لره مكروه ګڼړلو، ځكه چې هلته دخلقو ګڼړه وى، د يو سړى د زخمى كيدو خطره وى ليكن ددې نه علاوه صحر كښې دبندقه ښكار كښې هيڅ باك نشته ګڼړى.

٣-باب مَا أَصَابَ الْمِعْرَاضُ بِعَرْضِهِ.

[٥١٦٠] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ هَمَّامِ بْنِ الْحَارِثِ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ -رضى الله عنه- قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا نُرْسِلُ الْكِلاَبَ الْمُعَلَّمَةَ. قَالَ « كُلْ مَا أَمْسَكْنَ عَلَيْكَ ». قُلْتُ وَإِنْ قَتَلْنَ. قَالَ « وَإِنْ قَتَلْنَ ». قُلْتُ وَإِنَّا نَرْمِي بِالْمِعْرَاضِ. قَالَ « كُلْ مَا خَزَقَ، وَمَا أَصَابَ بِعَرْضِهِ فَلاَ تَأْكُلْ ». [ر: ١٧٣]

د ترجمة الباب مقصد: په دې ترجمة الباب او ددې نه مخكښې رمبې ترجمة الباب دواړه يو شان دى او په ظاهره كښې تكرار معلوميږى.

شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله فرمائى چې باب اول كښې د «صيد معراض» مصداق خودل مقصود وو كوم چې يو ښكار ته به «صيد المعراض» وئيلې كيږى، او په دې باب كښې د «صيد المعراض» حكم بيانول مقصود دى چې ددې خوراك جائز دې، كه نه، لهذا د دواړو ترجمو به بيل بيل مقصد دې تكرار نه.[2]

اوداهم وئيلې شوى دى چې درومبى باب نه د امام بخارى رحمه الله د «صيد المعراض» جواز خودل وو او ددويم باب وضاحت كول غواړى چې «صيد المعراض» جائز خودې ليكن په هغه وخت كښې چې كله ښكار ددې د اړخ نه اولګى مړشوې وى، كه لنډوالى سره ښكار مړ شوې وى نو بيا هغه حلال ل نه دې لكه څنګه چې مخكښې تير شوى دى.

٤-باب صَيْدِ الْقَوْسِ

وَقَالَ الْحَسَنُ وَإِبْرَاهِيمُ إِذَا ضَرَبَ صَيْدًا، فَبَانَ مِنْهُ يَدٌ أَوْ رِجْلٌ، لاَ تَأْكُلُ الَّذِي بَانَ، وَتَأْكُلُ سَائِرَهُ، وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ إِذَا ضَرَبْتَ عُنُقَهُ أَوْ وَسَطَهُ فَكُلْهُ. وَقَالَ الأَعْمَشُ عَنْ زَيْدٍ اسْتَعْصَى عَلَى رَجُلٍ مِنْ آلِ عَبْدِ اللَّهِ حِمَارٌ، فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَضْرِبُوهُ حَيْثُ تَيَسَّرَ، دَعُوا مَا سَقَطَ مِنْهُ، وَكُلُوهُ.

غشى سره د ښكار كولو شرطونه: غشى سره ښكار كول بالاتفاق جائز دى. البته ددې دحلاليدو دپاره يو شرط دادې چې غشې ويشتلو سره دې بسم الله اووائى، په قصد سره تسميه وئيل نه وى ترك كړې شوې، دويم شرط دادې چې ددې خبرې يقين وى ياظن غالب وى چې ښكار ته غشئ لګيدل مړ شوى دى، دبل څه څيز مرګ نه دى، كه شك ښى چې

---

[1]) فتح البارى :٧٥٣/٩ عمدة القارى:٩٣/٢١)
[2]) الابواب والتراجم:٩١/٢).

ددې مرګ په بل څيز سره واقع شوې نو ددې ښکار استعمالول درست نه دی، او دريم شرط دادې چې غشئ ويشتلونه پس د ښکار د غائبيدو په صورت کښې ددې تلاش دې مسلسل جاري اوساتلې شی.[1]

قوله: وَقَالَ الْحَسَنُ وَإِبْرَاهِيمُ إِذَا ضَرَبَ صَيْدًا، فَبَانَ مِنْهُ يَدٌ أَوْ رِجْلٌ، لاَ تَأْكُلِ الَّذِي بَانَ: حسن بصری رحمه الله او ابراهيم نخعی رحمه الله فرمائی چې کله ښکار ئی اوويشتلو او هغه په پښه يا لاس يا (دبدن په بله حصه اولږی) اوهغه ددې نه جدا شی (اوهغه ژوندې وو او روستو مړ شو) نو چې کومه حصه جدا شوې ده . دا خوړل جائز نه دی. باقی ټول خوړلې شی.

د حسن بصری رحمه الله دا تعليق ابن ابی شيبة رحمه الله په صحيح سند سره موصولا نقل کړېدې (انه قال فی رجل ضرب صيدا، فابان منه يدا او رجلات وهو حی ثم مات، قال لاتاکله ولا تاکل ماباں منه الا ان تضربه فتقطعه فيموت من ساعته فاذا کان کذالك فلياکل)

د ابراهيم رحمه الله اثره ره ابن ابی شيبة رحمه الله موصولا نقل کړېدې.

قوله: وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ إِذَا ضَرَبْتَ عُنُقَهُ أَوْ وَسَطَهُ فَكُلْهُ: ابراهيم نخعی رحمه الله فرمائی چې کله تاسو ښکار په مرئ يا بالکل ددې په مينځ باندې ويشتلې وی او هغه مړ شوې وی نو هه خورئی، (وسط) د سين په فتحه بالکل مينځ ته وائی.

قوله: وَقَالَ الأَعْمَشُ عَنْ زَيْدٍ اسْتَعْصَى عَلَى رَجُلٍ مِنْ آلِ عَبْدِ اللَّهِ حِمَارٌ، فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَضْرِبُوهُ حَيْثُ تَيَسَّرَ، دَعُوا مَا سَقَطَ مِنْهُ، وَكُلُوهُ: اعمش د زيد نه نقل کړی دی چې ال عبدالله کښې يو سړی نه حمار وحشی نيل ګائې په غشی ويشتلو نه پس اوتښتيده. نو عبدالله حکم ورکړو چې چرته هم موقع ملاؤ شی نو دا قتل کړی، او چې ددې کومه حصه پريږزی هه پريږدئی او باقی اوخورئی.

په دې تعليق کښې زيد ن ابن وهب اوعبدالله بن مسعود رضی الله عنه مراد دې او د (حمار) نه حمار وحشی يعنی نيل ګائې يعنی غوه(ځنګلی خر) مراد ده، د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د خاندان يو کس ب نيل ګائې ښکار نه کوله، پدې تعليق کښې هم دهغې ذکر دې. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې ددې سړی نوم ماته معلوم نشو.[2]

[٥١٦١] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ حَدَّثَنَا حَيْوَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي رَبِيعَةُ بْنُ يَزِيدَ الدِّمَشْقِيُّ عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنَّا بِأَرْضِ قَوْمٍ أَهْلِ الْكِتَابِ، أَفَنَأْكُلُ فِي آنِيَتِهِمْ وَبِأَرْضِ صَيْدٍ، أَصِيدُ بِقَوْسِي وَبِكَلْبِي الَّذِي لَيْسَ بِمُعَلَّمٍ، وَبِكَلْبِي

---

[1] تفصيل د پاره اوګورئی: رد المختار:۴۶۸/۶).
[2] فتح الباری :۷۵۵/۹)

الْمُعَلَّمِ، فَمَا يَصْلُحُ لِي قَالَ «أَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ فَإِنْ وَجَدْتُمْ غَيْرَهَا فَلاَ تَأْكُلُوا فِيهَا، وَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فَاغْسِلُوهَا وَكُلُوا فِيهَا، وَمَا صِدْتَ بِقَوْسِكَ فَذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ فَكُلْ، وَمَا صِدْتَ بِكَلْبِكَ الْمُعَلَّمِ فَذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ فَكُلْ، وَمَا صِدْتَ بِكَلْبِكَ غَيْرَ مُعَلَّمٍ فَأَدْرَكْتَ ذَكَاتَهُ فَكُلْ».[۵۱۷۰، ۵۱۷۷]

ابو ثعلبه خشنى ﷜ عرض اوکړو چې یا رسول الله ﷺ! څه په اهل کتابو کښې اوسیږم، آیا څه د هغوئ په لوښو کښې خوراك کولې شم ؟ او دښکار په زمکه کښې اوسیږم. په کمان سره، کلب غیر معلم او کلب معلم سره ښکار کوم نو ما دپاره کوم یو صورت بهتر دې ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې داهل کتابو متعلق چې تاکوم ذکر کړې دې د هغې حکم دادې که ته دهغې نه سوا بل لوښې مومې نو دهغوئ په لوښی کښې خوراك مه کوه.اوکه بل لوښې ملاؤ نشی نو هغه وینځه، بیا به هغې کښې خوراك کوه، او خپل کمان سره چې تا کوم ښکار کړې دې که په دې باندې دې بسم الله وئیلی وی نو خوره، چې کوم سپی ته تعلیم وی نو خوره، په هغعې کښې دې ښکار اوکړو، که په هغې باندې تا بسم الله وئیلی وی نو خوره. کلب غیر معلم په ذریعه چې تاکوم ښکار کړې دې و ددې د ذبیحه کولو موقع چې موندې ده هغه هم خورې شې.

دا حدیث پاك امام بخاری ﷬ دلته په ړومبی ځل ذکر کړې دې.(۱)

دا روایت ابوثعلبهٔ خشی ﷜ نه روایت دې چې د ابو ثعلبه خشی د نوم باره کښې مختلف اقوال دی. جرثوم، جرهم، ناشب، غرنوق، ناشر، لاش دده دپلار نوم کښې هم اختلاف دې، عمرو ، ناشب، جلهم، خمیر. (۲)

قوله:<u>يَانَبِيَّ اللَّهِ إِنَّا بِأَرْضِ قَوْمٍ أَهْلِ الْكِتَابِ</u>: ددې نه د شام زمکه مراد ده، د عربو ډیر قبیلې په شام کښې اوسیدې، او نصرانیان شوی وو، په دوئ کښې یوه قبیله د ابو ثعلبه هم وه. (۳)

دکفارو دلوښو د استعمال حکم : (أَفَنَأْكُلُ فِي آنِيَتِهِمْ.....)، (انية) د (اناء) جمع ده، او (اوانی) د (انية) جمع ده.

---

(۱) (الحديث اخرجه البخاری ایضا فی باب ما جاء فی التصید (رقم الحدیث:۵۱۷۰)و باب انية المجوس والميتة (رقم الحديث:۵۱۷۷) واخرجه مسلم فی کتاب الصید والذبائح باب الصید بالکلاب المعلمة رقم الحديث :۱۹۳۰، واخرجه ابوداؤد فی کتاب الاطعمة باب الاکل فی انية اهل الکتاب (رقم الحديث:۳۸۳۹) وفی السیر باب ماجاء فی الانتفاع بانية المشرکین (رقم الحديث:۱۶۰۵) و فی الاطعمة باب ما جاء فی الاکل فی انية الکفار (رقم الحديث:۱۸۸۵) واخرجه النسائی فی الصید باب صید الکلب الذی لیس بمعلم:رقم الحديث:۴۲۶۶، واخرجه فی الصید باب صید الکلب: رقم الحديث:۳۲۴۶، و باب صید القوس:رقم الحديث: ۳۲۵۰).

(۲) فتح الباری :۷۵۶/۹)

(۳) فتح الباری :۷۵۶/۹)

د مشرکانو او دکافرانو دلوښو د استعمالولو حکم دادې که په دې کښې د نجاست کیدو یقین وی نو داسې صورت کښې بغیر د وینځلو نه ددې استعمال جائز نه دې. حرام دی. او د وینځلو نه پس استعمال بلا کراهت جائز دې. که بل لوښې وی یا نه وی. نو امام احمد رحمه الله فرمائی چې:

«ویکره الاکل والشرب فی اوانی المشرکین قبل الغسل ومع هذا لو تاکلوا او شرب فیها قبل الغسل جاز، ولا یکون اکلا ولا شاربا حراما وهذا اذا لم یعلم بنجاسة الاوانی فاما اذا اعلم فانه لا یجوز ان یشرب ویاکل منها قبل الغسل ولو شرب او اکل کان شاربا او اکلا حراما» [1].

د حدیث باب الفاظ دی چې «فان وجدتم غیر داتیتهم فلا تاکل فیها» نه ظاهره معلومیږی، که نور لوښې وی نو داهل کتابو لوښې استعمالول نه دی پکار، او چې فقهاء کرامو ددې اجازت ورکړو ، په ظاهره دواړو کښې تعارض دې.

ددې جواب دا ورکړې شوې دې چې مذکوره سوال ددې لوښو متعلق وو چې په هغې کښې نجاست وو، نو د ابو داؤد په روایت کښې ددې تصریح شوې ده چې «انا تجاوز اهل الکتاب وهم یطبخون فی قدورهم الخنزیر ویشربون فی اتیتهم الخمر» [2]او ظاهر دی چې خنزیر او خمر دواړه حرام دی، دداسې لوښو استعمالول د وینځلو نه بغیر ناجائز دی، او حرام دی، اوکه نور لوښې موجود وی نو ددې استعمال د وینځلو نه باوجود مکروه دې.

او دویم جواب دادې چې په دې حدیث پاك کښې نهی تنزیهی ده چې جواز سره جمع کیدې شی، لهذا د فقهاء کرامو د فتوې او د حدیث پاك په ظاهر د مفهوم کښې دواړو کښې څه تعارض نشته دی. [3]

علامه ابن حزام او ظاهریه د حدیث په ظاهر باندې عمل کوی او فرمائی چې د مشرکانو او کافرانو په لوښو کښې استعمال دوؤ شرطونو سره جائز دې، ړومبې شرط دادې چې نور لوښې نه وی او دویم شرط دادې چې هغه دې اووینځلې شی. [4]

۵- بَابُ الْخَذْفِ وَالْبُنْدُقَةِ

[۵۱٦۲] حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ رَاشِدٍ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ وَيَزِيدُ بْنُ هَارُونَ - وَاللَّفْظُ لِيَزِيدَ - عَنْ كَهْمَسِ بْنِ الْحَسَنِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ أَنَّهُ رَأَى رَجُلاً يَخْذِفُ فَقَالَ لَهُ لاَ تَخْذِفْ فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - نَهَى عَنِ الْخَذْفِ - أَوْ كَانَ يَكْرَهُ الْخَذْفَ - وَقَالَ «إِنَّهُ لاَ يُصَادُ بِهِ صَيْدٌ وَلاَ يُنْكَى بِهِ عَدُوٌّ، وَلَكِنَّهَا قَدْ تَكْسِرُ السِّنَّ وَتَفْقَأُ

---

[1] فتوی عالمگیری:۵/۳۴۷)
[2] سنن ابوداود کتاب الاطعمة باب الاکل فی انیة اهل الکتاب:۳/۳٦۳، رقم الحدیث: ۳۸۳۹).
[3] فتح الباری :۹/ ۷۵٦)
[4] فتح الباری :۹/۷۵۷)

الْعَيْنَ». ثُمَّ رَآهُ بَعْدَ ذٰلِكَ يَخْذِفُ فَقَالَ لَهُ أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - أَنَّهُ نَهَى عَنِ الْخَذْفِ. أَوْ كَرِهَ الْخَذْفَ، وَأَنْتَ تَخْذِفُ لاَ أُكَلِّمُكَ كَذَا وَكَذَا. [ر: ۴۵۶۱]

(خذف) خاء سره د ګوتو په ذريعه كانړو ويشتلو ته وائي، ابن المنذر فرمائي چې (الخذف، رميك حصاة او نواة تاخذ بين سبابتيك وترمي بها) او (حذف) حاء مهمله سره (رمي بالعصا) كوتك سره يو ځيز وهل او ويشتلو ته وائي. (۱) ابن اثير رحمه الله فرمائي چې (حذف رمي) اوضرب دواړو دپاره استعماليږي (۲)

او د (بندقة) متعلق علامه عيني رحمه الله فرمائي چې (طينة مدورة مجففة يرمى بها عن الجلاهق) (۳) يعني دښاوري نه جوړ شوى هغه ګول او چې ګولۍ چې په لينده كښې ويشتلې كيږي. هغې ته په اردو كښې غله وائي.

غليل يعني لينديٍ سره دښكار حكم: (جلاهق) دجيم په ضمه او دهاء په كسره سره، غليل يعني لينديٍ ته وائي. لينده سره چې كوم ښكار كولې شي، دهغې باره كښې د جمهورو مسلك دې چې كلّه پورې هغه ذبح نه كړې شي. دهغې استعمال جائز نه دې ځكه هغه د (موقوذة) په حكم كښې ده. (۴)

داشان يو حديث كښې نبى كريم صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى چې (ولاتاكل من البندقة الاما ذكيت) (۵)
ابن المسيب او ابن ابى ليلى نه د بندقه يعني دغله په ذريعه د ښكار جواز منقول دې. (۶)
د ټوپک ګولۍ سره د ښكار كولو حكم: باقي نن سبا چې د ټوپك ګولۍ سره كوم ښكار كولې شي. دهغې حكم متعلق هم د فقهاء كرامو اقوالو كښې اختلاف دې.
د متقدمينو په كتابونو كښې د ټوپك د ګولۍ متعلق حكم نه ملاويږي ځكه چې د ټوپك ګولۍ په اتمه يا لسمه صدئ كښې عام شوې ده.

په حنفيه كښې د ابن عابدين او ابن نجيم د ګولۍ ښكار لره د (موقوذة) په حكم كښې ګرزولې ده او دې ته ئې ناجائز وئيلى دى، مګر چې هغه ژوندئ ملاؤ شي او دا شرعي طريقې سره ذبح كړې شي.
مالكيه دجواز فتوى وركړې ده، نو علامه دردير رحمه الله، علامه سوقي رحمه الله او علامه صاوى رحمه الله ددې د جواز تصريح كړې ده. (۷)

---

(۱) عمدة القارى: ۲۱/۹۶)
(۲) عمدة القارى: ۲۱/۲۱/۹۶، النهاية لابن الاثير: ۱/۳۵۶).
(۳) عمدة القارى: ۲۱/)۹۶)
(۴) المغنى لابن قديمة: ۱۱/۳۷)
(۵) المغنى لابن قديمة: ۱۱/۳۷)
(۶) المغنى لابن قديمة: ۱۱/۳۷)
(۷) حاشية الدسوقى على الشرح الكبير للدردير: ۲/۱۰۳، وحاشية الصاوى على الشرح الصغير للدردير: ۲/۱۶۲)

علامه شوکانی رحمه الله هم دا جائز گرزولې دی[۱]، په حنیفه کښې علامه سندهی هم دې لره جائز گرزولی دی.[۲]

دا حضرات فرمائی چې د ټوپك گولۍ کښې خرق وی.

دا اختلاف دټوپك د عام باردوی گولۍ کښې دې، لیکن که محدد او نوکدار وی لکه څینو صورتونو کښې د کلاشنکوف، جی تهری، او تهری ناټ تهری وغیره گولۍ یا نوکداره چهرو والا کارتوس وی نو دداسې نوکدار گولۍ ښکار بالاتفاق درست دې. څکه چې په دې کښې خرق وی او ددې د چیتولو صلاحیت په دې کښې وی، ددې وجې داسې گولۍ د آلات جارحه په شمار کښې راځی.

په دې کښې اصل هم دادې چې کوم څیز پخپله جارح نه وی بلکه زور او پریشر سره ښکار لره زخمی کړی نو هغه د «موقوذة» په حکم کښې ده، او حلاله نه ده د ټوپك گولۍ او دلیندې گولۍ هم چونکه جارح نه وی، ددې وجې دهغې ښکار که قبل الذبح کړې شی نو ددې استعمال جائز نه دې.

قوله: حدثني يوسف بن راشد......: عبدالله بن مغفل یو سړې اولیدو چې په گوتو سره ئې کانړۍ ویشتلو، نو هغه ته ئې اووئیل چې دا مه اوله. څکه چې نبی کریم ﷺ ددې نه منع کړې ده، یا ئې دا اووئیل چې نبی کریم ﷺ به په گوتو سره کانړی ویشتلو لره مکروه گڼړل. او وې فرمائیل چې نه دې سره ښکار کیدیشی او نه دې سره څوك دښمن زخمی کولې شی. البته اکثرو وختونو کښې دا یو سړې ماتولې شی، اوسترگه ویستلې شی، عبدالله بن مغفل رضی الله عنه بیا د هغه دا سړې اوکتلو چې ده په گوتو کانړی ویشتل نو وې فرمائیل چې ماتاته د نبی کریم ﷺ حدیث بیان کړې دې چې نبی کریم ﷺ بهٔ دا مکروه گڼړل، لیکن ددې باوجود ته په گوتو سره کانړی اولې. څه به تاسره بیاخبرې نه کوم.

قوله: انه رای رجلا: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې ددې سړی نوم ماته معلوم نشو.[۳]

قوله: إِنَّهُ لَا يُصَادُ بِهِ صَيْدٌ: یعنی کانړی په گوتو ویشتل عام طور سره ښکاره کولې دې نه شی. او که داشان کانړی ویشتلو سره ښکار مړ هم شی نو هغه دِ «موقوذة» په حکم کښې دې او ددې استعمال جائز نه دې.[۴]

قوله: وَلَا يُنْكَى بِهِ عَدُوٌّ: «نکا...نکایة» د باب فتح نه ، ددې معنی ده زخمی کیدل یعنی دښمن لره په دې عمل سره په میدان جنگ کښې نشی زخمی کولې، البته څان سره نزدې د ناستو خلقو به په دې سره دهغوئ غاښونه مات کړی یا به ئې سترگې اوباسی. مقصد دادې

---

[۱]) (فتح القدیر:۲/۹)

[۲]) (التحریر المختار للعرافی :۳۱۵)

[۳]) فتح الباری :۷۵۸/۹)

[۴]) فتح الباری :۷۵۸/۹)

چې دې حرکت سره هيڅ فائده نشته دې اونه دې سره ددښمن مقابله کولې شی، او نه ښکاره کولې شی، البته خپل يو کس ته نقصان رسولې شی.

قوله: لَاأُكَلِّمُكَ كَذَاوَكَذَا: (كَذَاوَكَذَا) د لته مبهم ده، دمسلم روايت کښې دی چې (لَاأُكَلِّمُكَ ابدا) (١)

دې نه معلوم شوې چې د سنت مخالفت کوونکې سړی سره ترک تعلق او ترک کلام اختيار کولې شی. او دا د دريو ورځو نه زيات يو مسلمان سره ترک کلام کوم چې وارد شوې دې په دې کښې دا داخل نه دی، ځکه هغه نهې د هغه سړی متعلق کيديشی چې چا سره خپله ذاتی غصه اونفرت په وجه ترک کلام کوی. (٢)

٦-باب مَنِ اقْتَنَى كَلْبًا لَيْسَ بِكَلْبِ صَيْدٍ أَوْمَاشِيَةٍ.

[٥١٦٣] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دِينَارٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ -رضى الله عنهما- عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «مَنِ اقْتَنَى كَلْبًا لَيْسَ بِكَلْبِ مَاشِيَةٍ أَوْضَارِيَةٍ،نَقَصَ كُلَّ يَوْمٍ مِنْ عَمَلِهِ قِيرَاطَانِ».

[٥١٦٤] حَدَّثَنَا الْمَكِّى بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا حَنْظَلَةُ بْنُ أَبِى سُفْيَانَ قَالَ سَمِعْتُ سَالِمًا يَقُولُ سَمِعْتُ عَبْدَاللَّهِ بْنَ عُمَرَ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ «مَنِ اقْتَنَى كَلْبًا إِلاَّ كَلْبٌ ضَارٍ لِصَيْدٍ أَوْكَلْبَ مَاشِيَةٍ،فَإِنَّهُ يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطَانِ».

[٥١٦٥] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «مَنِ اقْتَنَى كَلْبًا إِلاَّ كَلْبَ مَاشِيَةٍ أَوْضَارٍ،نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطَانِ».

(اقتناء) په معنی د پاللو کښې ده، او (ماشية) اسم دې. چې د اوښ. غوا او چيلئ دپاره استعماليږی، ددې جمع مواشی ده، کلب ماشيه يعنی هغه سپې چې ځناور وغيره حفاظت دپاره پاللې کيږی.

د باب تحت امام بخاری رحمه الله د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما روايت په دريو طريقو سره نقل کړيدې، دهغې حاصل دادې که څوك سړې سپې اوساتی او هغه دښکار دپاره نه وی اونه د خپل حفاظت دپاره نوی ددۀ اجر کښې دوه قيراطه هره ورځ کميږی معلوم شو که هغه ښکار يا حفاظت غرض دسپی ساتلو وی نو ددې په شريعت کښې هيڅ اجازت شته دې.

قوله: لَيْسَ بِكَلْبِ صيد ولاضَارِيَةٍ: ضَارِيَةٍ د اسم فاعل مؤنث صيغه ده، باب سمع نه ده، (ضرى الكلب بالصيد) دسپی ښکار عادت کيدل، (ضاری) ښکاری يا د ښکار عادت شوې.

---

(١) فتح الباری :٧٥٩/٩)

(٢) فتح الباری :٧٥٩/٩)

(ضارية) د مؤنث په ځائي (ضاري) مذكر ته هم وئيلې كيږي، ځكه چې دا د كلب صفت دې، ليكن د (ماشية) مناسبت (ضارية) راغلې دې، چې په دواړو كښې د وزن اعتبار سره تناسب برقرار پاتې شي. لكه څنګه چې وائي (لا دريت ولا تليت) حالانكه (تلوت) پكار دې ليكن (دريت) مناسبت سره تليت وئيلې شي.[1]

٧- باب إذا أكل الكلب

وَقَوْلُهُ تَعَالَى (يَسْأَلُونَكَ مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَمَا عَلَّمْتُمْ مِنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ) الصَّوَائِدُ وَالْكَوَاسِبُ. (اجْتَرَحُوا) اكْتَسَبُوا. (تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللَّهُ فَكُلُوا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ) إِلَى قَوْلِهِ (سَرِيعُ الْحِسَابِ). وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ إِنْ أَكَلَ الْكَلْبُ فَقَدْ أَفْسَدَهُ، إِنَّمَا أَمْسَكَ عَلَى نَفْسِهِ وَاللَّهُ يَقُولُ (تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللَّهُ) فَتُضْرَبُ وَتُعَلَّمُ حَتَّى يَتْرُكَ. وَكَرِهَهُ ابْنُ عُمَرَ. وَقَالَ عَطَاءٌ إِنْ شَرِبَ الدَّمَ وَلَمْ يَأْكُلْ، فَكُلْ.

[٥١٦٦] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ عَنْ بَيَانٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قُلْتُ إِنَّا قَوْمٌ نَصِيدُ بِهَذِهِ الْكِلاَبِ. فَقَالَ « إِذَا أَرْسَلْتَ كِلاَبَكَ الْمُعَلَّمَةَ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ، فَكُلْ مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ، وَإِنْ قَتَلْنَ إِلاَّ أَنْ يَأْكُلَ الْكَلْبُ، فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ يَكُونَ إِنَّمَا أَمْسَكَهُ عَلَى نَفْسِهِ، وَإِنْ خَالَطَهَا كِلاَبٌ مِنْ غَيْرِهَا فَلاَ تَأْكُلْ ». [ر: ١٧٣]

علامه عينى رحمه الله فرمائى چې (باب اذا اكل الكلب) شرط دې. او جواب شرط (لا يوكل) محذوف دې.[2]

دې نه پس باب كښې د امام بخارى رحمه الله د سورت مائده د آيت كريمه ذكر كړې دې.

قوله: (يَسْئَلُوْنَكَ مَاذَآ اُحِلَّ لَهُمْ قُلْ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ وَمَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِيْنَ تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ فَكُلُوْا مِمَّآ اَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ): ترجمه: دوى ستاسو تپوس كوى چې دوى دپاره كوم كوم څاروى حلال شوى دى ورته اووايه ستاسو دپاره ټول پاكيزه څيزونه حلال دى او كوم ښكارى ځناور چې تاسو عادت كړې وى او بيا تاسوئې په ښكار پسې پريږدئ او دهغه تعليم (د ښكار طريقه) مو ورته خودلې وى كومه چه الله جل جلاله تاسو ته خودلې ده نو كوم ښكار چې هغوئ ستاسو دپاره راونيسى هغه خورئ شئ (او د ورپريخودلو په وخت) كښې پرې د الله جل جلاله نوم اخلئ

---

[1] (عمدة القارى: ٩٨/٢١، الحديث اخرجه البخارى فيه ايضا رقم الحديث: ٥١٦٤، و ايضا فيه رقم الحديث: ٥١٦٥)

[2] عمدة القارى: ٩٨/٢١)

حضرات فقهاء كرام د پورته آيت مبارك نه د پنځه شرطونه استنباط كړى دى.

ايت كريمه نه د پنځو شرطونو استنباط: رومبې شرط دادې چې هغه سپې يا باز ته تعليم وركړې شوې وى دا شرط د «وماعلمتم» نه ما خوذ دې.

دويم شرط دادې چې سړې خپلې ارادې سره ښكارى سپې يا باز دښكار د نيولو دپاره پريښودې وى، دا نه وى چې پخپله په ښكارپسې منډې وهى او هغه راؤنيسى، دا شرط د «مكلبين» نه ماخوذ دې، ځكه چې دا لفظ د «تكلب» نه مشتق دې، چې ددې معنى سپو ته د خودنې كولو ده، بيا هر ښكارى ځناور يعنى باز وغيره خودلو ته او ښكار كول په معنى كښې استعمال شوى، نو ځينو مفسرينو ددې تفسير دا ارسال كړېد ې، چې دهغې معنى ښكار دپاره پريښودل دى.

دريم شرط دادې چې ځناور د ښكار نه پخپله خوراك اونه كړى بلكه تالره ئې راؤړى.
داشرط د «مما امسكن عليكم» نه ماخوذ دې.

څلورم شرط د «اسم الله» وئيل دى، چې ددې حكم «واذكراسم الله» كښې وركړې شوې دې.

او پنځم شرط دادې چې ښكارى سپې ښكار لره زخمى هم كړى او داشرط د «الجوارح» نه ماخود دې، دا شرط صرف د امام ابو حنيفه رحمه الله په نيزدې. [1]

دلته داخبره ياد ساتل پكار دى چې دا حكم د هغه وحشى ځناور متعلق دې چې كوم د انسان په قبضه كښې نه وى، ليكن كه يو وحشى ځناور په قبضه كښې راغلو نو بيا هغه ذبح كولو نه بغير حلال نه دى.

قوله: الصَّوَائِدُ وَالْكَوَاسِبُ: «الصَّوَائِدُ» د صائد جمع ده او كواسب د كاسبة جمع ده. علامه عينى رحمه الله فرمائى چې دا د الجوارح صفت دې، [2] او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې ذا د كلاب صفت دې [3] يعنى ښكار كول او گټلو والا درندې يا سپى.

قوله: اجْتَرَحُوا اكْتَسَبُوا: دا لفظ په يو بل آيت مبارك كښې «الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ» فرمائى چې دا «اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ» معنى كول د گټلو ده، د كواسب مناسب سره دا لفظ لره اكتساب په معنى كښې دى.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ إِنْ أَكَلَ الْكَلْبُ فَقَدْ أَفْسَدَهُ، إِنَّمَا أَمْسَكَ عَلَى نَفْسِهِ وَاللَّهُ يَقُولُ.......: عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمائى چې كله سپى ښكار او خوړو نوو ده دا فاسد كړو اوس ددې استعمال جائز نه دې، ځكه چې خپل ځان دپاره ئې نيولې دې او الله تعالى جل جلاله فرمائى چې تاسو دې سپو لره تعليم وركړئى. اوكله چې ده پخپله اوخوړله نو

[1] اوگورئى معارف القرآن سورة المائدة:۳/۴۱).
[2] عمدة القارى:۲۱/۹۹)
[3] فتح البارى :۹/۷۶۱)

معلوم شو چې هغه ته تعليم نه دې ورکړې شوې. نو ددې استعمال درست نه دې. د تعليم ورکولو طريقه داده چې هغه دې اووهلې شى، او هغه ته دې تعليم ورکړې شى. تر دې پورې چې د ښكار كولو نه پس هغه پريږدى او «حتى تترك» يعنى «الاكل، تترك» مفعول به «اكل» دې.
عبدالله بن عباس رضي الله عنه داتعليق د سعيد بن منصور نه موصولا نقل کړې دې. [۱]

قوله: وَكَرِهَهُ ابْنُ عُمَرَ: عبدالله بن عمر داسې ښكار لره چې هغه سپى خوړلې وى مکروه ګڼړلو.

قوله: وَقَالَ عَطَاءٌ إِنْ شَرِبَ الدَّمَ وَلَمْ يَأْكُلْ، فَكُلْ: عطاء بن ابى رباح رحمه الله فرمائى چې سپى د ښكار وينه او څكله ليكن ددې غوښه ئې او نه خوړله نو دداسې ښكار استعمال جائز دې.
ابن ابى شيبهٔ دا تعليق موصولا نقل کړې دې. [۲]

۸- باب الصَّيْدِ إِذَا غَابَ عَنْهُ يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلاَثَةً

[۵۱۶۷] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا ثَابِتُ بْنُ يَزِيدَ حَدَّثَنَا عَاصِمٌ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ -رضى الله عنه- عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ وَسَمَّيْتَ فَأَمْسَكَ وَقَتَلَ، فَكُلْ، وَإِنْ أَكَلَ فَلاَ تَأْكُلْ، فَإِنَّمَا أَمْسَكَ عَلَى نَفْسِهِ، وَإِذَا خَالَطَ كِلاَبًا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهَا فَأَمْسَكْنَ وَقَتَلْنَ فَلاَ تَأْكُلْ، فَإِنَّكَ لاَ تَدْرِي أَيُّهَا قَتَلَ، وَإِنْ رَمَيْتَ الصَّيْدَ فَوَجَدْتَهُ بَعْدَ يَوْمٍ أَوْ يَوْمَيْنِ، لَيْسَ بِهِ إِلاَّ أَثَرُ سَهْمِكَ، فَكُلْ، وَإِنْ وَقَعَ فِي الْمَاءِ فَلاَ تَأْكُلْ». وَقَالَ عَبْدُ الأَعْلَى عَنْ دَاوُدَ عَنْ عَامِرٍ عَنْ عَدِيٍّ أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- يَرْمِي الصَّيْدَ فَيَقْتَفِرُ أَثَرَهُ الْيَوْمَيْنِ وَالثَّلاَثَةَ، ثُمَّ يَجِدُهُ مَيِّتًا وَفِيهِ سَهْمُهُ قَالَ «يَأْكُلُ إِنْ شَاءَ». [ر: ۱۷۳]

امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې دا مسئله بيانول غواړى كه يو سړى ښكار اوكړو ليكن هغه ښكار دده نه غائب شو او ده ته درې ورځې پس ملاؤ شو نو ددې حكم داد ې چې كه ښكارى ته يقين وى چې ښكار هم په دې غشى سره مړ شوې دې نو دا خوړلې شى ليكن كه په ښكار كښې د مړ كيدو څه علامت او سبب هم په نظر نه رازى لكه اوبو كښې ډوب شوې وى يا د يو غرنه راپريوتې معلوميږى نو داسې صورت كښې ددې استعمال جائز نه دې.
ليكن ددې دپاره شرط دادې چې ښكارى د ښكار كولو نه پس ددې تلاش مسلسل جارى اوساتى.

قوله: وَقَالَ عَبْدُ الأَعْلَى عَنْ دَاوُدَ عَنْ عَامِرٍ عَنْ عَدِيٍّ أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- يَرْمِي الصَّيْدَ فَيَقْتَفِرُ أَثَرَهُ الْيَوْمَيْنِ: عدى بن حاتم رضي الله عنه سوال

---

[۱]) فتح البارى :۷۶۱/۹ عمدة القارى:۱۰۰/۲۱)
[۲]) عمدة القارى:۱۰۰/۲۱)

اوكړو چې ښكار باندې غشې ويښتلې شو (دغائبيدونه پس) ددې تلاش دوه يا درې ورځې ښكارى جارى اوساتلو بيا هغه په مړ حالت كښې اوموندې شو چې د ښكار غشې دهغه په بدن كښې پيوست شوې وو نو ددې څه حكم دې؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې كه هغه غواړې نو خوړلې شى.

(يقتفى) د (اقتفاء) نه دې. چې ددې معنى تتبع او تلاش كول دى. دا لفظ (يقتفر) هم مروى دې. د (اقتفار) معنى هم تلاش كول او تتبع ده. [۱]

دصحيح مسلم په روايت كښې دى چې نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې (اذا رميت سهمك فغاب عنك فادركته فكل مالم ينتن) [۲]

په دې كښې د (مالم ينتن) قيد دې چې كله پورې هغه بدبودار نه شى نو هغه وخت پورې هغه خوړلې شى، كه هغه دومره بدبودار شوې دې چې ددې خوراك مضر صحت دې نوددې استعمال خو بيا حرام دې ليكن كه په دې كښې لږ شان بد بو هم پيدا شوې دې نو ددې استعمال جائز نه دې بيا هم د حديث پاك په وجه سره كراهت تنزيهى نه بهر حال خالى نه دې.
عبدالاعلى مذكوره تعليق د امام بخارى رحمه الله نه موصولا نقل كړې دې. [۳]

۹- باب إِذَا وَجَدَ مَعَ الصَّيْدِ كَلْبًا آخَرَ

[۵۱۶۸] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي السَّفَرِ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أُرْسِلُ كَلْبِي وَأُسَمِّي فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ وَسَمَّيْتَ، فَأَخَذَ فَقَتَلَ فَأَكَلَ فَلاَ تَأْكُلْ، فَإِنَّمَا أَمْسَكَ عَلَى نَفْسِهِ». قُلْتُ إِنِّي أُرْسِلُ كَلْبِي أَجِدُ مَعَهُ كَلْبًا آخَرَ، لاَ أَدْرِي أَيُّهُمَا أَخَذَهُ. فَقَالَ «لاَ تَأْكُلْ فَإِنَّمَا سَمَّيْتَ عَلَى كَلْبِكَ وَلَمْ تُسَمِّ عَلَى غَيْرِهِ». وَسَأَلْتُهُ عَنْ صَيْدِ الْمِعْرَاضِ فَقَالَ «إِذَا أَصَبْتَ بِحَدِّهِ، فَكُلْ، وَإِذَا أَصَبْتَ بِعَرْضِهِ فَقَتَلَ، فَإِنَّهُ وَقِيذٌ، فَلاَ تَأْكُلْ». [ر: ۱۷۳]

ښكارى سپى سره يو بل سپې په ښكار كښې شريك شو نو ددې خوراك جائز دې كه نه.
حديث شريف كښې ددې علت بيان كړې شوېدې چې (فاما سميت على كلبك ولم تسم على غيره).

۱۰- باب مَا جَاءَ فِي التَّصَيُّدِ.

[۵۱۶۹] حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنِي ابْنُ فُضَيْلٍ عَنْ بَيَانٍ عَنْ عَامِرٍ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ - رضى الله عنه - قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقُلْتُ إِنَّا قَوْمٌ نَتَصَيَّدُ بِهَذِهِ

---

[۱] عمدة القارى: ۱۰۱/۲۱)
[۲] فتح البارى: ۷۶۳/۹)
[۳] فتح البارى: ۷۶۳/۹، عمدة القارى: ۱۰۱/۲۱)

الكِلَابِ. فَقَالَ «إِذَا أَرْسَلْتَ كِلَابَكَ الْمُعَلَّمَةَ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ، فَكُلْ مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكَ، إِلاَّ أَنْ يَأْكُلَ الْكَلْبُ، فَلاَ تَأْكُلْ فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ يَكُونَ إِنَّمَا أَمْسَكَ عَلَى نَفْسِهِ، وَإِنْ خَالَطَهَا كَلْبٌ مِنْ غَيْرِهَا، فَلاَ تَأْكُلْ». [ر: ١٧٣]

[٥١٧٠] حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنْ حَيْوَةَ. وَحَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ أَبِي رَجَاءٍ حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ عَنْ حَيْوَةَ بْنِ شُرَيْحٍ قَالَ سَمِعْتُ رَبِيعَةَ بْنَ يَزِيدَ الدِّمَشْقِيَّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو إِدْرِيسَ عَائِذُ اللَّهِ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيَّ - رضي الله عنه - يَقُولُ أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا بِأَرْضِ قَوْمٍ أَهْلِ الْكِتَابِ، نَأْكُلُ فِي آنِيَتِهِمْ، وَأَرْضِ صَيْدٍ أَصِيدُ بِقَوْسِي، وَأَصِيدُ بِكَلْبِي الْمُعَلَّمِ، وَالَّذِي لَيْسَ مُعَلَّمًا، فَأَخْبِرْنِي مَا الَّذِي يَحِلُّ لَنَا مِنْ ذَلِكَ فَقَالَ «أَمَّا مَا ذَكَرْتَ أَنَّكَ بِأَرْضِ قَوْمٍ أَهْلِ الْكِتَابِ، تَأْكُلُ فِي آنِيَتِهِمْ، فَإِنْ وَجَدْتُمْ غَيْرَ آنِيَتِهِمْ، فَلاَ تَأْكُلُوا فِيهَا، وَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فَاغْسِلُوهَا ثُمَّ كُلُوا فِيهَا، وَأَمَّا مَا ذَكَرْتَ أَنَّكَ بِأَرْضِ صَيْدٍ، فَمَا صِدْتَ بِقَوْسِكَ، فَاذْكُرِ اسْمَ اللَّهِ، ثُمَّ كُلْ، وَمَا صِدْتَ بِكَلْبِكَ الْمُعَلَّمِ، فَاذْكُرِ اسْمَ اللَّهِ، ثُمَّ كُلْ، وَمَا صِدْتَ بِكَلْبِكَ الَّذِي لَيْسَ مُعَلَّمًا فَأَدْرَكْتَ ذَكَاتَهُ، فَكُلْ». [ر: ٥١٦١]

[٥١٧١] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِي هِشَامُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضي الله عنه - قَالَ أَنْفَجْنَا أَرْنَبًا بِمَرِّ الظَّهْرَانِ، فَسَعَوْا عَلَيْهَا حَتَّى لَغِبُوا، فَسَعَيْتُ عَلَيْهَا حَتَّى أَخَذْتُهَا، فَجِئْتُ بِهَا إِلَى أَبِي طَلْحَةَ، فَبَعَثَ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - بِوَرِكِهَا وَفَخِذَيْهَا فَقَبِلَهُ. [ر: ٢٤٣٣]

[٥١٧٢] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ مَوْلَى أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى إِذَا كَانَ بِبَعْضِ طَرِيقِ مَكَّةَ تَخَلَّفَ مَعَ أَصْحَابٍ لَهُ مُحْرِمِينَ، وَهُوَ غَيْرُ مُحْرِمٍ، فَرَأَى حِمَارًا وَحْشِيًّا، فَاسْتَوَى عَلَى فَرَسِهِ، ثُمَّ سَأَلَ أَصْحَابَهُ أَنْ يُنَاوِلُوهُ سَوْطًا، فَأَبَوْا فَسَأَلَهُمْ رُمْحَهُ فَأَبَوْا فَأَخَذَهُ ثُمَّ شَدَّ عَلَى الْحِمَارِ، فَقَتَلَهُ فَأَكَلَ مِنْهُ بَعْضُ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَأَبَى بَعْضُهُمْ، فَلَمَّا أَدْرَكُوا رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - سَأَلُوهُ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ «إِنَّمَا هِيَ طُعْمَةٌ أَطْعَمَكُمُوهَا اللَّهُ».

حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ مِثْلَهُ إِلاَّ أَنَّهُ قَالَ «هَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهِ شَيْءٌ». [ر: ١٧٢٥]

د ښکار کولو حکم: (تصيد) دباب تفعيل نه دي چې دي کښې د تکلف خاصيت موندې شي.

په دې باب كښې امام بخارى رحمه الله د ښكار حكم بيان كړې دې. ښكار كه څوك ذريعه معاش جوړ كړى نو دا مشروع دى او داشان كه څوك دا ذريعه معاش نه جوړوى ليكن كله كله ښكار ذريعه كوى نو دا مباح دې. او څوك شوقيه ښكار كوى نو دا امام مالك رحمه الله په نيز دامكروه دى ليكن د جمهورو په نيز بلاكراهت جائز دى ليكن شرط دادې چې شكار لره ذبح كولو سره انتفاع حاصله كړې شى. او كه انتفاع او ذبح كولو اراده نه وى، هسې څناورولره اوولى نودا بالاتفاق ناجائز او حرام دى.[1]

امام بخارى رحمه الله باب دښكار مشروعيت لره ددې وجې بيان كړې دې چې يو حديث پاك نه ددې عدم مشروعيت چاته هم كيدې شى چې په هغې كښې دى چې (من سكن البادية جفا ومن اتبع الصيد غفل) يعنى كوم سړې په كلى كښې اوسيږى، هغه ظلم اوكړو. د (جفا) معنى دوه دى، يو (جفا على نفسه) يعنى دې سره سړې پخپل ځان ځكه چې په كلى كښې سړى ته په كلى كښې تعليم او تربيت ډير كم ملاويږى. ددې په مقابله كښې په ښار كښې تعليم او تربيت دپاره ماحول سازګاروى نو په كلى كښې اوسيدل او خپل ځان دپاره د تعليم و تربيت نه لرې ساتل ظلم دې.

د (جفا) بله معنى سختى او سنګ دلى ده. مطلب دا دې چې كوم سړې كلى اوقريه كښې اوسيږى او هغه سنګ دل وى، دده زړه سخت وى، دښار والو په مقابله كښې واقعتا د كلى والو طبيعت كښې سختى او تيزى زياته وى، (ومن اتبع الصيد غفل) يعنى چې كوم كس ښكار چې پسې شوم، هغه غافل شو، دښكار شوقيان عام طور د غفلت ښكار وى.

داحديث پاك په دې صورت كښې محمول دې چې كله سړې د ښكار عمل كښې داشان مستغرق شى چې دمونځ او نورو فرائضو او واجباتو كولو كښې خلل واقع شى ګنى فى نفسه د ښكار مشروعيت كښې هيڅ كلام نشته دې.

د باب په دريم روايت كښې دى چې (انفجا ارنبا الظهران) (انفج) په معنى د (هيج) كښې د ه. راپارول (امرالظهران) مكې ته نزدې يو مقام دې. (لغبوا) په معنى د (تعبوا) دې ستړى كيدل.

۱۱- باب التَّصَيُّدِ عَلَى الْجِبَالِ.

[۵۱۷۳] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنَا عَمْرٌو أَنَّ أَبَا النَّضْرِ حَدَّثَهُ عَنْ نَافِعٍ مَوْلَى أَبِي قَتَادَةَ وَأَبِي صَالِحٍ مَوْلَى التَّوْأَمَةِ سَمِعْتُ أَبَا قَتَادَةَ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فِيمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ وَهُمْ مُحْرِمُونَ وَأَنَا رَجُلٌ حِلٌّ عَلَى فَرَسٍ، وَكُنْتُ رَقَّاءً عَلَى الْجِبَالِ، فَبَيْنَا أَنَا عَلَى ذَلِكَ إِذْ رَأَيْتُ النَّاسَ مُتَشَوِّفِينَ لِشَيْءٍ، فَذَهَبْتُ أَنْظُرُ، فَإِذَا هُوَ حِمَارُ وَحْشٍ فَقُلْتُ لَهُمْ مَا هَذَا قَالُوا لَا نَدْرِي. قُلْتُ هُوَ حِمَارٌ وَحْشِيٌّ. فَقَالُوا هُوَ مَا رَأَيْتَ.

---

[1] فتح البارى: ۷۵۲/۹)

وَكُنْتُ نَسِيتُ سَوْطِي فَقُلْتُ لَهُمْ نَاوِلُونِي سَوْطِي. فَقَالُوا لاَ نُعِينُكَ عَلَيْهِ. فَنَزَلْتُ فَأَخَذْتُهُ، ثُمَّ ضَرَبْتُ فِي أَثَرِهِ، فَلَمْ يَكُنْ إِلاَّ ذَاكَ، حَتَّى عَقَرْتُهُ، فَأَتَيْتُ إِلَيْهِمْ فَقُلْتُ لَهُمْ قُومُوا فَاحْتَمِلُوا. قَالُوا لاَ نَمَسُّهُ. فَحَمَلْتُهُ حَتَّى جِئْتُهُمْ بِهِ، فَأَبَى بَعْضُهُمْ، وَأَكَلَ بَعْضُهُمْ، فَقُلْتُ أَنَا أَسْتَوْقِفُ لَكُمُ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- فَأَدْرَكْتُهُ فَحَدَّثْتُهُ الْحَدِيثَ فَقَالَ لِي «أَبَقِيَ مَعَكُمْ شَيْءٌ مِنْهُ». قُلْتُ نَعَمْ. فَقَالَ «كُلُوا فَهْوَ طُعْمٌ أَطْعَمَكُمُوهَا اللَّهُ». [ر: ١٧٢٥]

د (تصيد) معنی کشمیری رحمه الله کړې ده. ښکار لره مشغله جوړول.

سند کښې دا یو ابوالنضر رحمه الله دوه شیوخ دی. یو نافع مولی ابن ابی قتاده او دویم ابوصالح مولی د توامه، د ابوالنضر نوم سالم دی. (١)

د ابو صالح نوم نبهان رحمه الله دې، د نبهان رحمه الله بخاری شریف کښې صرف دا یو حدیث دې (٢) دا د توامه آزاد شوې غلام وو. توامه غبر ګونکی بچی ته وائي، دلته توامه نه توامه بنت امیه بن حلف جمحی مراد دې. چونکه دې خپل یو خور سره پیدا شوې وو، ددې وجې ده ته توامه اووئیلې شو. (٣) دا دصفوان بن امیه خور وه. (٤)

د لغاتو تشریح: حدیث باب کښې د څوالفاظو معنی اوګورئ. (وَهُمْ مُحْرِمُونَ) یعنی هغه خلق په احرام کښې وو دا جمله حالیه ده. (وَأَنَا رَجُلٌ حِلٌّ عَلَى فَرَسٍ) یعنی څه په خپل آس باندې حلال اووم. احرام کښې نه اووم. (حل) دحاء په کسره سره، په معنی د حلال ده. (رَأَيْتُ النَّاسَ مُتَشَوِّفِينَ لِشَيْءٍ) دې کښې مې خلق او کتل چې هغوئ څه څیز لره ګوری، (تشوف فلان لشئ) کتل (كنت رقاء على الجبال) څه په غرونو ډیر ختلې اووم. (رقاء: رقی، یرقی) باب سمع نه د مبالغه صیغه ده (ضربت اثره) یعنی (اخرجت فی اثره...) (اثر) د همزه او ثاء په فتحه سره او د همزه په کسره سره اود ثاء په سکون سره په دواړو رنګه استمالیږی. (٥)

(عقرته، جرحته) ما هغه زخمی کړو.

د ترجمة الباب مقصد: ددې باب نه د امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چې ښکار وغیره او امر مباح دپاره خپل ځان یا سورلئ لره په لړ مشقت اچول، نودا جائز دی نو ابن منیر لیکی چې:

(نبه بهذه الترجمة على جواز ارتكاب المشاق لمن له غرض لنفسه او لدابته إذا كان الغرض مباحا وان التصيد في الجبال كهو في السهل وان اجراء الخيل في الوعر جائز للحاجة وليس هو من تعذيب الحيوان) (٦)

---

(١) فتح الباری: ٧۶۶/٩)

(٢) فتح الباری: ٧۶۶/٩، وتهذیب الکمال: ٣١١/٢٩)

(٣) عمدة القاری: ١٠٤/٢١)

(٤) وتهذیب الکمال: ٣١١/٢٩)

(٥) (اوګورئ تفصل دپاره: عمدة القاری: ١٠٤/٢١)

(٦) فتح الباری: ٧۶۶/٩)

۱۲- باب قول الله تعالی (أحل لکم صید البحر)

وَقَالَ عُمَرُ صَيْدُهُ مَا اصْطِيدَ، وَطَعَامُهُ مَا رَمَى بِهِ، وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ الطَّافِي حَلاَلٌ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ طَعَامُهُ مَيْتَتُهُ إِلاَّ مَا قَذِرْتَ مِنْهَا، وَالْجِرِّي لاَ تَأْكُلُهُ الْيَهُودُ وَنَحْنُ نَأْكُلُهُ. وَقَالَ شُرَيْحٌ صَاحِبُ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - كُلُّ شَيْءٍ فِي الْبَحْرِ مَذْبُوحٌ. وَقَالَ عَطَاءٌ أَمَّا الطَّيْرُ فَأَرَى أَنْ يَذْبَحَهُ. وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ قُلْتُ لِعَطَاءٍ صَيْدُ الأَنْهَارِ وَقِلاَتِ السَّيْلِ أَصَيْدُ بَحْرٍ هُوَ قَالَ نَعَمْ، ثُمَّ تَلاَ (هَذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَائِغٌ شَرَابُهُ وَهَذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَمِنْ كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا). وَرَكِبَ الْحَسَنُ - عَلَيْهِ السَّلاَمُ - عَلَى سَرْجٍ مِنْ جُلُودِ كِلاَبِ الْمَاءِ. وَقَالَ الشَّعْبِيُّ لَوْ أَنَّ أَهْلِي أَكَلُوا الضَّفَادِعَ لأَطْعَمْتُهُمْ. وَلَمْ يَرَ الْحَسَنُ بِالسُّلَحْفَاةِ بَأْسًا. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كُلْ مِنْ صَيْدِ الْبَحْرِ مَا صَادَهُ نَصْرَانِيٌّ أَوْ يَهُودِيٌّ أَوْ مَجُوسِيٌّ. وَقَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ فِي الْمُرِي ذَبَحَ الْخَمْرَ النِّينَانُ وَالشَّمْسُ.

[۵۱۷۴] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَمْرٌو أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا - رضى الله عنه - يَقُولُ غَزَوْنَا جَيْشَ الْخَبَطِ وَأُمِّرَ أَبُو عُبَيْدَةَ فَجُعْنَا جُوعًا شَدِيدًا فَأَلْقَى الْبَحْرُ حُوتًا مَيِّتًا لَمْ يُرَ مِثْلُهُ يُقَالُ لَهُ الْعَنْبَرُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ نِصْفَ شَهْرٍ فَأَخَذَ أَبُو عُبَيْدَةَ عَظْمًا مِنْ عِظَامِهِ فَمَرَّ الرَّاكِبُ تَحْتَهُ.

[۵۱۷۵] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ جَابِرًا يَقُولُ بَعَثَنَا النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - ثَلاَثَمِائَةِ رَاكِبٍ وَأَمِيرُنَا أَبُو عُبَيْدَةَ نَرْصُدُ عِيرًا لِقُرَيْشٍ فَأَصَابَنَا جُوعٌ شَدِيدٌ حَتَّى أَكَلْنَا الْخَبَطَ، فَسُمِّيَ جَيْشَ الْخَبَطِ وَأَلْقَى الْبَحْرُ حُوتًا يُقَالُ لَهُ الْعَنْبَرُ فَأَكَلْنَا نِصْفَ شَهْرٍ وَادَّهَنَّا بِوَدَكِهِ حَتَّى صَلَحَتْ أَجْسَامُنَا قَالَ فَأَخَذَ أَبُو عُبَيْدَةَ ضِلَعًا مِنْ أَضْلاَعِهِ فَنَصَبَهُ فَمَرَّ الرَّاكِبُ تَحْتَهُ، وَكَانَ فِينَا رَجُلٌ فَلَمَّا اشْتَدَّ الْجُوعُ نَحَرَ ثَلاَثَ جَزَائِرَ، ثُمَّ ثَلاَثَ جَزَائِرَ، ثُمَّ نَهَاهُ أَبُو عُبَيْدَةَ. [ر: ۲۳۵۱]

قوله: وَقَالَ عُمَرُ صَيْدُهُ مَا اصْطِيدَ، وَطَعَامُهُ مَا رَمَى بِهِ: فاروق اعظم رضی الله عنه فرمائی چې د قرآن پاك آيت (أحل لكم صيد البحر وطعامه) نه مراد هغه دی چې جال وغیره سره ښکار کړې شی. او د طعام نه مراد هغه دی چې سمندر نه راغوزار شی.
عبد بن حمید رحمه الله دا تعلیق موصولا نقل کړې دی.[1]

قوله: وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ الطَّافِي حَلاَلٌ: ابوبکر صدیق رضی الله عنه اوفرمائیل چې (سمك طافی) حلال دی (طافی) هغه مهی ته وائی چې مړ شی او اوبو کښې پورته راوُخیژی.
دا تعلیق امام طحاوی رحمه الله، ابن ابی شیبة رحمه الله او دار قطنی رحمه الله موصولا نقل کړې دی.[2]

---

[1] (فتح الباری :۷۶۷/۹، وعمدة القاری :۱۰۴/۲۱)
[2] عمدة القاری:۱۰۵/۲۱ وفتح الباری :۷۶۷/۹،و سنن الدار قطنی باب الصید والذبائح : ۲۶۷/۴، رقم الحدیث : ۴)

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ طَعَامُهُ مَيْتَتُهُ إِلَّا مَا قَذِرْتَ مِنْهَا: ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چې (احل لكم صيد البحر وطعامه) كښې د طعام نه د سمندر غير مذبوح ځناور مراد دی، مګر چې تاسو د كومو نه نفرت اوكړئ، (اوهغې خوراك تاسو خوښ نه كړئ).
طبراني دا تعليق موصولا نقل كړې دې. (۱)

ابن عباس فرمائي چې جرى (مار مهئ) لره يهوديان نه خورى، او مونږ ئې خورو. جرى ته جريت هم وائى. علامه خطابى رحمه الله فرمائى چې دا دمار په شان يو مهې دې، ځينو وئيلى دى چې (الجرى سمك الاقشرله) دې ته مار مهئ هم وائى. كشميرى رحمه الله فرمائى چې ددې هندى ترجمه ماته معلوم نشوه. فرمائى چې ځينې ددې ترجمه جهينګا كړې ده . او ماته جهينګا په مهى كيدو كښې تردد دې (۲)، د جهينګا يو قسم وركوتې كب يعنى مهې حكم مخكښې رازى.

قوله: وَالْجِرِّي لَا تَأْكُلُهُ الْيَهُودُ وَنَحْنُ نَأْكُلُهُ: دا تعليق عبدالرزاق رحمه الله او ابن ابى شيبه رحمه الله موصولا نقل كړې دې. (۳)

قوله: وَقَالَ شُرَيْحٌ صَاحِبُ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - كُلُّ شَيْءٍ فِي الْبَحْرِ مَذْبُوحٌ. وَقَالَ عَطَاءٌ أَمَّا الطَّيْرُ فَأَرَى أَنْ يَذْبَحَهُ: دا تعليق امام بخارى رحمه الله په تاريخ كښې او ابن منده په المعرفة كښې موصولا نقل كړې دې. (۴)عمرو بن دينار رحمه الله او ابوالزبير رحمه الله دواړه په شريح كښې نقل كړى دى. چې هغوئ فرمائى چې (كل شئ فى البحر مذبوح) د عطاء رحمه الله په مخكښې چې كله ددې خبرې ذكر اوشو نو هغوئ اوفرمائيل چې البته طير يعنى مارغه متعلق ځما خيال دې چې دا تاسو ذبح كوئى، يعنى عطاء رحمه الله د (كل شئ مذبوح) نه طير لره مستثنى ګرزولې ده او ددې نه داوبو ځناور مراد اخلى.

دار قطنى دا تعليق مرفوعا نقل كړې دې.(۵) ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې (الموقوف اصح)(۶)

قوله: وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ قُلْتُ لِعَطَاءٍ صَيْدُ الأَنْهَارِ وَقِلاَتِ السَّيْلِ أَصَيْدُ بَحْرٍ هُوَ قَالَ نَعَمْ، ثُمَّ تَلاَ (هَذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَائِغٌ شَرَابُهُ وَهَذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَمِنْ كُلٍّ تَأْكُلُونَ

---

(۱) فتح البارى : ۹/ ۱۰۵. عمدة القارى: ۲۱/ ۷۶۷).
(۲) فيض البارى: ۳٤۰)
(۳) فتح البارى : ۶۷۸/۹ . عمدة القارى: ۱۰۵/۲۱. ارشاد السارى: ۲٤۸).
(۴) فتح البارى : ۶۷۸/۹)
(۵) سنن لدار قطنى باب الصيد والذبائح : ۲۶۹/٤. و لفظه ان الله تعالى ذبح ما فى البحر لبنى آدم).
(۶) فتح البارى : ۹/ ۷۶۹).

لَحْمًا طَرِيًّا: ابن جريج رحمه الله وائي چې ما د عطاء نه تپوس اوکړو په نهرونو او جمع شوؤ اوبو کښې د ښکار کولو څه حکم دې، آیا هغه هم د «صيد البحر» په حکم کښې دی ؟ هغوئ اوفرمائيل چې آؤ. او بيا ئې د قرآن کريم آيت مبارك تلاوت کړو. چې په هغې کښې دخوږو او ترشو دواړو اوبو متعلق فرمائيلې شوی دی. چې «ومن كل تاكلون لحما طريا».... «قلات» د «قلت» دقاف په فتحه سره جمع ده. لکه څنګه چې «بحر بحار» اکثرو وختونو کښې غرو کښې دننه غټ غټ خندقونه اوشی يو چې په هغې کښې اوبه جمع کيږی. هغې ته «قلت» وائی. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې «هو النقر في الصخرة يستنقع فيها الماء» (١)
عبدالرزاق پخپل مصنف کښې دا تعليق موصولا نقل کړې دې. (٢)

قوله: وَرَكِبَ الْحَسَنُ - عَلَيْهِ السَّلَامُ - عَلَى سَرْجٍ مِنْ جُلُودِ كِلَابِ الْمَاءِ: عبدالرزاق پخپل مصنف کښې دا تعليق موصولا نقل کړې دې. (٣)

قوله: وَقَالَ الشَّعْبِيُّ لَوْ أَنَّ أَهْلِي أَكَلُوا الضَّفَادِعَ لَأَطْعَمْتُهُمْ: حضرت حسن د اوبو د سپو څرمنو جوړ شوی زين باندې د سورلئ په وخت کښې کيناستلو.
حسن نه يا حسن بن على رضي الله عنه مراد دې او يا ددې نه حسن بصری رحمه الله مراد دې.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې د ړومبی قول تائيد ددې نه هم کيږی چې څينو نسخو کښې د حسن نه پس رضي الله عنه ليکلې شوې دې. چې د صحابی دپاره استعماليږی. ا وحسن بصری رحمه الله صحابی نه دې وو بلکه تابعی وو. (٤)

قوله: وَقَالَ الشَّعْبِيُّ لَوْ أَنَّ أَهْلِي أَكَلُوا الضَّفَادِعَ لَأَطْعَمْتُهُمْ: عامر بن شراحيل شعبی رحمه الله فرمائی چې څما کور والو به چيندخ خوړلو نو ما به ورته ورکولو.

«ضفادع» د «ضفدع» جمع ده. د «ضفدع» د ضاد په فتحه سره او کسره دواړو سره درست دې، په دې کښې يو لغت د عين نه بغير «ضفادع» هم دې. (٥)

د چيندخ خوړلو حکم: دجمهورو په نيز چيندخ حرام دې، ددې خوراك جائز نه دې، د امام مالك رحمه الله په نيز د چيندخ استعمال جائز دې. بيا ددوئ په مذهب کښې اختلاف دې.

کښې اختلاف دې «مدونة» کښې ابن القاسم ددوئ مسلك نقل کړې دې چې بغير د ذبح کولو نه چيندخ خوراك جائز دې، او دويم روايت دادې چې چيندخ په اوبو کښې اوسيږی نو هغه

(١) فتح الباري : ٩/ ٧٦٩. اوګورئی النهاية لابن الاثير: ٤/ ٩٩).
(٢) عمدة القارى: ٢١/ ١٠٦).
(٣) عمدة القارى: ٢١/ ١٠٦).
(٤) فتح الباري : ٩/ ٧٦٩. عمدة القارى: ٢١/
(٥) فتح الباري : ٩/ . عمدة القارى: ٢١/ ١٠٦).

بغیر د ذبح کولو نه خوړلې شی لیکن اوچه کښې یا کله چې په اوچه کښې په اوبو کښې اوسیدو والا چینډخ د ذبح کولو نه درست نه وی.[1]

جمهورو د دارمی روایت نه استدلال کړې دې چې نبی کریم ﷺ نه په دوائی کښې د چینډخ د استعمالولو اجازت اوغوښتلې شو نو نبی کریم ﷺ ترې منع اوفرمائیله.[2]

امام ابو داؤد رحمه الله هم داشان روایت په کتاب الطب کښې نقل کړې دې.[3]

د شعبی رحمه الله دا تعلیق چا نقل کړې دې، دا معلوم نشو.[4]

قوله: وَلَمْ يَرَ الْحَسَنُ بِالسُّلَحْفَاةِ بَأْسًا: حسن بصری رحمه الله به په شمشتئ خوړلو کښې هیڅ حرج نه ګڼړلو.

دا تعلیق ابن ابی شیبه رحمه الله موصولا نقل کړې دې.[5]

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كُلْ مِنْ صَيْدِ الْبَحْرِ مَا صَادَهُ نَصْرَانِيٌّ أَوْ يَهُودِيٌّ أَوْ مَجُوسِيٌّ: یعنی دصید البحر استعمال جائز دې، اګر چې هغه ښکار یو نصرانی یا یهودی مجوسی کړې وي

دبخاری شریف په زړو نسخو کښې عبارت داشان دې لیکن درست هغه نه دې، نو څینو نسخو کښې صحیح عبارت د «وان صاده» اضافی سره داشان دې چې «كل من صيد البحر وان صاده نصراني اويهودي......»[6]

بیهقی رحمه الله دا تعلیق موصولا نقل کړې دې.[7]

قوله: وَقَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ فِي الْمُرِي ذَبَحَ الْخَمْرَ النِّينَانُ وَالشَّمْسُ: د ابو الدرداء نوم عویمر بن مالك دې[8]، مزی د میم په ضمه سره او د راء په سکون سره دې، ابراهیم حربی د دې متعلق فرمائی چې:

«هو يعمل بالشام يوخذ الخمر فيجعل فيها الملح والسمك ويوضع الشمس فيتغير طعمه الى طعم المرى»[9]

یعنی شرابو کښې مالګه او مهی یو ځائې کړی و دا په نمر کښې کیږدی، دې عمل سره د

---

[1]) عمدة القاری:۲۱/۱۰۷).

[2]) اوګورئی: عمدة القاری:۲۱/ ۱۰۷).

[3]) سنن ابی داؤد کتاب الطب باب فی الادوية المكروهة رقم الحديث:۳۸۷۱، ٤/۷).

[4]) تغلیق التعلیق جلد:٤، صفحه:۵۱۰، باندې دلته واما قول الشعبی... نه پس ځائې خالی دې، شراح هم خاموشی اختیار کړې ده).

[5]) فتح الباری :۹/۷۶۹).

[6]) فتح الباری :۹/۷۳۹، عمدة القاری:۲۱/ ۱۰۷).

[7]) عمدة القاری:۲۱/ ۱۰۷).

[8]) عمدة القاری:۲۱/۱۰۷).

[9]) فتح الباری :۹/۷۷۰).

شرابو ذائقه بدله شى او چې كوم يو څيز تيار شى هغې ته مرى وائى.

نينان، د «نون» جمع ده. «نون» مهى ته وائى. تركيب كښې «الخمر.... ذبح» فعل معروف دپاره مفعول به دې او «نينان» فاعل دې. يعنى مرى كښې مهى او ګرمى او تاؤ دواړه خمر ذبح يعنى حلالوى چې څنګه ميته ذبح سره حلاليږى . دا شان شراب مرى كښې مالګه. مهى اوګرمۍ سره يو بل څيزجوړ شى او دا حلال شى. علامه عينى رحمه الله فرمائى چې

«ثم تفسير كلام ابى الدرداء ب قوله : فى المرى مقدم لفظا ولكن فى المعنى متاخر تقديره ذبح الخمر النينان والشمس فى المرى» [۱]

ابراهيم حربى دا تعليق په غريب الحديث كښې موصولا نقل كړې دې

د باب لاندې امام بخارى رحمه الله چې كوم روايت نقل كړې دې. په هغې باندې كلام په كتاب المغازى كښې تير شوې دې [۲]

امام بخارى رحمه الله ددې باب لاندې دوه مسئلې بيان كړى دى او په دواړو كښې د حضرات فقهاء كرامو اختلاف دې.

دسمندرى ځناورو حكم: رومبۍ مسئله اود اوبو د ځناورو حلت او حرمت دې

سمندرى ځناورو كښې د مهى په حلت باندې خو اجماع ده او دې په حلاليدو كښې د هيچا هم اختلاف نشته دې، [۳] البته دباقى ځناورو متعلق اختلاف دې.

د ائمه ثلاثه په نيز ټول سمندرى ځناور حلال دى.

شوافع البته چيندخ لره مستثنى ګرزوى. [۴]

مالكيه انسان بحرى، كلب بحر. خنزير بحرى لره د حلت د حكم نه مستثنى ګرزولې دې.

ليكن علامه درد ير على الاطلاق دبحرى حيواناتو د حلت قول لره مختار ګرزولې دې.

د حضرات حنابله په نزد هم مطلقا بحرى حيوانات حلال دى [۵]

د حنيفه په نيز بحرى حيواناتو كښې صرف مهى حلال دې. باقى ټول حيوانات بحريه حرام دى د امام شافعى رحمه الله يو قول د حنفى مذهب مطابق هم منقول دې. [۶]

دامام بخارى رحمه الله مسلك هم د آئمه ثلاثه مطاب دې لكه څنګه چې تعليقات باب نه معلوميږى.

د ائمه ثلاثه دلائل اودهغوئ جوابونه: ائمه ثلاثه دقرآن پاك د آيت مبارك «أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ» نه استدلال كوى. فرمائى چې دا استدلال په دوؤ خبرو باندې موقوف دې. تر كومې پورې چې

---

[۱] فتح البارى :۷۷۰/۹).
[۲] كشف البارى كتاب المغازى: ۵۸۴، ۵۸۵)..
[۳] اعلاء السنن:۱۸۷/۱۷).
[۴] المجموع شرح المهذب كتاب الذبائح :۳۰/۹-۳۱).
[۵] (المغنى لابن قدامة كتاب الصيد والذبائح:۳۳۸/۹)
[۶] (فتح البارى :۷۷۲/۹)

هغه ثابت نه شي استدلال ختمیدې شي.

ړومبئ خبره داده چې آیت مبارك کښې (صید) نه مراد (مصید) واخستې شي. (صید) مصدر دې. ددې معنی دښکار کولو ده. (مصید) د اسم مفعول صیغه ده. ښکار ته وائي. یعنی هغه ځناور چې هغه ښکار کړې شي، ړومبی صورت کښې به ترجمه دا وي چې ستاسو دپاره په سمندر کښې ښکار کول حلال اوګرزولې شو. او دویم صورت کښې به ترجمه دا وي چې ستاسو دپاره دسمندر ښکار حلال کړې شو

د آئمه ثلاثه مسلك بۀ هغه وخت کښې هم ددې لفظ نه ثابتیدیشي چې کله (صید) سره ښکار کوونکی ځناور مراد واخستلې شي لیکن که مصدری معنی مراد واخستې شي نو بیا ددې مسلك نه ثابتیږی ځکه چې په سمندر کښې ښکار کول د حنفیه په نیز هم درست او حلال دی اوچونکه لفظ (صید) مصدر دې. ددې وجې دې دا په اصل کښې مصدری معنی باندې محمول کیږی. ددې وجې دې ته په اصل کښې مصدری معنی باندې محمول کول حقیقت دې، مصدر د اسم مفعول په معنی کښې مجازی استعمالیږی، مجاز دپاره قرینه ضروری دد. او دلته مجازی معنی مراد اخستلو دپاره هیڅ قرینه نشته دې.

بلکه سیاق کلام حقیقی معنی باندې دلالت کوی ځکه چې دې نه پس ارشاد دې چې (وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا) په دې جمله کښې (صید) نه بالاتفاق مصدری معنی مراد ده ځکه چې ښکار کول د احرام په حالت کښې حرام دې.

ښکار خوړل محرم دپاره حرام نه دې بلکه جائز دې.

دویمه خبره داده چې که (صید) لره د (مصید) په معنی کښې واخستلې شي نو د جمهور په نیز مسلك به هله ثابت وي چې کله د (صید البحر) اضافت استغراق دپاره وي چې دسمندر ټول ښکار حلال ګرزولې شوې وي. لیکن استغراق باندې هیڅ قرینه نه شي موندې.بلکه دعدم استغراق قرینه موندې شي. ځکه چې (حُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ) کښې اضافت استغراق دپاره نه دې. (صید البر) کښې هم اضافت استغراق دپاره نه دې پکار. (1)

د جمهورو دویم استدلال د ابوهریره رضی الله عنه روایت نه دې چې یو سړی د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چې مونږ بحری سفر کوؤ او مونږ سره خوږې اوبه کمې وی. که مونږ دا په اودس کښې استعمال کړو نو تږی به پاتې شو آیا په داسې صورت کښې مونږ دسمندر اوبو سره اودس کولې شو. نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې (هو الطهور ماءه والحل میتته).

حضرات حنیفه وائي چې (میتة) کښې اضافت استغراق دپاره نه دې بلکه ددې نه میته معهوده مراد ده او هغه مهی دې ځکه چې نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چې (احلت لنا میتتان

---

(1) تکملة فتح الملهم کتاب الصید والذبائح:٣/٥٠٧، ٥٠٨. واحکام القران للجصاص: ٢/٤٧٩. فیض القران ٤:/٤٣٠)

ودمان فاما الميتتان فالجراد والحوت واما الدمان فا الطحال والكبد) [۱]

په دې حديث پاك كښې صرف د دوو ميتاتو متعلق د حلت حكم شوې دې. يو مولخ او دويم مهې په دې كښې ميته نه مراد داسې ځناور دې چې هغه نشي ذبح كولې. يا چې دهغې نه وينه بهيږي. معلوم شود چې ددې دوؤ نه علاوه باقي ميتاتو د قرآن پاك آيت (وَحُرِّمَ عَلَيْكُمُ الميتة) په بناء باندې حرام دې. كه دهغې تعلق بر سره وى يا بحر سره [۲]

د جمهورو دريم استدلال د شريح روايت نه دې كوم لره چې امام بخارى ﷫ دلته تعليقا ذكر كړې دې چې (كل شئ فى البحر مذبوح)

داشان جابر ﷛ نه دار قطنى ﷫ مرفوع روايت نقل كړې دې چې (ما من دابة فى البحر الا قد ذكاها الله لبنى آدم) [۳]

حضرات حنيفه كښې ځينې علماء كرامو ددې جواب كړېدې چې ددې نه مراد مهې دې او مطلب دادې چې الله جل جلاله هر قسم مهې حلال كړې دې. ځكه چې دار قطنى دويم روايت نقل كړې دې چې دهغې الفاظ دادى : (ان الله تعالى قد ذبح كل نون فى البحر لبنى آدم) او (نون) اطلاق صرف په مهى باندې كيږى. [۴]

ليكن دا جواب څه زيات زړه ته نزدې نه دې. ځكه چې ځينې احاديثو كښې دمهى ذكر نه دا نه لازميږى چې په كومو احاديثو كښې مطلقا حيوانات حلال ګرزولې شوى دى. په هغې كښې مهى هم مراد دې.

د احنافو دلائل : د احنافو يو دليل خو دا پورته حديث مبارك دې (احلت لنا ميتتان). او دويم هغه د قرآن پاك آيت مبارك (وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ) نه هم استدلال كوى او فرمائى چې مهى نه علاوه باقى سمندرى ځناور خبائث كښې داخل دى. [۵]

دريم هغوئ د حضرت عبدالله بن عباس ﷠ د تعليق نه استدلال كوى لكه څنګه چې دلته امام بخارى ﷫ نقل فرمائيلى دى چې (طعامه ميتة الا ما قذرت منها) يعنى د سمندر غيرمذبوحه ځناور طعام البحر كښې دى چې حلال دى ليكن چې دهغې په خوراك كښې د طبيعت رغبت نه وى هغه طعام البحر نه دې او مهى نه علاوه باقى د سمندرى ځناور غوښه څه مرغوب څيز نه دې.

بيشكه د حضرات حنيفه مسلك احوط دې ليكن د جمهورو مسلك (اقرب الى النصوص) دې.

---

[۱] سنن ابن ماجه كتاب الاطعمة باب الكبد والطحال: رقم الحديث : ۳۳۱٤، ۱۱۰۱/۲).
[۲] تكملة فتح الملهم:۵۰۹/۳، وفتح القدير كتاب الكراهية:٤۲۲/۸)
[۳] سنن الدار قطنى باب الصيد والذبائح: ۲٦۷/٤).
[۴] سنن الدار قطنى باب الصيد والذبائح: ۲٦۷/٤).
[۵] وفتح القدير كتاب الكراهية فصل فى ما يحل اكله:٤۲۲/۸)

د امام بخاري رحمه الله مسلك هم د جمهورو مطابق دې ،هغوئ چې تعليقات او احاديث ذكر كړي دي. دهغې نه مطلقا د حيواناتِ بحريه حلت معلوميږي.

د سمک طافی مسئله : دويمه اختلافی مسئله دا سمك طافئ ده . يعنى هغه مهي چې سمندر كښې دننه پخپله مړشي او اوبو دپاسه راشي نو دهغې خوراك جائز دې كه نه ؟ د ائمه ثلاثه په نيز ددې خوراك جائز دې. د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دا جائز نه دی. (١)

دجمهورو استدلال : د جمهورو ړومبي استدلال خو حديث پاك نه دې چې حضرات صحابه كرام رضي الله عنهم (عنبر) نومې مهي استعمال كړې وو.

ليكن ددې نه ددې استدلال پوره نه دې بلكه په دې حديث پاك كښې هيڅ داسې تصريح نشته دې چې د هغې نه معلوم شي چې هغه سمك طافی وو او پخپله مړ شوې وو. كيدېشي چې هغه سمندر اوچې ته راغوزار كړې وی. او ددې په نتيجه كښې هغه مړ شوې وی، داسې مهي خوړل بالاتفاق جائز دې. (٢)

ائمه ثلاثه د حضرت ابوبكرصديق دا ثر نه استدلال كوی لكه څنګه چې امام بخاري رحمه الله دلته تعليقا ذكر كړي دي.

د امام اعظم دلائل : امام بخاري رحمه الله دجابر رضي الله عنه د حديث نه استدلال كوی لكه څنګه چې امام ابوداؤ رحمه الله نقل كړی دی چې نبی كريم صلى الله عليه وسلم فرمائيلی دی چې **(ماالقى البحر او جزر عنه فكلوه ومامات فيه وطفا فلا تاكلوه)** (٣)په دې كښې تصريح ده چې **(سمك طافى)** مه خورئی او د حلت اوحرمت په مينځ كښې چې كله تعارض اوشی نو احتياط په دې كښې دې چې جانب حرمت ته ترجيح وركړې شی. (٤)

د جيهنګې حكم : تر كومې چې تعلق دې د جهينګی نو دائمه ثلاثه په نيز خودا جائز دې، د اكثرو حنيفه په نيز هم جائز دی ځكه چې هغه دمهی يو قسم دې. ځينې علماء كرامو ددې د عدم جواز قول اختيار كړې دې او وئيلی ئې دی چې جهينګا مهی نه دې بلكه يومستقل بيل قسم دې. ليكن جمهور دا په مهی كښې شميری. (٥)

---

(١) فتح البارى :٧٧١/٩).

(٢) فيض البارى :٤٣٠/٤).

(٣) سنن ابى داؤد كتاب الاطعمة رقم الحديث:٣٨١٥)

(٤) لا مع الدرارى:٤١٣/٩).

(٥) (د مهی په حلالوالی كښې خو څه اختلاف نشته دې، البته اختلاف په دې كښې دې چې جهينګا مهې دې او كه دې ؟ د حيواناتو د جديد ماهرينو په نزد جهنګا مهې نه دې. ځكه چې د جديد ماهرينو په نزد مهې داسې ځناور دې چې په دهٔ كښې د ملا تير وی، او ددې په پيپړو په ذريعه ساه اخلی. او په جهينګا كښې نه د ملا وی او نه دا د پيپړو په ذريعه ساه اخلی. (اوګورئی دائرة المعارف للبستانی:ج/١٠ ص/٦٠) ليكن د پخلاف د لغت ځينو مشهور عالمانو جهنيګا په مهی شميرلې دې. ابن دريد ، علامه زبيدی، او دميری هم دا رائې قائم كړې ده. ا وابن دريد په جمهرة اللغة ج/٣ ص/٤١٤ كښې ليكی چې (واربيان ضرب من السمک) ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

باب لاندې امام بخارى رحمه الله عنبر مهي والا چې كوم روايت نقل كړې دې دا په كتاب المغازى كښې تير شوې دې، د حديث مناسبت باب سره بالكل واضح دې.

۱۳- باب أَكْلِ الْجَرَادِ

[۵۱۷۶] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي يَعْفُورٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي أَوْفَى - رضى الله عنهما - قَالَ غَزَوْنَا مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - سَبْعَ غَزَوَاتٍ أَوْ سِتًّا، كُنَّا نَأْكُلُ مَعَهُ الْجَرَادَ. قَالَ سُفْيَانُ وَأَبُو عَوَانَةَ وَإِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي يَعْفُورٍ عَنِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى سَبْعَ غَزَوَاتٍ.

قوله: (جراد): د (جردة) جمع ده. مولخ ته وائى. دا د جرد نه مشتق دې (لانه ينزل على شئ الاجرده) ددې دوه قسمونه دى، يو طيار يعنى الوتونكى او دويم باب وتاب يعنى كنول والا، مولخ وغيره، بغير د ذبح كولو نه خوړل جائز دى. البته د مالكيه په نيزو دا مشهور دى چې دې لره ذبح كول جواز اكل دپاره شرط دى. (۱)
بيا د ذبح كولو طريقه كښې اختلاف دې څينو وئيلى دى چې دده نه دې سر پريكړې شى، څينو وئيلى دى چې په اور يا كټوئ كښې ددې پريوتل دده ذبح كيدل دى. (۲)
ابو يعفور: دده نوم وقدان يا واقدى دې، امام مسلم رحمه الله فرمائى چې واقد دده نوم او وقدان دده لقب دې، ابو يعفو دوه دى. يو اكبر او بل اصغر. چې كوم اصغر دې دهغه نوم عبدالرحمان بن عبيد دې، دواړه ثقفه دى ابو يعفور دا اكبر صحيح بخارى كښې صرف دوه روايتونه دى. يو دلته او بل په كتاب الصلوة كښې ابواب الركوع كښې (۳) ابويعفور اصغر د صحابه كرامو رضى الله عنهم كښې دچا نه هم روايت نه دې آوريدلې، او ابويعفور اكبر ابن عمر رضى الله عنه،

.....بقيه ازحاشيه گذشته] بقيه علامه زبيدى هم دا فرمائيلى دى. اوګورئى تاج العروس: ۱/۱۴۶، او علامه دميرى رحمه الله په حياة الحيوان ج/۱ص/۴۳۷ كښې ليكى چې (الروبيان هو سمك صغير جدا احمر) يعنى جهينګا د سور رنګ يو مهي دې.)
حضرت تهانوى رحمه الله په امداد الفتاوى (ج/٤ ص/١٠٤) كښې فرمائى چې احقر په دې مطمئن دې چې دا مهي دې. حضرت مفى محمود حسن ګنګوهى رحمه الله په فتاوى محموديه (ج/۵ ص/١٠٧. ١٢٠. ١٢٣) كښې. مولانا عبدالحى لكهوى رحمه الله په مجموعة الفتاوى (ج/۵. ص/١٠٧. ١٢٠) عبدالرحيم لاجپورى په فتاوى رحيميه (ج/۶ ص/٢٩٧) او مفتى عبدالسلام چاټګامى په جواهر الفتاوى (ج/١ص/٥٨٤) كښې دا ټول جهنګا په مهى كښې شمير كړې دې. مولانا محمد تقى عثمانى صاحب په تكمله فتح الملهم ج/٤ص/٥١٤ كښې ليكى چې:
فلا ينبغى التشديد فى مسالة الاربيان عند الافتاء، ولا سيما فى حالة كون المسالة مجتهدا فيها من اصلها ولا شك انه حلال عندالائمة الثلاثة وان اختلاف الفقهاء يورث التخفيف غيران الاجتناب عن اكله احوط و اولى.

(۱) فتح البارى: ۹/٧٧٤).
(۲) فتح البارى: ۹/٧٧٤).
(۳) فتح البارى: ۹/٧٧٤).

انس رضی الله عنه وغیره نه روایت آؤریدلې دې په دولسمه هجرئی کښې ددوئ وفات شوې دې [۱]

قوله: سَبْعَ غَزَوَاتٍ أَوْ سِتًّا: داشك شعبه ته دې چې اووۀ غزوات ئې وئیلی دی که شپږ.

قوله: كُنَّا نَأْكُلُ مَعَهُ الْجَرَادَ: د لته معیت نه صرف غزوه کښې معیت مراد دې په خوراك کښې نه او یا په خوراك کښې معیت مراد دې، د دویم احتمال تائید د ابو نعیم روایت نه کیږی چې په هغې کښې دی چې (ویاكل معنا) الفاظ دی. [۲]

په شوافع کښې د علامه صیمری رحمه الله خیال وو چې نبی کریم ﷺ مولخ خوړل نه خوښول. [۳]
هغه دامام ابو داؤد رحمه الله د یو روایت نه استدلال کولو چې نبی کریم ﷺ نه د مولخ متعلق تپوس اوشو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې (لا اكله ولا احرمه) [۴]

لیکن دا روایت مرسل دې، امام نووی رحمه الله دمولخ په حلت باندې اجماع نقل کړې ده. بیا هم ابن العربی په شرح ترمذی کښې دحجاز د مولخانو اوداندلس د مولخانو په مینځ کښې فرق کړې دې. اووئیلی ئې دی چې د اندلس مولخان ټول ضرری دی. [۵]
لهٰذا د یو علاقې د مولخانو متعلق معلوم شو چې هغه مضر صحت دی نو دهغې استعمال بیا صحیح نه دی.

قوله: قَالَ سُفْيَانُ وَأَبُو عَوَانَةَ وَإِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي يَعْفُورٍ عَنِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى سَبْعَ غَزَوَاتٍ: دسفیان ثوری رحمه الله تعلیق لردارمی موصولا نقل کړېدې د ابوعوانه تعلیق لره امام مسلم رحمه الله موصولا نقل کړې دې.
او د اسرائیل تعلیق لره طبرانی موصولا روایت کړې دې په دې دریو واړو روایتونو کښې دغزوات ذکر دې.

۱۴- باب آنِيَةِ الْمَجُوسِ وَالْمَيْتَةِ.

[۵۱۷۷] حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنْ حَيْوَةَ بْنِ شُرَيْحٍ قَالَ حَدَّثَنِي رَبِيعَةُ بْنُ يَزِيدَ الدِّمَشْقِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو إِدْرِيسَ الْخَوْلاَنِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيُّ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا بِأَرْضِ أَهْلِ الْكِتَابِ، فَنَأْكُلُ فِي آنِيَتِهِمْ، وَبِأَرْضِ صَيْدٍ، أَصِيدُ بِقَوْسِي، وَأَصِيدُ بِكَلْبِي الْمُعَلَّمِ، وَبِكَلْبِي الَّذِي لَيْسَ بِمُعَلَّمٍ. فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «أَمَّا مَا ذَكَرْتَ أَنَّكَ بِأَرْضِ أَهْلِ كِتَابٍ فَلاَ تَأْكُلُوا فِي آنِيَتِهِمْ، إِلاَّ أَنْ لاَ تَجِدُوا

---

[۱] فتح الباري :۹/ ۷۷٤، عمدة القاري:۲۱/ ۱۰۹).
[۲] فتح الباري:۹/ ۷۷۵).
[۳] فتح الباري:۹/ ۷۷۵).
[۴] سنن ابوداؤد کتاب الاطعمة باب فی اکل الجراد رقم الحدیث : ۳۸۱۳، ۳/ ۳۵۷).
[۵] فتح الباري :۹/ ۷۷۵).

بُدًّا، فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا بُدًّا فَاغْسِلُوهَا وَكُلُوا، وَأَمَّا مَا ذَكَرْتَ أَنَّكُمْ بِأَرْضِ صَيْدٍ، فَمَا صِدْتَ بِقَوْسِكَ، فَاذْكُرِ اسْمَ اللَّهِ وَكُلْ، وَمَا صِدْتَ بِكَلْبِكَ الْمُعَلَّمِ، فَاذْكُرِ اسْمَ اللَّهِ وَكُلْ، وَمَا صِدْتَ بِكَلْبِكَ الَّذِي لَيْسَ بِمُعَلَّمٍ، فَأَدْرَكْتَ ذَكَاتَهُ، فَكُلْهُ». [ر: ۵۱۶۱]

[۵۱۷۸] حَدَّثَنَا الْمَكِّي بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ قَالَ لَمَّا أَمْسَوْا يَوْمَ فَتَحُوا خَيْبَرَ أَوْقَدُوا النِّيرَانَ، قَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - « عَلَى مَا أَوْقَدْتُمْ هَذِهِ النِّيرَانَ ». قَالُوا لُحُومِ الْحُمُرِ الإِنْسِيَّةِ. قَالَ « أَهْرِيقُوا مَا فِيهَا، وَاكْسِرُوا قُدُورَهَا ». فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَقَالَ نُهَرِيقُ مَا فِيهَا وَنَغْسِلُهَا. فَقَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - « أَوْذَاكَ ». [ر: ۲۳۴۵]

حديث نه د ترجمة الباب مقصد ترجمة الباب كښې «انية المجوس» وئيلى دى. او دباب په روايت كښې د اهل كتابو د اوانى ذكر دې.

ابن منير رحمه الله فرمائى چې چونكه نجاست نه د نه بچ كيدو سبب مجوس او اهل كتاب دواړو كښې مشترك دى، ددې وجې امام بخارى رحمه الله يو نه دبل حكم ثابت كړې دې. (۱)

علامه كرمانى فرمائى چې مجوسيانو لره اهل كتاب باندې قياس كړې دې او امام بخارى رحمه الله حكم ثابت كړې دې. (۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې په درحقيقت ځينې طرقو كښې د مجوسيانو هم ذكر دې. امام بخارى رحمه الله د ترجمة الباب سره طرق طرفته اشاره كړې ده امام بخارى رحمه الله ابن حجر رحمه الله عام‌طور دارنګ كوى چې ځينې طرق چې هغوئ په شرط باندې پوره نه وى. هغه ترجمة الباب كښې راولى او حديث د خپل شرط مطابق څه بل راولى نو هغوئ ليكى چې:

«وهذه طريقة يكثر منها البخارى فماكان فى سنده مقال يترجم به ثم يورد فى الباب ما يوخذ الحكم منه بطريق الالحاق ونحوه»

ترجمة الباب كښې امام بخارى رحمه الله د ميته هم ذكر كړې دې.

ابن منير رحمه الله فرمائى چې: «نبه بذكر الميتة على ان الحمير لما كانت محرمة لم تؤثر فيها الذكاة فكانت ميتة ولذالك امر بغسل الانية منها» (۳)

يعنى دباب په دويم روايت كښې د خرونو د غوښې د حرمت حكم بيان شوى دې، خرونه ذبح شوى وو او دهغې غوښه پخولې شوه چې د حرمت حكم راغلو حمر چونكه ميته او حرام ګرزولې شوې ده، ددې وجې ددوئ حلت دپاره ذبح مؤثر پاتې شوه، ځكه ذبح حلال ځناورو كښې مؤثره پاتې كيږى، حرامو كښې نه.

۱) فتح البارى: ۷۷۷/۹).
۲) شرح البخارى للكرمانى: ۹۲/۲۰).
۳) فتح البارى: ۷۷۷/۹).

١٥- باب التَّسْمِيَةِ عَلَى الذَّبِيحَةِ، وَمَنْ تَرَكَ مُتَعَمِّدًا.

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ مَنْ نَسِيَ فَلاَ بَأْسَ. وَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى (وَلاَ تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ) وَالنَّاسِي لاَ يُسَمَّى فَاسِقًا، وَقَوْلُهُ (وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ).

دتسميه متعلق تفصيل تير شوې دې. امام بخارى رحمه الله د عبدالله بن عباس رضى الله عنهما تعليق كړل دې او د هغه دمسلك ترجيح طرفته ئې اشاره كړې ده. چې په هغې كښې د تسميه د ناسيا نه ذبحه حرام نشى ګڼرلې. د عبدالله بن عباس رضى الله عنهما د تعليق حاصل دادې چې قرآن پاك فرمائيلى دى چې په كوم ذبيحه باندې دالله تعالى نوم واختسې نشى. هغه مه خورئ ځكه چې دا نوم نه اخستل يو فاسقانه طريقه ده او ناسى يعنى هيريدونكى فاسق نه وى.

قوله: وَقَوْلُهُ: وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ: امام بخارى رحمه الله په دې آيت مبارك سره درحقيقت هغه روايت طرفته اشاره كړې ده چې كوم امام ابوداؤد رحمه الله په سند صحيح سره د عبدالله بن عباس رضى الله عنهما نه نقل كړېدې كافرانو به وئيل چې كومه ذبيحه باندې دالله تعالى نوم اخستې شوې وى هغه خورئ ځكه چې دا انسانانو وژولې دى او چې په كوم باندې د الله جل جلاله نو وانخستې شى هغه خورئ ځكه چې هغه په قدرتى مرګ باندې مړ شوې دې. ددې مزيد وضاحت د ابو داؤد په يو روايت كښې داشان دې چې يهوديان د نبى كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې حاضر شو او وې وئيل چې كوم لره انسان قتل كړى نو هغه تاسو خورئ او چې كوم لره الله جل جلاله وژلې وى هغه نه خورئ. نو په دې باندې دا آيت مبارك نازل شو چې ﴿وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ﴾ او ﴿وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ﴾ ئې اوفرمائيل او د كفارو داشان بحثونه او مجادلې ئې شيطانى وسوسې اوګرزولې.

[٥١٧٩] حَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبَايَةَ بْنِ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ عَنْ جَدِّهِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - بِذِي الْحُلَيْفَةِ، فَأَصَابَ النَّاسَ جُوعٌ، فَأَصَبْنَا إِبِلاً وَغَنَمًا، وَكَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فِي أُخْرَيَاتِ النَّاسِ، فَعَجِلُوا فَنَصَبُوا الْقُدُورَ، فَدُفِعَ إِلَيْهِمُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَأَمَرَ بِالْقُدُورِ فَأُكْفِئَتْ، ثُمَّ قَسَمَ فَعَدَلَ عَشَرَةً مِنَ الْغَنَمِ بِبَعِيرٍ، فَنَدَّ مِنْهَا بَعِيرٌ، وَكَانَ فِي الْقَوْمِ خَيْلٌ يَسِيرَةٌ فَطَلَبُوهُ فَأَعْيَاهُمْ، فَأَهْوَى إِلَيْهِ رَجُلٌ بِسَهْمٍ فَحَبَسَهُ اللَّهُ فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «إِنَّ لِهَذِهِ الْبَهَائِمِ أَوَابِدَ كَأَوَابِدِ الْوَحْشِ، فَمَا نَدَّ عَلَيْكُمْ فَاصْنَعُوا بِهِ هَكَذَا». قَالَ وَقَالَ جَدِّي إِنَّا لَنَرْجُو - أَوْ نَخَافُ - أَنْ نَلْقَى الْعَدُوَّ غَدًا، وَلَيْسَ مَعَنَا مُدًى، أَفَنَذْبَحُ بِالْقَصَبِ فَقَالَ «مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ فَكُلْ، لَيْسَ السِّنَّ وَالظُّفُرَ، وَسَأُخْبِرُكُمْ عَنْهُ، أَمَّا السِّنُّ عَظْمٌ وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشَةِ». [ر: ٢٣٥٦]

رافع بن خديج رضى الله عنه فرمائى چې مونږ نبى كريم صلى الله عليه وسلم سره په ذى الحليفه كښې وو. خلق ډير

اوړې شوى وو. يو اوښ ا يو چيلئ ذبح كړه. نبى كريم ﷺ خلقونه روستو وو خلقو تيزى كوله او كټوئى ئې سورې كړې. كله چې نبى كريم ﷺ خلقو ته راغلو نو نبى كريم ﷺ د كټوؤ الټه كيدو حكم اوفرمائيلو. بيا ئې مال غنيمت تقسيم كړو. داشان چې لس چيلئ د يو اوښ برابر شوې. په دې كښې يو اوښ اوتښتيدو. په ډله كښې آسونه كم وو. هغوئ هغه رانيول مګر ناكام شو. په دې دوئ كښې يو سړى هغه طرفنه غشې اوويشتلو نو الله ﷻ هغه منع كړو. نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې په دې ځناورو كښې هم د وحشى ځناورو په شان تښتيدونكى وو. كله چې ځناور اوتښتى نو هغه سره دا شان كوئى.

راوى عبايه وائى چې ځما نيكه رافع بن خديج رضي الله عنه عرض اوكړو چې مونږ ته اميد دې يا ئې اووئيل چې ويره ده چې سبا به مونږ دښمن سره مقابله كوؤ او مونږ سره هيڅ چاړه نشته دې. نو آيا مونږ بانړس سره ذبح كولې شو؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې كوم څيزونه وينه توې كړى او په هغې باندې دالله ﷻ نوم اخستې شوې وى نو هغه خوړلئ شئ ليكن غاښونه او نوكونه نه دى پكار. ددې متعلق اووايم چې غاښونه خو هډوكى دى او نوكونه حبشيانو ئې چړې دى.

قوله: فَعَجِلُوا فَنَصَبُوا الْقُدُورَ: يعنى صحابه كرامو رضي الله عنهم تيزى اوكړه اوكټوئى ئې سورې كړې. د امام ابوداؤد رحمه الله روايت دې چې «فانطلق ناس من سرعان الناس فذبحوا ونصبوا قدورهم قبل ان يقسم» (١)

قوله: فَدُفِعَ إِلَيْهِمُ النَّبِيِ ﷺ: (دفع) فعل مجهور په معنى د وصل دې يعنى نبى كريم ﷺ چې په روستو صفونو كښې وو، هغوئ ته ورغلل.

قوله: فَأَمَرَ بِالْقُدُورِ فَأُكْفِئَتْ: نبى كريم ﷺ د كټوؤ متعلق حكم اوكړو نو هغه الټه كړې شوې.

ددې يو وجه دا وه چې دا خلق په دارالاسلام كښې داخل شوى وو. اودارالاسلام كښې داخليدو نه پس د تقسيم نه مخكښې مال غنيمت كښې څه خوراك صحيح نه دې او دلته مال غنيمت اوسه پورې تقسيم شوې نه وو.

او دويمه وجه دا ليكلې شوې ده چې په دې موقع باندې خلقو دخپلو ضرورتونو او حاجتونو په قدر وانخستل بلكه د نبى كريم ﷺ انتظار كولو نه بغير د ضرورت نه زيات واخستل او دا جائز نه وو ددې وجې نبى كريم ﷺ د كټوؤ د الټه كولو تنبيه اوكړه. (٢)

يو اشكال او دهغې جواب: دلته دا اشكال كيدې شى چې غوښه خو مال دې او نبى كريم ﷺ د مال ضائع كيدو نه منع اوفرمائيله. بيا نبى كريم ﷺ كټوئى الټه كړې او غوښه ئې ولې ضائع كړه.

---

(١) (فتح البارى :٩/ ٧٨٠. و سنن ابى داؤد كتاب الاضاحى باب الذبيحة بالمروة (رقم الحديث:٢٨٢١) ٣/ ١٠٢)

(٢) فتح البارى :٩/ ٧٨١. عمدة القارى:٢١/ ١١٣).

امام نووی رحمه الله صرف هډوکی الته کې او ددې خوروه او اوبه وغیره ئې واړولې، غوښه ئې نه ضائع کړی.
لیکن په دې جواب باندې د امام ابوداؤد رحمه الله روایت سره شبه کیږی ځکه چې په هغې کښې دی چې (جاء رسول الله ﷺ یمشی علی قومه فاکفا قدورنا بقوسه ثم جعل یرمل اللحم بالتراب) په دې روایت کښې تصریح ده چې نبی کریم ﷺ غوښه ښاورو کښې ویشتې وه.
دې شبهې لره په دې وینا سره لرې کولې شی چې غوښه په ښاوره کښې ویشتلو سره دې ضائع کیدل نه لازمیږی ځکه چې ددې وینځلو سره دا قابل استعمال کښې راتلې شی.
او دا جواب هم ورکولې شی چې عامو حالاتو کښې اګر چې څه څیز ضائع کول جائز نه دی لیکن د زجروتنبیه په وخت کښې ددې ګنجائش کیدشی.
یعنی خلقو سره آسونه ډیر کم وو. مطلب دادې که آسونو والا ډیر وې نو د تښتیدلی اوښ بندوبست به ئې کړې وې لیکن آسونه کم وو. ددې وجې هغه په قابو کښې نه راتلو.
قوله: فَطَلَبُوهُ فَأَعْيَاهُمْ: خلق هغه اوښ پسې شو خو هغه خلق ستړی کړل، د (اعیا) معنی ستړی کول دی. فَأَهْوَى إِلَيْهِ: یو سړی دې اوښ باندې غشې اوویشتلو ددې اراده ئې اوکړه، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې ددې سړی نوم ماته معلوم نشو..([1])
قوله: فَحَبَسَهُ اللَّهُ: الله تعالی ده لره اودرولو، یعنی دې پرې اولګیدو او اودریدو.
قوله: إِنَّ لِهَذِهِ الْبَهَائِمِ أَوَابِدَ: (اوابد) د (ابدة) جمع ده، چې ددې معنی وحشت او غریب کیدو ده. (ابدة) یعنی (عجیبة وغریبة).([2])
قوله: (انا لنرجوا او نخاف): راوی ته شك دې چې (نرجوا) ئې وئیلی وو او که (نخاف) ئې وئیلی وو.س
قوله: وَلَيْسَ مَعَنَا مُدًى: (مدی: مدیة) دمیم په فتحه او دال په سکون سره، جمع ده، چړې ته وائی. ددې مطلب دا وو چې سبا له به زمونږ دښمن سره مقابله وی، مال غنیمت کښې مونږ ته څناور ملاؤیدیشی چې د هغې د ذبح کولو به مونږ ته ضرورت وی داشان مونږ ته دخپلو څناورو د ذبح کولو هم ضرورت کیدشی.ددې وجې نه دچړې نه علاوه په نورو څیزونو باندې هم ذبح کول جائز کیدشی.([3])
قوله: لَيْسَ السِّنَّ وَالظُّفُرَ: (السن والظفر) دادواړه لفظونه خومنصوب دی، یادمنصوب کیدوپه صورت کښې (الیس) استثناء او د مستثنی کیدوپه وجه دا دواړه منصوب به وی.اویامرفوع به وی دمرفوع کیدوپه صورت کښې به داد(الیس) اسم وی،اوخبربه محذوف

[1]) فتح الباری :۷۸۲/۹).
[2]) فتح الباری :۷۸۳/۹).
[3]) فتح الباری ج۹ص۷۸۳)

وی «ای الیس السن والظفر مهاحا» لیکن د منصوب کیدو احتمال ددې وجې راجح دې چې د داؤد بن عیسی روایت د «لیس» په ځې «الاسناوظفرا» دې [۱]

قوله أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ: یعنی غابښونه خوهډوکی دی. اوهډوکی سره یوځیزذبح کول جائزنه دی. دعدم جوازیووجه داده چې هډوکی سره ذبح کولوکښې به هډوکی په وینه باندې نجس شی اوهډوکی لره دنجس کیدوپه وجه حضورنبی کریم ﷺ منع اوفرمائیله ځکه چې هډوکی دجناتوخوراک دې امام نووی رحمه الله داوجه بیان کړې ده [۲]

اودویمه وجه داده چې په دې صورت کښې تعذیب دحیوان دې هډوکی سره ځناورزرنشی ذبح کولې نوهغه به په عذاب کښې اخته شی ددې وجې نه ئې منع اوفرمائیله [۳]

قوله وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشَةِ: اونوکونه دحبشیانوچړې دی حبش چونکه کافر وو. او تشبیه بالکفارجائزنه ده، ددې وجې ئې منع اوفرمائیله اوپه دې کښې تعذیب حیوان هم دې [۴]

که نوکونه اوغابښونه دبدن نه جداوی اوچاپه دې سره ځناور ذبح کړونوذبح صحیح ده البته داشان ذبح کول مکروه دی بیاهم که نوکونه اوداغابښونه بدن نه جدانه شواوچا په خپلو نوکونو یا غابښونوسره ځناورذبح کړونو ذبح به صحیح نه وی [۵]

۱۲- بَاب مَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَالأَصْنَامِ

[۵۱۸۰] حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ - يَعْنِي ابْنَ الْمُخْتَارِ - أَخْبَرَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمٌ أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَنَّهُ لَقِيَ زَيْدَ بْنَ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ بِأَسْفَلِ بَلْدَحٍ، وَذَاكَ قَبْلَ أَنْ يُنْزَلَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - الْوَحْيُ، فَقَدَّمَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - سُفْرَةً فِيهَا لَحْمٌ، فَأَبَى أَنْ يَأْكُلَ مِنْهَا، ثُمَّ قَالَ إِنِّي لاَ آكُلُ مِمَّا تَذْبَحُونَ عَلَى أَنْصَابِكُمْ، وَلاَ آكُلُ إِلاَّ مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ. [ر: ۳۶۱۴]

داصنام اوبتانوپه نوم ذبح کول حرام دی روایت کښې دی چې دحضور نبی کریم ﷺ دنزول وحی نه مخښکې زیدبن عمروبن نفیل سره په مقام بلدح کښې ملاقات اوشودحضورنبی کریم ﷺ په خدمت کښې په دسترخوان باندې غوښه پیش کړې شوه حضورنبی کریم ﷺ دهغې دخوراک نه انکاراوکړواووې فرمائیل چې څه داذبیحه نه خورم چه کوم تاسو دخپلو

---

[۱] فتح الباری ج۹ص۷۸۱)

[۲] فتح الباری ج۹ص۷۸۱ وشرح مسلم للنوی کتاب الاضاحی باب جوازالذبائح بکل ماانهر الدم ج۲ص۱۵۷)

[۳] فتح الباری ج۹ص ۷۸٤)

[۴] فتح الباری ج۵ص۲۰۸)_

[۵] ردالمختار: ج۵ص۲۰۸).

بتانوپه نوم باندې ذبح کړی وی،

دلته په روايت کښې دی چه (فقدم رسول الله صلی الله عليه وسلم سفرة اللحم) يعنی حضورنبی کريم دغوښې دسترخوان دزيدبن عمروبن نفيل په وړاندې پيش کړواودکشميهنی روايت کښې دی چې (فقدم الی رسول الله سفرة) يعنی دحضورنبی کريم ﷺ په خدمت کښې دسترخوان پيش کړې شو ، په دې صورت کښې (قدم) دمجهول صيغه ده.

ابن منير رحمه الله ددواړو روايتونوپه مينځ کښې تطبيق ورکوی اووائی چه هلته موجود خلقو دسترخوان دحضورنبی کريم ﷺ په خدمت کښې پيش کړې وو اوحضورنبی کريم ﷺ بيا د زيد بن عمروبن نفيل طرفته وړاندې کړو.اوزيدبن عمروبن نفيل خلقولره مخاطب کړل او وې وئيل چې څه دغيرالله په نوم ذبحيه نه خوړم [1]

زيدبن عمروبن نفيل دمشهورصحابی حضرت سعيدبن زيد رضی الله عنه والددې.حضرت سعيدبن زيدعشره مبشره کښې دې،زيدبن عمروبن نفيل په زمانه جاهليت کښې دحضرت ابراهيم عليه السلام په دين باندې وو.

قوله: (نصب...): بت ته وائی په صادباندې سکون اوضمه دواړه صحيح دې.ددې جمع (انصاب) رازی.[2]

يوقول داهم دې چې نصب هغه کاڼی ته وئيلې شوچې کوم مشرکانوبيت الله سره نصب کړې وواودبتانودنوم ذبحيه به ئې په دې کاڼی کوله[3]

۱۷_ باب قَوْلِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم «فَلْيَذْبَحْ عَلَى اسْمِ اللَّهِ»

[۵۱۸۱] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ جُنْدَبِ بْنِ سُفْيَانَ الْبَجَلِيِّ قَالَ ضَحَّيْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم - أُضْحِيَّةً ذَاتَ يَوْمٍ فَإِذَا أُنَاسٌ قَدْ ذَبَحُوا ضَحَايَاهُمْ قَبْلَ الصَّلاَةِ فَلَمَّا انْصَرَفَ رَآهُمُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم - أَنَّهُمْ قَدْ ذَبَحُوا قَبْلَ الصَّلاَةِ فَقَالَ «مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلاَةِ فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا أُخْرَى، وَمَنْ كَانَ لَمْ يَذْبَحْ حَتَّى صَلَّيْنَا فَلْيَذْبَحْ عَلَى اسْمِ اللَّهِ».[ر: ۹۴۲]

دترجمة الباب فائده اومقصد : يوباب قبل د(تسمية علی الذبيحه)باب تيرشوې دې.دلته دوباره روارې چې ددې نه په ظاهره تکرارمعلومېږی،علامه عينی رحمه الله فرمائی چې حضرت امام بخاری رحمه الله ددې باب نه پس مذکوره ترجمة الباب قائموی اودې خبرې طرفته اشاره کوی چې بسم الله هيرولووالا،بسم الله پريښودلووالانه دې،نوهغه ليکی چې ((فائدة هذه الترجمة

[1]) فتح الباری.(ج۹ص۷۸۶)_، وعمدة القاری:ج۲۱ص ۱۱٤)و المتواری علی تراجم ابواب البخاری:۲۰۵)
[2]) مختارالصحاح: ۶۶۱)
[3]) عمدة القاری ج۲۱ص۱۱۳وفتح البار ج۹ص۷۸۶)

بعد تقدم الترجمة على التسمية التنبية على ان الناس يذبح على اسم الله، لانه لم يقل فيه فليسم وانما جعل اصل ذبح المسلم على اسم الله من صفة فعله ولوازمه كما ورد ذكر الله على قلب كل مسلم سمى اولم يسم))[1]
شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله دي توجيه لره وجيه گرزولې ده.[2]
دباب مناسبت حديث نه ظاهر دې (اضحاة (بفتح الهمزة) د (اضحية) معنى كښې ده.

۱۸- باب مَا أَنْهَرَ الدَّمَ مِنَ الْقَصَبِ وَالْمَرْوَةِ وَالْحَدِيدِ

[۵۱۸۴] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ سَمِعَ ابْنَ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ يُخْبِرُ ابْنَ عُمَرَ أَنَّ أَبَاهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ جَارِيَةً لَهُمْ كَانَتْ تَرْعَى غَنَمًا بِسَلْعٍ، فَأَبْصَرَتْ بِشَاةٍ مِنْ غَنَمِهَا مَوْتًا، فَكَسَرَتْ حَجَرًا فَذَبَحَتْهَا، فَقَالَ لِأَهْلِهِ لَا تَأْكُلُوا حَتَّى آتِيَ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فَأَسْأَلَهُ، أَوْ حَتَّى أُرْسِلَ إِلَيْهِ مَنْ يَسْأَلُهُ. فَأَتَى النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- أَوْ بَعَثَ إِلَيْهِ فَأَمَرَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- بِأَكْلِهَا.

[۵۱۸۳] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي سَلِمَةَ أَخْبَرَ عَبْدَ اللَّهِ أَنَّ جَارِيَةً لِكَعْبِ بْنِ مَالِكٍ تَرْعَى غَنَمًا لَهُ بِالْجُبَيْلِ الَّذِي بِالسُّوقِ وَهُوَ بِسَلْعٍ، فَأُصِيبَتْ شَاةٌ، فَكَسَرَتْ حَجَرًا فَذَبَحَتْهَا، فَذَكَرُوا لِلنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَأَمَرَهُمْ بِأَكْلِهَا. [ر: ۲۱۸۱]

[۵۱۸۴] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبَايَةَ بْنِ رَافِعٍ عَنْ جَدِّهِ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَيْسَ لَنَا مُدًى. فَقَالَ «مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ فَكُلْ، لَيْسَ الظُّفُرَ وَالسِّنَّ، أَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشَةِ، وَأَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ». وَنَدَّ بَعِيرٌ فَحَبَسَهُ فَقَالَ «إِنَّ لِهَذِهِ الإِبِلِ أَوَابِدَ كَأَوَابِدِ الْوَحْشِ فَمَا غَلَبَكُمْ مِنْهَا فَاصْنَعُوا هَكَذَا». [ر: ۲۳۵۶]

بانړس، كانړئى او اوسپنه چه كوم يوڅيز هم دځناورينه توې كړى دهغې په ذريعه ذبح كول درست دى، (قصب) بانړس ته وائى. اومروه سپين كانړى ته وائى.[3]

د حديث نه دترجمة الباب مقصد: روايت باب كښې دقصب اومروه ذكرنشته البته نورو روايتونوكښې ددې ذكردې، حضرت امام بخارى رحمه الله غالباهم دې روايتونو طرفته اشاره كولودپاره ترجمة الباب كښې ددې ذكركړې دې ځكه چې هغه روايتونه دحضرت امام بخارى رحمه الله په شرط باندې پوره نه دى نودطبرانى په روايت كښې دى چې (الذبح بالقصب والمروة)[4]

---

[1] عمدة القارى ج۲۱ص ۱۱٤)_
[2] الابواب والتراجم(ج۲ص۹۲)_
[3] فتح البارى ج۹ص۷۸۷).
[4] شرح مسلم للنوى كتاب الاضاحى باب جوازالذبح ماانهر الدم :ج۲ص۱۵۷)

هم داشان دترمذى اوابن ماجه يوروايت كښې ذبح بالمروه ذكر دې.محمد بن صفوان نه روايت دې چه «ذبحت ارنبين بمروة فامرني النبي صلى الله عليه وسلم باكلهما»(١)
تركومې پورې چې دحديد يعنى داوسپنې ذكردې نوهغه دباب آخرى روايت نه داشان ثابتيږى چې په دې كښې «وليست معنا مدى» الفاظ دى يعنى مونږسره چړې نشته دې چې ددې نه معلوميږى چې په هغه زمانه كښې چاړه سره ذبح كولو معمول وو لكه څنګه چې نن هم دې (٢)
دباب رومبى روايت كښې دى چې دحضرت كعب بن مالك رضي الله عنه يووينځې سلع غرسره چيلې څرولې،دې يوچيلې اوكتله چې مره كيده،نويوكانړئې ني واخستلواوهغه ئې ذبح كړه. حضورنبى كريم ﷺ نه چې كله تپوس اوشونوحضورنبى كريم ﷺ ددې دخوراك اجازت وركړو. حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې ددې جاريه نوم ماته معلوم نشو.(٣)

١٩ - باب ذَبِيحَةِ الْمَرْأَةِ وَالأَمَةِ

[٥١٨٥] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنٍ لِكَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ امْرَأَةً ذَبَحَتْ شَاةً بِحَجَرٍ، فَسُئِلَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - عَنْ ذَلِكَ، فَأَمَرَ بِأَكْلِهَا. وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنَا نَافِعٌ أَنَّهُ سَمِعَ رَجُلاً مِنَ الأَنْصَارِ يُخْبِرُ عَبْدَ اللَّهِ عَنِ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - أَنَّ جَارِيَةً لِكَعْبٍ بِهَذَا.

[٥١٨٦] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ عَنْ مُعَاذِ بْنِ سَعْدٍ - أَوْ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ - أَخْبَرَهُ أَنَّ جَارِيَةً لِكَعْبِ بْنِ مَالِكٍ كَانَتْ تَرْعَى غَنَمًا بِسَلْعٍ، فَأُصِيبَتْ شَاةٌ مِنْهَا، فَأَدْرَكَتْهَا فَذَبَحَتْهَا بِحَجَرٍ، فَسُئِلَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ «كُلُوهَا». [ر: ٢١٨١]

د ښځې ذبيحه جائز ده: حضرت امام بخارى رحمه الله داترجمة الباب قائم كړواوپه هغه خلقوئې ردكړې دې چې دښځې ذبحيه ناجائزه ګنړى (٤) محمدبن عبدالحكم دحضرت امام مالک رحمه الله نه دذبيحه المراة كراهت نقل كړيدې ليكن «مدونه» كښې مطلقا جوازمنقول دې.
جمهورعلماء كرام فرمائى كه ښځه ذبيحه كولې شى نوددې ذبيحه بلاكراهت جائزده.(٥)
نو روايت باب كښې دښځې دذبيحه ذكردې داروايت ددې نه مخكښې باب كښې تير

---

(١) سنن الترمذى كتاب الذبائح باب ماجاء فى الذبيحة بالمروة :ج ٤ص ٧٠(رقم الحديث :١٤٧٢) وسنن ابن ماجه كتاب الذبائح،باب مايذكى به :ج٢ص ١٠٦٠)(رقم الحديث: ٣١٧٥).
(٢) فتح البارى :ج٩ص٧٨٧)
(٣) فتح لبارى ج٩ص٧٨٧)
(٤) عمدة القارى ج٢١ص١١۶)
(٥) عمدة القارى ج٢١ص١١۶) والمدونة الكبرى كتاب الذبائح: ج٢ص۶٧).

شويدې دليث تعليق لره اسماعيلي موصولا نقل كړې دې.[1] (عن معاذبن سعدا و سعدبن معاذ) رواى ته شک دې چې معاذبن سعدنه داروايت دې ياسعدبن معاذنه، علامه كرمانی رحمه الله اوفرمائيل چې معاذاوسعددواړه صحابيان دی او الصحابة كلهم عدول، لهذاحضرت معاذ،ددې نه دروايت په صحت باندې هيڅ اثرنه پريوزي.[2]

۲۰- بَاب لَا يُذَكَّى بِالسِّنِّ وَالْعَظْمِ وَالظُّفُرِ

[۵۱۸۷] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبَايَةَ بْنِ رِفَاعَةَ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «كُلْ يَعْنِي مَا أَنْهَرَ الدَّمَ إِلَّا السِّنَّ وَالظُّفُرَ». [ر: ۲۳۵۶]

حضرت امام بخاری رحمه الله چې ددې باب لاندې چې كومه مسئله بيان كړې ده دهغې تفصيل تيرشوې دې.

۲۱= بَاب ذَبِيحَةِ الْأَعْرَابِ وَنَحْوِهِمْ

[۵۱۸۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا أُسَامَةُ بْنُ حَفْصٍ الْمَدَنِيُّ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضي الله عنها - أَنَّ قَوْمًا قَالُوا لِلنَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - إِنَّ قَوْمًا يَأْتُونَا بِاللَّحْمِ لَا نَدْرِي أَذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ أَمْ لَا فَقَالَ « سَمُّوا عَلَيْهِ أَنْتُمْ وَكُلُوهُ ». قَالَتْ وَكَانُوا حَدِيثِي عَهْدٍ بِالْكُفْرِ.

تَابَعَهُ عَلِيٌّ عَنِ الدَّرَاوَرْدِيِّ. وَتَابَعَهُ أَبُو خَالِدٍ وَالطُّفَاوِيُّ. [ر: ۱۹۵۲]

دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادې كه كلي وال يااعرابی ذبح كول غواړی نوددې ذبحيه درست ده لكه څنگه چې روايت باب كښې تصريح ده

اكثرونسخو كښې (ذبحيه الاعراب) نه پس (ونحوهم) الفاظ دی البته دكشميهنی روايت كښې د(ونحوهم) الفاظ دی.[3]

قوله: (وكانوا حديثي عهد بالكفر): يعنی هغه تپوس كولووالا نوې نوې دكفرنه اسلام طرفته رواستلې شوې وو.

دحديث باب نه بعضې خلقوتسميه على الذبيحه په عدم وجوب باندې استدلال كړې دې اووئيلې ئې دی چې تسميه على الذبيحه كه واجب وې نو حضورنبی كريم صلى الله عليه وسلم به دې خلقو لره به داعراب ذبيحه خوړولو اجازت نه وركولوددې يوجواب خودادې چې دااسلام دشروع واقعه ده. نوحضرت امام مالک رحمه الله ددې په آخركښې دااضافه كړې ده چې:

---

[1] عمدة القاری ج۲۱ص۱۱۷)

[2] شرح بخاری للكرمانی ج۲۰ ص۹۹)

[3] عمدة القاری :ج ۲۱ص۱۱۸، فتح الباری:ج ۹ص ۷۹۱).

(وذالك فى اول الاسلام)([1])

دویم جواب دادې چې غوښه راوړنکي هغه اعراب دتسمیه دحکم نه جاهل نه وو. ددې وجې حضورنبی کریم ﷺ سوال کوونکی لره یوشان تنبیه اوفرمائیله چه تاسوبسم الله وائې، اود راوړنکو متعلق هم داګمان کول پکاردی چې هغوی بسم الله لولی ([2])

قوله: (تابعه علی عن الداوردی): یعنی علی بن المدینی دحضرت امام بخاری رحمه الله دشیخ الشیخ اسامه بن حفص متابعت کړې دې اسامه داروایت دهشام بن عروه نه نقل کړې دې اوعلی بن المدینی دعبدالعزیزبن محمددراوردی نه نقل کړې دې، اسماعیلی دتعلیق موصولا نقل کړې دې ([3])

قوله: (وتابعه ابوخالد والطفاوی): داسامه متابعت سلیمان بن حبان ابوخالدهم کړې دې دامتابعت حضرت امام بخاری رحمه الله په کتاب التوحید کښې موصولا نقل کړې دې ([4])

اومحمدبن عبدالرحمان طفاوی هم داسامه متابعت کړې دې، طفاوی (بضم الطاء)، طفاوه بنت حزم بن زیادطرفته منسوب دی دطفاوی متابعت حضرت امام بخاری رحمه الله په کتاب البیوع کښې موصولا کړې دې ([5])

۲۲_ بَاب ذَبَائِحِ أَهْلِ الْكِتَابِ وَشُحُومِهَا مِنْ أَهْلِ الْحَرْبِ وَغَيْرِهِمْ

وَقَوْلِهِ تَعَالَى (الْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَهُمْ). وَقَالَ الزُّهْرِيُّ لاَ بَأْسَ بِذَبِيحَةِ نَصَارَى الْعَرَبِ، وَإِنْ سَمِعْتَهُ يُسَمِّي لِغَيْرِ اللَّهِ فَلاَ تَأْكُلْ، وَإِنْ لَمْ تَسْمَعْهُ فَقَدْ أَحَلَّهُ اللَّهُ، وَعَلِمَ كُفْرَهُمْ. وَيُذْكَرُ عَنْ عَلِيٍّ نَحْوُهُ. وَقَالَ الْحَسَنُ وَإِبْرَاهِيمُ لاَ بَأْسَ بِذَبِيحَةِ الأَقْلَفِ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ طَعَامُهُمْ ذَبَائِحُهُمْ

[۵۱۷۹] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلاَلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ -رضی الله عنه- قَالَ كُنَّا مُحَاصِرِينَ قَصْرَ خَيْبَرَ، فَرَمَى إِنْسَانٌ بِجِرَابٍ فِيهِ شَحْمٌ، فَنَزَوْتُ لآخُذَهُ، فَالْتَفَتُّ فَإِذَا النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَاسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ. [ر: ۲۹۸۴]

د ترجمة الباب مقصد: دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چې داهل کتابو ذبائح اوددې ذبائحوشحوم (چربی) دواړه استعمالول جائزدی هم دادجمهورومسلک دی.

حضرت امام مالک رحمه الله اوحضرت امام محمد نه روایت داهم دې چې کوم څیزونه داهل کتاب دپاره حرام ګرزولې شوی وو، دهغې استعمال جائزنه دې لکه شحوم دی، دا چونکه

---

[1] عمدة القاری :ج۲۱ص فتح الباری ج۹ص ۷۹۱)
[2] عمدة القاری :ج۲۱ص۱۱۸،فتح الباری ج ۹ص۷۹۳)
[3] عمدة القاری ج۲۱ص۱۱۸ فتح الباری ج ۹ص ۷۹۱)
[4] عمدة القاری ج۲۱ص۱۱۸، فتح الباری ج۹ص۷۹۱)
[5] عمدة القاری ج۲۱ص۱۱۸ فتح الباری ج۹ص۷۹۱)

اهل كتاب دپاره حرام وو. لهذا هيڅ يو مسلمان دپاره داهل كتاب ذبح شوي ځناورو شحوم جائزنه دي [۱]

حضرت امام بخاري رحمه الله دخپل معمول مطابق ترجمة الباب كښې دقرآن پاك آيت په طورداستدلال پيش كړې دې ايت كريمه «وطعام الذين اوتوالكتاب» كښې دطعام نه داهل كتاب ذبائح مراددي [۲]

داهل كتاب ذبائح بالاتفاق حلال دي ليكن دغيرالله دنوم ذبيحه ددوي په نيزهم حرام ده ليكن دنورومشركانو اوكافرانو ذبائح حلال نه دي ځكه چې هغوي تسميه نه وائي اودغيرالله په نوم ذبيحه وائي [۳]

داهل كتابو دذبيحه شرطونه: فقهاء داهل كتاب ذبيحه حلال كيدودپاره درې شرطونه ليكي:

① اول داچې ذبيحه اسلامي طريقې سره شوې وي.

② دويم داچې د ذبح په وخت دالله تعالى نوم واقعتا اغستلې وي.

③ دريم دا چې ذبح كونكې واقعتا اهل كتاب وي.

په دې كښې چې هريو شرط فوت شونو ذبيحه به جائزه نه وي. مثلاً كه چرته معلومه شي چې دذبح وخت دالله تعالى دنوم په ځائې صرف دحضرت عيسى عليه السلام نوم واخستې شي ياذبح كولو والا اهل كتابو كښې نه وي بلكه ملحد وي نو داسې ذبيحه خوراک جائزنه ده [۴]

اهل كتابونه هغه خلق مراد دي كوم چې دالله تعالى دوجودقائل دي اوپه تورات او انجيل كښې په يوباندې ايمان لري اگرچه عقائدئې مشركانه وي. نن صباديورپ اهل كتاب عام طورباندې دهريه اوملحددي په هغوي كښې ډيردالله تعالى دوجودقائل هم نه دي ددې وجې دداسې خلقوذبيحه درست نه ده كه دچامتعلق معلوم وي چې هغه واقعتاداهل كتابوته وي نودهغه ذبيحه درست ده.

قوله: وَقَالَ الزُّهْرِي لَا بَأْسَ بِذَبِيحَةِ نَصَارِي الْعَرَبِ: امام زهري رحمه الله فرمائي چې دعربو نصرانيانو ذبيحه استعمالولو كښې هيڅ حرج نشته دې ليكن كه معلوم شي چې هغوي ذبيحه دغيرالله په نوم باندې كوي نوبياهغه خوړل نه دې پكار.

داتعليق عبدالرزاق موصولاً نقل كړې دې [۵]

قوله: وَيُذْكَرُ عَنْ عَلِي نَحْوُهُ: يعنى دامام زهري رحمه الله دقول پشان يو قول دحضرت على رضي الله عنه نه هم نقل شوې دې. «يذكر» دمجهول صيغه راوړې اوحضرت امام بخاري رحمه الله ددې ضعف طرفته ته اشاره كړې ده

---

[۱] عمدة القاري ج۲۱ص ۱۱۹، فتح الباري: ج۹ص ۷۹٤).

[۲] عمدة القاري ج۲۱ص۱۱۹،فتح الباري ج۹ص ۷۹٤).

[۳] عمدة القاري ج۲۱ص۱۱۹)

[۴] فتاوى هنديه :ج۵ص۲۸۵. وردالمختار :ج۶ص۲۹۷).

[۵] عمدة القاري:ج۲۱ص۱۱۹، فتح الباري ج۹ص ۷۹٤)

حضرت على رضي الله عنه نه بعضو نصرانيانو دعربو ذبائحو ممانعت هم منقول كړې دې، نو عبد الرزاق په صحيح سند سره دحضرت على رضي الله عنه دا اثر نقل كړې دې چې «لا تاكلوا ذبائح نصارى بنى تغلب فانهم لم يتمسكوا من دينهم الا بشرب الخمر»[1]

قوله: وَقَالَ الْحَسَنُ وَإِبْرَاهِيمُ لاَ بَأْسَ بِذَبِيحَةِ الأَقْلَفِ: «اقلف» غير مختون ته وائى يعنى داسې سړې چې دهغه سنت «ختنه» نه وى شوې دهغه ذبيحه جائزده چونكه حضرت ابن عباس رضي الله عنه او امام محمد رحمه الله نه عدم جواز منقول دې[2]

ددې وجې حضرت امام بخارى رحمه الله دا اثر نقل كړې دې دحضرت حسن بصرى رحمه الله اثر لره حضرت عبد الرزاق او دابرهيم نخعى رحمه الله تعليق لره ابوبكر خلال موصولا نقل كړې دې[3]

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ طَعَامُهُمْ ذَبَائِحُهُمْ: دقران پاک آيت «وطعام الذين اوتوا الكتاب» كښې دطعام نه ذبائح مراد دى دحضرت ابن عباس رضي الله عنه تعليق لره طبرى رحمه الله موصولا نقل كړې دې[4]

روايت باب كښې دى چې «ندّ» ندّ معنى كنل ياكنستل ده، يعنى څه دچرېئ داتهيلى اخستلو دپاره مې اوكنلو، دا روايت كتاب المغازى كښې غزوه خيبر لاندې تير شوې دې.

۲۳- باب مَا نَدَّ مِنَ الْبَهَائِمِ فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الْوَحْشِ

وَأَجَازَهُ ابْنُ مَسْعُودٍ، وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ مَا أَعْجَزَكَ مِنَ الْبَهَائِمِ مِمَّا فِي يَدَيْكَ فَهُوَ كَالصَّيْدِ، وَفِي بَعِيرٍ تَرَدَّى فِي بِئْرٍ مِنْ حَيْثُ قَدَرْتَ عَلَيْهِ فَذَكِّهِ، وَرَأَى ذَلِكَ عَلِيٌّ وَابْنُ عُمَرَ وَعَائِشَةُ.

[۵۱۹۰] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ عَبَايَةَ بْنِ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا لاَقُو الْعَدُوِّ غَدًا، وَلَيْسَتْ مَعَنَا مُدًى فَقَالَ «اعْجَلْ أَوْ أَرِنْ مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ فَكُلْ، لَيْسَ السِّنَّ وَالظُّفُرَ، وَسَأُحَدِّثُكَ، أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ، وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشَةِ». وَأَصَبْنَا نَهْبَ إِبِلٍ وَغَنَمٍ فَنَدَّ مِنْهَا بَعِيرٌ، فَرَمَاهُ رَجُلٌ بِسَهْمٍ فَحَبَسَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِنَّ لِهَذِهِ الإِبِلِ أَوَابِدَ كَأَوَابِدِ الْوَحْشِ، فَإِذَا غَلَبَكُمْ مِنْهَا شَىْءٌ، فَافْعَلُوا بِهِ هَكَذَا». [ر: ۲۳۵۶]

كه يو څناور او تښتى نو هغه دوحشى څناور په حكم كښې دې، او دتورې يا غشې په ذريعه دې دلرې نه ويشلې شى او خوړلې شى،

حضرت عبد الله بن عباس فرمائى كه ستا څناور او تښتى او دهغه قابو كښې راوستل مشكل

---

[1]) عمدة القارى:ج ۲۱ص ۱۱۹، فتح البارى ج ۹ص ۷۹٤)
[2]) المغنى لابن قدامه كتاب الصيد والذبائح ج ۹ص ۳۱۱)
[3]) عمدة القارى:ج ۲۱ص ۱۱۹، فتح البارى ج ۹ص ۷۹٤)
[4]) عمدة القارى:ج ۲۱ص ۱۱۸)

وی نوهغه دښکارپه حکم کښې دي لهذادلرې نه هغه ویشتل جائزدی. داشان که یوځناور کوهی ته پریوزی نودهغې دذبح کولودپاره دبدن په کومه حصه باندې چې موقع ملاؤشوه، په دې غوزارسره به داذبح ګنړلې شی لکه چادې په پتون باندې ویشتلواوهغه دې نه مړشونوددې خوراک جائزدې،
دحضرت علی رضی الله عنه حضرت رضی الله عنه اودحضرت عائشه رضی الله عنها هم دارائې وه.
دحضرت امام ابوحینفه رحمه الله حضرت امام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل اودجمهورعلماء کرامو هم دامسلک دې
حضرت امام مالک رحمه الله فرمائی چې (لايجوز ان ينكى اصلا الا فى الحلق واللبة)(١)
حضرت ابن مسعود رضی الله عنه تعلیق لره ابن ابی شیبه دحضرت ابن عباس رضی الله عنه تعلیق لره عبدالرزاق اودحضرت علی رضی الله عنه تعلیق لره ابوبکر رحمه الله .دحضرت ابن عمر رضی الله عنه تعلیق لره عبدالرزاق اودحضرت عائشه رضی الله عنها تعلیق لره ابن حزم موصولانقل کړې دې.(٢)
حدیث باب ځوبابونه مخکښې تیرشوې دې.

٢٤- باب النَّحْرِ وَالذَّبْحِ

وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ عَطَاءٍ لاَ ذَبْحَ وَلاَ مَنْحَرَ إِلاَّ فِي الْمَذْبَحِ وَالْمَنْحَرِ. قُلْتُ أَيَجْزِي مَا يُذْبَحُ أَنْ أَنْحَرَهُ قَالَ نَعَمْ، ذَكَرَ اللَّهُ ذَبْحَ الْبَقَرَةِ، فَإِنْ ذَبَحْتَ شَيْئًا يُنْحَرُ جَازَ، وَالنَّحْرُ أَحَبُّ إِلَيَّ، وَالذَّبْحُ قَطْعُ الأَوْدَاجِ. قُلْتُ فَيُخَلِّفُ الأَوْدَاجَ حَتَّى يَقْطَعَ النِّخَاعَ قَالَ لاَ إِخَالُ.
وَأَخْبَرَنِي نَافِعٌ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ نَهَى عَنِ النَّخْعِ يَقُولُ يَقْطَعُ مَا دُونَ الْعَظْمِ، ثُمَّ يَدَعُ حَتَّى تَمُوتَ.
وَقَوْلُ اللَّهِ تَعَالَى (وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً) وَقَالَ (فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ).
وَقَالَ سَعِيدٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ الذَّكَاةُ فِي الْحَلْقِ وَاللَّبَّةِ. وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ وَابْنُ عَبَّاسٍ وَأَنَسٌ إِذَا قَطَعَ الرَّأْسَ فَلاَ بَأْسَ.
[٥١٩١] حَدَّثَنَا خَلاَّدُ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ قَالَ أَخْبَرَتْنِي فَاطِمَةُ بِنْتُ الْمُنْذِرِ امْرَأَتِي عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ - رضى الله عنهما - قَالَتْ نَحَرْنَا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَرَسًا فَأَكَلْنَاهُ.
[٥١٩٢] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ سَمِعَ عَبْدَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ فَاطِمَةَ عَنْ أَسْمَاءَ قَالَتْ ذَبَحْنَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَرَسًا وَنَحْنُ بِالْمَدِينَةِ فَأَكَلْنَاهُ.
[٥١٩٣] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ هِشَامٍ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ الْمُنْذِرِ أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِي

---

(١) عمدة القاری ج٢١ص ١٢٠)
(٢) عمدة القاری ج٢١ص ١٢٠) فتح الباری ج٩ص٧٩٦)

بَكْرٍ قَالَتْ نَحَرْنَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَرَسًا فَأَكَلْنَاهُ. تَابَعَهُ وَكِيعٌ وَابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ هِشَامٍ فِي النَّحْرِ.[۵۲۰۰]

د نحر لغوی معنی: علامه ابن قدامه رحمه الله دنحرمعنی بیانوی اوفرمائی چې (ومعنى النحران يضربها بحربة اونحوها في الوهدة التي بين اصل عنقها وصدرها)[۱] یعنی دځناورد حلق او د سینې په مینځ کښې چې کومه کنده غوندې وی، په هغې کښې نیزې وغیره وهلوته نحروائی

د ذبح کولو والا ځناور لره دنحر حکم: په اوښ کښې نحراونوروځناوروکښې ذبح افضل دی[۲] البته په دې کښې اختلاف دې چې نحروالا ځناورئې ذبح کړویاذبح کولو ځناورئې نحر کړو نو دا جائز دی که نه ؟

حضرات مالکیه کښې ابن القاسم رحمه الله داناجائزګڼړلې دې لهذاددوی په نیزکه چااوښ ذبح کړونو دا جائزنه دی.

دامام احمد رحمه الله په نیزداشان کول مطلقابلا کراهت جائزدی

دحضرت امام ابو حنیفه رحمه الله، حضرت امام مالک رحمه الله حضرت امام شافعی رحمه الله او د جمهورو په نیزذبح والا ځناورنحرکول اونحروالاځناورذبح کول جائزدی خومکروه دی[۳]

قوله: (وقال ابن جريج عن عطاء لاذبح ولا نحرالا في المذبح والمنحر): (ابن جريج عبدالملك بن عبدالعزيز) حضرت عطاء بن ابی رباح نه نقل کوی چې ذبح (حلق باندې چړې راښکوته وائی اونحرسینه باندې برچه وهلوته وائی حلق اوهم په سینه باندې وی

(مذبح) او (منحر) دواړه دظرف صیغې دی مقصد دادې چې دځناوریوبلې حصې لره ذبح کړه یائې په نیزه اووهله نوهغه ذبح درست نه ده. چې دذبح اختیاری متلق هم داحکم دې. خوکه یو وحشی ځناوروی یاپالونکې ځناوراوتښتی نوپه دې کښې ذبح اضطراری هم جائزده چې دځناور کومه یوه حصه هم اوویشتلی شی نوونه ترې توې شی نوذبح به صحیح وی.

قوله:)قلت ايجزي ما يذبح ان انحره؟ قال نعم): ابن جريج رحمه الله وائی چې ما عطاء بن ابی رباح نه تپوس اوکړوچې کوم ځناورذبح کولې شی که څه دهغې نحراوکړم نودابه کافی وی که نه ؟ نوهغوی اوفرمائیل چې آوکافی دی. الله تعالی په قران پاک کښې دغوا د ذبح کولوحکم کړېې دې داشان که تاسونحروالا ځناورذبح کړئې نوداهم جائزدی لیکن د ذبح کولومقابله کښې نحرځماپه نیززیات خوښ دی دبقره یعنی دغوامتعلق خوقران پاک کښې دذبح لفظ استعمال شوې دې، ارشاددې چې (ان الله يامركم ان تذبحوابقرة) لیکن حدیث کښې دنحرلفظ راغلې دې[۴]

---

[۱] المغنی لابن قدامة كتاب الذبائح :ج۹ص۳۱۷)
[۲] فتح الباری: ج۹۹، ۴. عمدة القاری ج ۲۱ص۱۲۱)
[۳] مذكوره تفصيل دپاره اوګورئی عمدة القاری (ج۲۱ص۱۲۱)
[۴] عمدة القاری (ج۲۱ص۱۲۱)

عطاء بن ابى رباح (ذكرالله ذبح البقرة) نه استدلال طرفته اشاره كړې ده چې حديث كښې خو دبقره دپاره (نحر) راغلې دې اوپه قران پاک كښې دذبح لفظ راغلې دې،معلومه شوچې نحروالا ذبح اوذبح والا نحركولې شى.

(قوله: والذبح قطع الاوداج): (اوداج: ودج بفتح الواووالدال) جمع ده په مرئ كښې دوينې رګې يانالئې ته وائى دهرخناورمرئې كښې دوينې رګونه وى هغې ته (ودجان) وائى [۱]
دوينې دارګونه يادوه نالئې اګرچې دوه دى ليكن داكلمه تغليباځلورو نالودپاره فقهاء استعمالوى، دوه خودادوينې رګونه دى اودوه نالئې نورې دى.

① حلقوم: دساه نالئ ② المرئ: دخوراک نالئ [۲]

دذبح دپاره ځو رګو نه پريكول ضرورى دى: دذبح كولومكمل صورت خودادې چې مذكوره ځلور نالئ پريكړى بياهم كه چاپه دې ځلورو كښې بعضې پريكړې اوبعضې ئې پرېښودې نوذبح جائزده كه نه؟ په دې كښې اختلاف دې. حضرت امام مالک رحمه الله په نيزودجين او حلقوم پريكول واجب دى.اومرئ يعنى دخوراک نالئ پريكول واجب نه ده [۳]
دحضرت امام شافعى رحمه الله په نيزحلقوم اومرئ پريكول واجب دى (ودجين) دوينې نالئ پريكول ضرورى نه دى. [۴]
حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله يوروايت هم ددې مطابق دې [۵]
دحضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله بل روايت كښې ځلور واړه پريكول واجب دى [۶]
حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله (للاكثرحكم الكل) داصولومطابق فرمائى چې په دې ځلوروكښې چې كوم درې هم پريكړې شى نودذبيحه دجوازدپاره به كافى وى.
دامام ابويوسف رحمه الله په نيزهم ددريوپريكول كافى دى ليكن هغه فرمائى چې په دې دريو واړوكښې به حلقوم اومرئ شامل وى.دحلقوم اومرئ پريكول ددوى په نيزد جواز د ذبيحه دپاره ضرورى دى [۷]
اكثروحنفيانو دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله قول اختياوكړې دې اوهم په دې ئ فتوى وركړې ده [۸]

قوله: قلت: فيخلف لاوداج حتى يقطع النخاع قال لااخال: ابن جريج رحمه الله فرمائى

---

[۱]) قال ابن سيده الودجان عرقان من الراس الى السنخروالجمع اوداج)لسان العرب:ج۲ص۳۹۷)
[۲]) بدائع الصنائع ج۵ص٤۱)
[۳]) الذخيره للقرافى :ج ٤ص ۱۳۳. فتح البارى ج۹ص۷۹۹)
[۴]) كتاب الام ج۲ص۲۵۹و فتح البارى ج۹ص۷۹۹)
[۵]) عمدة القارى (ج۲۱ص۱۲۱)
[۶]) احكام الذبائح :فتح البارى :۸)
[۷]) بدائع الصنائع ج۵ص٤۲.٤۱)
[۸]) فتح البارى ج۹ص۷۹۹)

چې ما دعطاء بن ابی رباح نه تپوس اوکړوچې که رګونه روستوپريښودې شي تردې پورې چې حرام مغزپريکړې شي نوداصورت به جائزوی؟ هغوی اوفرمائيل چې داصحيح نه ګڼړم.ابن جريج رحمه الله فرمائی چې نافع رحمه الله ماته بيان کړې دې چې حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دحرام مغزپريکولونه منع فرمائيلې ده.

يخلف دمجهول صيغه ده اوداج ددې نائب فاعل دې يعنی رګونه پريکول اوروستوپريښودل اومخکښې حرام مغزهم پريکړې شي.

نخاع دنون په فتح اوضمه سره،حرام مغزته وائی دادښتې په هډوکی کښې يوسپين رګ وی[1]

واخبرنى نافع) داد ابن جريج قول دې.

صاحب هدايه فرمائی که چاذبح کولوپه وخت کښې حرام مغزهم پريکړل نوداشان کول مکروه دی،بياهم ذبيحه خوړل به حرامه نه وی،[2]

دابن جريج مذکوره تعليق عبدالرزاق موصولا نقل کړې دې[3]

وقال سعيدبن جبيرعن عباس الذكاة فى الحلق واللبة): حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چې ذبح صرف په حلق اوسينه کښې وی. (لبة) دلام په فتحه اودباء په تشديد سره، (موضع القلادة من الصدر) دسينې هغه ځائې ته وائی چرته چه هار(اميل) وی.دې ته منحر وائی[4]ددې تعليق مطلب دادې چې ذبحې والا ځناوردې حلق سره پريکړې اونحروالا ځناور (اوښ وغيره) منحرلره يعنی په سينه کښې برچه اوويشتې شی اوذبح دې کړې.ذبح اختياری کښې حلق اولبه نه علاوه نورې حصې که پريکړی نو ځناوربه حلال نه شی.دحلق په اعلی،اوسط اواسفل په هره حصه باندې چاړه اينبودلې شی اوذبح کولې شی. علامه عينی رحمه الله فرمائی چې (الذكاة فى الحلق واللبة) کښې (فى) د(بين) په معنی کښې ده يعنی دحلق اوسينې په مينځ کښې ځناورپه ذبح کولې شی.[5]

سعيدبن منصوراوامام بيقهی داتعليق موصولا نقل کړې دې.[6]

حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې حضرت امام بخاری رحمه الله داتعليق ذکرکړې دې اوشائد چې ددې حديث دضعف طرفته ئې اشاره کړې ده چې په دې کښې يوصحابی دحضورنبی کريم ﷺ نه تپوس کوی چې (يارسول الله صلى الله عليه وسلم اماتكون الذكاة الامن

[1] عمدة القاری :ج۲۱ص۱۲۲. هو الذى يكون فى فقار الصلب شبيه بالمخ باالقفايقال له ايضاخيط الرقبة :فتح الباری :ج۹ص۷۹۹)

[2] الهدايه مع فتح القدير كتاب الذبائح :ج۸ص٤۱۵)

[3] فتح الباری ج۹ص۷۹۹)

[4] فتح الباری ج۹ص۸۰۰)

[5] عمدة القاری ج۲۱ص۱۲۳)

[6] فتح الباری ج۹ص۸۰۰)

اللبة والحلق قال: فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم لوطعنت فی فخذها لاجزاعنك(۱)یعني په پتون کښې نیزې وهلوسره به ذبح درست وی. لیکن چې کوموخلقوداحدیث قوی گنړلې دې، هغوی داحدیث په ذبح اضطرای باندې محمول کړې دې.(۲)

قوله: وَقَالَ ابْنُ عُمَرَوَابْنُ عَبَّاسٍ وَأَنَسٌ إِذَاقَطَعَ الرَّأْسَ فَلاَبَأْسَ: یعنی ذبح کولوکښې که سرپریکړې شی نوهیڅ حرج نشته دې،دحضرت ابن عمر رضی الله عنه اثرلره ابوموسی رحمه الله،دحضرت ابن عباس رضی الله عنه اثرلره ابی شیبه اودحضرت انس رضی الله عنه اثرلره هم ابن ابی شیبه موصولانقل کړې دې (۳)

ذبح کولوکښې سرپریکول مکروه دی. بیاهم ذبیحه به جائزوی (۴)

قوله: نَحَرْنَا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم - فَرَسًا فَأَكَلْنَاهُ: حضرت امام بخاری رحمه الله داحدیث په ړومبی حُل دالته ذکرکړې دې (۵)

حضرت اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنهما فرمائی چې مونږ دعهدنبوی صلی الله علیه وسلم کښې آس ذبح کړو او اومو خوړلو ړومبې روایت کښې د(نحر) لفظ دې اودویم روایت کښې دذبحنالفظ دې آس نحر کولې هم شی اوذبح هم لیکن ذبح افضل ده نحراوذبح دیوبل په معنی کښې استعمالیږی هشام نه روایت کولووالاچرته دنحراوچرته د(ذبحنا) لفظ استعمال کړې دېی(۶)

امام نووی رحمه الله فرمائی چې دادواړه بیل بیل واقعات دی یو کښې آس ذبح شوې وو اوبل کښې نحر شوې وو.(۷)

قوله: اتَابَعَهُ وَكِيعٌ وَابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ هِشَامٍ فِي النَّحْرِ: یعنی وکیع اوسفیان ابن عینه دهشام دشاگردجریرمتابعت (نحر) کښې کړې دې.هغوی هم خپل روایت کښې دنحرلفظ استعمال کړې دې،دامتابعت امام احمدموصولا نقل کړې دې.(۸)

---

(۱) سنن ابی داود کتاب الاضاحی باب ماجاء فی ذبیحه المتردیة (رقم الحدیث: ۲۸۵۲) ج۳ص۱۰۳)
(۲) فتح الباری :ج۹ص۸۰۰)
(۳) فتح الباری :ج۹ص۸۰۰)، عمدة القاری :ج۲۱ص ۱۲۳)
(۴) اوگورئی هدایه مع فتح القدیر کتاب الذبائح :ج۸ص۴۱۵، عمدة القاری ج۲۱ص۱۲۲)
(۵) (۵۱۹۳) الحدیث اخرجه مسلم فی الذبائح باب فی اکل لحوم الخیل (رقم الحدیث ۱۹۴۲)ج۳ص ۱۵۴. واخرجه ابن ماجه فی الذبائح باب لحوم الخیل (رقم الحدیث :۳۱۹۰) : ج۲ص ۱۰۶۴، واخرجه النسائی فی الاطعمة باب نسخ تحریم لحوم الخیل (رقم الحدیث ۴۴۶۶): ج۴ص۱۵۲) فتح الباری ج۹ص۸۰۱و عمدة القاری ج۲۱ص ۱۲۳)
(۶) فتح الباری ج۹ص۸۰۱و عمدة القاری ج۲۱ص ۱۲۳)
(۷) عمدة القاری ج۲۱ص ۱۲۳)
(۸) (۵۱۹۴) عمدة القاری ج۲۱ص ۱۲۳)

باب مَا يُكرَهُ مِنَ الْمُثْلَةِ وَالْمَصْبُورَةِ وَالْمُجَثَّمَةِ

[۵۱۹۴] [1] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ أَنَسٍ عَلَى الْحَكَمِ بْنِ أَيُّوبَ، فَرَأَى غِلْمَانًا - أَوْ فِتْيَانًا - نَصَبُوا دَجَاجَةً يَرْمُونَهَا. فَقَالَ أَنَسٌ نَهَى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ تُصْبَرَ الْبَهَائِمُ.

[۵۱۹۵] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يَعْقُوبَ أَخْبَرَنَا إِسْحَاقُ بْنُ سَعِيدِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَمِعَهُ يُحَدِّثُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ وَغُلاَمٌ مِنْ بَنِي يَحْيَى رَابِطٌ دَجَاجَةً يَرْمِيهَا، فَمَشَى إِلَيْهَا ابْنُ عُمَرَ حَتَّى حَلَّهَا، ثُمَّ أَقْبَلَ بِهَا وَبِالْغُلاَمِ مَعَهُ فَقَالَ ازْجُرُوا غُلاَمَكُمْ عَنْ أَنْ يَصْبِرَ هَذَا الطَّيْرَ لِلْقَتْلِ، فَإِنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - نَهَى أَنْ تُصْبَرَ بَهِيمَةٌ أَوْ غَيْرُهَا لِلْقَتْلِ.

[۵۱۹٦] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ عُمَرَ فَمَرُّوا بِفِتْيَةٍ أَوْ بِنَفَرٍ نَصَبُوا دَجَاجَةً يَرْمُونَهَا، فَلَمَّا رَأَوُا ابْنَ عُمَرَ تَفَرَّقُوا عَنْهَا، وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ مَنْ فَعَلَ هَذَا إِنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - لَعَنَ مَنْ فَعَلَ هَذَا.
تَابَعَهُ سُلَيْمَانُ عَنْ شُعْبَةَ حَدَّثَنَا الْمِنْهَالُ عَنْ سَعِيدٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ لَعَنَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - مَنْ مَثَّلَ بِالْحَيَوَانِ. وَقَالَ عَدِيٌّ عَنْ سَعِيدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -

[۵۱۹۷] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَدِيُّ بْنُ ثَابِتٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ يَزِيدَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - أَنَّهُ نَهَى عَنِ النُّهْبَةِ وَالْمُثْلَةِ. [ر: ۲۳۴۲]

قوله: (مصبورة): هغه ځناورته وائی چې هغه اوتړلې شي اوغشی ،يا ګولئ سره او ويشتلې شی.

قوله: (مجثمة): هم دمصبوره په معنی کښې ده داشان که يوځناورژلې شوې وی نو دهغې خوړل جائزنه دی (٢)

روايت باب. حضرت امام بخاری رحمه الله دالته په ړومبی ځل ذکرکړې دې ړومبې روايت کښې هشام بن زيد وائی چې څه دحضرت انس رضي الله عنه سره حکم بن ايوب لره ورغلم. حضرت انس رضي الله عنه ځوهلکان ياخوان اوکتل چې يو چرګه ئی تړلې ده اوهغه په غشی باندې اولی، حضرت انس رضي الله عنه

---

[1] الحديث اخرجه مسلم فی كتاب الصيدوالذبائح باب النهی عن صيد البهائم (رقم الحديث ۱٦۵٦)واخرجه ابوداود فی كتاب الضحاياباب الرفق بالذبيحة (رقم الحديث: ۲۸۱٦) واخرجه ابن ماجه فی كتاب الاضحی باب النهی عن صبرالبهائم وعن المثلة (رقم الحديث :۳۲۲۵) واخرجه النسائی فی الضحايا، باب النهی عن المجثمة رقم الحديث: ٤٤۳٦)

[2] عمدة القاری ج۲۱ص ۱۲٤)

اوفرمائیل چې رسول الله ﷺ ځناورتړل اودا په غشوویشتلو نه منع فرمائیلې ده.
دویم روایت کښې دی چې حضرت ابن عمر رضی الله عنه یحیی بن سعید لره ورغلو.نودیحیی خامنوکښې ئې یواوکتلوچې چرګه ئې تړلې ده اوهغه په کاڼړی اولی.حضرت ابن عمر رضی الله عنه چرګې طرفته ورغللواوهغه ئې پرانیسته،بیائې دې چرګې طرفته اشاره اوکړه اوهغه هلک ته ئې اووئیل چې خپلوبچولره دمارغانودپاره تړل اووهلونه منع کړه.ځکه چې حضور نبی کریم ﷺ نه ما آوریدلی دی چې حضورنبی کریم ﷺ چوپایه وغیره تړل اودا وهلونه منع فرمائیلې ده.
دباب په دویم روایت کښې حدیث اصحاب صحاح نه صرف حضرت بخاری رحمه الله نقل کړې دې.نو علامه عینی رحمه الله فرمائی چې (والحدیث من افراده) (۱)

قوله: ثم اقبل بها وبالغلام معه فقال: یعنی بیائې چرګه واخستله اوخپل ځان سره ولاړهلک ته ئې اووئیل (هذا لطیر) علامه کرمانی رحمه الله فرمائې چې د(طیر) اطلاق په مفردباندې ډیرکم کیږی،مفرد دپاره (طائر) مستعمل دې،(طیر) عام طورجمع دپاره رازی.دلته ددې اطلاق په مفردباندې کړې شوې دی.(۲)
حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله داردکړې دې،اوفرمائی چې دلته (طیر) نه جنس (طیر) مراد اخستې شوې دې ددې وجې دطائرپه ځائې دطیرلفظ استعمالیږی.(۳)
علامه عینی رحمه الله داردکړې دې،اوفرمائی چې اشاره یوطرفته وه چې تعین دپاره کیږی،داسې صورت کښې جنس څنګه مراداخستې شی (۴)

قوله: تابعه سلیمان عن شعبه: یعنی دابوبشرچې دده نوم جعفربن ابن ابی وحشیه دې متابعت سلمیان بن حرب دشعبه نه روایت نقل کړې دې،دامتابعت بیهقی موصولانقل کړې دې (۵)

قوله: وقال عدی عن سعید عن ابن عباس عن النبی ﷺ: ابوبشر اومنهال داروایت دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه نقل کړې دې اوعدی بن ثابت دسعیدبن جبیر رضی الله عنه په طریق داروایت دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه نه نقل کړې دې.
داتعلیق امام مسلم موصولانقل کړې دې ددې الفاظ دادی چې (لاتتخذواشیئا فیه الروح غرضا) یعنی یوذی روح ځیزلره نشانه اوهدف مه جوړوئی (۶)

---

(۱) عمدة القاری ج۲۱ص۱۲۵)
(۲) شرح بخاری للکرمانی :ج ۲۰ص ۱۰٤)
(۳) فتح الباری :ج۹ص۸۰۳)
(۴) فتح الباری:ج۹ص۸۰۳)
(۵) عمدة القاری ج۲۱ص۱۲۵) فتح الباری ج۹ص۸۰۳)
(۶) عمدة القاری ج۲۱ص ۱۲۵)

د باب آخری روایت کښې دهمة لفظ راغلې دې.علامه عینی رحمه الله فرمائی چې هو اخذ مال الغیر تهرا د جهرا(۱)

باب لحم الدَّجَاجِ

[۵۱۹۸] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ عَنْ زَهْدَمٍ الْجَرْمِيِّ عَنْ أَبِي مُوسَى - يَعْنِي الأَشْعَرِيَّ - رضى الله عنه - قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَأْكُلُ دَجَاجًا.

[۵۱۹۹] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ أَبِي تَمِيمَةَ عَنِ الْقَاسِمِ عَنْ زَهْدَمٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ، وَكَانَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ هَذَا الْحَيِّ مِنْ جَرْمٍ إِخَاءٌ، فَأُتِيَ بِطَعَامٍ فِيهِ لَحْمُ دَجَاجٍ، وَفِي الْقَوْمِ رَجُلٌ جَالِسٌ أَحْمَرُ فَلَمْ يَدْنُ مِنْ طَعَامِهِ قَالَ ادْنُ فَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَأْكُلُ مِنْهُ. قَالَ إِنِّي رَأَيْتُهُ أَكَلَ شَيْئًا فَقَذِرْتُهُ، فَحَلَفْتُ أَنْ لاَ آكُلَهُ. فَقَالَ ادْنُ أُخْبِرْكَ - أَوْ أُحَدِّثْكَ - إِنِّي أَتَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فِي نَفَرٍ مِنَ الأَشْعَرِيِّينَ، فَوَافَقْتُهُ وَهْوَ غَضْبَانُ، وَهْوَ يَقْسِمُ نَعَمًا مِنْ نَعَمِ الصَّدَقَةِ فَاسْتَحْمَلْنَاهُ فَحَلَفَ أَنْ لاَ يَحْمِلَنَا، قَالَ «مَا عِنْدِي مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ». ثُمَّ أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِنَهْبٍ مِنْ إِبِلٍ فَقَالَ «أَيْنَ الأَشْعَرِيُّونَ أَيْنَ الأَشْعَرِيُّونَ». قَالَ فَأَعْطَانَا خَمْسَ ذَوْدٍ غُرِّ الذُّرَى، فَلَبِثْنَا غَيْرَ بَعِيدٍ، فَقُلْتُ لأَصْحَابِي نَسِيَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَمِينَهُ، فَوَاللَّهِ لَئِنْ تَغَفَّلْنَا رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَمِينَهُ لاَ نُفْلِحُ أَبَدًا. فَرَجَعْنَا إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا اسْتَحْمَلْنَاكَ، فَحَلَفْتَ أَنْ لاَ تَحْمِلَنَا فَظَنَنَّا أَنَّكَ نَسِيتَ يَمِينَكَ. فَقَالَ «إِنَّ اللَّهَ هُوَ حَمَلَكُمْ، إِنِّي وَاللَّهِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ لاَ أَحْلِفُ عَلَى يَمِينٍ فَأَرَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا إِلاَّ أَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ، وَتَحَلَّلْتُهَا». [ر: ۲۹۶۴]

دجاج اسم جنس دې دال باندې زیر، زبر او پیش ټول اعراب درست دی مفرد ئې دجاجة ده (۲)
ابرهیم حربی رحمه الله په غریب الحدیث کښې ددې تشریح کړې ده او وئیلی ئی دی چې (دجاج) د دال په کسره سره د چرګ د پاره استعمالیږی چې ددې واحد دیك دې او د دال په فتحه سره د چرګې د پاره استعمالیږی چې ددې مفرد (دجاجة) دې (۳)
دا (دج، دیدج) نه مشتق دې چې ددې معنی تیزی کول دی چرګه هم چونکه مخکښې روستو

---

۱) عمدة القاری ج۲۱ص ۱۲۵)
۲) فتح الباری ج۹ص۸۰۵، عمدة القاری:ج۲۱ص۱۲۶)
۳) فتح الباری ج۹ص۸۰۵ عمدة القاری:ج۲۱ص ۱۲۶)

تيزئې سره زی رازی، ددې وجې دې ته «دجاجة»(١) وائی چرګه بالاتفاق حلاله ده
روايت باب کښې زهدم بن مضرب فرمائی چې مونږ حضرت ابوموسی اشعری رضي الله عنه سره ناست وو زمونږ په مينځ کښې اوجرم قبيلې په مينځ کښې رورولی وه خوراک راوړې شو چې په هغې کښې دچرګې غوښه وه په خلقو کښې يو دسور رنګ سړې وو هغه خوراک ته نزدې رانغلو ابوموسی اشعری رضي الله عنه هغه ته اووئيل چې نزدې راشه ځکه ماحضورنبی کريم ﷺ دچرګې په غوښه خوړلوليدلې ووهغه سړی اووئيل چې ماچرګه دداسې څيزپه خوراک ليدلې ده چې دهغې نه زمانفرت دې نوماقسم اخوړوچې زۀ به چرګه نه خورم ابوموسی اشعری رضي الله عنه اوفرمائيل چې نزدې راشه تاته دې اووايم چې زۀ څواشعريانوسره دحضورنبی کريم ﷺ په خدمت کښې حاضرشوم په هغه وخت کښې چې حضورنبی کريم ﷺ دغصې په حالت کښې وواودصدقې څناورئې تقسيمول مونږدحضورنبی کريم ﷺ نه دسورلئ دپاره څناوراوغوښتل نو حضونبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې مونږته به هغه سورلی نه راکوی اوفرمائيل ئې چې ماسره تاسولره دسودلئ دڅناوردرکولودپاره هيڅ نشته دې دې نه پس حضورنبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې اشعری رضي الله عنه چرته دې ؟ اشعری رضي الله عنه چرته دې ؟ بيا نی مونږته اوچتو کوبونو والا پنځه سپين اوښان راکړل مونږڅه ساعت ايسار وونوما خپلو ملګروته اووئيل چې شائد رسول الله ﷺ خپل قسم هيرکړې دې، که مونږحضورنبی کريم ﷺ ددوی ﷺ دقسم نه غافل اوساتلو نوپه الله قسم مونږبه هم فلاح اونه مومو نومونږ دحضور نبی کريم ﷺ خدمت حاضر شواواومووائيل چې يارسول الله ﷺ مونږ ستاسونه سورلې اوغوښتله نوتاسوقسم اوخوړو اوفرمائيلې مووچې تاسوبه مونږته سورلی نه راکوئې، اوبيامومونږ ته راکړه بس مونږ ته خيال راغلوچې شائدتاسوخپل قسم هيرکړې دې حضورکريم ﷺ اوفرمائيل چې تاسوته الله سورلی درکړې ده، اوچې کله هم زۀ بخدا وايم په يوخبره باندې قسم خورم اوبيابښيګړه ددې نه په غيرکښې اووينم نوهغه کارکوم چې په هغې کښې ښيګړه وی اوکفاره ورکوم اوقسم ماتوم.

قوله: (زهدم): زهدم دزاپه فتحه سره دبصرې ثقه راوی دې ددوی دپلارنوم مضرب بضم الميم وبفتح الضادوتشديدالراء المکسوره دې دادقبيله جرم دې، صحيح بخاری کښې ددوی دوه حديثونه دی يوحديث باب اودويم کتاب المناقب کښې تيرشويدې(٢)

قوله: كنا عند ابي موسى الاشعري وكان بيننا وبين هذا الحي من جرم اخاء:

په دې عبارت کښې شائدراوی نه غلطی شوې ده ځکه چې زهدم جرمی دې هغه پخپله دقبيله جرم نه دې نوبيادا وئيل چې زمونږدقبيله جرم اوابوموسی اشعری رضي الله عنه په مينځ کښې رورولی وه نودکتاب التوحيدپه آخرکښې حضرت امام بخاری رحمه الله داروايت نقل کړې دې په هغې کښې داالفاظ دی چې «وکان بين هذا الحى من جرم وبين الاشعريين ود، واخاء» حضرت حافظ

---

(١) فتح البارى ج٩ص٨٠٥. عمدة القارى:ج٢١ص١٢٦)
(٢) فتح البارى ج٩ص٨٠٦)

ابن حجر رحمه الله فرمائی چې «وهذه الرواية هي المعتمدة»[1]

قوله: وفي القوم رجل جالس احمر: حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله په ډيرروايتونه کښې نقل کړې دی چې ددې رجل نه مراد پخپله راوی دې حديث زهدم دې، البته هغوی خپل ځان مبهم ساتلې دې[2]

قوله: اني رايته يأكل شيئا فقذرته: چرګه وغيره که ګندا وخوری نوددې په وجه ددې حلت باندې هيڅ اثرنه پريوزي خو که دومره ډيره ګندګی ئی خوړلې وی چې ددې په وجه ددې په غوښه کښې بدبوپيداشی نوبياددې خوراک مکروه دې، بعضوورته مکروه تحريمي وئيلی دی اوبعضوورته مکروه تنزيهی[3]

قوله: فاعطانا خمس دودغر الذري: «دود» دذال اوواو سکون سره، دريونه ترلسوپورې داوښانوډلې ته ذود وائی «خمس ذود» پنځه اوښان، دامرکب اضافی دې ابوالبقاء فرمائی چې دمرکب اضافی په ځائې «خمسا ذودا» پکاردې په دې صورت کښې به «ذود خمسا» نه بدل وی «غر» د «اغر» جمع ده په معنی دسپين «الذرى» «بضم الذال» داد «ذروة» جمع ده «ذروة كل شيء اعلاه» دهرڅيزاوچتې حصې ته «ذروة» وائی دلته ددې نه کوبونه مراد دی يعنی پنځه کوبدار اوښان حضورنبی کريم ﷺ مونږ ته راکړل[4]

ددې حديث متعلق باقی بحثونه به انشاء الله په کتاب الايمان والنذر کښې راشی،

۲۷- باب لُحُومِ الْخَيْلِ

[۵۲۰۰] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِي حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ فَاطِمَةَ عَنْ أَسْمَاءَ قَالَتْ نَحَرْنَا فَرَسًا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَأَكَلْنَاهُ. [ر: ۵۱۹۱]

[۵۲۰۱] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ -رضي الله عنهم- قَالَ نَهَى النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ، وَرَخَّصَ فِي لُحُومِ الْخَيْلِ. [ر: ۳۹۸۲]

داس د غوښې خوړلو حکم: دحضرت امام شافعي رحمه الله حضرت امام مالک رحمه الله اوپه حنفيه کښې دصاحبينو او دجمهور علماء کرامو په نيزداس غوښه خوړل بلاکراهت جائزده[5]

---

[1]) فتح الباری ج۹ص۷۰۶)
[2]) فتح الباری ج۹ص۷۰۶)
[3]) ردالمختار مع درمختارج۶ص۳۴۰)
[4]) مذکوره تشريح دپاره اوګورئ عمدة القاری ج۲۱ص۱۲۷)، فتح الباری ج۹ص۸۰۸)
[5]) اوګورئ شرح المهذب :ج۹ص۳و کتاب الاثار(۱۸۰)

دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله اومام مالک رحمه الله په نیز مکروه ده [1] امام اعظم اوامام مالک رحمه الله نه دمکروه تحریمی او مکروه تنزیهی دواړه روایتونه منقول دی. [2]

جمهور دحدیث باب نه استدلال کوی.

داشان دحضرت جابر رضی الله عنه دروایت نه هم استدلال کوی (ان رسول الله ﷺ نهی یوم الخیبر عن لحوم الحمر الاهلیة واذن فی لحوم الخیل) [3]

حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دامام ابوداود دروایت نه استدلال کوی، (نهی رسول الله ﷺ عن اکل لحوم الخیل والبغال والحمیر) [4]

۲۸-بَاب لُحُومِ الْحُمُرِ الإِنْسِيَّةِ

فِيهِ عَنْ سَلَمَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم

[۵۲۰۲] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ سَالِمٍ وَنَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - نَهَى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الأَهْلِيَّةِ يَوْمَ خَيْبَرَ.

حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ حَدَّثَنِي نَافِعٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الأَهْلِيَّةِ. تَابَعَهُ ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ. وَقَالَ أَبُو أُسَامَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ سَالِمٍ.

[۵۲۰۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ وَالْحَسَنِ ابْنَىْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ أَبِيهِمَا عَنْ عَلِيٍّ - رضى الله عنهم - قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَنِ الْمُتْعَةِ عَامَ خَيْبَرَ وَلُحُومِ حُمُرِ الإِنْسِيَّةِ. [ر: ۳۹۷۹]

[۵۲۰۴] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ عَمْرٍو عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ، وَرَخَّصَ فِي لُحُومِ الْخَيْلِ. [ر: ۳۹۸۲]

[۵۲۰۵] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِي عَدِىٌّ عَنِ الْبَرَاءِ وَابْنِ أَبِي أَوْفَى رضى الله عنهم قَالاَ نَهَى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ. [ر: ۲۹۸۶]

---

[1] اوجزالمسالک کتاب الصید،باب مایکره من اکل الدواب:ج۹ص ۱۸۰)

[2] اوجزالمسالک کتاب الصید،باب مایکروه من اکل الدواب :ج۹ص ۱۸۰. وتکملة فتح الملهم :ج۳ص۵۶۵، وقال ابوحنیفه اکره لحم الخیل فحمله ابوبکرالرازی علی التنزیه وصح عنه اصحاب المحیط والهدایة والذخیرة التحریم وهوقول اکثرهم،وعن بعضهم یاثم اکله ولایسمی حراما (فتح الباری: ج۹ص ۸۱۱)

[3] صحیح مسلم کتاب الذبائح باب اکل لحوم الخیل (رقم الحدیث : ۱۹۱٤،۱۹۲٤)

[4] سنن ابوداود کتاب الاطعمة باب فی اکل لحوم الخیل (رقم الحدیث ۳۷۹۰:ج۳ص۳۵۲)

[٥٢٠٦] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ أَبَا إِدْرِيسَ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا ثَعْلَبَةَ قَالَ حَرَّمَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - لُحُومَ الْحُمُرِ الأَهْلِيَّةِ. تَابَعَهُ الزُّبَيْدِيُّ وَعُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ.

[٥٢٠٧] وَقَالَ مَالِكٌ وَمَعْمَرٌ وَالْمَاجِشُونُ وَيُونُسُ وَابْنُ إِسْحَاقَ عَنِ الزُّهْرِيِّ نَهَى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ. [٥٢١٠، ٥٤٤٤]

[٥٢٠٨] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلاَمٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضى الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - جَاءَهُ جَاءٍ فَقَالَ أُكِلَتِ الْحُمُرُ، ثُمَّ جَاءَهُ جَاءٍ فَقَالَ أُكِلَتِ الْحُمُرُ. ثُمَّ جَاءَهُ جَاءٍ فَقَالَ أُفْنِيَتِ الْحُمُرُ. فَأَمَرَ مُنَادِيًا فَنَادَى فِي النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يَنْهَيَانِكُمْ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الأَهْلِيَّةِ، فَإِنَّهَا رِجْسٌ. فَأُكْفِئَتِ الْقُدُورُ وَإِنَّهَا لَتَفُورُ بِاللَّحْمِ. [ر: ٣٩٦٣]

[٥٢٠٩] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ عَمْرٌو قُلْتُ لِجَابِرِ بْنِ زَيْدٍ يَزْعُمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - نَهَى عَنْ حُمُرِ الأَهْلِيَّةِ فَقَالَ قَدْ كَانَ يَقُولُ ذَاكَ الْحَكَمُ بْنُ عَمْرٍو الْغِفَارِيُّ عِنْدَنَا بِالْبَصْرَةِ، وَلَكِنْ أَبَى ذَاكَ الْبَحْرُ ابْنُ عَبَّاسٍ وَقَرَأَ (قُلْ لاَ أَجِدُ فِيمَا أُوحِيَ إِلَىَّ مُحَرَّمًا).

د خردغو ښې حکم: (حمرو وحشية) بالاتفاق حلال دى، (حمر انسية) يعنى د خرغوښه د جمهورو علماء په نيز حرامه ده.[1]

دحضرت امام مالک رحمه الله نه درې روايتونه منقول دى، يوروايت د جمهورومطابق دويم مطلقاً جواز اودريم د کراهت.[2] حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه هم جواز منقول دې، لکه څنګه چې دلته دباب په آخرى روايت کښې دى. حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه دويم روايت کښې توقف منقول دې. نوشعبى ددوى نه نقل کړى دى چې هغوى فرمائى چې: لا ادرى انهى عنه رسول الله ﷺ من اجل انه کان حمولة الناس فکره ان تذهب حمولتهم او حرمها البتة يوم خيبر.[3]

يعنى ماته معلومه نه دى چې د خيبرپه موقع حضور نبى کريم ﷺ دخرونو دغوښونه کوم ممانعت کړې دې، داپه دې وجه ووچې حضور ﷺ سره انديښنه وه چې هسې نه سورلئ ختمې شى څکه خلقوپه خرونو باندې سورلى کوله ياقطعى طورحضورنبى کريم ﷺ داحرام کړل د جمهورعلماء کرامو په نيز داحاديث باب په وجه دخرونوغوښه حرام ده. بعضواحاديثو کښې د (لحوم حمر) دحرمت وجه دابيان شوې ده چې هغه ګندګى خوررى. داهم يو وجه راغلې ده چې

---

[1] فتح البارى: ج٩ص٨١٨، والابواب والتراجم ج٢ص٩٣)
[2] فتح البارى: ج٩ص٨١٨)
[3] فتح البارى: ج٩ص٨١٨)

داشان به دسورلودپاره څناورختم شي.ليکن دلته باب کښې دحضرت انس ﷺ روايت کښې اصل وجه ذکرشوې ده چې (فانها رجس)
چې کوم حضرات دې لره جائزګڼري.هغه دابوداود يوروايت نه استدلال کوي.غالب بن ابجر فرمائي چې مونږ په قحط کښې مبتلاء وو.په کورکښې صرف خرپاتې شواوبل څه څيزدخوراک دپاره نه وو.هغوی راغل اوحضرت نبی کریم ﷺ ته ئې شکايت اوکړوچې حضورنبی کریم خودخرونوغوښه حرام کړې ده اوځما په کور کښې صرف دخرونونه سوابل څه نشته دې،نوحضور نبی کریم ﷺ اوفرمائيل چې (اطعم اهلك من سمين حمرك فانما حرمتها من اجل جوال القرية يعنى الجلالة) [1] يعنی خپل کوروالوته دخرغوښه ورکولې شئ مادګندګئ په وجه دحرام ګڼرلي وه.
ليکن حضرت حافظ ابن حجر ﷫ اوامام نووی ﷫ فرمائي چې ددې حديث سند ضعيف دې اوددې متن احاديث صحيحه نه مخالف کيدوپه وجه شاذدې [2]

قوله:فيه عن سلمة عن النبى ﷺ: دسلمة بن الاکوع روايت حضرت امام بخاری ﷫ په باب المغازی کښې موصولا نقل کړې دې [3]

قوله:وقال مالك ومعمر والماجشون ويونس وابن اسحاق عن الزهرى.....: دامام مالک تعليق په راتلونکی باب کښې موصولا رازی.دمعمراويونس حسن بن سفيان موصولا کړې دې د(ماجشون)(يوسف بن يعقوب)تعليق لره امام مسلم موصولا نقل کړې دې.اوداابن اسحاق روايت لره اسحاق بن راهويه موصولا نقل کړې دې [4]

قوله:يقول ذاك الحكم بن عمرو الغفارى عندنا بالبصرة:حميدی په خپل سند کښې دومره اضافه کړې ده چې (قد كان يقول ذالك الحكم بن عمرو عن رسول الله) يعنی دلته دبخاری په روايت کښې خوصرف دومره دی چې (نهى عن لحوم الحمر الانسية) خبره زمونږ په نيز بصره کښې حکم بن عمرو به وئيل ليکن دحميدی روايت کښې دی چې حکم دا خبره دحضور نبی کريم ﷺ نه نقل کوی اومرفوعا ئې بيانوله

قوله: ولكن ابى ذالك البحر ابن عباس وقرا(قل لا اجد فيما اوحى الى محرما: (بحر) دحضرت ابن عباس ﷺ صفت دې ځکه چې هغه دعلم سمندر وو صفت ئې

---

[1] سنن ابى داود كتاب الاطعمة (رقم الحديث :۳۸۰۹)
[2] فتح البارى : ج۹ص۸۱۸ وشرح مسلم للنوی، كتاب الذبائح،باب تحريم اكل لحم الحمر الانسيه :ج۲ ص۱۴۹)
[3] كشف البارى كتاب المغازى:۴۱۴_
[4] فتح البارى ج۹ص۸۱۷،۸۱۶)

مبالغة موصوف باندې مقدم کړې دې، دابن مردويه روايت کښې تفصيل دې، په هغې کښې دې چې: كان اهل الجاهلية ياكلون اشياء ويتركون اشياء تقذرا فبعث الله نبيه وانزل كتابه واحل حلاله وحرم حرامه فما احل فهو حلال وما حرم فهو حرام وما سكت عنه فهو عفو وتلا هذه (قل لا اجد فيما اوحى الى) حاکم ابن مردود يه ددې روايت تصحيح کړې ده (۱)

۲۹- باب أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ

[۵۲۱۰] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيِّ عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ -رضى الله عنه- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- نَهَى عَنْ أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ.

تَابَعَهُ يُونُسُ وَمَعْمَرٌ وَابْنُ عُيَيْنَةَ وَالْمَاجِشُونُ عَنِ الزُّهْرِيِّ. [ر: ۵۲۰۶]

قوله: (ناب): مخامخ څلور غاښونوته وائي. دا دواړه طرفونه ته وى اردو کښې دې ته کچلی وائی (۲) درندې دناب په ذريعه ښکيرول کوى علامه عينى رحمه الله فرمائى چې (والمراد بالناب مايعدو به على الحيوان ويتقوى به) (۳)

درندو د غوښې حکم: روايت کښې دى چې حضور نبى کريم ﷺ دهرهغه ځناور دخوراک نه منع کړې ده چې کوم په ناب باندې خوراک کوى.

دجمهورعلماء په نيزدانهى تحريمه باندې محمول دى، نودناب والا درندو (زمرى، پړانګ وغيره) غوښه حرامه ده. داشان په مخوکې سره ښکار کولووالا ځناور (شاهين، ګرګس وغيره) هم حرام دى ځکه چې دمسلم په روايت کښې دى چې (نهى عن كل ذى ناب من السباع وعن كل ذى مخلب من الطير) (۴)

امام مالک رحمه الله مشهور روايت کښې ناب والا درندې مکروه دى حرام نه دى هغوى د قرآن پاک دآيت دعموم نه استدلال کوى (قل لا اجد فى ما اوحى الى محرما على طاعم يطعمه الا ان يكون ميتة اودما مسفوحا اولحم خنزير (۵)) هغه فرمائى چې په دې آيت کښې چې کوم ځناورحرام کړې شوى دى. په دې کښې ناب والا درندې شاملې نه دى (۶)

---

(۱) المستدرک للامام الحاكم كتاب الاطعمة : ج ٤ ص١١٥)

(۲) القاموس الوحيد ١٧٣١)

(۳) عمدة القارى ج: ٢١ص١٣٢)

(۴) صحيح مسلم (مع تكلمة) كتاب الصيد :ج٣ص٥٠٠)

(۵) سورة الانعام :١٤٥)

(۶) فتح البارى :ج٩ ص٨٢٠ وروى عنه ان العادى منه حرام كالاسد والذئب والفهد وغيره العادى مكروه كالثعلب (حاشية ادلدسوقى فى شرح الكبير: ج٢ ص١١٧)

جمهور فرمائی چې داآیت مکی دې اوحدیث باب .هجرت نه پس دې. دآیت حکم دنزول دوخت سره متعلق دې چې دکوموخناورحرمت آیت کښې نه دې بیان شوې.هغه حلال دی.بیا هم مستقبل کښې دتحریم نفی په دې کښې نشته دې.[1]

حدیث باب کښې د ذوناب نه کوم درندګان مراد دی: ذوناب نه کوم درندګان مراد دی. حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی چې:

(واختلف القائلون بالتحریم فی المراد بماله ناب فقیل انه مایتقوی به ویصول علی غیره ویصطاد ویعدو بطبعه غالبا کالاسد والفهد والصقر والعقاب واما مالا یعدو کالضبع والثعلب فلا والی هذا ذهب الشافعی واللیث ومن تبعهما وقدورد فی حل الضبع احادیث لا باس بها)[2]

دحضرات حنفیه په نیز حدیث باب په خپل عموم باندې دې. لهذاهرذوناب درنده حرام ده. ضبع هم ذوناب دې.ددې وجې هغه هم حرام ده. آئمه ثلاثه ضبع مباح ګنړی[3]. هغه مستدرک حاکم کښې دحضرت جابر رضی الله عنه دروایت نه استدلال کوی چې حضور نبی کریم صلی الله علیه وسلم دضبع خوړلو اجازت ورکړې دې.

علامه عینی رحمه الله دحضرت جابر رضی الله عنه دحدیث جواب ورکوی اولیکی:

وحدیث جابر لیس بمشهور وهو محلل والمحرم یقضی علی المبیح احتیاطا وقیل: حدیث جابر منسوخ وقیل: حدیث جابر انفرد به عبدالرحمان بن ابی عمار ولیس مشهور بنقل العلم ولا هو حجة اذ انفرد فکیف اذا خالفه من هو اثبت منه)[4]

① یعنی دحضرت جابر رضی الله عنه والا حدیث محلل (یعنی حلالیدو والا) دې اوحدیث باب محرم (یعنی حرام ګرزولو والا) دې اومحرم د مبیح حکم ساقطوی.

② حدیث جابر رضی الله عنه منسوخ وی.

③ دحدیث جابر رضی الله عنه راوی عبدالرحمان مشهور اوقابل حجت نه دې. خاص کرکله چې هغه دخپل نه زیات دثقه روای مخالف کړې دې.

قوله: تابعه یونس ومعمروابن عینة والماجشون عن الزهری: یعنی د امام مالک رحمه الله متابعت دې حضراتو کړې دې، ددې نه په مخکې باب کې ددې متتابعاتو موصولاً نقل کونکو ذکر تیرشوې دې. سوا د سفیان ابن عیینه نه، ددوی متابعت امام بخاری رحمه الله په کتاب الطب کې موصولاً نقل کړې دې.[5]

---

[1] فتح الباری :ج۹ ص۸۲۰)
[2] فتح الباری ج ۹ص۱۲۰ ۱۲۱)
[3] عمدة القاری ج۲۱ص۱۳۲)
[4] عمدة القاری ج۲۱ص۱۳۲) _
[5] عمدة القاری ج۲۱ص۱۳۲) _

۳۰ - باب جلود الميتة

[۵۲۱۱] حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ صَالِحٍ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ شِهَابٍ أَنَّ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ - رضي الله عنهما - أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مَرَّ بِشَاةٍ مَيِّتَةٍ فَقَالَ « هَلاَّ اسْتَمْتَعْتُمْ بِإِهَابِهَا ». قَالُوا إِنَّهَا مَيِّتَةٌ. قَالَ « إِنَّمَا حَرُمَ أَكْلُهَا »

[۵۲۱۲] حَدَّثَنَا خَطَّابُ بْنُ عُثْمَانَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حِمْيَرَ عَنْ ثَابِتِ بْنِ عَجْلاَنَ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ - رضي الله عنهما - يَقُولُ مَرَّ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بِعَنْزٍ مَيِّتَةٍ فَقَالَ « مَا عَلَى أَهْلِهَا لَوِ انْتَفَعُوا بِإِهَابِهَا ». [ر: ۱۴۲۱]

يعنى دحضرت امام مالک رحمه الله متابعت دي حضراتو كړې دي. ددې نه مخکښې باب کښې دامتابعات موصولا نقل کونکو ذکرتيرشوي دي سوا دسفيان ابن عينيه نه. ددوى متابعت حضرت امام بخارى رحمه الله په كتاب الطب کښې موصولا نقل کړې دي.[1]

دځناورو دڅرمنو نه دانتفاع حکم : دمړ شوى ځناورو دڅرمنونه انتفاع جائزه ده که نه. امام بخارى رحمه الله دا مسئله په دې باب کښې ذکر کړې ده ـ

① دجمهور علماؤ په نيز د دباغت نه پس دځناورو دڅرمن نه انتفاع جائزه ده، هغوى يوخو دحديث باب نه استدلال كوى، دويم دغه حضرات دعبدالله بن عباس رضي الله عنه دروايت نه استدلال كوى. دكوم الفاظ چې دا دى,, ايما اهاب دبغ فقد طهر،،[2] يعنى چې كومې څرمنې ته هم دباغت وركړئ شى نو هغه پاكيږى ـ

البته حضرات حنفيه ددې نه دانسان اوخنزير څرمن مستثنى كړې ده.

خنزير خوددې وجې چې هغه نجس العين دې، لقوله تعالى: ﴿فَإِنَّهُ رِجْسٌ﴾ اودانسان څرمن ئې دده دشرف او احترام په وجه مستثنى ګرزولې ده. امام محمد هاتهى لره هم دمستثنى كيدو وجه نجس واله ګرزولې دې[3]

حضرات شافعيه خنزير سره سپې هم مستثنى ګرزولې دې. ځکه چې سپې ددوى په نيزنجس العين دې.[4]

دحضرت امام مالک رحمه الله اودحضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله آخرى قول هم ددې مطابق دې.[5]

---

[1] عمدة القارى ج۲۱ص۱۳۲) ـ
[2] سنن الترمذى، كتاب اللباس، باب ماجاء فى جلود الميتة اذا دبغت، (رقم الحديث : ۱۷۲۷) ـ
[3] فتح القدير ى، كتاب الطهارة باب الماء الذى يجوز به الوضوء وما لايجوز: (ج ۱ص۱۸) ـ
[4] عمدة القارى(ج۲۱ ص۱۳۳) ـ
[5] عمدة القارى(ج۲۱ ص۱۳۳) ـ

② دويم قول دادي چې جلودميته نه ددباغت نه مخکښې اوددباغت نه پس دواړه صورتونوکښې ددې نه انتفاع جائزه ده. ابن شهاب دا اختيار کړی دی.(۱)

③ دريم قول دحضرت امام مالک رحمه الله اودحضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله دې. ددوی په نيزدباغت نه پس هم جلود نه انتفاع حاصلول جائز نه دی.(۲)

داحضرات دحضرت عبدالله بن عکيم ليثی رضی الله عنه دروايت نه استدلال کوی، چې په هغې کښې هغوی فرمائی چې مونږله حضورنبی کريم صلی الله عليه وسلم خط مبارک دحضورنبی کريم دوفات نه څوورځې مخکښې راغلو، په هغې کښې ووچې «الاتنتفعوا من الميتة باهاب ولاعصب»(۳)

ددې حديث مختلف جوابات ورکړې شوی دی.لکه دامضطرب المتن اومضطرب السند دې، علامه عينی رحمه الله ليکی چې : «والجواب الصحيح عنه ان حديث ابن عباس المذكور من الصحاح وانه سماع وحديث ابن عکيم کتابة فلا يقاوم»

يعنی حديث باب،حديث صحيح دې. اوسماعا دې اوداابن عکيم حديث په ذريعه دکتابت نقل شوې دې، داشان داابن عکيم په صحابی کيدوکښې هم احتلاف دې. ددهٔ په تابعی کيدو کښې حديث به مرسل وی اودموصول حديث مقابله کښې حجت نشی جوړيدې.

داحضرات دابوداود اوترمذی دروايت نه هم استدلال کوی.«انه عليه السلام نهی عن جلود السباع ان تفترش»(۴)

ليکن جمهورودانهی انتفاع قبل الدباغ باندې محمول کړې ده.چې ددباغت نه مخکښې څرمن نه انتقاع اخستل درست نه دی (۱)

لکه څنګه چې مخکښې راغلی دی چې دحضرت امام مالک رحمه الله اوحضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله آخری قول دجمهورومطابق دې، هغوی ددې خپل قول نه رجوع کړې ده.

حديث باب کښې د«اهاب»لفظ راغلې دې، دباغت نه مخکښې څرمنې ته «اهاب»بعضو وئيلی دی چې مطلق څرمنې ته «اهاب»وائی، که قبل الدباغت نه وی اوکه بعد الدباغت نه وی. ددې جمع «اهب» رازی.په همزه اوهاء دواړوباندې فتحه اوضمه دواړه جائزدی.(۵) «عنز بفتح العين وسکون النون»چيلئ ته وائی،

سند باندې يواعتراض اودهغې جواب: دلته دباب آخری روايت کښې دحضرت امام بخاری رحمه الله

---

(۱) عمدة القاری(ج۲۱ ص۱۳۳) _

(۲) فتح القدير كتاب الطهادة :ج۱ص ۸۱، وعمدة القاری(ج۲۱ ص۱۳۳) _

(۳) عمدة القاری(ج۲۱ ص۱۳۳) _

(۴) سنن ترمذی کتاب للباس باب ماجاء فی النهی عن جلودالسباع (رقم الحديث ۱۷۱۷۷۰) وسنن ابی داود کتاب اللباس باب ماجاء فی جلودالنموروالسباع (رقم الحديث:۴۱۳۲) _

(۵) عمدة القاری :(ج۲۱ص ۱۳۳) _

شیخ خطاب بن عثمان، ددوی شیخ محمد بن حمیر او ددوی شیخ ثابت بن عجلان دې. دا درې واړه دشام دښار حمص دی، صحیح بخاری کښې دخطاب بن عثمان او ثابت بن عجلان صرف دا یو حدیث دې، البته دمحمد بن حمیر یو حدیث باب الهجرة کښې هم تیرشوې دې.[1]
دا درې واړه روایان متکلم فیه دی، خطاب بن عثمان باره کښې ابن حبان او دار قطنی فرمائی چې (ربما اخطاء)[2]
دمحمد بن حمیر متعلق ابوحاتم فرمائی چې (لایحتج به)[3]
او ثابت متعلق حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چې (انا متوقف فیه)[4]
او عقیلی ددهٔ متعلق فرمائی چې (لایتابع فی حدیثه)[5]
نو کله چې دا درې واړه متکلم فیه دی، بیا حضرت امام بخاری رحمه الله ددوی حدیث څنګه نقل اوفرمائیلو.

حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله ددې جواب ورکوی چې (ان هولاء من المتابعات لامن الاصول والاصل فیه الذی قبله)[6] یعنی ددې راویانو حدیث لره حضرت امام بخاری رحمه الله په طوردتائید اوپه طور دمتابعت ذکرکړې دې، اصل حدیث خومخکښې والا دې، دادویم حدیث په طور د متابعت دې او د متابعت په طورباندې متکلم فیه راویانوروایت ذکرکولو کښې هیڅ حرج نشته دې.
علامه عینی رحمه الله فرمائی چې دحضرت امام بخاری رحمه الله شیخ خطاب ابدال کښې شمیرلې کیدو.[7] او دارقطنی د(ربما اخطا) وئیلونه باوجود ددوی توثیق کړې دې.[8]
محمد بن حمیرلره هم یحیی بن معین ادحیم ثقه ګرزولې دې.[9] امام نسائی رحمه الله ددوی باره کښې فرمائی چې (لیس به باس)[10]

[1] عمدة القاری :(ج۲۱ص ۱۳۳) _
[2] تهذیب الکمال :ج۸ص ۲۶۹، رقم الترجمه :۱۶۹۸) _
[3] الجرح والتعدیل الترجمی ۱۳۱۵، وتهذیب الکمال :ج۸ ص:۲۶۹_
[4] تهذیب التهذیب :ج۱ص ۱۰_
[5] کتاب الضعفاء للعقیلی ج۱ص۱۷۶، رقم الترجمه :۲۱۹) _
[6] فتح الباری : ج۹ص۸۲۳_
[7] عمدة القاری :(ج۲۱ص ۱۳۳) و تهذیب الکمال :ج۸ص ۲۶۹، _
[8] تهذیب التهذیب :ج۳ص۱۴۶، واسماء التابعین للدارقطنی الترجمة :۲۸۷) _
[9] تهذیب الکمال ج۲۵ص۱۱۸، رقم الترجمه ۵۱۷۰)
[10] تهذیب الکمال ج۲۵ص۱۱۸، رقم الترجمه ۵۱۷۰)، ابن حبان دهٔ لره په کتاب الثقات (ج۷ص۴۴۱) کښې ذکرکړې دې) _

۳۱- باب المسك

[۵۲۱۳] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ عَنْ عَبْدِ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا عُمَارَةُ بْنُ الْقَعْقَاعِ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «مَا مِنْ مَكْلُومٍ يُكْلَمُ فِي اللَّهِ إِلاَّ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَكَلْمُهُ يَدْمَى، اللَّوْنُ لَوْنُ دَمٍ وَالرِّيحُ رِيحُ مِسْكٍ». [ر: ۲۳۵]

[۵۲۱۴] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاَءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى - رضى الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «مَثَلُ الْجَلِيسِ الصَّالِحِ وَالسَّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيرِ، فَحَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً، وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً». [ر: ۱۹۹۵]

دثابت بن عجلان په باره کښې ابوحاتم فرمائی ،، صالح الحدیث، عقیلی ددوی ذکرپه ضعفاء کښې کړې دې اوپه دهٔ باندې ذهبی او ابن قطان نکیر فرمائیلې دې.[۱]

لهذا داراوی من جمله ثقه دې.اوددې قابل دې صحیح بخاری کښې ددوی احادیث ذکرشوی دی.

د مشکو داستعمال حکم: مشک داوسئ دنامه نه وتونکې خوشبوداري مادې ته وائی. د مشکو استعمال سړو اوښځودارو دپاره بالاتفاق جائزدی.

بعضې حضراتو دحضرت فارق اعظم رضی الله عنه،عمربن عبدالعزیز رحمه الله،حضرت حسن بصری رحمه الله اوعطاء بن ابی رباح وغیره نه ددوی کراهت نقل کړې دې.ځکه چې دا داسې دی چې لکه څنګه میته نه یو حصه بیله کړې شی.[۲]

ابن منذرفرمائی چې صرف عطاء نه کراهت منقول دې.باقی کسانو نه دکراهت روایت درست نه دې.مشک لره په (ماقطع من المیتة) باندې قیاس کول صحیح نه دی.ځکه چې امام ابوداود رحمه الله دحضرت ابوسعیدخدری رضی الله عنه نه مرفوعانقل فرمائیلې دی چې حضورنبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی چې (اطیب طیبکم المسك)[۳]

قوله:مکلوم: زخمی ته وائی، کلم باب ضرب نه دزخمی کولو په معنی کښې راځی.

قوله: کیر: بټئ ته وائی (دچمړې وغیره پم چې هغې سره بټئ لره اوور اولګولې شی)(نافخ الکیر) بټئ لره اوور ورکونکې،مرادترې لوهاردې.

قوله:یحذیك: په معنی د(یعطیك) دادا(احذاء) نه دې.چې ددې معنی ورکولو والا اوعطاء کولو والا ده.[۴]

---

[۱] تهذیب التهذیب ج۲ ص۱۰، ومیزان الاعتدال ج۱ص ۳۶۵) _

[۲] عمدة القاری (ج ۲۱ص ۱۳۴) _

[۳] سنن ابی داودکتاب الجنائزباب فی المسک للمیت (رقم الحدیث :۳۱۸۵: ج۳ص ۲۰۰) _

[۴] سنن ابی داود کتاب الجنائز.باب فی المسک للمیت : ۳۱۵۸:ج۳ص ۲۰۰_

۳۲-باب: الارنب

[۵۲۱۵] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ -رضي الله عنه- قَالَ أَنْفَجْنَا أَرْنَبًا وَنَحْنُ بِمَرِّ الظَّهْرَانِ، فَسَعَى الْقَوْمُ فَلَغِبُوا، فَأَخَذْتُهَا فَجِئْتُ بِهَا إِلَى أَبِي طَلْحَةَ فَذَبَحَهَا، فَبَعَثَ بِوَرِكَيْهَا -أَوْ قَالَ بِفَخِذَيْهَا- إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَبِلَهَا. [ر: ۲۴۳۳]

دسوي (خرګوش) حکم : سوه دجمهورعلماء په نيزحلاله ده. حضرت عمروبن العاص، حضرت عبدالرحمان ابن ابی ليلى اوحضرت عکرمه نه ددې کراهت منقول دې، رافعى دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله نه ددې حرمت نقل کړې دې ليکن هغه قول درست نه دې، د احنافو په نيزهم خرګوش بلاکراهت جائزدې.(۱)

دا حضرات دخزيمه بن جزء دروايت نه استدلال کوى ,,قلت يا رسول الله ماتقول فى الارنب؟ قال لا آكله ولا احرمه، قلت : فانى آكل مالاتحرمه، ولم يا رسول الله ؟قال : «نبئت انها تدمى»،،(۲)

په دې حديث کښې حضورنبى کريم صلى الله عليه وسلم دسوې متعلق فرمائى چې څه داخورم اونه ئې حرام ګنړم ځکه چې ماته دې باره کښې وئيلې شوى دى چې ددې حيض رازى.

ددې حديث نه دسوې کراهت باندې داحضرات استدلال کوى.ليکن ددې سند ضعيف.اوحديث ثابتيدوپه صورت کښې به داکراهت په طبعى کراهت باندې محمول وى.

امام ابويوسف رحمه الله په خپل کتاب الاثارکښې روايت نقل کړې دې چې په دې کښې تصريح ده چې يوسړى دسوې متعلق اووئيل چې ددې حيض رازى دوى اوفرمائيل چې هيڅ هم مه خورئى.(۳)

جاحظ دسوې متعلق فرمائى دايوکال ماده وى اويوکال نر، ددې حيض هم رازى (په دې وجه بعضو دې ته مکروه وئيلى دى) اوکله چې دااوده کيږى نوددې سترګې غړيدلې وى.(۴)

۳۳-باب الضب

[۵۲۱۶] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دِينَارٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ -رضي الله عنهما- قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «الضَّبُّ لَسْتُ آكُلُهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ». [۶۸۳۹]

[۵۲۱۷] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ-

---

(۱) عمدة القارى (ج۲۱ص۱۳۵) _
(۲) فتح البارى (ج۹ص ۸۲۶) _
(۳) اعلاء السنن ج۱۷ص ۱۹٤) وتكملة فتح الملهم : ج۳ص۴۳۷، كتاب الصيدوالذبائح) _
(۴) كتاب الحيوان للجاحظ :ج۳ص۴۰۶، ج۳۵۲۹وعمدة القارى :(ج۲۱ص۱۳۵) _

صلی الله علیه وسلم - بَيْتَ مَيْمُونَةَ فَأُتِيَ بِضَبٍّ مَحْنُوذٍ، فَأَهْوَى إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ - صلی الله علیه وسلم - بِيَدِهِ فَقَالَ بَعْضُ النِّسْوَةِ أَخْبِرُوا رَسُولَ اللَّهِ - صلی الله علیه وسلم - بِمَا يُرِيدُ أَنْ يَأْكُلَ. فَقَالُوا هُوَ ضَبٌّ يَا رَسُولَ اللَّهِ. فَرَفَعَ يَدَهُ، فَقُلْتُ أَحَرَامٌ هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ «لاَ، وَلَكِنْ لَمْ يَكُنْ بِأَرْضِ قَوْمِي فَأَجِدُنِي أَعَافُهُ». قَالَ خَالِدٌ فَاجْتَرَرْتُهُ فَأَكَلْتُهُ وَرَسُولُ اللَّهِ - صلی الله علیه وسلم - يَنْظُرُ.[ر: ۵۰۷۶]

د ضب متعلق تفصیل تیرشوې دې.

۳۴=باب إِذَا وَقَعَتِ الْفَأْرَةُ فِي السَّمْنِ الْجَامِدِ أَوِ الذَّائِبِ

[۵۲۱۸] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ يُحَدِّثُهُ عَنْ مَيْمُونَةَ أَنَّ فَأْرَةً وَقَعَتْ فِي سَمْنٍ فَمَاتَتْ، فَسُئِلَ النَّبِيُّ - صلی الله علیه وسلم - عَنْهَا فَقَالَ «أَلْقُوهَا وَمَا حَوْلَهَا وَكُلُوهُ».

قِيلَ لِسُفْيَانَ فَإِنَّ مَعْمَرًا يُحَدِّثُهُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ مَا سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ يَقُولُ إِلاَّ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ مَيْمُونَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلی الله علیه وسلم - وَلَقَدْ سَمِعْتُهُ مِنْهُ مِرَارًا.

[۵۲۱۹] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ عَنْ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنِ الدَّابَّةِ تَمُوتُ فِي الزَّيْتِ وَالسَّمْنِ وَهْوَ جَامِدٌ أَوْ غَيْرُ جَامِدٍ، الْفَأْرَةِ أَوْ غَيْرِهَا قَالَ بَلَغَنَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلی الله علیه وسلم - أَمَرَ بِفَأْرَةٍ مَاتَتْ فِي سَمْنٍ، فَأَمَرَ بِمَا قَرُبَ مِنْهَا فَطُرِحَ ثُمَّ أُكِلَ، عَنْ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ.

[۵۲۲۰] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ مَيْمُونَةَ - رضی الله عنهم - قَالَتْ سُئِلَ النَّبِيُّ - صلی الله علیه وسلم - عَنْ فَأْرَةٍ سَقَطَتْ فِي سَمْنٍ فَقَالَ «أَلْقُوهَا وَمَا حَوْلَهَا وَكُلُوهُ».[ر: ۲۳۳]

غوړوکښې که مږه وغیره پریوزی نوکه هغه چکه شوی نه وی،مائع اوویلی شوی وی نوداسې صورت کښې داکثروعلماء په نیزهغه غوړی نجس دی،ددې خوراک ترست نه دې.اوکه کلک اوچکه زی نودمنګک دویستلونه پس ددې ګیرچاپیره غوړی دې ویستلې شی باقی استعمالولې شی [۱] شیرې اوشهدو وغیره هم داحکم دې. حدیث باب کښې د سمن جامدحکم بیان شوې دې.نوابن العربی رحمه الله «وماحولها» نه استدلال کوی اوفرمائی چې ددې نه «سمن جامد» مراددی ځکه چې ماحول په سمن جامد کښې متعین کولې شی سمن مائع کښې دماحول تعین نه شی کولې.[۲]

[۱] عمدة القاری ج ۲۱ص۱۳۸) وفتح الباری ج۹ص۷۳۵) _
[۲] عمدة القاری ج ۲۱ص۱۳۸) وفتح الباری ج۹ص۷۳۵)

باقی دګیرچاپیره نه څومره غوړی ویستل پکاردی.په دې سلسله کښې څه مخصوص مقدارمنقول نه دې بلکه دامبتلی به رائې باندې منحصردې،دحضرت عطاء بن یسار نه یومرسل روایت نقل کړې دې چې یو کف (تلی) په قدردې رواوویستلې شی.([1])_
طبرانی دحضرت ابو الدرداء رضی الله عنه نه یومرفوع روایت نقل کړې دې چې دواړه تلی دی یوځائې کړې شی ددریولپوهومره دې راویستلې شی لیکن سندضعیف دې.([2])_
بعضې حضراتوسمن جامداومائع کښې فرق نه دې کړې او وائی چې حدیث باب کښې مطلقا (القوها وماحولها وکلوه) فرمائیلی دی.لهذا سمن مائع هم د (ماحول) ویستلوسره پاکیږی.([3])
لیکن جمهوروائی چې حدیث باب کښې دسمن جامدحکم بیان شویدې.اوددی دلیل دحضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت دې،چې په هغې کښې تصریح راغلې ده.نوپه هغې کښې دی چې (اذا وقعت الفارة فی السمن فان کان جامدا فالقوها وما حولها وان کان مائعا فلا تقربوه)([4])
په دې کښې دجامداومائع فرق صراحتابیان کړې شوې دې.
دحضرت امام بخاری رحمه الله مسلک: ① حضرت امام بخاری رحمه الله چونکه ترجمة الباب کښې سمن جامد او ذائب دواړو ذکرکړی دی.ددې وجې بعضې حضراتوویلې دی چې ددوی په نیز جامد او ذائب د دواړوحکم یودې اوهغه داچې نجاست پریوتلوسره غوړی ناپاک نه وی که جامدوی اوکه مائع.
② بعضوشراحو فرمائیلی دی چې دحضرت امام بخاری رحمه الله مسلک دجمهورومطابق دې،حضرت امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې سمن جامداوذائب دواړوذکرکړې دې، حدیث باب نه صرف سمن جامدحکم معلوم شو(ځکه چې هغه سمن جامدسره متعلق دی) چې په دې کښې که نجاست پریوزی نوغوړی به نجس شی،ماحول لره داخواکولونه پس خوړل ئې جائزدی.ددې مفهوم مخالف دادې که هغه غوړی مائع دی نونجاست پویوتلوسره به نجس شی.ګویاچې حضرت امام بخاری رحمه الله دحدیث مفهوم سره نور اجزاء سمن مائع حکم دجمهورومطابق ثابت کړو.نومولانارشیداحمد ګنګوهی رحمه الله فرمائی چې:
(دلالة الروایة علی جزئی الترجمة ظاهرة فان الحولیة لا تتحقق الا فی الجامد فعلم ان الذائب لا یبقی طاهرا)
③ مولانا انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی چې حضرت امام بخاری رحمه الله اصل کښې نجاست جامده اونجاست مائعه کښې فرق کول غواړی که نجاست جامده پریوزی نوغوړی ناپاک نه وی که غوړی جامد وی اوکه مائع.اوکه نجاست مائع پریوزی نوغوړی به نجس وی نومړې پریوتلو سره به نجس نه وی ځکه چې هغه نجس جامد دې.نوفیض الباری کښې دی چې:

[1]) عمدة القاری ج ۲۱ص۱۳۸) وفتح الباری ج۹ص۷۳۵)
[2]) عمدة القاری ج ۲۱ص۱۳۸) وفتح الباری ج۹ص۷۳۵)
[3]) عمدة القاری ج ۲۱ص۱۳۸)
[4]) سنن ابی داودکتاب الاطعمة باب فی الفارقة تقع فی السمن (رقم الحدیث :۳۸٤۲) _

((وقد مرمنى انه اختار الرواية غيرالمشهورة عن احمد وهى الفرق بين النجاسة الجامدة والمائعة فالاولى لاتنجس سواء وقعت فى الجامد اوالذائب وتنجس الثانية وعليها حمل تبويب المصنف فى الطهارة بوقوع الفارة اولاًفانها نجاسة وبالبول فى الماء الراكدثانيا فانه نجاسة مائعة فكانه اشاربالفرق بينهما وتاويل هذه الترجمة عندى انه ذكرفيها الجامدلكون الحديث فيه عنده فان القاء ماحولها لايمكن الا فى الجامدثم ذكرالذائب ولم يذكرحكمه لينظرفيه الناظراما الزهرى فانه وان سئل عن السمن مطلقا لكنه لكن لم يجب الاعن الجامدولم يذكرللمائع حكما وذالك لانه حديث البخارى يدل بمفهومه على ان المائع يتنجس))(۱)

چې په کومو غوړو کښې نجاست پريوزی نو دهغې نه دانتفاع حکم سمن مائع (ويلي شوی غوړو) کښې که مږه پويوزی نودجمهوروپه نيزهغه ناپاک شی.ليکن په دې کښې اختلاف دې چې ددې غوړونه څه فائده حاصلولې شی که نه ؟

① دامام احمد رحمه الله په نيز دداسې قسمه غوړو نه هيڅ قسمه فائده حاصلول صحيح نه دی(۲)ځکه چې دحضرت ابوهريره رضي الله عنه په روايت کښې صراحت سره دی .. وان كان مائعا فلا تقربوه،، ليکن جمهور وائی چې ددې نه ,, فلا تقربوه للاكل،، مراد دې. دخوراک نه ممانعت دې، دانتفاع نه نه ـ

دحضرت امام مالک رحمه الله په نيزداسې غوړونه مطلقادڅه قسم فائده حاصلول درست نه دی.(۳) ځکه چې بعضوروايتونو کښې دی چې (ان الله تعالى اذا حرم اكل شئ حرم ثمنه)) چې دکوم څيزخوړل حرام دی،دهغې ثمن هم حرام دی. اوچونکه دداسې غوړو استعمال صحيح نه دې لهذاددې بيع هم درست نه ده. حنيفه وائی چې په دې حديث کښې دنجس لعينه حکم بيان شوې دې.اومذکوره غوړی نجس لعينه نه دی.(۴)

دحضرات حنيفه په نيزدخوراک نه علاوه داسې قسمه غوړونه هرقسم فائده اخستل جائزدی.(۵)

ځکه چې بعضوروايتونوکښے دا الفاظ هم راغلی دی چې (وان كان السمن مائعا انتفعوابه ولا تاكلوه)) اويوروايت کښې ددې تيلومتعلق راغلی دی چې په هغې کښې منکړ پريوتې وی (فاستصبحوابه وادهنوابه))(۶)

---

(۱) فيض البارى (ج ٤ص ٣٤٤).لامع الدرارى : عمدة القارى : (ج۲۱ص ٤٢١. تعليقات لامع الدرارى :ج ۹ص ٤٢٢).

(۲) عمدة القارى (ج ۲۱ص۱۳۸)ـ

(۳) عمدة القارى ج ۲۱ص ۱۳۸)

(۴) عمدة القارى ج ۲۱ص ۱۳۸)

(۵) عمدة القارى ج ۲۱ص ۱۳۸)

(۶) عمدة القارى ج ۲۱ص ۱۳۸)

ستصباح چراغ بلولوته وائی.یعنی داسې غوړی اوتیل چې هغې سره چراغ وغیره بلول صحیح دی.

((قیل لسفیان فان معمرا یحدثه عن الزهری عن سعید بن المسیب عن ابی هریرة رضی الله عنه قال ماسمعت الزهری رحمه الله یقول الاعن عبیدالله عن ابن عباس رضی الله عنهما عن میمونة عن النبی ﷺ ولقد سمعت منه مرارا))

حدیث باب سفیان بن عینیه زهری عن عبیدالله بن عباس رضی الله عنهما په طریق باندې نقل کړې دې،چې دسفیان نه تپوس اوکړوچې معمر داحدیث زهری عن سعیدالمسیب عن ابی هریره په طریق باندې نقل کوی،نوسفیان اووئیل چې مادا حدیث دزهری نه.عبیدالله عن ابن عباس رضی الله عنهما په طریقه مې څوځله آوریدلې دې.

۳۵- بَابُ الْوَسْمِ وَالْعَلَمِ فِي الصُّورَةِ

[۵۲۲۱] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ حَنْظَلَةَ عَنْ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ كَرِهَ أَنْ تُعْلَمَ الصُّورَةُ. وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ نَهَى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ تُضْرَبَ. تَابَعَهُ قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا الْعَنْقَزِيُّ عَنْ حَنْظَلَةَ وَقَالَ تُضْرَبُ الصُّورَةُ.

[۵۲۲۲] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- بِأَخٍ لِي يُحَنِّكُهُ، وَهُوَ فِي مِرْبَدٍ لَهُ، فَرَأَيْتُهُ يَسِمُ شَاةً- حَسِبْتُهُ قَالَ- فِي آذَانِهَا.[ر: ۱۴۳۱]

قوله: وسم: دواو په فتح اودسین په سکون سره،اوعلم دواړویومعنی ده.یعنی علامت اونشان.(۱)

ابن الاثیرفرمائی چې وسم خاص اوعلم به عام وی.(۲)

دصورت نه مخ مراددې.(وسم فی الوجه بالاجماع منهی عنه)دې.دسړی مخ لره داغل یاپرې نشان لګول مطلقاحرام دی.

مسلم شریف کښې دی چې حضرت جابر رضی الله عنه حدیث دې چې حضورنبی کریم ﷺ یوخر سره تیرشو اووې کتل چې هغه ته چاپه مخ باندې داغ ورکړې دې نوحضورنبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې (لعن الله الذی وسمه)(۳)

دمخ نه علاوه دڅناورو دنوربدن په څه حصه باندې داغ لګول که چاتاڅه فائده ورکولوده پاره وی نوجائزدې لیکن په دې شرط چې هغه نشان کم وی،که کم نه وی نودحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزمکروه دې ځکه چې په دې کښې دحیوان تعذیب هم دې.اوداملته کښې

---

(۱) عمدة القاری ج ۲۱ص ۱۳۸)

(۲) النهایة لابن الاثیر : ج۵ص۱۷۶)

(۳) صحیح مسلم (مع التکملة) کتاب اللباس والزینة باب النهی عنه ضرب الحیوان فی وجهه :ج ٤ ص۱۸۲)

هم رازى اوتعذيب دحيوان اومثله دواړه منهى عنه دى.[1] جمهوروانى چې هغه نهى عام دۀ اوحديث وسم خاص دې.[2]

قوله: وقال ابن عمر نهى النبى ﷺ ان تضرب: داماقبل سندسره متصل دې، حضرت ابن عمر رضی الله عنهما فرمائى چې حضورنبى كريم ﷺ منع فرمائيلې ده په مخ وهل په دې روايت كښې (ان تضرب) دې مفعول به ذكرنه دې. ددې وجې حضرت امام بخارى رحمه الله مخكښې دابن قتيبه روايت نقل كوى چې په هغې كښې د(الوجه)تصريح ده. (تابعه ابن قتيبه) يعنى ابن قتيبه دحضرت امام بخارى رحمه الله دشيخ عبيدالله بن موسى متابعت كړې دې.

قوله: عنقزي: دعين فتحه، نون ساكن، دقاف فتحه سره، (عنقز) طرفته منسوب ده. دا يو خوشبو داروابنو ته وائى. چونكه هغوى بۀ داوابنه خوخولودې وجې دې طرفته منسوب شو.[3] ابن حبان دوى په كتاب الثقات كښې ذكركړى دى.[4]
حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله اوامام نسائى رحمه الله ددې توثيق كړې ده.[5]

قوله: دخلت على النبى ﷺ باخ لي: دادحضرت انس رضی الله عنه مورشريک روروو. ددوى نوم عبدالله بن ابى طلحه وو.

قوله: حسبته قال في آذانها: دادشعبه قول دې. (حسبته) كښې دننه ضميرمنصوب هشام بن زيدطرفته راجع دې. شعبه فرمائى چې څماخيال دادې چې هشام بن زيدد(فى اذنها) الفاظ هم وئيلى وو. يعنى حضورنبى كريم ﷺ دچيلۍ غوږونه داغل. حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې: ((هذا محل الترجمة وهوالعدول عن الوسم فى الوجه الى الوسم فى الاذن فيستفادمنه ان الاذن ليست من الوجه))[6]

قوله: مربد: (دميم زير، دراء په سكون اود باء په فتحه سره) داوښانو باړې ته وائى.
كه يوجماعت ته غنيمت ملاؤشو اوپه هغې كښې څه كسانو دنور ملګرو دتپوس او جازت نه بغيردغنيمت چيلۍ يا اوښان وغيره ذبح كړى نو ددې خوراک جائزنه دې. ځكه چې دتقسيم نه وړاندې هغه دټولومشترک مال وى. دټولو داجازت نه بغير په دې كښې دڅه قسمه تصرف اختيار نه دې حاصل.[7]

---

[1] عمدة القارى ج ۲۱ص ۱۳۹،۱٤٠)_
[2] فتح البارى :ج ۹ص ۸۳۸) _
[3] عمدة القارى ج ۲۱ص ۱۳۹،۱٤٠)و فتح البارى :ج ۹ص ۸۳۷) _
[4] ثقات ابن حبان (ج۸ص٤۸۲).
[5] الجرح والتعديل : ۶الترجمة :۱٤۵٠، وتهذيب الكمال : ج۲۲ص۲۲۲، رقم الترجمه : ٤٤٤٤) _
[6] فتح البارى :ج ۹ص ۸۳۸) _
[7] عمدة القارى (ج۲۱ص۱٤۱) _

دحضرت رافع په حديث كښې دى چې حضور اكرم ﷺ دداسې كونكو كتوئ التبه كړې وې. ځكه چې هغوى اجازت نه وو اغستې چې تفصيل ئې وړاندې تيرشوې دې.

باب إِذَا أَصَابَ قَوْمٌ غَنِيمَةً فَذَبَحَ بَعْضُهُمْ غَنَمًا أَوْ إِبِلاً بِغَيْرِ أَمْرِ أَصْحَابِهِمْ لَمْ تُؤْكَلْ

لِحَدِيثِ رَافِعٍ عَنِ النَّبِىِّ - صلى الله عليه وسلم -. وَقَالَ طَاوُسٌ وَعِكْرِمَةُ فِى ذَبِيحَةِ السَّارِقِ اطْرَحُوهُ.

[٥٢٢٣] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبَايَةَ بْنِ رِفَاعَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ قُلْتُ لِلنَّبِىِّ - صلى الله عليه وسلم - إِنَّنَا نَلْقَى الْعَدُوَّ غَدًا، وَلَيْسَ مَعَنَا مُدًى. فَقَالَ «مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ فَكُلُوا، مَا لَمْ يَكُنْ سِنٌّ وَلاَ ظُفُرٌ، وَسَأُحَدِّثُكُمْ عَنْ ذَلِكَ، أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ، وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشَةِ». وَتَقَدَّمَ سَرَعَانُ النَّاسِ فَأَصَابُوا مِنَ الْغَنَائِمِ وَالنَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - فِى آخِرِ النَّاسِ فَنَصَبُوا قُدُورًا فَأَمَرَ بِهَا فَأُكْفِئَتْ وَقَسَمَ بَيْنَهُمْ وَعَدَلَ بَعِيرًا بِعَشْرِ شِيَاهٍ، ثُمَّ نَدَّ بَعِيرٌ مِنْ أَوَائِلِ الْقَوْمِ وَلَمْ يَكُنْ مَعَهُمْ خَيْلٌ فَرَمَاهُ رَجُلٌ بِسَهْمٍ فَحَبَسَهُ اللَّهُ. فَقَالَ «إِنَّ لِهَذِهِ الْبَهَائِمِ أَوَابِدَ كَأَوَابِدِ الْوَحْشِ فَمَا فَعَلَ مِنْهَا هَذَا فَافْعَلُوا مِثْلَ هَذَا». [ر: ٢٣٥٦]

قوله: وَقَالَ طَاوُسٌ وَعِكْرِمَةُ فِى ذَبِيحَةِ السَّارِقِ اطْرَحُوهُ: طاوس اوعكرمه دغل دذبيحه متعلق فرمائى چې دااوغورزوئى، يعنى دا مه خورئى. داحكم دهغه ذبيحه متعلق دې چې نه دمملوك وى اونه دمالک دطرفنه هغه وكيل وى لهذاچې كوم سړى ته ولايت ياوكالت حاصل نه وى. دهغه ذبيحه درست نه ده. عبدالرزاق دطاوس اوعكرمه داتعليق موصولانقل كړې دې.[1]

قوله: مريد: دميم زيردراء سكون اوباء فتحه سره، داوښ باړ ته وائى يوډلې ته مال دغنيمت ملاؤشى اوپه دوى كښې څه خلق دنورو ملګرونه تپوس اوكړى اودهغوى دداجازت نه بغيردغنيمت چيلئ يااوښ ذبح كړى نودهغې خوراک جائزنه دې. ځكه چې دتقسيم نه مخكښې هغه ټول مشتركه مال دې يوته دبل داجازت نه بغيرپه هغې كښې دتصرف كولواختيار حاصل نه دې.[2]

دحضرت نافع حديث كښې دى چې حضورنبى كريم ﷺ داشان كولو والوباندې كتوئى التبه كړې وى. ځكه چې هغوى اجازت نه وواخستې چې دهغې تفصيل تيرشوې دې.

---

[1]) فتح البارى :ج ٩ص١٤١) _

[2]) عمدة القارى :(ج ٢١ص١٤١) _

٣٧=باب إِذَا نَدَّ بَعِيرٌ لِقَوْمٍ فَرَمَاهُ بَعْضُهُمْ بِسَهْمٍ فَقَتَلَهُ فَأَرَادَ إِصْلاَحَهُمْ فَهُوَ جَائِزٌ

لِخَبَرِ رَافِعٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-.

[٥٢٢٤] حَدَّثَنَا ابْنُ سَلاَمٍ أَخْبَرَنَا عُمَرُ بْنُ عُبَيْدٍ الطَّنَافِسِيُّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبَايَةَ بْنِ رِفَاعَةَ عَنْ جَدِّهِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ -رضي الله عنه- قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فِي سَفَرٍ فَنَدَّ بَعِيرٌ مِنَ الإِبِلِ -قَالَ- فَرَمَاهُ رَجُلٌ بِسَهْمٍ فَحَبَسَهُ، قَالَ ثُمَّ قَالَ «إِنَّ لَهَا أَوَابِدَ كَأَوَابِدِ الْوَحْشِ فَمَا غَلَبَكُمْ مِنْهَا فَاصْنَعُوا بِهِ هَكَذَا». قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا نَكُونُ فِي الْمَغَازِي وَالأَسْفَارِ فَنُرِيدُ أَنْ نَذْبَحَ فَلاَ تَكُونُ مُدًى قَالَ «أَرِنْ مَا نَهَرَ -أَوْ أَنْهَرَ- الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ فَكُلْ، غَيْرَ السِّنِّ وَالظُّفُرِ، فَإِنَّ السِّنَّ عَظْمٌ، وَالظُّفُرَ مُدَى الْحَبَشَةِ».[ر: ٢٣٥٦]

كه دیوقوم اوښ اوتښتی اوپه هغوی کښې یوکس په غشی اولی اووژنی او دې نه مقصد ددوی نیکړه وی نو دا ددې حدیث په بناء جائزدې چې کوم حضرت رافع حضورنبی کریم ﷺ نه نقل کړې دې (فاراد صلاحهم) یعنی دې سړی لره دقوم مقصد معلوم شو اوددوی نیکړې دپاره هغه دا اوښ راایسار ولودپاره هغه اولی نو دا جائز دی. او ویشتو والا به ضامن نه وی لیکن که داجازت نه بغیرئې اویشتلونوضامن به وی (١) داحدیث مخکښې باب کښې تیر شوې دې.

٣٨=باب أَكْلِ الْمُضْطَرِّ

لِقَوْلِهِ تَعَالَى (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ * إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَلاَ إِثْمَ عَلَيْهِ)،

وَقَالَ (فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لإِثْمٍ) وَقَوْلُهُ (فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ بِآيَاتِهِ مُؤْمِنِينَ * وَمَا لَكُمْ أَلاَّ تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلاَّ مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ وَإِنَّ كَثِيرًا لَيُضِلُّونَ بِأَهْوَائِهِمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِينَ)

(قُلْ لاَ أَجِدُ فِيمَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلاَّ أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنْزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٌ رَحِيمٌ).

وَقَالَ (فَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلاَلاً طَيِّبًا وَاشْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ * إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ)

---

(١) عمدة القارى ج٢١ص١٣١)

مضطر کوم یو سړي دې : مضطر هغه سړی ته وائی چې داسې حالت کښې وی که هغه څه
؛ونه خوری نو ددهٔ دهلاکیدو خطره وی. دادجمهورو مسلک دې.بعضومالکیه ددریو ورځو
قید لګولې دې چې کوم سړی ته په حالت اضطرار کښې حلال څیزدخوړولو ملاؤ نشی نو
هغه ته مضطر وائی.(١) که یوحلال څیز نه ملاویږی نو حرام څیزپه قدر دضرورت د
استعمالولو اجازت دې دحضرت امام مالک رحمه الله په نیزپه مړهٔ خیټه خوراک کولې شی
دامام شافعی رحمه الله یوقول ددې مطابق هم دې.دحنفیه په نیزصرف دومره خوراک کولې شی
چې دې سره دهغه بدن کښې دژوند یولحمه برقرار پاتې شی ځکه چې دقرآن پاک آیت
(غیرباغ ولا عاد)داقید لګولې دې چې هغه دخوراک لذت متلاشی نه وی اونه دحدنه تجاوز
کولووالا وی.(٢)

داشان دسورت مائده آیت کښې (غیرمتجانف)الفاظ دی ((متجانف لاثم) تفسیردا کړې شوې
دې چې دحد نه زیاتی اونکړی. (٣)
حضرت امام بخاری رحمه الله دسورة بقرة. سورة مائده. سورة انعام اوسورة نحل ددې څلورو وا
ړ سورتونوآیتونو ذکرفرمائیلی دی چې په هغې کښې دمضطراحکام بیان شوی دی.
دحرام څیز په طورد دوائی استعمالولو شرطونه : چې دکوم سړي ځان په خطره کښې وی. هغه
دځان بچ کولو والا حرام څیزپه طور دوائی استعمالولې شی.لیکن فقهاء کرامودې دپاره
پنځه شرطونه لیکلی دی :
① حالت اضطرار کښې وی یعنی دهغه ځان په خطره کښې وی.
② بله څه دوائی کار نه ورکوی یا موجود نه وی.
③ دې دوائی سره دمرض ښه کیدل یقنی وی.
④ ددې استعمال سره لذت حاصلول مقصود نه وی.
⑤ اود ضرورت نه دې زیات استعمال نه کړې. (٤)
داضطراری حالت مسئله خومذکوره شرطونوسره دنص قرآن پاک نه ثابت اواجماعی حکم
دې.لیکن عاموبیماروکښې هم ناپاک یاحرامه دوائی استعمالول جائزدې یانه؟ په دې
مسئله کښې فقهائې کراموا ختلاف کړې دی. اکثرفقهائې کراموفرمائیلی دی چې اضطرار
او مذکوره شرطونه نه بغیردحرامې دوائی.استعمال جائز نه دی بعضې نوروفقهائې

(١) عمدة القاری ج٢١ص١٤١)
(٢) فمن اضطر غیر باغ ولاعاد ای فی غیریعنی ولاعدوان مجاوزة الحد فلا اثم علیه فی ذالک قال مجاهدفمن اضطرغیر ولا عاد قاطعاللسبیل اومفارقا للائمة اوخار جافی کعصیة الله تعالی.ولا عادمتزود منها وقیل غیر فی اکلها شهوة وتلذذ ولا عاد ولا یاکل حتی یشبع ولکن بالک مایمسک مقه (وانظر عمدة القاری ج٢١ص١٤٣)
(٣) فتح الباری ج ٩ص ٨٤٠).
(٤) معارف القرآن :ج ٢ص٣٢٦)_

كرامودې ته جائزوئيلى دى ليكن دهغوى مسلک ضعيف دې نواصل حکم هم دادې چې عاموبيمارو كښې تر كمه پورې چې حالت اضطرارمذكوره شرطونه موجودنه وى.دحرامې دوائى استعمال جائز نه دې.

فقهائې متاخرينو مجوده زمانه كښې دحراموواوناپاكودوايانودكثرت اوابتلاء عام او د عوامو د ضعف باندې نظراچولونه پس ئې ددې اجازت وركړې دې چې بل څه حلال اوپاكه دوائى ددې مرض دپاره كاروركوونكې نه وى موجوده نوعلامه شامى رحمه الله ليكى چې :

(اختلف في التداوى بالمحرم وظاهر المذهب المنع كما في رضاع البحر ولكن نقل المصنف ثم وههنا عن الحاوى قيل يرخص اذعلم فيه الشفاء ولم يعلم دواء اخر كما رخص في الخمر للعطشان وعليه الفتوى)

يعنى حرام څيزونه په طوردوائى استعمالولوكښې اختلاف دې اوظاهر مذهب كښې ددې ممانعت راغلې دې لكه څنګه چې بحرائق كتاب ارضاع كښې مذكوردى ليكن مصنف تنوير ددې خاځې رضاع كښې هم اودلته هم حاوى نه نقل كړى دى چې بعضو عالمانو فرمائيلى دى چې دوائى اوعلاج دپاره دحراموڅيزونواستعمال په دې شرط باندې جائزدې چې ددې دوائى استعمال سره شفاء عادتا يقينى وى اوڅه حلاله دوائى اوددې بدل نه شى كيدې لكه څنګه چې دتږى دپاره دشرابوګوټ دڅكلواجازت وركړې شوې دې اوهم په دې باندې فتوى ده.

مذكوره تفصيل نه دهغه ټولوانګريزى دوائى استعمال معلوم شوچې يورپ وغيره نه راځى چې په هغې شراب وغيره نجس څيزونه معلوم وى اويقينى وى اوچې په كومودوايانوكښې دحرام اونجس اجزاء و جزدمشكوک وى. دهغې په استعمال كښې نورزيات ګنجائش دې بياهم احتياط بهرحال احتياط دې خصوصا چې كله چاته څه شديدضرورت نه وى.[1]

---

[1]) معارف القرآن ج۱ص۲۷،۴۲۶)٤ ـ

۷۶- کتاب الاضاحی

[الاحادیث: ۵۲۲۵، ۵۲۲۶]

په کتاب الاضاحی کښې شپاړس بابونه دي اوخلورخلويښت مرفوع احاديث دى په دې کښې پنځلس معلق دى اوباقى موصول دى اته ديرش احاديث په کښې مکرردى اوپنځه په اول ځل راغلى دى په دې کښې څلور متفق عليه دى. دصحابو ﷺ اوتابعينو وغيره په دې کښې اووه آثاردى.

بسم الله الرحمن الرحيم
كتاب الاضاحي
باب سُنَّةِ الأُضْحِيَّةِ

وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ هِيَ سُنَّةٌ وَمَعْرُوفٌ.

[۵۲۲۵] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ زُبَيْدٍ الإِيَامِيِّ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ الْبَرَاءِ- رضى الله عنه- قَالَ قَالَ النَّبِيُّ- صلى الله عليه وسلم- «إِنَّ أَوَّلَ مَا نَبْدَأُ بِهِ فِي يَوْمِنَا هَذَا أَنْ نُصَلِّيَ ثُمَّ نَرْجِعَ فَنَنْحَرَ، مَنْ فَعَلَهُ فَقَدْ أَصَابَ سُنَّتَنَا، وَمَنْ ذَبَحَ قَبْلُ فَإِنَّمَا هُوَ لَحْمٌ قَدَّمَهُ لأَهْلِهِ، لَيْسَ مِنَ النُّسُكِ فِي شَيْءٍ». فَقَامَ أَبُو بُرْدَةَ بْنُ نِيَارٍ وَقَدْ ذَبَحَ فَقَالَ إِنَّ عِنْدِي جَذَعَةً. فَقَالَ «اذْبَحْهَا وَلَنْ تَجْزِيَ عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ».

قَالَ مُطَرِّفٌ عَنْ عَامِرٍ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ النَّبِيُّ- صلى الله عليه وسلم- «مَنْ ذَبَحَ بَعْدَ الصَّلاَةِ تَمَّ نُسُكُهُ، وَأَصَابَ سُنَّةَ الْمُسْلِمِينَ».

[۵۲۲۶] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ- رضى الله عنه- قَالَ قَالَ النَّبِيُّ- صلى الله عليه وسلم- «مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلاَةِ فَإِنَّمَا ذَبَحَ لِنَفْسِهِ، وَمَنْ ذَبَحَ بَعْدَ الصَّلاَةِ فَقَدْ تَمَّ نُسُكُهُ، وَأَصَابَ سُنَّةَ الْمُسْلِمِينَ». [ر: ۹۱۱]

قوله: اضاحی: جمع د ،،اضحية،، ده اوپه دې کښې څلورلغات دى

① اضحية (بضم الهمزة) ددې جمع (اضاحى) ده.

② اضاحية (بكسرالهمزة) ددې جمع هم (اضاحى) ده.

③ اضحاة په وزن د (ارطاة) ددې جمع (اضحى) راځى (وبه سمى يوم الاضحى)

④ ضحية په وزن د (غشية) ددې جمع (ضحايا) راځى [1]

---

[1]) اوګورئ لسان العرب: ج۱۹ ص۲۱۱) وعمدة القارى (ج۲۱ص ۱٤٤) وشرح مسلم للنووى (ج۲ ص۱۵۳)

په لغت کښې اضحیة هغه چیلئ ته وائی چې هغه دضحوة یعنی څاښت په وخت کښې ذبح کولې شی [1]

اصطلاح فقهٔ کښې داضیحة تعریف دادې چې (ذبح حیوان مخصوص بنیة القربة فی وقت مخصوص) [2]

قربانی واجب ده که سنت؟ ① دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز قربانی په مالدار کس باندې واجب ده دامام مالک رحمه الله یو روایت هم ددې مطابق دې [3]

② دامام شافعی اوامام احمد اوپه احنافو کښې دصاحبینو رحمهما الله په نیز قربانی سنت ده [4]
دامام مالک یو قول هم ددې مطابق دې [5]
داحضرات په لاندینی احادیثو باندې استدلال کوی:

① دصحیح مسلم په روایت کښې دی (من اراد ان یضحی فدخل العشر فلا یاخذ من شعره ولا بشرته شیا) په دې حدیث کښې ئې قربانی په ارادې پورې معلق کړې ده حال داچې واجب معلق بالاراده نشی کولې معلومه شوه چې قربانی سنت ده. [7]
خودا استدلال ضعیف دې ځکه چې دارادې اطلاق عدم وجوب لره مستلزم نه دې دامر واجب اداکول هم په ارادې پورې معلق کولې شی لکه څنګه چې دحج په باره کښې دی (من اراد ان یحج فلیعجل) [8] دلته دارادې لفظ داطلاق نه عدم وجوب مرادنه دې دغه شان په (من اراد ان یضحی) کښې هم مراد دادې چې کوم کس دقربانئ اراده لری برابره ده که هغه په ده باندې واجب وی اوکه نه وی نوهغه دې ویخته وغیره د ذوالحجې په اولنئ لسوورځو کښې نه کټ کوی د(اراد) لفظ دعموم دپاره استعمال شوې دې دپاره چې واجب اوغیره واجب دواړه په دې کښې راشی. [9]
② داحضرات دویم استدلال دسنن دارقطنی په راویت سره کوی نبی ﷺ فرمائیلی دی:

[1] عمدة القاری :(ج۲۱ص ۱٤٤) قال القسطلانی قال عیاض سمیت بذلک لانهاتفعل فی الضحی وهو ارتفاع النهارفسمیت بزمن فعلها (ارشادالساری (ج ۱۲ص ۳۰۰) _
[2] اوګورئی الدرالمختار کتاب الاضحیه : ج۵ص ۲۱۹،وفتح القدیر کتاب الاضحیه: ج۸ص ٤۲٤)
[3] عمدة القاری :ج۲۱ص ۱٤٤)واو جزالمسالک کتاب الضحایا(ج۹ص۲۲۵) وشرح مسلم للنووی(ج۲ص۱۵۳)
[4] تکملة فتح الملهم(ج۳ص۵٤۷)_ وبدایة المجتهد کتاب الضحایاباب حکم الضحایا(ج۱ص ٤۲۹) والمغنی لابن قدامة (ج۹ص۳٤۵) والمجموع شرح المهذب کتاب الاضاحی (ج۸ص ۳۵۰) _
[5] بدایع المجتهد کتاب الضحایاباب حکم الضحایا(ج۱ص ٤۳۹) والمجموع شرح المهذب (۳۵۰۱۸)_
[6] صحیح مسلم کتاب الاضاحی باب النهی فی من دخل علیه عشرذی الحجة رقم الحدیث ۱۹۷۷) (ج۳ص۱۵۶۵)_
[7] المغنی لابن قدامة کتاب الاضاحی (ج۹ص۳٤۵) _
[8] المغنی لابن قدامة کتاب الاضاحی (ج۹ص۳٤۵)_
[9] بذل المجهود دتکملة فتح الملهم)

(ثلاث كتب علی وهن لكم تطوع : الوتر، والنحر، و ركعتا الفجر)[1]

خو دا حديث ضعيف دې چې قابل د حجت نه دې [2] او على سبيل التسليم د امام صاحب د طرفه د دې جواب دادې چې په دې حديث كښې ..(كتبت) لفظ راغلې دې كوم چې د فرض د پاره راځي، يعنى دا درې څيزونه زما د پاره فرض دی او ستاسو د پاره فرض نه دی نو په دې سره دامت په حق كښې د فرضيت نفی كيږی د وجوب نفی نه. كيږی د فرض او وجوب په مينځ فرق واضح دې [3]

③ د دې حضراتو دريم استدلال د حضرت صديق اكبر او فاروق اعظم رضي الله عنهما اثر باندې كيږی چې هغوی صرف يو يا دوه كاله قربانی كړې ده مستقل قربانی ئې نه ده كړې [4]

د دې جواب دا وركړې شوې دې چې قربانی په موسر (مالدار) واجبيږی او دا دواړه موسرنه وو ځكه چې دواړو حضراتو به د بيت المال نه په قدر د كفايت وظيفه اخستله. د مالدارئ په اندازه نه ئې اخستله. [5]

د وجوب دلائل : ① په قرآن كريم كښې دی (فصل لربك وانحر)، انحر، (قربانی كوه) امر دې او امر د وجوب د پاره راځی [6] د دې تقاضا خو دا ده چې قربانی فرض خو چونكه د نحر په تفسير كښې نور اقوال هم شته، د دې وجې د دې په دلالت كښې ظنيت راغلو، نو د دې نه صرف وجوب ثابيږی.

② د ابن ماجه په مرفوع روايت كښې دې (من كان له سعة ولم يضح فلا يقربن مصلانا) [7] حاكم د دې حديث تصحيح كړې ده [8] او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائيلی دی (و رجاله ثقات) [9] په دې حديث كښې د استطاعت باوجود د قربانئ نه كولو د پاره وعيد بيان شوې دې چې هغه د ې زمونږ عيدګاه ته نه راځی او وعيد په ترك د واجب باندې راځی.

③ حجة الوداع په موقع باندې نبی كريم صلى الله عليه وسلم او فرمائيل ((يا ايها الناس على كل اهل بيت فى كل عام اضحاة وعتيرة..(على)) د وجوب د پاره راځی نو بيا ..عتيره.. خو منسوخ شوه خو د اضحيه په نسخ باندې څه دليل نشته [10]

---

[1] سنن الدارقطني، كتاب الوتر باب صفة الوتر وانه ليس بفرض.. الخ رقم الحديث (ج۲_۱.۲۱)_
[2] فتح الباری(۱۰ص٤) _
[3] بذل المجهود كتاب الضحايا(ج۱۳ص۷) _
[4] بذل المجهود كتاب الضحايا(ج۱۳ص۶) _
[5] بذل المجهود كتاب الضحايا(ج۱۳ص۸) _
[6] تفسير طبری (ج۳۰ص۲۱۱) _
[7] سنن ابن ماجه كتاب الاضاحی واجب ام لارقم الحديث (۳۱۲۳) (ج ۲ص ۱۰٤٤)_
[8] فتح الباری (ج ٤ص ۱۰)_
[9] فتح الباری (ج ٤ص ۱۰)_
[10] فتح الباری (ج ٤ص ۱۰)_ بذل المجهود كتاب الضحايا(ج۱۳ص۷) _

عتيره د رجب په مياشت کښې قرباني ته وائى د دې تفصيل په عقيقه کښې تيرشوې دې.

④ د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما حديث دې «اقام رسول الله ﷺ بالمدينة عشر سنين يضحى» دا حديث په مواظبت دلالت کوى او مواظبت بغير د ترک نه دليل د وجوب دې

قوله: قال ابن عمر هي سنة ومعروف: حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائى چې قربانى سنت او نيکى ده علامه عينى رحمه الله فرمائى «المعروف اسم جامع لكل ماعرف من طاعة الله عزوجل والتقرب اليه والاحسان الى الناس، ولكل ماندب اليه الشرع ونهى عنه من المحسنات والمقبحات وهو من الصفات الغالبة اى امر معروف بين الناس اذا رواه، لاينكرونه» [1]

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دا تعليق حماد بن ابى سلمه موصولا نقل کړې دې [2]

باب قِسْمَةِ الإِمَامِ الأَضَاحِيَ بَيْنَ النَّاسِ

[٥٢٢٧] حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ بَعْجَةَ الْجُهَنِيِّ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ قَسَمَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بَيْنَ أَصْحَابِهِ ضَحَايَا، فَصَارَتْ لِعُقْبَةَ جَذَعَةٌ. فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ صَارَتْ جَذَعَةٌ. قَالَ «ضَحِّ بِهَا». [ر: ٢١٧٨]

نبى کريم ﷺ په حضرات صحابه کرامو رضي الله عنهم کښې د قربانئ څاروى تقسيم کړل. مالدارنو ته خو به ئې د مال فئ نه ورکړې وى او غريبانانو ته د صدقې د مال نه. امام بخارى رحمه الله دا باب قائم کړلو او د قربانئ د اهميت طرف ته ئې اشاره اوکړه چې د نبى کريم ﷺ په دې موقع د قربانئ څاروى په صحابه کرامو کښې تقسيم کول د پاره وو. علامه عينى رحمه الله ليکى

«وانما اراد البخارى، والله علم، ان اعطاء الشارع اضحايا لاصحابه دليل على تاكدها وندبهم اليها»

د بعجه بن عبدالله په بخارى کښې صرف دا يو حديث دې امام نسائى ابن حبان. علامه ذهبى او حافظ ابن حجر رحمه الله د ده توثيق کړې دې په يو سل هجرئ کښې دوى وفات شوى دى [3]

۳- باب: الأُضْحِيَّةِ لِلْمُسَافِرِ وَالنِّسَاءِ

[٥٢٢٨] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - دَخَلَ عَلَيْهَا وَحَاضَتْ بِسَرِفَ، قَبْلَ أَنْ تَدْخُلَ مَكَّةَ وَهْىَ تَبْكِى فَقَالَ «مَا لَكِ أَنَفِسْتِ». قَالَتْ نَعَمْ. قَالَ «إِنَّ هَذَا أَمْرٌ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ، فَاقْضِى مَا يَقْضِى الْحَاجُّ غَيْرَ أَنْ لاَ تَطُوفِى بِالْبَيْتِ». فَلَمَّا كُنَّا بِمِنًى

---

[1] عمدة القارى: ج ٢١ ص ١٤٤)

[2] فتح البارى (ج ١ ص ٤)_

[3] ددوى دحالاتو دپاره اوګورئ تاريخ البخارى الكبير (ج ص ١٤٩) اكمال ابن ماكولا: (ج ١ ص ٣٣٦) والكاشف (ج ١ ص ١٦٠) وتهذيب التهذيب (ج ١ ص ٤٧٣) وتهذيب الكمال (ج ٤ ص ١٩١)_

أُتِيتُ بِلَحْمِ بَقَرٍ، فَقُلْتُ مَا هَذَا قَالُوا ضَحَّى رَسُولُ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - عَنْ أَزْوَاجِهِ بِالْبَقَرِ.[ر: ۲۹۰]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې امام بخاری رحمه الله په دې ترجمة الباب سره دهغه خلقو تردید کوی څوک چې وائی چې په ښځو باندې قرباني واجب نه ده[1]

علامه عینی رحمه الله فرمائی چې امام بخاری مقصدپه مسافراوښځو باندې دقربانۍ وجوب ثابتوی[2]

د مسافرد پاره د قربانۍ حکم : په مسافر باندې دقربانۍ دوجوب په باره کښې امامانو اختلاف دې

① دامام شافعي رحمه الله په نيزدمسافردپاره هم قرباني مسنون ده لكه څنګه چې دمقيم دپاره سنت ده[3]

② دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزقرباني صرف په مقيم باندې واجب ده په مسافرباندې نشته دامام مالک قول هم ددې مطابق دې[4]

دښځو دقربانۍ حکم : دويمه مسئله دښځودقربانۍ ده دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزپه ښځوباندې قرباني واجب ده اوامام شافعي وغيره خومطلقا دقربانۍ دوجوب قائل نه دى هغوى دښځودپاره دامستحب ګڼړی[5]

په ترجمة الباب اوحديث كښې مناسبت نشته ځكه چې په حديث ددم تمتع ذكردې داضحيه (قربانۍ) نه دې

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې په حديث كښې چې دکومې بقره دذبح ذكردې داداضحيه (قربانۍ) په طورباندې وه.دهدی دم تمتع په طورباندې نه وه[6]

دلته خوحافظ دافرمائيلی دی خوپه كتاب الحج كښې هغوى دې خبرې ته ترجيح وركړې ده چې داذبح دهدی دتمتع په حيثت سره وه،[7]

حضرت شيخ الحديث مولانامحمدزكريا رحمه الله فرمائی چې دامام بخاری رحمه الله عام عادت داهم دې چې دوى دظاهرى لفظ نه استدلال كوى اوچونكه په حديث كښې لفظ دضحى راغلې دې ددې وجې هغوى په اضحيه باندې استدلال كوى دوى ليكى :

ان من داب الامام البخاری ایضا الاستدلال بظاهر اللفظ والوارد فی الحدیث لفظ ضحی»[8]

---

[1] فتح الباری (ج ۱۰ص ۶)_
[2] عمدة القاری (ج ۲۱ص ۱٤۶)_
[3] المجموع شرح المهذب باب الاضحية (ج۸ص ۳۸۳) _
[4] المجموع شرح المهذب باب الاضحية (ج۸ص ۳۸۳) _
[5] عمدة القاری (ج ۲۱ص ۱٤۶)_
[6] فتح الباری (ج ۱۰ص ۶۰) _
[7] الابواب والتراجم (ج۲ص ۹٤) _
[8] الابواب والتراجم (ج۲ص ۹٤) _

۴- باب مَا يُشْتَهَى مِنَ اللَّحْمِ يَوْمَ النَّحْرِ

۵۲۲۹ حَدَّثَنَا صَدَقَةُ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ عَنْ أَيُّوبَ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يَوْمَ النَّحْرِ «مَنْ كَانَ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلاَةِ فَلْيُعِدْ». فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ هَذَا يَوْمٌ يُشْتَهَى فِيهِ اللَّحْمُ - وَذَكَرَ جِيرَانَهُ - وَعِنْدِي جَذَعَةٌ خَيْرٌ مِنْ شَاتَيْ لَحْمٍ. فَرَخَّصَ لَهُ فِي ذَلِكَ، فَلاَ أَدْرِي أَبَلَغَتِ الرُّخْصَةُ مَنْ سِوَاهُ أَمْ لاَ، ثُمَّ انْكَفَأَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - إِلَى كَبْشَيْنِ فَذَبَحَهُمَا، وَقَامَ النَّاسُ إِلَى غُنَيْمَةٍ فَتَوَزَّعُوهَا أَوْ قَالَ فَتَجَزَّعُوهَا. [ر: ۹۱۱]

دترجمة الباب مقصد : دحديث اوترجمة الباب مقصدواضح دي چې ديوم النحر (دلوئ اختر ورځ) کښې دغوښې خوراک هريوکس ته شوق وی خودامام بخاری رحمه الله ددې ترجمې نه مقصدغالبًا ددې روايت بعضې طرقوکښې راغلی ديوې جملې تشريح ده دمسلم په روايات کښې هغه جمله داسې ده (من هذا يوما اللحم فيه مكروه) [۱] ددې جملې په تشريح کښې مختلف اقوال دی.

① بعضې محدثينوئيلي دی (اللحم) دحاء په فتحې سره دباب سمع نه مصدردې (لحم لحما) ددې معنی دغوښې خوائش کول راځی مطلب دادې چې په دې ورځ دکورخلق بغير دقربانئ نه ساتل داسې چې هغوی دغوښې خوړلوخواهش پيداشی دامکروه دی [۲]
امام بخاری داباب قائم کړلواوددې ذکرشوې جملې تفسيرطرف ته اشاره کوی اګرچه علامه قرطبی فرمائيلی دی چې (لحم) بفتح الخاء، روايت صحيح نه دې [۳]

② دويم قول دادې چې دلته مضاف محذوف دې اوتقديرعبارت داسې دې (طلب الحم فيه مكروه) يعنی په دې ورځ کښې غوښه غوښتل اوطلب کول مکروه دې [۴]
خو داولنی قول تائيدددې.نه هم کيږی چې په بعضې رواياتوکښې (مقروم) لفظ راغلې دې او (قرم اشتهاء اللحم) دغوښې خواهش ته وائی [۵]

قوله: ذکر جيرانه اي ذکر احتياج جيرانه : يعنی هغه دخپلوګاونډيانودفقراواحتياج ذکراوکړوچې مادقربانئ په کولوکښې ځکه جلتی اوکړه چې خپل کوراوګاونډيانوباندې زر غوښه اوخروم.

[۱] صحيح مسلم كتاب الاضاحی باب وقتها رقم الحديث (۱۹۶۱) ج۳ص۱۵۵۲)_
[۲] شرح مسلم للنووی كتاب الاضاحی (ج۲ص ۱۵٤) _
[۳] الابواب والتراجم (ج۲ص ۹٤)
[۴] شرح مسلم للنووی كتاب الاضاحی (ج۲ص ۱۵٤) _
[۵] شرح مسلم للنووی كتاب الاضاحی (ج۲ص ۱۵٤)

قوله: وَعِنْدِي جَذَعَةٌ خَيْرٌ مِنْ شَاتَيْ لَحْمٍ: يعنى ماسره دچيلئ يو بچې دې کوم چې ددواؤ چيلو دغوښې نه بهتردې اوصحت مند دې ـ

قوله: وَقَامَ النَّاسُ إِلَى غُنَيْمَةٍ فَتَوَزَّعُوهَا أَوْ قَالَ فَتَجَزَّعُوهَا: يعنى خلق چيلوته لاړل اوهغه ئې تقسيم کړې «دذبح کولو دپاره» يائې وئيلې دى دتجزع معنى ده ټکړې ټکړې کول دلته دې نه دذبح کولو دپاره دچيلوجداجدا کول مراد دى.

٥- باب مَنْ قَالَ الأَضْحَى يَوْمَ النَّحْرِ

[۵۲۳۰] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلاَمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنِ ابْنِ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ - رضى الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «الزَّمَانُ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خَلَقَ اللَّهُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ، السَّنَةُ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا، مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ، ثَلاَثٌ مُتَوَالِيَاتٌ ذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ، وَرَجَبُ مُضَرَ الَّذِى بَيْنَ جُمَادَى وَشَعْبَانَ، أَىُّ شَهْرٍ هَذَا». قُلْنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ، قَالَ «أَلَيْسَ ذَا الْحِجَّةِ». قُلْنَا بَلَى. قَالَ «أَىُّ بَلَدٍ هَذَا». قُلْنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ، قَالَ «أَلَيْسَ الْبَلْدَةَ». قُلْنَا بَلَى. قَالَ «فَأَىُّ يَوْمٍ هَذَا». قُلْنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ «أَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ». قُلْنَا بَلَى. قَالَ «فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ - قَالَ مُحَمَّدٌ وَأَحْسِبُهُ قَالَ - وَأَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ، وَسَتَلْقَوْنَ رَبَّكُمْ فَيَسْأَلُكُمْ عَنْ أَعْمَالِكُمْ، أَلاَ فَلاَ تَرْجِعُوا بَعْدِى ضُلاَّلاً، يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ، أَلاَ لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ، فَلَعَلَّ بَعْضَ مَنْ يَبْلُغُهُ أَنْ يَكُونَ أَوْعَى لَهُ مِنْ بَعْضِ مَنْ سَمِعَهُ - وَكَانَ مُحَمَّدٌ إِذَا ذَكَرَهُ قَالَ صَدَقَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - ثُمَّ قَالَ - أَلاَ هَلْ بَلَّغْتُ أَلاَ هَلْ بَلَّغْتُ». [ر: ٦٧]

دقربانئ ورځې: څوورځوپورې قربانئ جائزده په دې کښې داامامانو اختلاف دې

① دامام ابوحنيفه، امام مالک او امام احمد رحمهم الله په نيزددريوورځوپورې قربانى کيدې شى[1]

② دامام شافعى رحمه الله په نيزترڅلورو ورځوپورې قربانى کيدې شى يوم النحراوددې نه پس درې ورځې[2]

③ دابن سيرين، داودظاهرى اوسعيدبن جبير رحمهم الله په نيز دقربانئ صرف يوه ورځ يوم النحرده. امام بخارى رحمه الله دغه دااختيار کړې دې[3]

---

[1] عمدة القارى (ج۲۱ص۱٤۷) ونيل الاطار: كتاب المناسك، باب بيان وقت الذبح (ج ۵ص۱٤۲)_

[2] عمدة القارى (۲۱۱٤۸)_

[3] عمدة القارى (۲۱۱٤۸)_

هغوى په حديث باب باندې استدلال کړې دې په کوم کښې چې دى «اليس يوم النحر؟ قلنا بلى» په دې کښې «يوم» هغوى نحر طرف ته مضاف کړې ده اوپه «النحر» کښې لام لام دجنس دې يعنى دنحر طرف يوه ورځ ده [1]

خو دجمهورو دطرف نه ددې جواب دادې چې دلته د«النحر» نه نحر کامل مراددې لام دکمال دپاره په کثرت سره استعماليږى [2]

دامام شافعى رحمه الله په نيزد قربانئ څلورورځې دى دوى په صحيح ابن حبان کښې دحضرت جبيربن مطعم رضى الله عنه په روايت استدلال کوى چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم «كل فجاج منى منحر وفى كل ايام التشريق ذبح» [3]

خودا روايت عبدالرحمن بن ابى حسن دحضرت جبير رضى الله عنه سره نه دې نقل شوې نو داحديث منقطع شو [4]

ددې دويم استدلال په بيهقى کښې دحضرت عبدالله بن عباس رضى الله عنهما په روايت باندې دې چې هغوى فرمائيلى دى «الاضحى ثلاثة ايام بعد يوم النحر» [5]

دائمه ثلاثه استدلال دحضرت على رضى الله عنه په اثرباندې دې دوى فرمائيلى دى «ايام النحر ثلاثة ايام النحر ثلاثه ايام اولهن افضلهن» دحضرت ابن عباس اوحضرت عبدالله بن عمر رضى الله عنهم نه هم دغه شان روايت منقول دې [6]

قال محمد واحسبه يعنى راوى دحديث محمدبن سرين فرمائى چې زماخيال دې چې حضرت ابن ابى بكر رضى الله عنه په خپل حديث کښې د«اعراضكم» لفظ هم فرمائيلې دې لکه چې د«دماءكم واموالكم» په باره کښې خوهغوى ته يقين دې اود«اعراضكم» په باره کښې ئې شک دې دامحمدبن سرين رحمه الله په «احسبه» سره ښکاره کړې دې.

باب الْأَضْحَى وَالْمَنْحَرِ بِالْمُصَلَّى

[۵۲۳۱] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ الْمُقَدَّمِيُّ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ قَالَ كَانَ عَبْدُ اللَّهِ يَنْحَرُ فِي الْمَنْحَرِ. قَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ يَعْنِي مَنْحَرَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم

[1] عمدة القارى (ج۲۱ص۱٤۸)
[2] عمدة القارى (ج۲۱ص۱٤۸)
[3] نيل الاوطار : كتاب المناسک.باب بيان وقت الذبح (ج۵ص۱٤۲) وعمدة القارى (ج۲۱ص٤۸)وسنن الكبرى للبيقى. كتاب الضحايا باب من قال الاضحى جائز يومالنحر (ج۹۹ص۲۹۵) _
[4] نصب الراية كتاب الحج باب الهدى (ج۳ص۱٦۲) واعلاء السنن (ج ۱۷ص ۲۳٤) وتلخيص الحبير حافظ ابن حجر رحمه الله په دې کښې فرمائى (وهذا الزيادة بمحفوظة كتاب الضحايا (ج ٤ص۱٤۲) و(ج۱ص۲۱٦)_
[5] عمدة القارى وسنن بيهقى كتاب الضحايا (ج۹ص۹٦) _
[6] عمدة القارى ج۲۱ص۱٤۸)_

[۵۲۳۲] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ كَثِيرِ بْنِ فَرْقَدٍ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ - رضي الله عنهما - أَخْبَرَهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَذْبَحُ وَيَنْحَرُ بِالْمُصَلَّى. [ر: ۹۳۹]

په دې باب کښې دقربانۍ بيان دې. اوداهم بيان شوې دې چې دقربانۍ ذبح کولوځائې عيدګاه ده، دترجمة الباب مقصد بيانوې، علامه عينى رحمه الله فرمائى

والمقصود من هذه الترجمة بيان السنة فى ذبح الامام وهوان ينحر فى المصلى لئلا يذبح احد قبله ليذبحوا بعده بيقين وليتعلموا ايضا صفة الذبح فانه مما يحتاج فيه الى البيان[1]

دباب په رومبى حديث کښې دى چې حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به هغه ځائې کښې قربانى کوله چې کوم ځې کښې به چې حضرت نبى کريم صلى الله عليه وسلم ښناوروذبح کولو.

۷-باب فِي أُضْحِيَّةِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - بِكَبْشَيْنِ أَقْرَنَيْنِ وَيُذْكَرُ سَمِينَيْنِ

وَقَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ بْنَ سَهْلٍ قَالَ كُنَّا نُسَمِّنُ الأُضْحِيَّةَ بِالْمَدِينَةِ، وَكَانَ الْمُسْلِمُونَ يُسَمِّنُونَ.

[۵۲۳۳][2] حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ - رضي الله عنه - قَالَ كَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يُضَحِّي بِكَبْشَيْنِ وَأَنَا أُضَحِّي بِكَبْشَيْنِ.

[۵۲۳۴] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - انْكَفَأَ إِلَى كَبْشَيْنِ أَقْرَنَيْنِ أَمْلَحَيْنِ فَذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ. تَابَعَهُ وُهَيْبٌ عَنْ أَيُّوبَ. وَقَالَ إِسْمَاعِيلُ وَحَاتِمُ بْنُ وَرْدَانَ عَنْ أَيُّوبَ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ أَنَسٍ. [۵۲۳۸، ۵۲۴۴، ۵۲۴۵، ۶۹۶۴، وانظر: ۵۲۴۱]

[۵۲۳۵] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ - رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - أَعْطَاهُ غَنَمًا يَقْسِمُهَا عَلَى صَحَابَتِهِ ضَحَايَا، فَبَقِيَ عَتُودٌ فَذَكَرَهُ لِلنَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ «ضَحِّ أَنْتَ بِهِ». [ر: ۲۱۷۸]

---

[1] عمدة القارى ج۲۱ص۱۴۹ _

[2] الحديث اخرجه البخارى ايضا فيه رقم الحديث :۵۲۳۴) وايضا فى باب من ذبح الاضاحى بيده (رقم الحديث: ۵۲۳۸).وايضا فى وضع القدم صفع الذبيحه (رقم الحديث: ۵۲۴۴) وايضافى باب التكبيرعند الذبائح (رقم الحديث :۵۲۴۵) وايضافى باب من ذبح قبل الصلوة واعاد(۵۲۴۱).

دترجمة الباب مقصد: ددې ترجمة الباب دوه مقصدونه بیان کړې شوی دی.

① حضرت امام بخاری رحمه الله وئیل غواړی چې «کبش» یعنی دګډې قربانی افضله ده،امام ترمذی رحمه الله نه یوروایت هم نقل شوې دې «خیرالاضیة الکبش»

② دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصد داهم کیدیشی چې دقربانۍ څناوردې ښه څورب وی.نوپه یوحدیث کښې دی چې «سمنوا ضحایاکم فانهاعلی الصراط مطایاکم» اګرچه داحدیث ضعیف دې،حضرت امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب نه پس دحضرت ابوامامه رضی الله عنه حدیث ذکرکوی اودې طرفته اشاره فرمائی.

علامه ابن عابدین رحمه الله فرمائی که دغواحصه اوچیلۍ دواړه په قیمت کښې اوغوښه کښې برابر وی نوبیا چلیۍ افضل ده.ځکه چې وړه غوښه دغټې غوښې په مقابله کښې به ښه ګڼړلې شی. لیکن که دغوا دحصې غوښه زیاته وی نوبیاهغه افضل ده.ګډ دګډې نه افضل دې اوچیلې دچیلۍ نه افضل دې،داپه هغه وخت کښې دی کله چې غوښه اوقیمت دواړه برابروی [1]

قوله: وقال یحیی بن سعید، سمعت اباامامة بن سهل: دابوامامه نوم اسعددې،اودې صحابی دې،حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم ددۀ نامه مبارکه اېښودې وه. اودبرکت دپاره ئې دعاکړې وه. ابن التین دوی په کبارویعنی تابعینو کښې شمیرکړې دې.[2] داتعلیق ابونعیم موصولانقل کړې دې [3]

قوله: انکفا الی کبشین اقرنین املحین فذبحهما بیده: په اصحاب صحاح کښې داحدیث صرف حضرت امام بخاری رحمه الله نقل کړې دې [4] یعنی حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم دوه ښکروولا اوچتوګډانو طرفته متوجې شو اودواړه ئې په خپل لاس سره ذبح کړل.

«انکفا ای مال وانعطف» متوجې شو «املحین» املح هوالذی فیه سواد وبیاض [5]

جوهری وائی چې «الاملح الابیض یخالط بیاضه سواده» [6] اوابوعبیده دکسائی نه نقل کړی دی چې «الاملح الذی فیه البیاض والسواد ویکون البیاض اکثر»[7]

قوله: تابعه وهیب عن ایوب: یعنی عبدالوهاب متابعت دوهیب بن خالد کړې دې.هغوی

---

[1]) ردالمختار کتاب الاضحیه : ج۵ص۲۷).
[2]) عمدة القاری : ج۲۱ص ۱۵۰) _
[3]) فتح الباری :ج۱۰ص۱۲) _
[4]) فتح الباری :ج۱۰ص۱۲)_
[5]) عمدة القاری : ج۲۱ص۱۵۰) _
[6]) عمدة القاری : ج۲۱ص ۱۵۰) _و فتح الباری :ج۱۰ص۱۲)
[7]) عمدة القاری : ج۲۱ص۱۵۱)، والنهایة الابن الاثیر:ج ٤ص ۳۵٤).

هم دایوب سختیانی نه دا روایت نقل کړي دي. اسماعیلی دا متابعت موصولا نقل کړي دي.[۱]

قوله: (وقال اسماعیل وحاتم وایوب عن ابن سرین عن انس رضی الله عنه): دلته (قال) او وئیل. حالانکه د دي نه مخکښي (تابعه) وئیلي دی. د وا ړو کښي فرق دے چي قول علی السبیل المذاکره استعمالیږی او متابعت د حدیث نقل کولو د پاره استعمالیږی. د اسماعیل بن علیه تعلیق حضرت امام بخاری رحمه الله خلوربابونو نه پس موصولا نقل کړي دي. او حاتم بن وردان حدیث امام مسلم رحمه الله موصولا نقل کړي دي.[۲]

قوله: فبقی عتود: عتود د چیلۍ هغه بچی ته وائی چې هغه د کال نه وی، ابن بطال فرمائی چې عتود د چیلۍ د پنځو میاشتو بچی ته وائی.[۳]

۸- باب قَوْلِ النَّبِیِّ -صلی الله علیه وسلم- لأَبِی بُرْدَةَ «ضَحِّ بِالْجَذَعِ مِنَ الْمَعَزِ وَلَنْ تَجْزِیَ عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ»

[۵۲۳۶] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مُطَرِّفٌ عَنْ عَامِرٍ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ -رضی الله عنهما- قَالَ ضَحَّى خَالٌ لِی يُقَالُ لَهُ أَبُو بُرْدَةَ قَبْلَ الصَّلاَةِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم- «شَاتُكَ شَاةُ لَحْمٍ». فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ عِنْدِی دَاجِنًا جَذَعَةً مِنَ الْمَعَزِ. قَالَ «اذْبَحْهَا وَلَنْ تَصْلُحَ لِغَيْرِكَ». ثُمَّ قَالَ «مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلاَةِ فَإِنَّمَا يَذْبَحُ لِنَفْسِهِ، وَمَنْ ذَبَحَ بَعْدَ الصَّلاَةِ فَقَدْ تَمَّ نُسُكُهُ، وَأَصَابَ سُنَّةَ الْمُسْلِمِينَ».

تَابَعَهُ عُبَيْدَةُ عَنِ الشَّعْبِیِّ وَإِبْرَاهِيمَ. وَتَابَعَهُ وَكِيعٌ عَنْ حُرَيْثٍ عَنِ الشَّعْبِیِّ. وَقَالَ عَاصِمٌ وَدَاوُدُ عَنِ الشَّعْبِیِّ عِنْدِی عَنَاقُ لَبَنٍ. وَقَالَ زُبَيْدٌ وَفِرَاسٌ عَنِ الشَّعْبِیِّ عِنْدِی جَذَعَةٌ. وَقَالَ أَبُو الأَحْوَصِ حَدَّثَنَا مَنْصُورٌ عَنَاقٌ جَذَعَةٌ. وَقَالَ ابْنُ عَوْنٍ عَنَاقٌ جَذَعٌ، عَنَاقُ لَبَنٍ.

[۵۲۳۷] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَلَمَةَ عَنْ أَبِی جُحَيْفَةَ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ ذَبَحَ أَبُو بُرْدَةَ قَبْلَ الصَّلاَةِ فَقَالَ لَهُ النَّبِیُّ -صلی الله علیه وسلم- «أَبْدِلْهَا». قَالَ لَيْسَ عِنْدِی إِلاَّ جَذَعَةٌ -قَالَ شُعْبَةُ وَأَحْسِبُهُ قَالَ- هِیَ خَيْرٌ مِنْ مُسِنَّةٍ. قَالَ «اجْعَلْهَا مَكَانَهَا، وَلَنْ تَجْزِیَ عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ».

وَقَالَ حَاتِمُ بْنُ وَرْدَانَ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِیِّ -صلی الله علیه وسلم- وَقَالَ عَنَاقٌ جَذَعَةٌ. [ر: ۹۰۸]

قوله: (معز): چیلۍ ته وائی او (ضان) ګډې ته. د چیلۍ او ګډې د شپږو میاشتو بچي ته (جذع)

---

[۱] عمدة القاری: ج۲۱ ص۱۵۱). و فتح الباری: ج۱۰ ص۱۳).

[۲] عمدة القاری: ج۲۱ ص۱۵۱).

[۳] فتح الباری: ج۱۰ ص۱٤). عمدة القاری: ج۲۱ ص۱۵۱).

وائى دچيلئ اوګډې ديو كال بچې ته (ثنى) وائى.داشان دغواد دوؤكالو بچى ته اوداوښ دپنځو كالو بچى ته (ثنى) وائى، اوددې نه كم عمروالاته (جذع) وائى.[1]
حضرات فقهاء كرام په دې خبره باندې اتفاق كوى چې دجذع قربانى صرف دګډصحيح ده.په چيلئ اواوښ اوغواكښې جذع كافى نه ده بلكه ددې (ثنى) كيدل ضرورى دې.
داحضرات دحضرت ابوهريره رضي الله عنه دروايت نه استدلال كوى.حضرت نبى كريم فرمائيلى دى چې (نعمت الاضحية الجذع من الضان) [2]
هم داشان دابن ماجه روايت كښې دى چې (يجوز الجذع من الضان ضحية) [3].
داحضرات مسلم شريف كښې دحضرت جابر رضي الله عنه دروايت نه داستدلال كوى. (لاتذبحو االامسنة الا ان يعسرعليكم فتذبحوا جذعة من الضان) [4]په دې كښې دجذعة دقربانئ اجازت وركړې شوې دې، چې كله دمسنه حصول مشكل وى.
جمهوردحضرت جابر رضي الله عنه حديث لره استحباب اوافضيلت باندې محمول كوى.[5]
په حديث باب كښې حضرت ابوبرده رضي الله عنه ته دچيلئ دجذعة اجازت وركړې شوې دې. ليكن څنګه چې په حديث كښې وضاحت دې.داددوى خصوصيت وو.حضرت نبى كريم ﷺ فرمائيلى دى چې (ولن تجزئ عن احدبعدك)

قوله: شاتك شاة لحم: يعنى ستاچيلئ دغوښې چيلئ ده. قربانى ستاونه شوه (داجن الشاة التى تالف البيوت وتستانس وليس لهاسن معين) يعنى هغه چيلئ چې په كوركښې اوپاللې شى هغى ته داجن وئيلې شى [6]

قوله: تابعه عبيدة عن الشعبى وابراهيم: يعنى عبيده بن ابن معتب دشعبى اوابراهيم نخعى نه دمطرف متابعت كړې دې.ابراهيم نخعى دامتابعت منقطع كړې دې. څكه چې هغوى دهيڅ يوصحابي نه هيڅ روايت براه راست نه دې نقل كړې،ابن المدينى ددوى باره كښې پاتې شوې دې [7]

---

[1]) مذكوره تفصيل دپاره اوګورئى بذل المجهود: ج١٣ص١٨. داتفسيردحنابله اوحنيفه په نيزدې. دشوافع اومالكيه په نيزجذع ديوكال بچې ته وائى.اوګورئى الاقناع للشربينى :ج٢ص٢٥٩. وشرح مسلم للابى :ج٥ص ٢٩٤. ومجمع بحارالانوارج١ص٣٣٥. والنهاية : ٢٥٠. والمغنى لابن قدامة :ج٩ص٣٤٩)_
[2]) سنن الترمذى،كتاب الاضحى،باب ماجاءفى الجذع من الضان فى الاضحى:ج٤ص٤٧،رقم الحديث :١٤٩٩)
[3]) سنن ابن ماجه.كتاب الاضحى باب ماتجزئ من الضحى (رقم الحديث :٣١٣٩) ورجاله ثقات كمافى نيل الاوطار:ج٤ص ٣٤٦).
[4]) فتح البارى :ج١٠ص١٨. اوداشان اوګورئ المغنى لابن قدامة :ج ص٣٤٨)_
[5]) صحيح مسلم.كتاب الاضحى،باب سنن الاضحية (:١٩٦٣) _
[6]) عمدة القارى : ج٢١ص١٥٢)،
[7]) تهذيب الكمال :ج٢ص٢٣٧،وطبقات ابن سعد :ج٦ص ٢٧١،وتاريخ البخارى الكبير:ج١ص٣٣٤).

ابوحاتم فرمائی چې «ادرك انسا ولم يسمع منه»([1])يحيى بن معين فرمائی چې «مراسل ابراهيم احب الی من مراسيل الشعبی»([2])دعبيده بن معتب په بخاری کښې هم دابوتعليق دې.([3])

قوله: تابعه وكيع عن حريث عن الشعبي : يعنی وكيع دعبيده متابعت کړې دې. داابوالشيخ موصولانقل کړې دی.([4])

حريث بن عمرواسدی ابن معين ددهٔ متعلق اوفرمائيل چې «لاشئ»([5])

ابوحاتم فرمائی چې «ضعيف الحديث»([6])

امام نسائی فرمائی چې «متروك الحديث»([7])

امام ترمذی اوابن ماجه ددوی روايات نقل کړی دي([8])په بخاری کښې ددوی صرف دابوتعليق دې([9])

قوله:وقال عاصم وداود عن الشعبي :عندي عناق لبن : په پورته روايت کښې دی چې حضرت ابوبرده نبی کريم ﷺ ته عرض کړې ووچې «ان عندی داجنا جذعة من المعز» اوعاصم اوداود په روايت کښې دی چې «عندی عناق لبن»پۍ الفاظ دی.

قوله:عناق : دچيلۍ هغه بچی ته وئيلې شی چې دهغې عمريوکال نه کم وی د«لبن» طرفته اشاره داضافت کوی اوددې صغرسنی طرفته اشاره کول مقصوددی.

داودی وائی چې عناق دمونث اومذکردواړو دپاره استعماليږی.

دعاصم اودواود داتعليق امام مسلم رحمه الله موصولا نقل کړې دې([10])

قوله: وَقَالَ زُبَيْدٌ وَفِرَاسٌ عَنِ الشَّعْبِي عِنْدِي جَذَعَةٌ: زبيدبن الحارث اوفراس تعليق لره حضرت امام بخاری رحمه الله موصولانقل کړې دې.

قوله: وَقَالَ أَبُو الأَحْوَصِ حَدَّثَنَا مَنْصُورٌ عَنَاقٌ جَذَعَةٌ: په دې تعليق کښې دوه لفظونه دی.هغه هم حضرت امام بخاری رحمه الله موصولا نقل کړې دې.

---

[1]) عمدة القاری : ج۲۱ص۱۵۲).

[2]) تهذيب الكمال :ج۲ص۲۳۷،وتهذيب التهذيب :ج۱ص۱۷۷، وسيرعلام النبلاء :ج٤ص٥٤۲).

[3]) فتح الباری ج۱۰ص۲۰)

[4]) فتح الباری ج۱۰ص۲۰) _

[5]) الجرح والتعديل :۳الترجمة: ۱۱۷۹، وتهذيب الكمال :ج۵ص۵۶۳، الترجمة ۱۱۷۳).

[6]) الجرح والتعديل :۳الترجمة: ۱۱۷۹.

[7]) ضعفاء الحديث للنسائی،الترجمة :۱۲۰، وتهذيب الكمال :ج۵ص ۵۶٤) _

[8]) تهذيب الكمال ج۵ص۵۶۵) _

[9]) عمدة القاری:ج۲۱ص۱۵۲)_

[10]) عمدة القاری:ج۲۱ص۱۵۲)_

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَوْنٍ عَنَاقٌ جَذَعٌ، عَنَاقُ لَبَنٍ: په دې تعليق كښې دوه الفظونه جمع شوى دى. (عناق او جذع) موصوف صفت دى او (عناق لبن) مركب اضافى دې.
حضرت امام بخارى رحمه الله داپه كتاب الايمان كښې موصولا نقل كړى دى.

قوله: وَقَالَ حَاتِمُ بْنُ وَرْدَانَ.........عَنَاقٌ جَذَعَةٌ: په دې كښې عناق اوجذعة دوه لفظونه استعمال شوى دى په تركيب كښې (جذعة) د (عناق) دپاره عطف دې. امام مسلم رحمه الله داتعليق موصولا نقل كړې دې.(١)

٩- بَاب مَنْ ذَبَحَ الأَضَاحِيَ بِيَدِهِ.

[٥٢٣٨] حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ قَالَ ضَحَّى النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ، فَرَأَيْتُهُ وَاضِعًا قَدَمَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا يُسَمِّي وَيُكَبِّرُ، فَذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ.[ر: ٥٢٣٣]

قربانى په خپل لاس سره ذبح كول مندوب اوبهتردى. په دې شرط چې دذبح طريقه ورځى.خپله په خپل لاس سره ذبح كول شرط نه دى. حضرت نبى كريم ﷺ په خپل لاس سره دوه ګډان ذبح كړى وو.لكه څنګه چې په حديث باب كښې دى.دمالكيه په يوروايت كښې پخپله ذبح كول شرط دى.(٢)

قوله: صِفَاحِهِمَا: داد صفحة جمع ده (وصفحة كل شئ) جانبه.
علامه عينى رحمه الله يو اشكال اودهغې جواب تحرير كوى اوفرمائى چې:

((وقيل: الذابح لايضع رجله الاعلى صفحة فلم قال: على صفاحهما واجيب لعله على مذهب من قال ان اقل الجمع اثنان كقوله تعالى (فقد صغت قلوبكما) فكانه قال: صفحتيهما واضافة المثنى الى المثنى تفيد التوزيع فكان معناه وضع رجله على صفحة كل منهما والحكمة فيه التقوى على الاظهار عليها ويكون اسرع لموتها وليس ذالك من تعذيبها المنهى عنه اذلايقدر على ذبحها الابعتنيبها))(٣)

يعنى لفظ (صفاح) جمع دې اودا مفردذكركول پكاردى څكه چې ذبح كونكى ددې په يوطرف باندې قدم ايږدى.ددې جواب وركړې شوچې دجمع صيغه ددواؤدپاره استعماليږى څكه چې دبعضې عالمانوپه نيزدوه اقل جمع ده لكه څنګه چې دقران پاك په آيت مبارك كښې دى چې (فقد صغت قلوبكما) اوپه دې كښې (قلوب) جمع ده اوددې نه دوه قلب مراد دى.
اود تثنيه اضافت چې كله دتثنيه طرفته وى نوداد توزيع اوتقسيم فائده وركوى. يعنى چې

(١) عمدة القارى: ٢١ص ١٥٤)_
(٢) عمدة القارى: ٢١ص ١٥٤)_
(٣) عمدة القارى: ٢١ص ١٥٤)_

دوه څیزونه دواړ څیزونو طرفته منسوب کړې شی نو هریو حصه کښې به یویورازی. دلته (صفحتین) تثنیه دوه کبشین طرفته منسوب کړې شوې ده نو دهرکبش حصه کښې یوصحفه راغله او معنی داشوه چې دوی په هریو صحفه باندې قدم کیخودو. داشان قدم ایښودو سره دځناور مرګ زر واقع کیږی زر. داپه هغه تعذیب حیوان کښې داخل نه وی چې دکوم ممانعت کړې شوې دې. ځکه چې ځناور ذبح کولو سره ددارنګ تعذیب نه خلاصی نشته.

(۱۰) باب مَنْ ذَبَحَ ضَحِيَّةَ غَيْرِهِ.

وَأَعَانَ رَجُلٌ ابْنَ عُمَرَ فِي بَدَنَتِهِ. وَأَمَرَ أَبُو مُوسَى بَنَاتِهِ أَنْ يُضَحِّينَ بِأَيْدِيهِنَّ.

[۵۲۳۹] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضي الله عنها - قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِسَرِفَ وَأَنَا أَبْكِي، فَقَالَ «مَا لَكِ أَنَفِسْتِ». قُلْتُ نَعَمْ. قَالَ «هَذَا أَمْرٌ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ اقْضِي مَا يَقْضِي الْحَاجُّ غَيْرَ أَنْ لاَ تَطُوفِي بِالْبَيْتِ». وَضَحَّى رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَنْ نِسَائِهِ بِالْبَقَرِ. [ر: ۲۹۰]

حضرت امام بخاری رحمه الله داباب راوړو اواشاره فرمائی چې سابقه باب کښې په خپل لاس سره ذبح کولو چې کومه طریقه ذکرشوې ده. هغه دقربانۍ دصحت دپاره شرط نه ده هرڅوک ددې دطرفنه ذبح کولې شی.[۱] البته داسې صورت کښې مندوب هم دادی چې قربانی کولو والا پخپله په دې موقع حاضروی.

حضرت نبی کریم ﷺ حضرت فاطمه رضی الله عنها ته فرمائیلی ووچې «قومی الی اضحیتك فاشهدیها فانه یغفرلك عند اول قطرة تقطر من دمها کل ذنب عملتیه»[۲]

قوله: أَعَانَ رَجُلٌ ابْنَ عُمَرَ فِي بَدَنَتِهِ: حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دبدنه قربانی کوله. یوسړی دوی سره مدداوکړو. کله چې په قربانۍ کښې تعاون کولو اودچانه مدداخستل جائزدی نونائب جوړول هم جائزدی. داشان ددې تعلیق مطابقت ددې باب نه واضح کیږی[۳] داتعلیق عبدالرزاق موصولانقل کړې دې[۴]

قوله: وَأَمَرَ أَبُو مُوسَى بَنَاتِهِ أَنْ يُضَحِّينَ بِأَيْدِيهِنَّ: ددې اثرترجمة الباب سره هیڅ مناسبت نشته دې بلکه دترجمة الباب نه بلکل برعکس دې ځکه چې په ترجمة الباب کښې په قربانۍ کښې دنیابت مسئله بیان شوې ده، حالانکه په دې کښې پخپله دقربانۍ کولو حکم دې[۵]

---

[۱] الابواب والتراجم: ج۲ص۹۵)_
[۲] المستدرک للامام الحاکم کتاب الاضحی: ج٤ص۲۲۲)-
[۳] فتح الباری: ج۱۰ص۲۳)_
[۴] فتح الباری: ج۱۰ص۲۳)_
[۵] فتح الباری: ج۱۰ص۲۳)_

۱۱ باب: الذبح بعد الصلاة

[۵۲۴۰] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ الْمِنْهَالِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي زُبَيْدٌ قَالَ سَمِعْتُ الشَّعْبِيَّ عَنِ الْبَرَاءِ - رضى الله عنه - قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَخْطُبُ فَقَالَ «إِنَّ أَوَّلَ مَا نَبْدَأُ مِنْ يَوْمِنَا هَذَا أَنْ نُصَلِّيَ، ثُمَّ نَرْجِعَ فَنَنْحَرَ، فَمَنْ فَعَلَ هَذَا فَقَدْ أَصَابَ سُنَّتَنَا، وَمَنْ نَحَرَ فَإِنَّمَا هُوَ لَحْمٌ يُقَدِّمُهُ لأَهْلِهِ، لَيْسَ مِنَ النُّسْكِ فِي شَىْءٍ». فَقَالَ أَبُو بُرْدَةَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ذَبَحْتُ قَبْلَ أَنْ أُصَلِّيَ، وَعِنْدِي جَذَعَةٌ خَيْرٌ مِنْ مُسِنَّةٍ. فَقَالَ «اجْعَلْهَا مَكَانَهَا، وَلَنْ تَجْزِيَ أَوْ تُوفِيَ عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ». ار: ۹۰۸]

دقربانئ وخت داخترد مونځ نه پس شروع کیږی په دې باب کښې هم داوخت بیانول مقصوددی. لکه څنګه چې په روستی باب کښې تفصیل رازی

روایت باب کښې حضرت براء بن عازب ﷜ فرمائی چې ما حضرت نبی کریم ﷺ نه په خطبه کښې واوریدل چې حضرت نبی ﷺ اوفرمائیل چې نن ورځ به مونږ اول مونځ کوؤ بیا به واپس څواوقربانی به کوؤ. چې چا داسې اوکړل نوهغه سنت طریقه اوموندہ اوچې چا ‹دمونځ نه مخکښې قربانی اوکړه نوهغه دخپل کوروالو دپاره دغوښې انتظام اوکړو. په قربانۍ کښې ددهٔ هیڅ حصه نشته دې. ابوبرده عرض اوکړو چې یارسول الله ﷺ چې ماخو دمونځ نه مخکښې قربانی اوکړه اوماسره دچیلۍ یو جذعه ‹دشپږومیاشتوبچې› شته دې چې دمسنه ‹دیوکال› دبچی نه بالکل بهتردې، حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې ته هغه دقربانۍ په بدله کښې ذبح کړه اوستانه پس به هیچاد پاره کافی نه وی.

۱۲- باب مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلاَةِ أَعَادَ.

[۵۲۴۱] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلاَةِ فَلْيُعِدْ». فَقَالَ رَجُلٌ هَذَا يَوْمٌ يُشْتَهَى فِيهِ اللَّحْمُ - وَذَكَرَ مِنْ جِيرَانِهِ فَكَأَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - عَذَرَهُ - وَعِنْدِي جَذَعَةٌ خَيْرٌ مِنْ شَاتَيْنِ فَرَخَّصَ لَهُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَلاَ أَدْرِي بَلَغَتِ الرُّخْصَةُ أَمْ لاَ، ثُمَّ انْكَفَأَ إِلَى كَبْشَيْنِ - يَعْنِي فَذَبَحَهُمَا - ثُمَّ انْكَفَأَ النَّاسُ إِلَى غُنَيْمَةٍ فَذَبَحُوهَا. ار: ۹۱۱، ۵۲۲۳]

[۵۲۴۲] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا الأَسْوَدُ بْنُ قَيْسٍ سَمِعْتُ جُنْدَبَ بْنَ سُفْيَانَ الْبَجَلِيَّ قَالَ شَهِدْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَوْمَ النَّحْرِ فَقَالَ «مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ فَلْيُعِدْ مَكَانَهَا أُخْرَى، وَمَنْ لَمْ يَذْبَحْ فَلْيَذْبَحْ». ار: ۹۴۲]

[۵۲۴۳] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ فِرَاسٍ عَنْ عَامِرٍ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - ذَاتَ يَوْمٍ فَقَالَ «مَنْ صَلَّى صَلاَتَنَا

وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا، فَلاَ يَذْبَحْ حَتَّى يَنْصَرِفَ». فَقَامَ أَبُو بُرْدَةَ بْنُ نِيَارٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَعَلْتُ. فَقَالَ «هُوَ شَيْءٌ عَجَّلْتَهُ». قَالَ فَإِنَّ عِنْدِي جَذَعَةً هِيَ خَيْرٌ مِنْ مُسِنَّتَيْنِ آذْبَحُهَا قَالَ «نَعَمْ، ثُمَّ لاَ تَجْزِي عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ». قَالَ عَامِرٌ هِيَ خَيْرُ نَسِيكَتِهِ.[ر: ۹۰۸]

دقربانۍ وخت: حضرت امام بخاري رحمه الله په دې باب كښې دقربانۍ وخت بيان كړې دې دقربانۍ په وخت كښې دائمه اختلاف دې.

① دحضرات حنيفه په نيزپه ښارونوكښې دقربانۍ وخت داختردمونځ نه پس دې اوپه كلوكښې دصبح صادق دراختونه پس شروع كيږي.(۱)

② دحضرات مالكيه په نيزدامام ددقربانۍ كولونه پس دعام سړي دقربانۍ وخت شروع كيږي،كه چادامام دقربانئى نه مخكښې څناورذبح كړو نوددوى په نيزدوباره به قرباني كوي.(۲)

③ دحضرت امام شافعي رحمه الله په نيزچې كله دنمر د ختونه پس داخترمونځ كړې وى اوكه نه.(۳) دحضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله يوروايت هم ددې مطابق دې (۴)

احاديث باب دحنيفه دلائل دى.دحضرت امام بخارى رحمه الله رجحان هم دې طرفته معلوميږى.

قوله:وَذَكَرَ هَنَةً مِنْ جِيرَانِهِ:(هنة) نه حاجت مراد دې.يعنى هغوى دخپلو ګاونډيانو فقر او احتياج بيان كړوچې هغوى دغوښې حاجت مندوو. ددې وجې ئې زرقربانى اوكړه.

قوله:عذره: يعنى حضرت نبى كريم ﷺ هغه لره معذوره اوګرزولو .(عذر)دباب ضرب نه دې،په معنى دعذرقبلول،

قوله:ثُمَّ لاَ تَجْزِي عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ: دااجازت په حضرات صحابه كراموكښې يوحضرت ابوبرده رضي الله عنه ته وركړې شوې ووااويوحضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه ته چې دهغوى حديث تيرشويدى.(۵)

قوله:قَالَ عَامِرٌ هِيَ خَيْرُ نَسِيكَتِهِ:دحديث راوى حضرت عامرشعبى رحمه الله فرمائى چې داجذعه دابوبرده بهترينه قربانى وه.په دې باندې اشكال كيږى چې (خير) داسم تفضيل صيغه ده.نوددې معنى ده چې دويمه قربانى داولى قربانۍ نه بهتروه.اواوله ذبح شرعى لحاظ سره قربانى نه وه. ددې جواب وركړې شوچې اول ته اګرچه حقيقت كښې قربانى وئيل درست نه دى ليكن صورة دې ته قربانى وئيلې شى. علامه عينى ليكى چه، قيل :اسم التفضيل

---

(۱) بذل المجهود كتاب الضحايا.باب مايجوزفى الضحايا من السن :ج۱۳ص۲۳)_
(۲) الشرح الصغير :ج۹۱ص۹۹) _
(۳) المغنى لابن قدامة :ج۹ص۳۵۸) _
(۴) المغنى لابن قدامة :ج۹ص۳۵۸) _
(۵) صحيح مسلم :(مع التكملة) :ج۳ص ۵۶۰)_

يقتضى الشركة والذبيحة الاولى لم تكن نسيكة اوجيب بانه وان وقعت لحم شاة له فيها ثواب لكونه قاصدا جبران الجيران وهى ايضا عبادة اوصورتها كانت صورة النسيكة(۱)

۱۳- باب وَضْعِ الْقَدَمِ عَلَى صَفْحِ الذَّبِيحَةِ

[۵۲۴۴] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا أَنَسٌ - رضى الله عنه - أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ يُضَحِّي بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صَفْحَتِهِمَا، وَيَذْبَحُهُمَا بِيَدِهِ. [ر: ۵۲۳۳]

۱۴- باب التَّكْبِيرِ عِنْدَ الذَّبْحِ

[۵۲۴۵] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ ضَحَّى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ، وَسَمَّى وَكَبَّرَ وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا. [ر: ۵۲۳۳]

۱۵- باب إِذَا بَعَثَ بِهَدْيِهِ لِيُذْبَحَ لَمْ يَحْرُمْ عَلَيْهِ شَىْءٌ

[۵۲۴۶] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ مَسْرُوقٍ أَنَّهُ أَتَى عَائِشَةَ، فَقَالَ لَهَا يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ إِنَّ رَجُلاً يَبْعَثُ بِالْهَدْىِ إِلَى الْكَعْبَةِ، وَيَجْلِسُ فِى الْمِصْرِ، فَيُوصِى أَنْ تُقَلَّدَ بَدَنَتُهُ، فَلاَ يَزَالُ مِنْ ذَلِكَ الْيَوْمِ مُحْرِمًا حَتَّى يَحِلَّ النَّاسُ. قَالَ فَسَمِعْتُ تَصْفِيقَهَا مِنْ وَرَاءِ الْحِجَابِ فَقَالَتْ لَقَدْ كُنْتُ أَفْتِلُ قَلاَئِدَ هَدْىِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَيَبْعَثُ هَدْيَهُ إِلَى الْكَعْبَةِ، فَمَا يَحْرُمُ عَلَيْهِ مِمَّا حَلَّ لِلرِّجَالِ مِنْ أَهْلِهِ، حَتَّى يَرْجِعَ النَّاسُ. [ر: ۱۶۰۹]

دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصد ددې ترجمة الباب نه دامسئله بيانول دی که څوک سړې دخپلې هدی څناورحرم طرفته ليږی نو په ده باندې هيڅ څيزنه حراميږی. يعنی دهدئی ليږلوپه وجه داحرام پابندئی په ده باندې نه لږی.هدی هغه څناورته وئی چې هغه دذبح کولودپاره حرم ته ليږلې شی.

په حديث باب کښې دحضرت عائشه رضی الله عنها نه حضرت مسروق رحمه الله تپوس کوی چې يوسړی خانه کعبې طرفته هدی ليږی اوخپله په خپل ښار کښې ناست وی،اووصيت کوی ددهٔ د قربانئ دڅناور په غاړه کښې دې قلاده واچولې شی، اوددې ورځې نه دخلقو دحلاليدوپورې دې محرم جوړيږی (نودداسې سړی خپل ځان په حالت داحرام کښې ګڼړل څنګه دی ؟). د مسروق بيان دې چې مادپردې نه دې طرفته دحضرت عائشه رضی الله عنها د لاسونو پړقولو آواز واوريدو (هغوی ډيرد تعجب په طورددې سړی په حالت باندې افسوس اوکړواويولاس ئې په

---

۱) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۵۷).

بل لاس باندې اووهلو. اوې فرمائيل چې مابه رسول الله ﷺ دهدى دځناورپه غاړه كښې هاراچولو .بيابه حضرت نبى كريم ﷺ خپله هدى خانه كعبې طرفته ليږله.اوپه حضرت نبى كريم ﷺ به هيڅ هغه څيزنه حراميدوكوم چې به سړوباندې دخپلوبيبيانونه حلال وى تردې پورې چې خلق به واپس شو .مقصدداووچې داشان دهدى ليږلوسره سړې محرم نه جوړيږى.
حضرت امام بخارى ﷫ داباب قائموى اوپه هغه خلقوباندې ردكوى چې كوم وائى چې هدى حرم طرفته ليږلوسره سړې محرم كيږى.حضرت ابن عمر ﷠ اوحضرت ابن عباس ﷠ نه داقول منقول دې.(١) ليكن دجمهورومسلک هغه دې كوم چې حضرت امام بخارى ﷫ بيان كړې دې.(٢)

١٦-بَاب مَا يُؤْكَلُ مِنْ لُحُومِ الأَضَاحِي وَمَا يُتَزَوَّدُ مِنْهَا.

[٥٢٤٧]حَدَّثَنَا عَلِي بْنُ عَبْدِاللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ عَمْرٌو أَخْبَرَنِي عَطَاءٌ سَمِعَ جَابِرَبْنَ عَبْدِاللَّهِ - رضي الله عنهما - قَالَ كُنَّا نَتَزَوَّدُ لُحُومَ الأَضَاحِي عَلَى عَهْدِالنَّبِي - صلى الله عليه وسلم - إِلَى الْمَدِينَةِ، وَقَالَ غَيْرَمَرَّةٍ لُحُومَ الْهَدْىِ.[ر: ١٦٣٢]

دقربانۍ غوښه كله خوړلې شى؟: دقربانۍ غوښه دترڅوورځوپورې خوړلې شى؟ په دې كښې دائمه اربعه اوجمهورعالمانومسلک دادې چې په دې سلسله كښې دورځوهيڅ تحديدنشته دې تركومې پورې چې خورى نوخوړلې شى.(٣)
دعبدالله بن واقداوبعضې ظاهريه په نيزددريوورځونه زيات ذخيره كول دقربانۍ غوښه خوړل درست نه دى.(٤)
ددوى استدلال ددې روايتونوباندې دې چې په كوموكښې چې ددريوورځونه زيات دذخيره كولوممانعت راغلې دې،لكه امام مسلم ﷫ دحضرت عبدالله بن عمر ﷠ په طريق سره دحضرت نبى كريم ﷺ نه دا ارشادنقل كړې دې چې حضرت نبى كريم ﷺ فرمانيلى دى چې
((لايأكل احدكم من لحم اضحيته فوق ثلاثة ايام))(٥)
خوجمهوردامنسوخ گرځوى لكه څنګه چې دباب په احاديثوكښې تصريح موجوده.

[٥٢٤٨]حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنِ الْقَاسِمِ أَنَّ ابْنَ خَبَّابٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَعِيدٍ يُحَدِّثُ أَنَّهُ كَانَ غَائِبًا، فَقَدِمَ فَقُدِّمَ إِلَيْهِ لَحْمٌ. قَالَ وَهَذَا

---

(١) عمدة القارى ج٢١ص١٥٨)_
(٢) عمدة القارى ج٢١ص١٥٨)_
(٣) عمدة القارى ج٢١ص١٥٨)_
(٤) عمدة القارى ج٢١ص١٥٨)_
(٥) صحيح مسلم.كتاب الاضحى باب بيان ماكان من النهى عن اكل لحوم الاضحى بعد ثلاث فى اول الاسلام...١٩٦٩)

مِنْ لَحْمِ ضَحَايَانَا. فَقَالَ أَخِّرُوهُ لاَ أَذُوقُهُ. قَالَ ثُمَّ قُمْتُ فَخَرَجْتُ حَتَّى آتِيَ أَخِي قَتَادَةَ - وَكَانَ أَخَاهُ لأُمِّهِ، وَكَانَ بَدْرِيًّا - فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ حَدَثَ بَعْدَكَ أَمْرٌ. ار ۳۷۷۵]

دباب په دې رومبي حديث کښې حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چې مونږ د حضرت نبی کريم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې مدينې ته دتلو وخت پورې به ذخيره کوله. د دې نه معلوم شو چې د دريو ورځونه زياته دقربانئ غوښه ايښودلې شي.

د دې حديث سند ټول رجال مدنی دی. په دې کښې درې تابعي يحی بن سعيد رحمه الله، قاسم بن محمد رحمه الله او عبدالله بن حباب رحمه الله او دوه صحابه کرام رضی الله عنهم دی، حضرت ابوسعيد رضی الله عنه او حضرت قتاده بن نعمان رضی الله عنه (۱)

په روايت کښې ابوسعيد خدری رضی الله عنه چرته په سفرباندې لاړل. چې واپس شونو دوی ته غوښه کېښودې شوه او او وئيلې شو چې دا زمونږ دقربانئ غوښه ده. هغوی او وئيل چې دالرې کړه څه په اونه څکم حضرت ابوسعيد رضی الله عنه فرمائی چې څه اودريدم او روان شوم. اوخپل رور ابو قتاده رضی الله عنه له ورغلم هغه ددهٔ ناڅاکه رور وو. او بدری وو. ماهغه ته ټوله واقعه بيان کړه نوهغوی اووئيل چې ستا (دتلونه پس) بيانوې حکم راغلې دې (اوممانعت سابقه منسوخ شوې دې)

قوله: فَخَرَجْتُ حَتَّى آتِيَ أَخِي اباقَتَادَةَ - وَكَانَ أَخَاهُ لأُمِّهِ: په دې کښې د (ابا) لفظ درست نه دې. صحيح روايت (اخی قتادة) دې يعنی خپل ناڅکه رور قتاده بن نعمان رضی الله عنه له راغلو. قتاده بدری صحابی رضی الله عنه وو او د حضرت ابوسعيد ناڅکه رور وو. ددوی د مور انيسه بنت ابی خارجه وو (۲)

قوله: وَكَانَ بَدْرِيًّا - فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ حَدَثَ بَعْدَكَ أَمْرٌ: د دريو ورځونه پس دقربانئ دغوښې چې کوم ممانعت وو. هغه منسوخ شوې دې، مسند احمد کښې روايت کښې تفصيل دې. حضرت ابوسعيد (فرمائی چې:

(کان رسول الله (ص) قد نهانا ان کل لحوم نسکنا فوق ثلاث، قال: فخرجت فی سفر ثم قدمت علی اهلی وذالک بعد الاضحی بایام فاتتنی صاحبتی بسلق قد جعلت فیه قديدا فقالت هذا من ضحايانا، فقلت له اولم ينهنا قالت انه قد رخص للناس بعد ذالک فلم اصدقها حتی بعث الی اخی قتادة بن النعمان.....) (۳)

[۵۲۴۹] حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «مَنْ ضَحَّى مِنْكُمْ فَلاَ يُصْبِحَنَّ بَعْدَ ثَالِثَةٍ وَفِي بَيْتِهِ مِنْهُ شَىْءٌ

---

(۱) عمدة القاری، ج ۲۱ ص ۱۵۸)_
(۲) فتح الباری: ج ۱۰ ص ۳۰) وعمدة القاری، ج ۲۱ ص ۱۵۸)_
(۳) عمدة القاری، ج ۲۱ ص ۱۵۸)_

». فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الْمُقْبِلُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ نَفْعَلُ كَمَا فَعَلْنَا عَامَ الْمَاضِي قَالَ «كُلُوا وَأَطْعِمُوا وَادَّخِرُوا فَإِنَّ ذَلِكَ الْعَامَ كَانَ بِالنَّاسِ جَهْدٌ فَأَرَدْتُ أَنْ تُعِينُوا فِيهَا».

حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې په تاسوکښې کوم کس قرباني اوکړی. هغه دې درې ورځې پس په دې حال کښې نه صباکوی چې ددهٔ په کورکښې دقربانۍ غوښې نه څه وی، هرکله چې بل کال راغلونوخلقو عرض اوکړوچې یارسول الله ﷺ آیامونږخلق هغه شان اوکړو څنګه چې مونږتیرشوی کال کړی وو؟حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې پخپله خورئ په بل خورئ اوجمع کوئ،تیرشوی کال چونکه خلق په اولړه کښې وونودې وجې ماارداه کړې وه چې تاسوخلق په دې کښې مدداوکړئ.

قوله: (فلايصبحن بعد ثالثة: «لايصبحن» دباب افعال نه دنهی غائب معروف صیغه ده اوددې مصدر«اصباح» دې،صباکول،«ثالثة»موصوف محذوف دې «ای ليلة ثالثة»»

چې دکومودریوورځونه پس غوښه ذخیره کول ممنوع وو.هغه کومې درې ورځې وې،په دې کښې دواقوال دی.

① دقربانۍ دوخت نه دادرې ورځې به شمیرلې کیږی یعنی که په یولسم تاریخ باندې قربانۍ اوکړی نودديارلسم تاریخ نه پس غوښه ایښودلو اجازت نشته ددې.[1]

② ددې دریو ورځوابتداء به دیوم النحرنه وی.قربانی که په لسمه ورځ اوکړی یاپه یولسم دولسم باندې اوکړی.بهرصورت ددولسم تاریخ نه پس دغوښه ذخیره کولواجازت نشته دې.[2]

ددې دویم مطلب تائیددحضرت جابر رضی الله عنه درِوایت نه کیږی.چې په هغې کښې دی چې «کنا لاناکل من لحوم بدننا فوق ثلاث منی»[3] اودمنی ددریوواړوورځوابتداء دیوم النحرنه کیږی. په دې حدیث کښې داخبره هم معلومه شوه چې په ړومبی کال ددریوورځونه زیات ذخیره کولوممانعت دیوخاص علت په وجه وو،کله چې علت زائل شونوهغه ممانعت زائل شو.

قوله: فَأَرَدْتُ أَنْ تُعِينُوا فِيهَا: د«فیها» ضمیر«مشقة» طرفته راجع دې چې دلفظ«جهد»نه مفهوم کیږی[4] مرادددې نه اولړه ده، یعنی په اولړه کښې خلقوسره تعاون کولوارده وه. ددې وجې غوښه ددریوورځونه زیات پورې ذخیره کول منع فرمائیلې شوی وو.

[۵۲۵۰] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي أَخِي عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَائِشَةَ -رضي الله عنها- قَالَتِ الضَّحِيَّةُ كُنَّا نُمَلِّحُ مِنْهُ، فَنَقْدَمُ بِهِ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- بِالْمَدِينَةِ فَقَالَ «لاَ تَأْكُلُوا إِلاَّ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ». وَلَيْسَتْ

---

[1] فتح الباری.ج۱۰ص۳٤)._

[2] فتح الباری.ج۱۰ص۳٤)._

[3] فتح الباری.ج۱۰ص۳٤)._

[4] فتح الباری.ج۱۰ص۳٤)._

بِعَزِيمَةٍ،وَلَكِنْ أَرَادَأَنْ يُطْعِمَ مِنْهُ وَاللَّهُ أَعْلَمُ.
په اصحاب صحاح كښې داحديث صرف حضرت امام بخارى رحمه الله نقل كړې دې نوعلامه عينى رحمه الله فرمائى چې (والحديث من افراده)[1]

قوله: الضَّحِيَّةُ كُنَّا نُمَلِّحُ مِنْهَا: يعنى مونږ خلقوپه دقربانۍ په غوښه باندې مالګه واچوله اوهغه په ايښودله. مالګه لګولو سره غوښه زرنه خرابيږى.

قوله: فَنَقْدَمُ بِهِ إِلَى النَّبِي صلى الله عليه وسلم: (قدم) دباب سمع نه هم كيديش (قدم)س قدوما) راتلل، دلته دباء په وجه معتدى دې اونقدم دباب تفعيل نه هم كيديش په معنى دپيش كولو يعنى مونږ ستاسوپه خدمت كښې هغه غوښه پيش كړه.[2]

قوله: «لَا تَأْكُلُوا إِلَّا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ. وَلَيْسَتْ بِعَزِيمَةٍ: (لاتاكلو) نه ده، ترمذى په يوروايت كښې دى چې حضرت عائشه رضي الله عنها نه تپوس اوكړې شو چې (اكان رسول الله ﷺ ينهى عن لحوم الاضحى)[3] نوهغوى اوفرمائيل چې (لا) په ظاهره په دواړوروايتونو كښې منافات دى.
علامه عينى رحمه الله ددې جواب وركوى اوفرمائى چې حضرت عائشې رضي الله عنها دنهى تحريم نفى كړې ده. مطلقا دنهى نفى ئې نه ده كړې، نومخكښې جمله (ليست بعزيمة) په دې باندې دليل دې. يعنى هغه نهى دكراهت وه. دتحريم نهى نه وه چې منسوخ شوه،[4] بعضې حضراتو وئيلې دى چې هغه دكراهت نهى نه ده منسوخ شوې، اوس هم باقى ده لكه څنګه چې مخكښې تيرشو.

(نطعم) دباب افعال نه دې(ولكن ارادان نطعم منه اى نطعم غيرنا) يعنى تاسواوغوښتل چې مونږنوروباندې هم داغوښه اخوروو.

[٥٢٥١] حَدَّثَنَا حِبَّانُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ قَالَ أَخْبَرَنِي يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو عُبَيْدٍ مَوْلَى ابْنِ أَزْهَرَ أَنَّهُ شَهِدَ الْعِيدَ يَوْمَ الأَضْحَى مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ- رضى الله عنه - فَصَلَّى قَبْلَ الْخُطْبَةِ، ثُمَّ خَطَبَ النَّاسَ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم - قَدْ نَهَاكُمْ عَنْ صِيَامِ هَذَيْنِ الْعِيدَيْنِ، أَمَّا أَحَدُهُمَا فَيَوْمُ فِطْرِكُمْ مِنْ صِيَامِكُمْ وَأَمَّا الآخَرُ فَيَوْمٌ تَأْكُلُونَ نُسُكَكُمْ.
قَالَ أَبُو عُبَيْدٍ ثُمَّ شَهِدْتُ مَعَ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ فَكَانَ ذَلِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فَصَلَّى قَبْلَ الْخُطْبَةِ ثُمَّ خَطَبَ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ هَذَا يَوْمٌ قَدِ اجْتَمَعَ لَكُمْ فِيهِ عِيدَانِ، فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْتَظِرَ

---

[1]) عمدة القارى :ج٢١ص ١٦٠).
[2]) عمدة القارى (ج٢١ص ١٦٠)_
[3]) سنن الترمذى كتاب الاضحى باب ماجاء
[4]) عمدة القارى (ج٢١ص ١٦٠)_

الْجُمُعَةَ مِنْ أَهْلِ الْعَوَالِي فَلْيَنْتَظِرْ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَرْجِعَ فَقَدْ أَذِنْتُ لَهُ.
قَالَ أَبُو عُبَيْدٍ ثُمَّ شَهِدْتُهُ مَعَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، فَصَلَّى قَبْلَ الْخُطْبَةِ، ثُمَّ خَطَبَ النَّاسَ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - نَهَاكُمْ أَنْ تَأْكُلُوا لُحُومَ نُسُكِكُمْ فَوْقَ ثَلاَثٍ. وَعَنْ مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ نَحْوَهُ. [ر: ۱۸۸۹]

ابو عبیده مولی بن ازهر دابوعبیدنوم سعدبن عبیددې.اودې دعبدالرحمان بن ازهر آزاد شوې غلام دې

قوله ثُمَّ شَهِدْتُ مَعَ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ: دابوعبیده بیان دې چې بیاخه حضرت عثمان ﷛ سره داخترپه ورځ شریک شوم.اخترجمعې په ورځ..هغوی دخطبې نه مخکښې مونځ اوکړوبیائې خطبه اوفرمائیله اووې فرمائیل چې ائې خلقو نن تاسوباندې دوه اخترونه جمع شوی دی.یو داخترورځ اوبله دجمعې ورځ عوالی (دمدینې اطرافو) کښې اوسیدونکو کښې چې څوک واپس تلل غواړی نوهغوی دې واپس لاړشی څما هغه ته اجازت دې.(یعنی دجمعې دمونځ دپاره اودریدل نه غواړی اوواپس تلل غواړی نوتلې شی).

قوله: فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم نَهَاكُمْ أَنْ تَأْكُلُوا لُحُومَ نُسُكِكُمْ فَوْقَ ثَلاَثٍ: حضرت علی ﷛ فرمائیلی دی چې حضرت نبی کریم ﷺ تاسو د دریو ورځو نه زیاته دقربانۍ غوښه اینښودلونه منع کړې ئې،

حضرت علی ﷛ د حضور اکرم ﷺ ارشاد نقل کړو. ددې متعلق درې خبرې وئیلې شوی دی: ① حضرت علی ﷛ ته چونکه ددې حکم دمنسوخ کیدواحادیث نه وورسیدلې،ددې وجې هغه په خطبه داخترکښې داحکم نقل کړې دې (۱)

② حضرت علی ﷛ دامنسوخ حکم په طور دحکایت نقل کړې دې په طوردمذهب نه.یعنی هغوی ته هم معلوم ووچې داحکم منسوخ شوې دې. بیاهم ددې منسوخ حکم تذکره کړې ده اوهغوی دانقل کړې دی (۲)،نوحضرت امام احمدبن حنبل ﷫ دحضرت علی ﷛ نه مرفوع نقل کړې دې چې حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چې ((نهیتکم عن لحوم الاضحی ان تجسوها بعدثلاث فاحبسوا مابدالکم)) (۳)

③ دحضرت علی ﷛ په نیزداسابقه حکم بالکل منسوخ شوې نه وو بلکه هغه معلول العلت ووکله چې علت زائل شونوحکم هم زائل شو،دحضرت علی ﷛ په زمانه کښې هغه علت دوباره واپس راغلونوحکم هم واپس شوځکه چې داخطبه هغوی دحضرت عثمان ﷛ د محاصرې په دوران کښې ورکړې وه.ددې فتنې په وجه خلق داولږې اوقحط ښکارشوی وو (۴)

(۱) فتح الباری)ج۱۰ص ۳٤و عمدة القاری (ج۲۱ص۱۲۱) _
(۲) اعلاء السنن کتاب الاضحی.باب ادخارلحوم الاضحی فوق ثلاثة ایام :ج۱۷ص ۲۷٤) _
(۳) مسند الامام احمد (ج ۱ص۱۳۵)_
(٤) فتح الباری)ج۱۰ص۳٤و عمدة القاری (ج۲۱ص۱۶۱) _

قوله: وَعَنْ مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِي عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ نَحْوَهُ : داخوپه ماقبل سند باندې معطوف دې په دې صورت کښې خوبه موصول وی او یاداتعلیق بیل دې، حضرت امام شافعی رحمه الله داپه کتاب الام کښې موصولانقل کړې دې، (۱)

[۵۲۵۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ أَخْبَرَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَمِّهِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ - رضي الله عنهما - قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «كُلُوا مِنَ الأَضَاحِي ثَلاَثًا». وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ يَأْكُلُ بِالزَّيْتِ حِينَ يَنْفِرُ مِنْ مِنًى، مِنْ أَجْلِ لُحُومِ الْهَدْيِ.

په اصحاب صحاح کښې داحدیث صرف حضرت امام بخاری رحمه الله نقل کړې دې. حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دحضرت نبی کریم ﷺ داارشاد «کلوا من الاضاحی ثلاثا» نقل کړې دې. نو هغوی به ددریو ورځو نه زیاته غوښه نه خوړله کله چې، کله چې منی نه واپس شو نو دقربانۍ غوښې په وجه هغوی روټۍ روغن زیتون سره خوړله.

غالبا حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه نسخ والا حدیث نه وورسیدلې اوممکن دی چې احادیث نسخ هغوی ته معلوم وولیکن احتیاطاهغه ددریوورځونه زیات دقربانۍ غوښه خوړل نه خوښول. (۲)

۷۷= کتاب الاشربة

(الاحادیث: ۵۲۳۵-۵۳۱۲)

په کتاب الاشربة کښې ۳۱ ابواب او یونوی (۹۰) مرفوع احادیث دی، په دې کښې نورلس ۱۹) احادیث معلق او باقی موصول دی، اویا(۷۰) احادیث مکرر دی. اویویشت(۲۱) احادیث صحیح بخاری په ړومبی ځل ذکرکړی ذی. په دې یویشتواحادیثو کښې څوارلس احادیث متفق علیه دی، کتاب الاشربة کښې دسلف صالحین څوارلس آثاردی.

(۱) فتح الباری)ج۱۰ص۳٤و عمدة القاری (ج۲۱ص۱۶۲) _
(۲) عمدة القاری (ج۲۱ص۱۶۲) _

کتاب الأشربة

وَقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰی (إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ)

(شربة) د(شراب) جمع ده. شراب اسم دې اودهرمشروب دپاره استعماليږي، که هغه حلال وي اوکه حرام وي.

حضرت امام بخاری رحمه الله په دې کتاب کښې داشربه مباحه اوداشربه محرمه دواړوذکرکړې دې مخکښې ئې داشربه مباحه ذکرکړې دې بیاداشربه مباحه،ځکه چې دفع مضرت، جلب منفعت باندې مقدم دې. دې نه پس داشربه مباحه آداب وغیره ذکرفرمائی حضرت امام بخاری رحمه الله داآیت کریمه داحادیث باب دپاره په طوردتمهیدذکرکړې دې. په دې آیت کریمه کښې دشرابودحرمت حکم نازل شوې دې سنن ابی داود اوسنن ترمذی کښې ددې شان نزول داشان بیان شوې دې چې کله دتحریم حکم نازل شونوحضرت فاروق اعظم رضي الله عنه اوفرمائیل چې (اللهم بین لنافی الخمربیانا شافیا) گویاچې رومبې حکم مجمل وو. حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه لره راوبللواوداآیت ئې ورته واورولو.هغوی دوباره هغه دعااوکړه نوپه سورة نساء کښې (یاایها الذین امنوالاتقربوالصلوة وانتم سکاری) نازل شو.ددې آیت دنازلیدونه پس مونځ نه مخکښې به باقاعده اعلان کیدوچې دنشې په حالت کښې مونځ دپاره دې هیڅوک نه راځي.

حضر عمرفاروق رضي الله عنه بیا (اللهم بین لنا فی الخمربیانا شافیا) دعا اوکړه نودسورة مائده پورتنې آیت نازل شو.چې په هغې کښې شراب مطلقا حرام اوګرځلې شو.[1] البته ددې روایت نه معلومیږي چې دسورة بقرة داآیت نه مخکښې مجمل حکم حرمت خمرمتعلق نازل شوې وو.

علامه قرطبی رحمه الله دتحریم متعلق لیکی چې (تحریم الخمرکان بتدریج ونوازل کثیرة فانهم کانوا مولعین بشربها واول مانزل فی شانها (یسئلونك عن الخمروالمیسرقل فیهما اثم کبیرومنافع للناس) ای فی تجارتهم فلما نزلت هذه الایة ترکها بعض الناس وقالوا: لاحاجة لنا فیما فیه اثم کبیرولم یترکها بعض الناس وقالوا :ناخذمنفعتها ونترك اثمها فنزلت هذه الایة (ولا تقربو الصلوة وانتم سکاری) فترکها بعض الناس وقالوا :لاحاجة لنافی مایشغلنا عن الصلاة وشربها بعض الناس فی غیراوقات الصلاة حتی نزلت (یاایها الذین آمنوا انما الخمروالمیسر والانصاب والازلام رجس) فصارت حراما علیهم حتی صاریقول بعضهم ماحرم الله شیئا اشد من الخمر)[2]

په قرآن پاک کښې دتحریم خمرمتعلق څلورآیتونه نازل شوی دی.یوپه سورة بقره کښې چې په هغې دشرابونه پیدا کیدونکی مفاسد واوګناهونو ذکرکړې شوې دې،لیکن په هغې کښې

---

[1] سنن ابی داود،کتاب الاشربة باب فی تحریم الخمر: (ج۳ص۳۲۵).(رقم الحدیث: ۳۶۷۰)

[2] الجامع لاحکام القرآن للقرطبی: (ج۶ص۲۸۶)۔

صراحتاً دي ته حرام نه دی وئیلی شوی.

دویم آیت دسورة نساء دې چې په هغې کښې صرف اوقات الصلوة کښې دشرابونه منع کړې شوې ده.باقی وختونو کښې اجازت ورکړې شوې دې.

دریم اوڅلورم آیت په سورت مائده کښې دې چې هغه حضرت امام بخاری رحمه الله دلته ذکر کړې دې. هغې کښې شرابوته مطلق حرام اووئیلې شوځکه چې دې ته (رجس من عمل الشیطان) اووئیلې شو. او(رجس) حرام وی،نو امام جصاص رازی رحمه الله لیکی چې، اقتضت هذه الاية تحريم الخمر من وجهين: احدهما قوله (رجس) لان الرجس اسم في الشرع لما يلزم اجتنابه ويقع اسم الرجس على الشئ المستقذر النجس وهذا ايضا يلزم اجتنابه فاوجب اوصافه اياها بانها رجس لزوم اجتنابها والوجه الاخر قوله تعالى (فاجتنبوه) وذلك امر والامر يقتضى الايجاب فانتظمت الاية تحريم الخمر من هذين الوجهين) (1)

یعنی ددې آیت کریمه نه دتحریم خمردوؤطریقوسره مستفاد کیږی.یوخوئې دې ته (رجس) وئیلی دې اوپه شریعت کښې (رجس) نه اجتناب کول ضروری دی. دویم (فاجتنبوه) امردې. اوامر دوجوب دپاره رازی.(2)

دشرابوحرمت کله نازل شو؟ : دحرمت متعلق داآیت کله نازل شو،په دې کښې اختلاف دې. دحضرت ابن حجر رحمه الله دارائې ده چې دفتح مکه په کال داآیت مبارک نازل شو.(3) دحافظ شرف الدین دمیاطی رحمه الله رائې داده چې دادصلح حدیبیه په کال نازل شویعنی په کال شپږمه هجرئې کښې. (4)

دابن اسحاق په نیزداآیت دبنی نضیردغزوه په کال نازل شواودراجح قول مطابق غزوه بنو نضیرپه څلورمه هجرئی کښې شوې وه.(5)

لیکن په څلورمه هجرئې کښې ددې حکم په نازلیدوباندې بعضې خلقواعتراض کړې دې چې په کوم کال دتحریم خمرحکم اوشو.هم په هغه کال داواقعه شوې وه.دحضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم منادی اعلان اوکړوچه شراب حرام کړې شو،نوحضرت ابوطلحه رضی الله عنه اوفرمائیل چه ورشه اودامټکی مات کړه.(6) اوحضرت انس رضی الله عنه په څلورمه هجرئی کښې ددې عمرنه ووچه

---

(1) احکام القرآن للجصاص (ج۲ص۴۶۱).باب تحريم الخمر).

(2) قال بعض العلماء فيها دلائل على تحريم الخمراحدها قوله:(رجس) والرجس هوالنجس وكل نجس حرام. والثانى قوله (من عمل الشيطان) وماهومن عمله حرام والثالث قوله: (فاجتنبوه) ومالمرالله تعالى.باجتنابهافهو حرام والرابع قوله (لعلكم تفلحون) وما علق رجاء الفلاح باجتنابه فالاتيان به حرام (عون المعبودشرح سنن ابى داودكتاب الاشربة :ج۱۰ص۱۰۶).

(3) فتح البارى (ج۱۰ص۳۸)_

(4) اوګورئ تاريخ الخميس (ج۲ص۲۶).

(5) تاريخ الخميس(ج۲ص۲۶)_

(6) لکه څنګه چه دبخاری په روایت کښې رازی، صحيح البخارى كتاب الاشربة باب انزل تحريم الخمروهى من البسروالتمر :(رقم الحديث ۵۲۶۰)_

هغه دې متکې ماتې کړی ځکه چې هغه دکم عمروو .ځکه چې حضرت انس ﷛ دهجرت په کال دحضرت نبی کریم ﷺ په خدمت کښې پیش کړې شوې وو .نوپه هغه وخت کښې دې دنهولسو کالووو. که داخلورمې هجرئي واقعه اومنلې شی نوپه هغه وخت کښې ددوی عمرمبارک څوارلس کاله به وو .حضرت ابن حجر ﷫ وغیره داخبره لیکلې ده. (۱)

لیکن په دې کښې نظردې ځکه چه دڅلوارلس کالوبچې ددې قابل وی چې هغه دې متکی مات کړی

بهرحال علامه قسطلانی شپږمې هجرئی ته ترجیح ورکړې ده، (۲)لیکن مشهور روایت دڅلورمې هجرئی دې (۳)

[۵۲۵۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ -رضى الله عنهما- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا، ثُمَّ لَمْ يَتُبْ مِنْهَا، حُرِمَهَا فِي الآخِرَةِ».

حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چې چاپه دنیاکښې شراب اوڅکل اوددې نه توبه ګارنشونوآخرت کښې به هغه ددې نه محروم وی. داحدیث حضرت امام بخاری ﷫ په دې ځائې کښې په ړومبی ځل ذکرکړو.

قوله: (حرمها في الاخرة): (حرم) دمجهول صیغه ده اومتعدی په دوه مفعول دی، ددې دوه مطلبونه دی. ① دادخپلې حقیقی معنی باندې محمول دې،یعنی مستقل شراب څکلو والااوشرابونه توبه اونه کړی، اوهم په دې حال کښې مړشی نوهغه اګرچه جنت ته لاړشی نو ده ته به په جنت کښې شراب نه ملاویږی. (۴)

ددې جواب داورکړې شوچه ددې سړی نه دشرابوخواهش سلب کړې شی (۵)

② علامه خطابی ﷫ فرمائی چې ددې مطلب دادې چې هغه سړې به جنت ته نه داخلیږی، داهل جنت مشروب خمردی.چې څوک ددې نه محروم کړې شونوهغه دجنت نه محروم کړې شو. (۶)

(۱) فتح الباری ج۱۰ص۳۸) وتاریخ الخمیس :ج۲ص۲۶.قال الحافظ فی الاصابة صح عنه انه قال:قدم النبی (ص) واناالمدینة واناابن عشرسنین (وانظرالاصابة فی تمیزالصحابة :ج۱ص۷۱. والاستیعاب لابن عبدالبرمع الاصابة :ج۱ص۷۱)_

(۲) تاریخ الخمیس(ج۲ص۲۶)_

(۳) تاریخ الخمیس(ج۲ص۲۶)_

(۴) عمدة القاری (ج۲۱ص۱۶۴. وارشاد الساری :ج۱۲ص۳۲۴).شرح الطیبی.کتاب الحدود.باب بیان الخمر وعبدشاربها :(۷ص۱۶۸)_

(۵) عمدة القاری (ج۲۱ص۱۶۴. وارشاد الساری :ج۱۲ص۳۲۴).شرح الطیبی.کتاب الحدود.باب بیان الخمر وعبد شاربها :(۷ص۱۶۸) ومرقاة المفاتیح کتاب الحدودباب بیان الخمروعیدشاربها (ج۷ص۱۹۱)_

(۶) المعبودکتاب الاشربة باب ماجاء فی سکر:ج۱۰ص۱۲۰)_

يو اشكال اودهغې جوابات: ليکن په دې دويم مطلب به اشکال وی چې شراب خمرګناه کبيره ده، اومرتکب کبيره، بهرحال جنت کښې به داخليږی يا ابتداء که الله ﷻ ئې معاف کړی يا دخپلې ګناه سزاتيرولو نه پس بيا جنت نه دمحرومئ حکم ولې اوشو، ددې درې جوابونه دی.

① يو داچه ددې سړی متعلق چه شرابو لره حلال ګڼړی او څکی ئې اومستحل خمر کافر دې او کافر به جنت کښې نه داخليږی.

② ابتداء کښې به دې محروم ساتلې شی، اودسزاتيرولو نه پس به بيا جنت ته داخل کړې شی، په حديث کښې ددې ابتدائی محرومئ ذکرفرمائيلې شوې دې. نومولانا خليل احمد سهارنپوری رحمه الله ليکی چې: «وهو كناية عن عدم دخول الجنة اما اذا كان مستحلا فظاهر انه يكفر واما اذا لم يكن مستحلا فيتاول انه لا يشربها في الجنة او لا يدخلها في الاولين»[1]

③ دا ارشاد په تهديد باندې محمول دې، معنی حقيقی مراد نه ده.[2]

[۵۲۵۴] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ -رضي الله عنه- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أُتِيَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ بِإِيلِيَاءَ بِقَدَحَيْنِ مِنْ خَمْرٍ وَلَبَنٍ، فَنَظَرَ إِلَيْهِمَا، ثُمَّ أَخَذَ اللَّبَنَ، فَقَالَ جِبْرِيلُ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَاكَ لِلْفِطْرَةِ، وَلَوْ أَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ أُمَّتُكَ.

تَابَعَهُ مَعْمَرٌ وَابْنُ الْهَادِ وَعُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ وَالزُّبَيْدِيُّ عَنِ الزُّهْرِيِّ.

[۵۲۵۵] حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ -رضي الله عنه- قَالَ سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- حَدِيثًا لاَ يُحَدِّثُكُمْ بِهِ غَيْرِي قَالَ «مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَظْهَرَ الْجَهْلُ، وَيَقِلَّ الْعِلْمُ، وَيَظْهَرَ الزِّنَا، وَتُشْرَبَ الْخَمْرُ، وَيَقِلَّ الرِّجَالُ، وَيَكْثُرَ النِّسَاءُ، حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً قَيِّمُهُنَّ رَجُلٌ وَاحِدٌ». [ر: ۸۰]

[۵۲۵۶] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَابْنَ الْمُسَيَّبِ يَقُولاَنِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ -رضي الله عنه- إِنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «لاَ يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلاَ يَشْرَبُ الْخَمْرَ حِينَ يَشْرَبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلاَ يَسْرِقُ السَّارِقُ حِينَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ».

قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِي عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ كَانَ يُحَدِّثُهُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ثُمَّ يَقُولُ كَانَ أَبُو بَكْرٍ يُلْحِقُ مَعَهُنَّ « وَلاَ يَنْتَهِبُ نُهْبَةً ذَاتَ شَرَفٍ، يَرْفَعُ النَّاسُ إِلَيْهِ أَبْصَارَهُمْ فِيهَا حِينَ يَنْتَهِبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ» [ر: ۲۳۴۳]

---

[1] مذکوره دوؤمطلبونو دپاره اوګورئ بذل المجهود ماجاء فی سکر (۱۶ص ۱٤)

[2] مرقاة المفاتيح، کتاب الحدود باب بيان الخمر ووعيد شاربها :ج۸ص ۱۹۰).

قوله: لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ بِإِيلِيَاءَ بِقَدَحَيْنِ مِنْ خَمْرٍ وَلَبَنٍ: (ايلياء) دهغه ښارنوم ايلياء دې كوم ځائې كښې چې بيت المقدس واقع دې (١)

دحضرت نبی كريم ﷺ په خدمت كښې دوه پيالئ پيش كړې شوې، يوپياله كښې شراب اويو كښې پئ وو. حضرت نبی كريم ﷺ دپئووالا پياله اختيار كړه.

بعضو روايتونو كښې درې پيالئ دپيش كولوذكردې په دې كښې شراب اوپئ او شهدو پيالئ وه.

ددې جواب وركړې شوچې ايلياء كښې دوه پيالئ پيش كړې نو ،لكه څنګه چې دلته روايت كښې دى اوسدرة المنتهى طرفته ته دزفع په وخت كښې درې پيالئ پيش كړې شوې وې.(٢)

قوله: ثُمَّ أَخَذَ اللَّبَنَ: ابن عبدالبر رحمه الله فرمائى چې حضرت نبی كريم ﷺ خمر (شراب) په دې وجه پرېښودل چې ددې دحرمت حكم نازليدووالاوو.

يا د شرابو څكلو دحضرت نبی كريم ﷺ عادت نه وو ،ددې وجې حضرت نبی كريم ﷺ دپئيو والا پياله اختيار اوفرمائيله (٣)

قوله: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَاكَ لِلْفِطْرَةِ: دفطرت نه دلته دين اسلام اوپه دې باندې استقامت مراددې، علامه قرطبى رحمه الله فرمائى چې لبن لره په فطرت سره تعبير كړې شوځكه چې بچې پيدا شى نوهغه ته مخكښې پئ وركولې شى.(٤)

قوله: وَلَوْ أَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ أُمَّتُكَ: حضرت جبرئيل عليه السلام خوداخبره ياپه طريق دفال ارشاد فرمائيلې ده يا دغوى ته علم ووچې كوم يوڅيزاخستلوباندې به كومه نتيجه مرتب كيږى. (٥)

قوله: تَابَعَهُ مَعْمَرٌ وَابْنُ الْهَادِ وَعُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ وَالزُّبَيْدِيُّ عَنِ الزُّهْرِيِّ: يعنى دشعيب متابعت معمربن ارشد ،ابن الهاد (يزيدبن عبدالله) عثمان بن عمراوزبيدى (محمدبن الوليد) كړې دې. دمعمرروايت حضرت امام بخارى رحمه الله دابن الهاد روايت حضرت امام نسائى رحمه الله موصولانقل كړې دې.(٦)

قوله: لاَ يَشْرَبُ الْخَمْرَ حِينَ يَشْرَبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ: دلته يا ايمان نه ايمان كامل مراددې (لايكون كاملا فى الايمان حال كونه فى شرب الخمر) يادا په تهديدوتغليظ باندې محمول دى. يعنى معنى حقيقى مرادنه ده. اويادهغه سړى متعلق دې چې شرب الخمرحلال ګڼړى (٧)

---

[١] عمدة القارى: ج٢١ص١٦٤)، وفتح البارى)ج :١٠ص٤١).
[٢] عمدة القارى: ج٢١ص ١٦٤)
[٣] فتح البارى)ج١٠ص٤١).
[٤] فتح البارى ج٧ص٢١٥) _
[٥] فتح البارى : (ج١٠ص٤١)_
[٦] عمدة القارى : (ج٢١ص ١٦٤) و فتح البارى : (ج١٠ص٤١)_
[٧] عمدة القارى (ج٢١ص١٦٥)_

دا تاويلات ددې وجې كول ضروري دي چې داهل سنت والجماعت په نيزگناه كبيره ارتكاب كولو سره سړې دايمان نه خارجيږي نه.

قوله: كَانَ أَبُو بَكْرٍ يُلْحِقُ مَعَهُنَّ «وَلاَ يَنْتَهِبُ نُهْبَةً ذَاتَ شَرَفٍ، يَرْفَعُ النَّاسُ إِلَيْهِ أَبْصَارَهُمْ فِيهَا حِينَ يَنْتَهِبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ» :ابوبكرمذكوره جملې سره د(لاينتهب) اضافه هم كړې ده.يعني هيڅ يومومن په دې حالت كښې لوټ مارنه كوى چې خلق دې ته گورى.(نهبة ذات شرف مال نفيس) [1]

دشرابو قسمونه اومذاهب ائمه : ① ائمه ثلاثه اوپه احنافوكښې دحضرت امام محمدؒ په نيز ټول نشه وركونكى مشروبات،خمريعنى شرابوپه حكم كښې دى، ددې قليل يا كثير استعمال مطلقا حرام دى.اوددې شارب(څكلووالا) باندې حدجارى كيږى. دخمرپه شان هر مسكر مشروب نجس دې، ددې اخستل خرڅول جائزنه دى. [2]

② دحضرت امام ابوحنيفه ؒ اوحضرت امام ابويوسف ؒ په نيزپه دې كښې تفصيل دې، هغوى فرمائى چې داشربه درې قسمونه دى. اول قسم خمردا دانگوروكچه شيره وى.

(اذا اشتدت وغلا وقذف بالزبد)يعنى كله چې دزيات اينبودويا ويشلولو(جوش كولو) په وجه په دې كښې شدت راشى،هغه ويشيږى اوددې نه ځگ راوزى،امام ابويوسف اوحضرت امام محمد ؒ دځگ راوتلوشرط نه دې لگولې. [3]

ددې حكم دادې چې ددې قليل ياكثيراستعمال مطلقا حرام دې،په څكونى باندې حدجارى كيږى، اگرچه دۀ يوقطره ئې هم څكلى وى.دانجس العين دې، ددې بيع جائزنه ده اوددې حلال گنړلو والاكافردې. [4]

دويم قسم (طلاء،نقيع التمر،نقيع الزبيب....) دادرې واړه اشربه حرام دى.

(طلاء) دانگوروشيرې ته وائى.كله چه دادومره پخه كړې شى چې درې حصې پاتې شى. [5]

(نقيع التمر) دكهجوروكچه شيره او(نقيع الزبيب) هغه اوبوته وائى چه په هغې كښې زبيب يعنى كشمش اچولې شوى وى.اودزيات وخت تيريدوپه وجه په دې كښې شدت اوويشيدل پيداشى. [6]

دادرې واړه اشربه هم دخمرپه حكم كښې دى،نجس دى اوددې قليل ياكثيراستعمال حرام دى،البته ددې په څكونكى باندې دحضرت امام ابوحنيفه ؒ اوامام ابويوسف په نيزنشه

---

[1] فيض البارى)ج ٤ص ٣٣٤) _

[2] المغنى لابن قدامه كتاب الاشربة :(ج٩ص١٣۶) _ واحكام القران للتهانوى ؒ سورة المائده : ج١ص٣٨٨)_

[3] اوگورئ الهداية مع فتح القدير، كتاب الاشربة :(ج٩ص٢۶) _

[4] اوگورئ بذل المجهود، كتاب الاشربة باب الخمرماهى :(ج١۶ص١٢)_

[5] اوگورئ الهداية مع فتح القدير،كتاب الاشربه :ج ٩ص ٢٩)_

[6] اوگورئ الهداية مع فتح القدير،كتاب الاشربه :ج ٩ص٣٠و٣١)_

اّورمقدار څکلونه پس حد جاری کیږی، ځکه چه ددې اشربه خمر کیدل ظنیٰ دی. اوحد دشبهې په وجې سره ساقط کیږی، ددې مستحل کافرنه دې، څنګه چه دخمرمستحل کافردې. البتّه ددې نه علاوه باقی اکثرو احکامو کښې دادخمرپه حکم کښې دی.
دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزددې دریو واړومشروباتوبیع جائزده. دصاحبینوپه نیزجائزنه دی (۱)

دریم قسم (خمر، طلا، نقیع التمر، نقیع الزبیب ......) ددې څلورواشربه نه علاوه باقی اشربه نبیذ وغیره دی. په ددې کښې دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزقلیل مقدارچه نشه ورکونکی نه وی دهغې استعمال جائزدې. په دې شرط چه هغه دتعیش دپاره نه وی. بلکه (تقوی لی العبادی) نیت سره وی (۲) اودجمهوروپه نیزداجائزنه دی.
حاصل دکلام دادې چه امام صاحب رحمه الله اودجمهوروپه مینځ کښې دوه څیزونوکښې اختلاف دې، یواشربه ثلاثه چه ددوی په نیزداخمردی لیکن ددې خمرکیدل ظنی دی. لهذاددې په شارب باندې حدنه جاری کیږی حالانکه دجمهوروپه نیزددې خمرکیدل ظنی نه دی، لهذاپه شارب باندې به حدجاری کیږی. دویم اختلاف اشربه اربعه نه علاوه باقی اشربه مسکره غیرنشه آورقلیل مقداراستعمال جائزدې، دجمهوروپه نیزجائزنه دې
لاندې دامام صاحب اودجمهوروڅودلائل پیش کولې شی:
دامام اعظم رحمه الله دلائل: ① دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله استدلال دلغت نه دې. هغه فرمائی چه اهل لغت دخمراطلاق دانګوروشیره باندې کوی. دباقی میوڅشیروباندې دخمراطلاق په لغت کښې نه کیږی نوابن سیده (المخصص) کښې فرمائی چه (الخمرما اسکرمن عصیرالعنب والجمع خمور) (۳) اوابن منظورافریقی په (لسان العرب) کښې ددوی قول نقل کړوچه (الخمرانما هی العنب دون سائرالاشیاء) (٤)

② عبدالرزاق په خپل مصنف کښې یوروایت نقل کړې دې چه (قال النبی صلی الله علیه وسلم الخمرمن العنب والسکرمن التمروالمزرمن الذرة والغبیرا من الحنطة والبتع من العسل کل مسکرحرام) (۵)

---

(۱) بذل المجهود، کتاب الاشربة باب الخمرماهی :ج۱٦ص۱۲، والهدایة مع فتح القدیر، کتاب الاشربة :ج۹ص۳۱)
(۲) فیض الباری، کتاب الاشربة : ج ٤ص ۳٤٦، واعلاء السنن کتاب الاشربة باب حرمة الخمر(ج :۱۸ص۲۱. قال الحسن بن مالک سمعت الشافعی یسال ابایوسف هل فی نفسک شئ من النبیذ فقال اب.یوسف: کیف لایکون فی نفس شئ من النبیذ واراد الشارب ان یسکرمنه فالقلیل منه حرام کالکثیر وهوقول ابی حنیفه (سند الخوارزمی: ج۲ص۲۰۷) وفیه دلیل علی ان شرب القلیل اذاکان للسکرفهو ایضاحرام عند ابی حنیفه (وانظر البدر الساری الی فیض الباری : (ج ٤ص ۳۵۵).
(۳) انمخصص لابن سیده : (ج۱۱ص۷۲)_
(٤) لسان العرب :(ج۵ص۳۳۹)_
(۵) مصنف عبدالزاق :(ج۹ص ۲۳٤، رقم الحدیث :۱۷۵٤).

په دې کښې تصریح ده چه خمردانګورووی. داروایت اګرچه حضرت سعیدبن المسیب مرسلاً نقل کړې دې لیکن ددوی مراسیل بالاجماع مقبول دې.[۱]

③ دحضرت ابن عمر رضی الله عنه اثردې «اما الخمرفحرام لاسبیل الیها واما ماسوا هامن الاشربة فکل مسکرحرام»[۲] او دحضرت ابن عباس رضی الله عنه اثردې چه «حرمت الخمرلعینها والسکرمن کل شراب»[۳] داشان حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه نه منقول دی چې هغوی ددې نبیذنه لړشان اوڅکل چه نشه آورووو[۴] که چرته قلیل حرام وو نوهغوی به کله هم نه څکل.

④ حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه اوحضرت معاذبن جبل رضی الله عنه یمن ته روان وو. حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه ئې تپوس اوکړوچه هغه ځائې کښې دغنمواواوربشوشراب جوړیږی. ددې څه حکم دې؟ وې فرمائیل چه «اشربا ولاتسکرا»[۵] امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه: «کان ذالك دلیلا ان حکم المقدار الذی یسکرمن ذالك الشراب خلاف حکم مالایسکرمنه»[۶]

⑤ دعبدالله بن شخیرپه روایت کښې دی چه «نهی رسول الله عن اشربة قال فقیل له: انه لابدمنها او نحوهذاقال: فاشربوامالم یسفه احلامکم ولایذهب اموالکم»[۷]
علامه هیثمی ددې حدیث سندصحیح ګڼړی.[۸]

د جمهورو دلائل: ① حضرت امام بخاری رحمه الله چه په «باب الخمرمن العنب، باب نزل تحریم الخمر، باب الخمرمن العسل، باب ماجاء فی ان الخمرماخامرالعقل......» ددې څلوروابوابولاندې چې څومره روایتونه ذکرفرمائیلی دی هغه ټول دجمهورودلائل دی.

② دابوداود په روایت کښې دی چه «ان من العنب خمراوان من التمرخمرا وان من العسل خمراوان من البرخمراوان من الشعیرخمرا»[۹]

③ دحضرت جابر رضی الله عنه حدیث کښې دی چه «ما اسکرکثیره فقلیله حرام»[۱۰]

---

[۱] تکملة فتح الملهم)ج ۳ص۶۰۱)_
[۲] مصنف عبدالرزاق :(ج۹ص۲۲)_
[۳] شرح معانی الاثار للطحاوی کتاب الاشربةباب الخمرالمحرمة ماهی)ج۲ص۳۵۶). والجوهرالنقی: (ج۸ص۲۹۷)_
[۴] اوګورئې کتاب الاثار: ۱۱۹،ومصنف عبدالرزاق: (ج۹ص ۲۲٤)، رقم الحدیث:۱۷۱۵) _ اوګورئی کتاب الاثارشرح معانی الاثارکتاب الاشربة باب مایحرم من النبیذ:ج۲ص۳۵۹)_
[۵] شرح معانی الاثارکتاب الاشربة باب مایحرم من النبیذ:(ج۲ص ۳۶۰)_
[۶] شرح معانی الاثارکتاب الاشربة باب مایحرم من النیذ(ج۲ص ۳۶۰)_
[۷] مصنف عبدالرزاق :ج۹ص۲۲۳)_
[۸] مجمع الزوائد للهیثمی (ج۵ص۶۶)_
[۹] سنن ابی داود کتاب الاشربة (رقم الحدیث: ۳۶۷۶)_
[۱۰] سنن النسائی کتاب الاشربة باب تحریم کل شراب اسکرکثیره (رقم الحدیث :۵۱۱۷) وفتح القدیر(ج ۵ص۸۰)

⑧ حضرت عائشه رضي الله عنها روايت کښې دی چه (كل مسكر حرام وما اسكر منه الفرق فملا الكف منه حرام)[1]

⑨ داشان روايت دې چه (كل مسكر خمر وكل مسكر حرام) [2]

دې احاديثو سره جمهورو استدلال فرمائی چه خمر صرف دانګورو د شيرې نوم نه دې، (طلاء نقيع الزبيب) وغيره هم خمر دی. داشان انبذه مسكره قليل استعمال هم جائز نه دې.

د جمهورو د دلائلو جواب: حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه عصير عنب نه علاوه باقی اشربه باندې د خمر اطلاق مجازادې، لغة او حقيقتا نه دې، ځکه چه په لغت کښې خمر صرف ماء عنب ته وائيلې شی، لکه څنګه چه د لغت د کتابونه حوالې سره تيرشوی دی.

او (ما اسكر كثيره فقليله حرام) لره په خمر باندې محمول کيږی چه د خمر قليل مقدار هم حرام دې.

نو مولانا ظفر احمد عثمانی رحمه الله ليکی چه (يكون معناه الخمر حرام قليلها وكثيرها وهذا التاويل هو المتعين عندنا لما روينا عن عمر رضي الله عنه انه شرب النبيذ المسكر بعد كسره بالماء) [3]

ليکن حقيقت دادې چه په دې تاويل باندې زړه مطمئن کيږی نه ځکه چه (ما) عام دې، چه خمر او غير خمر دواړو دپاره شامل دې. حضرت عمر فاروق رضي الله عنه او نورو صحابه کرام رضي الله عنهم چه کوم آثار دې. هغه موقوف دی او (ما اسكر كثيره فقليله حرام) حديث مرفوع دې. نو علامه انورشاه کشميری رحمه الله فرمائی چه: (ومراد الحديث ان كل شراب من شانه السكر فهو حرام.... وقد تبين لى بعد مرور الدهر ان مراد الحديث كما ذهب اليه الجمهور واذن ان لا اصرف الاحاديث عن ظاهرها) [4]

ددې نه زيات نه داخبره ثابتيږی چه د باقی اشربه مسکره په څکلو کښې د خمر په حکم کښې دی، لهذا داشراب په شان ددې قليل او کثير استعمال درست نه دې، بياهم په دې ټولو امورو کښې د خمر حکم کښې کيدل ددې رواياتو نه ثابتيږی.

هم په دې وجه ډيرو احنافو علماء کرامو د حرمت په حق کښې د جمهورو د مذهب مطابق فتوی ورکړې ده چه ددې استعمال مطلقا حرام دې او بيع او حد په حق کښې د امام صاحب په قول باندې فتوی ورکړې ده. [5]

ددې اشربه ثلاثه نجسات باره کښې نجاست غليظ والا قول ته ترجيح ورکړې ده. [6]

ددې اشربه اربعه نه علاوه (نبيذ وغيره) د امام صاحب رحمه الله په نيز نجس نه دی.

---

[1]) سنن ابی داود كتاب الاشربة (رقم الحديث: ۳۶۸۷).

[2]) المجموع تشرح المهذب كتاب الصلوة: (ج ۲ص ۵۶۴)_

[3]) اعلاء السنن، كتاب الاشربة حرمة الخمر: (ج ۱۷۲۱)_

[4]) اعلاء السنن، كتاب الاشربة حرمة الخمر: ج۱۷ص ۲۱)_

[5]) تكملة فتح الملهم: (ج۳ص۶۰۸)_

[6]) المبسوط للسرخی: (ج ۲۴ص ۱۴)، ردالمختار (ج۶ص ۳۵۱)_

فائده : حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله به اګرچه د نبیذ مقدار غیر سکر استعمال جائز ګڼړلو لیکن د مختلف فیه کیدو په وجه هغوی ددې استعمال کله نه دې کړې، نو دهغوی قول مشهور دې چه «لواعطیت جمیع ما فی الدنیا ومثلها لاشرب قطرة نبیذ فلا اشربه فانه مختلف فیه، لواعطیت جمیع ما فی الدنیا لاحرم النبیذ لاحرمه لانه مختلف فیه»[1]

علماء کرامو لره داسې پکاردی چه کوم څیز مختلف او مشکوک وی، هغه ځائې کښې د فتوې ورکولو په وخت په تقوی باندې عمل کولو کوشش اوکړی.

د تراجم بخاری مقصد : حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله په دې ځائې کښې څلور ترجمې قائمې کړې دی، رومبئ ترجمه «باب ان الخمر من العنب» دې چه د شراب د انګورونه جوړیږی دې نه پس دوئمه ترجمه «باب نزل تحریم الخمر وهی من البسر» قائم فرمائیلې ده چه شراب د کهجورو وی. او بیا ترجمه «الخمر من العسل» قائم فرمائیلې ده او څلورمه ترجمة الباب «الخمر ما خامر العقل» قائم کړې ده.

ددې تراجم نه د حضرت امام بخاری رحمه الله مقصد څه دی په دې کښې دوه احتمال دی.

رومبې احتمال دادې چه ددې تراجمونه د حضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه څنګه شراب د انګورووی، داشان د تمر او عسل وغیره هم وی یعنی خمر صرف عصیر عنب سره خاص نه دی لکه څنګه چه د جمهور علماء کرامو مسلک دې.

دویم احتمال دادې چه حضرت امام بخاری رحمه الله داوئیل غواړی چه اصل شراب چه هغې ته په قرآن پاک کښې «انما الخمر والمیسر.....» فرمائیلې شوی دی. هغه شراب د عنب دی. او باقی چه څومره اشربه دی هغې ته مجازی طور خمر (شراب) وئیلې شوې دی.

د حضرت امام بخاری رحمه الله مقصد کښې دادواړه احتمالونه کیدې شی. بیا هم احتمال اول راجح دې چه ددې تراجمونه د جمهورو تائید کوی.[2]

۱- بَابُ الْخَمْرُ مِنَ الْعِنَبِ

[۵۲۵۷] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ صَبَّاحٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَابِقٍ حَدَّثَنَا مَالِكٌ - هُوَ ابْنُ مِغْوَلٍ - عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضی الله عنهما - قَالَ لَقَدْ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ، وَمَا بِالْمَدِينَةِ مِنْهَا شَيْءٌ. [ر: ۴۳۴۰]

قوله: لَقَدْ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ، وَمَا بِالْمَدِينَةِ مِنْهَا شَيْءٌ : په دې کښې د خمر نه خمر عنب مراد دې یعنی کله چه د شراب و حرمت نازل شو نو مدینه منوره کښې به د انګور شراب نه وو، د نورو میوؤ شراب به موندې شول لکه څنګه چه ددې باب په دویم روایت کښې دی. «وَعَامَّةُ خَمْرِنَا الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ»

---

[1] فیض الباری :(ج ٤ ص ۳۵۵)_
[2] الابواب والتراجم (ج ۲ ص ۹۶)_

داحديث صرف دحضرت امام ابو حنيفه رحمه الله دليل دې چه شراب صرف دعصير عنب وی.
په دې روايت كښې دی چه «وَمَا بِالْمَدِينَةِ مِنْهَا شَيْءٌ.» او مخكښې روايت كښې دی چه «ومابها خمر الاعناب الا قليلا» په دې دواړو كښې تعارض نه دې ځكه چه «شيء» نه مرادشی كثيردې نويو كښې دكثيرنفی ده. دويم روايت كښې دقليل اثبات دې.

[٥٢٥٨] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا أَبُو شِهَابٍ عَبْدُ رَبِّهِ بْنُ نَافِعٍ عَنْ يُونُسَ عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ عَنْ أَنَسٍ قَالَ حُرِّمَتْ عَلَيْنَا الْخَمْرُ حِينَ حُرِّمَتْ وَمَا نَجِدُ - يَعْنِي بِالْمَدِينَةِ - خَمْرَ الْأَعْنَابِ إِلَّا قَلِيلًا، وَعَامَّةُ خَمْرِنَا الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ. [ر: ٢٣٣٢]

داحديث اصحاب صحاح كښې صرف حضرت امام بخاری رحمه الله نقل كړې دې. نوعلامه عينی رحمه الله فرمائی چه «والحديث من افراده»[1]

قوله: (وَعَامَّةُ خَمْرِنَا الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ: علامه كرمانی رحمه الله فرمائی چه «الخمر مائع والبسر جامد فكيف يكون هواياه» يعنی خمرباندې به دتمراطلاق څنگه درست وی. بيادې جواب وركړې شوچه په دې كښې دبسرشراب باندې اطلاق مجازا او كړې شو اويا دلته مضاف محذوف دې يعنی «عامة اصل خمرنا التمر»[2]

[٥٢٥٩] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ أَبِي حَيَّانَ حَدَّثَنَا عَامِرٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - قَامَ عُمَرُ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ أَمَّا بَعْدُ نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ وَهْيَ مِنْ خَمْسَةٍ الْعِنَبِ وَالتَّمْرِ وَالْعَسَلِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ، وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ. [ر: ٤٣٤٠]

قوله: الْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ: يعنی شراب هغه دی چه عقل لره پټ كړي يا غلبه كړی.

٢- بَاب نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ وَهْيَ مِنَ الْبُسْرِ وَالتَّمْرِ.

[٥٢٦٠] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضى الله عنه - قَالَ كُنْتُ أَسْقِي أَبَا عُبَيْدَةَ وَأَبَا طَلْحَةَ وَأُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ مِنْ فَضِيخِ زَهْوٍ وَتَمْرٍ فَجَاءَهُمْ آتٍ فَقَالَ إِنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ. فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ قُمْ يَا أَنَسُ فَأَهْرِقْهَا. فَأَهْرَقْتُهَا.

[٥٢٦١] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا قَالَ كُنْتُ قَائِمًا عَلَى الْحَيِّ أَسْقِيهِمْ - عُمُومَتِي وَأَنَا أَصْغَرُهُمُ - الْفَضِيخَ، فَقِيلَ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ. فَقَالُوا أَكْفِئْهَا. فَكَفَأْتُهَا. قُلْتُ لأَنَسٍ مَا شَرَابُهُمْ قَالَ رُطَبٌ وَبُسْرٌ. فَقَالَ أَبُو بَكْرِ بْنُ أَنَسٍ وَكَانَتْ خَمْرَهُمْ. فَلَمْ يُنْكِرْ

---

[1] عمدة القاری (ج٢١ص ١٦٧)_
[2] شرح الكرمانی للبخاری :ج٢٠ص١٤١)، وعمدة القاری (ج٢١ص١٦٧)_

أَنَسٌ. وَحَدَّثَنِي بَعْضُ أَصْحَابِي أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسًا يَقُولُ كَانَتْ خَمْرَهُمْ يَوْمَئِذٍ.

قوله: فَضِيخَ زَهْوٍ وَتَمْرٍ: فضيخ شرابوته وئيلې شي، علامه عيني رحمه الله فرمائي چه (شراب يتخذ من البسر ويصب عليه ويترك حتى يغلى) يعنى كچا كهچورې په اوبو كښې واچوى تردې پورې چه په كښې ويشيږى [۱] او (زهو بسر ملون) يعنى كچارنګينې كهچوروته وئيلې شي چه په كښې سرخي اوزردى دواړه ظاهرشى. [۲] (فَضِيخَ زَهْوٍ وَتَمْرٍ) يعنى دكچاؤاوپخو كهجوروشراب.

قوله: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا قَالَ كُنْتُ قَائِمًا عَلَى الْحَيِّ أَسْقِيهِمْ - عُمُومَتِي - وَأَنَا أَصْغَرُهُمْ - الْفَضِيخَ: (حى) قبيلې ته وائى (عمومتى، سقيهم) كښې ضمير مفعول نه بدل واقع شوې دې، يامنصوب على الاختصاص دې [۳]، حضرت ابن حجر رحمه الله عمومتى دحى نه بدل كړې دې، په دې صورت كښې دابه مجروروى. [۴] يعنى څه دقبيلې سره ولاړاووم، خپلوترونوته مې شراب وركول، په دې حال كښې چه زه دټولونه وړوكې اووم، دصحيح مسلم په روايت كښې عبارت داشان دې:

(انى لقائم على الحى على عمومتى اسقيهم من فضيخ لهم وانا اصغرهم سنا) [۵]

قوله: اكفئها فكفأتها: (اكف) په وزن داضرب په معنى د (اقلبها) يعنى داواړوه.

قوله: (قلت لانس ما شرابهم): قائل معتمروالد سليمان تيمى دې. [۶] هغه فرمائى چه ما دحضرت انس نه تپوس اوكړو چه دهغه شراب څه څيزوو.

قوله: فَقَالَ أَبُو بَكْرِ بْنُ أَنَسٍ وَكَانَتْ خَمْرَهُمْ. فَلَمْ يُنْكِرْ أَنَسٌ: دحضرت انس څوئې ابوبكردخپل والدپه موجودګئ كښې اووئيل چه دهغوى شراب فضيخ وو، كانت كښې دننه ضميرفضيخ طرفته راجع دې اوفضيخ نه چونكه مرادخمردى. اوخمرمونث سماعى دې، ددې وجې دمونث ضميردې طرفته راجع كړې شوې دې. (اى وكانت الفضيخ خمرهم) [۷] حضرت انس رضي الله عنه په دۀ باندې نكيرنه دې كړې بلكه خاموشه شوې دې.

حضرت انس رضي الله عنه دااضافه داختصارپه وجه پريښودې وه ياترې هيره شوى وه. [۸]

---

[۱] عمدة القارى: ج۲۱ص۱۶۹)_

[۲] فتح البارى: ج ۱۰ص۴۷).عمدة القارى(ج۲۱ص۱۶۹)_

[۳] عمدة القارى: ج۲۱ص۱۶۹) شرح الكرمانى للبخارى: ج۲۰ص۱۴۳)_

[۴] فتح البارى: ج ۱۰ص۴۶)_

[۵] صحيح مسلم كتاب الاشربة باب تحريم الخمروبيان انهاتكون من عصيرالعنب.(رقم الحديث ۱۹۸۰)_

[۶] فتح البارى: ج ۱۰ص۴۸).عمدة القارى(ج۲۱ص۱۶۹)_

[۷] عمدة القارى(ج۲۱ص۱۶۹)_

[۸] عمدة القارى(ج۲۱ص۱۶۹)و فتح البارى: ج ۱۰ص۴۸)._

قوله: وَحَدَّثَنِي بَعْضُ أَصْحَابِي أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسًا يَقُولُ كَانَتْ خَمْرَهُمْ يَوْمَئِذٍ: ددې قائل هم سليمان تيمى دې [1] دا ماقبل سندسره موصول دې «بعض اصحابى» مبهم دې. شارحينوليکلى دى چه بکربن عبد الله مزنى اوقتاده ددې مصداق کيدشى. [2]

مطلب دادې چه د«كَانَتْ خَمْرَهُمْ» جمله پخپله حضرت انس ﷺ په دې حديث کښې ارشاد اوفرمائيله پورتنى حديث کښې خودهٔ څوئې وئيلى وو ليکن نيغ په نيغه دهغوى نه هم منقول ده.

[۵۲۲۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ الْمُقَدَّمِيُّ حَدَّثَنَا يُوسُفُ أَبُو مَعْشَرٍ الْبَرَّاءُ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي بَكْرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ حَدَّثَهُمْ أَنَّ الْخَمْرَ حُرِّمَتْ، وَالْخَمْرُ يَوْمَئِذٍ الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ. [ر: ۲۳۳۲]

قوله: يُوسُفُ أَبُو مَعْشَرٍ الْبَرَّاءُ: ديوسف بن يزيد کنيت ابو معشردې، دې دنوم په مقابله کښې په کنيت سره زيات مشهوردې. دهٔ ته براء «سپينولو والا» هم وائى. «لانه كان يبرى السهام» يعنى هغه به غشى تراشل [3]

په صحيح بخارى کښې ددهٔ صرف يوحديث دې، اودويم دکتاب الطب په آخرکښې دوه رازى حضرت امام بخارى ﷺ ددهٔ دواړه حديثونه په دمتابعت نقل کړى دى. [4]

يحيى بن معين ده ته ضعيف وئيلى دى. [5]

امام ابوداودفرمائى چه «ليس بذاك» [6]

ابن ابوحاتم فرمائى چه «يكتب حديثه» [7]

محمدبن ابى بکرمقدمى ده ته ثقه وئيلى دى. [8]

ابن حبان ده لره په کتاب الثقات کښې ذکرکړې دې. [9]

دحضرت امام بخارى ﷺ نه علاوه امام مسلم ﷺ هم ددهٔ نه روايتونه نقل کړى دى. [10]

---

[1] عمدة القارى(ج۲۱ص۱۶۹)و فتح البارى: ج ۱۰ص۴۸)._
[2] عمدة القارى(ج۲۱ص۱۶۹)و فتح البارى: ج ۱۰ص۴۸)._
[3] عمدة القارى(ج۲۱ص۱۶۹)و فتح البارى: ج ۱۰ص۴۸)._
[4] عمدة القارى(ج۲۱ص۱۶۹)و فتح البارى: ج ۱۰ص۴۹)._
[5] تهذيب الكمال (ج۳۲ص۴۴۸، (رقم الترجمة: ۷۱۶۵)_
[6] سوالات لاجرى: ۳الترجمة ۳۴۱، وتهذيب الكمال :ج۳۲ص۴۴۹)_
[7] الجرح والتعديل : ۹الترجمة :۹۸۶)_
[8] الجرح والتعديل : ۹الترجمة :۹۸۶)_
[9] كتاب الثقات لابن حبان (ج۸ص۶۳۳۷)_
[10] تهذيب الكمال:(ج۳۲ص۴۴۹)_

سعید بن عبیدالله : ددۀ هم په بخاری شریف کښې صرف داوه حدیثونه دی، یوحدیث دادې چه اودویم په کتاب الجزیه کښې تیرشوې دې.(۱)

۳- بَابُ الْخَمْرُ مِنَ الْعَسَلِ وَهُوَ الْبِتْعُ

وَقَالَ مَعْنٌ سَأَلْتُ مَالِكَ بْنَ أَنَسٍ عَنِ الْفُقَّاعِ فَقَالَ إِذَا لَمْ يُسْكِرْ فَلاَ بَأْسَ. وَقَالَ ابْنُ الدَّرَاوَرْدِيِّ سَأَلْنَا عَنْهُ فَقَالُوا لاَ يُسْكِرُ، لاَ بَأْسَ بِهِ

[۵۲۲۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَنِ الْبِتْعِ فَقَالَ «كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ».

[۵۲۲۴] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَنِ الْبِتْعِ وَهُوَ نَبِيذُ الْعَسَلِ، وَكَانَ أَهْلُ الْيَمَنِ يَشْرَبُونَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ». [ر: ۲۳۹]

[۵۲۲۵] وَعَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «لاَ تَنْتَبِذُوا فِي الدُّبَّاءِ، وَلاَ فِي الْمُزَفَّتِ». وَكَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ يُلْحِقُ مَعَهَا الْحَنْتَمَ وَالنَّقِيرَ.

قوله: (بتع): دباء په زیراودتاء په سکون سره، شهد نه چه کوم شراب جوړوی، هغې ته بتع وائی.

معین بن عیسی فرمائی چه ما دحضرت امام مالک رحمه الله دفقاع یعنی دمنقادشربت باره کښې تپوس اوکړو نوهغوی اووئیل چه ترکومې پورې هغه نشه آورنه وی نوترهغه وخت پورې ددې استعمال کښې هیڅ حرج نشته دې عبدالعزیزدراوردی هم ددې سوال تپوس اوکړو اوهم داجواب ورکړې شو.

قوله: (فقاع): (دفاء په ضمه اودقاف تشدید سره) منقاشربت ته وائی. علامه عینی رحمه الله فرمائی چه شربت عام طوردماتې شوې منقانه نه جوړوی.(۲)

قوله: قَالَ «لاَ تَنْتَبِذُوا فِي الدُّبَّاءِ، وَلاَ فِي الْمُزَفَّتِ». وَكَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ يُلْحِقُ مَعَهَا الْحَنْتَمَ وَالنَّقِيرَ: (دباء) دکدو زیړی اوباسی اوچه دې نه کوم لوښې جوړوی هغې ته دباء وائی په دې کښې چونکه مسام کم وی نوددې وجې مشروب کښې دننه زرسکر پیدا کیږی.(۳)

---

(۱) عمدة القاری (ج۲۱ص۱۶۹) و فتح الباری: ج ۱۰ص۴۹)_

(۲) عمدة القاری (ج۲۱ص۱۷۰)_

(۳) فیض الباری (ج۱ص۱۵۷)_

قوله: (مزفت): يعنى هغه لوښي چه په هغې باندې (زفت) مخلې شوې وی. (زفت) د تارکولو پشان به يو تيل وو چه هغه به ئې په جازونو او کشتو باندې مخل.چه دې ته دننه اوبه ورنشی. دجاهليت په زمانه کښې دشرابو په لوښو باندې به هم مخلې شو.[۱] ددې په وجه به مشروب کښې سکرنشه پيدا کيدله.

قوله: (حنتم): دشرابو منګې ته وائی.دا به عام طور باندې دشين رنګ وو.ددې ترجمه عموما (الجرة الخضراء) سره کوی يعنی شين منګې ياخم[۲]

قوله: (النقر): د(نقر)معنی دکنستلو ده. دې ته (نقير) هم وائی (نقير) دمفعول په معنی کښې دې يعنی کنيستې شوې څيز،ونې، کهجورې وغيره جرړه اوکنی اودې نه لوښې به ئې جوړولو.دې ته (نقر) او(نقير) وائی.[۳]

قوله: (وعن الزهری): دا ماقبل سندسره موصول دې، (وكان ابوهريرة) ددې قائل امام زهری رحمه الله دې.[۴]

۴=باب مَا جَاءَ فِي أَنَّ الْخَمْرَ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ مِنَ الشَّرَابِ.

[۵۲۲٦]حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي رَجَاءٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ أَبِي حَيَّانَ التَّيْمِيِّ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رضى الله عنهما-قَالَ خَطَبَ عُمَرُ عَلَى مِنْبَرِ رَسُولِ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ، وَهْيَ مِنْ خَمْسَةِ أَشْيَاءَ الْعِنَبِ وَالتَّمْرِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالْعَسَلِ، وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ، وَثَلاَثٌ وَدِدْتُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-لَمْ يُفَارِقْنَا حَتَّى يَعْهَدَ إِلَيْنَا عَهْدًا الْجَدُّ وَالْكَلاَلَةُ وَأَبْوَابٌ مِنْ أَبْوَابِ الرِّبَا. قَالَ قُلْتُ يَا أَبَا عَمْرٍو فَشَىْءٌ يُصْنَعُ بِالسِّنْدِ مِنَ الرُّزِّ. قَالَ ذَاكَ لَمْ يَكُنْ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ-صلى الله عليه وسلم-أَوْ قَالَ عَلَى عَهْدِ عُمَرَ.وَقَالَ حَجَّاجٌ عَنْ حَمَّادٍ عَنْ أَبِي حَيَّانَ مَكَانَ الْعِنَبِ الزَّبِيبَ.

[۵۲۲۷]حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي السَّفَرِ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ عُمَرَ قَالَ الْخَمْرُ يُصْنَعُ مِنْ خَمْسَةٍ مِنَ الزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالْعَسَلِ[ر: ۴۳۴۰]

دې باب سره حضرت امام بخاری رحمه الله يو قاعده کليه بيانول غواړی چه کوم يو څيزعقل لره مدهوش کړی هغه دشرعی اعتبارسره دخمرپه حکم کښې دی.(من الشراب) ئی اوفرمائيل دافيون وغيره ئې تيرويستل. ځکه چه هغه دمشروب قبيل نه نه دې.

---

[۱]) فيض البارى (ج۱ص۱۵۷)_

[۲]) انوار البارى: ج۳ص۱۱)_

[۳]) امداد البارى : (ج ٤ص۷۹۵)، اوګورئ مذکوره تفصيل دپاره عمدة القارى :(ج۲۱ص۷۱) _

[۴]) عمدة القارى :(ج۲۱ص۷۱)، واخرجه مسلم فى كتاب الاشربة باب النهى عن الانتباذ فى المزفت رقم الحديث :۱۹۹۲)، واخرجه النسائى فى الاشربة باب النهى عن النبيذالدباء والمزفت رقم الحديث :۵۱٤۰).

حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمائى چه حضرت عمرفاروق رضي الله عنه حضرت نبى كريم ﷺ په منبراوكتل چه خطبه ئې وركوله اووې فرمائيل چه دشرابوحرمت نازل شوې دې اوهغه دپنځوڅيزونونه جوړيږى. ① انګورونه ② كهجورې نه ③ غنمونه ④اوربشونه ⑤ شهدونه. اوخمرهغه دې چه عقل لره مدهوش كړى. اودرې خبرې داسې دى چه ددې چه متعلق ماغوښتل چه حضرت محمد ﷺ زمونږنه دجداكيدونه مخكښې مخكښې هغه په ښه شان بيان كړى. يودنيكه ميراث، دويم دكلاله بيان اودريو دسودمسائل.دابوحيان بيان دې چه ماشعبى رحمه الله ته اووئيل چه ائې ابوعمرو: په سندهـ كښې دوريژنه يومشروب جوړيږى (دهغې څه حكم دې ؟) نوهغوى اوفرمائيل چه دادحضرت نبى كريم په زمانه كښې نه وو.يائې داووئيل چه حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په زمانه كښې نه وو.حجاج په خپل روايت كښې دعنب په ځائې دزبيب لفظ استعمال كړې دې.

حضرت ابن حجررحمه الله فرمائى چه حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په دې خطبه كښې ارشاد اوفرمائيلو چه خمردپنځوڅيزونووى داپه دې وجه چه خلقوته معلوم شى دقران پاك آيت (انماالخمروالميسر.....) كښې خمرصرف ماء عنب سره خاص نه دې بلكه چه كوم څيزهم مخامرة عقل يعنى عقل لره مدهوش كولووالا وى نوهغه خمردې اوحرام دې-([1])

علامه عينى رحمه الله جواب كښې فرمائى چه (نعم يتناول غيرالمتخذ من العنب من حيث التشبيه لامن حيث الحقيقة)([2])

درې خبرى چه دهغې احكامو دتفصيل حضرت عمرفاروق رضي الله عنه خواهش اوكړو : حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په خپله خطبه كښې ددريوڅيزونوباره كښې تمناكړې ده چه حضرت نبى كريم ﷺ په هغې كښې تفصيلى احكام بيان اوفرمائى.

① جد: يعنى دنيكه ته ميراث ملاويږى كه نه.اوكه ميراث ورته ملاويږى نوڅومره حصه به ملاويږى.په دې كښې دحضرات صحابه كرام رضي الله عنهم نه مادنيكه دميراث باره كښې اويامسائل داسې يادې كړې چه هغې كښې دهريوحكم دبل نه مختلف وو.([3])

حضرت عبيده رضي الله عنه فرمائى چه حضرت عمرفاروق رضي الله عنه نه مادنيكه دميراث دمسئلې په سلسله كښې حضرت صحابه كرام راجمع كړل، خوپه دې كښې دچت نه مارراغوزارشو. اوجمع شوى صحابه كرام رضي الله عنهم منتشرشول.نوبياهغوى اوفرمائيل چه (ابى الله لا ان يختلفوا فى الجد)([4])اودحضرت على رضي الله عنه قول دې چه(من اراد ان يقتحم جراثيم جهنم فليقض فى الجد)([5])

② كلاله :ددې تفسيرداسې كړې شوې دې چه دكوم سړى پلار ،ځوئې دواړه نه وى، دويمه

---

[1]) فتح البارى (ج ١٠ص٥٧)_
[2]) عمدة القارى :(ج ٢١ص ١٧١)_
[3]) ارشادالسارى: (ج ١٢ص ٣٣٣) وعمدة القارى (ج ٢١ص ١٧٢)_
[4]) عمدة القارى (ج ٢١ص ١٧٢)_
[5]) عمدة القارى (ج ٢١ص ١٧٢)_

تشریح کړې شوې ده چه دکوم سړي پلار ،ځوئي دواړه نه وی، دریمه تشریح کړې شوې ده چه دچا ځوئي نه وی اګرچه والد وی (۱)ددې نور هم تفسیرونه شوی دی چه په کتاب التفسیر کښې تیرشوی دی. (۲)

قوله: وَأَبْوَابٌ مِنْ أَبْوَابِ الرِّبَا: دربا نه رباالفضل مراد ده ځکه چه ربانسیئه خومتفق علیه ده، په رباالفضل کښې اختلاف دې.(۳) حضرت عمرفاروق رضی الله عنه غوښتل چه حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم ددې احکامو تفصیل بیان اوفرمائی.

قوله: (قَالَ قُلْتُ يَا أَبَا عَمْرٍو): دقال فاعل ابوتیمی دې اوابوعمرودعامرشعبی کنیت دې.(۴)

قوله: وَقَالَ حَجَّاجٌ عَنْ حَمَّادٍ عَنْ أَبِي حَيَّانَ مَكَانَ الْعِنَبِ الزَّبِيبَ: داتعلیق عبدالعزیزبغوی په خپل مسند کښې موصولا نقل کړې.(۵)

پورته روایت کښې دی چه دکوموپنځوڅیزونوبیان شوې دې،په هغې کښې یوعنب دې، دحجاج عن حماد روایت کښې دعنب په ځائې زبیب ذکرشوی دی لکه څنګه چه دباب په آخری روایت کښې دی.

٥=باب مَا جَاءَ فِيمَنْ يَسْتَحِلُّ الْخَمْرَ وَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ.

[۵۲۴۸]وَقَالَ هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ حَدَّثَنَا عَطِيَّةُ بْنُ قَيْسٍ الْكِلاَبِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ غَنْمٍ الأَشْعَرِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو عَامِرٍ -أَوْأَبُومَالِكٍ- الأَشْعَرِيُّ وَاللَّهِ مَا كَذَبَنِي سَمِعَ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ: «لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ يَسْتَحِلُّونَ الْحِرَ وَالْحَرِيرَ وَالْخَمْرَ وَالْمَعَازِفَ، وَلَيَنْزِلَنَّ أَقْوَامٌ إِلَى جَنْبِ عَلَمٍ يَرُوحُ عَلَيْهِمْ بِسَارِحَةٍ لَهُمْ، يَأْتِيهِمْ - يَعْنِي الْفَقِيرَ - لِحَاجَةٍ فَيَقُولُوا ارْجِعْ إِلَيْنَا غَدًا. فَيُبَيِّتُهُمُ اللَّهُ وَيَضَعُ الْعَلَمَ، وَيَمْسَخُ آخَرِينَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ».

چه کوم سړې دشرابوبل نوم کیږدی اوداحلال اوګڼری،په دې باب کښې امام دهغه متعلق وعیدبیان کړې دې.

دحدیث باب ټول راویان شامیان دی.عبدالرحمان بن غنم فرمائی چه (حدثنی ابوعامراوابومالك الاشعری)هغوی ته په دې دوؤنومونو کښې شک دې بیاهم دصحابی په نوم کښې شک مضرنه دې.(۶)

---

۱) عمدة القاری (ج۲۱ص۱۷۲)_

۲) کشف الباری : (۱۲۹)

۳) ارشاد الساری:۱۲ص۳۳۳، وعمدة القاری :(۲۱ص۱۷۲)_

۴) ارشاد الساری:۱۲ص۳۳۳، وعمدة القاری :(۲۱ص۱۷۲)_

۵) ارشاد الساری:۱۲ص۳۳۳، وعمدة القاری :(۲۱ص۱۷۲)_

۶) ارشاد الساری: (ج۱۲ص۳۳،وعمدة القاری)ج۲۱ص۱۷۵)_

دابوداود په روايت کښې (حدثنى ابومالك) بغيرشک نه واردشوې دې (۱)
ابومالک اشعرى نوم کښې اختلاف دې،عبدالله بن هانى، عبدالله بن وهب اوعبيدبن وهب. دامختلف نومونه منقول دى (۲)
عبدالرحمان بن غنم وائى چه ماته ابومالک اشعرى داحديث بيان کړواوپه هغوى دحضرت نبى کريم ﷺ نه واوريدل چه فرمائيل ئې چه نزدې به څماپه امت کښې داسې قوم پيداشى چه زنا. ريښم اوباجې به حلال ګڼړې اوڅه قومونه به وى چه دوى ته به دړکار کولوڅه ضرورت نه وى بلکه شپونکې به رمې سره دمابنام په وخت کښې دوى لره رازى،
دوى لره به فقيردخپل ضرورت سره رازى (نودهغه نه دڅان خلاصولودپاره) به هغه خلق ده ته اووائى چه (نن نه) سبا مونږ لره راشه. الله به د(سبا راتلو) نه مخکښې مخکښې دوى لره هلاک کړى هغه غربه په هغوى باندې راپريوزى اوباقى به دخنزيراوشادوګانوپه شکل کښې دقيامت پورې مسخ کړې شى.

قوله: (قَالَ هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ خَالِدٍ) : حضرت امام بخارى رحمه الله دلته داشان تعليقا (قال) فرمائيلى دى.هشام بن عمارحضرت امام بخارى رحمه الله شيوخو کښې دې.اودخپل يوشيخ نه داشان صيغې سره حديث نقل کولووجه داکيديشى چه هغوى داحديث دهغوى سره دمذاکړې په طورآوريدلې وى. (۳)

په حديث باب باندې دابن حزم اعتراض او دهغې جواب : علامه ابن حزم رحمه الله (المحلى) کښې داحديث منقطع ګڼړلې دې.هغوى وئيلى دى چه دحضرت امام بخارى رحمه الله اوهشام رحمه الله په مينځ کښې دلته واسطه منقطع ده.حضرت امام بخارى رحمه الله (قال لى هشام) نه دى وئيلى لهذا داحديث متصل نه دې منقطع دې. (۴)

ليکن ابن صلاح په (مقدمه علوم الحديث) کښې دابن حزم په دې اعتراض ردکړې دې. اودائې په ډيرو وجوسره غلط ګرزولې دې.هغوى فرمائى چه حضرت امام بخارى رحمه الله صرف (قال) اووئيل اودخپل يوشيخ نه حديث نقل کوى. داخوياپه دې وجه کوى چه ثقه راويانونه ددې حديث نقل کول مشهوروى ياحضرت امام بخارى رحمه الله پخپله هغه حديث بل څې کښې موصولا نقل کړې وى يادډې نه علاوه څه بل څه سبب وى. بياهم دانقطاع سبب نه وى، صورتااګرچه دې ته منقطع وئيلې شى ليکن هغه حکما منقطع نه وى،علوم الحديث کښې فرمائى چه : (التعليق فى احاديث من صحيح البخارى قطع اسناده صورته صورة الانقطاع وليس حکمه

---

(۱) ارشاد السارى: (ج۱۲ص۳۳،وعمدة القارى)ج۲۱ص۱۷۵)_
(۲) ارشاد السارى: (ج۱۲ص۳۳،وعمدة القارى)ج۲۱ص۱۷۵)_
(۳) ارشاد السارى: (ج۱۲ص۳۳،وعمدة القارى)ج۲۱ص۱۷۵)_
(۴) المحلى لابن حزم وفتح البارى (ج۱۰ص۶۵)_

ولاعارجا ماوجد ذالك فيه منه من قبيل الصحيح الى قبيل الضعيف... ولا التفات الى ابى محمد بن حزم الظاهرى الحافظ فى رده ما اخرجه البخارى من حديث ابى عامر، اوابى مالك الاشعرى عن رسول الله ﷺ وليكونن فى امتى اقوام يستحلون الحر والحرير والخمر والمعازف، الحديث، من جهة ان البخارى اورده قائلا فيه، قال هشام بن عمار وساقه باسناده فزعم ابن حزم انه منقطع فيما بين البخارى وهشام وجعله جوابا عن الاحتجاج به على تحريم المعازف واخطأنى ذالك من وجوه والحديث صحيح معروف الاتصال بشرط الصحيح والبخارى رحمه الله قد يفعل ذالك لكون ذالك الحديث معروفا من جهة الثقات عن ذالك الشخص الذى علقه منه وقد يفعل ذالك لكونه قد ذكر ذلك الحديث فى موضع اخر من كتابه مسندا متصلا وقد يفعل ذالك من الاسباب التى لايصحبها خلل الانقطاع)(۱)

ابن صلاح په مقدمه علوم الحديث كښې دابن حزم داعتراض ډيروجوهات غلط ګڼړلى دى ليكن دهغې وجوهاتوتفصيل هغوى په دې كښې ذكركړې نه دې البته دمسلم شريف شرح كښې هغوىددې تفصيل بيان كړې دې.

يوخوداچه په حديث كښې بالكل انقطاع نشته دې ځكه چه هشام سره دحضرت امام بخارى رحمه الله ملاقات اوسماع دواړه ثابت دى دويم داچه داحديث بعينه دحضرت امام بخارى رحمه الله نه علاوه نوروسندونوسره متصلا منقول دې (۲)

نوطبرانى رحمه الله .ابن حبان رحمه الله اوامام ابوداود رحمه الله هم په خپلو سندونوسره ددې حديث تخريج كړې دې. (۳)

ابن الملقن په شرح ترمذى كښې فرمائيلى دى چه داحديث مستخرج اسماعيلى كښې پخپله دحضرت امام بخارى رحمه الله نه موصولا منقول دې په دې كښې دى چه (حدثنا الحسن بن سفيان حدثنا هشام بن عمار)(۴)

حضرت ابن حجر رحمه الله هم دحضرت امام بخارى رحمه الله دصنيع مختلف وجوهات بيان كړى دى.نو هغه ليكى :)الذى يورده البخارى من ذالك على انحاء : منها مايصرح فيه بالسماع عن ذالك الشيخ بعينه امافى نفس الصحيح واما خارجه والسبب فى الاول اما ان يكون اعاده فى عدة ابواب وضاق عليه مخرجه فتصرف حتى لايعيده على صورة واحدة فى مكانين وفى الثانى ان لايكون على شرطه اما لقصور فى بعض روايته واما لكونه موقوفا ومنها مايورده بواسطة عن ذالك الشيخ والسبب فيه كالاول لكنه فى غالب هذا لايكون

---

(۱) اوګورئ علوم الحديث لابن الصلاح النوع الحادى عشر:معرفة المعضل :(۶۷.۶۸)_

(۲) شرح مسلم النووى : (ج۱ص۱۸) واغاثة اللهفان لابن القيم :۱۳۹، وتعليقات علوم الحديث لنورالدين عتر:۶۸).

(۳) اوګورئ سنن ابى داود كتاب اللباس باب ماجاء فى الخمر(رقم الحديث ۴۰۳۹) وفتح البارى(ج۱۰ص۶۶)

(۴) فتح البارى :(ج۱۰ص۶۶)_

مكثرا عن ذالك الشيخ ومنها مالا يورده في مكان اخر من الصحيح مثل حديث الباب فهذا مما كان اشكل امره علي والذي يظهر لي الان انه لقصور في سياقه وهو هنا تردد هشام في اسم الصحابي)[1]

يعنى حضرت امام بخارى رحمه الله داصنيع مختلفو صورتونو كښې اختيار وى:

① يو صورت امام خو هلته اختيار وى چه چرته حضرت امام بخارى رحمه الله ددې شيخ نه تصريح پخپله صحيح بخارى كښې كړې وى بيا هم هغه تفنن عبارت دپاره داسې كوى يعنى يو حديث په مختلفو بابونو كښې دحضرت امام بخارى رحمه الله بار بار ذكر كول وى نو په بعضې مقاماتو باندې هغه دسماع تصريح سره هغه ذكر كوى او بعضو ځايونو كښې دسماع تصريح نه كوى چه عبارت كښې تفنن برقرار پاتې شى او ظاهردى چه په دې صورت كښې هغه حديث نه منقطع كيږى بلكه موصول كيږى. اګرچه په ظاهرا هغه تعليق وى ليكن په حقيقت كښې هغه موصول وى.

② او دويم صورت دادې چه حضرت امام بخارى رحمه الله دصحيح بخارى نه علاوه چرته بل مقام باندې ددې شيخ نه سماع تصريح كړې ده لكه الادب المفرد كښې، بيا هم صحيح بخارى كښې حضرت امام بخارى رحمه الله سختو شرطونو سره چه كوم التزام كړې دې، هغه روايت ددې شرطونو مطابق نه وى. ددې وجې چه يا خو هغه موقوف كيږى يا امام نيغ په نيغه هغه حديث ددې شيخ نه نه وى آوريدلى، او يا هغه ځاى كښې هم تفنن عبارت مقصود وى، اوس دموقوف كيدو صورت كښې يا براه راست ددې شيخ نه دنه آوريدو په صورت كښې خو هغه حديث ته منقطع وئيلې شى البته تفنن عبارت دپاره داسې كړى دى نو په دې صورت كښې هغه به موصول وى

ليكن په صحيح بخارى كښې حضرت امام بخارى رحمه الله عموماً داسې شيخ نه احاديث زيات نه اخلى.

③ دريم صورت داوى چه حضرت امام بخارى رحمه الله ددې شيخ نه دسماع تصريح نه په صحيح بخارى كښې كوى او نه دصحيح بخارى نه علاوه په څه بل مقام باندې دسماع تصريح كوى.

حضرت ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دا صورت ما باندې مشتبه پاتې شوې دې ليكن اوس داخبره په پوهه كښې رازى چه امام داشان هلته كوى چه كوم ځائې كښې دسياق سند كښې څه كمې وى، حديث باب كښې هم داكمى موجوده ده. ځكه چه هشام ته دصحابى په نوم كښې شك دې. ددې وجې حضرت امام بخارى رحمه الله دسماع تصريح نه ده كړې يعنى هغه حديث خو منقطع نه دې، حضرت امام بخارى رحمه الله ددې شيخ نه براه راست آوريدلې ليكن چونكه دسند سياق كښې څه كمزورى وى، ددې وجې حضرت امام بخارى رحمه الله دا دموصول په شكل كښې دسماع تصريح سره نه دې نقل كړې. والله اعلم.

قوله: يَسْتَحِلُّونَ الْحِرَ: (حر) دحاء كسره اودراء تخفيف سره فرج ته وائى. يعنى هغه خلق چه زنا لره حلاله ګڼړى، علامه عينى رحمه الله فرمائى چه اصل كښې (الجرح) دې يو حاء تخفيفا حذف

---

[1]) فتح البارى :(ج ١٠ص ٦٦)_

کړي شوه [۱]

ابن التين اوبعضي خلقودا «الخز» (بالخاء والزاء المعجمتين) نقل کړي دي.[۲]
(خز) ريښموته وئيلی شی. ليکن ابن عربی داتصحيف ګرزولي دي.[۳] علامه عينی رحمه الله (خز) والاروايت لره ترجيح ورکړي ده [۴] (خز) به يو خاص کپړه وه چه دوړئی اوريښمونه به جوړولي شوه. دريښمو استعمال دسړودپاره جائزنه دي. دلته ممانعت ددي خزمتعلق دي چه خاص دريښموجوړه شوي وی.

قوله: وَالْمَعَازِفَ: داد (معزفة) ياد (معزف) جمع ده. ددي نه خويادلهوولعب الات باجي وغيره مراددی يادديْ نه دباجوآوازونه اوسندري وغيره مراددی [۵]

قوله: (وَلَيَنْزِلَنَّ أَقْوَامٌ إِلَى جَنْبِ عَلَمٍ يَرُوحُ عَلَيْهِمْ بِسَارِحَةٍ): د (يروح) فاعل (الراعي) محذوف دي چه په دي باندي قرينه لفظ سارحه دي. ددي وجي چه سارحه څريدونکي چيلئ وغيره ته وائی اوددي دپاره دراعی کيدل ضروری کيږی.
اوبعضي روايتونو کښي (تروح عليهم سارحة) مروی دي، په هغه وخت کښي به د (تروح) فاعل (سارحه) وي.[۶]

قوله: (يَأْتِيهِمْ - يَعْنِي الْفَقِيرَ - لِحَاجَةٍ): (ياتي) فاعل (الفقير) محذوف دي. ځکه چه راوی (يعنی الفقير) نه ددي وضاحت کوی، بعضي روايتونو کښي (ياتيهم رجل) اوبعضو کښي (ياتيهم صاحب حاجة) وارد شوي دي.[۷]

قوله: (فَيُبَيِّتُهُمُ اللَّهُ وَيَضَعُ الْعَلَمَ، وَيَمْسَخُ آخَرِينَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ»):
د (يبيتهم الله) معنی ده چه الله تعالی به دوی دشپي په وخت هلاک کړی اونورولره به د شادوګانو او خنزيرانو په شکل کښي مسخ کړی.
دمسخ نه خويامسخ ظاهری حقيقی مرادده اويادا داخلاقوتبديلئ سره کنايه ده چه په دوی کښي دشادوګانو اوخنزيرانو عادتونه راشی. دشادومزاج حرص دي اودخنزيرمزاج کښي بې حيائی ده..[۸]

[۱]) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۶)، وارشاد الساری: (ج۱۲ص۳۳۵).
[۲]) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۶)، وارشاد الساری: (ج۱۲ص۳۳۵).
[۳]) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۶)، وارشاد الساری: (ج۱۲ص۳۳۵).
[۴]) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷).
[۵]) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۶) وفتح الباری (ج۱۲ص۶۸)_
[۶]) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۶) وفتح الباری (ج۱۲ص۶۸)_
[۷]) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۶) وفتح الباری (ج۱۰ص۶۸)_ وارشاد الساری: (ج۱۲ص۳۳۵)
[۸]) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۶) وفتح الباری (ج۱۰ص۶۹)_

حضرت ابن حجر رحمه الله فرمائی چه «والاول الیق بالسیاق»[۱]

علامه کرمانی رحمه الله ددې حدیث نه داخبره ثابتوی چه په دې امت کښې به جزوی مسخ واقع شی.[۲]

اوبعضو وئیلی دی چه کوم مسخ داخلاق ده یعنی ددوی اخلاق اوذړهٔ خیالات به خراب شی.

قوله: (إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ): په دې کښې دې طرفته اشاره ده چه ددوی دامسخ به مرګ پورې ممتدوی دسړی مرګ ددې وجې په شان دقیامت وی لکه څنګه چه یو حدیث کښې دی اودې طرفته هم اشاره کیدیشی چه ددوی حشربه دقرده اوخنازیرو په صورت کښې به وی. نوملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه:

«الی یوم القیامة...... اشارة الی ان مسخهم امتدالی الموت وان من مات فقد قامت قیامته ویمکن ان یکون حشرهم علی تلك الصور ایضا»[۳]

د حدیث شریف مطلب: دحدیث شریف مطلب دادې چه څماپه امت کښې به څه ډلې اوطبقې داسې پیدا کیږی چه هغوی بهٔ ریښمی کپړې اوشراب اوموسیقی به جائزګنړی.اوخپلې استوګنې به په اوچتو او ممتاز او نمایا مقاماتو باندې جوړوی. ددوی دا ممتاز او نمایا حیثیت ګتلو سره به غریب خلق به خپلو حاجتونه اوضرورتونه ددوی په مخکښې پیش کوی. دالله تعالی د ډیرو نعمتونو باوجود داخلق به ډیربخیلان وی. راتلونکی حاجت مند د شړلو دپاره به وائی چه سباراشې لیکن دسباراتلونه مخکښې مخکښې به دوی په عذاب کښې مبتلاء شی. علامه طیبی رحمه الله په شرح مشکوة کښې فرمائی چه:

«فان قلت کیف یکون نزول بعضهم الی جنب علم ورواح سارحتهم علیهم ودفعهم ذا الحاجة بالمطل والتسویف سببالهذا العذاب الالیم والنکال الهائل قلت: انهم لمابالغوافی الشح والمنع بولغ فی العذاب وبیان ذالك ان فی ایثار ذکرالعلم علی الجبال ایذانا بان المکان مخصب ممرع ومقصدلذوی الحاجات فیلزم منه ان یکونوا ذوی ثروة وموئلا للملهوفین فکما دل خصوصیة المکان علی ذالك المعنی دل خصوصیة الزمان فی قوله یروح علیهم سارحتهم وتعدیته علی المنبهة بالاستعلاء علی ان ثروتهم حینئذ اوفروا ظهر، ان احتیاج الواردین اشد لانهم احوج مایکونون حینئذ وفی قولهم: ارجع الینا غدا ادماج لمعنی الکذب وخلف الموعد واستهزاء بالطالب فاذن تستاهلون ان یعنیوا بکل نکال»[۴]

علامه طیبی رحمه الله دحدیث مفهوم داشکال اوجواب په صورت کښې پوهه کړې دې. چه دچا په ذهن کښې داشبه وی چه داخلق ددومره سخت عذاب به ولې مستحق وی؟

---

[۱] فتح الباری (ج۱۰ص۶۹)_

[۲] شرح الکرمانی :(ج۲۰ص۱۴۸)_

[۳] اوګورئی مرقاة المفتاح شرح مشکوة المصابیح کتاب الرقاق باب البکاء والخوف :(ج۱۰ص۷۹)_

[۴] شرح الطیبی کتاب الرقاق باب البکاء والخوف : (ج۱۰ص۲۱،۲۲)_

ددې جواب داورکړې شو چه کله هغه داسې عالیشان اوپرفضامقاماتو اوبنکلی ځایونوکښې وی هلته حاجت مندبه دتعاون په امیداوتوقع سره ځی.اوددې په وړاندې به دست سوال نیسی. دې خیال سره چه داخلق به ددوی سره مدد کوی.لیکن هغوی به ددوی مددنه کوی. بلکه ټال مټول نه به کار اخلی،دوی به شړی، وائی به چه سباراشئ په بخل اوذخیراوبنیګړې په منع کولوکښې به مبالغه کوی.نوداالله تعالی دطرفنه به بیاددوی دپاره مقررشوې عذاب هم دومره سخت وی.

قوله: (يروح اليهم): ئې اونه وئيل (عليهم)ئې اوفرمائيل (على)ئې راوړو اواشاره ئې اوکړه چه دوی سره به ډیرزیات دولت ثروت وی. ځکه علی د استعلاء دپاره راځی.

قوله: (ارجع الينا غدا): ددوی دروغوطرفته اشاره شوې ده چه هغه دخنداپه طور محتاجوته به اووائی چه سباراشئ،مقصدصرف دادې چه دوی لره به پرینبودل وی.ددې وجې هغه به دسختې سزامستحق ګرزی.

د ترجمة الباب سره د حديث مناسبت :دترجمة الباب جزء اول (يستحل الخمر) مناسبت خو د حدیث سره بالکل ظاهردې البته دترجمة جزء ثانی په (ويسميه بغيراسمه) مناسبت ظاهرنه دې. ځکه چه حدیث کښې مطلقا خمرحلال ګڼړلوذکرکوی. په دې سلسله کښې دوه خبرې وئیلې شوی دی.

① شارحینولیکلی دی چه حضرت امام بخاری رحمه الله جزء ثانی نه دامام ابوداود رحمه الله روایت طرفته اشاره کړې ده.ابوداود کښې هم دابومالک اشعری رضی الله عنه روایت کښې دا الفاظ دی.(ليشربن ناس من امتي الخمر يسمونها بغيراسمها) (۱)ابن حبان ددې تصحیح کړې ده (۲)ددې حدیث نورهم شواهد دی،نوامام ابن ماجه حضرت عباده بن صامت نه مرفوع روایت نقل کړې دې.په دې کښې دی چه (يشرب ناس من امتي الخمرباسم يسمونها اياه) (۳)

ددې مزید تفصیل ابن ابی عاصم روایت کښې دی چه حضرت مسلم خولانی دحضرت عائشه رضی الله عنها په خدمت کښې حاضر شو.هغوی دشام اودهغه ځائې دیخنئ متعلق تپوس اوکړو نووې وئیل چه داهل شاموبه شراب ځکل چه هغې ته (طلاء) وئیلې شی. حضرت عائشه رضی الله عنها چه دا واوریدل نووې فرمائیل چه (صدق رسول الله صلى الله عليه وسلم سمعته يقول ان ناسا من امتي يشربون الخمرويسمونها بغيراسمها) (۴)

---

(۱) سنن ابی داود،کتاب الاشربة باب مافی الداذی (رقم الحدیث :۳۶۸۸)_

(۲) فتح الباری : (ج ۱۰ص ۶۳)_

(۳) سنن ابی داود،کتاب الاشربة باب ماجاء الخمرسیمونها بغیراسمها رقم الحدیث :۳۳۸۵)و فتح الباری : (ج ۱۰ص ۶۳)_

(۴) فتح الباری : (ج ۱۰ص ۶۴)_

چونکه دا احادیث دحضرت امام بخاری رحمه الله په شرط باندې نه وو، ددې وجې هغوی دخپل عادت مطابق ترجمة الباب کښې دهغوی طرفته اشاره کړې ده.[1]

② ابن منیرفرمائی چه دترجمة الباب جزء ثانی په حدیث کښې واقع دې.د (من امتی) الفاظ سره ثابیږی خکه چه ددې نه معلوم شوچه هغوی به مسلمانان وی. اومستحل خمرکافر وی. لهذاهغه تاویل سره دې لره حلال گڼی.داشان به شراب اونشه آورمشروب څه بل نوم کیږدی طلاء اونبیذوغیره اودابه استعمالوی.[2]نوابن منیر رحمه الله لیکی:

(الترجمة مطابقة للحدیث الا فی قوله : ویسمیه بغیر اسمه فکانه قنع بالاستدلال له بقول فی الحدیث من امتی لانه من کان من الامة المحمدیة یبعد ان یستحل الخمر بغیر تاویل اذلوکان عنادا ومکابرة لکان خارجا من الامة لان تحریم الخمر قدعلم بالضرورة)[3]

۶-باب الإنتِبَاذِ فِي الأَوْعِيَةِ وَالتَّوْرِ.

[۵۲۲۹] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي حَازِمٍ قَالَ سَمِعْتُ سَهْلاً يَقُولُ أَتَى أَبُو أُسَيْدٍ السَّاعِدِي فَدَعَا رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي عُرْسِهِ، فَكَانَتِ امْرَأَتُهُ خَادِمَهُمْ وَهْيَ الْعَرُوسُ. قَالَتْ أَتَدْرُونَ مَا سَقَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَنْقَعْتُ لَهُ تَمَرَاتٍ مِنَ اللَّيْلِ فِي تَوْرٍ.[ر: ۴۸۸۱]

حضرت امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې دننه دلوښودنبیذجوړولومسئله بیان کړې ده.(اوعیة)د(وعاء)جمع دده لوښی ته وائی.[4]او(تور) دیوخاص لوښې نوم دې داد پیتلوتانبې او لرگی اودکاڼی نه جوړولې شی.[5]علامه ابن المنذرفرمائی چه حضرت نبی کریم ﷺ دپاره چه کوم تورکښې نبیذجوړول هغه دکاڼی وو.[6]

حضرت امام بخاری رحمه الله چه ددې باب لاندې کوم حدیث ذکرکړې دې،هغه په کتاب النکاح کښې (باب قیام المراة علی الرجال فی العرس)لاندې تیر شوې دې.[7]سند کښې (سهل) دصحابی نوم دې. دده نوم حزن وو. حضرنبی کریم ﷺ بدل کړو اوسهل ئې کیخودو.[8] دوی په مدینه

---

[1] الابواب والترجم :(ج۲ص۹۶. و عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۶) وفتح الباری (ج۱۰ص۶۳)_

[2] فتح الباری (ج۱۰ص۶٤)_

[3] عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۷)_

[4] عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۶)

[5] الابواب والترجم :(ج۲ص۹۶. و عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۶) وفتح الباری (ج۱۰ص۶۹) ارشاد الساری :(ج۱۲ص۳۳۶) _

[6] عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۶) وفتح الباری (ج۱۰ص۷۰)_

[7] کشف الباری :کتاب النکاح ۲:۳۰۲)_

[8] الاصابة فی تمیزالصحابة :ج ۲ص۸۸)_

منوره کښې وفات شوۍ کښې آخری صحابی وو، دده وفات په کال ۹۱ هجرئ یا ۸۸هجرئ کښې شوې دې.[1]

قوله: (فَكَانَتِ امْرَأَتُهُ خَادِمَهُمْ وَهِيَ الْعَرُوسُ): یعنی دابوسید ښځې دمیلمنو خدمت کولو اوهغه ناوې وه.دخادم لفظ مذکراومونث دواړودپاره استعمالیږی، ددې وجې په دې ځائې کښې دمونث دپاره استعمالیږی.[2]

قوله: قَالَتْ أَتَدْرُونَ مَا سَقَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: حضرت سهل فرمائی چه تاته معلوم دی چه دابوسیدبی بی حضرت نبی کریم ﷺ ته څه ورکړی وو.دې خوکهجورې دشپې نه د رسول کریم ﷺ دپاره دلرګی په یولوښی کښې خوشتې کړې وې.

د(انقاع) معنی دنقیع جوړولو ده اونقیع په اوبو کښې کهجورو اچولوته وائی.

٧-بَابُ تَرْخِيصِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فِي الأَوْعِيَةِ وَالظُّرُوفِ بَعْدَ النَّهْيِ

[٥٢٧٠] حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ سَالِمٍ عَنْ جَابِرٍ -رضي الله عنه- قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الظُّرُوفِ فَقَالَتِ الأَنْصَارُ إِنَّهُ لاَ بُدَّ لَنَا مِنْهَا. قَالَ «فَلاَ إِذًا».

وَقَالَ خَلِيفَةُ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ بِهَذَا.

[٥٢٧١] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي مُسْلِمٍ الأَحْوَلِ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ أَبِي عِيَاضٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو -رضي الله عنهما- قَالَ لَمَّا نَهَى النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الأَسْقِيَةِ قِيلَ لِلنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- لَيْسَ كُلُّ النَّاسِ يَجِدُ سِقَاءً فَرَخَّصَ لَهُمْ فِي الْجَرِّ غَيْرِ الْمُزَفَّتِ. حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بِهَذَا وَقَالَ فِيهِ لَمَّا نَهَى النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الأَوْعِيَةِ.

[٥٢٧٢] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ عَنْ عَلِيٍّ -رضي الله عنه- نَهَى النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ. حَدَّثَنَا عُثْمَانُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنِ الأَعْمَشِ بِهَذَا.

[٥٢٧٣] حَدَّثَنِي عُثْمَانُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ قُلْتُ لِلأَسْوَدِ هَلْ سَأَلْتَ عَائِشَةَ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ عَمَّا يُكْرَهُ أَنْ يُنْتَبَذَ فِيهِ فَقَالَ نَعَمْ قُلْتُ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ عَمَّا نَهَى النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- أَنْ يُنْتَبَذَ فِيهِ قَالَتْ نَهَانَا فِي ذَلِكَ أَهْلَ الْبَيْتِ أَنْ نَنْتَبِذَ فِي الدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ.

---

[1] ارشاد الساری :(ج۱۲ص۳۳۶) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۶) _
[2] ارشاد الساری :(ج۱۲ص۳۳۶) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۶) _

قُلْتُ أَمَا ذَكَرْتِ الْجَرَّ وَالْحَنْتَمَ قَالَ إِنَّمَا أُحَدِّثُكَ مَا سَمِعْتُ، أَفَأُحَدِّثُ مَا لَمْ أَسْمَعْ

[۵۲۷۴] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا الشَّيْبَانِيُّ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى - رضي الله عنهما - قَالَ نَهَى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - عَنِ الْجَرِّ الأَخْضَرِ. قُلْتُ أَنَشْرَبُ فِي الأَبْيَضِ قَالَ لاَ.

دحضرت نبى كريم ﷺ شروع كښې حنتم.دباء وغيره مخصوص لوښوكښې دنبيذ جوړولونه منع كړې وه.ليكن بيا حضرت نبى كريم ﷺ اجازت وركړې وو.ګويا چه سابقه حكم منسوخ شوې وو

حضرت امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې پنځه حديثونه نقل كړى دى،

ړومبې حديث دحضرت جابر رضي الله عنه دې. ددې نه معلوم شو چه حضرت نبى كريم ﷺ چه كوم رخصت وركړې وو هغه عام وو.

دويم حديث كښې مزفت اودريم اوڅلورم حديث كښې دباء اوپنځم حديث كښې جر اخضر يعنى حنتم متعلق دنهى برقرارساتلوبيان دې، ددې څلوروواړوحديثونونه معلوميږى چه هغه رخصت عام نه وو. مزفت اودباء اوحنتم په حق كښې دسابقه نهى برقرارساتلووو

حاصل دكلام دادې چه حضرت امام بخارى رحمه الله ددې باب لاندې پنځه احاديث ذكرفرمائيلى دى چه هغې دروستوڅلوروا احاديثونه معلوميږى چه حضرت نبى كريم ﷺ چه كوم رخصت وركړې دې.هغه عام نه دې.دحضرت امام بخارى رحمه الله دصنيع نه معلوميږى چه هغه دعموم درخصت قائل نه دې (۱)

مخصوصو لوښو كښې دنبيذ جوړولو مسئله : په حقيقت كښې دامسئله مختلف فيه ده. په دې باندې خودټولو اتفاق دې چه په څلورولوښوكښې دنبيذجوړولوپه ابتداء كښې منع كړې شوې وه.اوپه دې باندې هم اتفاق دې چه دې نه پس حضرت نبى كريم ﷺ رخصت وركړې وو. بيا هم په دې كښې اختلاف دې چه ټولولوښوكښې رخصت وركړې شوې دې يا بعضوكښې.

دحضرت امام مالك رحمه الله مسلك دادې چه دبا اومزفت كښې نهى باقى ده اوباقى لوښو كښې نهى منسوخ شوې ده.(۲) بيا ددې نهى متعلق دحضرت امام مالك رحمه الله نه دوه قوله منقول دى. يودتحريم اودويم دكراهت ليكن دده راجح قول دكراهت والا دې. په اوجزالمسالك كښې په كتب مالكيه كښې دمختلفواقوالوذكركولونه پس فرمائى چه (وعلم من ذالك ان المعروف فى مذهب الامام مالك الكراهة على الدباء والمزفت فقط) (۳)

---

(۱) فتح البارى :ج۱۰ص۷۱، الابواب والتراجم :ج۲ص۹۶)_

(۲) فتح البارى :(ج۱۰ص۷۱).اوجزالمسالك.كتاب الاشربة ماينهى ان ينتبذ فيه) ج ۱۳ص۳۵۱) الابواب والترجم :ج۲ص۹۶)_

(۳) فتح البارى :(ج۱۰ص۷۱).اوجزالمسالك.كتاب الاشربة ماينهى ان ينتبذ فيه) ج ۱۳ص۳۵۱) الابواب والترجم :ج۲ص۹۶)_

حضرت امام شافعی رحمه الله هم په دې کښې انتباذ (نبیذ جوړولو) لره مکروه ګڼړی، [1]
دحضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله په یو روایت کښې هم ددې مطابق دی. [2]

د احنافو مسلک : حضرات حنفیه په نیزحضرت نبی کریم عام اجازت ورکړې دې.ددې وجې ددوی په نیز تولولوښو کښې بلاکراهت نبیذ جوړول جائزدی.هغوی فرمائی چه ددې خلورو لوښو نهی منسوخ شوې ده. [3] لکه څنګه چه دلته په ړومبی روایت کښې دی، دحضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله دویم روایت هم دابو حنفیه رحمه الله مطابق دې [4]

حضرت امام مالک رحمه الله وغیره دباب باقی احادیثونه استدلال کوی چه په هغې کښې دجرغیر مزفت رخصت دې اوجرمزفت اودبامما نعت دې. چه ددې مطلب دادې چه دبا او مزفت خوعلی حالهماممنوع دی اودنوررولوښوممانعت ختم شوې دې.اوددې داستعمال اجازت ورکړی شوې دې.

حضرات احنافو دباب د ړومبی حدیث نه علاوه مسلم شریف کښې دحضرت بریده رضی الله عنه روایت نه استدلال کوی چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه (کنت نهیتکم عن الاشربة فی ظروف الادم فاشربوا فی کل وعاء غیران لاتشربوا مسکرا) [5]

دباب په ړومبی حدیث کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ دظروف (مزفت دباوغیره) نه منع کړې ده. په دې باندې حضرات انصاروا ووئیل چه ددې لوښونه سوا هیڅ چاره نشته دې، نوبیادوی اوفرمائیل چه بیاپه دې صورت کښې دا ممانعت نشته.
داحدیث حضرت امام بخاری رحمه الله دلته په ړومبی ځل ذکرفرمائیلې دې. [6]

قوله: (قَالَ «فَلاَ إِذًا»: داجواب شرط دې (ای اذاکان لابد لکم منها فلا نهی عنها....)علامه عینی رحمه الله لیکلی دی چه: (وحاصله ان النهی کان علی تقدیرعدم الاحتیاج الیها فلما ظهرت الضرورة الیها قررهم علی استعمالهم ایاها اونسخ ذالک بوحی نزل الیه فی الحال اوکان الحکم فی تلک المسالة مفوضا الی رایه) [7]

---

[1]) فتح الباری :(ج۱۰ص۷۱).اوجزالمسالک.کتاب الاشربة ماینهی ان ینتبذ فیه) ج ۱۳ص۳۵۱) الابواب والترجم :ج۲ص۹۶)_
[2]) فتح الباری :(ج۱۰ص۷۱).اوجزالمسالک.کتاب الاشربة ماینهی ان ینتبذ فیه) ج ۱۳ص۳۵۱) الابواب والترجم :ج۲ص۹۶)_
[3]) فتح الباری :(ج۱۰ص۷۱).اوجزالمسالک.کتاب الاشربة ماینهی ان ینتبذ فیه) ج ۱۳ص۳۵۱) الابواب والترجم :ج۲ص۹۶)_
[4]) فتح الباری :(ج۱۰ص۷۱).اوجزالمسالک.کتاب الاشربة ماینهی ان ینتبذ فیه) ج ۱۳ص۳۵۱) الابواب والترجم :ج۲ص۹۶)_
[5]) صحیح مسلم.کتاب الاشربة باب نهی عن الانتباذ فی المزفت والدباء والحنتم... (ج۳ص۵۸۵)_ رقم الحدیث :۹۷۷).
[6]) (۵۲۷۰) الحدیث اخرجه ابوداوفی الاشربة باب فی الاوعیة: ج۳ص۳۳۲. رقم الحدیث ۳۶۹۹) واخرجه الترمذی فی الاشربة باب ماجاء فی الرخصة ان ینبذفی الظروف: (ج٤ص۲۹۵) رقم الحدیث :۱۸۷۰)_
[7]) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۶) وفتح الباری (ج۱۰ص۷۲)_ وارشادالساری)ج۱۲ص۳۳۷)_

یعنی دممانعت حکم دعدم احتیاج په صورت کښې وولیکن کله چه دخلقوضرورتونه ظاهرشونوحضرت نبی کریم ﷺ ددوی استعمال برقراراوساتلواوداهم کیدیشی چه سابقه حکم دنوي وحی سره منسوخ شو، دریم صورت داهم کیدشی چه په مسئله کښې حکم برقرارساتل اومنسوخ کول دحضرت نبی کریم ﷺ په رائی باندې پریښودې شوې وو.

قوله: وَقَالَ لِي خَلِيفَةُ: خلیفه بن خیاط دحضرت امام بخاری رحمه الله په شیوخوکښې دې داحدیث حضرت امام بخاری رحمه الله غالباپه طوردمذاکره آوریدلې دې. ځکه چه د (حدثنی) صیغه ئې ترک کړه او(قال) ئې اوفرمائیل.[1]

دړومبی روایت په سندکښې سالم مجردوویعنی دوالددنوم نه بغیروو،په دې روایت کښې سالم بن ابی الجعد......دوالدنوم راغلې دې داشان په ړومبی روایت کښې سفیان ثوری وو،اوپه دې کښې سفیان بن عیینه مراددې.[2]

قوله: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ: ابوعیاض په سند کښې ابوعیاض نوم کښې مختلف اقوال دی، اودوه قولونه مشهوردی،عمروبن الاسوداوقیس بن ثعلبه لیکن راجح عمروبن الاسوددې.[3] دحضرت نبی کریم ﷺ زمانه هغوی موندلې وه،لیکن شرف دصحابیت هغوی ته حاصل نشو[4] اوبعضوعلماء کرامو هغوی په صحابه کرامو کښې شمیرلی دی.[5]

ابن سعدددوی په باره کښې اوفرمائیل چه (کان ثقة قلیل الحدیث)[6]

اوابن عبدالبرفرمائی چه (اجمعواعلی انه کان من العلماء الثقات)[7]

داحدیث حضرت امام بخاری رحمه الله دلته په ړومبی ځل ذکرکړې دې.[8]

قوله: حَدَّثَنِي عُثْمَانُ حَدَّثَنَا.......: داحدیث اوددې نه مخکښې مسددوالا حدیث دادواړه حضرت امام بخاری رحمه الله دلته په ړومبی ځل ذکرکړۀ.[9]

---

[1]) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۸) _ وارشادالساری)ج۱۲ص۳۳۷)_

[2]) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۸) _

[3]) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۹) وفتح الباری (ج۱۰ص۷۳)

[4]) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۷۸) وتهذیب التهذیب :۵۰۸)_

[5]) تهذیب التهذیب :۵۰۸)_

[6]) طبقات ابن سعد :(۷ص۴۴۲).

[7]) تهذیب التهذیب :۵۰۸)_ ابن حبان هغوی په کتاب الثقات ج۵ص۷۱ کښې ذکرکړې دې ددوی حالات دپاره اوګورئ تهذیب الکمال :ج۲۱ص۵۳۵،۵۴۳) _

[8]) ۵۲۷۱) الحدیث اخرجه فی مسلم الاشربة باب نهی عن الانتباذفی المزفت: ج۳ص۱۵۸۵) رقم الحدیث ۲۰۰۰) واخرجه ابوداود فی الاشربة باب فی الاوعیة :ج۳ص۳۳۲،رقم الحدیث ۳۷۰۰) واخرجه النسائی فی الاشربة باب فی الرخصة فی نبیذالجر:ج۴ص۱۹۰) رقم الحدیث ۶۸۴۱)_

[9]) ۵۲۷۳) الحدیث اخرجه فی مسلم الاشربة باب نهی عن الانتباذفی المزفت:..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله فرمائی چه ماداسودنه تپوس اوکړو چه آیاتا دام المؤمنین حضرت عائشه رضی الله عنها ددې څیزمتعلق تپوس کړې وو چه په هغې کښې نبیذجوړول مکروه دی.هغې اوفرمائیل چه آو،مادحضرت عائشه رضی الله عنها نه ددې متعلق تپوس کړې وو. حضرت نبی کریم ﷺ په څه څیزکښې دنبیذجوړلونه منع کړې ده.نوهغې اوفرمائیل چه مونږاهل بیت په دبااومزفت کښې دنبیذجوړولونه حضرت نبی کریم ﷺ منع کړی وو.ابراهیم وائی چه ماتپوس اوکړوچه حضرت عائشه رضی الله عنها جراوحنتم ذکرکړې وونوهغوی اوفرمائیل چه څه تاته هغه خبره بیانوم چه ماپخپله آوریدلې ده، آیاهغه هم بیان کړم چه ما آوریدلې نه وی.

قوله: قَالَتْ نَهَانَا فِي ذَلِكَ أَهْلَ الْبَيْتِ: (اهل البیت) منصوب علی الاختصاص دې. علامه عینی رحمه الله فرمائی چه داد (نهانا) ضمیرمنصوب نه بدل واقع کولې هم شی (۱)

قوله: (قُلْتُ أَمَا ذَكَرَتِ الْجَرَّ وَالْحَنْتَمَ: ددې قائل ابراهیم نخعی دې.هغه د اسودتپوس کوی چه آیاحضرت عائشه رضی الله عنها دجراوحنتم ذکرنه دې کړې.(۲)

قوله: أَفَأُحَدِّثُ مَا لَمْ أَسْمَعْ: په دې کښې همزه استفهامیه محذوف دې یعنی آیاڅه هغه څیزبیان کړم چه مانه دی آوریدلی،دکشمیهنی روایت کښې دی چه (افاحدث) اوپوروایت کښې د(افنحدث) دجمعې صیغه سره ده.(۳) مطلب دادې چه حضرت عائشه رضی الله عنها جراوحنتم ذکرکړې نه دې نوځه ئې دځپل طرف نه څنګه بیان کړم.

قوله: حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ......: داحدیث حضرت امام بخاری رحمه الله دلته په ړومبی ځل بیان کړې دې.(۴)

حضرت نبی کریم ﷺ جراخضرنه منع فرمائیلې ده. حضرت عبدالله بن ابی اوفی تپوس اوکړو چه آیاجر ابیض کښې څکلې شو؟ حضرت نبی کریم ﷺ ددې هم ممانعت اوفرمائیو. اصل کښې حضرت نبی کریم ﷺ د(اخضر) ذکرد قیداحترازی په طور کړې نه دې بلکه په هغه زمانه کښې دجراخضر استعمال عام وو.ددې وجې بیان ئې دواقع په طور ذکر اوفرمائیلو.(۵) علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه په دې کښې دحکم دارومدار دمنګی اخضریا ابیض کیدو باندې نه ده بلکه ددې تعلق صفت سره دې چه داشان منګوکښې نبیذوغیره زرنشه

.....بقیه ازحاشیه گذشته] ج۳ص۱۵۸۵) رقم الحدیث ۲۰۰۰) واخرجه ابوداود فی الاشربة باب فی الاوعیة :ج۳ص۳۳۲.رقم الحدیث ۳۷۰۰) واخرجه النسائی فی الاشربة باب فی الرخصة فی نبیذالجر:ج٤ص۱۹۰) رقم الحدیث ۶۸٤۱)_

(۱) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۸۰) وفتح الباری (ج۱۰ص۷۵)_ وارشادالساری)ج۱۲ص۳۳۹)_

(۲) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۸۰) وفتح الباری (ج۱۰ص۷۵)_

(۳) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۸۰) وفتح الباری (ج۱۰ص۷۵)_ وارشادالساری)ج۱۲ص۳۳۹)_

(۴) (۵۲۷٤) الحدیث اخرجه النسائی فی الاشربة باب الجرالاخضر(رقم الحدیث :۵۱۳۱)(۵۱۳۲)_

(۵) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۸۰) وشرح البخاری للکرمانی :ج۲۰ص۱۵۱) وفتح الباری (ج۱۰ص۷۶)_

اوركيږي. ددې وجې نې منع اوفرمائيله (۱)

علامه عینی لیکی : (حاصل الکلام ان النهی یتعلق بالاسکار، لا بالخضرة ولا بغیرها وقد اخرج ابن ابی اوفی انه کان یشرب نبیذ الجر الاخضر واخرج ایضا بسند صحیح عن ابن مسعود انه کان ینتبذ له فی الجر الاخضر) (۲)

۸- باب نَقِيعِ التَّمْرِ مَا لَمْ يُسْكِرْ

[۵۲۷۵] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْقَارِيُّ عَنْ أَبِي حَازِمٍ قَالَ سَمِعْتُ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ أَنَّ أَبَا أُسَيْدٍ السَّاعِدِيَّ دَعَا النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- لِعُرْسِهِ، فَكَانَتِ امْرَأَتُهُ خَادِمَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَهِيَ الْعَرُوسُ. فَقَالَتْ مَا تَدْرُونَ مَا أَنْقَعْتُ لِرَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنْقَعْتُ لَهُ تَمَرَاتٍ مِنَ اللَّيْلِ فِي تَوْرٍ. [ر: ۴۸۸۱]

حضرت امام بخاری رحمه الله فرمائی که نقیع تمرکښې اسکار نه وی پیداشوی نوددې په استعمال کښې هیڅ حرج نشته دې، دعدم اسکارقیداګرچه روایت کښې وارد شوې نه دې، مګرداقیدداشان دحدیث نه اخذ کیدیشی چه هغه کهجورې یوشپه اېښودې شوې اویوشپه کښې سکرنه پیدا کیږی. (۳)

۹- باب الْبَاذَقِ، وَمَنْ نَهَى عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ مِنَ الأَشْرِبَةِ

وَرَأَى عُمَرُ وَأَبُو عُبَيْدَةَ وَمُعَاذٌ شُرْبَ الطِّلاَءِ عَلَى الثُّلُثِ. وَشَرِبَ الْبَرَاءُ وَأَبُو جُحَيْفَةَ عَلَى النِّصْفِ.
وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اشْرَبِ الْعَصِيرَ مَا دَامَ طَرِيًّا.
وَقَالَ عُمَرُ وَجَدْتُ مِنْ عُبَيْدِ اللَّهِ رِيحَ شَرَابٍ، وَأَنَا سَائِلٌ عَنْهُ، فَإِنْ كَانَ يُسْكِرُ جَلَدْتُهُ.

[۵۲۷۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي الْجُوَيْرِيَةِ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنِ الْبَاذَقِ. فَقَالَ سَبَقَ مُحَمَّدٌ -صلى الله عليه وسلم- الْبَاذَقَ، فَمَا أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ. قَالَ الشَّرَابُ الْحَلاَلُ الطَّيِّبُ. قَالَ لَيْسَ بَعْدَ الْحَلاَلِ الطَّيِّبِ إِلاَّ الْحَرَامُ الْخَبِيثُ.

[۵۲۷۷] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها -قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يُحِبُّ الْحَلْوَاءَ وَالْعَسَلَ. [ر: ۴۹۱۸]

باذق دذال په فتحه اوکسره دواړوسره استعمالیږی، دادباذه معرب دې، باذه شرابوته وائی. (۴)

---

(۱) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۸۰) وشرح البخاری للکرمانی :ج۲۰ص۱۵۱) وفتح الباری (ج۱۰ص۷۶)_
(۲) عمدة القاری :ج۲۱ص۱۸۰)
(۳) فتح الباری (ج۱۰ص۷۷)_ ولابواب والتراجم ج۲ص۹۶) وارشادالساری)ج۱۲ص۳٤۰)_
(۴) فتح الباری (ج۱۰ص۷۷)_ ولابواب والتراجم ج۲ص۹۶) وارشادالساری)ج۱۲ص۳٤۰)_

قوله: وَرَأَى عُمَرُ وَأَبُو عُبَيْدَةَ وَمُعَاذٌ شُرْبَ الطِّلَاءِ عَلَى الثُّلُثِ: حضرت عمرفاروق رضي الله عنه حضرت ابوعبيده رضي الله عنه اوحضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه پخ شوې يوحصه پاتې شوې طلاء لره جائزګڼړې.
دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه اثرلره حضرت امام مالک رحمه الله اودحضرت عبيده اوحضرت معاذ رضي الله عنهما اثرلره ابن ابى شيبه موصولا نقل کړې دې.(١)

قوله: وَشَرِبَ الْبَرَاءُ وَأَبُو جُحَيْفَةَ عَلَى النِّصْفِ: حضرت براء بن عازب اوابوجحيفه (وهب بن عبدالله) پوخ شوې نيم پاتې کيدووالا طلاء لره نوش کړې ده. حضرت براء اوابوجحيفه اثرلره ابن ابى شيبه موصولا نقل کړې دې.(٢)

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اشْرَبِ الْعَصِيرَ مَا دَامَ طَرِيًّا: يعنى دانګورواوبه چه ترکومې پورې تازه وى څکئ ئې، داتعليق امام نسائى دابوثابت ثعلبى په طريق باندې موصولانقل کړې دې.هغه فرمائى:
(کنت عند ابن عباس فجاء رجل يساله عن عصير فقال اشربه ماکان طريا قال: انى طبخت شرابا وفى نفسى منه شئ فقال أکنت شاربه قبل ان تطبخه قال لا قال فان ان النار لا تحل شيئا قد حرم)(٣)

قوله: وَقَالَ عُمَرُ وَجَدْتُ مِنْ عُبَيْدِ اللَّهِ رِيحَ شَرَابٍ، وَأَنَا سَائِلٌ عَنْهُ، فَإِنْ كَانَ يُسْكِرُ جَلَدْتُهُ: حضرت عمرفاروق رضي الله عنه فرمائى چه ماخپل (ځوئې) دعبدالله دخلې نه دشرابوبوئى محسوس کړې دې،څه به ددې تحقيق کوم،که هغه مسکرشونوهغه ته به کوړې ورکوم.
روايت کښې رازى چه حضرت عمرفاروق رضي الله عنه دتحقيق کولونه پس په هغه باندې حدجارى کړو.(٤)
داتعليق حضرت امام مالک رحمه الله موصولانقل کړې دې.(٥)

قوله: فَقَالَ سَبَقَ مُحَمَّدٌ -صلى الله عليه وسلم- الْبَاذَقَ، فَمَا أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ:
① حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه دباذق باره کښې تپوس اوکړې شونوهغوى اوفرمائيل چه حضرت نبى کريم صلى الله عليه وسلم دباذق نه مخکښې ددنيانه تشريف اوړې وو(يعنى دباذق نومې څيزخودې نه پس پيدا شوپه دې زمانه کښې حضرت نبى کريم صلى الله عليه وسلم نه وو)لهذا اوس خوکليه قاعده داده چه (ما اسکر فهو احرام)که يومشروب مسکردې نوحرام دې ګڼى نه.(٦)

(١) عمدة القارى :ج٢١ص١٨١) وفتح البارى (ج١٠ص٧٨)_ وارشادالسارى)ج١٢ص٣٤١)_
(٢) عمدة القارى :ج٢١ص١٨١) وفتح البارى (ج١٠ص٧٨)_ وارشادالسارى)ج١٢ص٣٤١)_
(٣) عمدة القارى :ج٢١ص١٨١) وفتح البارى (ج١٠ص٧٨)_
(٤) عمدة القارى :ج٢١ص١٨١) وفتح البارى (ج١٠ص٧٨)_ وارشادالسارى)ج١٢ص٣٤١)_
(٥) عمدة القارى :ج٢١ص١٨١) وفتح البارى (ج١٠ص٧٨)_ وارشادالسارى)ج١٢ص٣٤١)_
(٦) تعليقات لامع الدارى :(ج٩ص٤٣٧)_

②ددې جملې دويم مطلب دابيان شوې دې چه حضرت نبی کريم ﷺ دشرابوباذق نوم اېښودلونه مخکښې داحرام ګرزولې دې.نوابن بطال رحمه الله فرمائی چه (ای سبق محمد التحريم للخمرقبل تسميتهم لها بالباذق)(١)

قوله: قَالَ الشَّرَابُ الحَلاَلُ الطَّيِّبُ. قَالَ لَيْسَ بَعْدَ الحَلاَلِ الطَّيِّبِ إِلاَّ الحَرَامُ الخَبِيثُ: حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه شراب هغه دی چه حلال طيب وی، حلال طيب نه پس حرام خبيث پاتې کيږی ځکه چه کوم مشکوک اشربه دی هغه هم دحرام قائمقام دی.

مولانا رشيد احمد ګنګوهی رحمه الله په (لامع الدراری) کښې ددې جملې تشريح هم فرمائی:

(ان شراب المسلم ماكان حلال طيبا واما ما سواه فهو الحرام الخبيث ليس بشراب المسلم)(٢)

بعضو نيلی دی چه ددې قول قائل معلوم نه دې چه څوک دې، ليکن ظاهرهم دادې چه دحضرت ابن عباس رضی الله عنه قول دې:(٣)

١٠= باب مَنْ رَأَى أَنْ لاَ يَخْلِطَ الْبُسْرَ وَالتَّمْرَ إِذَا كَانَ مُسْكِرًا، وَأَنْ لاَ يَجْعَلَ إِدَامَيْنِ فِي إِدَامٍ

[٥٢٧٨] حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا هِشَامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه - قَالَ إِنِّي لأَسْقِي أَبَا طَلْحَةَ وَأَبَا دُجَانَةَ وَسُهَيْلَ ابْنَ الْبَيْضَاءِ خَلِيطَ بُسْرٍ وَتَمْرٍ إِذْ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ، فَقَذَفْتُهَا وَأَنَا سَاقِيهِمْ وَأَصْغَرُهُمْ، وَإِنَّا نَعُدُّهَا يَوْمَئِذٍ الْخَمْرَ. وَقَالَ عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ سَمِعَ أَنَسًا.[ر: ٢٣٣٢]

[٥٢٧٩] حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ أَخْبَرَنِي عَطَاءٌ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا - رضی الله عنه - يَقُولُ نَهَى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - عَنِ الزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ وَالْبُسْرِ وَالرُّطَبِ.

[٥٢٨٠] حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا هِشَامٌ أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ يُجْمَعَ بَيْنَ التَّمْرِ وَالزَّهْوِ، وَالتَّمْرِ وَالزَّبِيبِ، وَلْيُنْبَذْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى حِدَةٍ.

د خليطين مسئله: حضرت نبی کريم ﷺ دمنقا اوکهجورويوځائې کولو اونبيذ جوړولونه منع فرمائيلې وه.ځکه چه داشان دواړه يوځائې کولوسره زرسکرپيداکيږی، په دې کښې اختلاف دې:

---

(١) عمدة القاری :ج ٢١ص١٨٢) وفتح الباری (ج١٠ص٨١)_

(٢) تعليقات لامع الداری :(ج٩ص٤٣٧) _

(٣) عمدة القاری :ج ٢١ص١٨٢) وفتح الباری (ج١٠ص٨٥)_ لامع الداری :(ج٩ص٤٣٨) _

① دائمه ثلاثه په نیز خلیطین ناجائز او حرام دی. [1]

② د خلیطین متعلق چه کومه نهی وارد شوې ده چه هغه نهی تنزیهی ده لهذا خلیطین چه کله مسکرنه وی، حرام نه دی. امام نووی رحمه الله د احضرت امام شافعی رحمه الله مذهب ګرزولې دې. او جمهور علماء کرام هم د اقول دې. [2]

③ خلیطین کښې څه حرج نشته دې، بلاکراهت جائزده. په دې شرط چه مسکرنه وی. حضرات حنفیه نه هم دا مسلک روایت شوې دې. [3]

د جمهورو استدلال د احادیث باب نه دې، چه دې کښې د خلیطین منع کړې شوې ده. امام نووی رحمه الله د امام اعظم په دې مسئله باندې تنقید کړې دې او لیکی:

(انكرعليه الجمهور وقالوا: هذه منابذة لصاحب الشرع فقد ثبتت الاحاديث الصحيحة الصريحة في النهي عنه فان لم يكن حراما كان مكروها) [4] یعنی د احادیث نهی په وجه که حرام نه دی نو کم ازکم دې لره ضرور مکروه ګرزول پکار دی.

لیکن علامه عینی رحمه الله د امام نووی رحمه الله تردید کوی او فرمائی چه:

(هذه جراءة شنيعة على امام اجل من ذالك وابوحنيفة لم يكن قال ذالك برأية وانما مستنده في ذالك احاديث) [5] یعنی امام ابوحنیفه رحمه الله د خپل طرفنه د اخبره نه ده وئیلې ده بلکه د احادیث په بنیاد باندې د امسلک ئې اختیار کړې دې.

دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دلائل: حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دلاندینو احادیثونه استدلال کوی. ① سنن ابی داود کښې د صفیه بنت عطیه روایت کښې دی. هغه فرمائی چه:

(دخلت مع نسوة من عبدالقيس على عائشه فسألناها عن التمر والزبيب فقالت كنت اخذ قبضة من تمر وقبضة من زبيب فالقيه في اناء فامرسه ثم اسقيه النبي ﷺ) [6]

په دې روایت کښې تصریح ده چه حضرت عائشه رضی الله عنها کهجورې او منقا یوځائې کړې وې او نبیذئې جوړ کړې وو. او حضرت نبی کریم ﷺ باندې ئې څکولی وو. البته په دې حدیث کښې ابوبحر نومې یو روای باندې ابن حزم اعتراض کړې دې چه هغه مجهول دې [7] لیکن علامه عینی رحمه الله فرمائی چه ابوبحر مشهور او معروف راوی دې او ددهٔ نوم عبدالرحمان بن

---

[1]) عمدة القارى :ج۲۱ص۱۸۲) وفتح البارى (ج۱۰ص۸۵)_ لامع الدارى :(ج۹ص۴۳۸)_

[2]) عمدة القارى :ج۲۱ص۱۸۳) وفتح البارى (ج۱۰ص۸٤)_ وشرح الكرمانى :۲۰ص۱۵٤)_

[3]) عمدة القارى :ج۲۱ص۱۸۳) وفتح البارى (ج۱۰ص۸٤)_ وشرح الكرمانى :۲۰ص۱۵٤)_

[4]) عمدة القارى :ج۲۱ص۱۸۳) وفتح البارى (ج۱۰ص۸٤)_ وشرح الكرمانى : ۲۰ص۱۵٤) وارشاد السارى: (ج۱۲ص۳٤٤) والابواب والتراجم :(ج۲ص۹٦)_

[5]) عمدة القارى :ج۲۱ص۱۸٤) والابواب والتراجم :(ج۲ص۹٦)_

[6]) سنن ابى داود، كتاب الاشربة باب فى الخلطين)ج۳ص۳۳۳،۳۳٤.(رقم الحديث ۳۷۰۸).

[7]) عمدة القارى :(ج۲۱ص۱۷٤)_

عثمان دې.(۱)

ابن حبان په كتاب الثقات كښې داذكركړى دى.(۲) حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى چه «لاباس به»(۳) ابن عدى فرمائى چه «وهوممن يكتب حديثه»(۴) عجلى ددې توثيق كړې دې.(۵)

③ په سنن ابى داود كښې دحضرت عائشه رضي الله عنها روايت دې «ان رسول الله كان ينبذ له زبيب فيلقى فيه تمروتمرفيلقى فيه الزبيب»(۶)

④ حضرت امام محمدرحمه الله په كتاب الاثاركښې دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه هم دخليطين استعمال نقل كړې دې.(۷)

احاديث باب لره حضرات احناف دمذكوره احاديثوپه بنيادمنسوخ كړې دى. هغه فرمائى چه په شروع كښې ددې ممانعت وولېكن دې نه پس اجازت وركړې شوې وو.(۸)

قوله: إِذَا كَانَ مُسْكِرًا : ترجمة الباب كښې دحضرت امام بخارى رحمه الله ذكرشوى دې قيدلره ابن بطال غلط گرزولې دې،اووئيلې ئې دى چه نهى عن الخيطين عام ده. كه هغه مسكروى اوكه نه وى. ددې وجې نهى داسكارقيدسره مختص كول درست نه دى.(۹)

بعضوئيلې دى چه دحضرت امام بخارى رحمه الله په نيزخليطين قبل الاسكارچونه جائزدى،ددې وجې هغوى داسكارقيدلگولې دې.(۱۰)

اوداهم كيديشى چه حضرت امام بخارى رحمه الله ددې نه دخليطين قبل ممانعت كړې وى ددواړو علتونوطرفته اشاره ئې كړې وى چه دخليطين ممانعت ياداسكارپه وجه سره وى، اوياداسراف په وجه سره وى،دباب په ړومبى حديث كښې علت اولى باندې دلالت كوى، اودباب په اخرى دوه حديثونه علت ثانيه باندې دلالت كوى.(۱۱)

قوله: وَأَنْ لاَ يَجْعَلَ إِدَامَيْنِ فِي إِدَامٍ : دوه ادام دې يوادام جوړنه كړې شى.لكه تمراوزبيب دواړه چه يوځاى شى اودواړه يوعرق اوادام جوړكړې، شى.دادرست نه دى.

---

(۱) عمدة القارى :(ج۲۱ص۱۷٤)_

(۲) عمدة القارى :(ج۲۱ص۱۷٤)_

(۳) تهذيب الكمال :ج۱۷ص۱۷٤_

(۴) الكامل فى ضعفاء الرجال :(ج۲ص۲۷۳)_

(۵) تهذيب التهذيب :(۶۲۲۷) _

(۶) سنن ابى داود،كتاب الاشربة باب فى الخلطين)ج۳ص۳۳۳،۳۳٤.(رقم الحديث ۳۷۰۸).

(۷) كتاب الاثار: (۱۲۰)_

(۸) اعلاء السنن،كتاب الاشربة باب اباحة الخليطين(ج۱۸ص۳۷)_

(۹) عدة القارى (ج۲۱ص۱۸۲، والابواب والتراجم :ج۲ص۹۶، وفتح البارى :(ج ۱۰ص۸۳)_

(۱۰) عدة القارى (ج۲۱ص۱۸۲، والابواب والتراجم :ج۲ص۹۶، _

(۱۱) عدة القارى (ج۲۱ص۱۸۲، والابواب والتراجم :ج۲ص۹۶_

قوله: وَقَالَ عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ سَمِعَ أَنَسًا: داتعلیق دې په پورتنی حدیث کښې (قتادة عن انس...عنعنه) اوپه دې تعلیق کښې دقتاده دسماع تصریح ده.ابونعیم داتعلیق موصولانقل کړې دې (۱)

دباب آخری دوه حدیثونه حضرت امام بخاری رحمه الله په رومبی ځل ذکرکړی دی. په آخری حدیث کښې (جمع بین التمر والزهو) نه منع کړې شوې ده.اوهریونه ځانله دنبیذ جوړولو حکم کړې شوې دې.

ددې وجه داده چه کله دوه څیزونه یوځائې کړې شی،نوپه هغې کښې زر نشه پیدا کیږی.

۱۱= باب شُرْبِ اللَّبَنِ

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى (مِنْ بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِلشَّارِبِينَ).

[۵۲۸۱] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رضی الله عنه-قَالَ أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ بِقَدَحِ لَبَنٍ وَقَدَحِ خَمْرٍ.[ر: ۳۲۱۴]

حضرت امام بخاری رحمه الله ددې باب نه اشربه مباحه ذکرفرمائی دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه پئ څکل جائزدی.بعضې علماء کراموئیلی دی چه حضرت امام بخاری رحمه الله په دې خلقوباندې ردکوی، چه هغوی وائی چه کثرت لبن نه اسکارپیدا کیږی.داقول غلط دې ځکه چه په پئیو کښې مطلقا داسکاروکیفیت نه پیدا کیږی.(۲)

قوله: وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: مِنْ بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِلشَّارِبِينَ:

اوستاسودپارهپه ځناورو کښې هم یوسبق موجوددې دځیتونه سوتو اووینوپه مینځ کښې یوڅیزپه تاسوباندې څکلې شی یعنی خالص پئ چه څکونکوته ډیرښه معلومیږی.

ځناوروانبه خوری.کله چه هغه ددې په معده کښې جمع کیږی نودمعدې عمل سره دخوراک فضله لاندې کینی اوپورته پئ راشی.اوددې دپاسه وینه،بیاځیګرداُدرې واړه بیل بیل مقاماتوکښې تقسیموی. وینی لره په رګونو کښې اوپئیولره تئیونوته رسوی، داشان دواړ ګندونوپه مینځ کښې صفااوخالص پئیو الله تعالی تخلیق کوی اودالله تعالی یولوئې قدرت دې (۳)

[۵۲۸۲] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ سَمِعَ سُفْيَانَ أَخْبَرَنَا سَالِمٌ أَبُو النَّضْرِ أَنَّهُ سَمِعَ عُمَيْرًا مَوْلَى أُمِّ الْفَضْلِ يُحَدِّثُ عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ قَالَتْ شَكَّ النَّاسُ فِي صِيَامِ رَسُولِ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-يَوْمَ

---

(۱) عدة القاری (ج۲۱ص۱۸۳، وفتح الباری :(ج ۱۰ص۴۸)_

(۲) والابواب والتراجم :ج۲ص۹۷_

(۳).الجامع لاحکام القران للقرطبی :(۱۰ص۱۲۵)_

عَرَفَةَ، فَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِ بِإِنَاءٍ فِيهِ لَبَنٌ فَشَرِبَ. فَكَانَ سُفْيَانُ رُبَّمَا قَالَ شَكَّ النَّاسُ فِي صِيَامِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَوْمَ عَرَفَةَ فَأَرْسَلَتْ إِلَيْهِ أُمُّ الْفَضْلِ. فَإِذَا وُقِفَ عَلَيْهِ قَالَ هُوَ عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ. [ر: ۱۵۷۵]

سفیان ابن عینیه دا حدیث په دواړو طریقو سره نقل کړې دې.

① یوئې دحضرت ام الفضل نه موصولا نقل کړې دې. هغه فرمائی چه دعرفه په ورځ د حضرت نبی کریم ﷺ دروژې متعلق خلقو ته شک شو (چه) حضرت نبی کریم ﷺ روژه نیولې ده که نه؟ ما دحضرت نبی کریم ﷺ په خدمت کښې په لوښی کښې پئ اولیږل حضرت نبی کریم ﷺ نوش اوفرمائیل. (چه د دې نه معلوم شو چه د حضرت نبی کریم ﷺ روژه نه وه).

② په دویم طریق کښې ئې دا مرسلا نقل کړې دې. اوفرمائی چه حضرت ام الفضل د حضرت نبی کریم ﷺ په خدمت کښې پئې اولیږل، په ړومبی طریق کښې پخپله حضرت ام الفضل فرمائی چه ما اولیږل اوپه دې دویم طریق کښې راوی وائی چه هغوی اولیږل

قوله: فَإِذَا وُقِفَ عَلَيْهِ: [1] یعنی سفیان چه کله دا حدیث موقوفا روایت کړو نو د هغوی نه تپوس اوکړې شو چه دا روایت مرسل دې یا موصول دې ؟ هغوی اوفرمائیل چه (هوعن ام الفضل) یعنی دا حدیث ام الفضل نه روایت دې او د موصول په درجه کښې دې. [2]

[۵۲۸۳] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ وَأَبِي سُفْيَانَ عَنْ جَابِرِ بْنِ اللَّهِ قَالَ جَاءَ أَبُو حُمَيْدٍ بِقَدَحٍ مِنْ لَبَنٍ مِنَ النَّقِيعِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «أَلاَّ خَمَّرْتَهُ وَلَوْ أَنْ تَعْرُضَ عَلَيْهِ عُودًا».

حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا صَالِحٍ يَذْكُرُ - أُرَاهُ - عَنْ جَابِرٍ - رضى الله عنه - قَالَ جَاءَ أَبُو حُمَيْدٍ - رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ - مِنَ النَّقِيعِ بِإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «أَلاَّ خَمَّرْتَهُ، وَلَوْ أَنْ تَعْرُضَ عَلَيْهِ عُودًا». وَحَدَّثَنِي أَبُو سُفْيَانَ عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - بِهَذَا.

دا حدیث حضرت امام بخاری رحمه الله دلته په ړومبئ ځل ذکر فرمائیلې دې. [3]

حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چه ابو حمید مقام نقیع نه دپئیو پیاله دحضرت نبی کریم ﷺ په خدمت کښې پیش کړه. نو هغوی ته حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا دې ولې نه دی پټ کړی، څه لرګی به دې په دې باندې عرضی طور اېښودې وې.

قوله: (نقیع): دا مدینه منوره نه شل فرسخه فاصله باندې وادی عقیق کښې دیو ځائې نوم

[1] فتح الباری: (۱۰ص۸۸ وعمدة القاری: (ج۲۱ص۱۸۵، وارشادالساری: (ج۱۲ص۳۴۶)_

[2] فتح الباری: (۱۰ص۸۸ وعمدة القاری: (ج۲۱ص۱۸۵، وارشادالساری: (ج۱۲ص۳۴۶)_

[3] (۵۲۸۳) الحدیث اخرجه مسلم فی الاشربة باب شرب النبیذ وتخمیر الاناء: (ج۳ص۱۵۹۳)، (رقم الحدیث: ۲۰۱۰)_

وو. چه چرته چیلئ وغیره به څرید لي.(١)

قوله: «أَلاَ خَمَّرْتَهُ، وَلَوْ أَنْ تَعْرُضَ عَلَيْهِ عُودًا»: (الا) په معنى د (هلا) ده، (خمر) د (تخمير) په معنى دپټولو رازی.(٢)

قوله: (تعرض): (بضم الراء) عرض يعنى پلن والى کښې ایښودل. مطلب دادې که څه نور څیز ملاؤشوی نه وو نوکم ازکم څه لرګی به دې کم ازکم په دې باندې ایخودې وې. علامه عینی فرمائی:

(والمعنى ان لم تغطه فلا اقل من عود تعرض به عليه اى تمده عرضا لا طولا ومن فوائده: صيانته من الشيطان فانه لايكشف الغطاء ومن الوباء الذى ينزل من السماء فى ليلة من السنة ومن النجاسة والمقذرات ومن الهامة والحشرات ونحوها)(٣).

یعنی که مکمل پټ نه وی نوکم ازکم لرګي دې ددې په پلن والی باندې کیږدی. دداشان پټولو باندې به یوفائده داوی چه دشیطان نه به په حفاظت کښې وی. ځکه چه شیطان سرنه شی اخواکولی. دویمه فائده به داوی چه دهغه وباء نه به په حفاظت کښې وی چه په کال کښې یوځل دآسمان نه دشپې په وخت کښې نازلیږی اوپه ښکاره لوښو کښې پریوزی. دریمه فائده به داوی چه چینجو وغیره نه به په حفاظت کښې وی.

[۵۲۸۴] حَدَّثَنِي مَحْمُودٌ أَخْبَرَنَا النَّضْرُ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ رضى الله عنه قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم مِنْ مَكَّةَ وَأَبُو بَكْرٍ مَعَهُ قَالَ أَبُو بَكْرٍ مَرَرْنَا بِرَاعٍ وَقَدْ عَطِشَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضى الله عنه فَحَلَبْتُ كُثْبَةً مِنْ لَبَنٍ فِي قَدَحٍ، فَشَرِبَ حَتَّى رَضِيتُ، وَأَتَانَا سُرَاقَةُ بْنُ جُعْشُمٍ عَلَى فَرَسٍ فَدَعَا عَلَيْهِ، فَطَلَبَ إِلَيْهِ سُرَاقَةُ أَنْ لاَ يَدْعُوَ عَلَيْهِ، وَأَنْ يَرْجِعَ فَفَعَلَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم-. [ر: ۲۳۰۷]

قوله: فَحَلَبْتُ كُثْبَةً مِنْ لَبَنٍ فِي قَدَحٍ: (كثبة) دکاف په ضمه اودثاء په سکون سره، دپټولوښان مقدارته وائی. یادومره مقدارچه دهغې نه یوپیاله ډکه شی. یایوځل لوشلو کښې چه څومره راشی هغې ته کثبه وائی.(٤) مطلب دادې چه ماپه پیاله کښې په څه مقدارکښې پئ اولوشل.

داحدیث په کتاب المناقب کښې تفصیل سره تیرشوی دی. (کتاب المناقب باب کان النبی ﷺ تنام عینه ولاینام قلبه).

---

(١) فتح الباري :(١٠ص٨٩وعمدة القاري: (ج٢١ص١٨٦، وارشادالساري: (ج١٢ص٣٤٦)_
(٢) فتح الباري :(١٠ص٨٩وعمدة القاري: (ج٢١ص١٨٦، وارشادالساري: (ج١٢ص٣٤٦)_
(٣) فتح الباري :(١٠ص٨٩وعمدة القاري: (ج٢١ص١٨٦، وارشادالساري: (ج١٢ص٣٤٦)_
(٤) فتح الباري :(١٠ص٨٩وعمدة القاري: (ج٢١ص١٨٦، وارشادالساري: (ج١٢ص٣٤٦)_

يو اشكال اودهغې جوابونه : باقي داخبره پاتې كيږي چه داشان دچاپئ استعمالول څنګه صحيح كيدېشي، ددې مختلف جوابونه وركړې شوی دی :

① چه کوم يوشپونكی پئ اولوشل،ده ته دمالک دطرفنه اجازت وو.

(۲) ددهٔ په عرف كښې داشان دپئيوڅكلولوعام رواج وو.په دې كښې داصل مالک نه داجازت صراحتا ضروری نه وی.

(۳) حضرت نبی کریم ﷺ په حالت داضطراركښې پئ څکولی وو. اوداضطرارپه حالت كښې اجازت اخستلوضرورت نشته دی.[1]

[۵۲۸۵] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «نِعْمَ الصَّدَقَةُ اللِّقْحَةُ الصَّفِيُّ مِنْحَةً، وَالشَّاةُ الصَّفِيُّ مِنْحَةً، تَغْدُو بِإِنَاءٍ، وَتَرُوحُ بِآخَرَ». [ر: ۲۴۸۶]

حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه بهترينه صدقه چاته پئ وركوونكې ښكلې اوښه ياپئيو والاښكلې چيلئ وركول دی.چه هغه يولوښې دسباپه وخت كښې ډكوی اويولوښې دماښام په وخت كښې.

قوله: (لقحة): پئيو والا اوښې ته وائی.[2]

قوله: (الصفي): دصادپه فتحه اوفاء په كسره اودباءپه تشديدسره په معنی دښكلې اوښائسته فعيل چه كله دمفعول په معنی كښې وی نوهغه مذكراومونث دواړودپاره استعماليږی.[3]

قوله: (منحة): دميم په كسره اودنونٔ په سكون سره،عطيه ته وائی.داتركيب نحوی كښې دتميز كيدو په وجه سره منصوب دې،دلته (منحة) نه پئيو والا اوښه مراده ده چه چاته وركړې شی چه هغه ددې نه پئ لوشی اوواپس ئې كړی.[4]

قوله: (تَغْدُو بِإِنَاءٍ، وَتَرُوحُ بِآخَرَ»: (تغدو من الغدو وهواول النهاروتروح من الرواح وهو اخرالنهار وهذه كناية من كثيرة اللبن)[5]

[۵۲۸۶] حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنِ الأَوْزَاعِيِّ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - شَرِبَ لَبَنًا فَمَضْمَضَ

---

[1] مذكوره درې واړو جوابونودپاره اوګورئ عمدة القاری (ج۲۱ض۱۸۷)، وفتح الباری: (ج۱۰ص ۸۹) وشرح البخاری للكرمانی :(ج۲۰ص۱۵۶)_

[2] عمدة القاری (ج ۲۱ص۱۸۷) وشرح البخاری للكرمانی :(ج۲۰ص۱۵۷، وارشاد الساری: (ج۱۲ص۳٤۸)

[3] عمدة القاری (ج ۲۱ص۱۸۷) وشرح البخاری للكرمانی :(ج۲۰ص۱۵۷، وارشاد الساری: (ج۱۲ص۳٤۸)

[4] عمدة القاری (ج ۲۱ص۱۸۷) وشرح البخاری للكرمانی :(ج۲۰ص۱۵۷، وارشاد الساری: (ج۱۲ص۳٤۸)

[5] عمدة القاری (ج ۲۱ص۱۸۷)

وَقَالَ «إِنَّ لَهُ دَسَمًا». [ر: ۲۰۸]

حضرت نبی کریم ﷺ پئ څکلونه پس خولې کښې اوبه واچولې. او وې فرمائیل چه په دې کښې چکنائی وی، (دسم چکنائی(غوړوالی) ته وائی.

داحدیث په کتاب الوضوء کښې تیرشوې دې.[1]

[۵۲۸۷] وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «رُفِعْتُ إِلَى السِّدْرَةِ فَإِذَا أَرْبَعَةُ أَنْهَارٍ، نَهَرَانِ ظَاهِرَانِ، وَنَهَرَانِ بَاطِنَانِ، فَأَمَّا الظَّاهِرَانِ النِّيلُ وَالْفُرَاتُ، وَأَمَّا الْبَاطِنَانِ فَنَهَرَانِ فِي الْجَنَّةِ فَأُتِيتُ بِثَلَاثَةِ أَقْدَاحٍ، قَدَحٌ فِيهِ لَبَنٌ، وَقَدَحٌ فِيهِ عَسَلٌ، وَقَدَحٌ فِيهِ خَمْرٌ، فَأَخَذْتُ الَّذِي فِيهِ اللَّبَنُ فَشَرِبْتُ فَقِيلَ لِي أَصَبْتَ الْفِطْرَةَ أَنْتَ وَأُمَّتُكَ».

قَالَ هِشَامٌ وَسَعِيدٌ وَهَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ مَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم- فِي الأَنْهَارِ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرُوا ثَلَاثَةَ أَقْدَاحٍ. [ر: ۳۰۳۵]

قوله: رُفِعْتُ إِلَى السِّدْرَةِ: (رفعت) دماضی مجهول مونث صیغه ده. اوسدره نه سدرة المنتهی مراد ده. دا داوؤاسمانونودپاسه دبیرې یوونه ده، چه کوم ځائې کښې فرښتې اودرېږی (یعنی مخکښې نشی تلې) په دې وجه دې ته منتهی وائی.[2]

په بل روایت کښې په دې کښې (رفعت) دماضی مجهول واحدمتکلم صیغې سره دې، د دواړومفهوم یودې.[3]

قوله: فَنَهَرَانِ فِي الْجَنَّةِ: ددې دواړو نهرونونه سلسبیل اونهر کوثرمراد دې.[4]

اسماعیلی دابراهیم نه داتعلیق موصولا نقل کړې دې.[5]

قوله: قَالَ هِشَامٌ وَسَعِيدٌ وَهَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ: هشام دستوائی، سعیدبن ابی عروبه، اوهمام بن یحیی هم دقتاده نه داروایت نقل کړې دې. هغوی په خپل روایت کښې د انهار ذکرکړې دې البته ددریو پیالو(شهدو، خمراولبن) ذکرئې نه دې کړې. حضرت امام بخاری رحمه الله دادرې واړه روایتونه په کتاب بدء الخلق کښې موصولا ذکرکړی دی.[6]

[1] عمدة القاری (ج ۲۱ص۱۸۷) وفتح الباری :(ج۱۰ص۹۰)_
[2] عمدة القاری (ج ۲۱ص۱۸۸) وشرح البخاری للکرمانی :(ج۲۰ص۱۵۷، وارشاد الساری: (ج۱۲ص۳٤۹)
[3] عمدة القاری (ج ۲۱ص۱۸۷) وفتح الباری :(ج۱۰ص۹۰)_وارشاد الساری: (ج۱۲ص۳٤۸)_
[4] عمدة القاری (ج ۲۱ص۱۸۸) وشرح البخاری للکرمانی :(ج۲۰ص۱۵۷، وارشاد الساری: (ج۱۲ص۳٤۹)
[5] عمدة القاری (ج ۲۱ص۱۸۷) وفتح الباری :(ج۱۰ص۹۰)_وارشاد الساری: (ج۱۲ص۳٤۸)_
[6] عمدة القاری (ج ۲۱ص۱۸۷)_وارشاد الساری: (ج۱۲ص۳٤۸)_

۱۲ = باب استعذاب الماء

[۵۲۸۸] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ كَانَ أَبُو طَلْحَةَ أَكْثَرَ أَنْصَارِيٍّ بِالْمَدِينَةِ مَالاً مِنْ نَخْلٍ، وَكَانَ أَحَبُّ مَالِهِ إِلَيْهِ بَيْرُحَاءَ، وَكَانَتْ مُسْتَقْبِلَ الْمَسْجِدِ، وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - يَدْخُلُهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَاءٍ فِيهَا طَيِّبٍ. قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا نَزَلَتْ (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ) قَامَ أَبُو طَلْحَةَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ اللّٰهَ يَقُولُ (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ) وَإِنَّ أَحَبَّ مَالِي إِلَيَّ بَيْرُحَاءَ، وَإِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلّٰهِ أَرْجُو بِرَّهَا وَذُخْرَهَا عِنْدَ اللّٰهِ فَضَعْهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ حَيْثُ أَرَاكَ اللّٰهُ. فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - «بَخٍ ذَلِكَ مَالٌ رَابِحٌ - أَوْ رَايِحٌ شَكَّ عَبْدُ اللّٰهِ - وَقَدْ سَمِعْتُ مَا قُلْتَ وَإِنِّي أَرَى أَنْ تَجْعَلَهَا فِي الْأَقْرَبِينَ». فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ أَفْعَلُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ، فَقَسَمَهَا أَبُو طَلْحَةَ فِي أَقَارِبِهِ وَفِي بَنِي عَمِّهِ وَقَالَ إِسْمَاعِيلُ وَيَحْيَى بْنُ يَحْيَى رَايِحٌ. [ر: ۱۳۹۲]

قوله: استعذاب: وائی خوږي اوبه طلب کولو ته، دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه خوږې اوبه طلب کول د زهد نه خلاف نه دی، اونه داپه ترفه اوتعیش مذموم کښې داخل دی. خوږه اوبو کښې مشک وغیره اچول دخوشبو دپاره دبعضې علماء کرامو په نیزدتعیش په وجه سره مکروه دی.(۱)

حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه ابوطلحه په انصارمدینه کښې دکهجوروونو اعتبارسره دټولونه زیات مالدارو. اودده دټولونه زیات خوښ مال بیرحاء وو، ددې رخ مسجد طرف ته وو. حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم به هغه ځائې ته تشریف اوړو. اوددې خوږې اوبه به ئې څکلې. حضرت انس رضی الله عنه بیان کوی چه کله آیت (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ) نازل شونو ابوطلحه اودریدو اوعرض ئې اوکړو چه یارسول الله صلی الله علیه وسلم الله تعالی فرمائی چه تاسو به هرګز نیکی اونه مومئ ترڅوچه هغه څیزخرچ نه کړئ کوم چه تاسوته محبوب وی. او ځما محبوب مال بیرحاء دې. ددې وجې داخه دالله په لارکښې خرچ کومه، ماته امید دې چه الله تعالی جل جلاله به ددې اجر راکړی. ددې وجې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم چه تاسو په کوم مصرف کښې دا مناسب ګنړئی خرچ ئې کړئ.

حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ډیرښهٔ، داخومال رابح فائده مند) دې بیا ئې اوفرمائیل چه په خپلورشته داروئې تقسیم کړهٔ.

ابوطلحه رضی الله عنه اوفرمائیل چه یارسول الله صلی الله علیه وسلم خه به هم داسې کوم. نوهغه مال ئې په خپلو رشته داروکښې اوترونو ځامنو کښې تقسیم کړو.

(بخ (بفتح الباء) داکلمه دشا باشی اوخوشحالئ په وخت کښې وئیلې کیږی.(۲)

(۱) عمدة القاری (ج۲۱ص۱۸۹)_ وفتح الباری (ج۱۰ص۹۲)_

(۲) عمدة القاری (ج۲۱ص۱۸۹)، وارشادالساری (۱۲ص۳۵۰)، وشرح البخاری للکرمانی (ج۲۰ص۱۵۹)_

قوله: رَابِحٌ - أَوْرَايِحٌ شَكَّ عَبْدُ اللّٰهِ: (رابح) نفع وركوني اورايح تاون ورنكي... يعنى دآخرت جذبې سره چه کوم مال خرچ کړې شي. هغه سودمند اونافع دې يامال خوهسې هم دلاس نه وتلو والا څيز دې. دالله جَلَّ جَلَالُهُ په لاركښې خرچ كولوسره اودې نه اخروى فائدې دپاره ذخيره كول پكاردى.

داحديث هم دې سند سره په كتاب الوصاياكښې هم تيرشوى دې.[1]

۱۳ = باب شَوْبِ اللَّبَنِ بِالْمَاءِ

[۵۲۷۹] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِي قَالَ أَخْبَرَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ - رضى الله عنه - أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - شَرِبَ لَبَنًا، وَأَتَى دَارَهُ فَحَلَبْتُ شَاةً فَشُبْتُ لِرَسُولِ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - مِنَ الْبِئْرِ، فَتَنَاوَلَ الْقَدَحَ فَشَرِبَ، وَعَنْ يَسَارِهِ أَبُو بَكْرٍ وَعَنْ يَمِينِهِ أَعْرَابِيٌّ، فَأَعْطَى الأَعْرَابِيَّ فَضْلَهُ، ثُمَّ قَالَ «الأَيْمَنَ فَالأَيْمَنَ». [ر: ۲۲۲۵]

د ترجمة الباب مقصد: پئ په اوبوكښې يوځائې كول اوهغه استعمالول جائزدې. حضرت امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې دشرب قيدلګولې دې. ددې نه ئې بيع ويستلې ده. ددې وجې دخرڅولوپه وخت كښې پيئوكښې اوبه اچول جائز نه دى.څكه چه هغه غش ممنوع دې.[2]

دكشميهنى روايت كښې (باب شوب اللبن بالماء) دې شوب ګډولو اويوځائې كولوته وائى[3]

دحضرت امام بخارى رحمه الله مقصد داهم كيدشى چه پئ په اوبوكښې ګډول اواستعمالول د (نهى عن خليطين) په حكم كښې نه رازى. دپئيوتاثيرګرم وى.دعربو ملكونوكښې خليطين دا په اوبوكښې استعمالولورواج دې چه ددې په حرارت كښې كمې واقع شى..[4]

قوله: فَشُبْتُ لِرَسُولِ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - مِنَ الْبِئْرِ: (شبت) بروزن (قلت) داشوب نه واحدمتكلم ماضى صيغه ده.يعنى مادحضرت نبى كريم ﷺ دپاره په پئيوكښې اوبه ګډې كړې دكوهى نه.[5]

قوله: فَأَعْطَى الأَعْرَابِيَّ فَضْلَهُ: يعنى حضرت نبى كريم ﷺ خپل ښى طرفته ناست اعرابى ته پئ وركړل. بعضوئيلي دى چه ددې اعرابى نه حضرت خالدبن وليدمراد دې، ليكن علامه عينى رحمه الله وغيره داغلط ګرزولى دى. اووئيلې ئې دى چه حضرت خالدبن وليد لكه څنګه چه داعربى اطلاق درست نه دې.[6]

---

[1] كتاب الوصايا،باب اذاوقف ارضاولم يبين الحدود فهوجائزوكذالك الصدقة (رقم الحديث: ۲۷۶۹) _

[2] عمدة القارى (ج۲۱ص۱۸۹)، وفتح البارى :(ج۱۰ص۹۳)_

[3] عمدة القارى (ج۲۱ص۱۸۹)، وفتح البارى :(ج۱۰ص۹۳) وارشاد السارى : (ج۱۲ص۳۵۱) _

[4] عمدة القارى (ج۲۱ص۱۸۹)، وفتح البارى :(ج۱۰ص۹۳)

[5] عمدة القارى (ج۲۱ص۱۸۹)، وفتح البارى :(ج۱۰ص۹۳) _

[6] عمدة القارى (ج۲۱ص۱۸۹)، وفتح البارى :(ج۱۰ص۹۳)

[۵۲۹۰] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ - رضی الله عنهما - أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - دَخَلَ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ وَمَعَهُ صَاحِبٌ لَهُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - « إِنْ كَانَ عِنْدَكَ مَاءٌ بَاتَ هَذِهِ اللَّيْلَةَ فِي شَنَّةٍ، وَإِلاَّ كَرَعْنَا ». قَالَ وَالرَّجُلُ يُحَوِّلُ الْمَاءَ فِي حَائِطِهِ - قَالَ - فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ عِنْدِي مَاءٌ بَائِتٌ فَانْطَلِقْ إِلَى الْعَرِيشِ - قَالَ - فَانْطَلَقَ بِهِمَا، فَسَكَبَ فِي قَدَحٍ، ثُمَّ حَلَبَ عَلَيْهِ مِنْ دَاجِنٍ لَهُ - قَالَ - فَشَرِبَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - ثُمَّ شَرِبَ الرَّجُلُ الَّذِي جَاءَ مَعَهُ. [ر: ۵۲۹۸]

حضرت جابر ﷺ فرمائي چه حضورنبی کریم ﷺ يو انصاري سړي لره ورغلو حضورنبی اکرم ﷺ سره يو بل سړے هم وو، دے انصاري ته حضورنبی کریم ﷺ اوفرمائيل که تاسره په مشک کښې دشپې نه اېښودے شوے اوبه وي (اولوښې وي) نوراکړه ګنې مونږ به دې سره خوله اولګوو اودابه اوڅکو. راوي وائي چه هغه سړي په خپل باغ کښې اوبه ورکولې هغه اووئيل چه يارسول الله ﷺ ماسره دشپې اېښودې شوې (يخې) اوبه شته دې. تاسو جهونپړۍ (سپر) طرفته تشريف يوسئ. بیاهغه حضورنبی کریم ﷺ اوددهٔ ملګری هغه جهونپړۍ ته بوتلل. يو پياله کښې ئې اوبه واچولې اودچيلۍ پئ ئې اولوشل. حضورنبی اکرم ﷺ هغه اوڅکل، بيا چه کوم ملګرې حضورنبی اکرم ﷺ سره راغلې ووهغه هم اوڅکل.
حضرت امام بخاري رحمه الله داحديث دلته په رومبي ځل ذکرفرمائيلې دې.[1]

قوله: دَخَلَ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ: د (رجل من الانصار) نه مراد حضرت ابو الهيثم بن تيهان انصاري دې.[2] دواقدي روايت کښې ددې تصريح ده، هغوی هيثم بن نصر اسلمي نه روايت نقل کړې دې، په دې کښې دي چه :

(خدمت النبی ﷺ ولزمت بابه فکنت اتيه بالماء من بئر جاشم، وهی بئر ابی الهيشم بن التيهان، وکان ماؤها طيبا، ولقد دخل يوما ومعه ابوبکر علی ابی الهيشم فقال هل من ماء بارد ؟ فاتاه بشجب[3] فيه ماء کانه الثلج فصبه علی لبن عنزله وسقاه ثم قال له، ان له، ان لنا عريشا باردا فقل فيه يا رسول الله ﷺ عندنا، فدخله وابوبکر واتی ابو اليهشم بالوان من الرطب)[4]

دواقدي روايت نه داهم معلوميږي چه حضرت نبی کريم ﷺ سره تلونکې بل سړې حضرت

---

[1] (۵۲۹۰) الحديث اخرجه البخاری ايضا فی الاشربة باب الكرع فی الحوض (رقم للحديث ۵۲۹۸) واخرجه ابوداودفی الاشربة باب فی الكرع : حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله ۳۳۷.(رقم الحديث ۳۷۲۴) واخرجه ابن ماجه فی الاشربة باب الشرب بالاكف والكرع :ج۲ص۱۱۳۵(رقم الحديث ۳۴۳۲).
[2] عمدة القاری (ج۲۱ص۱۸۹). وفتح الباری :(ج۱۰ص۹۵) وارشاد الساری : (ج۱۲ص۳۵۲) _
[3] شجب يتخذ من شنه تقطع ويخرزراسها)
[4] فتح الباری :(ج۱۰ص۹۵)

صدیق اکبر ﷺ وو.

قوله: «إِنْ كَانَ عِنْدَكَ مَاءٌ بَاتَ هَذِهِ اللَّيْلَةَ فِي شَنَّةٍ: (شنة) (دشين په فتحه اودنون تشدید سره) زړه مشکیزه.[1]

دشپې نه چه کومه مشکیزه ایښودې شوې وی، هغه ښه یخه وی. ددې وجې حضورنبی اکرم ﷺ هغه طلب اوفرمائیله:

قوله: وَإِلَّا كَرَعْنَا: په دې عبارت کښې محذوف دې (ای کان عندك اناء فسقنا والا کرعنا)[2].

یعنی که تاسوسره داوبوڅکلوډپاره لوښې وی نوموږته دهغې نه اوبه راکړه. ګنی موږ په دې مشکیزه خله کیږدو او اوبه به اوڅکو.

(کرع) دلوښی اولپې نه بغیرنیغ په نیغه په مشکیزه باندې خله ایښودل او اوبه څکلوته وائی. بعضو په دوارږولاسونوسر اوبوڅکلوته کرع وئیلې ده. لیکن دلغت اعتبار سره هغه درست نه ده.[3]

دسنن ابن ماجه یوروایت کښې دی چه دکرع نه منع کړې شوې ده، حضورنبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چه (لاتکرعوا ولکن اغسلوا ایدیکم ثم اشربوا بها)[4]

لیکن اول خوداحدیث ضعیف دې، اوکه داصحیح هم تسلیم کړې شی. نووئیلې به شی چه په دې کښې نهی تنزیهی ده. اودحضورنبی اکرم ﷺ فعل جوازخودلوډپاره دې.[5]

قوله: قَالَ وَالرَّجُلُ يُحَوِّلُ الْمَاءَ فِي حَائِطِهِ: (ای ینقل الماء من مکان الی مکان) یعنی خپل باغ ته ئې اوبه ورکولې. (حائط) باغ ته وائی. (عریش) جهونپړه یا دالان د(سکب) معنی بیول دہ. او(داجن) چیلۍ ته وائی.[6]

یخې اوبه دالله جل جلاله دېیرلوئې نعمت دې، حضورنبی اکرم ﷺ دپاره یخې اوبه به راوړې شوې دابوداود په روایت کښې دی چه (کان رسول الله ﷺ یستعذب له الماء من بیوت السقیا)[7]

دامام ترمذی رحمه الله روایت کښې دی چه (ان اول مایسال عنه یوم القیامة یعنی العبد من النعیم ان یقال له، الم نصح لك جسمك ونرويك من الماء البارد)[8]

---

[1] عمدة القاری (ج۲۱ص۱۸۹)، وفتح الباری :(ج۱۰ص۹۵) وارشاد الساری : (ج۱۲ص۳۵۲) _

[2] عمدة القاری (ج۲۱ص۱۸۹)، وفتح الباری :(ج۱۰ص۹۵) _

[3] عمدة القاری (ج۲۱ص۱۸۹)، وفتح الباری :(ج۱۰ص۹۵) _

[4] ابن ماجه کتاب الاشربة،باب الشرب بالاکف والکرع) ج۲ص۱۱۳۵)، رقم الحدیث ۳۴۳۳)_

[5] عمدة القاری (ج۲۱ص ۱۹۰)،،والابواب والتراجم باب الکرع فی الحوض :ج۲ص۹۷)_

[6] عمدة القاری (ج۲۱ص۱۸۹)، وفتح الباری :(ج۱۰ص۹۶) _

[7] سنن ابی داود کتاب الاشربة باب فی ایکاء الاتیة :(ج۳ص۳۴۰)،رقم الحدیث :۳۷۳۵)

[8] سنن ترمذی،کتاب التفسیر،باب ومن سورة التکاثر:ج۵ص۴۴۸) رقم الحدیث ۳۳۵۸)_

د حدیث نه مستنبط څو اداب: علامه عینی رحمه الله ددې حدیث نه څوآداب نقل کوی اوفرمائی چه «وفیه انه لاباس بطلب الماء البارد فی سموم الحر، وفیه قصد الرجل الفاضل بنفسه حیث یعرف مواضعه عند اخوانه... وفیه جواز خلط اللبن بالماء عند الشرب وفیه ان من قدم الیه طعام لایلزم ان یسال من این صار الیه الا اذا علم ان اکثر ماله حرام، فانه لایاکله فضلا عن ان یساله» (۱)

یعنی ددې حدیث نه یو خبره خو دا معلومیږی چه سخته گرمئې کښې دچا نه یخې اوبهٔ طلب کولې شی. اوداطلب کول په هغه سوال کښې داخل نه دی چه دهغې ممانعت راغلې دې. دویمه خبره دامعلومه شوه چه عالم اوصاحب رتبه سړې خپلو دوستانو اوبې تکلفه ملګرو کره بغیر ددعوت نه تلې شی. دریمه خبره دامستنبط شوه چه پئ په اوبو کښې ګډول جائزدی. او دا نهی عن الخلیطین تحت لاندې داخل نه دی اوڅلورمه داخبره معلومه شوه چه کله څه خوراک په طور دضیافت پیش کړې شی نو ددې تحقیق کول نه دی پکار چه دامال حلال دې یاحرام، خوکه دچا اکثر مال حرام وی نو دهغې استعمال درست نه دی.

۱٤= بَاب شَرَابِ الْحَلْوَاءِ وَالْعَسَلِ.

وَقَالَ الزُّهْرِي لاَيَحِلُّ شُرْبُ بَوْلِ النَّاسِ لِشِدَّةٍ تَنْزِلُ، لأَنَّهُ رِجْسٌ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى (أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ) وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ فِي السَّكَرِ إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَجْعَلْ شِفَاءَكُمْ فِيمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ

[۵۲۹۱] حَدَّثَنَا عَلِي بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُعْجِبُهُ الْحَلْوَاءُ وَالْعَسَلُ [ر: ۴۹۱۸]

دترجمة الباب مقصد: شیخ الحدیث مولانامحمد زکریا رحمه الله فرمائی چه حضرت امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې چه دحلوا لفظ استعمال کړې دې، دهغې نه شربت مراددې. یعنی هرې هغه اوبه چه په هغې کښې څه خیزګډ کړې شی. په هندوستان کښې «شربت عسل» مشهوردې. ددې ترجمې نه ددې جواب بیانول مقصود دې چه هغه په اسراف کښې داخل نه دی. (۲)

حلوازمونږ په عرف کښې څکلې نه بلکه خوړلې شی، ځکه چه هغه مائع نه وی. ترجمة الباب حلوانه مائع مراد ده چه هغه څکلې شی. لکه نقیع تمراونقیع زبیب اوشربت عسل وغیره.

الابواب والتراجم: (ج۲ص۹۷. وارشادالساری: (ج۱۲ص۳۵۳). عمدة القاری (ج۲۱ص۱۹۱)_

دامام زهری رحمه الله د یو قول تشریح:

قوله: وَقَالَ الزُّهْرِي لاَيَحِلُّ شُرْبُ بَوْلِ النَّاسِ لِشِدَّةٍ تَنْزِلُ، لأَنَّهُ رِجْسٌ: امام زهری رحمه الله فرمائی چه دخلقو متیازې څکل دسخت ضرورت په وخت کښې هم حلال اوجائزنه دی ځکه چه هغه ناپاکې دی. اوالله تعالی جل جلاله فرمائی چه ماستاسو دپاره پاک خیزونه

(۱) عمدة القاری (ج۲۱ص۱۹۰)،

(۲) الابواب والتراجم: (ج ۲ص۹۷) _

حلال كړې دی. (نوناپاک څيزونه حلال نه دی) ددې قول متعلق شارحين دوه خبرې ليکی:
① دامام زهری رحمه الله مسلک په دې مسئله کښې دجمهوروعلماء کراموخلاف دې، ځکه چه دجمهورعلماء په نيزاضطراری حالت کښې که درجس خوړولوياڅکلوضرورت پيښ شی نودهغې استعمال جائزدې. نوميته، دم اوخنزيرنجس دی، ليکن الله تعالی په قرآن کريم کښې فرمائی چه (فمن اضطر غير باغ ولاعاد فلا اثم عليه)[1]
شايد امام زهری رحمه الله په رخصتونوکښې په قياس باندې عمل کولو لهذا نصوص کښې چه دکوم رجس تصريح ده، په هغې کښې خوهغه درخصت قائل وو، ليکن بول کښې نه وو.[2]
ددې خبرې تائيد ددې نه هم کيږی چه امام زهری رحمه الله به په سفرکښې هم د عاشورې روژه نيوله. امام زهری رحمه الله ته اووئيلې شوچه په رمضان کښې خوپه سفرکښې تاسوروژه نه نيسئ نو امام زهری رحمه الله جواب ورکړو (ان تعالی قال فی رمضان (فعدة من ايام اخر) وليس ذالك لعاشوراء)[3]
② حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی چه دامام زهری رحمه الله په قول کښې دشدت حالت نه حالت اضطرار مراد نه دې، بلکه ددې نه کم درجې والاشدت مراددې. اواضطرارنه کم درجې والاشدت کښې دمتيازواستعمال دجمهوروپه نيزهم جائزنه دی، نوحضرت رحمه الله فرمائی چه:

قوله: لشدة تنزل، اراد بالشدة مادون الاضطرار، فلا يخالف **قوله**: قول الجمهور:[4] داتعليق عبدالرزاق موصولانقل کړې دې.[5]

قوله: وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ فِي السَّكَرِ إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَجْعَلْ شِفَاءَكُمْ فِيمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ

سکر: دسين اوکاف فتحه سره، دعجمولغت کښې شرابوته وائی.[6]
دابن ابی شيبه روايت کښې ددې تعليق تفصيل راغلې دې چه يوصاحب حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه لره سرې اوليږلواوتپوس ئې اوکړوچه ددوائی په طورهغه استعمالولې شی، حضرت ابن مسعود رضی الله عنه مذکوره جواب ارشاد اوفرمائيلوچه الله تعالی په حرامو څيزونو کښې شفاء نه ده ايښودې. اوشراب حرام دی.[7]

---

[1] عمدة القاری (ج۲۱ص۱۹۱)_
[2] ارشاد الساری ⊗ ج۱۲ص۳۵۳)، وفتح الباری(۱۰ص۹۷)_
[3] ارشاداساری :(۱۲ص۳۵۳)وفتح الباری (ج۱۰ص۹۷)_
[4] لامع الدراری (ج۹ص۴۳۹)_
[5] ارشاداساری :(۱۲ص۳۵۳)وفتح الباری (ج۱۰ص۹۷) وعدة القاری (ج۲۱ص۱۹۱)_
[6] ارشاداساری :(۱۲ص۳۵۳)وفتح الباری (ج۱۰ص۹۷) وعدة القاری (ج۲۱ص۱۹۱)_
[7] ارشاداساری :(۱۲ص۳۵۳)وفتح الباری (ج۱۰ص۹۷) وعدة القاری (ج۲۱ص۱۹۱)_

یو اشکال او د هغې جواب : په دې باندې چااشکال کړې دې که په حلق کښې یولقمه تیرولو دپاره شرابونه سوانورڅه مانع څیزنه وی نودشرابودګوټ څکلوفقهاء کرامو اجازت وکړې دې. چه دې سره لقمه تیره شی. ددې تقاضاداده چه علاج کښې هم ددې اجازت ورکړې شی. ددې جواب داورکړې شوې دې چه علاج کښې دې سره شفاء یقینی نه ده اوپه مرئې کښې دانختې لقمې تیرول تقریبا یقینی کیږی . ددې وجې دواړو کښې فرق دې.[1]

تداوی بالخمر (دعلاج اوداوئې په طورد شراب استعمالول) دحضرات احنافوپه نیزجائزدی. په دې شرط چه ظن غالب داوی چه دې سره به افاقه وی. (لان الضرورة تبیح المحضورة)[2]

لیکن که دافاقه په ظن نه وی نوبیاجائزنه دی. جوازدپاره داهم ضروری دی چه متبادل څه علاج میسرنه وی طبیب مسلم حاذق دعلاج دپاره شراب ښائی.

دحضرت امام مالک رحمه الله تداوی بالخمرمطلقاناجائزګڼړی.حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله دادشوافع صحیح قول ګرزولې دې.هغه وائی چه دې سره مرض زیاتیدیشی اوکمیږی نه.[3]

دترجمة الباب سره مناسبت : ① حضرت امام بخاری رحمه الله دحضرت امام زهری رحمه الله اودحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دوه آثارذکرکړی دی. علامه ابن منیردترجمة الباب نه د دوی مناسبت بیانوی اوفرمائی چه بول اوخمردواړه حرام دی اوحلوا اوعسل دواړه طیب دی.امام بخاری رحمه الله دحلوااوعسل نه پس دحراموذکرکړې دې.ځکه چه (وبضدها تتبین الاشیاء)[4]

② بعضې حضرات مناسبت بیانوی اووائی چه دامام زهری رحمه الله قول نه دقرآن پاک آیت (أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ)[5] طرفته اشاره ده اوظاهر دې چه حلوا اوعسل طیبا کښې داخل دی. دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دقول نه دسورة نحل آیت (فِيهِ شِفَاءٌ لِّلنَّاسِ) طرفته ته اشاره ده چه دعسل متعلق نازل شوې دې.[6]

قوله : كَانَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم - يُعْجِبُهُ الْحَلْوَاءُ وَالْعَسَلُ : په دې کښې دحلوانه هرخوږ څیزمراددې.امام بیهقی په شعب الایمان کښې دحضرت عائشه رضی الله عنها قول نقل کړې دې چه په هغې کښې ددې وضاحت داشان شوې دې،

(کان یحب الحلواء لیس علی معنی کثرة التشهی لها، وشدة نزاع النفس الیها وتانق لصنعة فی اتخاذها کفعل اهل الترف والشره وانما کان اذا قدمت الیه نال منها نیلا جیدا فیعلم بذلك انها تعجبه)[7]

---

[1] ارشاداساری :(۱۲ص۳۵۳)وفتح الباری (ج۱۰ص۹۹)_
[2] فتح الباری (ج۱۰ص۹۹)_
[3] فتح الباری (ج۱۰ص۹۹)_
[4] فتح الباری (ج۱۰ص۹۹) ارشاداساری :(۱۲ص۳۵۳) الابواب والتراجم :ج۲ص۹۷)_
[5] سورة المائدة : ٤)
[6] ارشاداساری :(۱۲ص۳۵۳) فتح الباری (ج۱۰ص۹۹) وعمدة القاری (ج۲۱ص۱۹۱)_
[7] ارشاداساری :(۱۲ص۳۵۳) فتح الباری (ج۱۰ص۹۹)

يعنى دحضورنبى اكرم ﷺ خوړ، څيزخوښ وو.اوددې دا مطلب نه چې دحريصوپه شان په دې باندې به ئې حملې كولې بلكه ددې مطلب دا دې چه كله به حضورنبى اكرم ﷺ ته خوږ څيز پيش شونو حضورنبى اكرم ﷺ به هغه ډيرپه خوښه خوړولو،
داحديث په كتاب الاطعمه كښې هم تير شوې دې.(١)

١٥=باب الشُّرْبِ قَائِمًا

[٥٢٩٢] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَيْسَرَةَ عَنِ النَّزَّالِ قَالَ أَتَى عَلِيٌّ رضى الله عنه - عَلَى بَابِ الرَّحَبَةِ، فَشَرِبَ قَائِمًا فَقَالَ إِنَّ نَاسًا يَكْرَهُ أَحَدُهُمْ أَنْ يَشْرَبَ وَهُوَ قَائِمٌ، وَإِنِّي رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَعَلَ كَمَا رَأَيْتُمُونِي فَعَلْتُ.

[٥٢٩٣] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ مَيْسَرَةَ سَمِعْتُ النَّزَّالَ بْنَ سَبْرَةَ يُحَدِّثُ عَنْ عَلِيٍّ - رضى الله عنه - أَنَّهُ صَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ قَعَدَ فِي حَوَائِجِ النَّاسِ فِي رَحَبَةِ الْكُوفَةِ حَتَّى حَضَرَتْ صَلاَةُ الْعَصْرِ، ثُمَّ أُتِيَ بِمَاءٍ فَشَرِبَ وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ وَذَكَرَ رَأْسَهُ وَرِجْلَيْهِ، ثُمَّ قَامَ فَشَرِبَ فَضْلَهُ وَهُوَ قَائِمٌ ثُمَّ قَالَ إِنَّ نَاسًا يَكْرَهُونَ الشُّرْبَ قَائِمًا وَإِنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُ.

[٥٢٩٤] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَاصِمٍ الأَحْوَلِ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ شَرِبَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - قَائِمًا مِنْ زَمْزَمَ. [ر: ١٥٥٦]

په ولاړه داوبو څكلو حكم : حضرت امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې په ولاړه د اوبو څكلو جوازلره ثابيوى.(٢) په ولاړه داوبو څكلو سلسه كښې روايتونه مختلف دى. بعضو روايتونو كښې ممانعت واردشوې دې،اوبعضونه جوازثابت دې.لاندې دواړه رنګه څو روايتونه ذكركولې شى.

ممانعت والا روايتونه : چه په كوموروايتونوكښې نهى واردشوې ده،په هغې كښې يو څو لاندې ذكركيږى.

① په صحيح مسلم كښې دحضرت انس رضى الله عنه روايت كښې دى چه «ان لنبى ﷺ زجرعن الشراب قائما» اوپه بل طريق كښې الفاظ دى چه «انه نهى ان يشرب الرجل قائما»(٣)

(١) ارشاداسارى :(١٢ص٣٥٣) فتح البارى (ج١٠ص٩٩)
(٢) الابواب والتراجم :ج٢ص٩٧) عمدة القارى (ج٢١ص١٩١)_
(٣). الحديث اخرجه مسلم فى كتاب الاطعمة،باب كراهية الشرب قائما(ج٣ص١٠٠)_ (رقم الحديث :٢٠٢٤)، واخرجه اب،داود فى الاشربة باب الشرب قائما(رقم الحديث ٣٧١٧) واخرجه الترمذى فى الاشربة باب ماجاء فى النهى عن الشرب قائما(رقم الحديث ١٨٧٩) وابن ماجه الاشربة باب الشرب قائما (رقم الحديث ٣٤٦٧)_

② هم په صحیح مسلم کښې دحضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت دې چه (قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لایشربن احد منکم قائما فمن نسی فلیستقی) (۱)

③ حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله دحضرت ابوهریره رضي الله عنه یوروایت نقل کړې دې چه ددې الفاظ دی چه (لویعلم الذی یشرب وهوقائم مافی بطنه لاستقاء) (۲)

④ حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله دحضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت نقل کړې دې چه حضور نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه داقې (التئ) کړه. دڅه دوجې تپوس ئې اوکړو نو حضور نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ته داخوښوې چه پیشودې ستاسره اوڅکی هغه اووئیل چه نه، نو حضور نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه (قدشرب معك من هواشرمنه : الشیطان) (۳)

⑤ امام ترمذی رحمه الله دجاروبن المعلی نه روایت نقل کړې دې چه (ان النبی صلی الله علیه وسلم نهی عن الشرب قائما) (۴)

جواز والا روایتونه: لیکن بل طرفته ډیراحادیث په ولاړه باندې داوبوڅکلوباندې دلالت کوی. ① په دې خودوه احادیث حضرت امام بخاری رحمه الله دلته په دې باب کښې ذکرکړی دی.

② امام ترمذی دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما حدیث نقل کړې دې (کنا ناکل علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم ونحن نمشی ونشرب ونحن قیام) (۵)

③ امام ترمذی رحمه الله دعمروبن شعیب عن جده په طریق سره روایت نقل کړې دې چه په هغې کښې دی چه : (راءیت رسول الله صلی الله علیه وسلم یشرب قائما وقاعدا) امام ترمذی دې ته حسن صحیح وئیلې دی. (۶)

④ حضرات خلفاء راشدین اونورجلیل القدرصحابه کرامو رضي الله عنهم نه په ولاړه اوبه څکل مروی دی. اوداچه په دې کښې هیڅ حرج نشته دې. (۷)

حل دتعارض : داخبره تاسوته معلومه ده چه کله دڅه امرمتعلق متعارض احادیث جمع شی نوپه دې کښې عام طوردرې طریقې اختیاروی. ① نسخ ② ترجیح ③ اوتطبیق.
حضرات محدثین په دې احادیثو کښې هم دادرې خبرې وائی :

① نوابوبکراثرم احادیث جوازته په احادیث نهی باندې ترجیح ورکړې ده. اووئیلې دی چه ا

(۱) صحیح مسلم کتاب الاشربة کراهیة الشرب قائما (ج۳ص۱۶۰) (رقم الحدیث :۲۰۲۶)_
(۲) مسند الامام احمد بن حنبل :(ج۲ص۲۸۳)_
(۳) مسند الامام احمد بن حنبل :(ج۲ص۳۰۱)_
(۴) سنن الترمذی، کتاب الاشربة باب ماجاء فی النهی عن الشرب قائما (ج۴ص۳۰۰).(رقم الحدیث: ۱۸۱۱۸۹۱)
(۵) سنن الترمذی، کتاب الاشربة باب ماجاء فی النهی عن الشرب قائما):(ج۴ص۳۰۰) (رقم الحدیث ۱۸۹۱)
(۶) سنن الترمذی، کتاب الاشربة باب ماجاء فی الرخصة عن الشرب قائما):(ج۴ص۳۰۰) (رقم الحدیث ۱۸۳۱)
(۷) سنن الترمذی، کتاب الاشربة باب ماجاء فی النهی عن الشرب قائما):(ج۴ص۳۰۰).(رقم الحدیث ۱۸۸۱)

حادیث دجواز داحادیث نهی په مقابله کښې اقوی او اثبت دی. (۱)

④ احادیث نهی په احادیث دجوازسره منسوخ شوی دی، یعنی مخکښې په ولاړه د اوبو څکلو ممانعت وو. لیکن دې نه پس دا ممانعت منسوخ شو. «فکان اخر الامرین من رسول الله ﷺ الشرب قائما کما شرب فی حجة الوداع» (۲)

علامه ابن حزم رحمه الله ددې بالکل برعکس مسلک اختیار کړې دې. اوونیلی ئې دی چه احادیث جواز په احادیث نهی سره منسوخ شوی دی. یعنی مخکښې اجازت وو بیا هغه اجازت منسوخ شو. (۳)

③ اکثر علماء کرامو په دواړه قسمه احادیثو کښې تطبیق کوی، دا تطبیق په دوه رنګه دې.

(الف).... ائمه اربعه او اکثر فقهاء کرام په دواړه قسمه احادیثو کښې تطبیق کوی او فرمائی چه احادیث نهی نه نهی تنزیهی مراد دی. چه دجواز منافی نه دی. یعنی په ولاړه اوبه څکل مکروه تنزیهی دی. او دنورو احادیثو په وجه ددې جواز دې. (۴)

(ب).... امام طحاوی فرمائی چه احادیث نهی ضرر طبی او احادیث جواز اباحت شرعیه باندې محمول دی. نو علامه ابن عابدین ردالمختار کښې فرمائی چه «وجنح الطحاوی الی انه لاباس به وان النهی لخوف الضرر لا غیر» (۵)

یعنی اکثر ووختونو کښې په ولاړه اوبه څکل مضر صحت وی، ددې وجې حضور نبی اکرم ﷺ منع فرمائیلې ده. «فهو امر ارشادی طبی لا شرعی» (۶)

داټول اختلافات په ولاړه داوبو څکلو په جواز او عدم جواز کښې دی. باقی په دې کښې هیڅ اختلاف نشته دې چه په ناسته اوبه څکل افضل دې او دحضور نبی اکرم ﷺ طریقه معتاد په ناسته اوبه څکل وو. (۷)

---

(۱) فتح الباری :(ج۱۰ص۱۰۳)_

(۲) فتح الباری :(ج۱۰ص۱۰۳)_، وعون المعبود وشرح ابی داود. کتاب الاشربة باب فی الشرب قائما ج۱۰ص۱۸۱)_

(۳) فتح الباری :(ج۱۰ص۱۰۳)وعمدة القاری (۲۱ص۱۹۳)اوګورئ بذل المجهود شرح ابی داود: (ج۱۶ص ۵۰)

(۴) ارشادالساری :(۱۲ص۳۵۵) فتح الباری (ج۱۰ص۱۰٤) وعمدة القاری (ج۲۱ص۱۹۳)_

(۵) رد المختار کتاب الطهارة مطلب مباحث الشرب قائما (ج۱ص۹۶)_

(۶) الابواب والتراجم : (ج ۲ص۹۷)_

(۷) قال ابن القیم فی زادالمعاد، وکان من هدیه (ص) الشرب قاعداکان هدیه المعتاد وصح عنه انه نهی عن الشرب قائما وصح انه امرالذی شرب قائما ان یسقی وصح عنه انه شرب قائما،قالت طائفة: هذا ناسخ للنهی وقالت بل مبین ان النهی لیس للتحریم بل لارشاد وترک الاولی،وقالت طائفة لاتعارض بینها اصلا فانه انما شرب قائما للحاجة فانه جاء الی زمزم وهم یسقون منها فاستسقی فتناولوه الدلو فشرب وهوقائم وهذا کان موضع الحاجة وللشرب قائما افات عدیدة :منها ان لایحصل له فیخشی منه ان یبرد حرارتها ویشوشها وتسرع النفوذ الی اسفل البدن بغیرتدریج وکل هذا یضربالشارب واما اذا فعله نادرا اولحاجة لم یضره (زادالمعاد ج ٤ص ۳۵٤)_

قوله: حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ: حضرت على رضی الله عنه لره په الرحبه کښې اوبه راوړې شوې نو هغوی په ولاړه اوبه اوڅکلې. اووې فرمائيل چه بعضې خلق په ولاړه اوبه څڅکولو مکروه ګڼړی. حلانه ما حضورنبی اکرم ﷺ ليدلې ووچه څنګه تاسوماګورئی.

قوله: بَابِ الرَّحَبَةِ: (رحبة)صحن اوانګړته وائی، دلته ددې نه دکوفې دمسجدصحن مراد دی.(۱) لکه څنګه چه دباب په دويم حديث کښې ددې تشريح شوېده.
دباب داحديث حضرت اما م بخاری رحمه الله دلته په ړومبی ځل ذکرکړې دې.(۲)

داب زمزم دڅکلو اداب او طريقه

قوله: قَالَ شَرِبَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم قَائِمًا مِنْ زَمْزَمَ: دزمزم څکلومتعلق دحضرات علماء کرامودرې قولونه دی:

① دبعضوپه نيزدعامواوبوپشان زمزم هم په ناسته څکل افضل دی. حضورنبی اکرم ﷺ چه په ولاړه آب زمزم څکلې وې. هغه دبيان جوازدپاره وو. يادازدحام اورش دوجې نه وو.(۳)

② بعضې علماء کراموپه ولاړه اوپه ناسته اوبه څکلوکښې اختيار ورکړې دې يعنی دهغوی په نيزدواړه طريقې برابرې دی هيڅوک ديوبل نه افضل نه دی.(۴)
ليکن داکثروعالمانوپه نيززمزم په ولاړه څکل افضل اومستحب دی.(۵)

① دزمزم څکلوپه آدابوکښې يوداده چه دقبلې ته مخ کړی اوڅکی دې.
② دويم داچه په دريوساګانوکښې اوڅکی، اوهرځل دې شروع په بسم الله سره اوآخرکښې دې الحمدلله وائی.
③ دريم داچه ښه په مړه دې څکی، يوحديث کښې رازی چه (اية بيننا وبين المنافقين انهم لايتضلعون من زمزم)(۶)
دزمزم دڅکلونه مخکښې مشهوراومجرب دادی چه کومه دعااوغوښتلې شی نوهغه

---

(۱) ارشادالساری :(۱۲ص ۳۵٤) وعمدة القاری (ج ۲۱ص۱۹۲)_
(۲) (۵۲۹۲) الحديث اخرجه ابوداودفی الاشربة باب الشرب قائما: (ج۳ص۳۳۶.(رقم الحديث ۳۷۱۸)_ واخرجه الترمذی فی الشمائل باب ماجاء فی صفة شرب رسول الله (ص) ۱۸۳(ص) (رقم الحديث ۲۱۱۰) واخرجه النسائی فی كتاب الطهارة باب صفة الوضوء من غيرحدث (ج۱ص۹۳) (رقم الحديث :۱۳۳(_
(۳) خصائل نبوی (ص) شرح شمائل ترمذی :۱۱۲)_
(۴) ردالمختار :كتاب الطهارة مطلب فی مباحث الشرب قائما :ج۱ص۹۵)_
(۵) دادحضرت ابن عباس رضی الله عنه روايت دی،هغوی فرمائی چه (اذشربت منها فاستقبل القبلة واذكراسم الله وتنفس ثلاثا، وتضلع منها،فان فرغت منها فاحمدالله فان رسول الله (ص) قال :اية بيننا وبين المنافقين انهم لايتضلعونمن زمزم (مستدرک للامام حاكم الشرب من زمزم وادبه :(ج۱ص۴۷۲) وسنن البيهقی باب سقاية الحاج والشرب منها ومن ماء زمزم (ج۵ص۱٤۷)_
(۶) اوګورئ فتح القدير كتاب الحج : ج۲ص٤۰۰، ومعارف السنن كتاب الحج (ج۶ص٤۲۷)_

قبلیږي. ډیروعلماء کراموډخپلودعاګانودقبولیت په دې موقع ذکرکړې دې.(۱) په یومرفوع حدیث کښې هم راغلی دی چه (ماءزمزم علی لماشربه له)(۲)

دزمزم فضیلت باندې یوحدیث هم دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه منقول دې (خیر ماء علی وجه الارض ماءزمزم فیه الطعم وشفاء السقم)(۳)

خپلوکورنواوعلاقوته دزمزم اوړو هم په سنن ابن ماجه کښې دحضرت عائشه رضی الله عنها نه یوحدیث منقول دې. (انها کانت تحمل من ماءزمزم وتخبران رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یحمله)(۴)

فائده: حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ما دطلب حدیث په ابتدائی دورکښې دزمزم څکلوپه وخت کښې دعا کړې وه چه ماته دې په حفظ حدیث کښې دحافظ ذهبی رحمه الله په شان حافظه عطاء شی، بیا تقریباً شل کاله پس ما دزمزم څکلوپه وخت کښې دحافظ ذهبی رحمه الله نه هم دلوئ مرتبې موندلودعا کړې وه، (وارجوالله ان انال ذالك منه)(۵)

ددې نه روستوعلماء کرامولیکلی دی چه دحضرت حافظ ابن حجر رحمه الله حافظه دحضرت ذهبی رحمه الله نه ډیره په وړاندې تلې وه.(۶)

حضرت امام بخاری رحمه الله په کتاب الحج کښې دماء زمزم مستقل باب (باب ماء ماجاء زمزم) قائم کړې دې، اوهلته ئې حدیث ذکرکړې دې.(۷)

دلته داشربه مناسبت سره ددې متعلق څوخبرې بیان شوې دی.

۱۶- بَاب مَنْ شَرِبَ وَهُوَ وَاقِفٌ عَلَى بَعِيرِهِ

[۵۲۹۵] حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ أَخْبَرَنَا أَبُو النَّضْرِ عَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ أَنَّهَا أَرْسَلَتْ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- بِقَدَحِ لَبَنٍ، وَهُوَ وَاقِفٌ عَشِيَّةَ عَرَفَةَ، فَأَخَذَ بِيَدِهِ فَشَرِبَهُ.
زَادَ مَالِكٌ عَنْ أَبِي النَّضْرِ عَلَى بَعِيرِهِ. [ر: ۱۵۷۵]

---

(۱) سنن ابن ماجه کتاب المناسک باب الشرب من زمزم) ج۲ص۱۰۱۸)_ (رقم الحدیث :۳۰۶۲). واختلف الحفاظ فیه فنهم من صححه ومنهم من حسنه ومنهم من ضعفه وقد اخرجه الحاکم فی المستدرک من طریق ابن عباس رضی الله عنه وقال :هذا صحیح الاسناد وقد ذکرالعلماء انهم جربوه فوجدوه کذالک (تعلیقات ابن ماجه للشیخ محمد فواد عبدالباقی : ج۲ص۱۰۱۸)_

(۲) مجمع الزواندباب فی زمزم :ج۳ص۲۸۶،وقال رواه الطبرانی فی الکبیر ورجاله ثقات)

(۳) ردالمختار :کتاب الطهارة مطلب فی مباحث الشرب قائما :ج۱ص۹۵)_

(۴) معارف السنن کتاب الحج (۲ص۴۲۷) وفتح التقدیر کتاب الحج،فصل ماء زمزم (ج۲ص۴۰۰)_

(۵) مقدمة لامع الدرای الفضل الرابع) ج۱ص۳۹۴)_

(۶) کتاب الحج)رقم الحدیث :۱۶۳۶)_

(۷) عمدة القاری: ج۲۱ص۱۹۴)، وفتح الباری :(ج۱۰ص۱۰۵)_

دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادي چه څناور وغیره باندې سوریدل اواوبه څکل دحدیث نه ثابت دی. (۱)

۱۷=باب الأَيْمَنَ فَالأَيْمَنَ فِي الشُّرْبِ

[۵۲۷۶] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضى الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أُتِيَ بِلَبَنٍ قَدْ شِيبَ بِمَاءٍ، وَعَنْ يَمِينِهِ أَعْرَابِيٌّ وَعَنْ شِمَالِهِ أَبُوبَكْرٍ، فَشَرِبَ، ثُمَّ أَعْطَى الأَعْرَابِيَّ، وَقَالَ «الأَيْمَنَ الأَيْمَنَ». [ر: ۲۲۲۵]

قوله: الايمن فالايمن:

نحوی ترکیب: د (الايمن فالايمن) ترکیب نحوی کښې دوه احتماله دی:

① دامبتداء کیدو په وجه مرفوع دې، اوددې خبرمحذوف دې، فاء عاطفه دې، اوترکیبی عبارت دې، (الايمن احق فى الشرب ثم الايمن احق)

② دادواړه دفعل محذوف دمفعولیت دوجې نه منصوب دی (اى اعط الايمن ثم الايمن) (۲)

دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادي چه په اوبوڅکلو کښې به دښی طرف نه شروع کیږی داحکم په اوبواونورومشروباتووغیره ټولو کښې شامل دي. (۳)

دحضرت امام مالک رحمه الله نه مروی دی چه هغوی داحکم اوبوسره خاص کړي دي. لیکن حافظ ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی چه دحضرت امام مالک رحمه الله نه داروایت نه دي ثابت. (۴)

داوبوشروع کولو کښې دښی طرفنه ابتداء کول دجمهور علماء کرامو په نیزمستحب دی. اودعلامه ابن حزم په نیزواجب دی، (۵) مهلب فرمائی چه: (التيامن فى الاكل والشرب وجميع الاشياء من السنن وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم يحب التيامن استشعارمنه بماشرف الله عزوجل به اهل اليمين) (۶)

۱۸=باب هَلْ يَسْتَأْذِنُ الرَّجُلُ مَنْ عَنْ يَمِينِهِ فِي الشُّرْبِ لِيُعْطِيَ الأَكْبَرَ.

[۵۲۹۷] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ أَبِي حَازِمِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ - رضى الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أُتِيَ بِشَرَابٍ فَشَرِبَ مِنْهُ، وَعَنْ

---

(۱) دمذکوره ترکیبونودپاره اوګورئی: عمدة القارى: (۲۱ص۱۹۵)_. وارشاد السارى (ج ۱۲ص۳۵۶)_
(۲) فتح البارى: ج۱۰ص۱۰۶، وعمدة القارى: ج۲۱ص۱۹۵، والابواب والتراجم: ج۲ص۹۷)_
(۳) فتح البارى: ج۱۰ص۱۰۶، وعمدة القارى: ج۲۱ص۱۹۵، والابواب والتراجم: ج۲ص۹۷)_
(۴) فتح البارى: ج۱۰ص۱۰۶، وعمدة القارى: ج۲۱ص۱۹۵، والابواب والتراجم: ج۲ص۹۷)_
(۵) عمدة القارى: ج۲۱ص۱۹۵)
(۶) ارشادالسارى: (۱۲ص۳۵۷) فتح البارى (ج۱۰ص۱۰۶) وعمدة القارى (ج۲۱ص۱۹۵)_

يَمِينِهِ غُلاَمٌ وَعَنْ يَسَارِهِ الأَشْيَاخُ. فَقَالَ لِلْغُلاَمِ «أَتَأْذَنُ لِي أَنْ أُعْطِيَ هَؤُلاَءِ». فَقَالَ الْغُلاَمُ وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ لاَ أُوثِرُ بِنَصِيبِي مِنْكَ أَحَدًا. قَالَ فَتَلَّهُ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِي يَدِهِ.[ر ۲۲۲۴]

حضرت امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې فرمائی چه آیا سړې دخپل ښې طرف والا سړی نه ددې خبرې اجازت اخستې شی چه مخکښې مشر سړی نه اوبه څکلو لره ورکړی.
په روایت کښې دی چه دحضورنبی اکرم یو طرفته یوکم عمره هلک ناست وو. اوبل طرفته ئې دزیات عمر والاخلق وو. دغلام نه حضرت ابن عباس رضی الله عنهما مراد دې. او اشیاخ نه حضرت خالدبن ولید وغیره مراد دی.[۱]

یو تعارض اودهغې حل: دحدیث باب په ظاهره دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما دحدیث سره تعارض دې لکه ابویعلی قوی سند سره نقل کړې دې په دې کښې دی چه:کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا سقی قال :ابدؤا بالاکبر[۲]
ددې جواب ورکړې شوچه داحدیث په هغه حالت باندې محمول دې. کله چه ټول خلق ناست وی یعنی ښی طرفته یاګس طرفته ناست وی نوداسې صورت کښې شروع دمشرنه پکارده لیکن که خلق ښی اوګس طرفته ناست وی نو بیاایمن أحق دې. اګرچه ورو کې وی.[۳]

قوله: فَتَلَّهُ: د(تل) معنی اېښودل دی علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه (تل) دشدت سره اېښودلو ته وائی[۴] علامه عینی رحمه الله فرمائی چه (واصله من الرمی علی التل وهوالمکان المرتفع العالی ثم استعمل فی کل شئ یرمی به وفی کل القاء)[۵] یعنی ددې اصل معنی په اوچته باندې څه څیز ویشتل دی. لیکن دې نه پس مطلقا دڅه څیزویشتلو دپاره استعمال شوه.

۱۹=بابُ الْكَرْعِ فِي الْحَوْضِ

[۵۲۹۸] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ -رضى الله عنهما- أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- دَخَلَ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ وَمَعَهُ صَاحِبٌ لَهُ، فَسَلَّمَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- وَصَاحِبُهُ، فَرَدَّ الرَّجُلُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي. وَهْىَ سَاعَةٌ حَارَّةٌ، وَهْوَ يُحَوِّلُ فِي حَائِطٍ لَهُ -يَعْنِي الْمَاءَ- فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «إِنْ كَانَ عِنْدَكَ مَاءٌ بَاتَ فِي شَنَّةٍ وَإِلاَّ كَرَعْنَا». وَالرَّجُلُ

---

[۱]) فتح الباری (ج۱۰ص۱۰۷) وعمدة القاری (ج۲۱ص۱۹۶)_
[۲]) فتح الباری (ج۱۰ص۱۰۷) وعمدة القاری (ج۲۱ص۱۹۶)_
[۳]) فتح الباری (ج۱۰ص۱۰۷) وعمدة القاری (ج۲۱ص۱۹۶)_
[۴]) فتح الباری (ج۱۰ص۱۰۷) وعمدة القاری (ج۲۱ص۱۹۶)_
[۵]) الابواب والتراجم)ج۲ص۹۷). و فتح الباری (ج۱۰ص۱۰۷)

يَحُوِّلُ الْمَاءَ فِي حَائِطٍ فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ عِنْدِي مَاءٌ بَاتَ فِي شَنَّةٍ. فَانْطَلَقَ إِلَى الْعَرِيشِ فَسَكَبَ فِي قَدَحٍ مَاءً، ثُمَّ حَلَبَ عَلَيْهِ مِنْ دَاجِنٍ لَهُ، فَشَرِبَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - ثُمَّ أَعَادَ، فَشَرِبَ الرَّجُلُ الَّذِي جَاءَ مَعَهُ. [ر ۵۲۹۰]

حديث نه دترجمة الباب ثبوت : د (كرع) معنى لغت كښې څه څيز سره خله لګول او اوبه څکل بعضې په چونګ اوبو څکلوته (كرع) وائى ددې باب نه حضرت امام بخارى رحمه الله خله لګول اوحوض نه داوبو څکلوجوازثابتوى نوپه حديث كښې دى چه (وَإِلَّا كَرَعْنَا) الفاظ په دې باندې دلالت كوى. البته په حديث كښې دحوض ذكرنشته دې. حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه په باغ كښې اوبووركولووالا صحابى شايد هلته ديوكوهى نه اوبه راويستلې. اويوحوض كښې ئې جمع كولې اوبيا ئې ددې حوض نه دباغ مختلفواطرافوته خورولې.[1] داشان اګرچه صراحتاً حوض ذكرنشته ليكن كنايتاً ددې ذكردې.

بهرحال حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله دامكانى خبره ارشاد فرمائى چه دې نه دحديث مناسبت دباب سره بالكل واضح كيږى.

اوداهم وئيلې شى چه عام طورد (كرع) ضرورت حوض وغيره كښې پيش كيږى. اګرچه په حديث كښې مطلقا د (كرع) ذكرنشته دې. ليكن امام بخارى رحمه الله دخلقودعادت اوددې فعل عمومى وقوع پيش نظر ترجمة الباب كښې (فى الحوض) اضافه كړې ده. والله اعلم.

۲۰=باب خِدْمَةِ الصِّغَارِ الْكِبَارَ

[۵۲۹۹] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا - رضى الله عنه - قَالَ كُنْتُ قَائِمًا عَلَى الْحَيِّ أَسْقِيهِمْ - عُمُومَتِي وَأَنَا أَصْغَرُهُمْ - الْفَضِيخَ، فَقِيلَ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ. فَقَالَ أَكْفِئْهَا. فَكَفَأْنَا. قُلْتُ لأَنَسٍ مَا شَرَابُهُمْ قَالَ رُطَبٌ وَبُسْرٌ. فَقَالَ أَبُو بَكْرِ بْنُ أَنَسٍ وَكَانَتْ خَمْرَهُمْ. فَلَمْ يُنْكِرْ أَنَسٌ. وَحَدَّثَنِي بَعْضُ أَصْحَابِي أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسًا يَقُولُ كَانَتْ خَمْرَهُمْ يَوْمَئِذٍ. [ر: ۲۳۳۲]

دحضرت امام بخارى رحمه الله مقصد دادې چه وړو لره پكاردى چه دلويوخدمت اوكړى او د خدمت يوصورت داكيديشى چه واړه دې لويوته اوبه وركړئ. لكه څنګه چه حديث باب كښې حضرت انس رضي الله عنه دتولونه وړوكې وو. اوساقى جوړشوې وو. حضرت امام بخارى رحمه الله دترجمة الباب الفاظ عام اوساتل. دشراب وغيره قيدئې اونه لګولو. دعام تحت خاص چونكه پخپله رازى. ددې وجې ددې قيد ضرورت پاتې نشو.

۲۱=باب تَغْطِيَةِ الإِنَاءِ

[۵۳۰۰] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ أَخْبَرَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي

[1] عمدة القارى (ج۲۱ص۱۹۷)_

عَطَاءٌ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ - رضي الله عنهما - يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِذَا كَانَ جُنْحُ اللَّيْلِ - أَوْ أَمْسَيْتُمْ - فَكُفُّوا صِبْيَانَكُمْ، فَإِنَّ الشَّيَاطِينَ تَنْتَشِرُ حِينَئِذٍ، فَإِذَا ذَهَبَ سَاعَةٌ مِنَ اللَّيْلِ فَحُلُّوهُمْ، فَأَغْلِقُوا الأَبْوَابَ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لاَ يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا، وَأَوْكُوا قِرَبَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ، وَخَمِّرُوا آنِيَتَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ، وَلَوْ أَنْ تَعْرُضُوا عَلَيْهَا شَيْئًا وَأَطْفِئُوا مَصَابِيحَكُمْ».

[۵۳۰۱] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ عَطَاءٍ عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «أَطْفِئُوا الْمَصَابِيحَ إِذَا رَقَدْتُمْ، وَغَلِّقُوا الأَبْوَابَ، وَأَوْكُوا الأَسْقِيَةَ، وَخَمِّرُوا الطَّعَامَ وَالشَّرَابَ - وَأَحْسِبُهُ قَالَ - وَلَوْ بِعُودٍ تَعْرُضُهُ عَلَيْهِ». [ر: ۳۱۰۶]

حضرت جابر رضی الله عنه نه روايت دي چه حضورنبی کريم ﷺ فرمائيلی دی چه کله دشپې تياره راشی اومابنام شی نوخپل بچی بهرمه پريږدئی، ددې وجې چه پهدې وخت کښې شيطانان خورېږی، بيا چه کله دشپې يوحصه تيره شی نودې لره پرېښودې شی، دالله جل جلاله نوم واخلئ اودروازې بندې کړئی ځکه چه شيطانان بندی دروازې نه پرانيزی. دمشکيزې خوله ياسرپه بسم الله سره بنده وئ، لوښولره هم ددې په لنډوالی باندې څه څيزايږدئ اوخپل چراغونه (مشعلونه) مړه کوئ، (چه هسې نه دهغې نه دشپې په کور کښې اور اولګی).

دمابنام په وخت کښې د ماشومانو دکور نه دبهر وتلو حکم:

قوله: فَكُفُّوا صِبْيَانَكُمْ: يعنی بچی دمابنام په وخت کښې دبهروتلونه منع کوئی. ځکه چه په دې وخت کښې کوم شيطانان ګرزی، هغوی بچوته نقصان رسولې شی، علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی: (خشی ﷺ علی الصبيان عند انتشار الجن ان تلم بهم فتصرعهم فان الشيطان قد اعطاه الله تعالى قوة عليه واعلمنا رسول الله ان التعرض للفتن مما لا ينبغی وان الاحتراس منها احزم على ان ذالك الاحتراس لا يرد قدرا ولكن يبلغ النفس عذرها ولئلا يتسبب له اليشطان الى نوم نفسه فی التقصير) (۱)

يعنی شيطان ته الله تعالی يوقوت ورکړې دې، ددې وجې حضورنبی کريم ﷺ د جناتو د انتشار په وخت کښې دخدشې اظهارکړې دې. دفتنونه دبچ کيدودپاره حضورنبی اکرم ﷺ مونږ ته تعليم راکړې دې چه څه په تقدير کښې ليکلی شوی وی، اګرچه داشان حفاظت سره تقديرنه بدلېږی بياهم دروستوپريشانئ اوکوتاهې نه دبچ کيدودپاره داضروری دی.

قوله: وَأَوْكُوا قِرَبَكُمْ: (اوکی) دباب افعال نه دې، ددې معنی ده چه ديوڅيزوغيره رسئ سره تړل. (قرب) د (قربة) جمع دې مشکيزې ته وائی.

(ولوان تعرضوا عليها شيئا) شرط دې (جزاء لکان کافيا) محذوف دې. (۲)

---

(۱) عمدة القاری: (۲۱ص۱۹۷)_ وارشاد الساری (ج ۱۲ص۳۵۹)_

(۲) عمدة القاری: (۲۱ص۱۹۷)_

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه «وانما امر بالتغطية لان فی السنة ليلة ينزل فيها وباء وبلاء لايمر باناء مكشوف الانزل فيه من ذالك والاعاجم يتوقعون ذالك فی كانون الاول»[1]
یعنی حضورنبی کریم ﷺ دلوښودپټولوحکم په دې وجې ورکړې دې چه په کال کښې یوه شپه داسې رازی چه په هغې کښې وباء نازلیږی اوهرناپټوشوی لوښی کښې داخلیږی.

قوله: وَأَطْفِئُوا مَصَابِيحَكُمْ: (مصابیح) دمصباح جمع ده. چراغ وغیره مړه کولوحکم ددې وجې دې چه هغه داوده کیدونه پس داوردلګیدوسبب جوړیدیشی.په مسجدونووغیره کښې چراغ اومشعلونه آویزنده کولې شی، هلته هم که داورلګیدواندیښنه وی نوهم داحکم دې چه هغه دې مړه کړې شی ګنی نه.[2]
دباب په آخری روایت کښې د(اسقیة) لفظ راغلې دې. داد(سقاء) جمع ده، داوبووغیره مشکیزې ته وائی.[3]

۲۲=باب اخْتِنَاثِ الأَسْقِيَةِ

[۵۳۰۲] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رضي الله عنه- قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ اخْتِنَاثِ الأَسْقِيَةِ. يَعْنِي أَنْ تُكْسَرَ أَفْوَاهُهَا فَيُشْرَبَ مِنْهَا.

[۵۳۰۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَنْهَى عَنِ اخْتِنَاثِ الأَسْقِيَةِ. قَالَ عَبْدُ اللَّهِ قَالَ مَعْمَرٌ أَوْ غَيْرُهُ هُوَ الشُّرْبُ مِنْ أَفْوَاهِهَا.

قوله: (اخْتِنَاثِ): د(خنث) نه دباب افعال مصدر دې.چه ددې معنی اړول رازی. دلته په ړومبی حدیث کښې ددې تشریح (ان تكسر افواهها) سره کړې ده. په دې کښې کسرنه مراد خو ماتول نه دی بلکه اړول مراد دی.اوپه دویم حدیث کښې ددې تشریح (الشرب من افواهها) سره کړې شوې ده.[4]

---

[1] :عمدة القاری :(۲۱ص۱۹۷)_. وارشاد الساری (ج ۱۲ص۳۶۰)_
[2] عمدة القاری :(۲۱ص۱۹۸)_
[3] (۵۳۰۲) الحديث اخرجه البخاری ايضا فی هذا الباب (رقم الحديث ۵۳۰۳) واخرجه ابوداود فی الاشربة باب فی اختناث الاسقية (رقم الحديث ۳۷۲۰_ ۳۳۷) واخرجه الترمذی فی الاشربة باب ماجاء فی النهی عن اختناث الاسقية :ج ٤ص۳۰۲) رقم الحديث ۱۸۹۰) واخرجه ابن ماجه فی الاشربة باب اختناث الاسقية : ج۲ص۱۱۳۱رقم الحديث ۳٤۱۸) واخرجه مسلم فی الاشربة باب اداب الطعام والشرب واحكامها:عليه ۶۰۰(رقم الحديث ۲۰۲۳)_
[4] ارشادالساری :(۱۲ص۳۶۱) فتح الباری (ج۱۰ص۱۱۰) وعمدة القاری (ج۲۱ص۱۹۸)_

په مشکیزه باندې خوله لګول اودهغې نه منع کولوکښې حکمتونه : مطلب دادې چه دمشکیزې وغیره خله اړول اوددې نه اوبه څکلونه حضرت نبی کریم ﷺ منع فرمائیلې ده. ددې ممانعت محدیثنو ډیرمصلحتونه بیان فرمائیلی دی

① په دې کښې اوبه دضرورت نه زیاتې استعمالیږی اوداوبوضائع کیدو خدشه وی[1]

② په کپړو وغیره باندې دتویدوقوی اندیښنه وی[2]

③ زیات مقدار کښې اوبه حلق اوخیټې ته ورزی اودې ته نقصان رسیدیشی حلق اومعدې دواړوپاره دانقصان باعث کیدیشی[3]

④ اکثروپه مشکیزه وغیره کښې چینجی وغیره وی. چه نیغ په نیغه ددې (سرې) خلې ته تلې شی دا چینجی وغیره،ددې وجې حضورنبی کریم ﷺ ممانعت فرمائیلې دې[4]

د دواړو حدیثونو په مینځ کښې تعارض اودهغې جواب : البته په دې باندې دیوحدیث نه اشکال کیدیشی.لکه څنګه چه امام ترمذی رحمه الله په شمائل ترمذی کښې اوحضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله په مسند احمد کښې نقل کړې دې. (ان النبی ﷺ دخل علی ام سلیم وقربة معلقة فشرب من فم القربة)[5]

په ظاهره دواړوحدیثونوکښې تعارض دې. ددې مختلف جوابونه ورکړې شوی دی

① دممانعت والاحادیث دغټومشکومتعلق دې. چه دهغې دهانه زیاته وی اوفراخه اوکشاده وی اودحضورنبی اکرم ﷺ عمل دوړو مشکونومتعلق دې.چه دهغې دهانه تنګه وی اوپه دې کښې ذکرشوی داکثرنقصان اندیښنه نه وی[6]

② دممانعت تعلق دوام اوعادت سر ه دې چه داشان مشکوسره خله نزدې کولوعادت نه دې پکار.په دې کښې علاوه په خله کښې په مزه مزه بدبوپیداکیږی اودنبی کریم ﷺ عمل کله دبیان جوازدپاره وو.[7]

③ داباحت تعلق ضرورت احتیاج سره دې،لکه دڅکلودپاره څه ورکې لوښې نه وی او

---

[1] فتح الباری (ج۱۰ص۱۱۲) وعمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۰)_
[2] وشرح الطیبی.کتاب الاطعمة.باب الاشربة :ج۸ص۱۸۶). وفتح الباری : ج۱۰ص۱۱۲)_
[3] عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۰) وشرح الطیبی.کتاب الاطعمة.باب الاشربة :ج۸ص۱۸۶). وفتح الباری : ج۱۰ص۱۱۲)_
[4] عمدة القاری (ج۲۱ص۱۹۸) وشرح الطیبی.کتاب الاطعمة.باب الاشربة :ج۸ص۱۸۶). وفتح الباری : ج۱۰ص۱۱۲) ومرقاة المفاتیح کتاب الاطعمة.باب الاشربة :ج۸ص۲۱۶). _
[5] شمائل الترمذی باب ماجاء فی صفة شرب النبی (ص) ١٤ومسند الامام احمد بن حنبل (ج۳ص۱۱۹)_
[6] عمدة القاری (ج۲۱ص۱۹۸) وشرح الطیبی.کتاب الاطعمة.باب الاشربة :ج۸ص۱۸۶). ومرقاة المفاتیح کتاب الاطعمة.باب الاشربة :ج۸ص۲۱۶). وفتح الباری : ج۱۰ص۱۱۲) _
[7] شرح الطیبی.کتاب الاطعمة.باب الاشربة :ج۸ص۱۸۶). ومرقاة المفاتیح کتاب الاطعمة.باب الاشربة :ج۸ص۲۱۶). وفتح الباری : ج۱۰ص۱۱۲) _

دممانعت تعلق عام حالات سره دې.[1]

④ بعضو حضراتو وئیلی دی چه داشان اوبه څکل مخکښې مباح وو.ليکن بیا احادیث دنهی دا اباحت منسوخ کړو.

⑤ دا اباحت تعلق ضرورت او احتیاج سره دې.لکه دڅکلو دپاره څه وړوکې لوښې نه وي او د ممانعت تعلق عام حالات سره دې.[2]

⑥ احادیث نهی په نهی تنزیهی باندې محمول دې. اوددې عمل دبیان جوازدپاره وو. نهی تنزیهی اوجوازدواړه جمع کیدېشی.ترجیح ورکړې شوې ده ځکه چه هغه قول دی اودفعل نه ثابتیږی.[3]

۲۳= بَاب الشُّرْبِ مِنْ فَمِ السِّقَاءِ

حضرت امام بخاری رحمه الله رومبې ترجمه داختناث عنوان سره قائمه کړې چه ددې معنی دد دمشکیزه خوله اړول اودلته (الشُّرْبِ مِنْ فَمِ السِّقَاءِ) فرمائی اواشاره کوی چه په حدیث کښې وارد شوې نهی چه صرف اختناث سره خاص نه ده. بلکه عام ده. دبعضو لوښو سرونه نه شی اخوا کولي. دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه دادسې لوښونه اوبو څکل هم په نهی کښې داخل دی.[4]

[۵۳۰۴] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ قَالَ لَنَا عِكْرِمَةُ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَشْيَاءَ قِصَارٍ حَدَّثَنَا بِهَا أَبُو هُرَيْرَةَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الشُّرْبِ مِنْ فَمِ الْقِرْبَةِ أَوِ السِّقَاءِ، وَأَنْ يَمْنَعَ جَارَهُ أَنْ يَغْرِزَ خَشَبَهُ فِي دَارِهِ.

[۵۳۰۵] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ أَخْبَرَنَا أَيُّوبُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضى الله عنه- نَهَى النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- أَنْ يُشْرَبَ مِنْ فِي السِّقَاءِ.

[۵۳۰۶] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضى الله عنهما- قَالَ نَهَى النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الشُّرْبِ مِنْ فِي السِّقَاءِ.

روای ته په قربه اوسقاکښې شک دې، ددواړو په مینځ کښې فرق دادې چه قربه صرف اوبودپاره استعمالولې شی او سقا اوبو او پئیو دپاره استعمالیږی.[5]

---

[1] شرح الطیبی،کتاب الاطعمة،باب الاشربة :ج۸ص۱۸۶)، ومرقاة المفاتیح کتاب الاطعمة.باب الاشربة :ج۸ص ۲۱۶)، وفتح الباری : ج۱۰ص۱۱۳)_

[2] شرح الطیبی،کتاب الاطعمة،باب الاشربة :ج۸ص۱۸۶)، ومرقاة المفاتیح کتاب الاطعمة.باب الاشربة :ج۸ص۲۱۶)، وفتح الباری : ج۱۰ص۱۱۳)و عمدة القاری (ج۲۱ص ۲۰۰)_

[3] فتح الباری (ج۱۰ص۱۱۳)، وارشاد الساری (ج ۱۲ص۳۶۳) والابواب والتراجم :ج۲ص۹۷._ وعمدة القاری (ج۲۱ص۱۹۹)_

[4] فتح الباری (ج۱۰ص۱۱۱)، والابواب والتراجم :ج۲ص۹۷._

[5] عمدة القاری (ج۲۱ص۱۹۹)_

قوله: وَأَنْ يَمْنَعَ جَارَهُ أَنْ يَغْرِزَ خَشَبَهُ فِي دَارِهِ: حضور نبی کریم ﷺ ددې خبرې ممانعت اوفرمائیلوچه یوسړي خپل گاونډی لره په خپل دیوال کښې یو لرگی ټکوهولو نه منع کړی، ځوک سړې په خپل کورکښې دضرورت دپاره څه لرگي وغیره ښخوی نوپړوسی ته داحق نشته دي چه هغه ددې نه منع کړی. د(غرز) معنی په زمکه کښې څه ځیزښخول دی.

۲۴= باب النَّهْيِ عَنِ التَّنَفُّسِ فِي الإِنَاءِ

[۵۳۰۷] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «إِذَا شَرِبَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَتَنَفَّسْ فِي الإِنَاءِ، وَإِذَا بَالَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَمْسَحْ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ، وَإِذَا تَمَسَّحَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَتَمَسَّحْ بِيَمِينِهِ».[ر: ۱۵۲]

په لوښی کښې دننه ساه اخستل مکروه دی: اوبوڅکلوپه وخت کښې لوښی کښې دننه ساه مکروه دی، حضورنبی کریم ﷺ ددې نه منع فرمائیلي ده، په لوښی کښې دننه ساه اخستلوسره لعاب وغیره دي کښې دننه دغورزیدو اندیښنه وی،چه دنورودپاره باعث دنفرت گرزی.خوکه سړې ځانله اوبه څکی اوده سره بل څوک نشته دي نوداسې صورت کښې ممانعت نشته دي. بعضې حضراتو داخبره کړې ده.(۱) لیکن دحدیث الفاظ چونکه عام دی، په دي کښې دنوروسړوڅه قید نشته دې، ددې وجې داحکم عام کیدل پکار دې.(۲)

۲۵= باب الشُّرْبِ بِنَفَسَيْنِ أَوْ ثَلاَثَةٍ

[۵۳۰۸] حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ وَأَبُو نُعَيْمٍ قَالاَ حَدَّثَنَا عَزْرَةُ بْنُ ثَابِتٍ قَالَ أَخْبَرَنِي ثُمَامَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كَانَ أَنَسٌ يَتَنَفَّسُ فِي الإِنَاءِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا، وَزَعَمَ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَتَنَفَّسُ ثَلاَثًا.

په رومبی باب کښې حضرت امام بخاری رحمه الله اوفرمائیل چه په لوښی کښې دننه ساه اخستل درست نه دی. اوپه دې باب کښې فرمائی چه داوبوڅکلوپه وخت کښې دوه ساه گانوپه مینځ کښې اخستل پکاردی یعنی په یوساه اوبه څکل صحیح نه دی، البته ساه دې په لوښې کښې دننه نه اخلی،بلکه لوښې دې دخلې نه داخواکړی اوساه دې واخلی.(۳)

حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه:

(فكأنه اراد ان يجمع بين حديث الباب والذى قبله لان ظاهرهما التعارض اذ الاول صريح فى النهى عن التنفس فى الاناء والثانى يثبت التنفس فحملها على حالتين فحالة النهى على التنفس داخل الاناء وحالة الفعل على من

(۱) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۰) فتح الباری (ج۱۰ص۱۱۵).

(۲) فتح الباری (ج۱۰ص۱۱۵).

(۳) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۰)

تنفس خارجه فالاول على ظاهره من النهي والثاني تقديره كان يتنفس في حالة الشرب في الاناء»(١)

امام ترمذى رحمه الله يو روايت نقل كړې دې چه په هغې كښې دى چه «لاتشربوا واحدا كشرب البعير ولكن اشربوا مثنى وثلاث وسموا اذا انتم شربتم واحمدوا اذا انتم رفعتم»(٢)

د اوبو څكلو په وخت كښې دساه اخستلو مستحب طريقه : مستحب دادى چه داوبو څكلو په مينځ كښې دې درې ساه ګانې واخستلې شى، يوساه سره اوبه څكل كه جائزدې ليكن بهترنه دى. په غړپ غړپ يوساه سره داوبو څكلو طبعى نقصانات هم شته دې.

په دې كښې هم مستحب صورت دادې چه مخكښې دې لږه ساه واخستلې شى اولړى اوبه دې اوڅكلې شى، په دويمه ساه كښې دې ددې نه لږې زياتې اوڅكى، اوپه دريمه ساه كښې دې پوره اوڅكلې شى.

البته دساه اخستلو په وخت كښې دې ګلاس دخلې نه لرې كړى.

امام ترمذى رحمه الله دحضرت ابوسعيد خدرى رضي الله عنه نه روايت نقل كوى چه په هغې كښې دى چه «ان النبى صلى الله عليه وسلم نهى عن النفخ فى الشراب فقال رجل : القذاة اراها فى الاناء قال : اهرقها قال : فانى لا اروى من نفس واحد قال : فابن القدح اذاعن فيك»(٣) حاكم دا روايت صحيح ګرزولې دې.(٤)

او سنن ابن ماجه كښې دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه حضورنبى كريم صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى چه «اذاشرب احدكم فلايتنفس فى الاناء فاذا اراد ان يعود فلينح الاناء ثم ليعد ان كان يريد»(٥)

دطرانى په روايت كښې دى چه «ان النبى صلى الله عليه وسلم كان يشرب فى ثلاثة انفاس اذا ادنى الاناء الى فيه يسمى الله فاذا اخره حمد الله يفعل ذالك ثلاثا»(٦)

امام ترمذى رحمه الله اوابن ماجه رحمه الله روايتونوكښې تصريح راغلې ده كه دساه اخستلو ضرورت وى نوساه دې په لوښى كښې دننه نه اخلى بلكه لوښې دې دخپلې خولې نه جدا كړى، دمسلم شريف روايت كښې دى چه «ان النبى صلى الله عليه وسلم كان يتنفس فى الاناء ثلاثا ويقول هو اروى وامرا وابرا»(٧)

دسنن ابى داود روايت كښې د «اروى» په ځائې «اهنا» دې(٨)

---

(١) فتح البارى (ج١٠ص١١٤)۔
(٢) سنن الترمذى، كتاب الاشربة باب ماجاء فى التنفس فى الاناء :ج٤ص٣٠٢) رقم الحديث ١٨٨٥)۔
(٣) سنن الترمذى، كتاب الاشربة باب ماجاء فى كراهية النفخ فى الشراب :ج٤ص٣٠٢) رقم الحديث ١٨٨٧)
(٤) المستدرك على الصحيحين كتاب الاشربة :ج٣٠٣،٤٣٠٤)۔
(٥) سنن ابن ماجه، كتاب الاشربة باب التنفس فى الاناء (ج٢ص١١٣٣)، رقم الحديث ٣٤٢٧)۔
(٦) فتح البارى (ج١٠ص١١٥)۔
(٧) صحيح مسلم كتاب الاشربة باب كراهية التنفس فى الاناءج ٣ص٦٠٢). رقم الحديث :٢٠٢٨)۔
(٨) سنن ابوداود كتاب الاشربة باب فى الساقى متى يشرب :ج٣ص٣٣٨) رقم الحديث ٣٧٢٧)۔

داوبو څکلو اداب. دذکرشوؤ احادیثوپه رنړا کښې لاندینی آداب معلوم شو.

① اوبه دې په ناسته اوڅکلې شی.
② په ښی لاس دې اوڅکلې شی.
③ په شروع کښې دې بسم الله اووئیلې شی
④ په دریو ساګانو دې اوڅکلی اوهرساه سره دې بسم الله او وائی.
⑤ ګلاس کښې دننه دې ساه نه اخلی بلکه ګلاس دې دخلې نه لرې کړې.
⑥ اود څکلونه پس دې دالله ﷻ شکر ادا کړی. اوصرف الحمد لله وئیل کافی دی اوبعضې علماء کرامو دا دعانقل فرمائیلې ده چه «الحمدالله الذی جعله عذبا فراتا برحمته ولم یجعله ملحا اجاجا بذنوبنا»(۱)

۳۶=باب الشُّرْبِ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ.

[۵۳۰۹] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْحَكَمِ عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ كَانَ حُذَيْفَةُ بِالْمَدَائِنِ فَاسْتَسْقَى، فَأَتَاهُ دِهْقَانٌ بِقَدَحِ فِضَّةٍ، فَرَمَاهُ بِهِ فَقَالَ إِنِّي لَمْ أَرْمِهِ إِلاَّ أَنِّي نَهَيْتُهُ فَلَمْ يَنْتَهِ، وَإِنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - نَهَانَا عَنِ الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ وَالشُّرْبِ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَقَالَ «هُنَّ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَهِيَ لَكُمْ فِي الآخِرَةِ». [ر: ۵۱۱۰]

په «کتاب الاطعمة» کښې «باب الاکل فی اناء مفضض» تحت دسروزرو په لوښو کښې دخوراک څکاک مسئله تیره شوې ده.

قوله: فَأَتَاهُ دِهْقَانٌ: «دهقان» «ددال په کسره سره» سردارته وائی. علامه عینی رحمه الله فرمائی چه «هوزعیم القوم وکبیرالقریة»(۲)

۳۷=باب آنِيَةِ الْفِضَّةِ.

[۵۳۱۰] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنِ ابْنِ عَوْنٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ خَرَجْنَا مَعَ حُذَيْفَةَ وَذَكَرَ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «لاَ تَشْرَبُوا فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، وَلاَ تَلْبَسُوا الْحَرِيرَ وَالدِّيبَاجَ، فَإِنَّهَا لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَلَكُمْ فِي الآخِرَةِ». [ر: ۵۱۱۰]

[۵۳۱۱] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنْ نَافِعٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ -

(۱) الدرلمنثور(ج۵ص۲۴۷)وفی روایة (مالحا دجاجا) وشعب الایمان للبیهقی رقم الحدیث (۴۴۷۹)_
(۲) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۱) ارشادالساری :(۱۲ص۳۶۴) فتح الباری (ج۱۰ص۱۱۶)_

صلی الله علیه وسلم - أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صلی الله علیه وسلم - قَالَ «اَلَّذِی یَشْرَبُ فِی إِنَاءِ الْفِضَّةِ إِنَّمَا یُجَرْجِرُ فِی بَطْنِهِ نَارَ جَهَنَّمَ».

[۵۳۱۲] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنِ الأَشْعَثِ بْنِ سُلَيْمٍ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ سُوَيْدِ بْنِ مُقَرِّنٍ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم - بِسَبْعٍ، وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ، أَمَرَنَا بِعِيَادَةِ الْمَرِيضِ، وَاتِّبَاعِ الْجِنَازَةِ، وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ، وَإِجَابَةِ الدَّاعِي، وَإِفْشَاءِ السَّلاَمِ، وَنَصْرِ الْمَظْلُومِ، وَإِبْرَارِ الْمُقْسِمِ، وَنَهَانَا عَنْ خَوَاتِيمِ الذَّهَبِ، وَعَنِ الشُّرْبِ فِی الْفِضَّةِ - أَوْ قَالَ آنِيَةِ الْفِضَّةِ - وَعَنِ الْمَيَاثِرِ وَالْقَسِّيِّ، وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ وَالإِسْتَبْرَقِ.

ددې دترجمې ضرورت نه ووځکه چه سابقه ترجمه کښې داداخل دی لیکن هلته چه کوم حدیث ذکر کړې دې هغه (ان النبی ﷺ نهانا) دماضی صغې سره دې. او دباب په دې حدیث کښې (لاتشربوا) نهی دہ. (۱)

عبد الله بن عبدالرحمان : دباب دویم روایت په سند کښې عبدالله بن عبدالرحمان دې. دا حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه نمسي دې اودام المؤمنین حضرت ام سلمه رضی الله عنها خوري دې. دې دخپل والدا وخپلې تروړنه روایت نقل کوی. (۲) امام ترمذی رحمه الله نه علاوه باقی حضرات ددوی نه حدیث نقل کړې دې. (۳) اوابن حبان په کتاب الثقات کښې ددوی ذکر کړې دې. (۴)

حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه (هو ثقة ماله فی البخاری غیر هذا الحدیث) (۵)

دباب آخری حدیث مخکښې تیرشوې دې. په هغې کښې څو الفاظ اوګورئی :

قوله: المیاثر د میثرة : (بکسر المیم وسکون الیاء) جمع ده. دا په زین باندې داوړلو والا کپړې نوم دې. چه هغه عام طور دریښمونه جوړولې شی. ابوعبیده رضی الله عنه فرمائی چه (المیاثر کانت من مراکب الاعاجم من دیباج اوحریر) (۶)

قوله: (القسی): دقاف په فتحې اودسین مکسور مشدده سره، داد (قیس) طرفته منسوب دې. چه دیوښار نوم دې. علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه دادشام یوښار دې. (۷) علامه عینی

---

(۱) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۲)_

(۲) فتح الباری :ج۱۰ص۱۱۹). وتهذیب الکمال :ج۱۵ص۱۹۷).رقم الحدیث : ۳۳۷٤)

(۳) تهذیب الکمال :ج۱۵ص۱۹۷)وتهذیب التهذیب)ج ۵ص۲۹۱)_

(۴) ثقات ابن حبان :ج۵ص۱۰.ددوی حالات اوګورئی تاریخ البخاری الکبیر: ۵الترجمة ۳۸۸. المعروف والتاریخ :ج۱ص۲۸۵،۲٤۱)الجمع لابن القیسرانی :ج۱ص ۲۵٤. والکاشف :۲_الترجمة :۳۸٤۵)_

(۵) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۱) فتح الباری (ج۱۰ص۱۱۶)_

(۶) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۳) ارشادالساری :(۱۲ص۳۶۶)_

(۷) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۳) شرح البخاری للکرمانی :ج۲۰ص۱۷۱)_

رحمه الله ددي تردید کړې دې. اوفرمائي چه دا د مصریو ښاروو چه ویران شوې وو.(1) قسی کپړاهم دریښمونه جوړیده. ددې وجې حضورنبی اکرم ﷺ منع فرمائیلې ده.

قوله: (دیباج): نری ریښمو او (استبرق) غټوریښموته وئیلی شی.(2) اوحضرت حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی چه:

(وفی هذه الاحادیث تحریم الاکل والشرب فی انیه الذهب والفضة علی کل مکلف رجلا کان اوامراة ولا یلتحق ذالك بالحلی للنساء لانه لیس من التزین الذی ابیح لها فی شئ قال القرطبی: ویلتحق بهما (ای بالاکل والشرب) مافی معناهما مثل التطیب والتکحل وسائروجوه الاستعمالات وبهذه قال الجمهور.....)_(3)

۲۸=باب الشُّرْبِ فِي الْأَقْدَاحِ

[۵۳۱۳] حَدَّثَنِي عَمْرُوبْنُ عَبَّاسٍ حَدَّثَنَا عَبْدُالرَّحْمَنِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ سَالِمٍ أَبِي النَّضْرِ عَنْ عُمَيْرٍمَوْلَى أُمِّ الْفَضْلِ عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ أَنَّهُمْ شَكُّوافِي صَوْمِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- يَوْمَ عَرَفَةَ، فَبُعِثَ إِلَيْهِ بِقَدَحٍ مِنْ لَبَنٍ فَشَرِبَهُ. [ر: ۱۵۷۵]

قوله: الأَقْدَاحِ: د (قدح) جمع ده. (قدح) پیالۍ اوکټوری ته وائی.(4)

دترجمة الباب مقصد: ① په پیالۍ اوکټوری کښې اوبه څکل جائزدی. یادفاسقانوخلقوسره دمشابهت په وجه ممنوع دی، شاید حضرت امام بخاری رحمه الله دې طرفته اشاره کول غواړی چه په دې کښې څکل اګرچه دفساقوشعار دې لیکن هغه خاص مشروب اومخصوص هیئت نقطه نظرسره دهغوی شعاردی. بیاهم که ددوی مخصوص هیئت لره اګراختیارنه کړې شی نو فی نفسه قدح کښې اوبه څکل بلاکراهت جائزدی په دې ترجمة کښې حضرت امام بخاری رحمه الله ددې جوازثابتول غواړی. حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله دترجمة الباب مقصدبیان کړې دې.(5)

② لیکن علامه عینی رحمه الله ددې تردیدکړې دې اوفرمائی چه دحضرت حافظ ابن حجر رحمه الله داخبره درست نه ده. په کټوری کښې اوبه څکل دفاسقانوشعارڅنګه دې حالانکه پخپله حضرت امام بخاری رحمه الله راتلونکې باب د (باب الشرب من قدح النبی ﷺ) عنوان سره قائم کړې دې. دحضورنبی اکرم ﷺ دمختلفو کټورو عالمانو ذکرکړې دې، چه په هغې کښې به ئې یوتو ریان اوبل ته مغیث اودریم ته مضبب وئیلو.(6)

1) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۳) ارشادالساری: (۱۲ص۳۶۸)_
2) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۳) ارشادالساری: (۱۲ص۳۶۸)_
3) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۳)
4) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰٤)
5) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۳) فتح الباری (ج۱۰ص۱۱۶)_
6) الابواب والتراجم: ج۲ص۹۸، عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰٤)_

لهذا حضرت امام بخاری رحمه الله ددې ترجمې نه مطلقا دشرب فی الاقدح جواز ثابتوی.

④ شیخ الحدیث مولانامحمدزکریا رحمه الله په «الابواب والتراجم» کښې فرمائی چه زما په نیز حضرت امام بخاری رحمه الله قدح ته په کوزی اوابریق باندې ترجیح ورکولوطرفته اشاره کوی ځکه چه دکټوری خله فراخه اوکشاده وی، که څه ګندوغیره پکښې پریوزی نوځکونکی ته په نظرراتلې شی، اوپه ابریق اوکوزه کښې داشان نه وی، نوهغه لیکی:

«ولایبعد عندی ان تکون اشارة الی ترجیح القدح علی الکوز والا بریق وغیرهما فان القدح لسعة فمه یظهرفیه للشارب ماقد یسقط فیه شئ من التبن»[1]

دحدیث مناسبت باب سره بالکل واضح دې.

۲۹=باب الشُّرْبِ مِنْ قَدَحِ النَّبِيِ -صلى الله عليه وسلم- وَآنِيَتِهِ.

وَقَالَ أَبُوبُرْدَةَ قَالَ لِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلاَمٍ أَلاَ أَسْقِيكَ فِي قَدَحٍ شَرِبَ النَّبِيِ -صلى الله عليه وسلم- فِيهِ.

[۵۳۱۴] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا أَبُو غَسَّانَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ -رضى الله عنه- قَالَ ذُكِرَ لِلنَّبِيِ -صلى الله عليه وسلم- امْرَأَةٌ مِنَ الْعَرَبِ، فَأَمَرَ أَبَا أُسَيْدٍ السَّاعِدِيَ أَنْ يُرْسِلَ إِلَيْهَا فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا، فَقَدِمَتْ فَنَزَلَتْ فِي أُجُمِ بَنِي سَاعِدَةَ، فَخَرَجَ النَّبِيُ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى جَاءَهَا فَدَخَلَ عَلَيْهَا فَإِذَا امْرَأَةٌ مُنَكِّسَةٌ رَأْسَهَا، فَلَمَّا كَلَّمَهَا النَّبِيُ -صلى الله عليه وسلم- قَالَتْ أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْكَ. فَقَالَ «قَدْ أَعَذْتُكِ مِنِّي». فَقَالُوا لَهَا أَتَدْرِينَ مَنْ هَذَا قَالَتْ لاَ. قَالُوا هَذَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - جَاءَ لِيَخْطُبَكِ. قَالَتْ كُنْتُ أَنَا أَشْقَى مِنْ ذَلِكَ. فَأَقْبَلَ النَّبِيُ - صلى الله عليه وسلم - يَوْمَئِذٍ حَتَّى جَلَسَ فِي سَقِيفَةِ بَنِي سَاعِدَةَ هُوَ وَأَصْحَابُهُ، ثُمَّ قَالَ «اسْقِنَا يَا سَهْلُ». فَخَرَجْتُ لَهُمْ بِهَذَا الْقَدَحِ فَأَسْقَيْتُهُمْ فِيهِ، فَأَخْرَجَ لَنَا سَهْلٌ ذَلِكَ الْقَدَحَ فَشَرِبْنَا مِنْهُ. قَالَ ثُمَّ اسْتَوْهَبَهُ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بَعْدَ ذَلِكَ فَوَهَبَهُ لَهُ. [ر: ۴۹۵۶]

[۵۳۱۵] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُدْرِكٍ قَالَ حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ حَمَّادٍ أَخْبَرَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ عَاصِمٍ الأَحْوَلِ قَالَ رَأَيْتُ قَدَحَ النَّبِيِ صلى الله عليه وسلم عِنْدَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَكَانَ قَدِ انْصَدَعَ فَسَلْسَلَهُ بِفِضَّةٍ قَالَ وَهُوَ قَدَحٌ جَيِّدٌ عَرِيضٌ مِنْ نُضَارٍ. قَالَ قَالَ أَنَسٌ لَقَدْ سَقَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فِي هَذَا الْقَدَحِ أَكْثَرَ مِنْ كَذَا وَكَذَا. قَالَ وَقَالَ ابْنُ سِيرِينَ إِنَّهُ كَانَ فِيهِ حَلْقَةٌ مِنْ حَدِيدٍ فَأَرَادَ أَنَسٌ أَنْ يَجْعَلَ مَكَانَهَا حَلْقَةً مِنْ ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ فَقَالَ لَهُ

---

[1] الابواب والتراجم: ج۲ص۹۸.

أَبُوطَلْحَةَ لَاتُغَيِّرَنَّ شَيْئًا صَنَعَهُ رَسُولُ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-فَتَرَكَهُ.[ر: ۲۹۴۲]

دترجمة الباب مقصد ① ابن منيراونورشارحين ددې ترجمة الباب مقصد داتوهم دفع کول ښائی چه دحضورنبی کريم ﷺ دوفات نه پس دحضورنبی کريم ﷺ پيالئ استعمالول درست نه دی ځکه داد اجازت نه بغيردنوروپه مال کښې تصرف دې اوهغه جائزنه دی حضرت بخاری رحمه الله دې وهم لره دلرې کولودپاره داترجمة الباب قائم کړوچه حضرات صحابه کرام رضي الله عنهم اودوی نه پس راتلونکو دحضورنبی اکرم ﷺ پيالئ استعمال کړۀ ځکه چه حضورنبی اکرم ﷺ څه پريښودی ووهغه صدقه وه دچاميراث نه ووچه په ملک غيرکښې بغيرداجازت نه تصرف لازم راشی. (۱)

خوپه دې باندې اشکال کيدشی چه صدقې سره صرف فقيراستفاده کولې شی. غنی نه. حالانکه دحضورنبی اکرم ﷺ پيالونه اغنياء هم استفاده اوکړه.

ددې جواب داورکړې شوچه غنی دفرض صدقه (زکوة وغيره) نه استفاده نه شی کولې اودحضورنبی اکرم ﷺ ترکه صدقه دقبيل نه نه وه. (۲)

حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله ددې جواب ورکړې دې مذکوره صدقه اوقاف مطلقه دقبيل نه وو اواوقاف مطلقه نه غنی اوفقير دواړه استفاده کولی شی. (۳)

② شيخ الحديث مولانامحمدزکريا رحمه الله فرمائی چه،ددې بحثونوهډو ضرورت نشته دې، بلکه دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصدداد چه په طوردتبرک دحضورنبی اکرم ﷺ ملکيت وی يا نه وی. نوحضرت ليکی چه:

(قلت لاحاجة الى هذا البحث الطويل بل الغرض من الترجمة الشراب من قدح شرب منه النبى ﷺ تبركا به اعم من ان يكون ذالك القدح فى ملكه ﷺ امرلا وعلى هذا فمطابقة الحديث للترجمة ايضا ظاهرة فالظاهران القدح فى اول حديث الباب كان لسهل لاللنبى ﷺ فلاحاجة حينئذ فى اثبات المطابقة الى ماذكره العلامة العينى من ان هذا القدح فى الاصل كان النبى ﷺ فانه خلاف الظاهربل الظاهرانه كان لسهل رضي الله عنه والله اعلم) (۴)

ابوبرده دمشهورصحابی دحضرت ابوموسی اشعری رضي الله عنه ځوئې دې،ددۀ نوم عامردې. (۵) داحديث حضرت امام بخاری رحمه الله مخکښې په کتاب الاعتصام کښې موصولا نقل فرمائيلې دې (۶)

حضرت عبدالله بن سلام سره يوپياله وه.چه په هغې کښې حضورنبی اکرم ﷺ څکل کړی وو.

---

(۱) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰٤) فتح الباری (ج۱۰ص۱۲۲) الابواب والتراجم :ج۲ص۹۸._

(۲) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰٤) فتح الباری (ج۱۰ص۱۲۲) الابواب والتراجم :ج۲ص۹۸._

(۳) فتح الباری (ج۱۰ص۱۲۲) الابواب والتراجم :ج۲ص۹۸._

(۴) الابواب والتراجم :ج۲ص۹۸._

(۵) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۵)_

(۶) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰٤) فتح الباری (ج۱۰ص۱۲۲)_

قوله: حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ: دې حديث کښې د(ابنة الجون) واقعه بيان کړې شوې ده. چه دهغې پوره تفصيل په کتاب الطلاق کښې تيرشوې دې.(١)

قوله: أُجُمِ بَنِي سَاعِدَةَ: (اجم) دهمزه اوجيم ضمه سره..(بناء يشبه القصر) يعنى محل سره مشابه ديوتعميرنوم دې، ددې جمع (اجام) رازى.(٢)

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه (اجم) د(اجمة) جمع ده.(وهی الغيضة) (٣)غيضه د ګنړو ونو بوټو ځائې ته وائی اوجوهری رحمه الله فرمائی چه (حصن بناء اهل المدينة من الحجارة)(٤) يعنى دکانړونه جوړې شوې قلعې ته (اجم) وائی.

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه (منكسة) داسم فاعل صيغه ده اودباب افعال نه اودباب تفعيل دواړونه کيديشی. (٥)په معنى دسرټيټولو.

(اشقى) اګرچه دتفضيل صيغه ده ليکن دلته مطلقا دصفت په معنى کښې ده. اود(ذالک) اشاره دحضورنبی اکرم ﷺ شرف زوجيت فوت کيدو طرفته ده.يعنی ددې شرف فوت کيدوپه وجه کښې زما ډيره غټه بدبختی ده.

قوله: فَخَرَجْتُ لَهُمْ بِهَذَا الْقَدَحِ فَأَسْقَيْتُهُمْ فِيهِ، فَأَخْرَجَ لَنَا سَهْلٌ: حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه فرمائی چه ماحضورنبی اکرم ﷺ اوحضرات صحابه کرام رضی الله عنهم د اوبو څکولو دپاره داکټورې راويستلو اومونږ په دې کښې اوبه اوڅکې مخکښې راوی حضرت ابوحازم سلمه بن دينار فرمائی چه حضرت سهل هغه پياله راوويستله اومونږ په هغې کښې اوبه اوڅکلې،حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله دحديث مناسبت باب سره بيانوی اوفرمائی چه:

(ومناسبته للترجمة ظاهرة من جهة رغبة الذين سالوا سهلا ان يخرج لهم القدح المذكور ليشربوا فيه تبركا به)(٦)

يعنى حضرت عمربن عبد العزيز رحمه الله (دخپلې مدينې منورې ګورنرئی) په دوران کښې هغه پياله حضرت سهل نه دهبه په طورطلب کړه نوهغوی هغه پياله دوی ته هبه کړه.

حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله ددې حديث نه ځوآداب مستنبط کوی اوفرمائی چه:(٧)

عاصم احول فرمائی چه ماحضرت انس رضی الله عنه سره دحضورنبی اکرم ﷺ يوپياله مبارکه ليدلې وه چه ماته شوې وه.هغوی په دې کښې دچاندئ کړه اچولې وه هغه دلرګی يوښکلې پياله

---

(١) عمدة القاری (ج٢١ص٢٠٤) فتح الباری (ج١٠ص١٢٢)وکشف الباری :کتاب الطلاق _

(٢) فتح الباری (ج١٠ص١٢٢) عمدة القاری (ج٢١ص٢٠٥) _

(٣) فتح الباری (ج١٠ص١٢٢) وشرح الكرمانی ج٢٠١٧٢)و عمدة القاری (ج٢١ص٢٠٥) _

(٤) فتح الباری (ج١٠ص١٢٢) وشرح الكرمانی ج٢٠١٧٢)_

(٥) فتح الباری (ج١٠ص١٢٥) وشرح الكرمانی ج٢٠١٧٢)_

(٦) الابواب والتراجم :ج٢ص٩٨، فتح الباری (ج٢٠ص١٧٢) _

(٧) فتح الباری (ج١٠ص١٢٣) _

مبارکه وه.حضرت انس رضی اللہ عنہ فرمائی چه مایه دي پیاله مبارکه کښې حضورنبی اکرم ﷺ ته ډیر خل (څه نه څه) څکولی دی.

قوله: فَسَلْسَلَهُ بِفِضَّةٍ : شارحینودډي ترجمة کړې ده (وصل بعضه ببعض بفضة) یعني داد چاندئې کړو سره جوړه کړې شوې وه.[1]

قوله: وَهُوَ قَدَحٌ جَيِّدٌ عَرِيضٌ مِنْ نُضَارٍ : (نضار) دنون ضمه اودضادتخفیف سره. دایوښه لرګې وی چه دهغې نه عام طورلوښې جوړولې شی.[2]

داماقبل حدیث سره موصول دې.[3] عاصم احول فرمائی چه ابن سرین اوفرمائیل چه په دې کښې داوسپنې یوکړه وه. حضرت انس رضی اللہ عنہ اراده اوکړه چه ددې په ځائې دسروزرویا چاندئې کړه اولګوی.نوحضرت ابوطلحه رضی اللہ عنہ هغه لره منع کړو اووې فرمائل چه داڅیزمه بدلوه ځکه چه داحضورنبی اکرم ﷺ جوړه کړې وه.نو هغوی خپله اراده ترک کړه.علامه عینی رحمہ اللہ لیکی چه

(وفي الحديث جواز اتخاذ ضبة الفضة وكذلك السلسة والحلقة ولكن فيه اختلاف فقال الخطابي منعه مطلقا جماعة من الصحابة والتابعين وهوقول مالك والليث وعن مالك يجوز من الفضة اذا كان يسيرا و كرهه الشافعي وقال ابوحنيفه واصحابه فلاباس اذا اتقى وقت الشرب موضع الفضة وبه قال احمد واسحاق وتحرم ضبة الذهب مطلقا....... وروى الطبراني في الاوسط من حديث ام عطية ان النبي ﷺ نهى عن ليس الذهب وتفضيض الاقداح ثم رخص في تفضيض الاقداح وهوحجة على الشافعي)[4]

۳۰=باب شُرْبِ الْبَرَكَةِ وَالْمَاءِ الْمُبَارَكِ

[۵۳۱۲] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنِ الأَعْمَشِ قَالَ حَدَّثَنِي سَالِمُ بْنُ أَبِي الْجَعْدِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنهما - هَذَا الْحَدِيثَ قَالَ قَدْ رَأَيْتُنِي مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَقَدْ حَضَرَتِ الْعَصْرُ وَلَيْسَ مَعَنَا مَاءٌ غَيْرَ فَضْلَةٍ فَجُعِلَ فِي إِنَاءٍ، فَأُتِيَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بِهِ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهِ وَفَرَّجَ أَصَابِعَهُ ثُمَّ قَالَ «حَيَّ عَلَى أَهْلِ الْوُضُوءِ، الْبَرَكَةُ مِنَ اللَّهِ». فَلَقَدْ رَأَيْتُ الْمَاءَ يَتَفَجَّرُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ، فَتَوَضَّأَ النَّاسُ وَشَرِبُوا، فَجَعَلْتُ لاَ آلُو مَا جَعَلْتُ فِي بَطْنِي مِنْهُ، فَعَلِمْتُ أَنَّهُ بَرَكَةٌ. قُلْتُ لِجَابِرٍ كَمْ كُنْتُمْ يَوْمَئِذٍ قَالَ أَلْفًا وَأَرْبَعَمِائَةٍ.

---

[1] عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۶) فتح الباری (ج۱۰ص۱۲۳)_ارشادالساری :(۱۲ص۳۷۰) _
[2] عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۶) فتح الباری (ج۱۰ص۱۲۳)_ارشادالساری :(۱۲ص۳۷۰) _
[3] عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۶) فتح الباری (ج۱۰ص۱۲٤)_
[4] عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۶) _

تَابَعَهُ عَمْرٌو عَنْ جَابِرٍ. وَقَالَ حُصَيْنٌ وَعَمْرُو بْنُ مُرَّةَ عَنْ سَالِمٍ عَنْ جَابِرٍ خَمْسَ عَشْرَةَ مِائَةً وَتَابَعَهُ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ عَنْ جَابِرٍ. [ر ۳۳۸۳]

دبرکت نه دبرکت والااوبه مراد دی په برکت والاخيزباندې هم دبرکت اطلاق کیږی [1]

دترجمة الباب مقصد ① علامه ابن بطال وغيره ددې ترجمة الباب مقصد دا ښائی چه حضرت امام بخاری ښودل غواړی چه برکت والااوبه کثرت سره استعمالولې شی [2]

② شيخ الحديث حضرت مولانازکريا رحمه الله فرمائی چه زماپه نيزدحضرت امام بخاری رحمه الله مقصددادې چه حضرت امام بخاری رحمه الله خودړومبی پياله نه دحضورنبی کريم صلی الله عليه وسلم دمخصوصې پيالې تبرک حاصلولوجوازښودلې دې. اوپه دې کښې مطلقا دتبرک جواز ښائی که هغه دحضورنبی اکرم صلی الله عليه وسلم دلاس نه وی اوکه دبزرګانو دلاس نه ددې وجې حضرت امام بخاری رحمه الله دترجمة الباب الفاظ عام اوساتل اوليکی چه (والاوجه عندی ان الغرض من الترجمة السابقة الاستبراك المخصوص بقدح النبی صلی الله عليه وسلم واشار بهذه الترجمة الی الاستبراك مطلقا اعم من ان يكون حصل بيد النبی صلی الله عليه وسلم اوبيد غيره من الصلحاء ويشير اليه اطلاق لفظ الترجمة وان كان المذكور فی حديث الباب ذكر بركة النبی صلی الله عليه وسلم فيقاس بركة غيره عليه صلی الله عليه وسلم) [3]

حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چه څه دحضورنبی اکرم صلی الله عليه وسلم سره اوم دمازيګردمونځ وخت شو اومونږ سره لږی اوبه پاتې شوې وې هغه اوبه حضورنبی اکرم صلی الله عليه وسلم په يولوښي کښې واچولې اودحضورنبی اکرم صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې پيش کړې شوې حضورنبی اکرم صلی الله عليه وسلم خپل لاس مبارک په دې کښې داخل کړو. اوخپلې ګوتې ئې فراخې اوساتلې او وې فرمائيل چه اودس کولو والا راشئ برکت دالله جل جلاله دطرفنه دې نوما اوکتل چه اوبه د حضورنبی اکرم صلی الله عليه وسلم دګوتومبارک دمينځ نه روانې خلقواودس ونه اوکړل اواوبه ئې اوڅکلې ماهم ددې اوبونه ښه په مړه خيټه اوبه اوڅکلې ځکه چه ماته معلوم ووچه دابرکت والااوبه دی

راوی سالم بن ابی الجعد وائی چه مادحضرت جابر رضی الله عنه نه تپوس اوکړوچه په هغه ورځ تاسوڅومره کسان وې نوهغوی اوفرمائيل چه څوارلس سوه کسان وو.

دې حديث کښې چه کومه واقعه بيان کړې شوې ده. داپه حديبيه کښې پيښه شوې وه. [4] دحديث مناسبت ترجمة الباب سره ظاهردې

قوله وَلَيْسَ مَعَنَا مَاءٌ غَيْرَ فَضْلَةٍ :(فضلة) هر بچ شوی څيزته وائی مافضل من الشیء

---

[1] عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۶) فتح الباری (ج۱۰ص۱۲۵)_ارشادالساری :(۱۲ص۳۷۰) الابواب والتراجم۲۹۷)_

[2] الابواب والتراجم۲۹۷) فتح الباری (ج۱۰ص۱۲۶)_

[3] الابواب والتراجم۲۹۷)_

[4] فتح الباری (ج۱۰ص۱۲۶)_ارشادالساری :(۱۲ص۳۷۲) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۷)_

قوله: حَیِّ عَلَی أَهْلِ الْوُضُوءِ: اکثرو روایتونوکښې داشان دی، په دې صورت کښې (اهل الوضوء) منادی منصوب دې، (وضوء (دواوفتحې سره (اسم لمایتوضابه) هغه اوبۀ چه هغې سره اودس کولې شی، ترجمه به ئې وی چه (ائې اودس کولو والومالره راشی.([1]

قوله: فَجَعَلْتُ لاَ آلُو مَا جَعَلْتُ فِي بَطْنِي مِنْهُ: (الایالو) بروزن (دعا،یدعو) دباب نصرنه دې،په معنی دکوتاهئ کولو.([2] یعنی ماأوبوکښې هیڅ قسمه کمی اوکوتاهی اونه کړه اوښه په مړه خېټه مې اوڅکلې.

علامه عینی رحمه الله فرمائی :(وفیه من الفقة ان الاسراف فی الطعام والشراب مکروه الا الاشیاء التی اری الله فیها برکة غیر معهودة وانه لاباس بالاستکثار منها ولیس فی ذالك سرف ولا استکثار ولا کراهیة)([3]

••••

۷۸-کتاب المرضیٰ

(الاحادیث : ۵۳۱۷:۵۳۵۳)

کتاب المرضیٰ ښې دویشت (۲۲) ابواب او اته څلويښت (۴۸) احادیث مکرر دی، او څوارلس احادیث په ړومبی ځل په دې کښې ذکر کړې شوی دی،په دې څوارلسو کښې لس احادیثه متفق علیه دی، یعنی امام مسلم رحمه الله هم دهغې تخریج کړې دې،کتاب المرضیٰ کښې درې آثار دی،

بسم الله الرحمٰن الرحیم

۷۸-کتاب المرضیٰ

حضرت امام بخاری رحمه الله دکتاب الاشربه نه پس دکتاب المرضیٰ ذکر فرمائیلی دې شارحینو دلته کښې څه مناسبت نه دې بیان کړې لیکن مناسبت ظاهر دې ځکه چه طعام او شراب دانسان جسم سره تعلق لری اودمرض تعلق هم دانسان دجسم سره دې، او د شرابو او طعامو بې اعتدالی عموماً دمرض سبب جوړیږی،ددې دوجې نه امام بخاری داشربه نه پس متصل دکتاب المرضی ذکر کړې دې،

[1]) ارشادالساری :(۱۲ص۳۷۲) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۷)_
[2]) فتح الباری (ج۱۰ص۱۲۶)_ارشادالساری :(۱۲ص۳۷۲) _
[3]) عمدة القاری (ج۲۱ص۲۰۷)_

مرضی،، دفعلی په وزن سره دمریض جمع ده، دلته مرض نه دجسم مرض مراددې، دمرض اطلاق په روحانی بیمارئې باندې هم کیږی،لکه څنګه چه قرآن پاك کښې دمنافقینو متعلق فرمائیلی شوی دی،((فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ)) اویادشهوت په وجه لاحق کیږی،په قرآن کښې دی چه((فَیَطْمَعَ الَّذِیْ فِیْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ))[1] دجسمانی مرض تعریف ((خروج الجسم عن المجری الطبیعی ویعبرعنه بانه حالة اوملکة تصدربها الافعال عن الموضوع لها غیر سلیمة))[2] یعنی دجسم خپل طبعی حالت نه وتلوته مرض وائی،

۱- باب ماجاء فی کفارة المرض

قوله: وقول الله تعالی: مَنْ یَّعْمَلْ سُوْٓءًا یُّجْزَ بِهٖ: [النساء: ۱۲۳]

کفاره دکفرنه مبالغه ده، چه ددې اصل معنی پټول دی،دلته مطلب دادې چه دمومن مرض ددهٔ دګناهونو دپاره مرض جوړیږی،[3] علامه کرمانی فرمائی چه ((کفارة المرض)) کښې اضافت بیانیه دې لکه چه په شجرة الاراك کښې اضافت بیانیه دې،((لان المرض لیست له کفارة بل هوالکفارة نفسها))[4] اواضافت په معنی د ،،فی،، کښې هم کیدیشی،((ای کفارة فی المرض)) اوداد ،،اضافة الصفة الی الموصوف،، دقبیل نه دې، [5]

قوله: وقول الله تعالی: مَنْ یَّعْمَلْ سُوْٓءًا یُّجْزَ بِهٖ: دسورة النساء آیت کریمه دې،پوره آیت دادې ((. لَیْسَ بِاَمَانِیِّكُمْ وَلَآ اَمَانِیِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ؕ مَنْ یَّعْمَلْ سُوْٓءًا یُّجْزَ بِهٖ ۙ وَلَا یَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِیًّا وَّلَا نَصِیْرًا))یعنی نه ستاسو په خواهیشونوباندې مداردې اونه داهل کتابو په خواهیشونو باندې مدار دې.چه څوك بدکوی نوهغه به دهغې سزامومی اوددې سرې به دالله نه علاوه نه څوك حمایتی وی اونه به ددوی څوك مددګاروی،،چه دالله تعالی دعذاب نه دوی لره نجات ورکړی،

علامه ابن بطال رحمه الله ددې آیت کریمه معنی بیانوی فرمائی چه ((ذهب اکثرالناس اهل التاویل الی ان معنی الایة ان المسلم یجازی علی خطایاه فی الدنیا بالمصائب التی فیها تقع له فیها فتکون کفارة لها))[6] یعنی دمسلمانانو دګناهونو سزا دوی ته دمصائبو په شکل کښې ورکولی شی، چه په کومو کښې دوی مبتلا کیږی،

حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله دحضرت عائشه رضی الله عنها روایت نقل کوی چه کله داآیت نازل شو

[1] فتح الباری: ۱۲۸/۱۰ الابواب والتراجم: ۹۸/۲)_
[2] عمدة القاری: ۲۰۷/۲۱و وارشادالساری: ۳۷۳/۱۲، وشرح الکرمانی: ۱۷۵/۲۰)_
[3] عمدة القاری: ۲۰۷/۲۱،وارشادالساری: ۳۷۳/۱۲، وفتح الباری: ۱۲۸/۱۰)_
[4] عمدة القاری: ۲۰۷/۲۱، فتح الباری: ۱۲۸/۱۰، وشرح الکرمانی: ۱۷۵/۲۰)_
[5] عمدة القاری: ۲۰۸/۲۱، وارشادالساری: ۳۷۳/۱۲، فتح الباری: ۱۲۸/۱۰، وشرح الکرمانی: ۱۷۵/۲۰)_
[6] عمدة القاری: ۲۰۷/۲۱، فتح الباری: ۱۲۸/۱۰، الابواب والتراجم: ۹۸/۲۰)_

نو مسلمانان ډیرپریشانه شول او دوی وونيل چه «انا لنجزى بكل ما عملناه هلكنا اذًا...» كه مونږ ته دخپل هر عمل سزا راكولى شى نوبيامونږ به هلاك شو، حضورنبى اكرم ﷺ ته د دوى دپريشانئ داكيفيت معلوم شو نوونئ فرمائيل چه «نعم يجزى به فى الدنيا من مصيبة فى جسده مما يوذيه»[۱] داشان حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه نه مروى دى چه هغوى حضورنبى اكرم ﷺ ته اوفرمائيل چه «يا رسول الله كيف الصلاح بعد هذه الاية، ليس بامانيكم، فقال غفر الله لك يا ابا بكر الست تمرض الست تحزن قال قلت بلى قال هو ما تجزون»[۲]

خلاصه دكلام داشوه چه دګناهونو سزا يومومن ته دمصائبو اومرضونو په شكل كښې وركولى شى نو دمؤمن بيمارى اودده مرض دده دګناهونوجزا اوكفاره ده.ددې وجې حضرت امام بخارى رحمه الله داآيت ددې باب نه پس ذكر اوفرمائيلو

فائده : مؤمن چه كله په مصائبو اوبيمارو اوغمونو كښې مبتلا شى نو دا دګناهونو په وجه وى په دې صورت كښې دا ابتلاء دده دګناهونو كفاره جوړيږى. اويا دګناهو نو دكفارې دپاره نه بلكه درفع درجات دپاره يوصالح مؤمن لره په مصائبو كښې مبتلا كولى شى. صوفياء كرامو فرمائيلى دى چه ړومبى صورت كښې سړى باندې دبې قرارئ صورت وى اوپه دوئم صورت كښې په مصيبت كښې داخته كيدو نه باوجود سړې پر سكون وى اورجوع الى الله كښې مزيد اضافه كيږى.

[۵۳۱۷] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ الْحَكَمُ بْنُ نَافِعٍ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ رضى الله عنها زَوْجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «مَا مِنْ مُصِيبَةٍ تُصِيبُ الْمُسْلِمَ إِلاَّ كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا عَنْهُ، حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا»

[۵۳۱۸] [۳] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلاَ وَصَبٍ وَلاَ هَمٍّ وَلاَ حُزْنٍ وَلاَ أَذًى وَلاَ غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا، إِلاَّ كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ».

مذكوره دواړه حديثونه حضرت امام بخارى رحمه الله دلته په ړومبى ځل ذكر فرمائيلى دى [۴] ړومبي حديث دحضرت عائشه رضی الله عنها نه مروى دې حضورنبى اكرم ﷺ فرمائى چه هيڅ يو مصيبت مسلمان ته نه رسى مګر داچه الله جل جلاله دده دپاره ددې په بدله كښې دده ګناهونه

---

[۱] فتح البارى : ۱۰/۱۲۸)_

[۲] فتح البارى : ۱۰/۱۲۸،۱۲۹)_

[۳] الحديث اخرجه الترمذى فى الجنائز باب ماجاء فى ثواب المريض: ۳/۲۹۸، رقم الحديث: ۹۶۶) واخرجه المسلم فى كتاب البر والصلة باب ثواب المومن فى ما يصيبه من مرض :۳/۱۹۹۳) رقم الحديث :۲۵۷۲)

[۴] اخرجه المسلم فى البر والصلة والاداب باب ثواب المومن فى ما يصيبه من مرض......الخ)_

رژوی. تردې پورې چه يو ازغې دده په بدن کښې لاړ شی،
دوئم حديث دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه مروی دې حضورنبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائی چه مسلمان ته هيڅ څه غم اوتکليف نه رسی تردې پورې چه دده په بدن کښې يو ازغې هم لاړ شی نو الله جل جلاله دده دپاره دګناهونو کفاره جوړه وی،

قوله: ما من مصيبة تصيب المسلم: مصيبت په اصل کښې «الرمية بالسهم» ته وائی. بيا دالفظ مطلقاً هرې حادثې دپاره استعماليدل شروع شو.([1])علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه «المصيبة فى اللغة ينزل بالانسان مطلقاً وفى العرف ما نزل به من مکروه خاصة وهوالمراد ههنا»([2])امام راغب رحمه الله فرمائی چه لفظ «اصاب» دخيراوشر دواړودپاره استعماليږی. نوقرآن کريم کښې دی. «إِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِنْ تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ»([3]) بعضو وئيلی دی چه استعماليږی خو په دواړه کښې خومشتق منه ددواړو بيل بيل دې. «اصابة فى الخير» د«صوب» نه مشتق دې «صوب» په قدرِ ضرورت نازل شوی باران ته وائی. او«اصابة فى الشر» د «اصابة السهم»نه ماخوذ دې.([4])

قوله: حتى الشوکة يشاکها: «يشاك» د«يقال»په وزن باندې دمضارع مجهول صيغه ده. «يشاك، شوكا»لازم اومتعدی دواړه استعماليږی. ازغی تلل اوازغی منډل.([5])
حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دا اصل کښې «يشاك بها»دې با جاره ئې حذف کړه اوفعل ئې دې سره نيغ په نيغه يوځائې کړودې ته «حذف اوايصال» ووئيلی شی. حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله ددې ترجمه کړې ده. «اى يشوكه غيربها» يعنی بل څوك چا کښې ازغی اوټومبی. ياپه خپله پکښې لاړ شی.([6])

قوله: الا کفرالله بها عنه: دمسند احمدپه روايت کښې دی چه «الاكان كفارة لذنبه»([7])شيخ عزالدين بن سلام فرمائی چه داجراوثواب تعلق دانسان خپل کسب سره دې.لهذا مصائب اوتکليفونه په دې کښې داخل نه دی،خوکه په دې باندې صبر اوکړی نوهغه به په دې صبر باندې داجراوثواب مستحق کيږی.([8]) ليکن نورو علماؤ ددې ترديد کړې دې اووئيلی ئې دی چه په احاديثو صريحه کښې مطلقاً په مصائبو باندې داجراوثواب وعده ده. که سرې په

---

[1]) عمدة القارى: ۲۱/۲۰۸_
[2]) عمدةالقارى :۲۱/۲۰۸. وشرح البخارى للكرمانى :۲۰/۱۷۵و فتح البارى، ۱۰/۱۲۹)_
[3]) عمدة القارى :۲۱/۲۰۸و فتح البارى :۱۲۹/۱۰)_
[4]) عمدةالقارى :۲۱/۲۰۸. فتح البارى: ۱۰/۱۲۹)_
[5]) عمدة القارى: ۲۱/۲۰۸۰-
[6]) عمدة القارى: ۲۱/۲۰۸. وفتح البارى:۱۰/۱۲۹۰-
[7]) فتح البارى :۱۰/۱۲۹)_
[8]) فتح البارى :۱۰/۱۳۰)_

هغې باندې صبر اوکړی اوکه اونکړی، راضی وی اوکه نه وی، نو علامه قرافی رحمه الله فرمائی چه : ((المصائب كفارات جزما سواء اقترن بها الرضا ام لا لكن ان اقترن بها الرضا عظم التكفير والا قل،))[1] بهر حال که دسړی ګناهونه وی نو مصائب دده دپاره کفارات جوړیږی اوکه دده ګناهونه نه وی نو هغې سره دده درجات اوچتیږی اوبلندیږی، [2]علامه قرافی رحمه الله تعالی علیه فرمائی چه یوسړې په مصیبت کښې وی نوهغه ته دا ووئیل مناسب نه دی چه ((جعل الله هذه المصيبة كفارة لذنبك))ځکه چه کله شریعت مصیبت لره کفاره جوړه کړې ده نودوباره ددې دعا ضرورت نشته دې، [3]

تراجم رجال

زهیربن محمد: دده کنیت ابوالمنذر دې،خراسانی، مروزی، اوخرقی دده نسبت دې، ((خرق))دخاء اوراپه فتحې سره په مروکښې دیوکلی نوم دی، [4] حضرت امام بخاری رحمه الله ددوی نه صرف دوه احادیثه نقل کړی دی،یودا اودوئیم په کتاب الاستیذان کښې بعضو محدثینو دده په حافظه کښې کلام کړې دې، [5] لیکن حضرت امام بخاری رحمه الله په تاریخ صغیر کښې فرمائی چه شام والو دده نه کوم روایتونه نقل کړی دی هغه مناکیردی، بیاهم د بصرې والو روایتونه صحیح دی، [6] حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله دده باره کښې د((لیس به باس،مستقیم الحدیث))او((مقارب الحدیث)) الفاظ وئیلی دی، [7]

یحي بن معین رحمه الله فرمائی چه ((صالح،لاباس به))[8]امام دارمی رحمه الله فرمائی ((ثقة))[9]

امام نسائی رحمه الله فرمائی چه دوی ضعیف دې، [10]اوبل ځائې کښې فرمائی چه ((لیس بالقوی))[11]په ۲۲۲هجرې کښې ددوی وفات اوشو، [12]

---

[1] فتح الباری : ۱۰/۱۳۰)_

[2] فتح الباری:۱۰/۱۳۰)_

[3] فتح الباری :۱۰/۱۳۰)_

[4] تهذیب الکمال : ۹/٤١٤، رقم الترجمه : ۲۰۱۷)_

[5] فتح الباری:۱۰/۱۳۰، الجرح والتعدیل : ۱/۳، االترجمه:۲۶۸۶)_

[6] تاریخ الصغیر للامام البخاری : ۲/۱٤۹)_

[7] تهذیب الکمال : ١٤/٤١٧)_

[8] تاریخ عثمان بن سعید الدارمی، الترجمه : ۳٤۳)_

[9] تهذیب الکمال :١٤/٤١٧)_

[10] تهذیب الکمال :١٤/٤١٧)_

[11] الضعفاء والمتروکین للنسائی، الترجمة : ۲۱۸، وتهذیب الکمال : ١٤/٤١٨)_

[12] تهذیب الکمال : ١٤/٤١٧ددوی حالاتوکتلو دپاره اوګورئی،تاریخ الکبیر للبخاری، ۳/الترجمه : ١٤٢٠، معجم البلدان : ٤٢٥/٤، وسیراعلام النبلاء :۸/۱۶۸، ومقدمه فتح الباری: ۱۰/۱۳۱)_

نصب،، د،،تعب،،په معنى كښې دې د،،وزناتعب،،په شان،((وصب)) مرض ته وائى،
بعضو وئيلى دى چه ((وصب)) مرض ته وائى چه دكيدونه پس ختم شى،[1]

همّ: ديو خطرناكې اونقصان وركونكى معامله پيښيدوپه سلسله كښې فكر كولوكښې چه كومه پريشانى سړى ته كيږى هغې ته هم وائى،

غمّ: ديو ناګواره واقعې پيښيدوسره انسان په زړه كښې چه كوم تكليف راوزى هغې ته غم وائى، ((حزن)) دهغه څيز مفقود كيدوسره لاحق كيږى چه دهغې مفقودكيدل دسړى دپاره شاق وى[2]بعضو وئيلى دى چه دحزن تعلق دمافات سره دې اودهم تعلق دماآت سره دې،[3]

[٥٣١٩] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ عَنْ سَعْدٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَالْخَامَةِ مِنَ الزَّرْعِ تُفَيِّئُهَا الرِّيحُ مَرَّةً، وَتَعْدِلُهَا مَرَّةً، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ كَالأَرْزَةِ لاَ تَزَالُ حَتَّى يَكُونَ انْجِعَافُهَا مَرَّةً وَاحِدَةً» وَقَالَ زَكَرِيَّاءُ حَدَّثَنِي سَعْدٌ حَدَّثَنَا ابْنُ كَعْبٍ عَنْ أَبِيهِ كَعْبٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-.

داحديث دلته كښې امام بخارى په ړمبى ځل ذكرفرمائيلى دې،[4]حضرت كعب فرمائى چه رسول الله اوفرمائيل چه دمومن مثال د پټى دونو پشان دې چه كله هوا ده لره يوخوا بل خوا اړوى رااړوى اوكله ده لره نيغوى اودمنافق مثال دصنوبردونې په شان دې چه هميشه قائم وى اوتردې چه يو ځل اودريږى،

[٥٣٢٠] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ قَالَ حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ هِلاَلِ بْنِ عَلِيٍّ مِنْ بَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضى الله عنه- قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الْخَامَةِ مِنَ الزَّرْعِ مِنْ حَيْثُ أَتَتْهَا الرِّيحُ كَفَأَتْهَا، فَإِذَا اعْتَدَلَتْ تَكَفَّأُ بِالْبَلاَءِ، وَالْفَاجِرُ كَالأَرْزَةِ صَمَّاءَ مُعْتَدِلَةً حَتَّى يَقْصِمَهَا اللَّهُ إِذَا شَاءَ». [٧٠٢٨]

داحديث هم امام بخارى دلته په ړمبى ځل ذكر كړې دې،[5]

---

[1]) ومقدمه فتح البارى: ١٠/١٣١_

[2]) الهم ينشاء عن الفكر فيما يتوقع حصوله مما يتاذى به، والغم يحدث للقلب بسبب ماحصل، والحزن يحدث ما يشق على المراة فقده (فتح البارى:١٠/١٣١،عمدة القارى :٢١/٢٠٩)_

[3]) ارشادالسارى، ١٢/٣٧٥_

[4]) الحديث الذى اخرجه المسلم فى صفات المنافقين واحكامهم باب مثل المومن كالزرع ومثل المنافق كشجرة الارز: ٤/٢١٦٣، رقم الحديث : ٢٨٠٩، واخرجه النسائى فى باب الطب باب مثل المومن: ٣٥١/٤،رقم الحديث :٧٢٧٩)_

[5]) الحديث الذى اخرجه البخارى ايضاً فى كتاب التوحيد، باب فى المشية والارادة :رقم الحديث : ٧٠٢٨، هذا الحديث من افراد البخارى)_

حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائي چه حضورنبي اكرم ﷺ فرمائي چه دمومن مثال دپتى دبوټو په شان دې. چه دكوم طرف نه چه هوا رازى نوهغه طرفته هغه ځملي اوكله چه هواودريږى نو بيا هغه نيغ شي اودفاجرمثال دصنوبردونې په شان دې چه هغه نيغه اودريږى نوتردې چه بيا كله الله تعالى اوغواړى نو په يوځل ئې روباسي.

قوله: ((مثل المومن كالخامة)): ((خامة)) خامه تازه راټوكيدونكې شنې كيدووالا ونې ته وائي. (١)مسند احمد كښې روايت دې چه ((مثل المومن كمثل السنبلة تخرمرة وتستقيم مرة(٢)اوپه يو بل روايت كښې دې چه ((مثل المومن مثل الخامى تحمر مرى و تصفر اخرى))(٣)يعنى دمومن مثال دونې په شان دې چه كله سره اوشادابه وى اوكله زيړه اومړه شوى.

قوله: تفئوها مرة أوتعدلها مرة: باب ((تفيئو)) د تفعيل دباب نه دمضارع واحدمونث صيغه ده ددې ماده ده ((فاء)) په معنى د.. رجع.. سره او((افاء)) متعدى دې باب تفعيل نه. ددې معنى تيتيدل اومائل كيدلو ده،دلته د((تفئو)) نه دې ذكر شوې. فاعل ((الريح)) دې. يعنى هوادوى لره كله راټيټه وى اوكله رانيغوى.

قوله:مثل المنافق كالارزة: دلته په ړومبى روايت كښې ((منافق)) اوپه دوئم روايت كښې ((فاجر)) اودصحيح مسلم په روايت كښې ((الكافر))دې(٤) ((ارزة))د((همزه فتحې سره او كسرې سره اود..ر..سكون سره))دصنوبرونې ته وائي،بعضوئيلى دى چه دايوه مضبوطه ونه وى چه هوائې نه شى خوزولې،

قوله: انجعافها:((انجعاف))راوخكلوته وائي ((تقول جعفته فانجعف مثل قلعته فانقلع))د دې جملې دوه مطلبونه بيان كړې شوى دى.

① يو مطلب دادې چه مومن باندې آفات اوبلاګانې راځي كله تندرست وى اوكله بيمار وى.كله خوشحاله اوكله غمژن وى،كله خوشحاله اوكله تنګدسته وى،هغه په يو حالت باندې برقراره نه پاتې كيږى.ځنګه چې تازه راوښكلې شينكې مختلف اطرافونه چليدونكى هواګانې دې لره خوزى.داشان مومن باندې مختلف مصيبتونه راځي. اوهميشه دې آسوده حال اوخوشحاله نه وى. اومنافق لره مزې مزې وى. هغه ښه خوشحاله اوصحت منداوآسوده وى.اچانك مرګ راشى اويكدم دده خاتمه اوشى.اودآخرت په نعمتونوكښې دهغه هيڅ حصه نه وى.(٥)

---

(١) عمدة القارى: ٢١/٢٠٩، فتح البارى :(١٠/١٣١)_

(٢) مسند الامام احمد خنبل، : ٣/٣٤٩)_

(٣) مسند الامام احمد خنبل، : ٣/٣٤٩)_

(٤) فتح البارى: ١٤٢/٥)_

(٥) فتح البارى،١٠/١٣٢)_

② دوئيم مطلب دادې چه مومن باندې چه كله مصيبتونه راځي نو:الله تعالى ﷻ رحم اوكرم نه نه مايوسه كيږي.صبركوي اود الله تعالى نه داجراوخيراميد ساتي.اوكله چه هغه مصيبت ختم شي نوبيا دهغه شكر اداكوي.اومنافق په مصيبتونو كښې دالله تعالى درحمت نه مايوسه شي اوپه دې مايوسې كښې ويلې كيږي اوختميږي.(١) د مومن اومنافق دامثال دغالب په اعتبار سره بيان شوې دې. ګنې داسې هم كيدې شي چه يوسړې مومن هم وي اوالله ﷻ دهر قسمه مصيبتونو اوبلاګانو نه بچ ساتلې وي. داشان ډيرمنافقان داسې هم كيدې شي چه په مصيبتونو اوغمونو كښې اخته وي.اوحضرت حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي ((وهذا في الغالب من حال الاثنين))(٢)

قوله: وقال زكريا حدثني سعد حدثني ابن كعب عن ابيه كعب: داتعليق امام مسلم رحمه الله موصولاً نقل كړې دې.(٣) په دې تعليق اوحديث كښې دوه فرقونه دي.

① حديث موصول كښې سفيان عن سعد عنعنه دې حالانكه تعليق كښې ((زكريا حدثني سعد)) دتحديث تصريح كړې ده.

② تعليق كښې ((حدثني ابن كعب))دې.ابن مبهم دې.حالانكه موصول كښې ((عبدالله بن كعب عن ابيه)) دابن نوم ذكر كړې شوى دې.داشان دتعليق نه دتحديث تصريح معلومه شود اوحديث موصول نه دتعليق مبهم نوم معلوم شو(٤)

قوله: انتها الريح كفاتها: ((كفات))دباب فتح نه دې.((كفا،كفا))راګرځيدل.(٥)

قوله: فاذا اعتدلت تكفا بالبلاء: قاضي عياض رحمه الله فرمائي چه ((اعتدلت)) په ځائې صحيح ((انقلبت)) دې او((تكفا بالبلاء))دادمومن وصف دې.(٦)((اذا اعتدلت))شرط دې اوددې جزاء محذوف ده.تقديرى عبارت دې ((اذا اعتدلت استقامت الخامة))يعنى كله هغه چه واپس شي نوداشينكې نيغ شي.مومن هم دآفت سره داشان راګرځي اوكله چه آفت لاړشي نودې دالله تعالى شكر اداكوي اونيغ شي.(٧)

[۵۳۲۱] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي صَعْصَعَةَ أَنَّهُ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ يَسَارٍ أَبَا الْحُبَابِ يَقُولُ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ

---

(١) فتح الباري: ١٠/١٣٢، عمدة القاري: ٢١/٢١٠،وارشادالساري: ١٢/٣٧٦)_
(٢) فتح الباري: ١٠/١٣٢)_
(٣) فتح الباري :١٠/١٣٢، عمدة القاري: ٢١/٢١٠، وارشادالساري.١٢/٣٧٦)_
(٤) فتح الباري : ١/١٣٢، عمدة القاري :٢١/٢١٠، وارشاد الساري.١٢/٣٧٦)_
(٥) فتح الباري: ١٠/١٣٢.عمدة القاري: ٢١/٢١٠، وارشاد الساري: ١٢/٣٧٦)_
(٦) فتح الباري:١٠/١٣٣، عمدة القاري: ١٢/٣٧٧)_
(٧) فتح الباري :١٠/١٣٢)_

رَسُولُ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-«مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُصِبْ مِنْهُ».
داحديث هم دلته حضرت امام بخارى رحمه الله په رومبى ځل ذكر كړې دې.[1]

قوله: من يرد الله به خيرًا يصب منه: الله رب العزت چه كوم سړى سره دښيګړې كولو اراده اوكړى نو ده لره په مصيبت كښې اخته كوى(چه دمصيبت په وجه دده ګناهونه معاف اوده درجات اوچت كړى، په ،،يصب منه،، كښې دوه اقواله دى.

① يو قول د ،،صاد،، په كسرې اود ،،يا،، په ضمه سره دې،يعنى «يصب»دباب افعال نه دمضارع معروف واحد مذكرغائب صيغه ده، دې كښې دننه ضمير مستترفاعل دې چه د الله تعالى جل جلاله طرفته راجع دې،اود«منه»ضمير «من يرد الله»كښې «من» طرفته راجع دې، يعنى الله جل جلاله دى سړى لره په مصيبت كښې اخته كوى،[2] عامومحدثينو هم داقول اختيار كړې دې.[3]

② ددوئيم قول مطابق «يصب»دباء په ضمه اودصادپه فتحه سره دمضارع مجهول صيغه ده، په دې صورت كښې «منه»ته هم نائب فاعل وئيلى شى،او«يصب»كښې دننه مستترلره هم نائب فاعل وئيلى شى چه «من»طرفته به راجع وى،بيا د«منه»ضمير الله جل جلاله طرفته راجع وى. يعنى هغه سړې دالله جل جلاله دطرفنه په مصيبتونو كښې اخته شى،علامه طيبى رحمه الله دې لره ادب ته زيات مناسب ګڼړلې دې،ځكه چه په دې كښې نسبت الله جل جلاله طرفته نه دې كړې شوې.لكه څنګه چه قران پاك كښې آيت دې،﴿وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ﴾[4]په دې كښې دمرض نسبت خپل طرفته اودشفاء نسبت الله طرفته شوى دې [5]خودرومبى قول تائيد دحضرت احمدبن حنبل رحمه الله ديو حديث نه هم كيږى چه په هغې كښې دى چه «اذا احب الله قوماً ابتلاهم فمن صبر فله الصبر ومن جزع فله الجزع»په دې حديث كښې په صراحتاً سره «ابتلاهم» وئيلى شوې دې [6]

۲- باب شدة المرض

[۵۳۲۲]حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَعْمَشِ. حَدَّثَنِي بِشْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ-رضى الله عنها-قَالَتْ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَشَدَّ عَلَيْهِ الْوَجَعُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-.

---

[1]) الحديث اخرجه النسائى فى كتاب الطب،باب الطب، ۴/۳۵۱،رقم الحديث،۷۴۷۸)_
[2]) فتح البارى:۱۰/۱۳۴،عمدة القارى: ۲۱/۲۱۱. وارشاد السارى:۱۲/۳۷۷)_
[3]) فتح البارى:۱۰/۱۳۴،عمدة القارى: ۲۱/۲۱۱. وارشاد السارى:۱۲/۳۷۷)_
[4]) سورة الشعراء :۸۰)_
[5]) فتح البارى :۱۰/۱۳۴،عمدة القارى: ۲۱/۲۱۱، وارشاد السارى: ۱۲/۳۷۷،۳۷۸،والابواب والتراجم، ۲/۹۸)
[6]) مسند الامام احمد بن حنبل:۵/۴۲۸،۴۲۹)_

[۵۳۲۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ - رضی الله عنه - أَتَيْتُ النَّبِيَّ - صلی الله علیه وسلم - فِي مَرَضِهِ وَهُوَ يُوعَكُ وَعْكًا شَدِيدًا، وَقُلْتُ إِنَّكَ لَتُوعَكُ وَعْكًا شَدِيدًا. قُلْتُ إِنَّ ذَاكَ بِأَنَّ لَكَ أَجْرَيْنِ. قَالَ «أَجَلْ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى، إِلاَّ حَاتَّ اللَّهُ عَنْهُ خَطَايَاهُ، كَمَا تَحَاتُّ وَرَقُ الشَّجَرِ. [۵۳۲۴، ۵۳۳۶، ۵۳۳۷، ۵۳۴۳]

دحضرت امام بخاري رحمه الله تعالى مقصددادي چه دمرض شدت دتقرب الى الله سبب وى [1] دباب دواړه حديثونه دلته كښې امام بخارى رحمه الله په ړومبى خل ذكر كړى دى، [2] په ړومبى روايت كښې حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه ما هيڅوك دحضور مبارك نه زيات دمرض په شدت كښې نه دى كتلى،دابوذر په روايت كښې د«اشد عليه الوجع» په ځائې «الوجع اشد عليه» دې [3] په دې صورت كښې «الوجع» مبتدا او«اشد» ددې دپاره خبر دې اودا پوره جمله د «ما رايت»دپاره مفعول ثانى ده،[4] «ما رايت احدًا اشد وجعا من رسول الله.......»عرب هر درد او وجع ته مرض وائى.

په دوئم روايت كښې دى چه دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروى دى چه هغوى فرمائى چه زه دحضورمبارك په خدمت كښې حاضرشوم، اوهغه وخت دحضورنبى كريم صلى الله عليه وسلم ډيره تيزه تبه وه ماحضور نبى اكرم صلى الله عليه وسلم ته عرض اوكړو چه يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ستاسو خوډيره زياته تبه ده. حضور مبارك اوفرمائيل چه ، ،آو، ،ځما دومره تبه ده څومره چه تاسو كښې ددوو سړو وى.ماتپوس اوكړو چه يارسول الله صلى الله عليه وسلم داپه دې وجه تاسوته به دوچند اجر ملاويږى،حضورنبى اكرم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه آو ،يو مسلمان ته هيڅ تكليف نه رسى. مګرالله جل جلاله ددې په ذريعه دده ګناهونه داشان رژوى لكه څنګه چه دونې نه پاڼې رژيږى.

قوله: وهويوعك وعكاً شديداً: «وعك»دعين فتح اوسكون سره،تبه،دتبې تكليف،دتبې شدت اودتبې حرارت دپاره استعماليږى،[5] «يوعك» صيغه مجهول ده يعنى حضورنبى اكرم صلى الله عليه وسلم په شديده تبه كښې مبتلاء وو.

قوله: حات الله عنه خطاياه: «حات»باب مفاعله نه دې،اصل كښې «حاتت»وو،يوتاء

---

[1]) فتح البارى : ۱۰/۱۳۷،عمدة القارى: ۲۱:۲۱۱،وارشادالسارى : ۱۲/۳۷۸، والابواب والتراجم، ۲/۹۸)_

[2]) الحديث اخرجه المسلم فى البر والصلة باب ثواب المومن فيما يصيبه من مرض : ۴/۱۹۹۰، (رقم الحديث : ۲۵۷۰) واخرجه النسائى فى كتاب الطب، باب شدة المرض: ۴/۳۵۲،رقم الحديث : ۷۴۸۴، واخرجه ابن ماجه فى الجنائز باب ماجاء فى ذكر مرض رسول الله صلى الله عليه وسلم : ۱/۵۱۸،رقم الحديث،۱۶۲۲)_

[3]) ارشادالسارى: ۱۲/۳۷۸،فتح البارى: ۱۰/۱۳۷)_

[4]) ارشاد السارى: ۱۲/۳۷۸)_

[5]) ارشادالسارى : ۱۲/۳۷۹،عمدة القارى:۲۱/۲۱۱،۲۱۲)_

په بله تاء كښې مدغمه شوه نو «حات» شو د «حات» معنی رژيدل او خوريدل دی. (۱) : دلته كښې داشبه كيدې شی چه حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه داتپوس كړې ووچه تاسو ته دوچنده اجر ملاويږی. حضور مبارك ورته اوفرمائيل چه آو. دوچند اجر ملاويږی. اوپه دې آخری جمله كښې معلوم شو چه داجر ملاويدو په خائې گناهونه ختميږی.

ددې جواب دادې چه حضور نبی اكرم صلى الله عليه وسلم «اجل» اوونيل آو. ددې نه به ورته دوچند ملاويږی يعنی ددې خبرې تصديق ئې اوكړو. اوددې نه پس يو نوې خبره هم ښائی چه دا دسړی د گناهونو دمعاف كيدو سبب هم گرځی. (۲) داكثروعالمانو مسلك دې چه شدت اومصيبت سره دسړی گناهونه معاف كيږی اواجراوثواب ورته ملاويږی. دادرفع درجات اودحط خطيئه دواړو دپاره سبب گرځی. اوځنی حضرات وائی چه صرف دگناهونه معاف كوی. امام ابوداود رحمه الله يو مرفوع روايت نقل كړې دې فرمائی چه «انّ العبد اذا سبقت له من الله منزلة لم يبلغها بعمله ابتلاه الله فی جسده اوفی ماله اوفی ولده ثم صبره علی ذالك حتی يبلغه المنزلة التی سبقت له من الله تعالٰی» (۳) امام طبری رحمه الله يو روايت نقل كړې دې چه «من اعطی فشكر وابتلی فصبر وظلم فغفر اولئك لهم الامن وهم مهتدون» (۴) امام مسلم دحضرت صهيب نه يو روايت نقل كوی چه حضور مبارك اوفرمائيل چه «عجباً لامر المومنين ان امره كله خير وليس ذالك لاحد الاّ للمومن ان اصابته سراء فشكر الله فله اجر وان اصابته ضراء فصبر فله اجر فكل قضاء الله للمسلم خير» (۵) امام نسائی رحمه الله هم ددې مفهوم يو حديث دحضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه نه نقل كړې دې «عجبت من قضاء الله المومن ان اصابته خير حمد وشكر وان اصابته مصيبة حمد وصبر فالمومن يوجر فی كل امره» (۶) امام بخاری رحمه الله په «الادب المفرد» كښې دحضرت ابوهريره نه يو روايت نقل كړې دې چه «ما من مرض يصيبنی احب الی من الحمی لانها تدخل فی كل عضو وان الله يعطی كل عضو قسطه من الاجر» (۷) په دې كښې دبعضو احاديثو نه معلوميږی چه مرض صرف كفارهٔ ذنوب دې اودبعضو نه معلوميږی چه داجرباعث هم دې. حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه:

---

(۱) ارشاد الساری :۱۲/۳۷۹، وعمدة القاری ۲۱/۲۱۲)_

(۲) وعمدة القاری ۲۱/۲۱۲)_

(۳) سنن ابی داود كتاب الجنائز باب الامراض المكفرة للذنوب :۳/۱۸۳، رقم الحديث : ۳۰۹۰)_

(۴) فتح الباری :۱۰/۱۳۵)_

(۵) صحيح مسلم، كتاب الزاهد والرقائق باب المومن امره كله خير:۴/۲۲۹۵، رقم الحديث : ۲۹۹۹) وجامع الاصول، ۹/۳۲۹، رقم الحديث :۷۰۱۲، وقال والحديث فی المطبوع ناقص غير تام)_

(۶) فتح الباری:۱۰/۱۳۵، اوگورئی مسندالامام احمدبن حنبل : ۱/۷۳ ۶/۱۵)_

(۷) الادب المفرد مع شرحه فضل الله الصمد: ۱/۵۹۴) رقم الحديث :۵۰۳)_

والاولى حمل الاثبات والنفى على حالين فمن كانت له ذنوب مثلا افاد المرض تمحيصها ومن لم تكن له ذنوب كتب له بمقدار ذلك ولما كان الاغلب من بنى ادم وجود الخطايا فيهم اطلق من اطلق ان المرض كفارة فقط وعلى ذلك تحمل الاحاديث المطلقة ومن اثبت الاجرية فهو محمول على تحصيل ثواب يعادل الخطيئة فاذا لم تكن خطيئة توفى لصاحب المرض الثواب، والله اعلم بالصواب))[1]

۳- باب اشد الناس بلاءً الانبياء ثم الامثل فالامثل

[۵۳۲۴] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ أَبِي حَمْزَةَ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِي عَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَهُوَ يُوعَكُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّكَ تُوعَكُ وَعْكًا شَدِيدًا. قَالَ «أَجَلْ إِنِّي أُوعَكُ كَمَا يُوعَكُ رَجُلاَنِ مِنْكُمْ». قُلْتُ ذَلِكَ أَنَّ لَكَ أَجْرَيْنِ. قَالَ «أَجَلْ ذَلِكَ كَذَلِكَ، مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى شَوْكَةٌ فَمَا فَوْقَهَا، إِلاَّ كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا سَيِّئَاتِهِ، كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا». [ر: ۵۳۲۳]

د ترجمة الباب الفاظ په دارمى او سنن ابن ماجه كښې د حضرت سعد بن ابى وقاص په روايت كښې راغلى دى. هغوى فرمائى چه ((قلتُ: يا رسول الله اى الناس اشد بلاءً؟ قال: الانبياء ثم الامثل فالا مثل يبتلى الرجل على حسب دينه))[2] د مستدرك حاكم كښې ددې مزيد وضاحت دې، حضور مبارك او فرمائيل چه ((الانبياء قال ثم من: قال ثم الصالحون))[3] ((الامثل)) په معنى د افضل سره دې يعنى چه څومره د الله سره افضل وى، هغه هومره هغه په مصيبت كښې مبتلاء كيږى، حديث باب كښې اګرچه صرف حضور مبارك د مرض ذكر كړې دې ليكن باقى انبياء كرامو ته په دې باندې قياس كړې شو. نو حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله ليكى چه

((ووجه دلالة حديث الباب على الترجمة من جهة قياس الانبياء على نبينا محمد ﷺ والحاق الاولياء بهم لقربهم منهم وان كانت درجتهم منحطة عنهم والسر فيه ان البلاء فى مقابلة النعمة فمن كانت نعمة الله عليه اكثر كان بلاؤه اشد))[4]

۴- باب وجوب عيادة المريض

[۵۳۲۵] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِي قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «أَطْعِمُوا الْجَائِعَ، وَعُودُوا الْمَرِيضَ،

[1] فتح البارى: ۱۰/۱۳۶_

[2] سنن ابن ماجه كتاب الفتن باب الصبر على البلاء: ۲/۱۳۳٤، رقم الحديث: ٤۰۲۳، وسنن الدارمى كتاب الرقائق باب فى اشد الناس بلاءً: ۲/٤۱۲ ورقم الحديث: ۲۷۸۳_

[3] المستدرك على الصحيحين: كتاب الرقائق: ٤/۳۰۷_

[4] فتح البارى: ۱۰/۱۳۸، ۱۳۹ اوګورئ ارشاد السارى: ۱۲/۳۸۰، عمدة القارى: ۲۱/۲۱۲_

وَفُكُّوا الْعَانِيَ». [ر: ٢٨٨١]

[٥٣٢٦] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي أَشْعَثُ بْنُ سُلَيْمٍ قَالَ سَمِعْتُ مُعَاوِيَةَ بْنَ سُوَيْدِ بْنِ مُقَرِّنٍ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رضي الله عنهما قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم بِسَبْعٍ، وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ، نَهَانَا عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ، وَلُبْسِ الْحَرِيرِ، وَالدِّيبَاجِ، وَالإِسْتَبْرَقِ، وَعَنِ الْقَسِّيِّ، وَالْمِيثَرَةِ، وَأَمَرَنَا أَنْ نَتْبَعَ الْجَنَائِزَ، وَنَعُودَ الْمَرِيضَ، وَنُفْشِيَ السَّلاَمَ [ر: ١١٨٢]

د مريض دعيادت حكم: دمريض عيادت كول دجمهوروپه نيز مندوب اومستحب دى، اود داودى اوبعضي ظاهريوپه نيز باندې واجب دى.(1) حضرت امام بخارى رحمه الله دوجوب لفظ ترجمه كښې روړلې دې اوخپل مسلك مختار طرفته ئې اشاره فرمائيلى ده، ددې حضراتو استدلا ل د «عودوا المريض» نه دې، په دې كښې دامرصيغه استعمال شوى ده اوامردوجوب دپاره راځي، اوجمهوروحضراتو داپه وجوب باندې محمول كړې ده مريض عام دې، بعض حضرات دآشوب چشم مريض ددې نه مستثنى كوى،(2) خوداقول ردكړې شوى دې، ځكه چه دزيدبن ارقم روايت حضرت امام ابوداود رحمه الله نقل كړې دې، هغه فرمائى چه «عادني رسول الله صلى الله عليه وسلم من وجع كان بعيني»(3) طبرانى هم يومرفوع روايت نقل كړې دې چه «ثلاثة ليس لهم عيادة العين والدمل والضرس»(4) ليكن داحديث مرفوع نه بلكه ديحيى بن ابى كثير باندې موقوف دې.(5)

د عيادت كولو وخت: په حديث كښې چونكه مطلقاً «عودوا المريض» وئيلى شوى دى، ددې وجې دعيادت دپاره د، ،دامتدادالمرض، ، څه قيد نشته دې، (6) امام غزالى رحمه الله په «احياء العلوم» كښې ليكلى دى چه عيادت دمرض درې ورځونه پس كول پكاردى، (7) هغوى سنن ابن ماجه كښې دحضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه استدلال كړې دې، «كان النبى صلى الله عليه وسلم لا يعود مريضاً الا بعد ثلاث»(8) ليكن حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله داحديث ضعيف ګڼړى

---

(1) فتح البارى: ١٠/١٣٩_

(2) فتح البارى: ١٠/١٣٩، وارشادالسارى، ١٢/٣٨٠، عمدة القارى: ٢١/٢١٣)_

(3) فتح البارى: ١٠/١٤٠ وارشادالسارى: ١٢/٣٨٠، عمدة القارى: ٢١/٢١٣، سنن ابى داود كتاب الجنائز، باب فى العيادة من الرمد: ٣/١٨٦، رقم الحديث: ٣١٠٢)_

(4) فتح البارى: ١٠/١٤٠، ارشادالسارى: ١٢/٣٨٠، عمدة القارى: ٢١/٢١٣)_

(5) فتح البارى: ١٠/١٤٠، وارشادالسارى: ١٢/٣٨٠، عمدة القارى: ٢١/٢١٣)_

(6) فتح البارى: ١٠/١٤٠. وعمدة القارى، ٢١/٢١٣)_

(7) فتح البارى: ١٠/١٤٠، ارشادالسارى، ١٢/٣٨٠، عمدة القارى: ٢١/٢١٣)_

(8) سنن ابن ماجه، كتاب الجنائز باب ماجاء فى عيادة المريض، ١/٣٦٢، رقم الحديث، ١٤٣٨)_

اووائی داحدیث صرف مسلمه بن علی نقل کړې دې اوهغه متروك راوی دې،[1] ابوحاتم نه ددې حدیث متعلق تپوس اوکړې شو نوهغوی اوفرمائیل چه «هوحدیث باطلٌ»[2]، داشان دعیادت دپاره څه وخت مختص نه دې، په هرمناسب وخت کښې عیادت کولی شی، عام عادت دسبا اومابنام په وخت کښې دې، امام احمد رحمه الله ته دماسپخین په وخت کښې چا اووئیل چه دفلانی مریض دعیادت دپاره ځو، نوهغوی اوفرمائیل چه «لیس هذا وقتُ عیادةٍ»[3] بعضې حضرات وائی چه دیخنې په موسم کښې دشپې اودګرمې په موسم کښې دورځې په وخت کښې عیادت کول مستحب دی، [4] لیکن حقیقت دادې چه په دې کښې دڅه وخت تخصیص نشته دې، دمریض اودخپل سهولت کتلونه پس عیادت کولی شی،

دعیادت اداب: حضراتو علماء کرام دعیادت تقریباً لس آداب لیکلی دی،

① اجازت دې واخلی اودروازې ته دې باهر بالکل مخامخ نه اودریږی بلکه ښی یا ګس طرفته دې اودریږی،

② دروازه دې په مزه آرام سره اوټکه وی نن سبا په کورونو کښې ټلئ لږیدلی وی، بعضې خلق په ټلې باندې ګوته کیږدی ا ولرې کوئې نه، داطریقه صحیح نه ده، دټلې بټن یوځل وهل پکاردی اوبیا ګوته اخواکول پکاردی، چه کوروالو اومریض ته تکلیف اونه رسی،

③ دخپل تعارف په وخت کښې دې دابهام نه کارنه اخلئ،په صراحت سره دې ورته خپل نوم اووائی،

④ دمناسب وخت انتخاب دې اوکړی، دمریض دخوراك څکاك اودآرام په وخت کښې عیادت کول مناسب نه دی،

⑤ مریض سره دې زیات نه کینی، خوکه چاسره ئې بې تکلفی وی اومحبت وی اودمریض خواهش هم داوی نودداسې مریض سره په کیناستو کښې څه قباحت نشته دې،بلکه په داسې صورت کښې دده دلجوئی کول پکاردی،

دحضرت حسن بصری رحمه الله په خدمت کښې دمرض په زمانه کښې یوصاحب دعیادت دپاره راغلو. اوهلته وپاسیدو نه، حضرت ورته په اشارواوپه کنایو دپوهه کولو ډیر کوشش اوکړو چه اوس ماته دکوروالو ضرورت دې،یعنی اوس تاله تګ پکار دې،لیکن هغه پوهه نه شو، نو بیا حضرت ورته په وضاحت سره اووئیل چه بعضې خلق دمریض دعیادت دپاره راشی خوبیا هلته دتلو نوم نه اخلی.یعنی هلته وځی نه هغه بیا هم پوهه نشو،هغه اووئیل چه حضرت دننه کونډه اولږوم. حضرت حسن بصری رحمه الله اوفرمائیل چه دننه، نه بلکه دباهر نه ئې اولږؤ، غرض داچه زیات وخت پورې مریض سره کیناستل نه دی پکار چه مریض ته کوفت اورسی،

[1] فتح الباری:۱۰/۱٤۰، ارشادالساری، ۱۲/۳۸۰، عمدة القاری:۲۱/۲۱۳)_
[2] فتح الباری : ۱۰/۱٤۰، ارشاد الساری : ۱۲/۳۸۰، عمدة القاری : ۲۱/۲۱۳)_
[3] فتح الباری :۱۰/۱٤۰)_
[4] فتح الباری :۱۰/۱٤۰)_

⑥ نظر دې لاندې ساتي، ليکن دعيادت په وخت کښې ددې دعايت ساتل پکاردی.
⑦ سوال اوتپوس دې کم کوی،دېرزيات تفصيلات معلومولوسره بعَضې وختونوکښې مريض ستړې شي.
⑧ دمريض په مخکښې دې درقت اوشفقت اوهمدردې اظهار اوکړی.
⑨ اخلاص سره دې دده دپاره دعا اوکړي،حضورنبی اکرم ﷺ نه دادعا منقول ده ((اسئل الله العظيم رب العرش العظيم ان يشفيك)) دا دې اوه ځل اووائی.([1])
⑩ مريض ته دې تسلی ورکړی اودده حوصله دې زياته کړی.([2])امام ترمذی رحمه الله او امام ابن ماجه دحضرت ابو سعيدنه روايت نقل کوی چه ((اذا دخلتم على المريض فنفسوا له فى الاجل فانّ ذلك لايرد شيئا وهويطيب نفس المريض))([3])

باب عيادة المغمٰى عليه

[۵۳۲۸] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنهما - يَقُولُ مَرِضْتُ مَرَضًا، فَأَتَانِي النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يَعُودُنِي وَأَبُو بَكْرٍ وَهُمَا مَاشِيَانِ، فَوَجَدَانِي أُغْمِيَ عَلَيَّ، فَتَوَضَّأَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - ثُمَّ صَبَّ وَضُوءَهُ عَلَيَّ، فَأَفَقْتُ فَإِذَا النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ أَصْنَعُ فِي مَالِي كَيْفَ أَقْضِي فِي مَالِي فَلَمْ يُجِبْنِي بِشَيْءٍ حَتَّى نَزَلَتْ آيَةُ الْمِيرَاثِ.[ر: ۱۹۱]

دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصددادې که په يو مريض باندې دبې هوشۍ راتلو عادت وی نودده هم عيادت کول پکاردی. دادې سوچ اونکړی شی چه هغه خو بې هوشه دی.دعيادت کولوڅه فائده ده.ځکه چه داشان عيادت کولوسره به دمريض کوروالو ته تسلی اوشی، دعيادت کولو والا دعا اوخلوص برکت سره به مريض ته افاقه اوشی.([4]) دحديث مناسبت باب سره واضح دې.چه حضرت نبی کريم ﷺ دحضرت جابر رضی الله عنه عيادت کړې وو او هغه بې هوشه وو. دا حديث په ((کتاب الطهارت)) او((کتاب التفسير)) کښې تير شوې دې.([5])

---

[1]) السنن الكبرى للنسائى، كتاب العمل اليوم والليلة، باب موضع مجلس الانسان من المريض عند الدعاء له،۶/۱۸۷، رقم الحديث : ۱۸۸۲، وسنن ابى داود، كتاب الجنائز، باب الدعاء المريض عند العيادة :۳/۱۸۷، رقم الحديث، ۳۱۰۶)_

[2]) مذكوره آداب دپاره فضل الله الصمد فى التوصيح الادب المفرد، باب العيادى، جوف الليل،۱/۵۸۶، فتح البارى: ۱۰/۱۵۶، باب قول المريض : قوموا عنى.)_

[3]) سنن ا بن ماجه: كتاب الجنائز،باب ماجاء فى عيادة المريض :۱/۴۶۲، رقم الحديث :۱۴۳۸)_

[4]) فتح البارى: ۱۰/۱۴۱، ارشاد السارى : ۱۲/۳۸۲، عمدة القارى:۲۱/۲۱۳)_

[5]) فتح البارى :۱۰/۱۴۱،عمدة القارى، ۲۱/۲۱۴)_

۶- باب فضل من يُصرَعُ من الريح

۵۳۲۸۔ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عِمْرَانَ أَبِي بَكْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي عَطَاءُ بْنُ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ أَلاَ أُرِيكَ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ قُلْتُ بَلَى. قَالَ هَذِهِ الْمَرْأَةُ السَّوْدَاءُ أَتَتِ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَتْ إِنِّي أُصْرَعُ، وَإِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللَّهَ لِي. قَالَ «إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَكِ الْجَنَّةُ وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللَّهَ أَنْ يُعَافِيَكِ». فَقَالَتْ أَصْبِرُ. فَقَالَتْ إِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللَّهَ أَنْ لاَ أَتَكَشَّفَ، فَدَعَا لَهَا.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا مَخْلَدٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ أَخْبَرَنِي عَطَاءٌ أَنَّهُ رَأَى أُمَّ زُفَرَ تِلْكَ، امْرَأَةٌ طَوِيلَةٌ سَوْدَاءُ عَلَى سِتْرِ الْكَعْبَةِ.

روايت باب حضرت امام بخارى رحمه الله په رومبى ځل ذكر كړې دې.[۱] عطاء بن ابى رباح رحمه الله فرمائى چه حضرت ابن عباس ماته اووئيل چه آيا زه دې تاته جنتى ښځه اونه ښايم.؟ ما اووئيل چه ولې نه ؟ هغوى اووئيل چه داتوره ښځه دحضرت نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه اوعرض ئې اوكړو، چه په ماباندې دمرګى دوره راځى. اوپه دې كښې زما ستر ښكاره شى، نوددې وجې زمادپاره دعااوكړئې. حضورمبارك اوفرمائيل كه ته غواړې نو صبر اوكړه ددې بدله كښې به تاته جنت ملاوشى. اوكه تاغواړې نوستا دپاره به دعااوكړم چه الله تالره صحت دركړى، دې اووئيل چه زه صبركوم، بيا دې اووئيل چه زماستر ښكاره كيږى، نو حضورمبارك ته ئې اوفرمائيل چه تاسو دعا اوفرمائئ چه ستر مې نه ښكاره كيږى. نوحضورنبى كريم ﷺ ددې په حق كښې دعا اوكړه. حضرت امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې (من يصرع من الريح) الفاظ راوړى دى. يعنى هغه سړې چه په هغه باندې مرګى راځى. اخروى اعتبارسره دده داجر اوثواب اودفضل بيان دې، ((من الريح)) كښې دوه احتماله دى،

① رومبى داچه ددې نه مراد دادې چه ((من الريح)) كښې ((من)) سببيه ده، يعنى دمرګى هغه مرض چه دانسان په بدن كښې دهواپه شان محبوس كيدوپه وجه پيدا كيږى. چه ددې په وجه سړى باندې دوره راځى. اوحواس ئې ختم شى اوراوغوزيږى.

② دوئم داچه دريح نه دجن يعنى دپيريانو اثرمراد دې. يعنى دجناتو داثر دوجې نه سړې حواس باخته شى، اوپه انسان باندې دبې هوشې دوره راشى.[۲] حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه په انسان باندې دجناتو داحمله يا دااثر دتكليف رسولو دپاره وى يا ده ته بعضې انسانى مخونه ښه معلوميږى. ددې دوجې راځى.[۳] دامعتزله يوه ډله ددې خبرې نه

---

[۱] ۵۳۲۸. الحديث اخرجه المسلم فى البر والصلة باب ثواب المومن فيما يصيبه من مرض........ الخ، ۴/۹۹۴، رقم الحديث : ۲۵۸۶)_

[۲] فتح البارى: ۱۰/۱۴۱، وارشادالسارى: ۱۲/۳۸۲)_

[۳] فتح البارى: ۱۰/۱۴۱، وارشادالسارى: ۱۲/۳۸۲)_

انکارکوی چه جنات دانسان په بدن کښې داخليدې شی،[۱] ليکن دجمهورو په نيز جنات د انسان په بدن کښې داخليدې شی. اوسنن ابی داود کښې د اُم ابان په روايت کښې د حضور مبارك قول نقل کړې شوی دې «اخرج عدوالله فانی رسول الله»[۲] قاضی عبد الجبار رحمه الله فرمائی چه دجنات بدن دهوا په شان وی، ددې دوجې هغوی دانسان په بدن کښې داخليدی شی، لکه څنګه چه هوا د انسان په بدن کښې داخليدېشی اوانسان ساه اخلی.[۳]

قوله: هذه المراة السوداء: ددې ښځې نوم سعيره، شقيره اوسکيره راغلی دی.[۴]

((حدثنا محمد اخبرنا مخلد عن ابن جريج اخبرنی عطاء انه رای ام زفر تلك امراة طويلة سوداء علی ستر الكعبة))

حضرت عطاء بن ابی رباح فرمائی چه هغوی ام زفر دکعبې پردې سره اوکتله اوهغه لوړه توره ښځه وه، ددې نه معلومه شوه چه ام زفر هغه ښځه وه چه دهغې ذکرپه پورتنی روايت کښې راغلې دې،چه دهغې دپاره حضورنبی اکرم ﷺ دعاکړې وه، ليکن دعلامه ذهبی اودعلامه ابن اثيركلام نه معلوميږی چه ام زفر بله ښځه وه،[۵]

علامه ابن عبدالبر رحمه الله په الاستيعاب کښې يوروايت نقل کړې دې چه دهغې نه معلوميږی چه په کومه ښځه باندې دمرګی دوره راتلله نو هغه ام زفروه، نو په دې کښې دې چه «كان النبی ﷺ يؤتی بالمجانين فيضرب صدر احدهم فيبرا فاتی بمجنونة يقال لها ام زفر فضرب صدرها فلم تبرء ولم تخرج شيطانها فقال رسول الله صلی الله عليه وسلم هو معها فی الدنيا ولها فی الاخرة خير»[۶]

قوله: علی ستر الكعبة: «ای جالسة علی ستر الكعبة اومعتمدة عليه......» په دې کښې «علی» متعلق محذوف «جالسة» هم کيدېشی اوفعل سره هم دامتعلق کيدې شی،[۷]

دحديث نه مستنبط څوخبرې: ددې حديث نه څوخبرې مستنبط کيږی،

① چه په کوم يو سړی باندې دمرګی دوره راځی يا پری دجناتو حمله کيږی،نو دده دپاره اخروی اجراوفضل دې،

② ددنيا په مصيبتونو باندې صبر کول دمومن دپاره جنت ثابته وی، يعنی دې به دجنت وارث وی،

---

[۱]) ارشادالساری: ۱۲/۳۸۲، عمدة القاری: ۲۱/۲۱۴)_
[۲]) مسندالامام احمد بن حنبل رحمة الله تعالی عليه، ۴/۱۷۲)_
[۳]) عمدة القاری: ۲۱/۲۱۴، تعليقات لامع الدراری: ۹/۴۴۷)_
[۴]) عمدة القاری: ۲۱/۲۱۴)_
[۵]) عمدة القاری: ۲۱/۲۱۵، ارشادالساری: ۱۲/۳۸۴)_
[۶]) عمدة القاری: ۲۱/۲۱۵،الاستيعاب من الاصابة: ۴/۴۵۳)_
[۷]) عمدة القاری: ۲۱/۲۱۵)_

④ درخصت په مقابله کښې عزیمت باندې عمل کول زیات بهتر وی، لیکن دا دهغه سړی دپاره وی چه هغه په خپل ځان کښې دشدت اوعزیمت باندې دعمل کولو قوت وینی،
⑤ که څوک مریض دې اوعلاج پریږدی، حدیث نه ددې جوازهم معلومیږی،
⑥ ددعا ذریعه اودالله جَلَّ جَلَالُهُ طرفته درجوع کیدوپه ذریعه علاج زیات نافع اودسکون باعث وی، نوحضرت حافظ ابن حجر رحمه الله دلاندینو خبرواستنباط کوی اولیکی چه :

«وفي الحديث فضل من يصرع وان الصبر على بلايا الدنيا يورث الجنة وان الاخذ بالشدة افضل من الاخذ بالرخصة لمن علم من نفسه الطاقة ولم يضعف من التزام الشدة وفيه دليلٌ على جواز ترك التداوى وفيه ان العلاج الامراض كلها بالدعاء والالتجاء الى الله تعالى انجع وانفع من العلاج بالعقاقير وان تاثير وانفعال البدن عنه اعظم من تاثير الادوية البدنية ولكن انما ينجع بامرين احدهما من جهة العليل وهو صدق القصد والاخر من جهة المداوى وهو قوة توجهة وقوة قلبه بالتقوى والتوكل»[1]

۷=باب فضل من ذهب بصره

[۵۳۲۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ الْهَادِ عَنْ عَمْرٍو مَوْلَى الْمُطَّلِبِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضى الله عنه - قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «إِنَّ اللَّهَ قَالَ إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ فَصَبَرَ عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ». يُرِيدُ عَيْنَيْهِ.
تَابَعَهُ أَشْعَثُ بْنُ جَابِرٍ وَأَبُو ظِلاَلٍ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -.

حضرت امام بخاری په دې باب کښې دهغه سړی فضیلت بیانه وی چه هغه نابینا شوی وی نو دهغه اخروی فضیلت داد ې، حدیث باب دلته کښې حضرت امام بخاری په رومبی ځل بیانه وی، اوددې سند سره داحدیث صرف حضرت امام بخاری رحمه الله ذکر کړې دې، اصحاب صحاح سته کښې بل چاداحدیث نه دې نقل کړې،[2] حضرت نبی کریم صلى الله عليه وسلم فرمائی چه د الله جَلَّ جَلَالُهُ ارشاد دې چه کله څه خپل بنده ګانولره دده دوو محبوب څیزونویعنی سترګو په وجه په آزمیښت کښې مبتلا کوم اوهغه په دې باندې صبر کوی نو څه ددې په بدله کښې به ده ته جنت ورکوم،

قوله: يريد عينيه: داد حضرت انس بن مالک رضى الله عنه دطرفنه تفسير دې چه په حديث کښې «حبيبتيه» نه سترګې مراددی، «حبيبة محبوبة» معنى کښې دې،[3] اودانسان په جسمانی اعضاء کښې کوم یوڅیز دانسان دسترګو نه زیات محبوب کیدیشی،
په دې روایت کښې دی چه دبینائی تلو نه پس سړې صبراوکړی، اود ترمذی په روایت کښې

[1] فتح البارى: ۱۰/۱۴۳_
[2] الحديث بهذه الاسناد من افراده، عمدة القارى.۲۱/۲۱۵_
[3] عمدة القارى : ۲۱/۲۱۵_

دى چه «صبر واحتسب» [۱] يعنى صبر اوكړى اوداالله دطرفنه په دې باندې داجروثواب وعده ده، ددې استحضار اوساتى، علامه عينى رحمه الله فرمائى چه «والظاهر ان المراد بالصبر ان لا يشتكى ولا يقلق ولا يظهر عدم الرضابه» [۲]

قوله: تَابَعَهُ أَشْعَثُ بْنُ جَابِرٍ وَأَبُو ظِلَالٍ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم: يعنى دعمروبن المطلب متابعت اشعث اوابو ظلال دواړو كړې دې، داشعث متابع د حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله موصولاً نقل كړې دې، دده الفاظ دي چه «قال ربكم من اذهبت كريمته ثم صبر واحتسب كان ثوابه الجنة» [۳]

اودابو ظلال متابعت امام ترمذى رحمه الله په دې االفاظوسره موصولاً نقل كړې دې، «ان الله يقول: اذا اخذت كريمتى عبدى فى الدنيا لم يكن له جزاءٌ عندى الأ الجنة» [۴] د اشعث بن جابر او د ابوظلال په صحيح بخارى كښې صرف دايو ځائې كښې متابعت ذكردې. [۵]

اشعث بن جابر رضى الله عنه: دا دلته كښې نيكه طرفته منسوب دې، دده دپلارنوم عبدالله دې، اشعث بن عبدالله بن جابر حدائى (وحدان من الازد) دوى ړوند وو. [۶] امام نسائى رحمه الله دده په باره كښې فرمائى چه «ثقة» [۷] يحيى بن معين فرمائى چه «ثقة، بصير» [۸] حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى چه «لا باس به» [۹] البته علامه عقيلى رحمه الله ددوى په باره كښې فرمائى چه «وفى حديثه وهم» [۱۰] ليكن علامه ذهبى رحمه الله دعلامه عقيلى ترديد كړې دې، اوفرمائى چه «وقول العقيلى وفى حديثه وهم ليس بمسلم اليه وانا اتعجب كيف لم يخرج له البخارى ومسلم» [۱۱] دوى په ۱۲۰ او ۱۳۰ هجرې په مينځ كښې وفات شوى دى، [۱۲] حضرت امام بخارى رحمه الله ددوى صرف دايو روايت اخستې دې، اوامام مسلم نه علاوه باقى محدثينو د

---

[۱] عمدة القارى: ۲۱/۲۱۵،ارشاد السارى: ۱۲/۳۸٤،فتح البارى: ۱۰/۱٤۳_
[۲] عمدة القارى: ۲۱/۲۱۶_
[۳] مسندالامام احمد بن حنبل: ۳/۲۸۳_
[۴] سنن الترمذى، كتاب الزهد، باب ماجاء فى ذهاب البصر: ٤/۶۰۲، رقم الحديث ۲٤۰۰_
[۵] فتح البارى: ۱۰/۱٤٤، عمدة القارى: ۲۱/۲۱۶_
[۶] تهذيب الكمال: ۳/۲۷۲، رقم الترجمة: ۵۲۷، عمدة القارى: ۲۱/۲۱۶_
[۷] تهذيب الكمال: ۳/۲۷۲_
[۸] الجرح والتعديل: ۱/ الترجمه: ۲۷۳_
[۹] الجرح والتعديل: ۱/الترحمة: ۲۷۳،وتعليقات تهذيب الكمال: ۳/۲۷۲_
[۱۰] تعليقات تهذيب الكمال: ۳/۲۷۲، والضعفاء الكبير للعقيلى: ۱/۲۹_
[۱۱] ميزان الاعتدال، ۱/۲۶۶_
[۱۲] تاريخ الصغير للبخارى ۱۵۱_

دوی نه روایتونه اخستی دی او نقل کړی ئې دی،(۱)

ابو ظلال هلال بن ابی هلال : دده هم په صحیح بخاری کښې صرف دایو متابعت دې، دصحیح بخارۍ په نسخو کښې ابوظلال هلال بن هلال لیکلې شوې دې،لیکن صحیح بن ابی هلال دې،(۲)دده دپلار کنیت ابوهلا ل دې،دوالدپه نوم کښې، سوید ، میمون، یزید ، او زیدمختلف اقوال دی،(۳)دوی هم نابینا وو، اودټولو محدثینو په نیزضعیف دې،(۴)البته حضرت امام بخاری رحمه الله دوی ته ،مقارب الحدیث، وئیلی دې،(۵)

۸-باب عیادة النساء الرجال

وَعَادَتْ أُمُّ الدَّرْدَاءِ رَجُلاً مِنْ أَهْلِ الْمَسْجِدِ مِنَ الأَنْصَارِ.

[۵۳۳۰] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ عَنْ مَالِكٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- الْمَدِينَةَ وُعِكَ أَبُو بَكْرٍ وَبِلاَلٌ -رضى الله عنهما- قَالَتْ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِمَا قُلْتُ يَا أَبَتِ كَيْفَ تَجِدُكَ وَيَا بِلاَلُ كَيْفَ تَجِدُكَ قَالَتْ وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ إِذَا أَخَذَتْهُ الْحُمَّى يَقُولُ كُلُّ امْرِئٍ مُصَبَّحٌ فِي أَهْلِهِ وَالْمَوْتُ أَدْنَى مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ وَكَانَ بِلاَلٌ إِذَا أَقْلَعَتْ عَنْهُ يَقُولُ:

أَلاَ لَيْتَ شِعْرِى هَلْ أَبِيتَنَّ لَيْلَةً ... بِوَادٍ وَحَوْلِى إِذْخِرٌ وَ جَلِيلُ
وَهَلْ أَرِدَنْ يَوْمًا مِيَاهَ مِجَنَّةٍ ... وَهَلْ تَبْدُوَنْ لِى شَامَةٌ وَطَفِيلُ

قَالَتْ عَائِشَةُ فَجِئْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ «اللَّهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا الْمَدِينَةَ كَحُبِّنَا مَكَّةَ أَوْ أَشَدَّ، اللَّهُمَّ وَصَحِّحْهَا، وَبَارِكْ لَنَا فِى مُدِّهَا وَصَاعِهَا، وَانْقُلْ حُمَّاهَا فَاجْعَلْهَا بِالْجُحْفَةِ».[ر: ۱۷۹]

ښځه دسړی عیادت کولی شي: دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه ښځې داجنبي سړو عیادت کولې شی.لیکن ددې دپاره شرط دادې چه څه دفتنې او فساد اندیښنه نه وی(۶)،
په حدیث باب کښې حضرت عائشه رضی الله عنها دخپل پلار حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه اودحضرت بلال رضی الله عنه دعیادت ذکر کړې دې،اګرچه بعضې روایتونو کښې دی چه دادنزول حجاب نه مخکښې واقعه ده. بیاهم فتنې نه دمامون کیدوپه صورت کښې دنزول حجاب نه روستو

(۱) تهذیب الکمال :۳/۲۷۲،وسیر اعلام النبلاء : ۶/۲۷٤)_
(۲) فتح الباری : ۱۰/۱٤٤)_
(۳) تهذیب الکمال : ۳/۳۵۰، رقم الحدیث :۶۶۳۲)_
(٤) اوګورئی تهذیب الکمال :۱۱/۸٤، الضعفاء والمتروکون، الترجمة :۶۰۶،۶۶۰، وتهذیب الکمال : ۳۰/۳۵۱، فتح الباری : ۱۰/۱٤٤، عمدة القاری:۲۱/۲۱۶)_
(۵) اوګورئی تهذیب الکمال : ۳۰/۳۵۱، عمدة القاری، ۲۱/۲۱۶،فتح الباری: ۱۰/۱٤٤)_
(۶) عمدة القاری ۲۱/۲۱۶، فتح الباری:۱۰/۱٤۵)_

هم ددې واقعې نه استدلال کولې شي،[۱]
دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه چه به کله تبې اونیولو نوبیابه ئې دااشعار وئیل:

کل امری مصبح فی اهله والموت ادنی من شراك نعله

هرسړې په خپل کورکښې سبا کوی، اومرګ ده ته دپیزار دتسمونه هم زیات نزدې دې،
علامه قسطلانی رحمه الله د «مصبح فی اهله» ترجمه کړې ده چه ده ته دده اهل وعیال کښې «انعم صباحاً» (صبح بخیر) وئیلې شی،[۲] «شراك» تسمې ته وئیلی شی،

قوله: وکان بلال اذا اقلعت عنه: «اقلعت» دمجهول صیغه ده،په معنی د «ازیلت» یعنی کله چه تبه ختمه شوه نو هغوی داشعار اووئیل چه:

الیت شعری هل ابیتن لیلة بواد وحولی اذخر وجلیل
وهل اردن یوما میاه مجنة وهل یبدون لی شامة وطفیل

ترجمه: کاش چه ما په وادی مکه کښې شپه تیره کړې وې،په دې حال کښې چه ځماګیرچاپیره د ،،اذخر، او،، جلیل،،وابنه وی،آیاځه به هم کله دمجنه د اوبو اوچشمولره ورشم، اوآیا شامه اوطفیل نومې چینې به ځمامخامخ ظاهرې شی،

قوله: اذخر: (بکسر الهمزة وسکون الذال وکسر الخاء) دایو خوشبودار وابنه دی، جلیل هم دوبنو نوم دې،[۳] «مجنة» (دمیم کسره، دجیم فتحه اودنون تشدید سره) دمکې مکرمې نه یوځومیله لرې دیوځائې نوم دې،[۴]

قوله: شامة: (دمیم تخفیف سره)......«طفیل» (دطاء فتحې سره) دمکې مکرمې ته نیزدې د دوؤیا دچینو نومونه دی، [۵] په دې شعرونوکښې حضرت بلال رضی الله عنه دمکې مکرمې اودهغه ځائې دمقاماتو اوچینو دکتلوخواهش کړې دې، دهجرت کولونه پس حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم ته خپل وطن اوخپل علاقه یادیده چه کوم ځائې کښې ددوی وړوکوالې تیر شوې دې،اوچه کوم ځائې سره ددوی دکلونو یادونه وابسته وو،ددې وجې حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم دعا اوفرمائیله چه «اللهم حبب الینا المدینة کحبنا مکة اواشد» اې الله دمکې نه زیاته مدینه هم زمونږ دپاره محبوبه جوړه کړې،[۶]

---

[۱] ارشادالساري: ۱۲/۳۸۶،فتح الباری: ۱۰/۱۴۵،۱۴۶_
[۲] ارشادالساری: ۱۲/۳۸۵_
[۳] ارشادالساري:۱۲/۳۸۶، عمدة القاری:۲۱/۲۱۷_
[۴] ارشادالساری:۱۲/۳۸۶، عمدة القاری:۲۱/۲۱۷_
[۵] ارشاد الساری:۱۲/۳۸۶، فتح الباری: ۲۰/۱۴۶_
[۶] ارشادالساری:۱۲/۳۸۶، عمدة القاری:۲۱/۲۱۷_

قوله: الجحفة : (دجیم ضمه اودحاء په سکون سره) داهل شام میقات دی.[۱] داحدیث مخکښې تیرشوی دی.[۲]

قوله: وعادت ام الدرداء رجلاً من اهل المسجد من الانصار: علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه دحضرت ابوالدرداء رضی الله عنه دوه ببیانی وی، اوهریوته به ئې ام الدرداء وئیل، دمشرې نوم خیره وو اوهغه صحابیه وه، اودکشرې نو هجمة وو، هغه تابعیه وه.[۳]

دلته کښې کشره ام الدرداء مرادده، حضرت هجمیهٔ مراد ده ځکه چه دااثر حضرت امام بخاری رحمه الله په ((الادب المفرد)) کښې دحارث بن عبید په طریق موصولاً نقل کړی دی.[۴] حارث بن عبید کم عمرتابعی وو، هغوی دام الدرداء کبری په زمانه کښې نه وو.[۵] ځکه چه هغه دحضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کښې دحضرت ابوالدرداء نه مخکښې وفات شوې وه.اودام الدرداء صغری وفات دعبدالملك بن مروان په زمانه کښې ۸۱ هجرې کښې وو. دکبری وفات تقریباً پنځوس کاله پس شوی دی.[۶]

په دې اثرکښې دمسجدنه مسجد نبوی مراددې، یعنی حضرت ام الدرداء دمسجدنبوی والو یعنی دیوانصاری عیادت اوکړو، معلومه شوه چه ښځه دسړی عیادت کولې شی.

۹-باب عیادة الصبیان

[۵۳۳۱] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَاصِمٌ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا عُثْمَانَ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ-رضی الله عنهما-أَنَّ ابْنَةً لِلنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَرْسَلَتْ إِلَيْهِ وَهُوَ مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- وَسَعْدٍ وَأُبَيٍّ نَحْسِبُ أَنَّ ابْنَتِي قَدْ حُضِرَتْ فَاشْهَدْنَا فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا السَّلَامَ وَيَقُولُ «إِنَّ لِلَّهِ مَا أَخَذَ وَمَا أَعْطَى وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ مُسَمًّى فَلْتَحْتَسِبْ وَلْتَصْبِرْ». فَأَرْسَلَتْ تُقْسِمُ عَلَيْهِ، فَقَامَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- وَقُمْنَا، فَرُفِعَ الصَّبِيُّ فِي حَجْرِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- وَنَفْسُهُ تَقَعْقَعُ فَفَاضَتْ عَيْنَا النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ لَهُ سَعْدٌ مَا هَذَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ «هَذِهِ رَحْمَةٌ وَضَعَهَا اللَّهُ فِي قُلُوبِ مَنْ شَاءَ مِنْ عِبَادِهِ، وَلاَ يَرْحَمُ اللَّهُ مِنْ عِبَادِهِ إِلاَّ الرُّحَمَاءَ». [ر: ۱۲۲۴]

---

[۱] ارشادالساری:۱۲/۳۸۶، عمدة القاری:۲۱/۲۱۷)_
[۲] فتح الباری:۱۰/۱۴۶، عمدة القاری:۲۱/۲۱۷)_
[۳] شرح البخاری للکرمانی : ۲۰/۱۸۴، فتح الباری:۱۰/۱۴۵،عمدة القاری:۲۱/۲۱۶)_
[۴] فتح الباری:۱۰/۱۴۵، عمدة القاری:۲۱/۲۱۷، الادب ا لمفرد مع شرح فضل الله الصمد، باب عیادة النساء الرجل المریض: ۱/۶۲۷،رقم الحدیث : ۵۳۰)_
[۵] فتح الباری:۱۰/۱۴۵،عمدة القاری:۲۱/۲۱۷)_
[۶] فتح الباری:۱۰/۱۴۵، عمدة القاری: ۲۱/۲۱۶)_

((عيادت)) مصدردې اومضاف الى المفعول دې [1] يعنى په دې باب كښې دبچو عيادت حضرت امام بخارى رحمه الله بيان فرمائيلى دې، چه دهغوى عيادت كول هم جائزدى. اوپه سنت كښې ددې اصل موجود دې، په روايت كښې دى چه دحضورمبارك يوې لور دحضورمبارك په خدمت كښې خبراوليږلو چه زما لور يعنى ستاسو لمسې قريب المرگ ده، ددې وجې تاسو مونږكره راشئ حضرت نبى اكر م ﷺ سلام اوليږلو اووې فرمائيل چه ((ان الله ما اخذ وما اعطى وكل شئ عنده مسمى فلتحتسب ولتصبر)) يعنى دالله خوښه ده چه څه اخلى نو هغه واخلى اوچه څه وركوى نو هغه وركړى، دهرڅيز دپاره دالله تعالى په نيز يوه نيټه مقرر ده، ددې وجې دثواب اميد ساتل پكاردى، چه هغه دې صبراوكړى، هغې دالله واسطه وركړه اودوباره ئې خبروركړو، نو حضرت محمد ﷺ اودريدو اوهغوى كره ئې تشريف يو ړولو، هغه بچې ئې خپله غيږه مباركه كښې اوچته كړه، دهغه ساه ختله، دحضرت نبى اكر م ﷺ ددواړو ستر گومباركونه اوښكې رواني شوې. حضرت سعد رضي الله عنه عرض اوكړو چه يارسو ل الله داڅه دى؟ حضرت نبى اكرم ﷺ چه دارحمت دې، الله جل جلاله چه دكوم بنده په زړه كښې اوغواړى نو وائې چوى، اوالله په خپل مهربان بندگانو باندې مهربان او رحم كونكې دې،
داحضرت نبى كريم دلور حضرت زينب رضي الله عنها واقعه ده. ددې روايت په شروع كښې دى چه ((ان ابنتى قدحضرت)) يعنى ماشومه مرگ ته نيزدې ده. اوددې نه پس دى چه ((فرفع الصبى)) چه ددې نه معلومه شوه چه هغه ماشومه نه ده بلكه ماشوم وو، علامه ابن بطال رحمه الله فرمائى چه په دې كښې راوى دضبط نه كارنه دې اخستې. نو هغه فرمائى چه:

((هذا الحديث لم يضبطه الراوى فمرة قال قالت ابنتى قد احتضرت ومرة قال فرفع الصبى ونفسه تقعقع فاخبر مرة عن صبي ومرة عن صبية)) [2] ((حجر)) دحاء په فتحې سره او كسرې سره. اودجيم په سكون سره غيږې ته وائى، ((نفسه)) دفاء سكون سره دده جمع نفوس راځى، ((تقعقع اى تضطرب ويسمع لها صوت)) يعنى هغه داضطراب اوپريشانې په حالت كښې وه، او ددې وجې نه دهغې آواز په دې كيفيت راتللو. [3]

قوله: فقال له سعد ما هذا؟: دحضور مبارك دستر گونه په اوښكوتلو باندې حضرت سعد رضي الله عنه له تعجب ورغلو اوهغوى اوفرمائيل چه يارسول الله داڅه دى؟ شايد چه هغه دصبر خلاف گنړل، نوحضورمبارك ورته اوفرمائيل چه داپه زړه كښې موجود شفقت اورحمت دې، دا دبې ادبې يادجزع فزع دقبيل نه نه دې. [4]

[1] فتح البارى:۱۰/۱٤٥، عمدة القارى:۲۱/۲۱٦)_
[2] عمدة القارى:۲۱/۲۱۷)_
[3] عمدة القارى:۲۱/۲۱۸، وارشادالسارى:۱۲/۲۸۷)_
[4] عمدة القارى:۲۱/۲۱۸، وارشادالسارى:۱۲/۲۸۷)_

مذكوره حديث په كتاب الجنائز كښې د باب «قول النبی صلی الله عليه وسلم يعذب الميتُ ببكاء اهله عليه» دلاندې تير شوی دې.[1]

۱۰ - باب عيادة الاعراب

[۵۳۳۲] حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُخْتَارٍ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضی الله عنهما - أَنَّ النَّبِیَّ - صلى الله عليه وسلم - دَخَلَ عَلَى أَعْرَابِیٍّ يَعُودُهُ - قَالَ - وَكَانَ النَّبِیُّ - صلى الله عليه وسلم - إِذَا دَخَلَ عَلَى مَرِيضٍ يَعُودُهُ فَقَالَ لَهُ «لاَ بَأْسَ طَهُورٌ إِنْ شَاءَ اللَّهُ». قَالَ قُلْتَ طَهُورٌ، كَلاَّ بَلْ هِیَ حُمَّى تَفُورُ - أَوْ تَثُورُ - عَلَى شَيْخٍ كَبِيرٍ، تُزِيرُهُ الْقُبُورَ. فَقَالَ النَّبِیُّ - صلى الله عليه وسلم - «فَنَعَمْ إِذًا». [ر: ۳۴۲۰]

حضرت ابن عباس فرمائی چه حضورمبارك يو اعرابی (بانډيچی) لره دعيادت دپاره تشريف يوړولو، حضورمبارك چه به كله هم ديومريض دعيادت دپاره تشريف اوړولونو فرمائيل به ئې چه «لا باس بالطهور ان شاء الله» هيڅ حرج نشته دې دمرض به ګناهونو لره باكل پاك كړی، دې اعرابی ته چه كله حضورمبارك داجمله اوونيله نوهغه ورته اووئيل چه تاسو وائې چه داپاكولو والا دې، بالكل نه بلكه داتبه خوپه يو بوډاباندې حمله آوره شوی ده چه دې به قبرته بوځی، حضرت نبی كريم ﷺ اوفرمائيل چه ته وائې نو هم داسې دې وی،

قوله: لا باس بالطهور: يعنی هيڅ حرج نشته دې، بيماری دمسلمانانو كفاره جوړيږی، «طهور» دمبالغه صيغه ده، اومتعدی ده، په معنی د«مطهر»پاكولووالا «طهور» دې مبتداء محذوف دې، «ای هو طهور»[2] «ان شاء الله»ئې اووئيل اواشاره ئې اوكړه چه داجمله دعائيه ده خبر نه دې، [3]

قوله: تفورا او تثور: راوی ته شك دې چه، تفور، ئې اووئيل يا، تثور، ئې اووئيل، د دواړو معنی رالړزيدل اوحمله كول ده، «تزير» داباب افعال نه دې «ازاره»خوك په زيارت باندې مجبورول،

قوله: فنعم اذا: «ای اذا ابيت فنعم اذا» يعنی كله چه زموږ دخبرې نه انكاركوی نوبياهم داسی دې وی، لكه څنګه چه ستاګمان دې، ياهمداسې به وی لكه څنګه چه ته ګمان كوې. دا جمله بددعا هم كيديشی اوداهم كيديشی چه تاسو پيشن ګوئی كوئې اوده ته ئې خبر وركړو چه همداسې به وی.[4]

[1] عمدة القاری:۲۱/۲۱۸،وارشادالساری:۱۲/۳۸۷، وفتح الباری:۱۰/۱۴۶)_
[2] عمدة القاری:۲۱/۲۱۸، فتح الباری:۱۰/۱۴۷، وارشادالساری:۱۲/۳۸۷)_
[3] عمدة القاری:۲۱/۲۱۸، فتح الباری:۱۰/۱۴۷، وارشادالساری: ۱۲/۳۸۸)_
[4] عمدة القاری:۲۱/۲۱۸، فتح الباری:۱۰/۱۴۷، وارشادالساری: ۱۲/۳۸۸)-

دطبرانى په روايت كښې دى چه سبا له هم هغه اعرابى وفات شوې وو.[1]

دحديث نه مستنبط شو اداب : علامه مهلب رحمه الله ددې حديث نه څو آداب اوفوائد مستنبط كوى اوفرمائى چه:

"فائدة هذا الحديث انه لا نقص على الامام فى عيادة المريض من رعيته ولو كان اعرابيا جافيا ولا على العالم فى عيادة الجاهل ليعلمه ويذكره بما ينفعه ويامره بالصبر لئلا يتسخط قدر الله فيسخط عليه ويسليه عن المه بل يغبطه بسقمه الى غير ذالك من جبر خاطره وخاطر اهله وفيه انه ينبغى للمريض ان يتلقى الموعظة بالقبول ويحسن جواب من يذكره بذالك" [2] يعنى دحديث نه يوه خبره دامعلومه شوه چه حاكم خپل رعاياكښې دشډل كلى وال عيادت هم كولى شى، داشان عالم دجاهل عيادت كولې شى، چه مريض ته نصيحت اوكړى، دصبرتلقين ورته اوكړى، دحديث نه داهم مستنبط دى چه مريض ته دنصيحت خبره كول پكاردى، اونصيحت كولوالا له ښه اومناسب جواب وركول پكاردى،

١١- باب عيادة المشرك

[٥٣٣٣] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه - أَنَّ غُلاَمًا لِيَهُودَ كَانَ يَخْدُمُ النَّبِىَّ - صلى الله عليه وسلم - فَمَرِضَ. فَأَتَاهُ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - يَعُودُهُ فَقَالَ «أَسْلِمْ». فَأَسْلَمَ. [ر: ١٢٩٠]

وَقَالَ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيهِ لَمَّا حُضِرَ أَبُو طَالِبٍ جَاءَهُ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم. [ر: ١٢٩٤]

دكافر دعيادت مسئله : علامه ابن بطال رحمه الله فرمائى كه ديو كافراومشرك باره كښې اميدوى چه هغه به اسلام قبول كړى نودده عيادت مشروع دې، ليكن كه دده داسلام قبليدواميدنه وى نوبياعيادت جائزنه دې، [3] ليكن جمهورفرمائى چه دقبوليت اسلام نه علاوه نورمصلحتونه اومقاصدهم پيش نظرساتلودوجې نه دكافر اومشرك عيادت كيديشى، [4] په حديث كښې دى چه يو يهودى هلك به دحضورنبى اكرم په خدمت كښې هر وخت وو، چه كله هغه بيمارشونو حضورمبارك ﷺ دهغه عيادت دپاره تشريف يوړولو، اوهغه ته ئې داسلام دعوت وركړو، اوهغه مسلمان شو ددې هلك نوم عبدالقدوس خودلې شوې دې، [5]

---

[1] عمدة القارى: ٢١/٢١٨، فتح البارى: ١٠/١٤٦ـ

[2] عمدة القارى: ٢١/٢١٨، فتح البارى: ١٠/١٤٦ـ

[3] فتح البارى: ١٠/١٤٨، عمدة القارى: ٢١/٢١٨ـ

[4] فتح البارى: ١٠/١٤٨، عمدة القارى: ٢١/٢١٨، دحضرات حنفيه په نيزدمى كه نصرانى يا يهودى وى نو دده عيادت بالاتفاق درست دې ليكن كه مجوسى وى نوپه دې كښې دجواز اوعدم جواز دواړه قولونه دى، خود جوازقول راجح دې. ـ

[5] فتح البارى: ١٠/١٤٨ـ

حدیث باب په کتاب الجنائز کښې د «باب اذا اسلم الصبی فمات» دلاندې تیر شوې دې، دحضرت سعیدبن المسیب تعلیق حضرت امام بخاری رحمه الله په کتاب التفسیر کښې دسورة القصص په تفسیر کښې موصولاً نقل کړې دې،[۱] اوهم هلته کښې په دې باندې کلام تیر شوی دی،

۱۲- باب اذا عاد مریضاً فحضرت الصلاة فصلی بهم جماعة

[۵۳۳۴] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ- رضى الله عنها - أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - دَخَلَ عَلَيْهِ نَاسٌ يَعُودُونَهُ فِي مَرَضِهِ فَصَلَّى بِهِمْ جَالِسًا فَجَعَلُوا يُصَلُّونَ قِيَامًا، فَأَشَارَ إِلَيْهِمُ اجْلِسُوا، فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ «إِنَّ الإِمَامَ لَيُؤْتَمُّ بِهِ، فَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا وَإِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوا، وَإِنْ صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا». قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ قَالَ الْحُمَيْدِيُّ هَذَا الْحَدِيثُ مَنْسُوخٌ لأَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - آخِرَ مَا صَلَّى صَلَّى قَاعِدًا وَالنَّاسُ خَلْفَهُ قِيَامٌ.[ر: ۶۵۶]

که دمریض عیادت لره ورشی اودمونځ وخت شی،اومریض عیادت کونکی ته دجمې مونځ ورکوی نوحدیث.کښې ددې اصل موجوددې،حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم دنبی کریم ﷺ عیادت دپاره لاړل اونبی کریم ﷺ ورله مونځ ورکړو،

حدیث باب کتاب الصلوة کښې تیرشوې دې،[۲] اوهلته کښې ددې مسئلې تفصیل راغلې دې چه دجمهورعلماؤپه نیزکه امام مخکښې اودریدواومونځ ئې شروع کړو اودمونځ په دوران کښې ده ته څه مرض لاحق شی اوهغه کینی نومقتدیان به نه کینی بلکه ولاړ به وی اوپه ولاړه به مونځ کوی،اودامام اقتداء به په ولاړه کوی،حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه په ولاړه باندې مونځ شروع کړې وو،اوحضرت نبی اکرم ﷺ تشریف راوړو اوامام جوړشو. لیکن چونکه مونځ شروع شوې وو، ددې وجې حضرت نبی اکرم ﷺ دامام جوړیدونه پس حضرات صحابه کرام ولاړوو اوپه ولاړه ئې اقتداء اوکړه،

باب وضع الید علی المریض

[۵۳۳۵] حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا الْجُعَيْدُ عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ سَعْدٍ أَنَّ أَبَاهَا قَالَ تَشَكَّيْتُ بِمَكَّةَ شَكْوًا شَدِيدًا، فَجَاءَنِي النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يَعُودُنِي، فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنِّي أَتْرُكُ مَالاً وَإِنِّي لَمْ أَتْرُكْ إِلاَّ ابْنَةً وَاحِدَةً، فَأُوصِي بِثُلُثَيْ مَالِي وَأَتْرُكُ الثُّلُثَ فَقَالَ «لاَ». قُلْتُ فَأُوصِي بِالنِّصْفِ وَأَتْرُكُ النِّصْفَ قَالَ «لاَ». قُلْتُ فَأُوصِي بِالثُّلُثِ وَأَتْرُكُ لَهَا الثُّلُثَيْنِ قَالَ «الثُّلُثُ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ». ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ عَلَى جَبْهَتِهِ، ثُمَّ مَسَحَ يَدَهُ عَلَى وَجْهِي وَبَطْنِي ثُمَّ

---

[۱] فتح الباري:۱۰/۱۴۸، عمدة القاري:۲۱/۲۱۸،ارشادالساری: ۱۲/۳۸۸)_

[۲] فتح الباري:۱۰/۱۴۸، عمدة القاري:۲۱/۲۱۹)_

قَالَ «اللَّهُمَّ اشْفِ سَعْدًا وَأَتْمِمْ لَهُ هِجْرَتَهُ». فَمَا زِلْتُ أَجِدُ بَرْدَهُ عَلَى كَبِدِي فِيمَا يُخَالُ إِلَيَّ حَتَّى السَّاعَةِ.[ر: ۵۶]

[۵۳۳۶] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَهُوَ يُوعَكُ فَمَسِسْتُهُ بِيَدِي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّكَ تُوعَكُ وَعْكًا شَدِيدًا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم - «أَجَلْ إِنِّي أُوعَكُ كَمَا يُوعَكُ رَجُلاَنِ مِنْكُمْ». فَقُلْتُ ذَلِكَ أَنَّ لَكَ أَجْرَيْنِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «أَجَلْ». ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى مَرَضٌ فَمَا سِوَاهُ إِلاَّ حَطَّ اللَّهُ لَهُ سَيِّئَاتِهِ كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا».[ر: ۵۳۲۳]

په مريض باندې لاس اښودلو طريقه: دعيادت کولو په وخت کښې په مريض باندې لاس اوخودلې شي، دې سره دمريض تسلى هم کيږى اودعيادت کونکى په برکت سره دده په مرض کښې افاقه هم کيديشى، اوکه عيادت کولووالا دطب نه واقف وى نودمرض تشخيص هم کولې شى.[۱] په باب کښې ذکرشوى دواړه حديثونو کښې ددې ذکر دې. ړومبى حديث کښې دى چه «ثم وضع يده على جبهته ثم مسح يده على وجهي وبطني» او دوئم روايت کښې دى چه «فمسته بيده....»

دحضرت عائشه رضي الله عنها نه يوحديث دابويعلى په سند حسن سره نقل کړې شوې دې، په هغې کښې دى چه «كان رسول الله ﷺ اذا عاد مريضاً يضع يده على المكان الذى يالم ثم يقول بسم الله»[۲] داشان ترمذى رحمه الله دحضرت ابوامامه رضي الله عنه نه مرفوعاً حديث نقل کړې دې چه «تمام عيادة المريض ان يضع احدكم يده على جبهته فيسأله كيف هو»[۳] دابن سنى په روايت کښې دى چه حضرت ابوامامه رضي الله عنه نه مرفوع روايت نقل دې «تمام عيادة المريض ان يضع احدكم يده على جبهته فيقول كيف اصبحت اوكيف امسيت»[۴]

قوله: فما زلتُ احد برده على كبدي فيما يخال الى حتى الساعة: حضرت سعد فرمائى چه دحضورنبى اکرم دلاس يخوالې څه په ځيګر کښې محسوسوم، «دا دحضورمبارک معجزه وه»

[۱] عمدة القارى:۲۱/۲۱۹)_

[۲] فتح البارى: ۱۰/۱۴۹. وقال الامام احمد بن حنبل رحمه الله عليه فى مسنده، عن عائشة رضى الله عنها انّ النبى صلى الله عليه وسلم كان اذا عاذ مريضاً مسحه بيده وقال اذهب الباس رب الناس واشف انت الشافى لاشفاء الاّ شفاءك شفاءً لا يغادرسقماً....مسند الامام احمد بن حنبل رحمه الله عليه.۶/۱۲۶.۴۵)_

[۳] سنن الترمذى. كتاب الاستيذان، باب ماجاء فى المصافحة :۵۸۶ رقم الحديث :۲۸۳۱.)_

[۴] فتح البارى:۱۰/۱۵۰.)_

۱۴-باب مايقال للمريض ومايجيبُ

[۵۳۳۷] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِي عَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنه - قَالَ أَتَيْتُ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - فِي مَرَضِهِ فَمَسِسْتُهُ وَهُوَ يُوعَكُ وَعْكًا شَدِيدًا فَقُلْتُ إِنَّكَ لَتُوعَكُ وَعْكًا شَدِيدًا، وَذَلِكَ أَنَّ لَكَ أَجْرَيْنِ. قَالَ «أَجَلْ، وَمَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى إِلاَّ حَاتَّتْ عَنْهُ خَطَايَاهُ كَمَا تَحَاتُّ وَرَقُ الشَّجَرِ». [ر: ۵۳۲۳]

[۵۳۳۸] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ خَالِدٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - دَخَلَ عَلَى رَجُلٍ يَعُودُهُ فَقَالَ «لاَ بَأْسَ طَهُورٌ إِنْ شَاءَ اللَّهُ». فَقَالَ كَلاَّ بَلْ حُمَّى تَفُورُ عَلَى شَيْخٍ كَبِيرٍ كَيْمَا تُزِيرَهُ الْقُبُورَ. قَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - «فَنَعَمْ إِذًا». [ر: ۳۴۲۰]

د ترجمة الباب مقصد: حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائی چه دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه عيادت كولو والا چه كله مريض ته ورشى نو دخير خبرې دې كوى.اومريض ته پكاردى چه دالله جل جلاله نه دخيرامید ساتی اوهيڅ دشراودمايوسئ خبرې دې نه كوى. داشان دحديث نه معلوميږى كه څه تكليف هم وى نودهغې اظهاركولې شى.په دې شرط چه هغه دجزع اوفزع اودګيلو اوشكوؤپه صورت كښې نه وى.نو حضرت فرمائى

«يعنى بذالك انه ينبغى للعائد ان يقول خيرًا وللمريض ان يحسن الظن بربه فلا يتكلم بشر وايضاً ففى الحديث دلالة انه لا باس لوتكلم بشئ مما يجد اذا لم يكن على سبيل الشكوى»[۱]

شيخ الحديث حضرت مولانازكريا رحمه الله فرمائی چه حضرت امام بخاری رحمه الله دخپل عادت مطابق دامام ترمذی رحمه الله اودابن ماجه رحمه الله مرفوع روايت طرفته اشاره كړې ده چه په هغې كښې داسې دى:

«اذا دخلتم على المريض فنفسوا له فى الاجل فان ذالك لايرد شيئاً وهويطيب نفس المريض» اودباب په دواړواحاديثو كښې «تنفيس» موندې شى.دتنفيس نه مرادتسلى ده. نودويم حديث كښې «لاباس طهور» دې اوړومبى حديث كښې حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه «انك لتوعك وعكاً شديدًا» يعنى تاسو ته خوعادتاً شديده تبه وى.داڅه قابل تشويش خبره نه ده. نوليكى چه «والاوجه عندى ان الامام البخارى اشاربالترجمة على عادته المستمرة الى حديث الترمذى المذكور والتنفيس فى الحديث الثانى ظاهرفى قوله صلى الله عليه وسلم لا باس واما الاول ففى حديث ابن مسعودانك لتوعك وعكاً شديدًا يعنى هذه عادة مستمرة لك ليس بامرجديد يخاف منه»[۲]

---

[۱] لامع الدرارى :۹/۴۴۸،۴۴۹_

[۲] الابواب والتراجم ج ۲/۹۹،تعليقات لامع الدرارى : ۹/۴۴۹_

امام ابن ماجه رحمه الله دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه نه يومرفوع روايت نقل كړې، په هغې كښې دى چه «اذا دخلت على مريض فمره يدعولك فان دعاءه كدعاء الملائكة»[1] يعنى دمريض عيادت كولو والا دې دخپل ځان دپاره ددعا درخواست اوكړى، ځكه چه دمريض ددعا دفرښتو اودملائكو ددعا په شان مقبوله وى. ليكن داحديث منقطع دې.[ ]

۱۵ - باب عيادة المريض راكباً وماشياً وردفاً

[۵۳۳۹] حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ أَنَّ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - رَكِبَ عَلَى حِمَارٍ عَلَى إِكَافٍ عَلَى قَطِيفَةٍ فَدَكِيَّةٍ، وَأَرْدَفَ أُسَامَةَ وَرَاءَهُ يَعُودُ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ قَبْلَ وَقْعَةِ بَدْرٍ فَسَارَ حَتَّى مَرَّ بِمَجْلِسٍ فِيهِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ وَذَلِكَ قَبْلَ أَنْ يُسْلِمَ عَبْدُ اللَّهِ، وَفِي الْمَجْلِسِ أَخْلاَطٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُشْرِكِينَ عَبَدَةِ الأَوْثَانِ وَالْيَهُودِ، وَفِي الْمَجْلِسِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَوَاحَةَ، فَلَمَّا غَشِيَتِ الْمَجْلِسَ عَجَاجَةُ الدَّابَّةِ خَمَّرَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ أَنْفَهُ بِرِدَائِهِ، قَالَ لاَ تُغَبِّرُوا عَلَيْنَا فَسَلَّمَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - وَوَقَفَ وَنَزَلَ فَدَعَاهُمْ إِلَى اللَّهِ فَقَرَأَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنَ، فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ يَا أَيُّهَا الْمَرْءُ إِنَّهُ لاَ أَحْسَنَ مِمَّا تَقُولُ إِنْ كَانَ حَقًّا، فَلاَ تُؤْذِنَا بِهِ فِي مَجْلِسِنَا، وَارْجِعْ إِلَى رَحْلِكَ فَمَنْ جَاءَكَ فَاقْصُصْ عَلَيْهِ. قَالَ ابْنُ رَوَاحَةَ بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ فَاغْشَنَا بِهِ فِي مَجَالِسِنَا فَإِنَّا نُحِبُّ ذَلِكَ فَاسْتَبَّ الْمُسْلِمُونَ وَالْمُشْرِكُونَ وَالْيَهُودُ حَتَّى كَادُوا يَتَثَاوَرُونَ فَلَمْ يَزَلِ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى سَكَتُوا فَرَكِبَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - دَابَّتَهُ حَتَّى دَخَلَ عَلَى سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ فَقَالَ لَهُ «أَىْ سَعْدُ أَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالَ أَبُو حُبَابٍ». يُرِيدُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ. قَالَ سَعْدٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ اعْفُ عَنْهُ وَاصْفَحْ فَلَقَدْ أَعْطَاكَ اللَّهُ مَا أَعْطَاكَ وَلَقَدِ اجْتَمَعَ أَهْلُ هَذِهِ الْبَحْرَةِ أَنْ يُتَوِّجُوهُ فَيُعَصِّبُوهُ فَلَمَّا رَدَّ ذَلِكَ بِالْحَقِّ الَّذِى أَعْطَاكَ شَرِقَ بِذَلِكَ، فَذَلِكَ الَّذِى فَعَلَ بِهِ مَا رَأَيْتَ. [ر: ۲۸۲۵]

[۵۳۴۰] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَبَّاسٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مُحَمَّدٍ - هُوَ ابْنُ الْمُنْكَدِرِ - عَنْ جَابِرٍ - رضى الله عنه - قَالَ جَاءَنِي النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يَعُودُنِي لَيْسَ بِرَاكِبِ بَغْلٍ وَلاَ بِرْذَوْنٍ. [ر: ۱۹۱]

دحضرت امام بخارى رحمه الله مقصد دادې چه دمريض عيادت په سورلئ اوپيدل اوچاپسې شاته سوريدوپه حالت كښې تلې اوكولې شى، «ردف» (بكسر الراء وسكون الدال) دې «مرتدفاً لغيره» يعنى چاپسې شاته سوريدل، په حديث كښې دى چه حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم

---

[1] سنن ابن ماجه كتاب الجنائز، باب ماجاء فى عيادة المريض :۱/۴۶۳، رقم الحديث :۱۴۴۱)_

[2] فتح البارى:۱۰/۱۵۰)_

حضرت سعدبن عبادة رضي الله عنه عیادت اوکړو.حضرت نبی کریم ﷺ په سورلي باندې سور شو. حضرت اسامه مخکښې وو.اوحضور مبارك ﷺ هغوی پسې روستو ناست وو.حدیث باب مخکښې تیر شوې دې.[1] دلته ئې څو الفاظ اوګورئی.

قوله: علی حمار علی اکاف علی قطیفة فدکیة : «اکاف» دهمزه کسره اودکاف تخفیف سره، کته یا سازته وائی چه دځناورپه شا باندې اخودلې شی.[2]

«قطیفة»هغه کپړا چه په کته باندې اخودلې شی «فدکیة»فدك طرف ته منسوب ده فدك مشهورخائې دې.[3] حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه «والحاصل ان الاکاف علی الحمار والقطیفة فوق الاکاف والراکب فوق القطیفة»[4]

په ترکیب کښې «علی اِکاف»،«علی حمارِ»سره بدل کړې شوې دې.او..علی..قطیفة..علی اکاف.. سره بدل شویدې.[5]

علامه مزی رحمه الله په «الاطراف» کښې دامستقل بیل حدیث شمیرلې دې.لیکن امام حمیدی رحمه الله دا دطویل حدیث حصه ګرځولې ده، چه په هغې کښې حضرت جابر رضي الله عنه دخپلې بیمارئی اوحضرت نبی اکرم ﷺ دعیادت کولو تذکره کړې ده.

حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله دحمیدی تصویب کړې دې.[6]

حضرت جابر رضي الله عنه فرمائی چه حضرت نبی اکرم ﷺ زمادعیادت دپاره تشریف روړلې وو.په داسې حال کښې چه نه په خچره باندې سورووا اونه په اس باندې سوررو.یعنی پیدل ئې تشریف روړلې وو.په ترجمة الباب کښې هم د«ماشیاً» قیدهم ددې حدیث نه ثابت کړې شوې دې.[7] «برذون» دباء کسرې سره، دآسونو دیوقسم نوم دې.[8]

۱۶-باب قول النبی انی وجعٌ اووا راساهُ اواشتدبی الوجعُ

وَقَوْلِ أَيُّوبَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ (أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ).

[۵۳۴۱]حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ وَأَيُّوبَ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ-رضی الله عنه.مَرَّبِي النَّبِيُّ-صلی الله علیه

---

[1] اوګورئی کشف الباری : کتاب التفسیر، سورة ال عمران، ۱۲۸(۱۲۵،۱۱۶)_
[2] ارشاد الساری: ۱۲/۳۹۳،فتح الباری:۱۰/۱۵۱)_
[3] ارشارالساری: ۱۲/۳۹۳،عمدة القاری: ۲۱/۲۲۱)_
[4] ارشادالساری :۱۲/۳۹۳، فتح الباری:۱۰/۱۵۱)_
[5] ارشادالساری :۱۲/۳۹۳، فتح الباری:۱۰/۱۵۱)_
[6] فتح الباری:۱۰/۱۵۱)_
[7] ارشادالساری: ۱۲/۳۹٤، عمدة القاری:۲۱/۲۲۲)_
[8] ارشادالساری: ۱۲/۳۹٤، عمدة القاری:۲۱/۲۲۲،شرح الکرمانی :۲۰/۱۹۳)_

وسلم - وَأَنَا أُوقِدُ تَحْتَ الْقِدْرِ فَقَالَ « أَيُؤْذِيكَ هَوَامُّ رَأْسِكَ ». قُلْتُ نَعَمْ. فَدَعَا الْحَلَّاقَ فَحَلَقَهُ ثُمَّ أَمَرَنِي بِالْفِدَاءِ. [ر: ۱۷۱۹]

[۵۳۴۲] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ يَحْيَى أَبُو زَكَرِيَّاءَ أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ سَمِعْتُ الْقَاسِمَ بْنَ مُحَمَّدٍ قَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ وَارَأْسَاهْ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «ذَاكِ لَوْ كَانَ وَأَنَا حَيٌّ، فَأَسْتَغْفِرُ لَكِ وَأَدْعُو لَكِ». فَقَالَتْ عَائِشَةُ وَاثُكْلِيَاهْ، وَاللَّهِ إِنِّي لأَظُنُّكَ تُحِبُّ مَوْتِي، وَلَوْ كَانَ ذَاكَ لَظَلِلْتَ آخِرَ يَوْمِكَ مُعَرِّسًا بِبَعْضِ أَزْوَاجِكَ. فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «بَلْ أَنَا وَارَأْسَاهْ لَقَدْ هَمَمْتُ أَوْ أَرَدْتُ أَنْ أُرْسِلَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ وَابْنِهِ، وَأَعْهَدَ أَنْ يَقُولَ الْقَائِلُونَ أَوْ يَتَمَنَّى الْمُتَمَنُّونَ، ثُمَّ قُلْتُ يَأْبَى اللَّهُ وَيَدْفَعُ الْمُؤْمِنُونَ، أَوْ يَدْفَعُ اللَّهُ وَيَأْبَى الْمُؤْمِنُونَ». [ر: ۶۷۹۱]

[۵۳۴۳] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رضى الله عنه - قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَهْوَ يُوعَكُ فَمَسِسْتُهُ فَقُلْتُ إِنَّكَ لَتُوعَكُ وَعْكًا شَدِيدًا. قَالَ « أَجَلْ كَمَا يُوعَكُ رَجُلَانِ مِنْكُمْ». قَالَ لَكَ أَجْرَانِ قَالَ «نَعَمْ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى مَرَضٌ فَمَا سِوَاهُ إِلاَّ حَطَّ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِ كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا». [ر: ۵۳۲۳]

[۵۳۴۴] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ أَخْبَرَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ جَاءَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَعُودُنِي مِنْ وَجَعٍ اشْتَدَّ بِي زَمَنَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَقُلْتُ بَلَغَ بِي مَا تَرَى وَأَنَا ذُو مَالٍ وَلاَ يَرِثُنِي إِلاَّ ابْنَةٌ لِي أَفَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثَيْ مَالِي قَالَ « لاَ ». قُلْتُ بِالشَّطْرِ قَالَ « لاَ ». قُلْتُ الثُّلُثُ قَالَ « الثُّلُثُ كَثِيرٌ، أَنْ تَدَعَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ وَلَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ اللَّهِ إِلاَّ أُجِرْتَ عَلَيْهَا حَتَّى مَا تَجْعَلُ فِي فِي امْرَأَتِكَ». [ر: ۵۶]

مريض د تكليف اظهاركولې شي: دحضرت امام بخارى رحمه الله مقصددادې كه مريض دخپل تكليف اوشدت دردپه وجه باندې فرياد اوكړي اود خپل غم اظهاركوى نودا د صبر منافى نه دى اوپه حديث كښې ددې اصل موجوددې.[1]

دلته په ترجمة الباب كښې درې لفظونه ذكرشوى دى.يو «انى وجع» روايات باب كښې ددې اصل موجوددې.البته صالح بن كيسان دحضرت عبدالرحمان بن عوف رضى الله عنه روايت نقل كوى، هغه فرمائى چه:

«دخلت على ابى بكر رضى الله عنه فى مرضه الذى توفى فيه فسلمت عليه وسالته كيف اصبحت؟ فاستوى جالساً فقلت

[1] عمدة القارى:۲۱/۲۲۲، ارشادالسارى:۱۲/۳۹۴)_

!صبحت بحمدالله بارئاً؟ قال اما انی علی ماتری وجعؒ» په دې روايت کښې دحضرت ابوبکر صدیق ﷺ دبيمارئی ذکردې. هغه فرمائی چه «انی وجعؒ» څه په تکليف کښې يم ترجمة الباب کښې ذکرشوې دوم لفظ «واراساه» دباب په دوئم حديث کښې اودريم لفظ «اشتدبی الوجع» دباب آخری روايت کښې دی.

حضرت امام بخاری ﷺ دقرآن پاك آيت مبارك کښې دحضرت ايوب ﷺ دقول «انی مسّنی الضر وانت ارحم الراحمین» نه هم دا استدلال کړې دې چه حضرت ايوب ﷺ دالله ﷻ نه دعا کوی اودخپلې بيمارئی شکوه کوی

دباب ړومبی حديث دحضرت کعب بن عجره نه دې.هغه فرمائی چه حضرت رسول الله ما سره تيرشو اوما دکټوئې لاندې اووربل کړې وو.حضرت نبی کريم ﷺاوفرمائيل چه آيا تاته سپګې تکليف درکوی.مااووئيل چه آو.حضرت نبی کريم ﷺ نائی روغوښتلو اوهغه زما سراوخرئيلو.بيا حضورمبارك ﷺ ماته دفدې ورکولو حکم اوکړو.

په دې روايت کښې دی چه حضرت نبی کريم ﷺ هغه ته اووئيل چه «ايوذيك هوام راسك» اوهغوی جواب کښې «نعم»اووئيل چه آو. ماته سپګې تکليف راکوی لهذاهغه شکوی جزع فزع نه وه.بلکه دې ته بيان واقعه وائی.(۱) داروايت ددې نه مخکښې په کتاب الحج کښې هم تير شوې دې.(۲)

قوله: حدّثنا یحی بن یحی :داحديث حضرت امام بخاری ﷺ دلته په ړومبی ځل ذکر کړې دې.(۴)حضرت عائشه ﷺ دزيات دسردرد دوجې اووئيل چه «واراساه»نو حضرت نبی کريم ﷺاوفرمائيل چه که ته په دې سر درد کښې مبتلا وې اووفات شې اوځه به ژوندې يم څکه چه زه به تالره بخښنه غواړم.اودعابه کوم. حضرت عائشه ﷺ خبرشته په دې آوريدوسره ګويا شوه چه افسوس والله زماخيال دې چه ته زما مرګ غواړې که داسې اوشو اوزه مړه شومه،نوددې په دوئيمه ورځ به ته خپلې بلې بی بی سره خلمې شوې تې حضرت نبی کريم ﷺاوفرمائيل چه نه بلکه زه په خپله دسر درد کښې مبتلايم مااراده اوکړه چه ابوبکر ﷺاودهغه ځوئې لره راوبلم اوهغوی ته وصيت اوکړم چه څوك ويونکې څه اونه وائی اونه څوك خواهش کوونکې ددې خواهش اونکړی.بيا ماسوچ اوکړوچه الله ﷻ به دبل چاخلافت قبول نکړی. اومومنان هم (حضرت ابوبکر صديق ﷺ نه علاوه بل څوك) به اخواکړی.اوقبول به ئې نه کړی).

---

(۱) فتح الباری:۱۵۲،۱۵۳/۱۰)_
(۲) عمدة القاری:۲۱/۲۲۳،ارشادالساری:۱۲/۳۹۵)_
(۳) فتح الباری:۱۰/۱۵۳،عمدة القاری:۲۱/۲۲۳)_
(۴) ۵۳۴۲:الحديث اخرجه البخاری ايضاً فی الاحكام باب الاستخلاف :رقم االحديث:۶۶۷۹۱، واخرجه مسلم فی فضائل الصحابة باب من فضائل ابی بكر الصديق :۴/۱۸۵۷، رقم الحديث : ۲۳۸۷)_

قوله: وَا رَأسَاهُ: دحضرت امام احمدبن حنبل اوداِبن ماجه په روایت کښې تفصیل دې حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه «رجع رسول الله من جنازة من البقيع فوجدني وانا اجد صداعاً في راسي وانا اقول وارأساه»[1] «صداع» دسر درد ته وائی.

قوله: ذاك لوكان وانا حيٌ: «ذاك» مشارٌ اليه مرګ دې چه عامه توګه باندې دمرض نه پس راځی.یعنی که ته مړه شې اوزه ژوندی پاتې شمه.په یوبل روایت کښې ددې وضاحت په دې الفاظوسره راغلې دې چه «ما ضرك لومت قبلي فكفنتُ ثم صليتُ عليك ودفنك»[2]

قوله: واثكلياه: «ثكل» په اصل کښې «فقد الولد» ته وائی. آخر کښې الف اوهاء ندبه ده. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه ته خُمامرګ غواړې، یوبل روایت کښې دی چه «والله لوقد فعلت ذالك لقد رجعت الى بيتي فاعرست ببعض نسائك قالت فتبسم رسول الله ﷺ»[3] حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه «بل انا وارأساه» دې نه پس حضرت نبی کریم ﷺ په مرض الوفات کښې مبتلا شو.[4]

قوله: لقد هممتُ اواردت ان ارسل الى ابى بكر رضي الله عنه: راوی ته شك دې چه «هممت» ئې اووئیل اوکه «اردتُ» ئې اووئیل. ددې نه معلومه شوه چه حضرت نبی کریم ﷺ په آخری وخت کښې دکتابت چه کومه اراده فرمائیلې وه، هغه دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دخلافت متعلق وه. مګرچونکه سرکاردوعالم ﷺ ته منظورشوی ووچه الله ته دبل چا امامت اوخلافت منظورنه دې اومومنان هم دبل چه په خلافت باندې راضی نه دی،ددې دوجې حضورمبارك په کتابت باندې اصراراونه کړو،

قوله: فاعهد ان يقول القائلو: «عهد يعهد» په معنی دوصیت کولو کښې هم راځی دلته هم په دې معنی کښې دې.«ان يقول القائلون اى لئلا يقول القائلون اوكراهة ان يقول»[5]

«متمنون» دا دمتمنی جمع ده.اصل کښې «متمنيون» وو.بیادتعلیل نه پس «متمنون» شو.[6]

دحدیث نه مستنبط خوخبرې: حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله ددې حدیث نه یوخوخبرې

---

[1]) سنن ابن ماجه كتاب الجنائز.باب ماجاء فى غسل الرجل امرأته وغسل المراة زوجها :١/٤٧٠. رقم الحديث :١٤٦٥.ومسند الامام احمدبن حنبل :٦/٢٢٨)_

[2]) فتح الباری:١٠/١٥٤.عمدة القاری: ٢١/٢٢٣)_

[3]) فتح الباری: ١٠/١٥٤)_

[4]) فتح الباری: ١٠/١٥٤)_

[5]) عمدة القاری: ٢١/٢٢٣. وارشاد السارى: ١٢/٣٩٦)_

[6]) عمدة القاری: ٢١/٢٢٣. وارشاد السارى: ١٢/٣٩٦)_

مستنبط كوى اوليكى چه:

((وفي الحديث ما طبعت عليه المرأة من الغيرة وفيه مداعبة الرجل اهله والافضاء اليهم بما يستره عن غيرهم وفيه انّ ذكر الوجع ليس بشكاية فكم من ساكت وهو ساخط وكم من شاكٍ وهو راضٍ فالمعول في ذالك على عمل القلب لا عمل اللسان والله اعلم بالصواب ([1]) يعنى دښځې طبيعت اوفطرت كښې دخپل خاوند متعلق چه كوم غيرت اوحساسيت وى. ددې حديث نه هغه ظاهريږى. كوروالو سره مزاح هم ددې نه معلوميږى. اوداخبره هم چه د درد اوتكليف اظهار جزع اوفزع كښې داخل نه دى.

۱۷- باب قول المريض قوموا عنى

[۵۳۴۵] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ مَعْمَرٍ وَحَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما قَالَ لَمَّا حُضِرَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَفِي الْبَيْتِ رِجَالٌ فِيهِمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «هَلُمَّ أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لاَ تَضِلُّوا بَعْدَهُ». فَقَالَ عُمَرُ إِنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَدْ غَلَبَ عَلَيْهِ الْوَجَعُ وَعِنْدَكُمُ الْقُرْآنُ، حَسْبُنَا كِتَابُ اللَّهِ فَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْبَيْتِ فَاخْتَصَمُوا، مِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ قَرِّبُوا يَكْتُبْ لَكُمُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ مَا قَالَ عُمَرُ فَلَمَّا أَكْثَرُوا اللَّغْوَ وَالاِخْتِلاَفَ عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «قُومُوا». قَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ فَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُولُ إِنَّ الرَّزِيَّةَ كُلَّ الرَّزِيَّةِ مَا حَالَ بَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَبَيْنَ أَنْ يَكْتُبَ لَهُمْ ذَلِكَ الْكِتَابَ مِنِ اخْتِلاَفِهِمْ وَلَغَطِهِمْ. [ر: ۱۱۴]

دحضرت امام بخارى رحمه الله مقصد دادې چه كه مريض سره دعيادت كونكو ګڼه شى اومريض ددې په وجه په تشويش كښې شى اوويره پرې راشى نو هغه عيادت كونكوته داووئيلى شى چه دلته نه لاړشئ. دا دبداخلاقۍ اوبې مروتۍ په زمره كښې نه دى داخل.لكه څنګه چه حديث باب كښې حضرت نبى اكرم ﷺ صحابه كرامو رضوان الله عليم اجمعين ته داشان اوفرمائيل چه ((قوموا عنى)) ([2]) په دې حديث باندې تفصيلى كلام دكتاب المغازى په آخر كښې تير شوې دې. ([3])

۱۸- باب من ذَهَبَ بالصبى المريض ليدعى له

[۵۳۴۶] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ - هُوَ ابْنُ إِسْمَاعِيلَ - عَنِ الْجُعَيْدِ قَالَ سَمِعْتُ

---

[1]) فتح البارى: ۱۰/۱۵۵)_

[2]) عمدة القارى: ۲۱/۲۲۴،ارشادالسارى:۱۲/۳۹۹، الابواب والتراجم :۲/۹۹)_

[3]) كشف البارى: كتاب المغازى: ص: ۶۷۲،۶۷۷)_

السَّائِبَ يَقُولُ ذَهَبَتْ بِي خَالَتِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ ابْنَ أُخْتِي وَجِعٌ فَمَسَحَ رَأْسِي وَدَعَا لِي بِالْبَرَكَةِ، ثُمَّ تَوَضَّأَ فَشَرِبْتُ مِنْ وَضُوئِهِ وَقُمْتُ خَلْفَ ظَهْرِهِ فَنَظَرْتُ إِلَى خَاتَمِ النُّبُوَّةِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ مِثْلَ زِرِّ الْحَجَلَةِ. [ر ١٨٧]

چه يو بچې مريض وى نوهغه دصالحانو ددعا دپاره پوتللې شى.اودده دپاره ترې دعاغوښتلې شى.حضرت امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې ددې ثبوت دحديث نه پيش كړې دې.دحديث مناسبت دباب نه بالكل ظاهر دې.اودا حديث په كتاب الطهارة كښې مخكښې تير شوې دې.[1]

قوله: مثل زرالحجلة :يعنى مهر نبوت دحجره عروسى دګهنډى په شان وو .

١٩-باب نهى تمنى المريض الموتَ

[٥٣٤٧] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضى الله عنه - قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «لاَ يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ مِنْ ضُرٍّ أَصَابَهُ، فَإِنْ كَانَ لاَ بُدَّ فَاعِلاً فَلْيَقُلِ اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي، وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي». [٥٩٩٠، وانظر: ٦٨٠٦]

په هندوستانى نسخوكښې «باب نهى التمنى المريض الموت» دې يعنى دمريض دپاره دمرګ تمنادنهى بيان دې.ليكن فتح البارى اوعمدة القارى نسخوكښې د «نهى»لفظ نشته دې.

قوله: حدثنا ادم : حضرت امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې څلورحديثونه ذكركړى دى.ړومبې حديث دحضرت انس رضى الله عنه نه دې. داحديث حضرت امام بخارى رحمه الله په ړومبى خل ذكر اوفرمائيلو [2]

حضرت نبى اكرم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه تاسو كښې دې يوسړې هغه مصيبت په وجه دمرګ خواهش نه كوى چه كوم دده ته رسيدلې دې اوكه څوك دمرګ دعاكوى نوپه دې الفاظو دې اووائى چه «اللهم احينى ماكانت الحياة خيراًلى وتوفنى اذا كانت الوفاة خيراًلى»

قوله: من ضراصابه :په دې كښې دضرر نه مراد دنياوى ضرردې.[3] يعنى دنياوى تكليف اونقصان په وجه دې يو سړې دمرګ خواهش نه كوى.نودابن حبان په روايت كښې دى چه «لايتمنين احدكم الموت لضرنزل به فى الدنيا»په دې حديث كښې «فى»كښې يو احتمال دادې

---

[1]) عمدة القارى:(٢١/٢٢٥)_

[2]) (٥٣٤٨) اخرجه البخارى ايضاً فى الدعوات.باب الدعاء بالموت والحياة (رقم الحديث :٥٩٩٠. وايضاً فى كتاب التمنى باب مايكره من التمنى (رقم الحديث : ٦٨٠٦) واخرجه السلم فى كتاب االذكر والدعاء باب تمنى كراهية الموت لضرنزل به :٤/٢٠٦٤. رقم الحديث : ٢٦٨٠)_

[3]) فتح البارى: (١٠/١٥٧)_

چه هغه سببیه وی «ای بسب امر من الدنیا»[1] که داخروی ضرر اندیښنه وی په فتنه کښې دمبتلا کیدوخطره وی نوپه داسې حالت کښې الله جَلّ جَلالُه نه دحفاظت سره ددنیانه درخصتیدو دعاکولې شی نودموطاامام مالك رحمه الله کښې دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه نه دادعامنقول ده.

«اللهم کبرت سنی وضعفت قوتی واستشرت رعیتی فاقبضنی الیك غیر مضیع ولا مفرط»[2] مسنداحمد په روایت کښې دی چه «اذا اردت فی قوم فتنة فتوفنی غیر مفتون»[3] معلومه شوه چه ددینی اندیښنه کښې دمرګ دعاکولې شی.

قوله فلیقل اللهم احینی : مقصددادې چه څوك په هر حال کښې دمرګ دعا اوتمنا کوی نوبیا دې صراحتا دمرګ دعا نه کوی ځکه چه مطلقاً دمرګ تمناکښې یوپه تقدیر باندې اعتراض دې. نوحضرت حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی چه :

«وهذا یدل علی ان النهی عن تمنی الموت مقید بها اذا لم یکن علی هذه الصیغة لان فی التمنی المطلق نوع اعتراض ومراغمة للقدر المحتوم وفی هذه الصورة المامور بها نوع تفویض وتسلیم للقضاء»[4]

[۵۳۴۸] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى خَبَّابٍ نَعُودُهُ وَقَدِ اكْتَوَى سَبْعَ كَيَّاتٍ فَقَالَ إِنَّ أَصْحَابَنَا الَّذِينَ سَلَفُوا مَضَوْا وَلَمْ تَنْقُصْهُمُ الدُّنْيَا وَإِنَّا أَصَبْنَا مَا لاَ نَجِدُ لَهُ مَوْضِعًا إِلاَّ التُّرَابَ وَلَوْلاَ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- نَهَانَا أَنْ نَدْعُوَ بِالْمَوْتِ لَدَعَوْتُ بِهِ، ثُمَّ أَتَيْنَاهُ مَرَّةً أُخْرَى وَهُوَ يَبْنِي حَائِطًا لَهُ فَقَالَ إِنَّ الْمُسْلِمَ لَيُؤْجَرُ فِي كُلِّ شَيْءٍ يُنْفِقُهُ إِلاَّ فِي شَيْءٍ يَجْعَلُهُ فِي هَذَا التُّرَابِ.
[۵۹۸۹، ۶۰۶۲، ۶۰۶۷، ۶۸۰۷، وانظر: ۱۲۱۷]

داحدیث هم حضرت امام بخاری رحمه الله دلته په رومبی ځل ذکرکړې دې. حضرت قیس بن ابی حازم رحمه الله فرمائی چه مونږ دحضرت خباب عیادت لره ورغلو. هغوی په خپل بدن باندې اووه خایه داغونه لګولی وو. په دې موقع باندې هغوی اوفرمائیل چه زمونږ کوم ملګری تیر شو. دنیادهغوی عمل کښې هیڅ کمی اونه کړه لیکن مونږ سره دومره مال راغلوچه دهغې دایښودوډپاره دښاورې نه سوامونږ سره بل ځائې نشته دې. اوکه حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم مونږ دمرګ دتمناکولونه نه منع کولونومابه دمرګ دعاکوله.

راوی وائی چه بیامونږ هغه له په دویم ځل ورغلو. هغوی خپل دیوال جوړولو په دې موقع باندې هغوی اوفرمائیل چه مسلمانانوته په هر څیزاجرملاویږی چه کوم خرچ کوی. سوادې نه چه کوم هغه په دې خاروکښې واچوی.

[1] فتح الباری: ۱۰/۱۵۷_
[2] الموطاللامام مالک رحمه الله، کتاب الحدود، باب ماجاء فی الرجم: ۲/۸۲۴_
[3] مسند امام احمدبن حنبل رحمه الله: ۵/۲۴۳، ۴/۶۶، ۵/۳۷۸_
[4] فتح الباری: ۱۰/۱۵۸_

قوله: وقد اكتوی سبع کیات: حضرت خباب رضی الله عنه چه په جسم کښې اووه داغونه لګولی وو. دترمذی په روایت کښې دی چه ((وقد اکتوی فی بطنه فقال اما اعلم احدًا من اصحاب النبی لقی من البلاء مالقیت))(۱) یعنی څومره تکلیف چه ما اوچت کړو په صحابه کرامو رضی الله عنهم نبې به چانه وی اوچت کړې.

علامه ابن الملقن فرمائی چه دترمذی په دې حدیث کښې د ((لقی من البلاء)) نه آزمینت مراداخستې شی چه په یوزمانه کښې یودرهم هم ماسره نه وواواوس په زرګونودرهمونه دی. نودترمذی په دې روایت کښې دی چه ((لقد کنت وما اجد درهماً علی عهد رسول الله وفی ناحیة بیتی اربعون الفاً))(۲)

لیکن ظاهر رومبې مطلب دې چه هغوی ته داسلام قبلولونه پس ډیر تکلیفونه اوغمونه ورکړې شوی وو. فرمائیل به ئې چه مشرکانو به اور لګولو اوزما د ملا په چربئ به اورمړ کیدو(۳)

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه به هغه خپل ځان سره نزدې کینولو اوفرمائیل به ئې چه په دې مجلس کښې ستاسونه زیات هیڅوك ددې مجلس مستحق نه دی بغیر د عمار نه. بیا به ئې مجلس والوته دعمار دجسم داغونه خودل.(۴) هغه دسابقینو اولینو نه وو. اوپه شپږم نمبر هغوی اسلام قبول کړې وو.(۵)

حضرت علی رضی الله عنه چه کله دجنګ صفین نه واپس راغلونوهغوی دکوفې دروازې سره اووه قبرونه اوکتل. تپوس ئې اوکړوچه دادچاقبرونه دی. خلقو اووئیل چه په دې کښې یو قبر دحضرت خباب بن الارت رضی الله عنه دې نوحضرت علی وفرمائیل چه.

((رحم الله خباباً لقد اسلم راغباً وهاجر طائعاً وعاش مجاهدًا وابتلی فی خمسة احوالاً ولن یضیع الله اجرًا من احسن عملاً ثم قال: طوبی لمن ذکر المعاد وعمل للحساب وقنع بالکفاف ورضی عن الله عزوجل))(۶)

ددیرشتو کالوپه عمر کښې دهغوی وفات په ۳۷ هجرئی کښې اوشودهغوی نه ۳۲ احادیث مروی دی.(۷) بهر حال دهغه په شا کښې اووه داغونه وو. چه دهغې په وجه هغه ډیر تکلیف

---

(۱) سنن الترمذی، کتاب الجنائز باب ماجاء فی النهی عن التمنی للموت: ۳/۳۰۱، رقم الحدیث: ۹۷۰)_

(۲) سنن الترمذی، کتاب الجنائز باب ماجاء فی النهی عن التمنی للموت: ۳/۳۰۱، رقم الحدیث: ۹۷۰)_

(۳) حلیة الاولیاء لابی نعیم: ۱/۱٤٤)_

(۴) سیر اعلام النبلاء: ۲/۳۲٤، رقم الحدیث: ۶۲، وطبقات ابن سعد: ۳/۱۶۵)_

(۵) الاصابه فی تمیز الصحابه: ۱/٤۱۶، رقم التراجمة: ۲۲۱۰) وحلیة الاولیاء: ۱/۱٤٤)_

(۶) وحلیة الاولیاء: ۱/۱٤٤)_

(۷) سیراعلام النبلاء: ۲/۳۲٤، دهغوی حالات دپاره اوګورئی: تهذیب الکمال: ۷/۲۱۹، والعلل للمدینی: ۵۰، وطبقات خلیفة: ۱۷،۱۲۶، وتاریخ الطبری: ۳/۵۷۹، والعقد الفرید: ۳/۳۳۸، معجم الطبرانی الکبیر: ٤/ الترجمة: ۳۶٤، والکامل لابن اثیر: ۲/۶۹، وتهذیب الاسماء واللغات: ۱/۱۷٤، وتجرید اسماء الصحابة: ۱/۱۵٤)_

كښې وو .ددې وجې ئې اوفرمائيل كه دمرګ دعاجائزوه نوهغوى به دځان دپاره دمرګ تمناكوله. په جسم كښې داغونه لګول جائزدى اوكه ناجائز؟ دامسئله مخكښې په كتاب الطب كښې راځى.

قوله: ان اصحابنا الذين سلفوا مضوا ولم تنقصهم الدنيا: يعنى زمونږ هغه ملګرى چه ددنيانه تيرشو،اودحضرت نبى كريم ﷺ په زمانه كښې دهغه وفات اوشو، دنياد هغه په ثواب كښې هيڅ كمې اونه كړو. ددې نه خويا هغه مخصوص صحابه كرام ﷡ مراددى چه دمالدارئ نه مخكښې مخكښې ددنيانه رخصت شوى وو.اودمال دزياتى اوددولت دوسعت په زمانه كښې هغوى نه وو.مطلب دادې چه هغه خلق به خپل اجر وثواب ذخيره به په آخرت كښې مومى.(١)

او يا ددې نه مخكښې وفات شوى مالداراوفقير ټول صحابه كرام مراددى،ددې وجې د عهدنبوى كښې كوم صحابه كرام ﷡ مالدار وو.دمال دكثرت په وجه په هغوى اثرنه ووشوې، دنيكئ په كارونوكښې دهغوى مال په كثرت سره خرچ شوې ووځكه چه په هغه وخت كښې ضرورت زيات وو. ورسره مال ډير شو. او مال والو دپاره دمال خرچ كولو موقعې دمخكښې نه زياتې نه وې. ددې وجې حضرت خباب ﷛ اوفرمائيل چه «وانا اصبنا مالانجدله موضعا الا التراب» يعنى اوس دمال دنباورې نه سوا بل ځائې دمال خرچ كولو نشته. ددې نه مراد تعميرات دى چه اوس دمال صرف كولوهيڅ ځائې پاتې نشو.خلق ئې په تعميراتو كښې لګوى. داخبره حضرت خباب ﷛ چه په كوم وخت كښې كړې وه.په هغه وخت كښې هغوى په خپله هم ديوال جوړولو.لكه څنګه چه روايت كښې دى.(٢)

قوله: ان المسلم ليوجر فى كل شئ ينفقه الا فى شئ يجعله فى هذا التراب: يعنى مسلمان چه څه هم خرچ كوى په هغې باندې ده ته اجر ملاويږى ليكن څه چه دضرورت نه زيات خرچ كوى نوپه هغې باندې هيڅ قسمه اجر نه ملاويږى. داجمله دلته موقوفاً نقل كړې شوې ده.يعنى دحضرت خباب ﷛ دقول په طرزباندې منقول ده.البته دطبرانى ﷀ په يو روايت كښې دامرفوعاً منقول دى. په هغې كښې دى چه «وهويعالج حائطاله فقال: ان رسول الله ﷺ قال: ان المسلم يوجرفى نفقة كلها الا ما يجعله فى التراب»(٣) ليكن په دې طريق كښې عمر بن اسماعيل يوراوى دې.يحيى بن معين هغوى ته كاذب وئيلى دى.(٤) البته داصول حديث په كتابونو كښې داخبره تيره شوې ده چه ثواب اواجر سره متعلق داشان موقوف احاديث هم

(١) فتح البارى: ١٠/١٥٩، عمدة القارى:٢١/٢٢٦)_
(٢) فتح البارى: ١٠/١٥٩، عمدة القارى:٢١/٢٢٦)_
(٣) فتح االبارى:١٠/١٥٩،. عمدة القارى: ٢١/٢٢٦، وارشادالسارى: ١٢/٤٠٣)_
(٤) فتح االبارى:١٠/١٥٩، عمدة القارى: ٢١/٢٢٦.)_

دمرفوع په حکم کښې دی.(١)

٥٣٤٩ حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو عُبَيْدٍ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «لَنْ يُدْخِلَ أَحَدًا عَمَلُهُ الْجَنَّةَ». قَالُوا وَلاَ أَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ «لاَ، وَلاَ أَنَا إِلاَّ أَنْ يَتَغَمَّدَنِي اللَّهُ بِفَضْلٍ وَرَحْمَةٍ فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا وَلاَ يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ إِمَّا مُحْسِنًا فَلَعَلَّهُ أَنْ يَزْدَادَ خَيْرًا، وَإِمَّا مُسِيئًا فَلَعَلَّهُ أَنْ يَسْتَعْتِبَ». [٦٨٠٨، ٦٠٩٨]

٥٣٥٠ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - وَهُوَ مُسْتَنِدٌ إِلَيَّ يَقُولُ «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَأَلْحِقْنِي بِالرَّفِيقِ الأَعْلَى». [ر: ۴۱۷۱]

حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دیو سړی عمل هغه لره جنت ته نشی داخلولی. حضرات صحابه کرامو ﷺ عرض اوکړوچه یارسول الله تاسولره هم حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه نه مالره هم نه: مګرداچه الله تعالی مالره په خپل فضل اورحمت کښې اونغاړی. اوتاسو کښې دې هیڅوك دمرګ خواهش نه کوی، ددې وجې چه هغه خوبه یا نیکوکاروی نوامیددې چه الله جل جلاله به دده په نیکئ کښې اضافه اوکړی. اوکه بدکاروی نوامیددې چه هغه توبه اوکړی.

یو اشکال اودهغې جواب:

قوله لن يدخل احدا عمله الجنة: په دې باندې دقرآن پاك دآیت نه اشکال دې، په آیت کریمه کښې دی چه «وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ»(٢) یعنی داهغه جنت دې چه ددې تاسو دعملونو په بدله کښې وارثان جوړشوی یئ.

① ددې جواب داورکړې شوې دې چه په آیت کریمه کښې دجنت نه مراددرجې اومنازل دی ځکه چه دجنت په اعمالوسره متعین کیږی. ځکه چه دجنت درجات مختلف اومتفاوت دی، نوچه دچاڅومره عمل نیك وی هومره به دهغه په جنت کښې رتبه وی اوپه حدیث باب کښې دی. چه دجنت نه نفس جنت ته داخلیدل مراد دی. یعنی اصل جنت کښې به دخول دڅه عمل په نتیجه کښې نه وی بلکه دالله جل جلاله فضل اوکرم سره به وی. البته مراتب به هلته داعمالو په اعتبارسره ملاویږی.(٣)

② علامه عینی رحمه الله ددې یوجواب داورکړې دې چه (بِمَا كُنتُمْ) کښې ..باء.. سببیه نه ده بلکه ..باء.. دالصاق اومصاحبت دپاره ده.«ای اورثتموها مصاحبة اوملابسة لثواب اعمالکم»(٤)

---

(١) ظفرالامانی : ٣٢٣. (وشرح نخبة الفکر، بحاشیه عبدالله، خاطر : ٩٤، وتدریب الراوی :ص/١١٤، ٩٠١. (النوع السابع الموقوف) وتیسیر مصطلح الحدیث : ١٣١)_

(٢) (الزخرف:٧٢)_

(٣) .رشاد الساری :٣٠٤/٢١)_

(٤) عمدة القاری:٢٢٧/٢١)_

داهل سنت والجماعت په نیز دثواب اودعذاب ثبوت په عقل سره نه بلکه په شرع سره دي.
که الله تعالی ټولو مومنانوته عذاب ورکړی نو بیاهم دادعدل اوانصاف خلاف نه دی.
اودابیله خبره ده چه الله جل جلاله پخپله فرمائیلی دی چه هغه دمومن مغفرت فرمائی.اوصرف فاسقانو اوکافرانو ته به عذاب ورکوی.
معتزله دعقل په ذریعه باندې دثواب اودعقاب دثبوت قائل دی.وائی چه طاعت موجب دثواب اومعصیت موجب دعقاب دي.داحدیث دهغوی خلاف حجت دي.[1]
لیکن په دې باندې دقران یوبل آیت کریمه نه به اعتراض کیدې شی.سورة نحل کښې دی چه ((سلام علیکم ادخلوا الجنة بما کنتم تعملون)) [2]په دې کښې تصریح ده چه دخول جنت به داعمالو په وجه وی.
① ددې یوجواب دادې چه په دې آیت کریمه کښې هم دجنت منازل مراددی.اومطلب دادې چه ((ادخلوا منازل الجنة وقصورها بما کنتم تعملون))
② اودوئم جواب دادې چه دلته دالله جل جلاله درحمت قید معهوددې.یعنی ((ادخلوها بما کنتم تعملون مع رحمة الله لکم وتفضله علیکم))[3]

قوله: فسددوا وقاربوا:((سددوا ای اقصدوا السداد ای الصواب وهوما بین الافراط والتفریط)) یعنی نیکی اومیانه روی اختیارکړئې اوکه هغه نشئ اختیارولې نو دې ته دنزدې تلوکوشش اوکړئې [4]د ((سددوا))بله معنی داده چه خپل اعمالولره درست کړې. اود((قاربوا)) معنی ده دالله جل جلاله قربت طلب کړئې.[5]

قوله: ولا یتمنین احدکم الموت:په یوروایت کښې دی چه دې نه پس دااضافه هم ده چه ((ولا یدع به من قبل ان یاتیه))یعنی دمرګ راتلو نه مخکښې ددې دعاکول پکارنه دی لیکن دمرګ وخت چه نزدې راشی نوبیاددې دعاکولې شی.[6]
بعضې حضراتو اووئیل چه دمرګ دتمنا کولو داحکم دیوسف علیه السلام دقول ((توفنی مسلما والحقنی بالصالحین)) [7]سره منسوخ کړې شوې دې،داشان دحضرت سلیمان علیه السلام قول په قران پاك کښې نقل کړې دې. ((وادخلنی برحمتك فی عبادك الصالحین)) [8]دباب آخری حدیث کښې

---

[1]) عمدة القاری:۲۱/۲۲۷)_
[2]) سورة نحل :۳۲)_
[3]) ارشادالساری: ۱۲/٤٠٤)_
[4]) عمدة القاری:۲۱/۲۲۷)_
[5]) عمدة القاری:۲۱/۲۲۷)_
[6]) فتح الباری: ۱۰/۱٦٠)_
[7]) سورة یوسف: ۱٠۱)_
[8]) سورة النمل :۱۹)_

دحضرت نبی اکرم ﷺ ارشاد دې چه ((اللهم بالرفيق الاعلى)) او دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه دمرګ دپاره دعا مخکښې تیرشوی دی. ددې نصوصو په وجه داحکم منسوخ شوې دې.[1]

خوداقول درست نه دې. دحضرت یوسف علیه السلام اودحضرت سلیمان علیه السلام دقول جواب خوورکړې شوې دې. چه هغوی دمرګ دپاره دعانه ده کړې. بلکه دائې ووئیلی دی چه دمرګ په وخت دی کښې دخاتمه بالخیر وی اودایمان حالت کښې دې وفات وی. ((ای توفنی مسلماً عندحضور اجلی))

دوئم جواب داورکړې شوې دې چه کله زمونږ دشریعت یوحکم راشی نو بیا ((شرائع من قبلنا)) زمونږ دپاره حجت نه دې. زمونږ دپاره زمونږ شریعت حجت دی.[2]

اویوجواب دادې چه هغوی دمرګ دوخت دقریب راتلودعاکړې وه. چه د هغې جواز دادې څکه چه په کوم روایت کښې دمرګ دتمنانه منع کړې شوې ده. په هغې کښې د((من قبل ان یاتیه)) قید دې.[3]

قوله: <u>اما محسناً فلعله ان یزداد خیرًا واما مسیئاً فلعله ان یستعتب</u>: یاخوبه هغه نیکوکاروی نوامیددې چه په خپله نیکړه کښې به اضافه اوشی اویاکه بدکار وی نوامید دې چه هغه به د الله جل جلاله رضاطلب کړی اوتوبه به اوباسی.

((یستعتب یطلب العتبیٰ وهوالارضاء ای یطلب رضا الله بالتوبة))[4]

یو اشکال اودهغې جوابونه: حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله دحضرت ابو هریره رضي الله عنه نه یو روایت نقل کړې دې چه په هغې کښې دی چه ((وانه لایزید المؤمن عمره الاخیرًا))[5] دمومن عمر چه څومره اوږد وی نو دومره به دهغه نیکئ هم ډیرې وی، مرګ سره خوعمل منقطع کیږی، په دې باندې اشکال کیدیشی که یوسړې بدکار دې نودده په اوږدعمرکښې خیرنشته دې، د شراضافه به کیږی. ددې اشکال مختلف جوابونه ورکړې شوی دی.

① لایزید المؤمن عمره الا خیراً، کې دمومن نه مومن کامل مراددې. لیکن حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله داجواب بعید ګرځولې دې.

② په دې حدیث کښې غالب مومنینو په اعتبارسره اووئیلې شو چه دده اوږد عمر په حسنات کښې د اضافې سبب دې. اوس که یونیم مسلمان داسې دې چه په عمرکښې د اضافه دهغه دپاره حسنات په ځائې دسئیات سبب جوړیږی نوهغه نادردی غالب نه دی.[6]

---

[1] فتح الباری: ۱۰/۱۶۰_

[2] فتح الباری: ۱۰/۱۶۰_

[3] فتح الباری: ۱۰/۱۶۰_

[4] عمدة القاری: ۲۱/۲۲۷، وارشادالساری: ۱۲/٤٠٤_

[5] فتح الباری: ۱۰/۱۲۱_

[6] فتح الباری: ۱۰/۱۲۱_

دباب په آخري حديث كښې دى چه «اللهم اغفرلي وارحمني والحقني بالرفيق الاعلى» حضرت نبى كريم ﷺ په مرگ الوفات كښې دادعا كړې وه. ددې تفصيل په كتاب المغازى كښې تير شوې دې.[1]

د باب دوه روايتونه يوځائې ذكركولو كښې نكته حضرت امام بخارى رحمه الله د «ولا يتمنين احدكم الموت» والا حديث نه پس «اللهم بالرفيق الاعلى» والا روايت ذكر كړو. لكه څنګه چه تير شو. د «لايتمنين أحدكم الموت» نه پس يو روايت كښې د «ولايدع به قبل ان يأتيه» قيد دې چه دمرگ خواهش اودمرگ دعادمرگ راتلونه مخكښې درست نه دى. ليكن كه دمرگ آثارظاهر شى.نوپه هغه وخت كښې دمرگ دزرراتلو دعا كولې شى لكه څنګه چه حضرت نبى كريم ﷺ «اللهم بالرفيق الاعلى» اووئيل اومرگ ته نيزدې ئې دادعااوكړه. هم ددې نكتې په وجه حضرت امام بخارى رحمه الله دا دواړه روايتونه يوځائې ذكر اوفرمائيل نو حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله ليكى چه

«وزاد (اى فى رواية ابى هريرة) بعد قوله: احدكم الموت ولا يدع به من قبل ان يأتيه وهو قيد فى الصورتين ومفهومه انه اذاحل به لايمنع من تمنية رضا بلقاء الله، ولامن طلبه من الله لذلك، وهوكذلك ولهذه النكتة عقب البخارى حديث ابى هريرة بحديث عائشة رضي الله عنها: اللهم اغفرلى وارحمنى والحقنى بالرفيق الاعلى اشارة الى ان النهى مختص بالحالة التى قبل نزول الموت فلله دره ماكان اكثر استحضاره وايثاره للا خفى على الاجلى شحذ اللذهان وقدخفى صنيعه هذا على من جعل حديث عائشة فى الباب معارضاً لاحاديث الباب اوناسخاً لها»[2]

۲۰- باب دعاء العائد للمريض

وَقَالَتْ عَائِشَةُ بِنْتُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهَا «اللَّهُمَّ اشْفِ سَعْدًا». قَالَهُ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم-.

[۵۳۵۱] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُوعَوَانَةَ عَنْ مَنْصُورٍعَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ -رضى الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ إِذَاأَتَى مَرِيضًا- أَوْأُتِيَ بِهِ- قَالَ «أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ، اشْفِ وَأَنْتَ الشَّافِي لاَشِفَاءَإِلاَّشِفَاؤُكَ، شِفَاءًلاَ يُغَادِرُسَقَمًا».

قَالَ عَمْرُوبْنُ أَبِي قَيْسٍ وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ عَنْ مَنْصُورٍعَنْ إِبْرَاهِيمَ وَأَبِي الضُّحَى إِذَا أُتِيَ بِالْمَرِيضِ، وَقَالَ جَرِيرٌعَنْ مَنْصُورٍعَنْ أَبِي الضُّحَى وَحْدَهُ، وَقَالَ إِذَاأَتَى مَرِيضًا.
[۵۴۱۸، ۵۴۱۲، ۵۴۱۱]

دحضرت امام بخارى رحمه الله مقصد دادې چه عيادت كونكى ته پكاردى چه دمريض دپاره د

---

[1] كشف البارى: كتاب المغازى: ۶۷۸)_

[2] فتح البارى: ۱۰/۱۶۰)_

شفا دعا اوكړي.حضرت نبی كريم لره به چه كله يو مريض راوستلې شو.يا چه كله به حضرت نبی كريم ﷺ يو مريض لره تشريف يوړو نودعا به ئي كوله چه
«اذهب الباس رب الناس اشف وانت الشافي لا شفاء الا شفاءك شفاء لايغادر سقماً»

قوله: شفاء لا يغادر سقماً: داسې شفاء چه بيماري پرې نږدي.حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله ليكي چه:

«وفائدة التقييد بذلك انه قد يحصل الشفاء من ذالك المرض فيخلفه مرض اخر يتولد منه فكان يدعوله بالشفاء المطلق لا بمطلق الشفاء»(١) يعنى اكثر سړي د يو بيمارئى نه خو شفاياب شى ليكن په دي پسې بله بيمارئي كښې اخته شى.ددې وجې حضرت نبى كريم ﷺ صرف ددي بيمارئى نه دشفاء دپاره دعا اونه كړه بلكه مطلقاً دهرې بيمارئى نه ئي دشفادعا اوكړه.دباب په آخر كښې دابراهيم بن طهمان تعليق لره اسماعيلى اوجرير په طريق امام ابن ماجه موصولاً نقل كړې دي.(٢)

يو اشكال اوهغې جواب: دمريض دپاره دمرض نه دشفاء دعا غوښتلې شوې دة،حالانكه مرض دګناهونو كفاره دي.اود اخروى ثواب ذريعه دة،چه په حقيقت كښې دمومن بنده په حق كښې يو نعمت دي.نو دده دشفاء دعاولي غوښتلي شي؟
ددې جواب دادې چه دعاعبادت دي اودا دثواب اوكفارې منافى نه دہ ځكه چه دبيمارئى دانسان دپاره دګناهونو كفاره جوړيدل اوپه دې باندې سړى ته اجراوثواب ملاويدل خو ابتدائي مرض نه حاصليږى.ددې وجې دمرض برقرارپاتې كيدل خوضرورى نه دى.ددې وجې مريض لره دعا.دمرض نعمت دجهت منافى نه دہ.(٣)

۲۱ - باب وضوء العائد للمريض

[۵۳۵۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنهما - قَالَ دَخَلَ عَلَى النَّبِىِّ - صلى الله عليه وسلم - وَأَنَا مَرِيضٌ فَتَوَضَّأَ فَصَبَّ عَلَىَّ أَوْ قَالَ صُبُّوا عَلَيْهِ فَعَقَلْتُ فَقُلْتُ لاَ يَرِثُنِى إِلاَّ كَلاَلَةٌ، فَكَيْفَ الْمِيرَاثُ فَنَزَلَتْ آيَةُ الْفَرَائِضِ.[ر: ۱۹۱]

دحضرت امام بخارى رحمه الله مقصد ددې باب نه دادې كه دمريض عيادت دپاره راتلونكې څوك بزرګ سړى اورجل صالح وى اوهغه دمريض دپاره اودس كوى او داشان د اودس نه بچ شوې اوبه په طوردتبرك په مريض باندې اوشيندى نو په سنت كښې ددې ګنجائش موجوددې(٤)

(١) فتح البارى: ١٠/١٦٢. اوګورئى :ارشادالسارى: ١٢/٤٠٦_
(٢) فتح البارى: ١٠/٦٢. وارشادالسارى: ١٢/٤٠٦.عمدة القارى:٢١/٢٢٨_
(٣) فتح البارى:١٦٢.١٦٣/١٠_
(٤) الابواب والتراجم : ٢/٩٩. وارشاد السارى: ١٢/٤٠٧_

نو په حديث باب كښې دى چه حضرت نبى كريم ﷺ اودس اوكړو. حضرت نبى كريم ﷺ دحضرت جابر رضی الله عنه دعيادت دپاره تشريف اوړې وو. د اودس نه پس ئې اوفرمائيل چه دابچ شوې اوبه په جابر رضی الله عنه باندې اوشيندئى نوهغه اوبه په هغه باندې اوشيندلې شوې. دتبې بعضې قسمونو كښې يخې اوبه په بدن باندې اچول مفيد وى بعض حضرات وائى چه حضرت جابر رضی الله عنه داشان تبه كښې مبتلاء وو. ددې وجې حضرت نبى كريم ﷺ د اوبو شيندلو حكم وركړو.

٢٢-باب من دعا برفع الوباء والحمى

[٥٣٥٣] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ-رضي الله عنها- أَنَّهَا قَالَتْ لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم- وُعِكَ أَبُو بَكْرٍ وَبِلاَلٌ قَالَتْ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِمَا فَقُلْتُ يَا أَبَتِ كَيْفَ تَجِدُكَ وَيَا بِلاَلُ كَيْفَ تَجِدُكَ قَالَتْ وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ إِذَا أَخَذَتْهُ الْحُمَّى يَقُولُ:

كُلُّ امْرِئٍ مُصَبَّحٌ فِي أَهْلِهِ ... وَالْمَوْتُ أَدْنَى مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ

وَكَانَ بِلاَلٌ إِذَا أُقْلِعَ عَنْهُ يَرْفَعُ عَقِيرَتَهُ فَيَقُولُ:

أَلاَ لَيْتَ شِعْرِي هَلْ أَبِيتَنَّ لَيْلَةً ... بِوَادٍ وَحَوْلِي إِذْخِرٌ وَجَلِيلُ

وَهَلْ أَرِدَنْ يَوْمًا مِيَاهَ مِجَنَّةٍ ... وَهَلْ تَبْدُوَنْ لِي شَامَةٌ وَطَفِيلُ

قَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ فَجِئْتُ رَسُولَ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم- فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ «اللَّهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا الْمَدِينَةَ كَحُبِّنَا مَكَّةَ أَوْ أَشَدَّ وَصَحِّحْهَا وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِهَا وَمُدِّهَا وَانْقُلْ حُمَّاهَا فَاجْعَلْهَا بِالْجُحْفَةِ». [ر: ١٧٩٠]

دوباء لفظ بعينه په اردوكښې هم په دې معنى كښې استعماليږى چه په كومه معنى كښې په عربئ كښې مستعمل دې امراض اودبيمارو دعام كيدو اودمخصوص بيماروخوريدوته وبا وائى بعضو دوباء اطلاق په طاعون باندې كړې دې. طاعون هم درحقيقت دوباء يوقسم دې.(١)

شيخ الحديث حضرت مولانامحمدزكريا رحمه الله ددې ترجمة الباب غرض بيان كړې دې، اوفرمائى چه تبه اوطاعون دواړه دشهادت په اسبابو كښې شمارلې شوى دى، اودا دواړه كفاره دسيئاتو هم دى. لهذا چاته وهم كيديشى چه كوم سړې په دې كښې مبتلاء شى. ددې دوجې مناسب نه دى چه ددې د دفع كولو دعا اوكړى. ددې وهم دفع كولودپاره حضرت امام بخارى رحمه الله داباب قائم كړې دې. نو هغه ليكى چه

«وما يظهر لهذا العبد الضعيف من الترجمة انه انما ترجم بذالك لئلا يتوهم ان لا ينبغى الدعاء برفع الوباء والحمى فانهما من اسباب الشهادة وكفارة السيئات فان الطاعون من اسباب الشهادة لقوله عليه السلام المطعون شهيد»(٢)

---

(١) ارشادالسارى: ١٢/٤٠٧. عمدة القارى: ٢١/٢٢٩)_

(٢) الابواب والتراجم: ٢/٩٩)_

په ترجمة الباب كښې دوباء ذکردې ليکن په حديث کښې ددې ذکر نشته دې. علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه ددې حديث بعضې طرق کښې دوباء هم ذکر دې. نود کتاب الحج په آخرکښې ددې يو طريق تيرشوې دې، په هغې کښې حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه

«قدمنا المدينة وهي اوبأ أرض الله»[1]

دوباء دلرې کولو دپاره دعا اشکال داهم کيدشی چه دا دعابرفع الموت لره متضمن ده. اودمرګ يووخت مقرر دې. ددې دفع کولودپاره دعاکول يوعبث کاردې.

ددې جواب دادې چه دعا بذا ت خوديو عبادت دې اودعمرددرازئې دپاره دعاغوښتل فعل عبث نه دې. نوعلامه قسطلانی ليکی چه:

«واستشكل ايضاً الدعاء برفع الوباء لانه يتضمن الدعاء برفع الموت والموت حتم مقضي فيكون ذالك عبثاً

واجيب: بانه لاينافي التعبد بالدعاء لانه قديكون من جملة الاسباب في طول العمراو رفع المرض»[2]

قوله: يرفع عقيرته: «عقيرة» آواز ته وائی. يعنی هغه اوچت آوازسره شعرونه وئيل.

٧٩- كتاب الطّب

(الاحاديث: ٥٣٥٤_ ٥٤٤٥)

په کتاب الطب کښې اته پنځوس (٥٨) ابواب اويوسل اواتلس احاديث دی. اتلس (١٨) معلق اوباقی موصول دی. پنځه اتيا (٨٥) احاديث مکرر اودرې ديرش (٣٣) احاديث په رومبی ځل راغلی دی په دې درې ديرشو کښې پنځويشت احاديث متفق عليه دی. دصحابه کرام رضي الله عنهم وغيره نه شپاړس آثار حضرت امام بخاری رحمه الله په کتا ب الطب کښې ذکر کړې دی. زمونږ په دې جلد کښې دکتاب الطب دپنځويشت بابونو تشريح راغلی ده. باقی ابواب به ان شاء الله مخکښې راشی.

[1] ارشاد الساري: ١٢/٤٠٨_
[2] ارشاد الساري: ٢١/٤٠٨_

بسم الله الرحمٰن الرحیم

۷۹- کتاب الطب

دکتاب الطب مناسبت د کتاب المرضٰی سره ظاهر دې دصغانی نسخه کښې «الطب» نه پس د «الادویة» اضافه ده.[1]

دطب لغوی او اصطلاحی معنی: دطب طاء باندې درې واړه اعراب درست دی.دطب لفظی معنی دعلاج اودمرض دواړودپاره استعمالیږی دا داضدادنه دې.[2]

دطب لفظ دسحر دپاره استعمالیږی.نوچه کوم سړی باندې جادوشوې وی،هغه ته مطبوب وائی.یوحدیث کښې دی چه «رجل مطبوب ای مسحور».[3]

دراصل زمانه جاهلیت کښې داهل عرب خیال ووچه دسړی دبیمارئی سبب سحر دې. دجادو اوسحر په وجه سړی بیماریږی. ددې وجې طب دسحر په معنی کښې استعمالیږی.[4]

دعلم طب اصلاحی تعریف دادې «هوعلم یتعرف منه احوال بدن الانسان من جهة ما یصح ویزول عن الصحة لیحفظ الصحة الحاصلة ولیسترد هازائلة».[5]

یعنی علم طب سره دصحت اوعدم صحت نقطه نظر سره معلومات حاصلیږی.چه موجوده صحت برقراراوساتې شی،اوزائل شوې صحت واپس شی.

دطب قسمونه: بیاپوهه شئ چه دطب دوه قسمونه دی. یوطب الارواح دې اودوئم طب الابدان. طب الارواح خودحضرات انبیاءکرام ﷺسره خاص دې،د طب الابدان دوه قسمونه دی. یوهغه چه دحضور ﷺ نه منقول دې،حضرت نبی کریم ﷺ نه منقول طب ابو نعیم اصفهانی په یو رساله کښې جمع کړی دی،علامه ابن القیم رحمه الله ددې ښه ډیره ذخیره په «زادالمعاد» کښې جمع کړې ده[6]،چه دابعضو خلقو د«طب النبی لابن القیم»نوم سره شائع کړې ده،اوپه اردوکښې هم ددې ترجمه شوې ده.[7]

اودوئیمه حصه هغه ده چه انسان تجربات سره په وجود کښې راغلې ده.ددې هم دوه قسمونه دی. یوقسم هغه دی چه په هغې کښې دغوروفکرضرورت نه وی،قدرت پخپله په جاندار

---

[1]) اوګورئی فتح الباری : ۱۰/۱۶۵، ارشاد الساری:۹/٤۰۹/۱۲)_

[2]) اوګورئی فتح الباری:۱۰/۱۶۵، عمدة القاری : ۲۱/۲۲۹،ارشاد الساری:۹/٤۰۹/۱۲)_

[3]) الحدیث اخرجه البخاری فی کتاب الطب،باب السحر : ۵/۲۱۷۶، (رقم الحدیث: ۵٤۳۳) واخرجه المسلم فی کتاب السلام باب السحر(رقم الحدیث : ۲۱۸۹) واخرجه النسائی فی کتاب الطب، باب السحر:٤/۳۸۰) رقم الحدیث : ۷۶۱۵) واخرجه ابن ماجه فی کتاب الطب،باب السحر :۲/۱۱۷۶). (رقم الحدیث : ۳۵٤۵)

[4]) اوګورئی فتح الباری:۱۰/۱۶۵، عمدة القاری:۲۱/۲۲۹)_

[5]) اوګورئی فتح الباری:۱۰/۱۶۵، عمدة القاری: ۲۱/۲۲۹، وارشاد الساری: ۹/٤۰۹/۲۱)_

[6]) اوګورئی فتح الباری: ۱۰/۱۶۵، زادالمعاد فصل فی علاجه (ص) لامراض القلوب وامراض البدن :٤/۵)

[7]) داکتاب دارالاشاعت کراچې نه شائع شوې دې_

كنبې دهغې دعلاج علم اېښودې دې،لکه دتندې علاج اوبه او اولږې علاج غذا ده.اودوئيم قسم هغه دی چه په هغې کنبې دغوروفکر ضرورت وی لکه نورې بيمارئی په انسان راځي.ددې بيمارو علاج دخلقو دتجربو سره په وجود کنبې راغلې دې.[1]

بيا څنګه چه دبيمارئې دوه قسمونه دی. ①روحانی ②جسمانی

دغه شان دعلاج هم دوه قسمونه دی.

① **طبعي او جسماني**: دا دمفرداتو په شکل کنبې وی،اومرکبات په صورت کنبې هم.

② **روحاني او لساني**: حضرت نبی کریم ﷺ دخپل امت دپاره دوه قسمه علاجونه اختيارکړی دی. ظاهری اوطبعي دوايانې هم اختيارفرمائيلي،اوباطنی اوروحانی علاجونه هم.[2]

امام بخاری رحمه الله په دې باب کنبې دطب الابدان ذکر دې چه کومه حضرت رسول الله ﷺ نه منقول ده لکه څنګه چه طب نبوی ﷺ سره تعبيرکوی.

د جسماني طب مدار: د جسمانی طب مدار په درې څيزونو باندې دې، يو د صحت حفاظت. دويم د نقصان ورکونکې څيزونو نه پرهيز او دريم د فاسدې مادې وتل. په قران کريم کنبې دې درې واړو ته اشاره شوې ده.

په سورة بقره کنبې دی. ﴿فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ﴾ په سفر کنبې چونکه تکليف وی کوم چې د صحت د پاره نقصان ده وی. اوس که په دې کنبې روژه اونيولې شی نو د صحت د نور خرابيدو امکان دې، ځکه صحت صحيح ساتلو د پاره د روژې د نه نيولو حکم ورکړې شوې دې.

د قران کريم په يو بل ايت کنبې دی ﴿وَلَا تَقْتُلُوْا اَنْفُسَكُمْ﴾[3] ددې نه دا مسئله اخستلې شوې ده که د يخو اوبو استعماليدو باندې د هلاکت ويره وی نو په داسې صورت کنبې د تيمم اجازت دې. د نقصان ورکونکې څيزونو نه ځان بچ ساتل دې نه په پوه کنبې راځي.

او دريم څيز دې د فاسد مادې د وتل، دې طرف ته د قران کريم ايت ﴿اَوْ بِهٖۤ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ فَفِدْيَةٌ﴾[4]کنبې اشاره ده چې محرم لره که سپږې وغيره تنګوی او تکليف ورکوی نو هغه دا تکليف د ځان نه لرې کولې شی،دغه شان حافظ ابن حجر ليکی:

ومدار ذلک على ثلاثة اشياء: حفظ الصحة، والاحتماء عن المؤذى، استفراغ المادة الفاسدة. قد اشير الى الثلاثة فى القران. فالاول من قوله تعالى ﴿فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ﴾ وذلک ان لسفر مظنة النصب، وهو من مغيرات الصحة. فاذا وقع فيه الصيام ازداد فابيح الفطر ابقاء على الجسد، وكذا القول فى المرض الثانى وهو الحمية من قوله تعالى ﴿وَلَا تَقْتُلُوْا اَنْفُسَكُمْ﴾ فانه استنبط منه جواز التيمم عند خوف استعمال الماء البارد. والثالث من قوله تعالى ﴿اَوْ بِهٖۤ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ فَفِدْيَةٌ﴾ فانه اشير بذلک الى جواز حلق

---

[1] اوګورئی فتح البارى:۱۰/۱۶۵، عمدة القارى: ۲۱/۲۲۹، وارشاد السارى: ۲۱/٤۰۹)_

[2] اوګورئی فتح البارى :۱۰/۱۶۵، عمدة القارى:۲۱/۲۲۹، وارشاد السارى: ۲۱/٤۰۹)_

[3] (النساء)-

[4] (البقرة ۱۹۶)-

الراس الذی منع منه المحرم لاستفراغ الاذی الحاصل من النجار المحتقن فی الراس. (۱)

د حضور ﷺ د علاج قسمونه علامه ابن القیم رحمه الله په زادا المعاد کښې فرمائی چې حضور ﷺ به کوم علاج کولو د هغې درې قسمونه دی. یو طبعی دوایانو په ذریعه. دویم الهی دوایانو په ذریعه. او دریم د دواړو په ملاوټ سره. د حضور ﷺ د بعثت اصلی مقصد خو خلقو لره د روحانی مرضونو نه پاک کول وو. خو کله به ئې د ضرورت په وخت کښې جسمانی علاج هم کولو (۲)

حضرت شاه ولی الله رحمه په حجة الله البالغة کښې فرمائی چې د حضور ﷺ جسمانی علاج کول د شریعت څه داسې حصه نه ده چې هغه د دعوت او تبلیغ حصه جوړه کړې شی. او په هر کس باندې د هغې تقلید واجب او ضروری وی. نو هغه فرمائی

اعلم ان ما روی عن النبی ﷺ ودون فی کتب الحدیث علی قسمین :احدهما ما سبیله سبیل تبلیغ الرسالة. وفیه قوله تعالی (وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا) منه علوم المعاد وعجائب الملوک.. ومنه شرائع وضبط للعبادات. ثانیهما ما لیس من باب تبلیغ الرسالة. وفیه قوله صلی علیه وسلم: انما انا بشر. ولاتواخذونی بالظن. ولکن اذا حدثتکم عن الله شیئا فخذوا به. فانی لم اکذب علی الله : فمنه الطب ومنه باب قوله صلی الله علیه وسلم: وعلیکم بالادهم الاقرح : ومستنده التجربة. منه ما فعله صلی الله علیه وسلم علی سبیل العادة. دون العبادة (۳)

د حضور ﷺ نه چې کوم علاج او دویانې نقل دی دا د هغه زمانې د تجربو یو حصه وه. او دا ممکن دی چې یو کس هغه استعمال کړی او فائده ورنکړی. خو که څوک د برکت په توګه او ایمانی قوت سره دا نقلی دویانې استعمال کړی نو هغه ته به هرحال کښې شفاء کیږی. علامه ابن الخلدون په مقدمه تاریخ کښې دا خبره په تفصیل سره لیکلې ده (۴)

په دې باب کښې د علماؤ واقعات هم مشهور دی.

۱ - بَاب مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ دَاءً إِلَّا أَنْزَلَ لَهُ شِفَاءً.

[۵۳۵۴] (۵) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِي حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ سَعِيدِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ قَالَ حَدَّثَنِي عَطَاءُ بْنُ أَبِي رَبَاحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضی الله عنه - عَنِ النَّبِي - صلی الله علیه وسلم - قَالَ «مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ دَاءً إِلَّا أَنْزَلَ لَهُ شِفَاءً».

(۱) فتح الباری ۱۰/۱۲۵)-
(۲) زاد المعاد ۴/۲۴)-
(۳) انظر حجة البالغة ۱/۱۲۸)-
(۴) مقدمة ابن خلدون ۱/۴۹۳) باب ۶ فصل ۱۹)-
(۵) الحدیث اخرجه النسائی فی کتاب الطب. باب امر بالدواء ۴/۳۶۹ رقم الحدیث ۷۵۵۴) واخرجه مسلم فی کتاب السلام. باب لکل دواء داء واستحباب التدوای (رقم الحدیث ۲۲۰۴) واخرجه الترمذی فی کتاب الطب. باب ما جاء فی الدواء والحث علیه ۴/۳۸۳(رقم الحدیث ۲۰۳۸) واخرجه ابوداود فی کتاب الطب. باب ما جاء فی الرجل یتدوای ۴/۳ (رقم الحدیث ۳۸۵۵) واخرجه ابن ماجه فی کتاب الطب. باب ما انزل الله داء الا انزل له شفاء ۲/۱۱۳۸ (رقم الحدیث ۳۴۳۸)-

حدیث کښې دی چې الله تعالی داسې يو بيماري نه ده راليږلې چې د هغې د پاره ئې شفاء نه وی نازله کړې،

قوله: الا انزل له شفاء: د نسائی شريف په روايت کښې دی ان الله لم ينزل داء الا انزل الله له شفاء فتداووا (۱)

امام بخاری په الادب المفرد کښې د اسامه بن شريک نه روايت نقل کړې دې د هغې الفاظ دی: تداووا يا عباد الله! فان الله لم يصنع داء الا وضع له شفاء الاداء واحد: الهرم: (۲)

په يو روايت کښې الهرم سره السام اضافه هم شوې ده (۳)

په مسلم شريف کښې د جابر رضی الله عنه نه حديث مرفوع دې :لکل داء دواء فاذا اصيب دواء الداء برا باذن الله تعالی: (۴)

د ذکر شوی احاديثو نه مستنبط څو خبرې: دې ټولو احاديثو نه معلومه شوه چې الله تعالی دهرې بيمارئی شفاء او د هغې علاج نازل کړې دې، دا بله خبره ده چې بعضې وخت د بعضې بيمارو علاج انسانانو ته معلوم نه وی، نو هغوی داسې بيماری لاعلاج اوګڼری، حالانکه هغه په حقيقت کښې لاعلاجه نه وی، (۵)

دغه شان دا هم معلومه شوه چې د علاج نه ضروری نه ده چې انسان دې صحتمند هم شی، د جابر رضی الله عنه په حديث کښې د باذن الله قيد دې، ترڅو چې د الله تعالی خوښه وی، تر هغه وخت پورې د چا دوائی کار نه کوی، (۶)

دې احاديثو نه دريمه خبره دا معلومه شوه چې د بيمارئ علاج کول د توکل خلاف نه ده، څنګه چې د لوږې ختميدو د پاره خوراک، اود تندې ختميدو د پاره د اوبو استعمال د توکل سره منافی نه ده، دغه شان د مرض د ختمولو د پاره علاج کول هم د توکل منافی نه ده، د جمهورو عالمانو په نيز علاج کول مستحب دی او بهتره ده، (۷) بعضې فقهاؤ ليکلی دی چې د فائدې ښکاره کيدو په اعتبار سره د اسبابو درې درجې دی،

① سبب يقينی ② سبب ظنی ③ سبب وهمی،

د سبب يقينی مطلب دا دې چې دې سبب لره اختيارولو باندې نفع او فائده عادة خامخا مرتب کيږی، ددې خلاف نه کيږی، مثلاً د خوراک نه پس مړيدل، د اوبو څکلو نه پس تنده ختميدل، دغه شان اسباب اختيارول شرعا واجب او ضروری دی، دغه وجه ده که څوک

---

(۱) اخرجه النسائی فی کتاب الطب، باب الامر بالدواء ۳۶۸/۴ (رقم الحديث ۷۵۵۳)-

(۲) فتح الباری ۱۲۷/۱۰، ارشاد الساری ۴۱۰/۱۲)-

(۳) فتح الباری ۱۲۷/۱۰، ارشاد الساری ۴۱۰/۱۲)-

(۴) مسلم کتاب السلام باب لکل داء دواء واستحباب التداوی (رقم الحديث ۲۲۰۴)-

(۵) فتح الباری ۱۲۷/۱۰، عمدة القاری ۲۳۰/۲۱، ارشاد الساری ۴۱۰/۱۲)-

(۶) فتح الباری ۱۲۷/۱۰، ارشاد الساری ۴۱۰/۱۲)-

(۷) فتح الباری ۱۲۷/۱۰، ارشاد الساری ۴۱۰/۱۲)

خوراک بند کړی او اوږی کیدو باوجود هم بالکل اونه خوری او د لوږې نه مرګ ورته راشی، نو دا سړې به ګناه ګار وی،

دویمه درجه، سبب ظنی ده، ددې نه مراد هغه اسباب دی چې د هغې په اختیارولو باندې اکثر نفع مرتب کیږی، خو کله ددې خلاف هم اوشی، یعنی کله د هغې اثر ښکاره نه شی، لکه د علاج نه پس صحت موندل، خو دا ضروری نه ده چې صحت حاصل شی. ځکه چې علاج سبب یقینی نه دې، چې خامخا دې ددې نه فائده واخستلې شی، چونکه انسان د سبب یقینی اختیارولو مکلف دې نه چې د سبب ظنی اختیارولو. ځکه به علاج کول په دې درجه کنبې به واجب نه وی، که چا علاج اونکړو او مړ شو نو ګناه ګار به نه وی.

وهمی اسباب، یعنی د سبب ښکاره کیدو باندې د نتیجې د ښکاره کیدو وهم وی، مثلا تعویذ وغیره، چې د هغې فائدې شکی دی، نو دې لره اختیارول جائز دی.

حضرت مفتی نظام الدین رحمه الله سابق صدر و مفتی دارالعلوم دیوبند لیکی:

پاتې شوه د تداوی علاج مسئله؛ نو د هغې خو فی نفسه مباح کیدو کنبې هیڅ کلام نشته، باقی چې په هر کس باندې هر حالت کنبې کلیة وجوب وی، صحیح نه ده. بلکه په دې کنبې تفصیل دې، هغه داچې که مرض سخت او مهلک وی او په علاج باندې قدرت او استطاعت هم وی، نو د حیثیت او استطاعت او د میسر قدرت مطابق د دنیا عالم اسباب کیدو د وجه نه د شفاء د حاصلولو عقیده صرف په الله باندې ساتلو سره. د حکم شرعی دننه علاج کول واجب کیږی، خو که قدرت میسره موجود نه وی یا مرض سخت او مړ کونکې نه وی نو د علاج واجب کولو طرف ته حکم نه متوجه کیږی، یا به حکم مؤکد وی یا مستحب او افضل به وی، په مرض کنبې د مبتلا شوې سړی او د مذکوره قیودو مطابق یو حکم خو کیدې شی، خو واجب به نه وی،(۱)

بعضې شوافعو خو دا واجب ګرځولې دې، هغوی وائی، (تداووا) امر دې، او دا د وجوب دپاره راځی. بهر حال د حضور نه ځوک زیات متوکل کیدې شی، هغوی سید المتوکلین وو، خو حضور ﷺ به علاج هم کولو، او نور ظاهری اسباب به ئې هم اختیارولو.

۲ - بَاب هَلْ يُدَاوِي الرَّجُلُ الْمَرْأَةَ أَوِ الْمَرْأَةُ الرَّجُلَ.

[۵۳۵۵] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ عَنْ خَالِدِ بْنِ ذَكْوَانَ عَنْ رُبَيِّعَ بِنْتِ مُعَوِّذِ ابْنِ عَفْرَاءَ قَالَتْ كُنَّا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - نَسْقِي الْقَوْمَ، وَنَخْدُمُهُمْ، وَنَرُدُّ الْقَتْلَى وَالْجَرْحَى إِلَى الْمَدِينَةِ.[ر: ۲۷۲۶]

د سړی او د ښځې یو بل له علاج کولو مسئله: که ضرورت وی او د فتنې ویره نه وی نو ښځې د سړو او سړی د ښځو علاج کولې شی،

امام بخاری چې کوم روایت ذکر کړې دې، د هغې نه معلومیږی چې ښځې د سړو علاج

---

(۱) منتخبات نظام الفتاوی، ج ۱و ص ۳۵۰، فتاوی نظامیه او ندرویه ص ۴۱۴)-

کولې شي، نو سړی هم د ښځو علاج کولې شي، امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې (هل) استفهام ذکر کولو سره دې خبره باندې تنبیه کړې ده چې د دې د پاره څه قانون کلی نشته، کوم ځائې چې د فتنې ویره نه وی، هلته ددې اجازت شته، او کوم ځائې چې د فتنې ویره وی نو بیا ددې گنجائش نشته.[1]

حدیث باب په کتاب الجهاد کښې (باب مداواة النساء الجرحی فی الغزو) لاندې تیر شوې دې.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې په حدیث کښې اگرچې تصریح ده چې ښځې د سړو علاج کولې شي، خو ددې باوجود امام بخاری په جزم سره څه حکم بیان نه کړو، ځکه چې په دې کښې احتمال دا دې چې هغه د پردې د حکم د نازلیدو نه مخکښې واقعه کیدې شي.[2]

۳- بَاب الشِّفَاءُ فِي ثَلَاثٍ

[۵۳۵۶][3] حَدَّثَنِي الْحُسَيْنُ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ شُجَاعٍ حَدَّثَنَا سَالِمٌ الْأَفْطَسُ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضی الله عنهما- قَالَ: «الشِّفَاءُ فِي ثَلَاثَةٍ شَرْبَةِ عَسَلٍ، وَشَرْطَةِ مِحْجَمٍ، وَكَيَّةِ نَارٍ، وَأَنْهَى أُمَّتِي عَنِ الْكَيِّ». رَفَعَ الْحَدِيثَ وَرَوَاهُ الْقُمِّيُّ عَنْ لَيْثٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلی الله علیه وسلم - فِي الْعَسَلِ وَالْحَجْمِ.

[۵۳۵۷] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ أَخْبَرَنَا سُرَيْجُ بْنُ يُونُسَ أَبُو الْحَارِثِ حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ شُجَاعٍ عَنْ سَالِمٍ الْأَفْطَسِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلی الله علیه وسلم - قَالَ «الشِّفَاءُ فِي ثَلَاثَةٍ شَرْطَةِ مِحْجَمٍ، أَوْ شَرْبَةِ عَسَلٍ، أَوْ كَيَّةٍ بِنَارٍ، وَأَنْهَى أُمَّتِي عَنِ الْكَيِّ».

حسین: دلته د اولنی حدیث په سند کښې د حسین د والد ذکر نشته، ددې حسین نه څوک مراد دی په دې کښې دوه قوله دی،

① بعضې حضراتو ،وئیلې دی چې ددې نه حسین بن زیاد مراد دې،[4] دوی د نیسابور وو، او امام بخاری رحمه الله سره یو ځائې نیسابور کښې اوسیدلو، د امام بخاری د وفات نه پس دوی دری دیرش کاله ژوندې وو،[5] د امام مسلم رحمه الله د دوستانو نه وو، امام بخاری ددوی نه دا روایت نقل کړې دې او دې ته (روایة الاصاغر عن الاکابر) وئیلې شی،[6]

---

[1] فتح الباری ۱۶۷/۱۰، ارشاد الساری ۴۱۰/۱۲)-
[2] فتح الباری ۱۲۸/۱۰)-
[3] الحدیث اخرجه النسائی فی کتاب الطب باب الکی ۳۷۸/۴ و رقم الحدیث ۷۶۰۳، واخرجه ابن ماجه فی کتاب الطب، باب الکی ۱۱۵۵/۶، رقم الحدیث ۳۴۹۱)-
[4] فتح الباری ۱۶۸/۱۰ عمدة القاری، ۲۳۰/۲۱، ارشاد الساری ۴۱۱/۱۲)-
[5] حواله بالا)-
[6] فتح الباری ۱۰/ ۱۶۹)-

د حسین بن زیاد رحمه الله په بخاری کښې صرف یو حدیث دې،[1]

② خو حاکم فرمائی چې حسین بن یحیی بن جعفر بیکندی مراد دې، دده والد یحی بن جعفر نه امام بخاری ډیر احادیث نقل کړې دی. دا حسین هم د امام بخاری نه وړوکې دې، او په صحیح بخاری کښې ددوی صرف یو روایت دې، [2]

احمد بن منیع : احمد بن منیع د امام بخاری د شیوخو د طبقه وسطه نه دې، ددوی کنیت ابوجعفر دې، ۲۴۴ هجرئی کښې ددوی وفات شوې دې، [3]

په صحیح بخاری کښې ددوی صرف یو حدیث دې، [4] ائمه جرح وتعدیل ددوی توثیق کړې دې [5]

مروان بن شجاع: د مروان بن شجاع په صحیح بخاری کښې صرف دوه روایتونه دی، یو روایت دا دې، او یو په کتاب الشهادت کښې تیر شوې دې، [6] امام احمد بن حنبل رحمه الله ددوی توثیق کړې دې، امام ابوحاتم رازی رحمه الله فرمائی **یکتب حدیثه ولیس بالقوی** [7]

قوله: **الشفاء في ثلاث:** په حدیث باب کښې دی، چې په درې څیزونو کښې شفاء ده، شهد څکل، ښکر لګول، او په اور سره داغ کول، خو څه خپل امت لره د داغ نه منع کوم.

قوله: **شرطة محجم:** شرطة، فعلة په وزن باندې د شرط نه دې، **شرط الحاجم**، ښکر لګول، سینګئ لګول، [8] محجم د میم کسرې سره، هغه آله ته وائی چې په هغې کښې د ښکر وینه جمع کولې شي، دلته د ددې نه هغه اوسپنه مراد ده چې د هغې په ذریعې سره وینه ویستلې شي. [9]

په درې څیزونو کښې د شفاء مطلب: په درې څیزونو کښې د شفاء مطلب دا نه دې چې ددې نه علاوه په بل څیز کښې شفاء نشته، بلکه ددې نه د علاج د حاصلیدو اصول طرف ته اشاره کول مقصود دی. ځکه چې مرضونه یا خو دموی، یا صفراوی یا بلغمی یا سوادی وی، مرض که دموی یعنی د وینې د خرابوالی د وجې نه وی، نو ددې علاج د خرابې وینې ویستولو سره کیږی، او په ښکر لګولو کښې هم خرابه وینه ویستلې شی، او باقی درې صورتونو کښې د مرض علاج په اسهال سره کیږی، او شهد مسهل یا قبض راوستونکې وی، خو په بعضې وختونو کښې فاسده ماده نه په ښکر لګولو سره ویستلې شی نه د اسهال

---

[1]) فتح الباری ۱۶۹/۱۰ عمدة القاری ۲۳۱/۲۱)-
[2]) فتح الباری ۱۰/۱۶۹ عمدة القاری ۲۳۱/۲۱، ارشاد الساری ۴۱۱/۱۲)-
[3]) تهذیب الکمال ۴۹۷/۱ و رقم الترجمة ۱۱۴، تهذیب التهذیب ۸۴/۱-۸۵)-
[4]) فتح الباری ۱۶۹/۱۰، عمدة القاری ۲۳۱/۲۱)-
[5]) فتح الباری ۱۶۹/۱۰)-
[6]) حواله بالا)-
[7]) حواله بالا)-
[8]) فتح الباری ۱۷۰/۱۰، عمدة القاری ۲۳۱/۲۱، ارشاد الساری ۴۱۲/۱۲)-
[9]) فتح الباری ۱۷۰/۱۰، ارشاد الساری ۴۱۲/۱۲، والنهایة لابن الاثیر ۳۴۷/۱ و مجمع بحار الانوار: ۴۶۱/۱)

په ذريعه. نو اور سره هغه ختمولې شي. چې هغه سره دا اوسوزی او ختم شي [۱]

د داغ لګولو حکم

قوله: وانهٰي امتي عن الکي: ی بدن لره په اور سره داغ کولو ته وائی، ددې متعلق روايات مختلف دی، په بعضو کښې نهی راغلې ده، او په بعضې راوياتو کښې جواز معلوميږی.

چې په کومو رواياتو کښې نهی راغلې ده، په هغې کښې يو حديث باب دې، چې په هغې کښې وانهی امتی عن الکی) الفاظ دی.

د مسلم شريف په يو روايت کښې دی، وما احب ان اکتوی [۲]

امام ابوداود رحمه الله او امام ترمذی رحمه الله د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت نقل کړې دې، په هغې کښې دی، ان رسول الله صلی الله عليه وسلم. نهی عن الکی. قال: فابتلينا. فاکتوينا. فما اقلحنا ولا اقلحنا ولا انحجنا. [۳]

طبرانی يو روايت په صحيح سند سره نقل کړې دې، په هغې کښې دی، ان النبی نهی عن الکی. وقال: اکره شرب الحميم. [۴]

خو په بعضې رواياتو کښې ددې جواز معلوميږی،

دحضرت جابر رضي الله عنه حديث دې، رمی ابی يوم الاحزاب علی اکحلة. فکواه رسول الله صلی عليه وسلم. [۵]

د حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه په باره کښې رازی چې حضور صلی الله عليه وسلم د کی (داغ) په ذريعه ددوی علاج اوکړو. [۶]

د حضرت ابوطلحه رضي الله عنه حديث په بخاری کښې رازی چې هغوی د نبی صلی الله عليه وسلم په زمانه کښې د ذات الجنب بيمارئ کښې د حضرت انس رضي الله عنه علاج په داغ سره کړې وو. [۷]

دې نه علاوه نورو صحابو نه هم په داغ سره علاج کولو روايات شته دې، [۸]

په مختلفو رواياتو کښې تطبيق: د دواړه قسمه رواياتو کښې تعارض ختمولو د پاره محدثينو مختلف توجيهات اختيار فرمائيلې دی:

① احاديث د نهی، په نهی تنزيهی باندې محمول دی، او احاديث د اثبات په اصل جواز

---

[۱] فتح الباری ۱۰/ ۱۷۱، عمدة القاری ۲۳۱/۲۱و ارشاد الساری ۴۱۲/۱۲)-

[۲] الحديث اخرجه مسلم فی کتاب السلام، باب لکل داء دواء واستحباب التداوی (رقم الحديث، ۲۲۰۵)-

[۳] الحديث اخرجه الترمذی فی کتاب الطب، باب ما جاء فی کراهية التداوی، بالکی، ۳۸۹/۴، رقم الحديث ۲۰۴۹، واخرجه ابوداود فی کتاب الطب باب فی الکی، ۵/۴، رقم الحديث، ۳۸۶۵)-

[۴] مجمع الزوائد ۹۷/۵و قال رجاله رجال الصحيح)-

[۵] الحديث اخرجه مسلم فی کتاب السلام، باب لکل داء دواء واستحباب التداوی، رقم الحديث ۲۲۰۷)-

[۶] فتح الباری ۱۷۰/۱۰و عمدة القاری ۲۳۱/۲۱)-

[۷] الحديث اخرجه البخاری فی کتاب الطب باب ذات الجنب (رقم الحديث ۵۳۸۹، فتح الباری ۱۷۰/۱۰)-

[۸] فتح الباری ۱۷۰/۱۰، عمدة القاری ۲۱ ۲۳۱)-

باندې، او نهی تنزیهی جواز سره جمع کیدې شی. حضور ﷺ ممانعت ځکه اوفرمائیلو چې په دې کښې مریض ته ډیر تکلیف اوچتول وی، دغه شان ددې نقصان ددې د فائدې نه زیات شی، [۱]

(۲) بعضې حضراتو وئیلې دی چې د ممانعت تعلق خطره او تردد سره دې، یعنی که داسې صورت وی چې داغ سره د فائدې د نه یقینی کیدو د وجه نه د نقصان او د ځان د هلاکت ویره او خطره وی نو بیا د داغ لګولو نه پرهیز کول پکار دی.خو که یو طبیب اوښیار د داغ لګولو مشوره ورکړی نو بیا څه حرج نشته، [۲]

(۳) د عربو خیال وو چې په داغ سره فاسد ماده یقینی توګه باندې اوزی. او که دا اختیار نه کړې شی، نو هغوی دا هلاکت ګڼړلو، نو دغه شان هغوی داغ لګولو لره مؤثر حقیقی ګڼړلو، ځکه حضور ﷺ منع اوفرمائیله، نو د ممانعت احادیث هم دې فاسدې عقیدې او په شرک خفی کښې مبتلا کیدو نه د بچ کیدلو د پاره وارد شوې دی.
خو که د چا عقیده داسې نه وی بلکه سبب ظاهری په توګه هغه دا اختیار کړی نوددې ګنجائش شته، او احادیث جواز هم په دې باندې محمول دی [۳]
البته حضور ﷺ دا خوښ کړې نه دی، ځکه چې په دې کښې مریض ته ډیر تکلیف رسی، او هغه ته په عذاب کښې مبتلا کیدل وی،

قوله: رَوَاهُ الْقُمِّی عَنْ لَیْثٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِیِّ - صلی الله علیه وسلم - فِی الْعَسَلِ وَالْحَجْمِ: قمی (بضم القاف وتشدید المیم المکسورة) دده نوم یعقوب بن عبدالله بن سعد بن مالک بن هانی دې، او ددوی کنیت ابو الحسن دې، (قم) د عراق د یو ښار نوم دې، هم هغې طرف ته دا منسوب دې، [۴]
امام نسائی رحمه الله ددې توثیق فرمائی، [۵] خو دار قطنی رحمه الله فرمائی لیس بالقوی، [۶]
په صحیح بخاری کښې ددوی صرف یو حدیث دې، [۷]
یو قمی د شیعه ګانو په نیز مشهور دې، هغه دا نه دې بلکه هغه د ابن بابویه نه معروف دې، نو دغه شان حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی

وهذا القمی غیر القمی المعتبر فی الروافض فلا یغرن احدا قول الرفضة ان القمی معتبر. حق انه من رواة البخاری. وفی هامشه. القمی منسوب الی قم بلد بعراق العجم. وماله فی البخاری سوی هذا الموضع. ولیس

[۱] فتح الباری ۱۰/۱۷۰، ارشاد الساری ۱۲/۴۱۲)-
[۲] فتح الباری ۱۰/۱۷۳و عمدة القاری ۲۱/۲۳۳و ارشاد الساری ۱۲/۴۱۲)-
[۳] فتح الباری ۱۰/۱۷۱و عمدة القاری ۲۱/۲۳۱و ارشاد الساری ۱۲/۴۱۲)-
[۴] حواله بالا)-
[۵] فتح الباری ۱۰/۱۷۰ عمدة القاری ۲۱/۲۳۱)-
[۶] حواله بالا)-
[۷] حوالا بالا)-

هو بابن بابويه القمى الرافضى كما زعمه بعض المتاخرين [۱]
د قمی دې تعليق لره مسند بزار کښې موصولا نقل کړې شوې دې، [۲]

۴- باب الدَّوَاءِ بِالْعَسَلِ

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى (فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ).

[۵۳۵۸] حَدَّثَنَا عَلِي بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم يُعْجِبُهُ الْحَلْوَاءُ وَالْعَسَلُ. [ر: ۴۹۱۸]

شهد کښې الله تعالى د ډيرو بيمارو شفاء ايخودلې ده، امام بخاری په دې باب کښې علاج بالعسل لره بيانوی، د قرآن په آيت کښې (فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ) فرمائيلې شوې دی، د فيه ضمير کښې دوه احتماله دی، د جهورو په نيز ددې ضمير عسل طرف ته راجع دې،
امام بخاری په ترجمة الباب کښې دا ذکر کولو سره د جمهور د قول تائيد کړې دې، [۳]
دويم احتمال بعضې حضراتو بيان کړې دې چې دا ضمير قرآن طرف ته راجع دې، خو هغه قول مرجوح دې، [۴]

ايا په شهدو کښې د هرې بيمارئ شفاء ده؟ په شهد کښې شفاء ده، په دې کښې دوه قول دی:
① دبعضې حضراتو په نيز په شهد کښې شفا کيدل عام نه دی، بعضې مرضونو د پاره دا د شفاء باعث دی، نوپه بعضې مرضونو کښې د شهد استعمال نقصان ورکونکې هم دې، ځکه (فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ) عام نه دې بلکه مخصوص دې، [۵]
بيا دې حکم لره په دوه طريقو سره مخصوص کړې شو يو دا چې للناس نه بعض الناس مراد دی، [۶] او دويم دا چې شفاء نکره ده او د اثبات په ځائې کښې واقع ده، او نکره چې کله د اثبات په ځائې داخله شی، نو په عموم باندې دلالت کوی [۷]
② دويم قول دادې چې د ايت الفاظ عام دی، او واقعی شهد په اصل کښې د ټولو مرضونو د پاره شفاء ده، خو که د څه وجه نه شهد نقصان والا ثابت شی نو ددې اعتبار نشته، [۸]
لفظ عسل مذکر او مؤنث دواړه قسمه استعماليږی، او د عربی په ژبه کښې ددې د سلو نه زيات نومونه دی، [۹]

---

[۱] الابواب والتراجم ۲/۱۰۰)-
[۲] فتح الباری ۱۰/۱۷۰و ارشاد الساری ۱۲/۴۱۲و عمدة القاری ۲۱ /۲۳۱))-
[۳] فتح الباری ۱۰/۱۷۲و عمدة القاری (۲۱/۲۳۲، ارشاد الساری ۱۲/۴۱۲)-
[۴] حواله بالا)-
[۵] حواله بالا)-
[۶] حواله بالا)-
[۷] روح المعانی ۸/۱۸۵، (سورة النحل)-
[۸] فتح الباری ۱۰/۱۷۲، عمدة القاری ۲۱/۲۳۲)-
[۹] فتح الباری، ۱۰/۱۷۲)-

د شهدو فائدې په شهدو کښې ډیرې فائدې دی. حافظ ابن حجرؒ دې فائدو له تلخیص سره دا شان بیان کړې دی:

یجلو الاوساخ التی فی العروق والامعاء و یدفع الفضلات یغسل خمل المعدة و یسخنها تسخیناً معتدلاً، و یفتح افواه العروق و یشد المعدة والکبد والکلی والمثانة والمنافذ. وفیه تحلیل للرطوبات اکلا وطلاء وتغذیة. وفیه حفظ المعجونات واذهاب لکیفیة الادویة المستکرهة وتنقیة الکبد والصدر. ادرار البول الطمث، ونفع للسعال الکائن من البلغم. ونفع لاصحاب البلغم والامزجة الباردة واذا اضیف الیه الخل نفع اصحاب الصفراء و ثم هو غذاء من الاغذیة، ودواء من الادویة، وشرب من الاشربة، وحلوی من الحلاوات، وطلاء من الاطلیة و مفرح من الفرحات ومن منافعه.. اذا جعل فیه اللحم الطری حفظ طراوته ثلاثة اشهر، وکذلک الخیار والقرع والباذنجان واللیمون، ونحو ذلک من الفواکه. واذا لطخ به البدن للقمل. قتل القمل، وطول الشعر وحسنه ونعمه و ان اکحل به جلا ظلمة البصرو ان استن به صقل الاسنان وحفظ صحتها... ولم یکن یعول قدماء الاطباء فی الادویة المرکبة الا علیه ولا ذکر للسکر فی اکثر کتبهم اصلا. (۱)

یعنی شهد د کولمو، رګونو او د بدن اضافی فضلات صفا کوی. رګونه کولاوهی، معده، سینه، ګردو او مثانې ته طاقت ورکوی، ځیګر او سینه صفا کوی. بلغم نه پیدا شوې ټوخی کښې مفید دی، او بلغمی مزاج والا د پاره فائده ورکونکی دی. شهد خوراک هم دې، دوا هم. په شهد کښې چې غوښه او میوې کیږدې نو درې میاشتو پورې هغه تازه پاتې کیدې شی. په بدن لګولو سره سپګو لره مړه کوی، په ویختو کښې لګولو سره هغه ښکلې او نرم جوړ کړی، په سترګو چې اولګولې شی نو د نظر د پاره بهترین دی، غاښونو لره پرقوی، او دهغې دپاره مفید دی، مخکښینی طبیبانو به مرکب دوایانو کښې شهد لره اعتبار ورکولو.

امام ابن ماجهؒ په سند ضعیف سره د حضرت جابرؓ نه یو مرفوع حدیث نقل کړې دې، په هغې کښې دې، **من لعق العسل ثلاث غدوات فی کل شهر لم یصبه عظیم بلاء.** یعنی کوم سړې چې درې ورځې سحر په وخت کښې شهد استعمال کړی نو هغه به کوم لوئې افت کښې نه مبتلاء کیږی، (۲)

د باب اولنې حدیث د عائشهؓ نه منقول دې، دا حدیث په **کتاب الاطعمة** کښې تیر شوې دې. حضورﷺ ته حلوا او شهد خوښ وو، علامه کرمانی ددې مناسبت سره بیان کولو سره لیکلې دی: **الاعجاب اعم من ان یکون علی سبیل الدواء او الغذاء فتوخذ المناسبة بهذه الطریق** (۳)

[۵۳۵۹] (۴) حَدَّثَنَا أَبُونُعَيْمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْغَسِيلِ عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ

---

(۱) حوالا بالا)_
(۲) الحدیث اخرجه ابن ماجه فی کتاب الطب باب العسل رقم الحدیث ۳۴۵۰. وفتح الباری ۱۷۲/۱۰)-
(۳) شرح بخاری للکرمانی ۲۰۷/۲۰)-
(۴) الحدیث اخرجه البخاری ایضا فی کتاب الطب و باب الحجامة من الداء ۲۱۵۶/۵و رقم الحدیث ۵۳۷۲و اخرجه ایضا فی باب الحجم فی الشقیقة والصداع ۲۱۵۷/۵و رقم الحدیث ۵۳۷۵.. واخرجه ایضا فی باب من اکتوی او کوی غیره، فضل من لم یکتو. ۲۱۵۷/۵و .... [بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَبْنَ عَبْدِاللّهِ-رضي الله عنهما-قَالَ سَمِعْتُ النَّبِي-صلى الله عليه وسلم-يَقُولُ «إِنْ كَانَ فِي شَيْءٍ مِنْ أَدْوِيَتِكُمْ-أَوْيَكُونُ فِي شَيْءٍ مِنْ أَدْوِيَتِكُمْ-خَيْرٌ فَفِي شَرْطَةِ مِحْجَمٍ،أَوْشَرْبَةِ عَسَلٍ،أَوْلَذْعَةٍ بِنَارٍ تُوَافِقُ الدَّاءَ،وَمَا أُحِبُّ أَنْ أَكْتَوِي».
[٥٣٧٢، ٥٣٧٥، ٥٣٧٧]

قوله: عبد الرحمن بن الغسيل: غسيل نه مشهور صحابي حنظله رضي الله عنه مراد دې، کوم چې په جنګ احد کښې شهيد شوې وو، او چاته چې فرشتو غسل ورکړې وو، دې وجه نه هغه ته غسيل وئيلې شي، غسيل په معنى د المغسول دې، فعيل د مفعول په معنى کښې راځي، دا د امام بخاری شيخ عبدالرحمن قرنيکه دې، دلته دا قرنيکي طرف ته منسوب دې، نسب نامه داسې ده، عبدالرحمن بن سليمان بن عبدالرحمن بن عبدالله بن حنظله.(١)
حضرت جابر رضي الله عنه فرمائي چې ما د نبى صلى الله عليه وسلم نه دا وئيلو سره اوريدلې دی، که ستاسو په دوايانو کښې که د چا خير وی نو هغه په ښکر لګولو، يا شهد څکولو يا په اور سره داغ لګولو کښې دې،اوهرکله چې دا داغ د بيمارئ مطابق راشی، خوبيا هم زه داغ لګول نه خوښوم.

قوله: ان كان في شئ من ادويتكم اويكون في شئ من ادويتكم: راوی ته په دوارو جملو کښې شک دې، ځکه ئې (او) راوړې دې، علامه ابن التين رحمه الله فرمائي چې (اويکن) پکار وو، ځکه چې دا معطوف على المجزوم دې، ددې عطف په (کان) باندې دې، او په (کان) باندې (ان) حرف شرط داخل دې، کوم چې فعل ته جزم ورکوی (٢) نو مسند احمد په يو روايت کښې ان کان... ان يکن دې.(٣)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چې کيدې شی راوی د (يکن) د کاف په ضمه کښې اشباع اوکړه، او هغه ئې راخکلو نو اوريدونکی (يکن) لره (يکون) اوګڼړلو (٤)

قوله: اولذعة بنار: لذغ (د ذال سکون سره) لږ شان سوزيدو ته وائی، مولانا انور شاه کشميری رحمه الله په فيض البارى کښې ددې ترجمه په (سوزيدو) سره کړې ده، (٥)مراد ددې نه داغ لګول دی، (٦)

...بقيه ازحاشيه گذشته] رقم الحديث، ٥٣٧٧، اوخرجه مسلم فى كتاب السلام، باب لكل داء دواء واستحباب التدواى رقم الحديث ٢٢٠٥، واخرجه الترمذى فى كتاب الطب باب ما جاء فى الحجامة ٣٩١/٤ و رقم الحديث٢٠٥٣..واخرجه النسائى فى كتاب الطب باب الكى، ٣٧٨/٤و رقم الحديث ٧٦٠٣، واخرجه ابن ماجه فى كتاب الطب و باب الحجامة ١١٥١/٢و رقم الحديث ٣٤٧٦)_
(١)فتح البارى ١٧٣/١٠و عمدة القارى ٢٣٣/٢١)_
(٢)حواله بالا)-
(٣)فتح البارى ١٧٣/١٠و ارشاد السارى ٤١٥/١٢)-
(٤)فتح البارى ١٧٣/١٠و عمدة القارى ٢٣٣/٢١و ارشاد السارى ٤١٥/١٢)_
(٥)فتح البارى ١٧٣/١٠ عمدة القارى ٢٣٣/٢١، ارشاد السارى ٤١٥/١٢)-
(٦)فتح البارى ١٧٣/١٠، عمدة القارى ٢٣٣/٢١)-

قوله: توافق الداء: دا د لذغة صفت دي، داسې داغ لګول چې د بیمارئ مطابق او مناسب وی، نو په دې کښې شفاء ده، په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چې داور په ذریعه داغ لګول د تجربه په توګه نه وی بلکه د یو ماهر ډاکټر په ذریعې سره داسې داغ کوم چې د مرض مناسب وی نو په هغې کښې شفاء ده، [1]

[۵۳۶۰] [2] حَدَّثَنَا عَيَّاشُ بْنُ الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ رَجُلاً أَتَى النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ أَخِي يَشْتَكِي بَطْنَهُ. فَقَالَ «اسْقِهِ عَسَلاً». ثُمَّ أَتَى الثَّانِيَةَ فَقَالَ «اسْقِهِ عَسَلاً». ثُمَّ أَتَاهُ فَقَالَ فَعَلْتُ. فَقَالَ «صَدَقَ اللَّهُ، وَكَذَبَ بَطْنُ أَخِيكَ، اسْقِهِ عَسَلاً». فَسَقَاهُ فَبَرَأَ. [۵۳۸۶]

حضرت ابو سعید خدری ﷛ فرمائی چې یو کس د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، او وے وئیل چې زما رور ته د خیټې تکلیف دې، حضور ﷺ اوفرمائیل چې شهد پرې اوڅکه، بیا دوباره راغلو، نو حضور ﷺ اوفرمائیل چې شهد پرې اوڅکوه، بیا دریم ځل راغلو او وے وئیل چې ما پرې اوڅکل، (خو فائده اونه شوه) حضور ﷺ اوفرمائیل چې الله تعالی رشتونې دې او ستا د رور خیټه دروغژنه ده، هغه باندې شهد اوڅکوه. بیا هغه پرې شهد اوڅکل نو هغه ته صحت میلاؤ شو.

یو اشکال او د هغې جوابونه: د دې حدیث څه تفصیل مخکښې باب دواء المبطلون کښې راځی، بعضې خلقو ته شک شوې دې چې شهد خو مسهل وی، او دلته چې کوم کس ته د خیټې تکلیف وو، په روایت کښې تصریح مخکښې راځی، چې هغه ته اسهال وو، نو دا کس د پاره د شهدو څنګه مشوره کیدې شی.؟

① یو جواب خو دا ورکړې شوې دې، چې حضور ﷺ ته د وحی په ذریعه معلومه شوې وه چې دې کس ته به د شهد په ذریعه شفاء میلاویږی، ځکه د اسهال باوجود هم حضور ﷺ د شهد ورڅکلولو حکم ورکوو، لهذا د طب عام اصولو نه علاوه دا یوه مخصوص معامله وه، چې شهد سره عموما په اسهال کښې اضافه کیږی. د حضور ﷺ معجزې او د دعا برکت سره هم هغه شهد د هغه د پاره د صحت ذریعه جوړه شوه. او هغه بالکل صحیح شو، [3]

② دویم جواب دا ورکړې شو چې اسهال څنګه د بدهضمی د وجه نه رازی دغه شان په خیټه کښې فاسده ماده جمع کیدو د وجه هم رازی، په داسې صورت کښې دې مادې لره د خیټې

[1] فتح الباری ۱۷۳/۱۰، عمدة القاری ۲۳۳/۲۱)-

[2] الحدیث اخرجه البخاری ایضا فی کتاب الطب باب دواء المبطون ۲۱۶۱۵ رقم الحدیث ۵۳۸۶، واخرجه مسلم فی کتاب السلام باب التداوی بسقی العسل، رقم الحدیث ۲۲۱۷، واخرجه الترمذی فی کتاب الطب و باب ما جاء فی التداوی بالعسل، ٤٠٩/٤ و رقم الحدیث ۲۰۸۲. واخرجه النسائی فی کتاب الطب باب الدواء بالعسل ٣٧٠/٤، رقم الحدیث ۷۵۶۰)-

[3] فتح الباری ۲۰۹/۱۰ عمدة القاری ۲۳۲/۲۱)_

نه ویستل ضروری وی. او د هغې بهترین علاج شهد دې. دا ذکر شوې سړې هم دا قسم بیمار وو، ځکه حضور ﷺ هغه ته د شهد حکم ورکولو. تردې چې کله د هغه معده صفا شوه نو هغه صحت یاب شو. د حضور ﷺ هغه ته د شهد څکلو حکم ورکول بالکل د طب د اصولو مطابق وو. (١) والله اعلم

قوله: صدق الله وكذب بطن أخيك: الله تعالی رشتیا وائی چې (فيه شفاء للناس) ستا د رور خیټه غلط وائی یعنی ښکاره کوی چې مرض زیاتیږی خو په حقیقت کښې دې ته شفا حاصلیږی.

۵- باب الدَّوَاءِ بِأَلْبَانِ الإِبِلِ

[۵۳۶۱] حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا سَلاَّمُ بْنُ مِسْكِينٍ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ نَاسًا كَانَ بِهِمْ سَقَمٌ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ آوِنَا وَأَطْعِمْنَا فَلَمَّا صَحُّوا قَالُوا إِنَّ الْمَدِينَةَ وَخِمَةٌ. فَأَنْزَلَهُمُ الْحَرَّةَ فِي ذَوْدٍ لَهُ فَقَالَ «اشْرَبُوا أَلْبَانَهَا». فَلَمَّا صَحُّوا قَتَلُوا رَاعِيَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَاسْتَاقُوا ذَوْدَهُ، فَبَعَثَ فِي آثَارِهِمْ، فَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ، وَسَمَرَ أَعْيُنَهُمْ، فَرَأَيْتُ الرَّجُلَ مِنْهُمْ يَكْدُمُ الأَرْضَ بِلِسَانِهِ حَتَّى يَمُوتَ.

قَالَ سَلاَّمٌ فَبَلَغَنِي أَنَّ الْحَجَّاجَ قَالَ لأَنَسٍ حَدِّثْنِي بِأَشَدِّ عُقُوبَةٍ عَاقَبَهُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَحَدَّثَهُ بِهَذَا. فَبَلَغَ الْحَسَنَ فَقَالَ وَدِدْتُ أَنَّهُ لَمْ يُحَدِّثْهُ. [ر: ۲۳۱]

د اوښې پئ د دوائی په توګه استعمالولې شی، ځنګه چې د عرینین په واقعه کښې حضور ﷺ ددې د استعمالولو فرمائیلې وو.

د عرینینو واقعه ددې نه مخکښې څو ځل ذکر شوې ده.. ذود: اوښانو ته وائی، ابن سعد ددې اوښانو تعداد پنځلس نقل کړې دې، (٢)

قوله: قَالَ سَلاَّمٌ فَبَلَغَنِي أَنَّ الْحَجَّاجَ قَالَ لأَنَسٍ حَدِّثْنِي بِأَشَدِّ عُقُوبَةٍ عَاقَبَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَحَدَّثَهُ بِهَذَا. فَبَلَغَ الْحَسَنَ فَقَالَ وَدِدْتُ أَنَّهُ لَمْ يُحَدِّثْهُ: د سلام نه سلام بن مسکین ازدی مراد دې، په صحیح بخاری کښې ددوی صرف دوه حدیثونه دی. یودا، او یو ددې نه مخکښې کتاب الادب کښې راځی (٣).

دا د ماقبل سند موصول دې. فرمائی چې مشهور ظالم حجاج بن یوسف د حضرت انس ﷺ نه تپوس اوکړو چې حضور ﷺ چاته د سختو نه سخته سزا ورکړې وی هغه ماته بیان کړه، حضرت انس ﷺ ورته د عرینینو قصه بیان کړه.

(١) عمدة القاری ۲۱/۲۳۲)

(٢) فتح الباری ۱۰/۱۷٤)-

(٣) فتح الباری ۱۰/۱۷۳)-

حسن بصري رحمه الله ته چې كله دا معلومه شوه نو وئې فرمائيل چې زه دا غواړم چې حضرت انس رضي الله عنه دا حديث حجاج بن يوسف ته نه وو بيان كړې، ځكه چې هغه به د خپل ظلم د پاره په غلط استدلال كولو سره جواز كوري،

دغه شان د بهز په روايت كښې (فو الله ما انتهى الحجاج حتى قام بها على المنبر فقال: حدثنا انس.. فذكره وقال: (قطع النبى صلى الله عليه وسلم الايدى والارجل، وسمل الاعين فى معصية الله، افلا نفعل نحن ذلك فى معصية الله.) [1]

حضرت انس رضي الله عنه به فرمائيل ماندمت على شئ ماندمت على حديث حدثت به الحجاج. [2] يعنى ما ته څومره پښيمانتيا حجاج ته په حديث رسولو باندې ملاوشوه دومره په بل څيز نه ده ميلاؤشوې.

حضرت انس رضي الله عنه ځكه روستو پښيمانه شو چې حجاج به ددې واقعې نه په خپل ظلم او ستم په جواز باندې استدلال كولو.

۶- باب الدَّوَاءِ بِأَبْوَالِ الإِبِلِ

[۵۳۶۲] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ -رضى الله عنه- أَنَّ نَاسًا اجْتَوَوْا فِي الْمَدِينَةِ فَأَمَرَهُمُ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- أَنْ يَلْحَقُوا بِرَاعِيهِ -يَعْنِي الإِبِلَ- فَيَشْرَبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا وَأَبْوَالِهَا، فَلَحِقُوا بِرَاعِيهِ فَشَرِبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا وَأَبْوَالِهَا، حَتَّى صَلَحَتْ أَبْدَانُهُمْ فَقَتَلُوا الرَّاعِيَ وَسَاقُوا الإِبِلَ، فَبَلَغَ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فَبَعَثَ فِي طَلَبِهِمْ، فَجِيءَ بِهِمْ فَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ، وَسَمَرَ أَعْيُنَهُمْ.
قَالَ قَتَادَةُ فَحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ سِيرِينَ أَنَّ ذَلِكَ كَانَ قَبْلَ أَنْ تَنْزِلَ الْحُدُودُ. [ر: ۲۳۱]

په حرام څيزونو باندې د علاج كولو مسئله: د ضرورت په وخت د حرامو او پليت څيزونو په ذريعه سره علاج كيدې شي، يا نه؟ په دې كښې د حضراتو فقهاؤ اختلاف دې.

① د حضرات مالكيه او حنابله په نيز په حرامو سره علاج كول مطلقا ناجائز دى. [3]

② حضرات شافعيه په نيز تداوى بالنجاسات او تداوى بالمحرمات جائز دى، خوشرط دا دې چې هغه نشه ور نه وى، علامه نووى شافعى رحمه الله فرمائى:
مذهبنا جواز التداوى بجميع النجاسات، سوى المسكر) [4]

③ حضرات حنفيه په نيز باندې درې قوله دى، د امام ابو حنيفه رحمه الله په نيز باندې تداوى بالمحرمات ناجائز دى، [5]

---

[1] فتح البارى ۱۷۵/۱۰، ارشاد السارى ۴۱۷/۱۲)-
[2] فتح البارى ۱۷۵/۱۰)-
[3] المغنى لابن قدامة، كتاب الاطعمة، ۸۳/۱۱، والشرح الكبير ۱۰۸/۱۱، والتاج والاكليل ۲۳۳/۳)-
[4] المجموع شرح المهذب ۹۲/۹)-
[5] المبسوط للسرخسى، كتاب الطهارة، باب الوضوء والغسل، ۵۴/۱)-

امام ابو یوسف رحمه الله په نیز باندې تداوی بالمحرمات مطلقا ناجائز دی، [1]
نورو مشائخو احنافو په نیز تداوی بالمحرمات والنجاسات هغه وخت جائز دې چې کله اوښیار طبیب ته ددې نه علاوه بل څه لاره معلومه نه وی، [2] دغه شان د احنافو په نیز درې قوله دی، یو مطلقا د عدم جواز، دویم مطلقا د جواز او دریم قول په مخصوص صورت کښې د جواز، اکثر مشائخ حنفیه په دې دریم قول باندې فتوی ورکړې ده. [3]
کوم فقهاء چې تداوی بالمحرمات ته جائز وائی هغوی د لاندینی احادیثو نه استدلال کوی.
① امام ابوداود رحمه الله په کتاب الطب کښې د حضرت ابو الدرداء رضی الله عنه نه روایت نقل کړې دې، چې (قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان الله انزل الداء والدواء وجعل لكل داء دواء، فتداووا، ولا تتداووا بحرام.) [4]
② د سنن ابی داود په یو بل روایت کښې دی ان طبيبا سال النبی صلى الله عليه وسلم عن ضفدع يجعلها فی دواء فنهاه النبی صلى الله عليه وسلم عن قتلها.) [5] حضور صلى الله عليه وسلم چینډخ لره قتل کولو سره او دوائی کښې اچولو نه منع اوکړه او وئې فرمائیل چې هغه نجس دې.
③ سنن ابی داود، ابن ماجه او د سنن درمی راوایت دې چې یو کس د نبی صلى الله عليه وسلم نه د شرابو باره کښې تپوس اوکړو نو نبی صلى الله عليه وسلم هغه دې نه منع کړو، هغه اووئیل چې يا نبی الله انها دواء، نو نبی صلى الله عليه وسلم او فرمائیل چې لا انها داء [6]
④ امام طحاوی رحمه الله روایت نقل کړې دې، کوم چې امام بخاری کتاب الاشربة کښې تعلیقا نقل کړې دې. د هغې الفاظ دی (ان الله لم يجعل شفاءكم فيما حرم عليكم) [7]
⑤ په موارد الظمان کښې د حضرت ام سلمه رضی الله عنها روایت دې چې حضور صلى الله عليه وسلم هغوی ته اوفرمائیل (ان الله لم يجعل شفاءكم فی حرام) [8]
خو چې کوم حضرات ددې د جواز قائل دی هغوی دا احادیث په حالت اختیار باندې محمول کوی. یعنې چې کله د مرض او د بیمارئ بل علاج موجود وی نو په داسې صورت کښې تداوی بالنجاسات صحیح نه دې، خو که بل علاج نه وی نو بیا تداوی بالمحرمات جائز کیدل پکار دی. لان الضرورة تبيح المحظورة [9]

---

[1] البحر الرائق. ۱۱۵/۱)-
[2] البحر الرائق ۱۱۶/۱و بذل المجهود ۱۹۹/۱۶)-
[3] البحر الرائق ۱۱۶/۱)-
[4] الحديث اخرجه ابوداود فی كتاب الطب، باب فی الادوية المكروهة. ۶/٤ رقم الحديث ۳۸۷٤)-
[5] حواله بالا)-
[6] حواله بالا)- واخرجه ابن ماجة فی كتاب الطب باب النهی ان يتداوی بالخمر. رقم الحديث ۳۵۰۰)_
[7] الحديث اخرجه الطحاوی فی كتاب الطهارة.باب حكم بول ما يؤكل لحمه. ۸۳/۱)-
[8] الحديث اخرجه الهيثمی فی موارد الظمان و كتاب الطب. باب التداوی بالحرام ۳۳۹و رقم الحديث ۱۳۹۷)
[9] عمدة القاری ۲۹۰/۱. وفيض الباری ۳۲۹/۱و بذل المجهود ۱۹۹/۱۶. معارف السنن ۲۷۸/۱. وامانی الاحبار ۳۲۹/۲)-

۷- باب الحَبَّةِ السَّوْدَاءِ

[۵۳۶۳] [۱] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ خَالِدِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ خَرَجْنَا وَمَعَنَا غَالِبُ بْنُ أَبْجَرَ فَمَرِضَ فِي الطَّرِيقِ، فَقَدِمْنَا الْمَدِينَةَ وَهُوَ مَرِيضٌ، فَعَادَهُ ابْنُ أَبِي عَتِيقٍ فَقَالَ لَنَا عَلَيْكُمْ بِهَذِهِ الْحُبَيْبَةِ السَّوْدَاءِ، فَخُذُوا مِنْهَا خَمْسًا أَوْ سَبْعًا فَاسْحَقُوهَا، ثُمَّ اقْطُرُوهَا فِي أَنْفِهِ بِقَطَرَاتِ زَيْتٍ فِي هَذَا الْجَانِبِ وَفِي هَذَا الْجَانِبِ، فَإِنَّ عَائِشَةَ حَدَّثَتْنِي أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ «إِنَّ هَذِهِ الْحَبَّةَ السَّوْدَاءَ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ إِلَّا مِنَ السَّامِ». قُلْتُ وَمَا السَّامُ قَالَ الْمَوْتُ.

[۵۳۶۴] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ وَسَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ أَخْبَرَهُمَا أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ «فِي الْحَبَّةِ السَّوْدَاءِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ إِلَّا السَّامَ».

قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَالسَّامُ الْمَوْتُ، وَالْحَبَّةُ السَّوْدَاءُ الشُّونِيزُ.

د. كلونجي فائدي: حديث باب دلته امام بخارى په اول ځل نقل كړې دې، حضرت خالد بن مسعود رضی الله عنه فرمائى چې مونږ خلق روان وو مونږ سره غالب بن ابجر هم وو. هغوى په لاره كښې بيمار شول، مونږ مدينې ته اورسيدو او هغه هم هغه شان بيمار وو، ابن ابى عتيق د هغوى د عيادت د پاره راغلو، نو مونږ ته ئې اووئيل چې تاسو ده ته دا وړې تورې دانې د كلونجى استعمال كړئى، ددې پنځه يا اووه دانې واخلئ او ذره ذره ئې كړئى، بيا د روغن څو قطرو سره د پوزې يو طرف او بل طرف ته واچوئى، ځكه چې حضرت عائشه رضی الله عنها ماته بيان كړې دې چې هغوى حضور صلی الله علیه وسلم دا واوريدل چې دا تورې دانې (كلونجى) سوا د سام نه د ټولو مرضونو علاج دې، ما تپوس اوكړو چې سام څه دې؟ حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چې مرګ.

دويم روايت د حضرت ابوهريره رضی الله عنه دې، چې حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چې كلونجى د ټولو بيمارو علاج دې، سوا د سام يعنى د مرګ نه.

علامه طيبى رحمه الله فرمائى چې اګرچې د حديث مفهوم عام دې خو خاص توګه باندې په هغه بيمارو كښې فائده مند دې كوم چې د رطوبت او بلغم نه پيدا كيږى، ځكه چې د كلونجى تاثير اوچ او ګرم وى. نو ځكه هغه مرضونو لره ختموى كوم چې ددې ضد دى.

بعضې عالمان فرمائى چې كلونجى د ټولو بيمارو د پاره مفيد ده. په بعضې مرضونو كښې خان له،او بعضې مرضونو كښې مركب. په داسې طريقه چې دا بلې دوائى سره په يو خاص

---

[۱] الحديث اخرجه مسلم فى كتاب السلام باب التداوى بالحبة السوداء (رقم الحديث ۲۲۱۵. واخرجه الترمذى فى كتاب الطب، باب ما جاء فى الحبة السود. ۳۸۵/۴و رقم الحديث ۲۰۴۱)واخرجه النسائى فى كتاب الطب و باب الدواء بالسوداء. ۳۷۳/۴و رقم الحديث.۷۵۷۸. واخرجه ابن ماجه فى كتاب الطب و باب الحبة السوداء ۱۱۴۱/۲. رقم الحديث ۳۴۴۷)-

مقدار او مناسب ترکيب سره واچولې شي. نو ددې صحت بخش اثرات ښکاره کيږي.[1]
صاحب سفر السعادة ليکلي دي چې د اکابر او مشائخو معمول وو چې هغوی به په ټولو مرضونو کښې کلونجي د دوائي په توګه استعمالوله.[2]
حکيم ابن سينا، د طب مشهور کتاب (القانون) کښې د کلونجي فائدې ليکلي دي. چې دا بلغم ختموي. د خيټې باد د پاره مفيد دی. په بدن باندې راوتونکې دانې او پرګې مرض ختموي. د سر درد د پاره هم مفيد ده. چې په سرکه کښې واچولې شي او په پله ورځ هغه بو کړې شي نو د سرد ږ ورسره ختميږي. د غابښونو په درد کښې هم مفيد دې.[3]
نن زماني طبيبانو ا د بلډپريشر د پاره هم مفيد ګرځولې ده.[4]
د رجال سند وضاحت: د اول روايت په سند کښې د امام بخاری شيخ **الشيخ عبيد الله** دې، ددوی د والد نوم ئې ذکر نه کړو، ددې نه عبد الله بن موسی مراد دې. کوم چې مشهور راوی دې او د کوفه اوسيدونکې دې.[5]
اولنې روايت د خالد بن سعد نه دې، د دوی په صحيح بخاری کښې صرف يو حديث دې، ابن حبان دوی په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دی، امام نسائي او ابن ماجه هم ددوی نه روايات نقل کړي دي، يحي بن معين. علامه ذهبي او حافظ ابن حجر ددوی توثيق کړې دې.[6]
غالب ابن ابجر صحابي دې، ابجر د احمد په وزن باندې دې، د غالب ابن ابجر تفصيلي حالات نه ميلاويږي. علامه مزی رحمه الله په تهذيب الکمال کښې ليکلي دي، چې ددوی نه صرف دوه حديثونه منقول دي. د حمراهليه په باره کښې ددوی يو حديث مشهور دې، چې د هغې الفاظ دي. **قلت يا رسول الله :لم يبق من مالی ما اطعمه اهلی الاحمری، فقال: اطعمه اهلک من سمين مالک.:** علامه ابن عبد البر په الاستيعاب، حافظ ابن حجر په الاصابة، او علامه ابن اثير په اسد الغابة کښې ددوی تذکره کړې ده، په صحيح بخاری کښې صرف دا يو ځائې د هغوی ذکر دې. امام ابوداود رحمه الله ددوی د حمر والا حديث نقل کړې دې.[7]

قوله: فعاده ابن ابي عتيق: د ابن ابی عتيق نوم عبد الله دې، دا د حضرت ابوبکر رضي الله عنه

---

[1])مظاهر الحق شرح مشکوة. کتاب الطب، ٢٥٩/٤)-
[2])شرح الطيبی شرح مشکاة المصابيح کتاب الطب و ٢٩٧و وفتح الباری ١٧٨/١٠)-
[3])القانون لابن سيناء ٤٣٧/١)-
[4])الطب والعلم الحديث ٢٦٥/٣)-
[5])فتح الباری ١٧٧/١٠و عمدة القاری ٢٣٦/٢١. ارشاد الساری ٤١٧/١٢)-
[6])فتح الباری ١٧٧/١٠و عمدة القاری ٢٣٦/٢١. ددوی د حالاتو د پاره مطالعه اوکئی تهذيب الکمال ٧٩/٨-٩٠. رقم الترجمة ١٦١٦و واسماء الدار القطنی و الترجمة. ٢٧٠و وتهذيب التهذيب ٩٤/٣. ومقدمة الفتح ٣٩٨. وديوان الضعفاء الترجمة ١٢١٥)-
[7])تهذيب الکمال ٨٢/٢٣و رقم الترجمة ٤٦٧٦) والاصابة ٣/الترجمة ٦٩٠٢و واسد الغابة ١٦٧/٤. والاستيعاب لابن عبدالبر. ١٢٥٢/٣. معجم الطبرانی الکبير ٢٦٥/١٨. موثقات ابن حبان ٣٢٧/٣)-

کروسې وو، ددوی والد محمد بن عبدالرحمن بن ابی بکر صدیق دې.[1]

قوله: الحبة السوداء: الشونیز: حافظ ابن حجر فرمائی چې په هغه زمانه کښې شونیز زیات مشهور وو. ځکه د حبة سودا تفسیر په شونیز سره اوشو. خو اوس (حبة سودا) زیات مشهور دې، او شونیز غیر معروف دې.[2]

٨-باب التَّلْبِينَةِ لِلْمَرِيضِ

[٥٣٦٥] حَدَّثَنَا حِبَّانُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ - رضی الله عنها - أَنَّهَا كَانَتْ تَأْمُرُ بِالتَّلْبِينِ لِلْمَرِيضِ وَلِلْمَحْزُونِ عَلَى الْهَالِكِ، وَكَانَتْ تَقُولُ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «إِنَّ التَّلْبِينَةَ تُجِمُّ فُؤَادَ الْمَرِيضِ، وَتَذْهَبُ بِبَعْضِ الْحُزْنِ».

[٥٣٦٦] حَدَّثَنَا فَرْوَةُ بْنُ أَبِي الْمَغْرَاءِ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا كَانَتْ تَأْمُرُ بِالتَّلْبِينَةِ وَتَقُولُ هُوَ الْبَغِيضُ النَّافِعُ.[ر: ٥١٠١]

تلبینه. د پیو شهد، جوار یا د غنمو نه جوړیږی، حضرت عائشه ﷺ به د مریض د پاره او د مړی باندې خفا کیدونکې کس د پاره د تلبینه جوړولو حکم ورکولو، او فرمائیل به ئې چې ما د رسول الله نه اوریدلې دی چې تلبینه د مریض زړه ته ارام رسوی، او غم لرې کوی.

دلته په حدیث باب کښې دی. تجم فؤاد المریض: د مریض زړه ته راحت رسوی. اجم اجماما معنی راحت رسول. د کتاب الاطعمة په روایت کښې دی. فانها مجمة.[3]

د مسند احمد او سنن ابن ماجه په روایت کښې دی. علیکم بالبغیض النافع: التلبینة یعنی الحساء.[4]

او د نسائی په روایت کښې دی والذی نفس محمد بیده انها تغسل بطن احدکم کما یغسل احدکم الوسخ عن وجهه بالماء.[5]

او د سنن ترمذی په روایت کښې دی، کان رسول الله ﷺ اذا اخذ اهله الوعک امر بالحساء فصنع و ثم امرهم، فحسوا منه، ثم قال: انه یرتو فؤاد الحزین ویسرو عن فؤاد السقیم کما تسروا احدا کن الوسخ عن وجهها، بالماء.[6]

---

[1] فتح الباری ١٧٧/١٠و عمدة القاری ٢٣٦/٢١، ارشاد الساری، ٤١٧/١٢)-

[2] فتح الباری ١٧٩/١٠و عمدة القاری ٢٣٧/٢١)-

[3] الحدیث اخرجه البخاری فی کتاب الاطعمة باب التلبینة، رقم الحدیث ٥١٠١)-

[4] الحدیث اخرجه البخاری فی کتاب الاطعمة، باب التلبینة، ١٤٠/٢و رقم الترجمة ٣٤٤٦)-

[5] الحدیث اخرجه البخاری فی کتاب الاطعمة، باب التلبینة ٣٧٢/٤، رقم الحدیث ٧٥٧٦)-

[6] الحدیث اخرجه الترمذی فی کتاب الطب، باب ما جاء فیما یطعم المریض ٣٨٣/٤و رقم الحدیث ٢٠٣٩)

قوله: وتقول: هو البغيض النافع: بغيض بروزن عظيم. بغض نه دې، فعيل په معنى د مفعول دې، يعنى بيمار دې لره نه خوښه وى، خو هغه بيمار ته فائده رسونکې دې، د مريض طبيعت د پيو وغيره او نور د نرمو خوراکونو نه موړ شى، تلبينه هم هغه په شوق سره نه خورى، خو دا د هغه د پاره مفيد ده. ځکه دې ته بغيض النافع وئيلې شوى دى.

۹- باب السَّعُوطِ

[۵۳۶۷] حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما عَنِ النَّبِىِّ صلى الله عليه وسلم احْتَجَمَ وَأَعْطَى الْحَجَّامَ أَجْرَهُ وَاسْتَعَطَ. [ر: ۱۹۹۷]

سعوط (د سين زبر سره، په وزن د صبور) هغه دوائى ته وائى کومه چې په پوزه کښې اچولې شى. سعط باب فتح او نصر دواړو نه رازى. سعطه الدواء: د مريض په پوزه کښې دوائى اچولو ته وائى.
په حديث باب کښې دى چې حضور ﷺ ښکر اولګولو، او ښکر لګونکى ته ئې اجرت ورکړو، او په پوزه کښې دوائى واچوله.
علامه قسطلانى رحمه الله د استعط ترجمه کولو سره ليکى: استعط: استعمل السعوط بأن استلقى على ظهره، و جعل بين کتفيه ما يرفعهما، لينحدر راسه الشريف، وقطر فى انفه ما تداوى به، ليصل الى دماغه، ليخرج ما فيه من الداء بالعطاس (۱)
يعنى په پوزه کښې اچولو والا دوائى هغوى داسې استعمال کړه چې هغوى نيغ سملاستل، د دواړو اوګو په مينځ کښې داسې څيز کيخودلو چې هغې سره هغه اوچت شو، او بيا سر مبارک ئې زمکې طرف ته ښکته کړو، بيا پوزه کښې دماغ ته رسولو د پاره دوائى واچوله، چې د پرنجى په ذريعه د بيمارئ جراثيم اوځى.
دا حديث په کتاب الاجارة کښې باب خراج الحجام لاندې تير شوې دې. (۲)

۱۰- باب السَّعُوطِ بِالْقُسْطِ الْهِنْدِىِّ الْبَحْرِىِّ

وَهُوَ الْكُسْتُ مِثْلُ الْكَافُورِ، وَالْقَافُورِ مِثْلُ كُشِطَتْ وَقُشِطَتْ نُزِعَتْ، وَقَرَأَ عَبْدُ اللَّهِ قُشِطَتْ.
[۵۳۶۸] (۳) حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ قَالَ سَمِعْتُ الزُّهْرِىَّ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ أُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ قَالَتْ سَمِعْتُ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ «عَلَيْكُمْ بِهَذَا الْعُودِ الْهِنْدِىِّ، فَإِنَّ فِيهِ سَبْعَةَ أَشْفِيَةٍ. يُسْتَعَطُ بِهِ مِنَ الْعُذْرَةِ، وَيُلَدُّ بِهِ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ».

(۱) فتح البارى ۱۰/۱۸۲، عمدة القارى ۲۱/ ۲۳۸، ارشاد السارى ۱۲/۴۲۱)-
(۲) الحديث اخرجه البخارى فى كتاب الاجارة، باب خراج الحجام، رقم الحديث ۱۹۲۷)-
(۳) الحديث اخرجه البخارى ايضا فى كتاب الطب، باب اللدود، ۵/۲۱۵۹، رقم الحديث ۵۳۸۳) واخرجه فى باب العذوة ايضا، ۵/۲۱۲۰، رقم الحديث ۴۳۸۵، و اخرجه ايضا فى ذات....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

وَدَخَلْتُ عَلَى النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- بِابْنٍ لِي لَمْ يَأْكُلِ الطَّعَامَ فَبَالَ عَلَيْهِ، فَدَعَا بِمَاءٍ فَرَشَّ عَلَيْهِ. [۵۳۸۳، ۵۳۸۵، ۵۳۸۸]

ددې باب لاندې يو څو خبرې ياد ساتل پكار دى

① اولنۍ خبره د لفظ قسط د تلفظ متعلق ده، دا د قاف ضمه او د سين سكون سره دې، او دا كست كاف سره هم وئيل جائز دى. قاف او كاف چونكه قريب المخرج دى. ځكه يو حرف بل سره بدلولې شى. (¹)

ځكه په آخر كښې طاء په تاء سره بدله شوې ده. ځكه چې طاء او تاء هم قريب المخرج دى. عربيان قريب المخرج حرفونه يو بل سره بدلوى

امام بخارى رحمه الله دلته دوه مثالونه نور وركړې دى، يو كافور او بل قافور. دا قاف او كاف دواړو سره وئيل صحيح دى. او دويم مثال كشطت و قشطت دې. دا كلمه د سورة تكوير په آيت نمبر يوولسم كښې ده. (واذا السماء كشطت) كشطت د نزعت په معنى كښې دې. په دې كښې مشهور قراءت كشطت په كاف سره دې، خو د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه يو روايت په قشطت كښې قاف سره هم مروى دې. قاف او كاف چونكه قريب المخرج دى. ځكه د يو بل سره د بدلولو گنجائش شته.

د عود هندى نه څه مراد دي؟: ② دويمه خبره د قسط د مصداق په باره كښې ده. قسط ته عود هندى او عود بحرى هم وئيلې شى، خو ياد ساتل پكار دى. چې يو عود هندى مشهور لرگې دې. چې هغې ته په اردو كښې (اگر) وائى، كوم چې د خوشبو وغيره كښې استعماليږى. او چې د هغې عطر عود مشهور دى، دلته په حديث كښې د قسط نه هغه عود هندى او خوشبو والا لرگې مراد نه دې.

دغه شان يو قسط اظفار دې. چې د هغې ذكر په كتاب الطلاق كښې باب القسط للحاد لاندې تير شوې دې. هغه هم د يو خوشبو نوم دې. په حديث كښې د قسط نه هغه قسط اظفار مراد نه دې (²) بلكه دا د يو مفيد جړې نوم دې، چې هغې ته په اردو كښې كوټ وائى، ددې عموما دوه قسمونه وى. يو سپين او بل تور، سپين ته عود بحرى يا قسط بحرى هم وائي، او تور ته عود هندى وائى، د عود هندى تاثير د عود بحرى په مقابله كښې دير گرم دې، (³)

...بقيه ازحاشيه گذشته] الجنب ۲۱۰۱/۵، رقم الحديث ۵۳۸۸. واخرجه مسلم فى كتاب الطب و باب التداوى بالعود الهندى. وهو الكست. رقم الحديث ۲۲۱٤. واخرجه النسائى فى كتاب الطب و باب الداء بالقسط يسعط من العذرة. ۳۷٤/٤) رقم الحديث ۷۵۸۳) واخرجه ابوداود فى كتاب الطب. باب فى السعوط ۵/٤. رقم الحديث ۳۸۶۷) واخرجه ابن ماجه فى كتاب الطب. باب دواء ذات الجنب ۱۱٤۸/۲ رقم الحديث ۳٤۶۸)-

¹) فتح البارى ۱۸۲/۱۰، عمدة القارى ۲۳۹/۲۱) ارشاد السارى ۴۲۱/۱۲)-

²) فتح البارى ۱۸۲/۱۰، عمدة القارى ۲۳۹/۲۱)-

³) فتح البارى ۱۸۲/۱۰) عمدة القارى ۲۳۹/۲۱)-

د دواړو تاثير ګرم او اوچ دي.(۱)

د عود هندي فوائد: ③ دريمه خبره د هغه لرګي د فائدو متعلق ده، طبيبانو ددې لوئې فائدې ليکلې دي، مثلا که نفاس والا ښځه ددې لوګې راکاږي، نو فاسد وينه به ئې بنده شي. نقصان ورکولو والا جراثيم ختموی. دماغ، سينه او ګردو ته طاقت ورکوی، باد ختموی، دماغی بيمارئی لکه فالج، لقوه او د بې هوشئ د پاره مفيد دې، د خيټې نه چينجی ختموی، دا لګولو سره د مخ داغونه او چاپونه ختميږي، د زکام په حالت کښې ددې لوګې راښکل بهترين علاج دي، او ددې لوګی سهر د سحر او د جادو اثرات هم ختميږي.(۲)

امام بخاری ددې نه مخکښې باب کښې سعوط (د سين فتحې سره) ذکر کړې وو، يعنی هغه دوائی کومه چې په پوزه کښې اچولې شی، او په دې باب سعوط د سين ضمې سره راوړې دې، سعوط مصدر دې، په معنی د (پوزه کښې دوائی اچول) په دې کښې ددې دوائی ښکاره کول دی چې د کومې په پوزه کښې اچولو به حضور ﷺ حکم ورکولو، يعنی عود هندی او عود بحری.

په باب کښې چې کوم حديث امام بخاری ذکر کړې دې دا ددې نه مخکښې راغلې نه دې، امام بخاری دا په اول ځل ذکر کړو.

قوله: عليكم بهذا العود الهندي.....: يعنی تاسو دا عود هندی اختيار کړئی او استعمال ئې کړئی.

قوله: فإن فيه سبعة اشفية: ځکه چې په دې کښې اووه شفاګانې دی. اشفية د شفاء جمع ده. لکه ادوية د دواء جمع ده، ددې جمع الجمع اشاف رازی.(۳)

قوله: يستعط به من العذرة: يعنی د عذره بيمارئی د علاج د پاره دا په پوزه کښې اچولې شی. عذره (د عين ضمه او د دال سکون سره) د تالو بيماری وی. کومه چې ماشومانو ته لګی. د ماشومانو تالو سره نيزدې سپوږې شان راشی. او دا عام توګه باندې د وينې د جوش د وجه رازی.(۴)

عود هندی استعمالولو سره دا بيماری ختميږي. د عود هندی تاثير چونکه ګرم او اوچ وی او عذره بيماری د لوندوالی د وجه نه پيدا کيږی. ځکه دا د هغې د پاره مفيد ده.(۵)

قوله: ويلد به من ذات الجنب: يلد د فعل مجهول صيغه ده، لدود: په خله کښې دوائی اچول، ذات الجنب: هر هغه درد ته وائی چې د انسان په طرف کښې پيدا کيږی، دا درد زيات

---

(۱) فتح الباری ۱۸۳/۱۰، عمدة القاری ۲۳۹/۲۱، ارشاد الساری ۴۲۲/۱۲)-

(۲) فتح الباری ۱۸۳/۱۰)-

(۳) فتح الباری ۱۸۳/۱۰، ارشاد الساری ۴۲۲/۱۲)-

(۴) فتح الباری ۱۸۳/۱۰، عمدة القاری ۲۳۹/۲۱، ارشاد الساری ۴۲۲/۱۲)-

(۵) فتح الباری ۱۸۳/۱۰، ارشاد الساری ۴۲۲/۱۲)-

تر د ګیس د جمع کیدو د وجه نه وی. (۱)
د عود هندی په استعمال سره دا بیماری ختمیږی.

دوه سوالونه او د هغې جوابونه: دلته په حدیث کښې دی چې عود هندی د اوو بیمارو د پاره شفاء ده. او طبیبانو د اوو نه زیات بیمارو د پاره شفاء ګرځولې ده. (۲)

① بعضې شارحینو ددې جواب ورکړې دې چې د اوو بیمارو د پاره شفاء کیدل د وحی په ذریعه سره حضور ﷺ ته وئیلې شوې وو، ځکه حضور ﷺ د اوو ذکر اوکړو. او باقی بیمارو کښې شفاء کیدل د طبیبانو د تجربه نه معلومه شوه. (۳)

② دویم جواب دا ورکړې شوې دې چې د اوو بیمارو د پاره خو ډیر مفید او اثر کونکې دې ځکه د اوو ذکر اوشو. او د نورو د پاره مفید خو ده. خو دومره قدرې نه ده. (۴)

یو سوال دا کیږی چې حضور ﷺ خو فرمائیلې دی چې دا د اوو بیمارو د پاره شفاء ده. خو مخکښې حدیث کښې د دوو بیمارو ذکر دې. او د نور پنځو ذکر نشته(۵)

①ددې یو جواب خو دا ورکړې شوې دې چې حضور ﷺ د اوو ذکر کړې دې خو راوی د اختصار د پاره صرف د دوو ذکر اوکړو. او راویان هم داسې اختصار کله کله کوی. (۶)

②او دا هم وئیلې شی چې باقی پنځو بیمارو د پاره ددې شفاء کیدل مشهوره ده، او ددې دوو د پاره شفاء کیدل غیرمشهور وه، نو ځکه ئې ددې دوو ذکر اوکړو. او د باقی پنځو ذکر ئې اونکړو، ځکه چې ددې ضرورت نه وو. (۷)

③او د ذکر شوې دواړه سوالونو جواب دا هم ورکړې شوې دې چې دلته د اوو نه یو خاص عدد مراد نه دې. بلکه ډیر والې مراد دې. او د عربی په ژبه کښې د اوو عدد د زیاتوالی د پاره استعمالیږی. لهذا د حدیث شریف مقصد دا دې چې عود هندی د ډیرو بیمارو د پاره شفاء ده. او په دې کښې د دوو ذکر حضور ﷺ اوفرمائیلو. (۸)

④حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې دا هم احتمال دې چې اوو سره د علاج اوو اصول مراد وی، دغه شان هغه لیکی: ویحتمل ان تکون السبعة اصول صفة التداوی بها، لانها طلاء او شرب او تکمید، او تنطیل، او تبخیر، او سعوط، او لدود. فالطلاء یدخل فی المراهم، ویحلی بالزیت، ویلطخ، وکذا التکمید، والشرب یسحق، ویجعل فی عسل او ماء او غیرهما، وکذا التنطیل، والسعوط یسحق فی زیت،

(۱) ارشاد الساری ۱۲/۴۲۲)-
(۲) فتح الباری ۱۰/۱۸۳)-
(۳)حواله بالا)-
(۴)حواله بالا)-
(۵) حواله بالا و ارشاد الساری ۱۲/۴۲۲)-
(۶) حواله بالا)-
(۷) فتح الباری ۱۰/۱۸۳)-
(۸) حواله بالا)-

ويقطر فى الانف، وكذا الدهن، والتخير واضح، تحت كل واحدة من السبة منافع لادوا مختلفة، ولا يستغرب ذلك ممن اوتى جوامع الكلم:(۱)

يعنى دا هم احتمال دې چې د اوو نه د علاج اوو اصول مراد وى، څكه چې په علاج كښې دوائى په اوو طريقو سره استعمالولې شى،

① دوائى يا مرېلې شى، ② يا څكلې شى، ③ يا په پوزه كښې اچولې شى، ④ يا په خله كښې اچولې شى، ⑤ يا ددې دارى ويشتلې شى،⑥ يا دا اوچولې شى،⑦ يا ددې لوږې راخكلې شى.

كلونجى په دې ذكر شوو اوو طريقو باندې استعمالولې شى، دا په مرهم كښې شاملولې شى، ريزه ريزه كولو نه پس دا اوبه سره څكلې هم شى، د زيتون په تيلو كښې ميلاويدو سره دا په پوزه يا خله كښې هم اچولې شى، او ددې لوږې راخكل خو بالكل ښكاره ده.

نو په كلونجى كښې د اوو شفاء مطلب دا دې چې د مختلف بيمارو د پاره دا په اوو طريقو سره استعماليدې شى،

قوله: وَدَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - بِابْنٍ لِي لَمْ يَأْكُلِ الطَّعَامَ فَبَالَ عَلَيْهِ، فَدَعَا بِمَاءٍ فَرَشَّ عَلَيْهِ: دا حديث كتاب الطهارة كښې د باب الصبيان لاندې تير شوې دې، (۲)

حضرت ام قيس بنت محصن رضى الله عنها خپل ماشوم څوئې حضور ﷺ په خدمت كښې راوستلو، حضور ﷺ هغه په خپله غيږه كښې كينولو، نو هغه تش بول اوكړل، حضور ﷺ اوبه راواوغښتلې او د بولو په څائې باندې هغه اوشيندلې.

۱۱ - باب أَىِّ سَاعَةٍ يَحْتَجِمُ

وَاحْتَجَمَ أَبُومُوسَى لَيْلاً.

[۵۳۶۹] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ احْتَجَمَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- وَهُوَ صَائِمٌ. [ر: ۱۷۳۸]

د ترجمة الباب مقصد: ساعت نه دلته مطلقا وخت مراد دې، اصطلاحى گهنټه مراد نه ده، ددې ترجمة الباب دوه مقصدونه او مطلبونه بيان كړې شوى دى،

① د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چې احتجام يعنى ښكر لگولو د پاره څه وخت مقرر نه دې، چې كله هم ضرورت وى بغير د څه مكروه والى نه ښكر لگولې شى، (۳)

نو دغه شان امام بخارى ددې نه پس د حضرت ابو موسى رضى الله عنه تعليق ذكر كړې دې، چې

---

۱) فتح البارى ۱۰/۱۸۳)-

۲) الحديث اخرجه البخارى فى كتاب الوضوء، باب بول الصبيان ۱/۹۰) رقم الحديث ۲۲۱)-

۳) فتح البارى ۱۰/۱۸۳و ارشاد السارى ۱۲/۴۲۳)-

هغوی د شپې په وخت کښې ښکر لګولې وو، او د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایت ئې نقل کړو چې حضور ﷺ ښکر اولګولو په داسې حالت کښې چې حضور ﷺ روژه دار وو، یعنی د ورځې په وخت کښې ښکر اولګولو، معلومه شوه چې ښکر، شپه ورځ هر وخت کښې لګولې شي، او ددې د پاره څه وخت مقرر نه دې. [1]

② بعضې حضراتو اوفرمائیل چې امام بخاری هغه روایاتو طرف ته اشاره کوی چې په هغې کښې د ښکر لګولو تاریخ او وخت خودلې شوې دې، نو هغه روایات چونکه د امام بخاری په شرط باندې پورا نه دی ځکه ئې هغه ذکر نه کړل. [2]

مثلا سنن ابی داود کښې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت دې. من احتجم لسبع عشرة وتسع عشرة، واحدی عشرین، کان شفاء من کل داء. [3]

په سنن ترمذی کښې د حضرت انس رضی الله عنه حدیث دې، (ان رسول الله ﷺ کان یحتجم فی الاخدعین والکاهل، وکان یحتجم لسبع عشرة وتسع عشرة، واحدی وعشرین. [4]

امام ترمذی دې حدیث لره حسن ګرځولې دې.

په سنن ترمذی کښې د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایت دې، (قال رسول الله ﷺ نعم العبد الحجام یذهب بالدم، ویخف الصلب، ویجلو عن البصر، وان خیر ما تحتجمون فیه: یوم سبعة عشرة، ویوم تسعة عشرة، ویوم احدی وعشرین. [5]

د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما روایت دې، (الحجامة تزید فی الحفظ و فی العقل، وتزید الحافظ حفظاً فعلی اسم الله یوم الخمیس، یوم الجمعة، ویوم السبت، ویوم الاحد، ویوم الاثنین، یوم الثلاثا، ولا تحتجموا یوم الاربعاء فما یلزل من جنون ولا جذام ولا برص الا لیلة الاربعاء

د ابوداود یو روایت کښې دی چې حضور ﷺ به د نهې په ورځ ښکر لګول مکروه ګڼړل. او فرمائیل به ئې (یوم الثلاثا یوم الدم، وفیه ساعة لا یرقأفیها). [7]

یعنی د منګل په ورځ یو وخت داسې دې چې په هغې کښې بهیدونکې وینه نه اودریږی.

دې احادیثو کښې ورځ او تاریخ دواړه خودلې شوې دی، چې په ۱۷، ۱۹ او ۲۱ تاریخ باندې ښکر لګول زیات بهتردی، دغه شان د زیارت، جمعه اودهفتې په ورځ هم لګول پکار دی، د چارشنبې او په یو روایت کښې د نهې په ورځ هم د ښکر لګولو نه منع راغلې ده. [7]

---

[1] حواله بالا)-

[2] فتح الباری ۱۸٤/۱۰)-

[3] الحدیث اخرجه ابو داود فی کتاب الطب، باب حتی تستحب الحجامة، ٥/٤، رقم الحدیث ۳۸۶۱)-

[4] الحدیث اخرجه الترمذی فی کتاب الطب باب ما جاء فی الحجامة، ۳۹۰/٤) رقم الحدیث ۲۰٥۱)-

[5] الحدیث اخرجه الترمذی فی کتاب الطب باب ما جاء فی الحجامة ۳۹۰/٤) رقم الحدیث ۲۰٥۲)-

[6] عمدة القاری ۲٤۰/۲۱)-

[7] سنن ابی داود کتاب الطب ٥/٤) باب متی تستحب الحجامة رقم الحدیث ۳۸۶۲)-

د امام بخاری په شرط باندې چونکه دا روایت نه وو. ځکه هغوی دا ذکر نه کړو. خو بیا هم د ترجمة الباب نه دې احادیثو طرف ته اشاره مقصود ده. علامه قسطلانی لیکلی:

وعند الاطباء ان انفع الحجامة ما يقع فى الساعة الثانية او الثالثة وان لا يقع عقب استفراغ من حمام او جماع ولا عقب شبع ولا جوع وانها تفعل فى النصف الثانى من الشهر ثم فى الربع الثالث من ارباعه انفع من اوله وآخره. لان الاخلاط فى اول الشهر تهيج وفى آخره تسكن فاولى ما يكون الاستفراغ فى اثنائه.[1]

یعنی د ورځې په دویمې دریمې حصه کښې ښکر لګول د طبیبانو په نیز بهتر دی، غسل د جماع نه پس صحیح نه دې. دغه شان د ډیرې لوږې او د زیات موړوالی په حالت کښې هم صحیح نه دې، د میاشت په آخری پنځلسو ورځو کښې دې اولګولې شی. د ۱۴ تاریخ نه تر د ۲۳ تاریخ پورې ورځې د ټولو نه زیات بهتر دی، ځکه چې د بدن په اخلاط کښې (وینه، سودا. صفرا او بلغم) د میاشتې په شروع کښې اوچتوالې کیږی. او د میاشتې په آخره کښې ساکن والې وی. نو ځکه د مینځنۍ حصه بهتره ده. ځکه چې هغه د اخلاط معتدل زمانه وی

د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه نوم عبدالله بن قیس دې.[2]

ددوی دا تعلیق ابن ابی شیبه موصولا نقل کړې دې.[3]

د باب په آخر کښې هم دې سند او متن سره په کتاب الصوم کښې (باب الحجامة والقئ) لاندې تیر شوې دې

۱۲ - بَابُ الْحَجْمِ فِي السَّفَرِ وَالإِحْرَامِ

قَالَهُ ابْنُ بُحَيْنَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -.

[۵۳۷۰] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ طَاوُسٍ وَعَطَاءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ احْتَجَمَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - وَهُوَ مُحْرِمٌ [ر: ۱۷۳۸]

په سفر او احرام کښې ښکر لګولې شی.

قوله قال ابن بحينة عن النبى ﷺ: ابن بحینه نوم عبدالله بن مالک بن قشب دې، بحینه ددوی د مور نوم دې.[4]

ددوی دا حدیث مخکښې موصولا راروان دې.

حدیث باب کښې دی چې حضور ﷺ د احرام په حالت کښې ښکر اولګولو.

دا حدیث په کتاب الحج کښې (باب الحجامة للمحرم) کښې تیر شوې دې.

[1])عمدة القارى ۲۱/۲۴۰، ارشاد السارى ۱۲/۴۲۳)-

[2])حواله بالا)-

[3])عمدة القارى ۲۱/۲۴۰)-

[4])عمدة القارى ۲۱/۲۴۱، ارشاد السارى ۱۲/۴۲۳)-

١٣- باب الحِجَامَةِ مِنَ الدَّاءِ

[٥٣٧١] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ الطَّوِيلُ عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ أَجْرِ الْحَجَّامِ فَقَالَ احْتَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم حَجَمَهُ أَبُو طَيْبَةَ، وَأَعْطَاهُ صَاعَيْنِ مِنْ طَعَامٍ، وَكَلَّمَ مَوَالِيَهُ فَخَفَّفُوا عَنْهُ، وَقَالَ « إِنَّ أَمْثَلَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ الْحِجَامَةُ وَالْقُسْطُ الْبَحْرِي » وَقَالَ « لاَ تُعَذِّبُوا صِبْيَانَكُمْ بِالْغَمْزِ مِنَ الْعُذْرَةِ، وَعَلَيْكُمْ بِالْقُسْطِ». [ر ١٩٩٦]

[٥٣٧٢] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ تَلِيدٍ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَمْرٌو وَغَيْرُهُ أَنَّ بُكَيْرًا حَدَّثَهُ أَنَّ عَاصِمَ بْنَ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ حَدَّثَهُ أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنهما - عَادَ الْمُقَنَّعَ ثُمَّ قَالَ لاَ أَبْرَحُ حَتَّى تَحْتَجِمَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ « إِنَّ فِيهِ شِفَاءً». [ر ٥٣٥٩]

په دې باب کښې د بیمارئی په سبب د ښکر لګولو بیان دې. روایت کښې دی چې د حضرت انس ﷛ نه د ښکر لګولو د اجرت تپوس اوکړې شو. نو هغوی اوفرمائیل چې حضور ﷺ ښکر اولګولو، ابو طیبه هغوی ته ښکر لګولې وو. حضور ﷺ ورته دوه صاعه غله ورکړه. او د هغوی د مالکانو نه (د روزانه اخستلو والا رقم کښې) د تخفیف په باره کښې خبرې اوکړې. چې بهترین علاج کوم چې تاسو کوئی، هغه ښکر لګول او قسط بحری دې. او وې فرمائیل چې په عذره بیمارئی کښې د ماشوم تالو ته زور ورکولو سره تکلیف مه ورکوئې. بلکه قسط استعمال کړئی

په دویم قراءت کښې دی چې حضرت جابر ﷛ د مقنع تپوس کولو سره اووئیل چې ځه به هغه وخت پورې نه زم، ترڅو چې ته ښکر اونه لګوې، او ځکه چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلې دی، چې په دې کښې شفا ده.

د ابو طیبه چې کوم غلام حضور ﷺ ته ښکر لګولې وو، د هغه نوم نافع وو.[1]

دده آقا محیصه بن مسعود وو، مولی د جمع صیغه مجازا ئې استعمال کړې ده.[2]

امثل ماتداویتم.. امثل بمعنی افضل دې.[3]

قوله: لا تعذبوا صبیانکم بالغمز من الغذرة: غمز: زور ورکولو ته وائی. ماشومانو ته چې کله د حلق دا بیماری راشی نو ښځې د ماشومانو تالو ته زور ورکوی. په دې عمل کښې ماشوم ته ډیر تکلیف وی. حضور ﷺ اوفرمائیل چې ماشومانو ته داسې تکلیف مه

---

[1] فتح الباری ١٠/١٨٦، عمدة القاری ٢١/٢٤١) ارشاد الساری ١٢/٤٢٤)-

[2] فتح الباری
١٠/١٨٦) ارشاد الساری ١٢/٤٢٤)-

[3] عمدة القاری ٢١/٢٤١) فتح الباری ١٠/١٨٦) ارشاد الساری ١٢/٤٢٤)_

ورکوئی، بلکه د عود هندی په ذریعه ددې بیمارئی علاج اختیار کړئی.
په دې حدیث کښې حضور ﷺ ښکر لګول بهترین علاج خودلې دې، ځکه چې ښکر لګولو سره د بدن نه فاسده وینه اوځی.
امام ابوداود رحمه الله یو روایت نقل کړې دې، په هغې کښې دی، ما کان احد یشتکی الی رسول الله ﷺ وجعا فی راسه، الا قال: احتجم: ولا وجعا فی رجلیه، الا قال: اخضبها.[1]
دلته دا خبره یاد ساتل پکار ده چې په ښکر لګولو کښې د مخصوص رګونو نه وینه ویستلې کیږی. دا هر سړې اوخکلې نشی، بلکه یو ماهر او تجربه کار کس دا کولې شی.
دغه شان چې د کومو خلقو په مزاج کښې یخوالې زیات وی او حرارت نه وی، د هغوی د پاره ښکر لګول زیات مفید نه دی، چنانچه طبری رحمه الله په سند صحیح سره د ابن سیرین رحمه الله نه روایت نقل کړې دې اذا بلغ الرجل اربعین سنة لم یحتجم.[2]
علامه طبری په زاد المعاد کښې فرمائی:
لحجامة فی الازمان الحارة، والا مکنة الحارة والامزجة الحارة التی دم اصحابها فی غایة النضج انفع.[3]

قوله: عاد المقنع: په دویم روایت کښې دی چې حضرت جابر رضی الله عنه د مقنع عبادت اوکړو، مقنع (نون مشدده مفتوحه سره.)[4]
حافظ ابن حجر فرمائی: لا اعرفه الا فی هذا الحدیث..[5]

۱۴-باب الحِجَامَةِ عَلَى الرَّأْسِ

[۵۳۷۳] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ عَنْ عَلْقَمَةَ أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ الأَعْرَجَ أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ ابْنَ بُحَيْنَةَ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- احْتَجَمَ بِلَحْيِ جَمَلٍ مِنْ طَرِيقِ مَكَّةَ، وَهُوَ مُحْرِمٌ، فِي وَسَطِ رَأْسِهِ.
وَقَالَ الأَنْصَارِيُّ أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضى الله عنهما- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- احْتَجَمَ فِي رَأْسِهِ. [ر: ۱۷۳۸، ۱۷۳۹]
دا د ابن بحینه هغه روایت دې کوم چې مخکښې تعلیقا ذکر شوې وو، او اوس ئې دلته موصولا ذکر کړو. چې حضور ﷺ د مکې په لاره باندې مقام الحی جمل کښې په سرمبارک باندې ښکر اولګولو، په دې حالت دوی ﷺ د احرام په حالت کښې وو.

قوله: احتجم بلحی جمل: لحی جمل یو قول خو دادې چې دا د ځائې نوم دې، مطلب دا دې.

---

[1] الحدیث اخرجه ابوداود فی کتاب الطب باب فی الحجامة ٤/٤، رقم الحدیث ۳۸۵۸)-
[2] فتح الباری ۱۸۶/۱۰)، عمدة القاری ۲٤۱/۲۱)-
[3] زاد المعاد ٥٤/٤) ارشاد الساری ٤۲٤/۱۲)-
[4] عمدة االقاری ۲٤۲/۲۱) فتح الباری ۱۸۷/۱۰) ارشاد الساری ٤۲۵/۱۲)_
[5] فتح الباری ۱۸۷/۱۰) ارشاد الساری ٤۲۵)-

چې په دې حائې باندې حضور ﷺ ښکر لګولې وو، په دې صورت کښې باء جاره د (فی) په معنی کښې ده.
دویم قول دا دې چې د جمل نه اوښ مراد دې، او (لحی) ږیرې ته وائی، نو د لحی جمل نه د ښکر لګولو هغه آله مراد ده. یعنی د اوښ د هډوکی په ذریعه هغه ښکر اولګولې شول، په دې صورت کښې باء جاره د استعانت د پاره ده. [1]
علامه عنیی رحمه الله اول قول لره معتمد ګرځولې دې، [2]

قوله: وقال الانصاري اخبرنا..: انصاری نه محمد بن عبدالله بن المثنی بن عبدالله بن انس بن مالک مراد دی، [3]
دې تعلیق لره امام بیهقی موصولا نقل کړې دې. [4]
د هغې الفاظ دی احتجم وهو محرم من صداع کان به او داء. واحتجم موضع یقال له: لحی جمل. [5]

١٥ - باب الْحَجْمِ مِنَ الشَّقِيقَةِ وَالصُّدَاعِ

[٥٣٧٤] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنْ هِشَامٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ احْتَجَمَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فِي رَأْسِهِ وَهُوَ مُحْرِمٌ مِنْ وَجَعٍ كَانَ بِهِ بِمَاءٍ يُقَالُ لَهُ لُحْيُ جَمَلٍ.
وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ سَوَاءٍ أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - احْتَجَمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ فِي رَأْسِهِ مِنْ شَقِيقَةٍ كَانَتْ بِهِ. [ر: ١٧٣٨]

[٥٣٧٥] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبَانَ حَدَّثَنَا ابْنُ الْغَسِيلِ قَالَ حَدَّثَنِي عَاصِمُ بْنُ عُمَرَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «إِنْ كَانَ فِي شَيْءٍ مِنْ أَدْوِيَتِكُمْ خَيْرٌ فَفِي شَرْبَةِ عَسَلٍ أَوْ شَرْطَةِ مِحْجَمٍ أَوْ لَذْعَةٍ مِنْ نَارٍ، وَمَا أُحِبُّ أَنْ أَكْتَوِيَ». [ر: ٥٣٥٩]

شقیقة د نیم سر درد ته وئیلې شی او صداع د پوره سر درد ته وائی، [6]
ښکر لګول د سر د درد د پاره مفید دی، ابن عدی د ابن عباس رضی الله عنهما نه مرفوعا نقل کړې دی، الحجامة فی الراس تنفع من الجنون والجذام، والبرص والنعاس، والصداع، ووجع الضرس والعین. [7]

---

[1] عمدة القاری ٢١/٤٢٢، فتح الباری ١٠/١٨٨) ارشاد الساری ١٢/٤٢٦)-
[2] عمدة القاری ٢١/٢٤٢)-
[3] عمدة القاری ٢١/٢٤٦) ارشاد الساری ١٢/٤٢٦)-
[4] حواله بالا)-
[5] عمدة القاری ٢١/٢٤٣) فتح الباری ١٠/١٨٨) ارشاد الساری ١٢/٤٢٦)-
[6] عمدة القاری ٢١/٢٤٢) فتح الباری ١٠/١٨٨) ارشاد الساری ١٢/٤٢٦)-
[7] ارشاد الساری ١٢/٤٢٧)_

خود دې روايت په سند کښې عمر بن رباح يو راوي دې، کوم چې مهتم بالكذب دې.[1]

١٦ - باب الحَلْقِ مِنَ الأَذَى

[٥٣٧٦] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ أَيُّوبَ قَالَ سَمِعْتُ مُجَاهِدًا عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى عَنْ كَعْبٍ هُوَ ابْنُ عُجْرَةَ قَالَ أَتَى عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم - زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ، وَأَنَا أُوقِدُ تَحْتَ بُرْمَةٍ، وَالْقَمْلُ يَتَنَاثَرُ عَنْ رَأْسِي فَقَالَ «أَيُؤْذِيكَ هَوَامُّكَ». قُلْتُ نَعَمْ. قَالَ «فَاحْلِقْ وَصُمْ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ، أَوْ أَطْعِمْ سِتَّةً، أَوِ انْسُكْ نَسِيكَةً». قَالَ أَيُّوبُ لاَ أَدْرِي بِأَيَّتِهِنَّ بَدَأَ. [ر: ١٧١٩]

په سر کښې که سپګې وغيره د تکليف ورکوي نو حلق کيدې شي، ددې د باب کتاب الطب سره مناسبت بيانولو باره کښې علامه عينى رحمه الله ليکلى:

ووجه ايراده فى باب الطب من حيث ان كل ما يتأذى به المؤمن وان ضعف اذاه يباح له ازالته. وان كان محرماً. وفيه معنى الطب. لانه ازالة الاذى يشابه المرض، لان كل مرض اذى، وتسلط القمل على الراس اذى، وكل اذى يباح ازالته. فالقمل يباح ازالته.[2]

يعنى سر چې کله د سپګو وغيره نه په تکليف کښې وى نو د احرام په حالت کښې حلق کولو ختمول جائز دى، په دې کښې د علاج معنى موندلې کيږى، ځکه چې مرض سره يو شان يو تکليف لرې کول دى. ځکه چې هر مرض تکليف والا دې.

١٧ - باب مَنِ اكْتَوَى أَوْ كَوَى غَيْرَهُ، وَفَضْلِ مَنْ لَمْ يَكْتَوِ

[٥٣٧٧] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ هِشَامُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سُلَيْمَانَ بْنِ الْغَسِيلِ حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرًا عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «إِنْ كَانَ فِي شَىْءٍ مِنْ أَدْوِيَتِكُمْ شِفَاءٌ فَفِي شَرْطَةِ مِحْجَمٍ أَوْ لَذْعَةٍ بِنَارٍ، وَمَا أُحِبُّ أَنْ أَكْتَوِيَ». [ر: ٥٣٥٩]

[٥٣٧٨] حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ مَيْسَرَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ حَدَّثَنَا حُصَيْنٌ عَنْ عَامِرٍ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ - رضى الله عنهما - قَالَ لاَ رُقْيَةَ إِلاَّ مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ. فَذَكَرْتُهُ لِسَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ فَقَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -

«عُرِضَتْ عَلَيَّ الأُمَمُ، فَجَعَلَ النَّبِيُّ وَالنَّبِيَّانِ يَمُرُّونَ مَعَهُمُ الرَّهْطُ، وَالنَّبِيُّ لَيْسَ مَعَهُ أَحَدٌ، حَتَّى رُفِعَ لِي سَوَادٌ عَظِيمٌ، قُلْتُ مَا هَذَا أُمَّتِي هَذِهِ قِيلَ هَذَا مُوسَى وَقَوْمُهُ. قِيلَ انْظُرْ إِلَى الأُفُقِ. فَإِذَا سَوَادٌ يَمْلأُ الأُفُقَ، ثُمَّ قِيلَ لِي انْظُرْ هَا هُنَا وَهَا هُنَا فِي آفَاقِ السَّمَاءِ فَإِذَا سَوَادٌ قَدْ مَلأَ الأُفُقَ قِيلَ هَذِهِ أُمَّتُكَ وَيَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ هَؤُلاَءِ سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ، ثُمَّ دَخَلَ وَلَمْ

---

[1] حواله بالا)-

[2] عمدة القارى ٢١/٢٤٣)-

يُبَيِّنْ لَهُمْ فَأَفَاضَ الْقَوْمُ وَقَالُوا نَحْنُ الَّذِينَ آمَنَّا بِاللَّهِ، وَاتَّبَعْنَا رَسُولَهُ، فَنَحْنُ هُمْ أَوْ أَوْلاَدُنَا الَّذِينَ وُلِدُوا فِي الإِسْلاَمِ فَإِنَّا وُلِدْنَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ. فَبَلَغَ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَخَرَجَ فَقَالَ هُمُ الَّذِينَ لاَ يَسْتَرْقُونَ، وَلاَ يَتَطَيَّرُونَ، وَلاَ يَكْتَوُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ». فَقَالَ عُكَاشَةُ بْنُ مِحْصَنٍ أَمِنْهُمْ أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ «نَعَمْ». فَقَامَ آخَرُ فَقَالَ أَمِنْهُمْ أَنَا قَالَ «سَبَقَكَ عُكَاشَةُ».[ر: ۳۲۲۹]

په اکتوی او کوی کښې فرق بیانولو سره علامه عینی اوفرمائیل چې اول لازم او دویم اعم دې. یعنی اکتوی لنفسه. د ځان د پاره داغ لګول. لنفسه ولغیره. ځان له داغ لګول یا د بل چا د پاره داغ لګول.[1]

ترجمة الباب په درې جزونو باندې مشتمل دې.

① من اکتوی ② کوی غیره ③ او فضل من لم یکتو..

د اول دوو جزونو نه د داغ جواز طرف ته اشاره ده، او دریم جز نه دې خبرې ته اشاره ده چې کله ضرورت نه وی نو ددې پریخودل افضل دی.[2]

د باب اولنې حدیث اوس تیر شوې دې. او دویم حدیث په کتاب الانبیاء کښې باب وفاة موسی علیه السلام لاندې په اختصار سره تیر شوې دې، مخکښې کتاب الرقاق کښې هم امام بخاری ددې تخریج کړې دې.[3]

حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه فرمائی چې د نظر بد یا د زهریله ځناور (مار لړم وغیره) د ټک نه علاوه په یو څیز باندې هم منتر جائز نه دې. حصین بن عبدالرحمن فرمائي چې ما سعید بن جبیر رضی الله عنه ته دا خبره بیان کړه نو هغوی اووئیل چې مونږ ته ابن عباس رضی الله عنه حدیث بیان کړو چې حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل زما مخکښې یو څو امتونه پیش کړې شول، یو یو او دوه دوه نبیان علیهم السلام تیر شول، هغوی سره جماعت وو، او داسې نبیان هم تیر شول چې هغوی سره یو امتی هم نه وو، تردې چې زما مخکښې یو لوئې جماعت تیر شو. ما تپوس اوکړو چې دا څه دی؟ آیا دا زما امت دې؟ جواب میلاو شو چې دا موسی علیه السلام او د هغه قوم دې، بیا ماته اووئیلې شول افق طرف ته اوګوره، یو جماعت ټول اسمان لره ګیر کړې وو، ماته اووئیلې شول چې یو خوا بل خوا طرفونه ته اوګوره، ما اوکتل چې د الله د مخلوق یو لویا ډله وه، چا چې ټول افق لره نیولې وو، اووئیلې شول چې دا ستا امت دې، په دوی کښې به اوویا زره بغیر حساب نه جنت ته داخلیږی،

دې نه پس حضور صلی الله علیه وسلم دننه تشریف راوړو، او حضور صلی الله علیه وسلم دا اونه فرمائیل چې بغیر حساب داخلیدونکې به کوم خلق وی. خلقو جهګړې شروع کړې او وې وئیل چې دا مونږ یو. ځکه چې مونږ په الله باندې ایمان راوړو، او د هغه د رسول مو اتباع اوکړه، یا زمونږ اولاد دی

[1] عمدة القاری (۲۴۳/۲۱) ارشاد الساری (۴۲۸/۱۲)_

[2] عمدة القاری (۲۴۳/۲۱) فتح الباری (۱۹۱/۱۰)-

[3] ارشادالساری (۴۳۱/۱۲) عمدة القاری (۲۴۴/۲۱)_

خکه چې هغوی په اسلام باندې پیدا شوې دی، او مونږ خو په جاهلیت کښې پیدا شوې یو. حضور ﷺ ته چې دا خبر میلاو شو نو وې فرمائیل چې دا به هغه خلق وی چې نه منتر وائی او نه بدفالی کوی، او نه داغ لګوی، او په خپل رب باندې بهروسه کوی.
عکاشه بن محصن رضی الله عنه عرض اوکړو، چې یا رسول الله! څه د هغه کسانو نه یم، ؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چې آو، ته د هغه خلقو نه یې. یو بل کس هم پاسیدو او تپوس ئې اوکړو چې آیا څه د هغه خلقو نه یم، حضور ﷺ اوفرمائیل چې عکاشه ستا نه مخکښې شو.

قوله: عن عمران بن حصين قال: لا رقية الا من عين او حمة: د حدیث په دې جمله کښې اختلاف دې، چې دا موقوف ده، یا مرفوع، دلته محمد بن فضیل دا موقوفا نقل کړې دې، البته مالک بن مغول دې لره مرفوعا نقل کړې دې. د مالک روایت امام احمد او امام ابوداود رحمه الله ذکر کړې دې.[1]

حمة (د حاء ضمه او میم تخفیف سره) د لړم زهر یا د هغه ټک ته وائی.[2]

قوله: لا رقية الا من عين او حمة: مطلب دا دې چې دم درود په دوو آفتونو کښې نسبتا زیات مفید وی، یعنی په نظر لګیدو کښې، یا د لړم وغیره په ټک کښې.
علامه خطابی فرمائی چې ددې جملې مقصد دا نه دې چې دم درود صرف په دې دوو آفتونو کښې جائز دې، او باقی په بل آفت کښې جائز نه دې، بلکه مطلب دا دې چې په دې دواړو کښې دم درود زیات مفید او نفع ورکونکې دې. لا رقية احق واولى من رقية العين والحمة.[3]
علامه ابن اثیر فرمائی لا رقية اولى وانفع. دا داسې ده څنګه چې وائی لا فتى الا علي.[4]

(د رقیة متعلق تفصیلی خبرې مخکښې رازی)

قوله: فذكرته لسعيد بن جبير: دا د حصین بن عبدالرحمن قول دې، چې ما مذکوره جمله د سعید بن جبیر رحمه الله په مخکښې ذکر کړه.

قوله: فأفاض القوم: افاض فى الحديث: په خبرو کښې مصروف کیدل، مناظره کول

قوله: هم الذين لا يسترقون، ولا يتطيرون، ولا يكتوون: یعنی هغه خلق به وی چې دم درود نه کوی، استرقاء نه دلته زمانه جاهلیت والا استرقاء مراد ده، چې په هغې کښې شرکیه الفاظ شامل به وو، استرقاء بکتاب الله مراد نه دې. څکه چې قران وئیلو سره دم درود کول جائز دی، او د توکل مخالف نه دې.[5]

---

[1] اخرجه ابوداود فى كتاب الطب باب فى تعليق التمائم ٩/٤٤رقم الحديث ٣٨٨٤٠، ارشاد السارى ١٢/٤٢٩
[2] ارشاد السارى ١٢/٤٣٠ عمدة القارى ٢١/٢٤٤
[3] عمدة القارى ٢١/٢٤٥
[4] النهاية لابن اثير ٢/٢٥٥٩)-
[5] عمدة القارى ٢١/٢٤٥)-

لا یتطیرون: بدفالی نه نیسی، په زمانه جاهلیت کښې به خلقو په مرغو باندې بدشگونی (بدفالی) کوله، (١) چې د هغې څه حقیقت نه وو.

ولا یکتوون: او چې داغ نه لګوی، یعنی داغ لګول مؤثر حقیقی نه ګڼړی، څنګه چې مخکښې تیر شول، د ضرورت په وخت کښې داغ لګولو کښې څه ګناه نشته. البته دا په علاج کښې سبب مؤثر ګڼړل صحیح نه دی. (٢)

قوله: فقام آخر: فقال: امنهم انا؟ قال: سبقك بها عكاشه: دا دویم کس څوک وو؟ په دې کښې یو قول خو دا دې چې دا حضرت سعد بن عباده رضی الله عنه وو. او دویم قول دا دې چې دا څوک بل منافق وو، حضور ﷺ په هغه باندې پرده اچولو سره سبقک عکاشه فرمائیلو سره ښه سلوک سره هغه لره رد کړو، چې کیدې شي توبه اوباسی او خالص مسلمان شی. (٣)

حضور ﷺ سبق بها عکاشه اوفرمائیل یا خو ځکه چې تپوس کولو والا د ددې خلقو نه نه وو، د چا چې به بې حساب بخښنه کیږی، او دا هم احتمال دې، چې هغه هم ددې خلقو نه وو، خو حضور ﷺ ددې سلسلې لره د مخکښې تلو نه منع کولو د پاره دا جمله ارشاد اوفرمائیله، چې هسې نه اوس هر یو پاسی او دا تپوس کوی، چې هم د هغه خلقو نه یم او که نه یم (٤)
ددې حدیث متعلق تفصیل مخکښې په کتاب الرقاق کښې به انشاءالله راشی.

١٨ - بَاب الإِثْمِدِ وَالْكُحْلِ مِنَ الرَّمَدِ

فِيهِ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ. [ر: ٥٠٢٧]

[٥٣٧٩] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِي حُمَيْدُ بْنُ نَافِعٍ عَنْ زَيْنَبَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رضي الله عنها - أَنَّ امْرَأَةً تُوُفِّيَ زَوْجُهَا فَاشْتَكَتْ عَيْنَهَا، فَذَكَرُوهَا لِلنَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَذَكَرُوا لَهُ الْكُحْلَ، وَأَنَّهُ يُخَافُ عَلَى عَيْنِهَا، فَقَالَ « لَقَدْ كَانَتْ إِحْدَاكُنَّ تَمْكُثُ فِي بَيْتِهَا فِي شَرِّ أَحْلاَسِهَا - أَوْ فِي أَحْلاَسِهَا فِي شَرِّ بَيْتِهَا - فَإِذَا مَرَّ كَلْبٌ رَمَتْ بَعْرَةً، فَلاَ، أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ». [ر: ٥٠٢٥]

اثمد د همزه او د میم کسرې سره، یو مشهور کاڼړې دې، چې د هغې نه رانژه جوړیږی، الکحل عام دې. او اثمد خاص دې، د کحل عطف په اثمد باندې د عطف العام علی الخاص د قبیل نه دې. (٥)

---

(١) حواله بالا)-
(٢) عمدة القاری ٢٤٥/٢١. ارشاد الساری ٤٣١/١٢)-
(٣) عمدة القاری ٢٤٥/٢١)-
(٤) ارشاد الساری ٤٣١/١٢)-
(٥) عمدة القاری ٢٤٥/٢١ ارشاد الساری ١٢٤٣١)-

من الرمد كښې (من) سببيه دې، اى بسبب الرمد، رمد د سترګې تکليف ته وائى، ([1])
په سترګه کښې تکليف وى نو رانجه او خاص کر اثمد استعمالېږى.

قوله: فيه عن ام عطية: يعنى په دې باب کښې د ام عطيه رضي الله عنها نه روايت دې، د ام عطيه نوم نسيبة بنت كعب دې، ([2])
ددوى روايت امام بخارى په کتاب الطلاق کښې موصولا نقل کړې دې، چې د هغې الفاظ لا يحل لامراة تؤمن بالله واليوم الآخر ان تحد فوق ثلاث الا على زوج فانها لا تكتحل. په دې روايت کښې اګرچې د اثمد ذکر نشته، خو عرب به دا د رانجو په توګه استعمالول، ځکه ددې روايت نه د اثمد په ثبوت باندې استدلال کيدې شى.([3])
په کومو رواياتو کښې چې د اثمد ذکر راغلې دې، غالبا هغه د امام بخارى په شرط باندې نه وو، ځکه امام بخارى د هغې تخريج اونکړو.
د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت ابن حبان په خپل صحيح کښې نقل کړې دې د هغې الفاظ ان خيرا اكحالكم: الاثمد، يجلوا البصر وينبت الشعر، ([4])
امام ترمذى رحمه الله هم يو روايت نقل کړې دې: وخير ما اكتحلتم به الاثمد، فانه يجلوا البصر، وينبت الشعر، ([5]) حديث باب په کتاب الطلاق کښې باب الاكتحال للحادة لاندې تير شوې دې.

۱۹ - بَابُ الْجُذَامِ

[۵۳۸۰] ([6]) وَقَالَ عَفَّانُ حَدَّثَنَا سَلِيمُ بْنُ حَيَّانَ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مِينَاءَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ وَلاَ هَامَةَ وَلاَ صَفَرَ، وَفِرَّ مِنَ الْمَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنَ الأَسَدِ». [۵۳۸۷، ۵۴۲۵، ۵۴۳۷، ۵۴۳۹]

---

[1] حواله بالا)-
[2] حواله بالا)-
[3] عمدة القارى ۲۴۶/۲۱، حواله بالا)-
[4] عمدة القارى ۲۴۶/۲۱)-
[5] اخرجه الترمذى فى كتاب الطب باب ما جاء فى السعوط وغيره، ۳۸۹/۴) رقم الحديث ۲۰۴۷)-
[6] الحديث اخرجه البخارى ايضا فى كتاب الطب، باب لا صفر وهوداء ياخذ البطن، ۲۱۶۱/۵) رقم الحديث ۵۳۸۷) واخرجه البخارى ايضا فى كتاب الطب، باب لا هامة ولا صفرة ۲۱۷۱/۵) رقم الحديث ۵۴۲۵) واخرجه البخارى ايضا فى كتاب الطب، باب لا هامة ۲۱۷۷/۵) رقم الحديث ۵۴۳۷) واخرجه البخارى ايضا فى كتاب الطب، باب لا عدوى ۲۱۷۷/۵) رقم الحديث ۵۴۳۹) واخرجه مسلم فى كتاب السلام، باب لا عدوى ولا طيرة ولا هامة ولا نوء ولا غول، ولا يردد ممرض على مصح، رقم الحديث ۲۲۲۰) واخرجه الترمذى فى كتاب السير باب ما جاء فى الطيرة ۱۶۱/۴) رقم الحديث ۱۶۱۵) واخرجه ابوداود فى كتاب الطب باب فى الطيرة ۱۷/۴) رقم الحديث ۳۹۱۱) واخرجه النسائى فى كتاب الطب باب الصفر وهو داء ياخذ البطن، ۳۷۵/۴) رقم الحديث ۷۵۹۱) واخرجه ابن ماجه فى كتاب الطب باب من كان يعجبه الفال يكره الطيرة ۱۱۷۱/۲) رقم الحديث ۳۵۳۹)-

د جذام باره كښې شارحين ليكي: هو علة رديئة تحدث من انتشار المرة السوداء في البدن كله، فتفسد مزاج الاعضاء . سمی بذلک لتجذم الاصابع وتقطعها. [١]
يعنې جذام يو بيمارى ده چې په ټول بدن كښې د سودا په خوريدو سره پيدا كيږى، دا د اعضاء نظام خرابوى، د جذام معنى د كټېكيدو رازى، دا بيمارى ګوتو لره كټ كوى، ځكه دې ته جذام وئيلې شى.
حديث باب دلته امام بخارى په اول ځل ذكر كړې دې، خو دا امام تعليقاً ذكر كړو، ابو نعيم او ابن خزيمه دا موصولاً نقل كړې دې، [٢]

قوله: لا عدوى: عدوى: د اعداء اسم دې، يو ځيز بل ځيز طرف ته منتقل كولو ته وائى، دلته د عدوى د يو بيمارى بل ته اوړيدل مراد دى، حضور ﷺ د مرض بل ته اوړيدلو نفى كړې ده، چې د يو مريض مرض بل ته زى، نو ددې څه حقيقت نشته، ځكه چې په مرض كښې دا تاثير نشته، چې هغه بل ته د سبب حقيقى په توګه باندې منتقل شى، [٣]

قوله: ولا طيرة: طيرة: بدشګونى ته وائى، د مختلف مرغانو نه بدشګونى اخستلو هم څه حقيقت نشته، [٤]

قوله: ولا هامة: هامة په اصل كښې كهوپړئى او سر ته وائى، په زمانه جاهليت كښې د خلقو خيال وو، كه يو كس قتل كړې شى، نو د مړى د هډوكو نه يو ځناور پيدا شى او والوزى، او هروخت دا فرياد كوى، اسقونى اسقونى. چې كله قاتل مړ شى، نو هغه ځناور الوتلو سره غائب شى، [٥]
بعضې خلق وائى چې خپله د مقتول روح د هغه ځناور روح اختيار كړى، حضور ﷺ دا خيال غلط اوګرځولو، او وې فرمائيل چې ددې څه حقيقت نشته، [٦]
يو قول دا هم دې، چې هامة الو ته وائى، د خلقو خيال وو، چې كله هغه د چا په كور باندې كينى نو هغه كور كهنډر شى، يا د هغه نه څوك مړ شى، نو حضور ﷺ ددې ارشاد سره دې عقيدې لره بې حقيقت اوګرځوله، [٧]

قوله: ولا صفر: ددې لفظ په تشريح كښې مختلف اقوال دى، او دوه قوله پكښې مشهور دى، ① بعضې خلق د صفر د مياشتې په باره كښې مختلف قسم خيالونه او وهمونه ساتى، او

---

[١] فتح البارى ١٠/١٩٥) عمدة القارى ٢١/٢٤٦) ارشاد السارى ١٢/٤٣٢)-
[٢] حواله بالا)-
[٣] حواله بالا)-
[٤] حواله بالا)-
[٥] حواله بالا)-
[٦] حواله بالا)-
[٧] ارشاد السارى ١٢/٤٣٣)-

دې میاشتې لره منحوسه گڼړی، او وائی چې په دې کښې د آفتونو او د حادثاتو مصیبتونه نازلیږی، حضور ﷺ په دې جمله کښې ددې نفی اوکړه، چې ددې اعتقاد څه حقیقت نشته.(۱)

② ددې دویمه تشریح داسې شوې ده، چې د خلقو په زمانه جاهلیت کښې خیال وو، چې د سړی په خیټه کښې مار وی، چې د لوږې په حالت په هغه باندې ټک لګوی، دې مار ته صفر وائی، حضور ﷺ لا صفر وئیلو سره دې لره بې حقیقت اوګرځولو.(۲)

د مرض د تجاوز مسائل:

قوله: وفر من المجذوم کما تفر من الاسد: د مجذوم نه داسې تخته لکه څنګه چې د زمری نه تختې. مرضونه بل ته لګی او که نا؟ په دې کښې حدیثونه مختلف دی د بعضې روایاتو نه معلومیږی چې د مرضونو نه تعدیه نه کیږی او د بعضو نه معلومیږی چې د مرضونو تعدیه کیږی،

چې د کومو روایاتو نه معلومیږی چې مرض بل ته نه لګی، نو د هغې نه څه دا دی:

① یو خو حدیث باب دې، چې په هغې کښې لا عدوی اوفرمائیلې شول.

② حضور ﷺ مجذوم سره روټئ خوړلو سره دا اوفرمائیل چې ثقة بالله وتوکلا علیه.(۳)

③ په صحیح مسلم کښې دی چې حضور ﷺ دعدوی نفی اوکړه نو یو اعرابی اووئیل چې یو خارښ والا اوښ صحیح اوښانو سره ولاړ وی، نو د هغې خارخ نورو ته اولګی، نو حضور ﷺ اوفرمائیل چې فمن اعدی الاول.. اولنی اوښ ته دا بیماری چا اولګوله؟(۴)

دا روایت دلته مخکښې باب لا عدوی لاندې راروان دې.

ددې په مقابله کښې د بعضې روایاتو نه د مرض د تعدیه ثبوت میلاویږی، څنګه چې د حدیث باب په آخر کښې دی، وفر من المجذوم کما تفر من الاسد

دغه شان د سنن ابن ماجه په یو حدیث کښې دی، لا تدیموا النظر الی المجذومین.(۵)

په یو حدیث کښې دی لا یورد ممرض علی مصح.(۶)

مریض دې صحیح سړی طرف ته دې راوستلې نشی،

یو بل حدیث کښې د طاعون متعلق دی: من سمع به بأرض فلا یقدم علیه.(۷) یعنی کوم ځائې چې د طاعون بیماری خوره وی هلته دې ورتلل پکار نه دی.

---

(۱) ارشاد الساری ۱۲/۴۳۳)-
(۲) حواله بالا)-
(۳) ارشاد الساری ۱۲/۴۳۳) و ۲۱/۲۴۷) عمدة القاری ۲۱/۲۴۷) فتح الباری ۱۰/۱۹۶)-
(۴) فتح الباری ۱۰/۱۹۹) و عمدة القاری ۲۱/۲۴۷)-
(۵) اخرجه ابن ماجة فی کتاب الطب، باب الجذام، ۲۰/۱۱۷۲) رقم الحدیث ۳۵۴۳)-
(۶) فتح الباری ۱۰/۱۹۸)-
(۷) حواله بالا)-

د تعارض حل کولو توجیهات: او دا خبره تاسو ته معلومه ده چې کله د یو مسئلې متعلق په حدیثو کښې تعارض راشی، نو د محدثینو په نیز ددې تعارض ختمولو د پاره عموما درې طریقې دی، نسخ، ترجیح او تطبیق. په دې حدیثونو کښې هم محدثینو دا درې قولونه اختیار کړې دی.

① د عالمانو یو جماعت وائی چې د مجذوم نه د تختیدو حکم منسوخ شوې دې، په حضراتو مالکیو کښې عیسی بن دینار هم دا قول اختیار کړې دې.(١)

بعضې عالمانو د ترجیح طریقه اختیار کړې ده، بیا په دې کښې دوه ډلې دی، بعضو د تعدیه د نفی روایاتو ته ترجیح ورکړې ده، او بعضو ددې نه خلاف د ثبوت والا روایاتو ته ترجیح ورکړې ده، (٢)

③ خو اکثر حضراتو دې دواړه قسمه احادیثو کښې تطبیق کړې دې، او ددې تطبیق مختلف توجیهات بیان کړې شوی دی،

(الف).. چې په کومو روایاتو کښې د اجتناب و فرار من المجذوم حکم ورکړې شوې دې، هغه په استحباب او اختیار باندې محمول دی، او په کوم کښې چې حضور ﷺ المجذوم سره یوځائې خوراک کړې وو، هغه په جواز باندې محمول دی.

(ب).. ابن الصلاح او امام بیهقی په دواړه قسمه روایاتو کښې تطبیق کولو سره فرمائی چې په کومو حدیثونو کښې د تعدیه امراض نفی ده، د هغې مقصد دا دې چې په یو بیمارئ کښې بالذات دا تاثیر نشته، چې هغه نورو خلقو ته منتقل شی،، په زمانه جاهلیت کښې د خلقو هم دا خیال وو، هغوی به مرضونه بالذات مؤثر ګڼړل، حضور ﷺ ددې نفی اوکړه، او چې د کومو حدیثونه د تعدیه امراض ثبوت معلومیږی هغه د ظاهری سبب په اعتبار سره دې. چې الله تعالی د ظاهری سبب په توګه په بعضې مرضونو کښې د تعدیه وصف پیدا کړې دې، چې هغه نورو ته منتقل کیږی، خو د سبب حقیقی او مؤثر اصلی په توګه دا وصف په دې کښې نشته، لهذا نفی د سبب حقیقی ده، او اثبات سبب ظاهری دې، ځکه دواړه قسمه حدیثونو کښې هیڅ تعارض نشته،(٣)

جمهور عالمانو دا توجیه اختیار کړې ده.

(ج) حافظ ابن حجر چې په شرح نخبة الفکر کښې د تطبیق کوم قول لره راجح ګرځولې دې، هغه دا دې، لاعدوی، دا په خپل اصل او په عموم باندې دې، او حقیقت دا دې چې یو مرض او بیماری بل چاته نه منتقل کیږی، خو ددې باوجود چې کوم خلق کمزوری عقیدې والا دی هغوی ته حکم ورکړې شو چې هغه مجذوم وغیره ته نزدې نه ورځی، ځکه چې ممکن ده چې هغه ته دا بیماری د تعدیه د وجه نه نا. بلکه هم داسې اولګی، او هغه دا ګڼړل شروع کړی،

---

(١) فتح الباری ١٠/١٩٦) عمدة القاری ٢١/٢٤٧)-

(٢) حواله بالا)-

(٣) حواله بالا)-

چې دا بيمارى د تعديه د وجه اولګيدله، نو دغه شان د هغه عقيده به خرابه شى، ځکه د هغه د عقيدې د حفاظت او د غلط عقيدې د بندولو د پاره احتياطا هغه ته د مجذوم نه د لرې کيدو حکم ورکړې شوې دې، نو دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله په شرح نخبة الفکر کښې ليکى:

والاولى فى الجمع بينهما ان يقال: ان نفيه للعدوى باق على عمومه وقد صح قوله ﷺ: لا يعدى شئ، و قوله ﷺ لمن عارضه بأن البعير الجرب يكون فى الابل الصحيحة، فيخالطها فتجرب حيث رد عليه ب قوله: فمن اعدى الاول يعنى ان الله تعالى ابتدا ذلک فى الثانى کما ابتداه فى الاول واما الامر بالفرار من المجذوم، فمن باب سد الذرائع لئلا يتفق للشخص الذى يخالطه شئ من ذلک بتقدير الله تعالى، ابتداء لا بالعدوى المنفية، فيظن ان ذلک بسبب مخالطته فيعتقد العدوى فيقع فى الحرج فامر بتجنبه حسما للمادة. [1]

٢٠ - باب المَنُّ شِفَاءٌ لِلعَيْنِ

[٥٣٨١] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ سَمِعْتُ عَمْرَو بْنَ حُرَيْثٍ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ زَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ، وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ». قَالَ شُعْبَةُ وَأَخْبَرَنِي الْحَكَمُ بْنُ عُتَيْبَةَ عَنِ الْحَسَنِ الْعُرَنِيِّ عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -. قَالَ شُعْبَةُ لَمَّا حَدَّثَنِي بِهِ الْحَكَمُ لَمْ أُنْكِرْهُ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الْمَلِكِ. [ر: ٤٢٠٨]

امام نووى رحمه الله فرمائى چې صرف د خرېړى اوبه سترګو ته شفا ورکوى، بعضې حضرات وائى که په سترګو کښې د حرارت د وجه نه تکليف وى، نو د هغې د پاره د خرېړى خالص اوبه شفا دى، خو که صرف د حرارت د وجه نه په سترګو کښې تکليف نه وى، بلکه نور د مرض سبب هم وى نو بيا نورو دوايانو کښې ميلاولو سره دا مفيد دى، [2]

کهمبى ته په اردو کښې سانپ کى چهترى هم وائى، دا په باران کښې په خپله پيدا کيږى، دا دوه قسم وى، يو قسم نه سالن هم جوړيږى،

ددې متعلق څه تفصيل او الکماة من المن تشريح د کشف البارى کتاب التفسير په سورة بقرة کښې هم تير شوې دې. [3]

قوله: قال شعبة: لما حدثني به الحکم، لم انکره من حديث عبدالملک: بره روايت شعبه بن الحجاج د عبد الملک بن عمير نه نقل کړې دې، شعبه فرمائى چې دا روايت ماته بيا حکم بن عتيبه بيان کړو، نو بيا ما د عبدالملک د حديث نه انکار اونکړې شو.

د شعبه دوه شيخان دى، يو عبدالملک او دويم حکم، اول دوى دا حديث د عبدالملک نه

---

[1] شرح نخبة الفکر مع حاشية لقط الدرر، ٢٨-٢٩)-
[2] فتح البارى ١٠/٢٠٢)-
[3] کشف البارى، کتاب التفسير ٢٢٠)-

واوريدو خو عبدالملک چونکه کمزوري شوي وو او د هغه حافظه متاثره شوې وه، ځکه شعبه ته دده په حديث کښې توقف وو، بيا روستو چې دا حديث ده ته حکم بن عتيبه هم بيان کړو نو دوی ته تسلي اوشوه، او دا روايت ددوی په نيز د اعتبار قابل شو. [1]

قوله: لم انکره من حديث عبدالملك..: لم انکره کښې ضمير منصوب حديث طرف ته راجع دې، يعنی ما دا روايت دې وجه نه چې دا د عبدالملک حديث دې او هغه ضعيف شوي دې، مجهول او منکر اونه ګرځولو،
او داسې هم ترجمه کيدې شی چې ما ددې حديث انکار اونکړو ځکه چې دا د عبدالملک حديث وو، ځکه چې ددې متابعت حکم کړې وو، نو اوس د انکار ګنجائش پاتې نه وو، د «انکره» ددلته دواړه معنې کيدې شی، منکر او مجهول ګرځول، او انکار کول. [2]
د حکم بن عتيبه شيخ دلته حسن عرنی (د عين ضمې او د راء فتحې سره) دې، دا حسن بن عبدالله بجلی دې، د کوفې دې، امام ابوذرعه، عجلی ددوی توثيق کړې دې، يحيی بن معين دوی ته صدوق وئيلې دی، په صحيح بخاری کښې ددوی صرف يو حديث دې. [3]

۲۱- باب اللَّدُودِ

[۵۳۸۲] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ أَبِي عَائِشَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَعَائِشَةَ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ - رضى الله عنه - قَبَّلَ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - وَهُوَ مَيِّتٌ. قَالَ وَقَالَتْ عَائِشَةُ لَدَدْنَاهُ فِي مَرَضِهِ، فَجَعَلَ يُشِيرُ إِلَيْنَا، أَنْ لاَ تَلُدُّونِي. فَقُلْنَا كَرَاهِيَةُ الْمَرِيضِ لِلدَّوَاءِ. فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ «أَلَمْ أَنْهَكُمْ أَنْ تَلُدُّونِي». قُلْنَا كَرَاهِيَةَ الْمَرِيضِ لِلدَّوَاءِ. فَقَالَ «لاَ يَبْقَى فِي الْبَيْتِ أَحَدٌ إِلاَّ لُدَّ - وَأَنَا أَنْظُرُ - إِلاَّ الْعَبَّاسَ فَإِنَّهُ لَمْ يَشْهَدْكُمْ». [ر: ۴۱۸۸، ۴۱۸۹]

[۵۳۸۳] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ أُمِّ قَيْسٍ قَالَتْ دَخَلْتُ بِابْنٍ لِي عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَقَدْ أَعْلَقْتُ عَلَيْهِ مِنَ الْعُذْرَةِ فَقَالَ «عَلَى مَا تَدْغَرْنَ أَوْلاَدَكُنَّ بِهَذَا الْعِلاَقِ عَلَيْكُنَّ بِهَذَا الْعُودِ الْهِنْدِيِّ، فَإِنَّ فِيهِ سَبْعَةَ أَشْفِيَةٍ، مِنْهَا ذَاتُ الْجَنْبِ يُسْعَطُ مِنَ الْعُذْرَةِ، وَيُلَدُّ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ». فَسَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ يَقُولُ بَيَّنَ لَنَا اثْنَيْنِ، وَلَمْ يُبَيِّنْ لَنَا خَمْسَةً. قُلْتُ لِسُفْيَانَ فَإِنَّ مَعْمَرًا يَقُولُ أَعْلَقْتُ عَلَيْهِ. قَالَ لَمْ يَحْفَظْ أَعْلَقْتُ عَنْهُ، حَفِظْتُهُ مِنْ فِي الزُّهْرِيِّ. وَوَصَفَ سُفْيَانُ الْغُلاَمَ يُحَنِّكُ بِالإِصْبَعِ وَأَدْخَلَ سُفْيَانُ فِي حَنَكِهِ، إِنَّمَا يَعْنِي رَفْعَ حَنَكِهِ بِإِصْبَعِهِ، وَلَمْ يَقُلْ أَعْلِقُوا عَنْهُ شَيْئًا. [ر: ۵۳۶۸]

---

[1] ارشاد الساری ۱۲/۲۰۴) وعمدة القاری ۲۱/۲۴۸)-
[2] عمدة القاری ۲۱/۲۴۷)-
[3] فتح الباری ۱۰/۲۰۴) عمدة القاری ۲۱/۲۴۷)-

لدو (د لام زبر سره) د مريض په خله كنبې دوائى اچولو ته وائى،

قوله: قلت لسفيان: فان معمرا يقول: اعلقت عليه: قال: لم يحفظ، انما قال اعلقت عنه، حفظته من في الزهري: د امام بخاری شيخ علی بن عبد الله مدينی فرمائی چې ما د سفيان بن عيينه نه تپوس اوكړو. چې معمر بن راشد خو دا جمله (علی، سره (اعلقت عليه) وئيلو سره نقل كوی. نو سفيان اوفرمائيل چې هغوی ته ياد پاتې نه دی. زمونږ شيخ دا (عن) سره (اعلقت عنه) فرمائيلې وو. ما د زهری د ژبې نه دا ياد كړې دی....

قوله: من في الزهري يعني من فم الزهري: علامه خطابی او ابن بطال فرمائی چې صحيح (اعلقت عنه) دې. څنګه چې سفيان وئيلې دی. خو نووی فرمائی چې (عنه) او عليه) دواړه صحيح دی. علی اوعن حروف جاره دی. کوم چې د يوبل په ځائې استعماليدې شی[1]

قوله: ووصف سفيان الغلام يحنك بالاصبع وادخل سفيان في حنكه انما يعني رفع حنكه باصبعه، ولم يقل: اعلقوا عنه شيئا: سفيان د هغه هلک چې د چا تالو ته په ګوته سره زور وركيږی، حالت داسې بيان كړو چې خپله ئې په تالو كنبې ګوته وركړه، د هغه مقصد په خپلو ګوتو سره تالو لره اوچتول وو،

د سفيان مقصد دا وو چې د (اعلاق) نه د يو څيز زوړندول، يا تالو سره څه څيز لګول مراد نه دی. بلكه د اعلاق نه تالو اوچتول مراد دی، چنانچه علامه عينی رحمه الله ليكی:

غرضه من هذا الكلام التنبيه على ان الاعلاق، هو رفع الحنک، لا تعليق شئ منه على ما هو المتبادر الى الذهن، نعم التنبيه.[2]

باب بلا ترجمه

[٥٣٨٤] حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ وَيُونُسُ قَالَ الزُّهْرِيُّ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - زَوْجَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَتْ لَمَّا ثَقُلَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَاشْتَدَّ وَجَعُهُ، اسْتَأْذَنَ أَزْوَاجَهُ فِي أَنْ يُمَرَّضَ فِي بَيْتِي، فَأَذِنَّ، فَخَرَجَ بَيْنَ رَجُلَيْنِ، تَخُطُّ رِجْلاَهُ فِي الأَرْضِ بَيْنَ عَبَّاسٍ وَآخَرَ. فَأَخْبَرْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ هَلْ تَدْرِي مَنِ الرَّجُلُ الآخَرُ الَّذِي لَمْ تُسَمِّ عَائِشَةُ قُلْتُ لاَ. قَالَ هُوَ عَلِيٌّ.

قَالَتْ عَائِشَةُ فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بَعْدَ مَا دَخَلَ بَيْتَهَا وَاشْتَدَّ بِهِ وَجَعُهُ «هَرِيقُوا عَلَىَّ مِنْ سَبْعِ قِرَبٍ لَمْ تُحْلَلْ أَوْكِيَتُهُنَّ، لَعَلِّي أَعْهَدُ إِلَى النَّاسِ». قَالَتْ فَأَجْلَسْنَاهُ فِي

---

[1] عمدة القاری (٢٤٩/٢١)-

[2] حواله بالا)-

بِخُضَبٍ لِحَفْصَةَ زَوْجِ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - ثُمَّ طَفِقْنَا نَصُبُّ عَلَيْهِ مِنْ تِلْكَ الْقِرَبِ، حَتَّى جَعَلَ يُشِيرُ إِلَيْنَا أَنْ قَدْ فَعَلْتُنَّ. قَالَتْ وَخَرَجَ إِلَى النَّاسِ فَصَلَّى لَهُمْ وَخَطَبَهُمْ.[ر: ۱۹۵]

دا بغير ترجمه باب دې، ابن بطال دلته باب ذکر کړې نه دې، بلکه دې حديث لره په ماقبل باب کښې ذکر کړو

امام بخاري رحمه الله باب بلا ترجمه ولې راوړی، ؟ددې وجوهات په مقدمة الکتاب کښې تير شوې دې. بعضې شارحينو دا كالفصل من الباب السابق ګرځولو سره وئيلې دی چې په رومبی باب کښې د لدود ذکر دې، حضور ﷺ ددې حکم کړې نه وو، او صحابه کرامو رضي الله عنهم دا اختيار کړې وو. چې په هغې باندې حضور ﷺ خفا شو، او په دې باب کښې حضور ﷺ چې د کوم کار حکم کړې دې صحابه کرامو رضي الله عنهم په هغې باندې عمل اوکړو، کوم چې د ماقبل ضد دې، وبضدها تتبين الاشياء دغه شان ددې باب بلا ترجمه د ماقبل سره نسبت په تضاد کښې دې، (۱) حديث باب په ماقبل کښې څو ځل تير شوې دې،

۲۲ - باب الْعُذْرَةِ

[۵۳۸۵] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ أُمَّ قَيْسٍ بِنْتَ مِحْصَنٍ الأَسَدِيَّةَ - أَسَدَ خُزَيْمَةَ، وَكَانَتْ مِنَ الْمُهَاجِرَاتِ الأُوَلِ اللاَّتِي بَايَعْنَ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - وَهِيَ أُخْتُ عُكَّاشَةَ - أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا أَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِابْنٍ لَهَا، قَدْ أَعْلَقَتْ عَلَيْهِ مِنَ الْعُذْرَةِ فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «عَلَى مَا تَدْغَرْنَ أَوْلاَدَكُنَّ بِهَذَا الْعِلاَقِ عَلَيْكُمْ بِهَذَا الْعُودِ الْهِنْدِيِّ، فَإِنَّ فِيهِ سَبْعَةَ أَشْفِيَةٍ مِنْهَا ذَاتُ الْجَنْبِ». يُرِيدُ الْكُسْتَ، وَهُوَ الْعُودُ الْهِنْدِيُّ. وَقَالَ يُونُسُ وَإِسْحَاقُ بْنُ رَاشِدٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَلَّقَتْ عَلَيْهِ.[ر: ۵۳۶۸]

څنګه چې مخکښې تير شوې دی چې عذرة د تالو يو بيماری ده، کومه چې د پيو ماشومانو ته کيږی. په عهدنبوی ﷺ کښې به موريانو ددې بيماری ختمولو د پاره د ماشومانو په حلق کښې ګوته اچولو سره زور ورکولو، چې هغې سره توره وينه راوتله، او ماشوم ته به ډير تکليف وو. حضور ﷺ ددې تکليف والا طريقې نه منع اوفرمائيله. او عودهندی ئې د دوائی په توګه اوخودله. ددې طريقه دا ده چې عودهندی په اوبو کښې حل کولو سره په پوزه کښې اچولې شی. نو دا محلول حلق ته رسيدو سره بيماری ختمه کړی.

بعضې عالمانو وئيلې دی چې عذره په اصل کښې د شعرى نه لاندې د پنځو ستورو نومونه دی. چې کله هغه ستوری راوخی، نو ماشومانو ته د حلق بيماری لګی، ددې مناسبت سره

(۱) الابواب والتراجم، ۲/ ۱۰۱، عمدة القاری (۲۱/ ۲۵۰)-

دې ته عذره وئيلې شی، دې بيمارئ ته سقوط اللهاة هم وئيلې شی، [1]
لهاة د سرې غوښې هغه ټکړې ته وائی چې حلق طرف ته د خولې په آخری حصه کښې زوړنده وی، په اردو کښې دې ته (کوا) وئيلې شی.

قوله: قد اعلقت عليه من العذرة: يعنی هغوی د عذره بيماريئ د وجه نه د ماشومانو تالو اوچت کړې وو، حضور ﷺ اوفرمائيل على ما تدغرن اولادکن بهذا العلاق... دغر و علاق (د عين فتحې سره) معنی ئې ده (دباول، زور ورکول) يعنی تاسو ولې د ماشومانو تالو ته زور ورکوئی، چې د هغې د وجه نه ماشومانو ته ډير تکليف وی،
د باب په آخر کښې د يونس تعليق، امام مسلم او ابوداود موصولا نقل کړې دې، [2]

٢٣ - بَاب دَوَاءِ الْمَبْطُونِ.

[٥٣٨٦] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ إِنَّ أَخِي اسْتَطْلَقَ بَطْنُهُ. فَقَالَ «اسْقِهِ عَسَلاً». فَسَقَاهُ. فَقَالَ إِنِّي سَقَيْتُهُ فَلَمْ يَزِدْهُ إِلاَّ اسْتِطْلاَقًا. فَقَالَ «صَدَقَ اللَّهُ وَكَذَبَ بَطْنُ أَخِيكَ». تَابَعَهُ النَّضْرُ عَنْ شُعْبَةَ. [ر: ٥٣٦٠]

مبطون هغه کس ته وائی کوم چې د خيټې په تکليف کښې مبتلا وی،

قوله: صدق الله وكذب بطن اخيك: كذب دلته د فساد او خطاء په معنی کښې دې، عربئ کښې لفظ كذب په دې معنی کښې استعماليږی، مطلب دا دې چې الله تعالى په قران کريم کښې رشتيا فرمائيلې دی، چې په شهد کښې شفا ده، خو ستا د رور په خيټه کښې فساد دې، ځکه چې په دې کښې فاسده ماده زياته شوې ده، ترڅو چې هغه ټول بهر راوتلې نه وی، نو نه به روغيږی. [3]

قوله: تابعه النضر عن شعبة: يعنی د محمد بن جعفر متابعت نضر بن شميل کړې دې، دا متابعت اسحق بن راهويه موصولا نقل کړې دې، [4]

...

[1] عمدة القاری ٢٣٩/٢١، باب السعوط، فتح الباری ١٨٤/١٠، ارشاد الساری ٤٢٢/١٢)-
[2] عمدة القاری ٢٥١/٢١) ارشاد الساری ٤٣٩/١٢) فتح الباری ٢٠٦/١٠)-
[3] عمدة القاری ٢١[illegible]/٢٣٤) ارشاد الساری ٤٤٠/١٢) فتح الباری ٢٠٩/١٠)-
[4] عمدة القاری ٢٥١/٢١) ارشاد الساری ٤٤٠/١٢) فتح الباری ٢٠٨/١٠)-

٢٤ - باب لاَصفَرَ، وَهُوَ دَاءٌ يَأْخُذُ الْبَطْنَ

[٥٣٨٧] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُوسَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وَغَيْرُهُ أَنَّ أَبَاهُرَيْرَةَ -رضى الله عنه- قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «لاَعَدْوَى وَلاَصَفَرَ وَلاَهَامَةَ». فَقَالَ أَعْرَابِي يَا رَسُولَ اللَّهِ فَمَا بَالُ إِبِلِي تَكُونُ فِي الرَّمْلِ كَأَنَّهَا الظِّبَاءُ فَيَأْتِي الْبَعِيرُ الأَجْرَبُ فَيَدْخُلُ بَيْنَهَا فَيُجْرِبُهَا. فَقَالَ « فَمَنْ أَعْدَى الأَوَّلَ ». رَوَاهُ الزُّهْرِي عَنْ أَبِي سَلَمَةَ وَسِنَانِ بْنِ أَبِي سِنَانٍ. [ر: ٥٣٨٠]

د صفر متعلق مختلف اقوال په تفصيل سره په ماقبل كښې تير شوي دى،
امام بخارى رحمه الله فرمائى چې دا يو بيمارى ده چې خيټې ته لګى، اول وئيلې شوې دى چې په زمانه جاهليت كښې د خلقو خيال وو چې د خيټې په مينځ كښې مار يا چينجې وى چې د لوږې په وخت كښې د انسان په خيټه چك لګوى، هغې ته صفر وائى، امام بخارى هم دا قول اختيار كړې دې.

وهذا آخر ما أردنا ايراده من شرح أحاديث كتاب النفقات والأطعمة والعقيقة والذبائح والصيد والأضاحى والأشربة والمرضى والطب من صحيح البخارى رحمه الله تعالى للشيخ المحدث الجليل سليم الله خان حفظه الله ورعاه ومتعنا الله بطول حياته وقد وقع الفراغ من تسويده، واعادة النظر فيه، ثم تصحيح ملازم الطبع بيوم الجمعة ٨ من شوال ١٤٢٣ دسمبر ٢٠٠٢ م والحمد لله الذى بنعمته تتم الصالحات وصلى الله على النبى الأمى وآله وصحبه وتابعيهم وسلم عليه وعليهم ما دامت الأرض والسموٰت، رتبه وراجع نصوصه وعلق عليه ابن الحسن العباسى عضو قسم التحقيق والتصنيف والأستاذ بالجامعة الفاروقية، وفقه الله تعالى لاتمام باقى الكتب كما يحبه ويرضاه وهوعلى كل شئ قدير، ولاحول ولاقوة الا بالله العلى العظيم، ويليه ان شاء الله شرح باب ذات الجنب من كتاب الطب—

••••

مصادر و مراجع

کتاب النفقات، کتاب الاطعمة، کتاب العقیقة، کتاب الذبائح والصید، کتاب الاضاحی کتاب الاشربة، کتاب المرضی، کتاب الطب،

❖ القرآن الکریم
❖ الابواب والتراجم للبخاری حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا کاندھلوی صاحب المتوفی ۱۴۰۲ھ، ایچ ایم سعید کمپنی
❖ امانی الاحبار شرح معانی الآثار، حضرت مولانا یوسف کاندھلوی ادارۂ تالیفات اشرفیہ لاہور۔
❖ اسماء الدارقطنی، حافظ ابوالحسن علی بن عمر دارقطنی متوفی ۱۳۸۵ھ
❖ آپ کے مسائل اور ان کا حل، حضرت مولانا یوسف لدھیانوی متوفی ۱۴۲۰ھ، مکتبہ بینات کراچی
❖ الانصاف فی معرفة الراجح من الخلاف، علاؤ الدین علی بن سلیمان مرداوی، دار احیاء التراث العربی
❖ احکام القرآن علامہ ابوبکر احمد بن علی جصاص دار الکتب العربیة، بیروت
❖ احکام القرآن حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی ادارة القرآن کراچی
❖ امداد الفتاوی: حضرت مولانا اشرف علی تھانوی متوفی ۱۳۶۲ھ مکتبہ دار العلوم کراچی،
❖ احکام الذبائح: حضرت مولانا محمد تقی عثمانی صاحب مدظلہ، مکتبہ دار العلوم کراچی،
❖ اغاثة اللهفان: ابوعبداللہ محمد بن ابی بکر: ابن قیم الجوزیة المتوفی ۷۵۱ ہجری۔
❖ الاکمال: الامیر الحافظ ابن ماکولا المتوفی ۴۷۵ ہجری محمد امین دمج، بیروت لبنان
❖ الاقناع فی حل الفاظ ابی شجاع، الشیخ محمد الخطیب الشربینی، المتوفی ۱۲۱۷ھ، المطبعة الخیریة، مصر۔
❖ امداد الباری، حضرت مولانا عبدالجبار اعظمی، مکتبہ حرم، مراد آباد
❖ الاحسان بترتیب صحیح ابن حبان، امام ابوحاتم محمد بن حبان بستی، رحمہ اللہ، المتوفی ۳۵۴ھ، موسسة الرسالة، بیروت
❖ احیاء علوم الدین مع اتحاف السادة المتقین، امام محمد بن محمد الغزالی، المتوفی ۵۰۵ھ، دار احیاء التراث العربی۔
❖ الادب المفرد مع شرح فضل اللہ الصمد، امیر المؤمنین فی الحدیث محمد بن اسمعیل البخاری المتوفی ۲۵۶ھ، مکتبہ الایمان المدینة المنورة
❖ ارشاد الساری شرح صحیح البخاری، ابو العباس شہاب الدین احمد بن محمد القسطلانی المتوفی ۹۲۳ھ، المطبعة الکبری الامیریة مصر، طبع سادس، ۱۳۰۴ھ

❖ الاستیعاب فی اسماء الاصحاب بهامش الاصابة ابو عمر یوسف بن عبداللہ بن محمد بن عبد البر المتوفی ۴۶۳ھ، دار الفکر بیروت
❖ اسد الغابة عز الدین ابو الحسن علی بن محمد الجزری المعروف بابن الاثیر المتوفی ۶۳۰ھ، دار الکتب العلمیة بیروت
❖ الاصابة فی تمیز الصحابة شهاب الدین ابو الفضل احمد بن علی العسقلانی المعروف بابن حجر، المتوفی ۸۵۲ ھ، دار الفکر بیروت
❖ انوار الباری مولانا سید احمد رضا بجنوری، مدینہ پریس بجنور
❖ اوجز المسالک الی مؤطا مالک، شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا کاندھلوی المتوفی ۱۴۰۲ھ، ادارة تالیفات اشرفیہ ملتان
❖ البحر الرائق: علامہ زین العابدین بن ابراهیم بن نجیم المتوفی ۹۷۰ھ، مکتبہ رشیدیہ کوئٹہ
❖ بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع، ملک العلماء علاء الدین ابوبکر بن مسعود الکاسانی المتوفی ۵۸۷ھ، ایچ ایم سعید کمپنی کراچی
❖ بذل المجهود فی حل ابی داود: علامہ خلیل احمد سهانپوری المتوفی ۱۳۴۶ھ مطبعة ندوة العلماء لکھنو، ۱۹۷۳م
❖ بهشتی زیور، حضرت مولانا اشرف علی تھانوی، ۱۳۶۱ھ، مکتبہ رحمانیہ، لاهور
❖ بدایة المجتهد: علامہ قاضی ابوالولید محمد بن احمد بن رشد قرطبی متوفی ۵۹۵ھ، مصر طبع خاص
❖ البنایة شرح الهدایة، بدر الدین عینی محمود ابن احمد المتوفی ۸۵۵ھ، مکتبہ رشیدیہ کوئٹہ
❖ البدر الساری الی فیض الباری مولانا بدر عالم میرٹھی، متوفی ۱۳۸۵ ھجری بک ڈپو، دهلی مطبوعة ۱۹۷۰ھ
❖ تحفة الاحوذی، الشیخ عبد الرحمن المبارکفوری المتوفی ۱۳۵۳ھ، نشر السنة ملتان
❖ تنزیه الشریعة المرفوعة عن الاحادیث الشنیعة الموضوعة، ابو الحسن علی بن محمد بن عراق کنانی، دار الکتب بیروت
❖ تجرید الصحابة، حافظ شمس الدین ابوعبداللہ محمد بن احمد عثمان الذهبی متوفی ۷۴۸ ھ،
❖ تذهیب التهذیب، حافظ شمس الدین متوفی ۷۴۸ ، بیروت لبنان
❖ التعلیق المغنی علی سنن دارقطنی، شمس الحق عظیم آبادی، دار النشر الکتب الاسلامیة لاهور
❖ تحفة الودود فی احکام المولود، علامة ابن القیم، الجوزیة متوفی ۷۵۱ ھ،
❖ التعلیق الممجد علی مؤطا الامام محمد، مولانا عبد الحی لکھنوی متوفی ۱۳۰۴ ھ، نور محمد کراچی
❖ تذکرة الرشید: مولانا عاشق الهی میرٹھی متوفی ۱۳۶۰ھ، ادارة اسلامیات لاهور

❖ تاریخ طبری: ابوجعفر محمد بن جریر الطبری متوفی ۳۱۰ھ، موسسة الرسالة بیروت

❖ تعلیقات ابن ماجه للشیخ محمد فواد عبدالباقی دار الکتاب اللبنانی، بیروت

❖ التاج والاکلیل علی حاشیة المواهب الجلیل لامام المواق المالکی، دار الفکر بیروت

❖ تنویر الابصار للشیخ الدین محمد بن عبدالله بن احمد الغزی الحنفی، المتوفی ۱۰۰۴ھ، مکتبه رشیدیه کوئٹه

❖ تاج العروس من جواهر القاموس: ابو الفیض سید محمد بن محمد المعروف بالمرتضی الزبیدی، المتوفی ۱۲۰۵ء، مکتبة الحیاة، بیروت

❖ تاریخ الخمیس فی احوال انفس نفیس، الشیخ حسین بن محمد بن الحسن الدیاربکری المالکی، المتوفی ۹۶۶ء، موسسة شعبان بیروت

❖ التاریخ الصغیر، امیر المؤمنین فی الحدیث محمد بن اسمٰعیل البخاری، المتوفی ۲۵۶ھ، المکتبة الاثریة، شیخوپورہ۔

❖ تاریخ عثمان بن سعید الدارمی المتوفی ۲۸۰ھ، عن ابی زکریا یحیی بن معین، ۲۳۳ھ دار المامون للتراث، ۱۴۰۰ء

❖ التاریخ الکبیر، امیر المومنین فی الحدیث محمد بن اسمعیل البخاری، المتوفی ۲۵۶ء، دار الکتب العلمیة بیروت

❖ تحفة الاشراف بمعرفة الاطراف، ابوالحجاج جمال الدین یوسف بن عبد الرحمن المزی، المتوفی ۷۴۲ھ، المکتب الاسلامی بیروت طبع دوم ۱۴۰۳ء، مطابق ۱۹۸۳ھ،

❖ تدریب الراوی بشرح تقریب النواوی، حافظ جلال الدین عبدالرحمن سیوطی، المتوفی ۹۱۱ء، المکتبة العلمیة مدینة منورة

❖ تذکرة الحفاظ، حافظ ابوعبدالله شمس الدین محمد ابن احمد بن عثمان ذهبی، المتوفی ۷۴۸ء، دائرة المعارف العثمانیة الهند

❖ الترغیب والترهیب امام عبد العظیم بن عبدالقوی المنذری، المتوفی ۶۵۶ھ، دار احیاء التراث العربی بیروت، الطبعة الثالثة، ۱۳۸۸ء، ۱۹۶۸ء

❖ تعلیقات علی تهذیب الکمال، دکتور بشار عواد معروف، موسسة الرسالة طبع اول، ۱۴۱۳ء

❖ تعلیقات علی لامع الدراری شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب، المتوفی ۱۴۰۲ء، بمطابق ۱۹۸۲ء، مکتبة امدادیة المکرمة

❖ تعلیقات نورالدین عتر علی علوم الحدیث لابن الصلاح تصویر ۱۴۰۶ء، ۱۹۸۶ء، دار الفکر بدمشق

❖ تعلیق التعلیق، حافظ احمد بن علی المعروف بابن حجر، رح، المتوفی ۸۵۲ھ المکتب الاسلامی وادر عمار۔

❖ تفسیر طبری (جامع البیان) امام محمد بن جریر الطبری رحمه الله، المتوفی ٣١٠ھ دار المعرفة، بیروت
❖ تفسیر القران العظیم، حافظ ابو الفداء عماد الدین اسمعیل بن عمر بن کثیر دمشقی، المتوفی ٧٧٤ھ دار الفکر بیروت
❖ التفسیر الکبیر، الامام ابوعبد الله فخر الدین محمد بن عمر الحسین الرازی، المتوفی ٦٠٦ھ مکتب الاعلام الاسلامی ایران۔
❖ تقریب التهذیب، حافظ ابن حجر العسقلانی المتوفی ٨٥٢ھ، دار الرشید حلب، ١٤٠٦ھ
❖ تکملة فتح الملهم حضرت مولانا محمد تقی عثمانی صاحب، مدظلهم مکتبه دار العلوم کراچی۔
❖ التلخیص الحبیر فی تخریج احادیث الرافعی الکبیر، حافظ ابن حجر العسقلانی، المتوفی، ٨٥٢ھ دار نشر الکتب الاسلامیة لاهور۔
❖ تلخیص المستدرک (المطبوع بذیل المستدرک) حافظ شمس الدین محمد بن احمد بن عثمان ذهبی، المتوفی، ٧٥٨ء، دار الفکر بیروت،
❖ تهذیب الاسماء واللغات، امام محی الدین ابو زکریا یحیی بن شرف النووی المتوفی ٦٧٦ھ ادارة الطباعة المنیریة۔
❖ تهذیب التهذیب، حافظ ابن حجر العسقلانی المتوفی ٨٥٢ھ، دائرة المعارف النظامیة، حیدر آباد الدکن ١٣٢٥ھ۔
❖ تهذیب الکمال، حافظ جمال الدین ابو الحجاج یوسف بن عبدالرحمن المزی، المتوفی ٧٤٢ھ، مؤسسة الرسالة طبع اول ١٤١٣ء
❖ تیسیر مصطلح الحدیث، دکتور محمود الطحان حفظه الله، قدیمی کتب خانه کراچی
❖ الثقات لابن حبان، حافظ ابوحاتم محمد بن حبان بستی، المتوفی ٣٥٤ھ، دائرة المعارف العثمانیة حیدر آباد ١٣٩٣ھ۔
❖ جامع الترمذی (سنن الترمذی) امام ابوعیسی محمد بن عیسی بن سورة الترمذی، المتوفی ٢٧٩ھ ایچ ایم سعید کمپنی، دار احیاء التراث العربی۔
❖ الجامع لاحکام القران (تفسیر القرطبی) امام ابو عبدالله محمد بن احمد الانصاری المتوفی ٦٧١ء، دار الفکر بیروت
❖ جامع المسانید، امام ابو المؤید محمد بن محمود الخوارزمی، المتوفی ٦٦٥ھ المکتبة الاسلامیة، سمندری لائل پور۔

❖ جامع الدروس العربية، الشیخ المصطفى الغلائنی، انتشارات ناصر خسرو ایران
❖ الجرح والتعدیل، عبد الرحمن بن ابی حاتم الرازی، دائرة المعارف عثمانیه، حیدر آباد دکن
❖ الجمع بین رجال الصحیحین، ابو الفضل محمد بن طاهر المقدسی المعروف بابن القیسرانی، المتوفی ٥٠٧ھ، دار الکتب العلمیة بیروت
❖ الجوهرة النیرة، الشیخ العلام ابوبکر بن علی بن محمد الحداد الیمنی المتوفی ٨٠٠ھ، مکتبه حقانیه ملتان
❖ جمهرة اللغة، ابوبکر محمد بن الحسن بن درید، المتوفی ٣٢١ھ دار صادر بیروت
❖ الجوهر النقی فی الرد علی الامام البیهقی علامه علاؤ الدین بن علی بن عثمان الماردینی نشر السنة ملتان.
❖ جامع الاصول، مبارک بن احمد ابن الاثیر الجزری متوفی ٦٠٦ھ، دار الفکر بیروت
❖ جواهر الفتاوی، عبد السلام چاٹگامی، اسلامی کتب خانه کراچی.
❖ حاشیة لقط الدرر، عبد الله عبد الله بن حسین خاطر السمین مکتبه مصطفی البابی مصر.
❖ حاشیة الدسوقی علی الشرح الکبیر للدردیر، دار الفکر بیروت
❖ حاشیة الصاوی علی الشرح الصغیر للدردیر، احمد بن محمد الصاوی المالکی،
❖ حیاة الحیوان، العلامة کمال الدین الدمیری، المتوفی ٨٠٨ھ، ادارة اسلامیات لاهور.
❖ حاشیة البخاری احمد علی سهارنپوری و متوفی ١٢٩٧ھ، قدیمی کتب خانه کراچی،
❖ حاشیة الطحطاوی، علی الدر المختار للعلامة السید احمد الطحطاوی، متوفی ١٢٣١ھ، دار المعرفة بیروت.
❖ حلیة العلماء فی معرفة مذاهب الفقهاء الشیخ سیف الدین ابوبکر محمد بن احمد القفال، المتوفی ٥٠٧ھ مؤسسة الرسالة بیروت.
❖ حاشیة السندی علی البخاری امام ابو الحسن نور الدین محمد بن عبد الهادی السندی، المتوفی ١١٣٨ھ، قدیمی کتب خانه کراچی.
❖ حجة الله البالغة، حضرت مولانا شاه ولی الله الدهلوی، المتوفی ١١٧٦ھ، ادارة الطباعة المنیریة مصر ١٣٥٢ھ.
❖ حلیة الاولیاء حافظ ابو نعیم احمد بن عبد الله بن احمد اصبهانی المتوفی ٤٣٠ھ، دار الفکر بیروت
❖ خصائل نبوی شرح شمائل ترمذی، حضرت مولانا زکریا مکتبه الشیخ بهادر آباد کراچی
❖ خلاصة الخزرجی (خلاصة تذهیب تهذیب الکمال) علامه صفی الدین الخزرجی، مکتب المطبوعات الاسلامیة بحلب.
❖ دائرة المعارف قاموس عام لکل فن و مطلب، بطرس المعلم البستانی دار المعرفة، بیروت
❖ الدر المختار، علامه علاء الدین محمد بن علی بن محمد الحصکفی، المتوفی ١٠٨٨ھ، مکتبه رشیدیه کوئٹه.

❖ الدر المنثور بالماثور، حافظ جلال الدین عبد الرحمن السیوطی، المتوفی ۹۱۱ء، موسسة الرسالة
❖ الذخیرة، شهاب الدین احمد بن ادریس الصنهاجی، وزارة الاوقاف، والشؤن الاسلامیة کویت
❖ ردالمختار، علامه محمد امین بن عمر بن عبد العزیز عابدین شامی رحمه الله، المتوفی ۱۲۵۲ء ھ، مکتبه رشیدیه کوئٹه۔
❖ روح المعانی فی تفسیر القران العظیم والسبع المثانی ابو الفضل شهاب الدین سید محمد آلوسی بغدادی المتوفی ۱۲۷۰ء ھ، مکتبه امدادیه ملتان۔
❖ الرسالة للامام محمد بن ادریس الشافعی المتوفی ۲۰۴ء، مکتبه دار التراث
❖ روائع البیان فی تفسیر آیات الاحکام للشیخ محمد علی الصابونی، مکتبه الغزالی، دمشق
❖ زاد المعاد فی هدی خیر العباد ابو عبدالله محمد بن ابی بکر ابن قیم الجوزیة تحقیق شعیب الارنؤوط عبدالقادر الارنؤوط، مؤسسة الرسالة بیروت۔
❖ السراج المنیر شرح الجامع الصغیر فی احادیث البشیر النذیر علی بن احمد ابن محمد ابن ابراهیم العزیزی المتوفی، ۱۰۷۰ء ھ، مکتبة الایمان المدینة المنورة
❖ سنن ابن ماجه امام ابوعبدالله محمد بن یزید بن ماجه، المتوفی ۲۷۳ ھ، قدیمی کتب خانه کراچی، / دار الکتاب المصری قاهرة
❖ سنن ابی داود امام ابوداود سلیمان الاشعث السجستانی المتوفی ۲۷۵ ھ، ایچ ایم سعید کمپنی کراچی، دار احیاء السنة النبویة
❖ سنن الدارقطنی، حافظ ابوالحسن علی بن عمر الدارقطنی، المتوفی ۳۸۵ھ دار نشر الکتب الاسلامیة لاهور۔
❖ سنن الدارمی، امام ابو محمد عبدالله بن عبد الرحمن الدارمی، المتوفی ۲۵۵ھ، قدیمی کتب خانه کراچی۔
❖ السنن الکبری للبیهقی، امام حافظ ابوبکر احمد بن الحسن بن علی البیهقی، المتوفی ۴۵۸ھ نشر السنة ملتان۔
❖ السنن الصغری للنسائی، امام ابوعبدالرحمن احمد بن شعیب النسائی، المتوفی ۳۰۳ھ، قدیمی کتب خانه کراچی۔
❖ السنن الکبری للنسائی: امام ابوعبدالرحمن احمد بن شعیب النسائی، المتوفی ۳۰۳ھ، نشر السنة ملتان
❖ سیر اعلام النبلاء، حافظ ابو عبدالله شمس الدین محمد بن احمد بن عثمان الذهبی، المتوفی ۷۵۸ ھ، مؤسسة الرسالة
❖ السیرة الحلبیة، (انسان العیون فی سیرة الامین المامون) علامه علی بن برهان الدین الحلبی، المتوفی ۱۰۴۴ ھ، المکتبة الاسلامیة بیروت
❖ شذرات الذهب فی اخبار من ذهب، علامه عبدالحی بن احمد بن محمد بن العماد العکری الحنبلی متوفی ۱۰۸۹ھ، دار الآفاق بیروت

❖ شرح نخبة الفكر ابن حجر عسقلانی قدیمی کتب خانه کراچی۔
❖ شرح ابن بطال امام ابو الحسن علی بن خلف بن عبد الملك، المعروف بابن بطال المتوفی ۴۴۹ھ، مکتبة الرشد، الرياض، الطبعة الاولی، ۱۴۲۰، ۲۰۰۰م
❖ شرح الابی علی مسلم اکمال اکمال المعلم، ابو عبد الله محمد بن خلفة الابی المالکی، المتوفی ۸۲۷، دار الکتب العلمية بيروت
❖ شرح الكرمانی الكواكب الدراری، علامه شمس الدين محمد بن يوسف الكرمانی المتوفی، ۷۸۶ ھ دار احياء التراث العربی۔
❖ شرح مشكل الآثار، امام ابو جعفر احمد بن محمد بن سلامة الطحاوی، المتوفی ۳۲۱ھ، مؤسسة الرسالة ۱۴۱۵، ۱۹۹۴م
❖ شرح معانی الآثار، امام ابو جعفر احمد بن محمد بن سلامة الطحاوی المتوفی ۳۲۱ھ، میر محمد آرام باغ کراچی۔
❖ شرح النووی علی صحیح مسلم امام ابوزکریا یحیی بن شرف النووی، المتوفی ۶۷۶ھ قدیمی کتب خانه کراچی۔
❖ شعب الایمان امام حافظ احمد بن الحسین بن علی البیهقی، المتوفی ۴۵۸ دار الکتب العلمیة بیروت ۱۴۱۰ھ۔
❖ الشمائل المحمدية للترمذی، امام أبو عیسی محمد بن عیسی بن سورة الترمذی رحمه الله تعالی، المتوفی ۲۷۹ھ، فاروقی کتب خانه، ملتان
❖ الصحیح للبخاری امام ابو عبد الله محمد بن اسمعیل البخاری المتوفی ۲۵۶ھ، قدیمی کتب خانه کراچی۔
❖ الصحیح لمسلم امام لمسلم بن الحجاج القشیری النیسابوری، المتوفی ۲۶۱ھ قدیمی کتب خانه کراچی۔
❖ طب نبوی علامه ابن قیم اردو ترجمه، حکیم عزیز الرحمن اعظمی، دار الاشاعت، کراچی۔
❖ الطب النبوی و العلم الحدیث، محمد ناظم مؤسسة الرسالة بیروت
❖ طبقات الشافعية الکبری علامه تاج الدين ابو نصر عبد الوهاب بن تقی الدین سبکی،
❖ الطبقات الکبری امام ابو عبد الله محمد بن سعد، المتوفی ۲۳۰ھ، دار صادر بیروت
❖ ظفر الامانی، علامه عبد الحی لکھنوی المتوفی ۱۳۰۴ھ مکتب المطبوعات الاسلامية بحلب الطبعة الثالثة، ۱۴۱۶ھ۔
❖ العلل، علی بن عبد الله المدینی، المکتب الاسلامی
❖ العناية علامه اکمل الدين محمد بن محمود البابرتی متوفی ۷۸۶ھ، مکتبه رشیدیه کوئٹه
❖ العقد الفريد، احمد بن محمد بن عبد ربه الاندلسی، المتوفی ۳۲۸ھ، دار الباز، مکة مکرمة
❖ علاج معالجه کی شرعی حیثیت، مفتی انعام الحق قاسمی، زمزم پبلشرز کراچی

- عون المعبود شرح سنن ابی داود، شمس الحق عظیم ابادی، دار الفکر بیروت،
- علوم الحدیث، مقدمة ابن الصلاح، حافظ تقی الدین عثمان بن عبدالرحمن المعروف بابن صلاح الشہرزوری، المتوفی ۶۴۳، دار الکتب العلمیة بیروت
- عمدة القاری، امام بدر الدین ابومحمد محمود بن احمد العینی، المتوفی ۸۵۵ھ ادارة الطباعة المنیریة۔
- فقه اللغة علامة عبدالملک بن محمد بن اسماعیل ابومنصور الثعالی، مطبع مصطفی البابی الحلبی مصر۔
- الفردوس، ابوشجاع شیرویه ابن شهردار الدیلمی متوفی ۵۰۹ھ، دار الکتب العلمیة، بیروت
- فتاوی رحیمیه، حضرت مولانا مفتی عبدالرحیم، دار الاشاعت کراچی
- فتاوی محمودیه، حضرت مولانا مفتی محمود "حسن صاحب مظهری کتب خانه، کراچی
- فضل الله الصمد فی توضیح الادب المفرد فضل الله جیلانی، صدف پبلشرز. کراچی
- الفقه الاسلامی وادلته، علامه وهبه زحیلی، مکتبه حقانیه پشاور۔
- فتاوی عالمگیریه، جماعة من العلماء نورانی، کتب خانه پشاور،
- الفائق، علامه جارالله ابوالقاسم محمود بن عمر الزمخشری، المتوفی ۵۳۸ھ دار المعرفة بیروت
- فتح الباری حافظ احمد بن علی المعروف بابن حجر العسقلانی، المتوفی ۸۵۲ھ دار الفکر بیروت
- فتح القدیر امام کمال الدین محمد بن عبدالواحد المعروف بابن الهمام، المتوفی ۸۶۱ھ مکتبه رشیدیه کوئٹه۔
- فیض الباری امام العصر علامه انور شاه الکشمیری المتوفی، ۱۳۵۲ھ ربانی بکڈپو، دهلی۔
- القاموس الوحید، مولانا وحید الزمان قاسمی ادارة اسلامیات لاهور
- القاموس الجدید۔ مولانا وحید الزمان قاسمی ادارة اسلامیات لاهور
- مختصر القدوری، ابوالحسن بن احمد بن محمد بن جعفر البغدادی، المتوفی، ایچ ایم سعید کمپنی کراچی،
- القانون فی الطب للشیخ الرئیس ابی علی حسین بن عبدالله المعروف بابن سینا المتوفی ۴۲۸ھ
- الکامل فی التاریخ علامه ابوالحسن عز الدین علی بن محمد ابن الاثیر الجزری، المتوفی ۶۳۰ھ دار الکتاب العربی بیروت
- کفایت المفتی، حضرت مولانا مفتی کفایت الله دار الاشاعت، کراچی
- کتاب الام، الامام محمد بن ادریس الشافعی، ۲۰۴ھ، دار المعرفه بیروت
- کتاب الموضوعات رضی الدین حسن بن محمد بن حیدر الاهوری المتوفی ۶۵۰ھ المطبعة الاعلامیة مصر۔
- کتاب الآثار، امام اعظم ابوحنیفه، ادارة القران کراچی
- کتاب الحیوان، ابوعثمان عمرو بن بحر، الجاحظ، المتوفی ۲۵۵ھ، المجمع العلمی العربی الاسلامی، بیروت لبنان

- ❖ اللآلی المصنوعة فی الاحادیث الموضوعة علامہ جلال الدین سیوطی المتوفی ۹۱۱ھ۔
- ❖ الکاشف شمس الدین ابوعبداللہ محمد بن احمد بن عثمان الذہبی، المتوفی ۷۴۸ھ، شرکة دار القبلة، موسسة علوم القرآن طبع اول، ۱۹۹۲ء، ۱۴۱۳ھ
- ❖ الکاشف عن حقائق السنن شرح الطیبی، امام شرف الدین حسین بن محمد بن عبداللہ الطیبی، المتوفی ۷۴۳ھ، ادارة القرآن کراچی
- ❖ الکامل فی ضعفاء الرجال امام حافظ ابو احمد عبداللہ بن عدی الجرجانی المتوفی ۳۶۵ھ دار الفکر بیروت
- ❖ کتاب الضعفاء والمتروکین للنسائی المطبوع مع التاریخ الصغیر والضعفاء الصغیر للبخاری، امام ابو عبدالرحمن احمد بن شعیب النسائی المتوفی ۳۰۳ء، المکتبة الاثریة سانگلہ ہل، شیخوپورہ
- ❖ کشف الباری کتاب الایمان وکتاب المغازی، شیخ الحدیث حضرت مولانا سلیم اللہ خان صاحب مکتبہ فاروقیہ کراچی
- ❖ الکوکب الدری، حضرت مولانا رشید احمد گنگوہی قدس اللہ سرہ المتوفی ۱۳۲۳ھ ادارة القرآن کراتشی۔
- ❖ لامع الدراری حضرت مولانا رشید احمد گنگوہی، المتوفی ۱۳۲۳ھ، مکتبہ امدادیہ مکہ مکرمہ
- ❖ لسان العرب علامہ ابوالفضل جمال الدین محمد بن مکرم ابن منظور الافریقی المصری المتوفی ۷۱۱ھ نشر ادب الحوزة قم ایران ۱۴۰۵ھ
- ❖ الموطا، امام مالک بن انس، المتوفی ۱۷۹ء دار احیاء التراث العربی
- ❖ الموطا، امام محمد بن الحسن الشیبانی المتوفی ۱۸۹ء، نور محمد اصح المطابع آرام باغ کراچی
- ❖ المبسوط شمس الائمة ابوبکر محمد بن ابی سہل السرخسی، المتوفی ۴۸۳ھ، دار المعرفة بیروت ۱۳۹۸ء، ۱۹۷۸م
- ❖ مجمع بحار الانوار، علامہ محمد طاہر پٹنی، المتوفی ۹۸۲ھ دائرة المعارف العثمانیة حیدر اباد ۱۳۹۵ء۔
- ❖ مجمع الزوائد، امام نور الدین علی بن ابی بکر الہیثمی، المتوفی ۸۰۷ھ، دار الفکر بیروت
- ❖ المجموع شرح المہذب امام محی الدین ابوزکریا یحیی بن شرف النووی المتوفی ۶۷۶ھ شرکة من علماء الازہر۔
- ❖ مظاہر حق جدید، نواب محمد قطب الدین دہلوی، دار الاشاعت کراچی
- ❖ موارد الظمان نور الدین علی بن ابی بکر الہیثمی، دار الکتب العلمیة بیروت
- ❖ مقدمة ابن خلدون ابوزید ولی الدین محمد بن خلدون، المتوفی ۸۰۸ھ، مطبوعة مصر
- ❖ مقدمة لامع الدراری حضرت مولانا زکریا، ۱۴۰۲ھ، مکتبہ امدادیہ مکہ مکرمہ
- ❖ معجم البلدان، علامہ ابوعبداللہ یاقوت حموی، متوفی ۶۲۶ھ دار احیاء التراث بیروت
- ❖ مجموعة الفتاوی حضرت مولانا عبدالحی لکھنوی المتوفی ۱۳۰۴ھ، ایچ ایم سعید کمپنی۔

❖ المدونة الكبرى لامام مالك بن انس دار صادر بيروت
❖ المخصص في اللغة ابو الحسن على بن اسماعيل ابن سيدة اللغوى، المتوفى ۴۵۸ھ، دار الآفاق الجديدة بيروت
❖ معارف القرآن حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب، ۱۹۷۶ء، ادارۃ المعارف کراچی
❖ معارف القرآن حضرت مولانا ادريس كاندهلوی، رحمہ الله
❖ مجمع مقاييس اللغة، ابو الحسن احمد بن فارس بن زكريا، دار الفكر، بيروت
❖ المعرفة والتاريخ الشيخ ابو يوسف يعقوب بن سفيان الفسوى، المتوفى ۲۷۷ھ موسسة الرسالة، بيروت.
❖ مالا بد منه: قاضى ثناء الله پانى پتى، مكتبه شركت علمية، بيرون بوهر گيٹ، ملتان
❖ المحلى، علامه ابو محمد على بن احمد بن سعيد بن حزم، المتوفى ۴۵۶ھ المكتب التجارى، دار الكتب العلمية بيروت
❖ مختار الصحاح امام محمد بن ابی بكر بن عبد القادر الرازى، المتوفى ۶۶۶ھ، دار المعارف مصر
❖ مرقاة المفاتيح، علامه نور الدين على بن سلطان القارى، المتوفى ۱۰۱۴ھ، مكتبه امداديه ملتان.
❖ المستدرك على الصحيحين، حافظ ابو عبد الله محمد بن عبد الله الحاكم، النيسابورى، المتوفى ۴۰۵ھ دار الفكر بيروت
❖ مسند ابی داود الطيالسى، حافظ سليمان بن داود بن الجارود المعروف بابی داود الطيالسى، المتوفى ۲۰۴ھ دار المعرفة بيروت
❖ مسند احمد امام احمد بن حنبل المتوفى ۲۴۱ھ،
❖ مسند الحميدى امام ابو بكر عبد الله بن زبير الحميدى المتوفى ۲۱۹ھ، المكتبه السلفية مدينه منورة.
❖ المصنف لابن ابی شيبة، حافظ عبد الله بن محمد بن ابی شيبة المعروف بابی بكر بن ابی شيبة المتوفى ۲۳۵ھ الدار السلفية بمبئی، الهند طبع دوم ۱۳۹۹ھ ۱۹۷۹م
❖ المصنف لعبد عبد الرزاق بن همام صنعانى المتوفى ۲۱۱ھ، مجلس علمى كراچی.
❖ معالم السنن امام ابو سليمان حمد بن محمد الخطابى، المتوفى ۳۸۸ھ مطبعة السنة المحمدية ۱۳۶۷ھ ۱۹۴۸م
❖ معجم الطبرانى الكبير امام سليمان بن احمد ايوب الطبرانى المتوفى ۳۶۰ھ، دار احياء التراث العربى.
❖ المعجم الوسيط، دكتور ابراهيم انيس دكتور عبد الحليم منتصر، عطية الصوالحى، محمد خلف الله احمد مجمع اللغة العربية دمشق.
❖ معرفة علوم الحديث امام ابو عبد الله محمد بن عبد الله حاكم نيسابورى، المتوفى ۴۰۵ھ دار الفكر بيروت
❖ المغنى، امام موفق الدين ابو محمد عبد الله بن احمد بن قدامه، المتوفى ۶۲۰ھ دار الفكر بيروت.

❖ مقدمۃ ابن الصلاح (علوم الحدیث)، حافظ تقی الدین ابو عمرو عثمان بن عبدالرحمن المعروف بابن الصلاح المتوفی ۶۴۳ھ، دار الکتب العلمیۃ بیروت
❖ المفہم لما اشکل من تلخیص کتاب مسلم، الامام الحافظ ابو العباس احمد بن عمر ابراہیم، القرطبی، المتوفی، ۶۵۶ھ، دار ابن کثیر دمشق، بیروت
❖ الموضاعات لامام ابی الفرج عبدالرحمن ابن الجوزی المتوفی ۵۹۷ھ، قرآن محل اردو بازار کراچی۔
❖ میزان الاعتدال فی نقد الرجال، حافظ شمس الدین محمد بن احمد بن عثمان الذہبی، ۷۴۸ھ دار احیاء الکتب العربیۃ مصر، ۱۳۸۲ھ۔
❖ نصب الرایۃ حافظ ابو محمد جمال الدین عبداللہ بن یوسف زیلعی، المتوفی ۷۶۲ھ مجلس علمی ڈابھیل، ۱۳۷۷ھ۔
❖ نظام الفتاوی، حضرت مولانا مفتی نظام الدین صاحب انڈیا، مکتبہ حسامیۃ، دیوبند
❖ النہایۃ فی غریب الحدیث والاثر، علامہ مجد الدین ابو السعادت المبارک بن محمد ابن الاثیر المتوفی ۶۰۶ھ دار احیاء التراث العربی۔
❖ ھدی الساری، مقدمۃ فتح الباری، حافظ ابن حجر العسقلانی، المتوفی ۸۵۲ھ دار الفکر بیروت
❖ الھدایۃ: علی بن ابن ابی بکر مرغینانی، ایچ ایم سعید، کمپنی....

[تمت]